# جګړه او سوله

## څلورم ټوک

لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن:
دوکتور لطیف بهاند

مسکو
۲۰۱۲

Ketabton.com

۲۰۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم


**کتاب پېژندنه**:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | جګړه او سوله |
| لیکوال: | لیف نیکولایوویچ تولستوی |
| ژباړن: | دوکتور لطیف بهاند |
| ټوک: | څلورم |
| طرحه او ډیزاین: | سپین سهار |
| خپرندوی او مالي لګښت: | د میدان وردګو ولایت والي محمد حلیم فدایي |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۹۱ل/ ۲۰۱۲ز |
| د خپرونو لړ: | (۴۰) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

له دې سره هم مهاله د پيترزبورګ دلوړپوړو ترمنځ له بل هر وخت نه زياته، د روميا نڅوف ، فرانسويانو ، ماريافيدروفنا ، شهزاده وليعهد او نورو ډلو ترمنځ سخته توده او کړکيچنه سيالي روانه وه. داسې يو حالت چې شر او شوريې لکه د مچيو د ملکې په شان د دربار د مفتخوروو له خوا خپه کېده ، خو د پترزبورګيانو تود ، ارام، عيش او نوش او پرتمين ژوند چې، له رښتيني بهېره څه لرې او يوازې په اوهامو او تصوراتو کې، د پخوا په شان چې و ، هماغه شان و. په دې عيش او نوش کې په هغو ګواښونو چې ملت ورسره مخامخ و ،خبرېدل، خورا ګرانه خبره وه. د نڅاوو او مېلمستياوو بنډارونه هماغسې د پخوا په شان جوړېدل، فرانسوي تياتر هماغه ننداري ښودلې، هماغه درباري ګټې، هماغه درباري واکونه او هماغه دوکې. يوازې په لوړو کړيو کې دا هڅه کېده چې، د رښتيني حالت دستونزو يادونه وشي. په کراره او بنګهاري به دا کيسې کېدې چې، څنګه په دې سختو حالاتو کې يو له بل سره سيالۍ او نانديرۍ وکړې. مور ملکه ماريافيدروفنا ، د دې ترمشرۍ لاندې د خپلو خيريه مؤسسو او روزنتونونو په اند ښېښنه کې وه چې، دغه ټولې مؤسسې دې د کازان ښار ته ولېږدول شي. د دغو مؤسسو کالي او کپړې هم ټول، ټول شوي وو ، خو ملکې ايلزواتې الکسيووفنا ، د دې پوښتنې په ځواب کې چې دا څه سپارښتنې لري، په خپلې ځانګړې هېوادپالنې ځواب ورکړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې، دا ددولتي خيريه مؤسسو په هکله هېڅ ډول سپارښتنه نه شي کولای، ځکه دا ټولي چارې، يوازې خپله ټولواک پورې اړه لري، خو هغه څه چې په ځانګړې توګه په دې پورې اړه لري، کولای شي ووايي چې، دا به وروستی څوک وي چې، له پترزبورګه وزي.

انا پاولوفنا د اګست په شپږو بشتمه ،ياني د هماغې بارادينو د جګړې په ورځ يو داسې بنډار جوړ کړی و چې، د هغه تر ټولو غوره خبره، د سپېڅلي حضرت ( د مسکو مشر پاپ ) د هغه ليک لوستل و چې، د سرګي له شمايل سره يې ټولواک ته رالېږلی و. دا ليک د هېواد پالنې او روحانيت تر ټولو غوره بېلګه وه. ټاکل شوې وه چې، دغه ليک بايد سرداروا سيلی چې، په غوره لوستلو کې يې ويار من نوم درلود لوستلای وای. (هغه د ملکې په حضور کې شعرونه او ويناوې لوستې ) د لوستلو هنر په دې کې ده چې، کلمې بايد په لوړه ، معنی ته له پامه پرته، د زاريو او مينه ناکتيا تر منځ د انډول په ساتنه، په سندريز ډول ادا شوې وای.. دغه ليک لوستنه، د انا پاولوفنا د نورو ډېرو بنډارونو په څېر خورا سياسي بڼه لرله. په دې غونډه کې بايد څو تنو مخوروګډون کړي وای چې فرانسوي تياتر ته د تګ له امله ،شرمېدلي وای او د هغو دهېواد پالنې احساس يې را پارولای شوای. که څه هم پوره ډېر خلک راټول شوي وو ، خو اناپاولوفنا لا هغه کسان چې بايد په مېلمستون کې ووينی، نه ليدل، نو ځکه يې لا لوستل نه پيلول او په ټوليزو خبرو اخته وو.

په دې ورځو کې د ورځې غوره خبر، د ګرافينې بيزاوخوفې، ناروغی وه. ګرافينه څو ورځې مخکې ناڅاپه ناروغه شوې وه او په هغو بنډارونو کې چې دا به يې ښکلا وه، ګډون نه و کړي. داسې ويل کېدل چې هغه څوک نه مني او د پترزبورګ د داکټرانو پر ځای چې تل به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پالنه کوله، ځان يوه ايتالوي ډاکتر ته سپارلی دی چې هغه يې په کوم نوي ، ځانګړي او غير عادي ډول تداوي کوي.

ټول په دې ښه پوهېدل چې ددغې ښکلې او زړه وړونکې ګرافينې د ناروغتيا علت په دې کې دی چې هغې غوښتل هممهاله له دوو مېړونو سره واده وکړي. ددغه ايتالوي ډاکتر د تداوۍ ځانګړتيا په دې کې وه چې له دغې پېښې نه ګرافينې ته پيدا شوې نا آرامي لرې کړي، خو د انا پالوفنې تر مخې نه يوازې چا په دې اړه فکر نه شو کولای بلکې ګواکې داسې ښوول کېده چې څوک له دې خبرې خبر هم نه دي.

-ويل کېږي چې د خوارې ګرافينې حال خورا خراب دی، داکتر ويلي چې د هغې ناروغي د تيو ناروغي ده.

-دتيو ناروغي ؟دا خو خورا وحشتناکه ناروغي ده.

-ويل کېږي چې سيالان له همدې امله سره پخلا شوي دي.

د تيو کلمه يې په خورا خوند سره ادا کوله.

-دا هم ويل کېږي چې مشر ګراف ډېر خوابدی دی. دا هم ويل کېږي چې کله ډاکتر هغه ته وويل چې دغه ناروغي خورا ګواښمنه ده، هغې لکه ماشوم داسې وژړل.

-اوهو، هوکې دا به يوه لويه ورکه وي، داسې زړه وړونکې ښکلې ښځه..

انا پاولوفنا هغو ته ورنېږدې شوه او وې ويل:

-تاسو د هغې خوارې ګرافينې په اړه غږېږئ، ما يو څوک د هغې پوښتنې ته ورلېږلی و، وايي چې اوس لږه ښه شوې ده.

هغې له خپلې تلوسې نه ډکې موسکا سره وويل:

-په رښتيا يې د نړۍ تر ټولو ښکلې او زړه راښکوونکې ښځه ده. که څه هم مونږ بېلابېلو ډلو پورې اړه لرو، خو دا ددې سبب نه کېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ته درناوي ونه کړم، هغه خورا بدمرغۍ ده.

یوه ځوان چې د اناپاولوفنې تر دغو خبرو وروسته چې د ګرافینې د ناروغۍ راز یې راسپړو، ځان ته حق ورکړ چې تعجب وکړي او ووايي چې ولې د ګرافینې د پالنې او تداوۍ لپاره ډاکتران نه دي رابلل شوي او د هغې ژوند د کوم دوکمه مار لاس ته سپارل شوی دی، نو کېدای شي کوم ګواښمن دارو هغې ته ورکړي.

آنا پاولوفنا، په زهرلړه ژبه پر دغه بې تجربې ځوان ورودانګل او وې ویل:

- کېدای شي ستاسو معلومات زما په اړه رښتیا وي، خو زما د هغو سرچینې هم خورا ډاډمنې دي او وایم چې هغه ډېر پوه او ډېر پیاوړی داکتر دی. هغه د اسپانیا د ملکې ځانګړی داکتر دی. په دې توګه وروسته له هغه چې هغې، هغه ځوان ښه وشرماوه، مخ یې مېلمنې ته ورواړاوه، هغه تندی تریو کړ او غوښتل یې بېرته تندی ورین کړي او د اتریش په اړه کومه ټوکه ووايي.

بېلبین، د هغه دیپلوماتي یادښت په اړه چې له اتریشي بیرغونو سره یو ځای ویانا ته استول شوی و، خبرې کولې، دغه بېرغونه ویتینشتاین برمته کړي وو، یا هغه شان چې په پترزبورګ یادونه کېده، د پتره پول اتل نیولي وو، هغه وویل:

- څنګه؟ خورا ښکلې او بې سارې ده.

په دې توګه هغې غوښتل، ټول دد دې لپاره چپ شي چې بېلبین هغه ته نور هغه څه ووايي، چې ده لا د وختنه اوریدلي و او بېلبین د هغه دیپلوماتیکه لیک، لیکنه کټ مټ تکرار کړه چې ده خپله لیکلي و:

- امپراتور په دې ډول د اتریش بېرغونه، د هغه دوست بېرغونه چې د لارې د بهېر نه لرې پیدا شوي دي، بېرته ورلېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د لیک تر لوستلو وروسته تندی بېرته تریو کړ، سردار واسیلي وویل:

- ډېره په زړه پورې ده، په زړه پورې !

ایپولیت ناڅاپه په لوړ آواز وویل:

- دا کېدای شي د وارث لاره و اوسي.

ټولو هغه ته سترګې ور واړاولې، خو په دې پوه نه شول چې هغه څه ویل غوښتل.

سردار ایپولیت هم له خندنې حیرانتیا سره خپل شا او خواته وکتل. هغه هم کله د نورو په شان د هغو خبرو په معنی نه پوهېده چې ده ویلې و، هغه د خپل دیپلوماتیک کار په لړ کې په وار وار دا لیدلي و چې په دې ډول د ناڅاپي خبرو کول، خورا دخندا وړ وي، نوځکه هر څه یې چې په زړه کې تېریدل، هغه یې وویل:

- کېدای شي، خورا ښه به شي ! او که ښه نه دی، هغوی به یې ښه کړي. تر هغه وروسته د رښتیا یو زورونکی سکوت رامنځ ته او تر هغه وخته پورې دوام پیدا کړ چې انا پاولوفنا هغه سړي ته چې هومره هېواد پالنه هم نه وه، لارښوونه وکړه، مېلمه پالې، سردار ایپولیت ته ځای په ننښه کړ او سردار واسیلي ته یې بلنه ورکړه چې د میز شا ته راشي. هغه ته یې دوه شمعې او لیکل شوی لیک راوړل او له هغه نه یې هیله وکړه چې هغه ولولي او نور ټول چپ شي.

سردار واسیلی په ټینګ آواز وویل:

- مشر مهربان ټولواک امپراتور ! بیا یې په برندو سترګو ټول داسې وڅارل چې ګواکې پوښتي:

-څوک شته چې وو ایي داسې نه ده ؟

خو هېڅچا هېڅ ونه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دوام ورکړ:

- د هېواد لومړۍ پلازمېنه، دمسکو ښار، نوی بیت المقدس، د خپل ژغورنکي هرکلی کوي. (د "خپل" پر کلمې یې ټینګار وکړ) داسې هرکلی لکه چې مور خپل مېړني زوی په غېږ کې کېښکاږي. په دې تورتم کې، په دې خپریدونکي تورتم کې، ستا د ویاړ او بخت ځلېدونکی ستوری وینې او په خوشالۍ وایي:

- مورېږ وژغوره ! راتلونکې مورېږ ته مبارکه ده.

سردار واسیلي دا وروستۍ خبرې په ژړا ژړا ولوستلې.

بېلبین د خپل لاس نوکونو ته وکتل ،داسې برېښېدل چې له مېلمنو نه زیاتره هغوی په دې اند ښنه کې وو چې غواړي وپوښتي:

- څه ګناه مو کړې ده ؟

انا پالوفنا لکه د بوډۍ په شان چې د کشیش تر مخې ددعا له لارې له خدای سره د زړه خواله کوي، مخکې له مخکې د لیک جوړ شوی متن لوستله:

- پربېږدئ چې سپین سترګی او ناولی جالوت...

سردار واسیلی خپلې لوستنې ته دوام ورکړ:

- پربېږدئ چې سپین سترګی او ناولی جالوت چې تیاره خوروونکي وحشت د فرانسې له پولو رواړی، د روسیې په سپېڅلې خاوره کې خپور کړي.

زمورږ سپېڅلی او له کبره لرې ایمان به لکه د روسیې د داودي فلقمان په څېر ددغه وینه زبېښوونکي پر ککره ورګوزار شي. دغه د سپېڅلي سرګي شمایل، چې د لرغونو زمانو راهیسې زمورږ وطن تر خپل سیوري لاندې ساتلی دی، ستاسو اعلحضرت همایوني ټولواک حضور ته وړاندې کېږي. دا به خورا ګرانه تمامېږي چې زما د هڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتواني، ما ستا د مهربانۍ له خونده ډکې لیدنې نه بې برخې کوي. د خدای لوی دربار ته لاس پورته کوم چې ربښتینی او سپېڅلی سپېڅل اند نسل ته قوت ورکړي چې د همایوني ټولواک د هیلو د غوړیدو په چوپړ کې و اوسي.

له هرې خوا د لیک د لیکوال او لوستونکي ستاینې اوریدل کېدې:

- په څه قوت لیکل شوی دی ! څه بې ساري لوستنه !

له دغې وینا نه د اناپالوفنا رالمسول شوي او پاریدلي مېلمانه، تر ډېره پورې همداسې د وطن د حالاتو په اړه وغږېدل. د هغې جګړې او د هغې د پایلو په اړه چې هماغه ورځ کېدونکې وه، خبرې سره وکړې.

اناپالوفنا وویل:

- تاسو وګورئ ! سبا ته د همایونی ټولواک د زوکړې په ورځ به پر موږ ښه زېری وشي. زه نه پوهېږم ولې داسې انګېرم، خو زړه مې راته وایي چې ښه زېری به وي. ښه زېری به راورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲

د اناپالوفنا د زړه احساس په رښتیا هم رښتیا شو. بله ورځ چې کله د ټولواک د زوکړې د مبارکې د ورځې لمانځنه روانه وه، ددعا په وخت کې شهزاده والکونسکی د باندې وغوښتل شو او هغه ته د سردار کوتوزف لیک وسپارل شو ،کوتوزف لیکلي و:

د روسیې پوځ یو ګام هم شاته تللی نه دی او د فرانسوي پوځیانو مړګ ژوبله، د دوی د پوځ تر مړګ ژوبلې خورا زیاته ده. کوتوزف دا هم لیکلي و چې، هغه دا لیک د جګړې له ډګره په داسې وخت کې لیکلی دی، چې د جګړې وروستي خبرونه لا ده ته رارسېدلي نه دي.

دا لیک د بري زېری و. هماغه شېبه پرته له هغه چې څوک د کلیسا نه ووزي، پر روسیې پوځ د رحم او د هغه د ملاتړ په خاطر د لوی خدای نه د شکر او منني دعا وشوه او د هغه له درباره د پوځ د لا ښې لارښونې لپاره لاسونه پورته شول.

ټولو بری بشپړ ګاڼه او ځینو خو آن ویل چې ناپلیون د اسیرېدو ، پرزیدو او د هغه پر ځای د بل امپراتور د ټاکنې خبرې کولې.

د هغو کسانو لپاره چې د چارو له بهېر نه لرې، په درباري شرایطو کې ژوند کوي، دا ډېره ګرانه ده د پېښو له کړکیچنتوب او جړتیا نه خبر واوسي. د هغو له نظره ټولې ټولنیزې پېښې هرومرو د یوې ځانګړې پېښې په شا او خوا راچورلي. د ساري په توګه د درباریانو اوسنۍ خوښي یوازې له دې امله نه وه، چې د پوځ د بري زېری راغلی دی، بلکې دوی زیات له دې کبله خوشاله وو چې د دغه بري زېری د ټولواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زوکړې د لمانځنې په ورځ رارسېدلی دی. دا د ستر خدای یوه ډالۍ وه. د کوتوزوف په لیک کې د روسي پوځ د مرګ ژوبلې یادونه هم شوې وه. د وژل شویو کسانو په ډله کې د توکاچوف، باګراتیون او کوتایسوف نومونه هم یاد شوي وو. د دغه غم لړلي خبر، خبرې په پترزبورګ کې ټولې د یوې خواشینۍ په شا او خوا راچورلیدې او هغه د کوتایسوف د مرګ غم و. هغه ټولو پېژانده، ټولواک ته ګران و، هغه ځوان او په زړه پورې و.

په هغه ورځ ټولو یو د بل په لیدو ویل:

- دا څه عجیبه پېښه وشوه، ګورئ د دعا په وخت کې یې خبر راورسېد. د کوتایسوف مرګ نه پوره کېدونکې ورکه ده. افسوس، افسوس !

سردار واسیلي اوس، د خپلو کوډمارو اټکلو په اړه په غرور سره ویل:

- یادېږي مو، ما تاسو ته د کوتوزوف په اړه څه ویل ؟ ما تل تاسو ته ویل چې هغه یوازینی څوک دی چې پر ناپلیون بریالی کېدای شي.

خو بله ورځ له پوځه کوم خبر را ونه رسېد. ټولیز طبیعت خورا ناآرامه او اله ګولیز ډوله شو. درباریان له دې امله خورا په عذاب و چې ټولواک ته د جګړې د ډګر خبر نه رارسېږي، هغوی ویل:

- اوه، مه کوه پوښتنه، چې ټولواک څه حال لري ! درباریانو د پخوانیو درې ورځو په شان د کوتوزوف ستاینې نه کولې، هغه یې له دې امله غانده چې د ټولواک د خیال د ناآرامۍ سبب شوی و. سردار واسیلي په دې ورځ، نور نو خپل ستایل شوی کوتوزوف نه ستایه، کله به چې د ستر قوماندان کوتوزوف په اړه خبرې پیل شوې، هغه به پټه خوله و. د دې ترڅنګ، داسې چې ګواکې اټکل شوی و چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پترزبورګ ټول او سېد ونکي ناآرامه کړي، هغه ماښام يو نوی، خو بد خبر هم راورسېد. ګرافينه بيزاو خوفه چې ټولو ته ګرانه وه، د وحشتناکې ناروغی له امله ناڅاپه مړه شوې ده. د هغې د مرګ رسمي علت، چې ټول او په لويو بنډارونو کې د هغه په اړه غږېدل، دا و چې ګرافينې له هماغې وحشتناکې ناروغۍ (د تيو سرطان ) چې پرې اخته وه، مړه شوې ده، خو په ځانګړو مېلمستياوو او خبرو کې يې د مرګ نور علتونه هم يادېدل او ويل کيدل چې د اسپانيا د ملکې ځانګړي ډاکټر د ځانګړو اغيزو او حال د پيدا کېدو لپاره، د ايلن لپاره، څه کمه اندازه دارو ليکلي وو، خو دا چې خورا ډېره په عذابه وه، يعنې د هغه زوړ ګراف، مين بدګمانه شوی او د هغه مېړه ( بدمرغه بې غيرته پېير ) د هغې ليکونو ته ځوابونه نه ويل، نو هغه و چې هغې له دغو دارو ګانو نه په يو وار له اندازې زيات خوړلي، مخکې له هغه چې داکټر د هغې مرستې ته ورسېږي، په خورا عذاب او درد مړه شوې وه. سردار واسيلي او بوډا ګراف، ايټالوي ډاکټر تورن کړ، خو هغه ايټالوي ډاکټر داسې يادښتو نه وروښودل، چې دواړو ته يې قناعت ورکړ او هغه يې په کراره پرېښود.

ټولې خبرې د درې غمونو په شا او خوا راچورلېدلې:

- د ټولواک بې خبري، د کوتايسوف وژل کېدل او د ايلن مرګ.

د کوتوزوف تر ليکه درې ورځې وروسته له مسکوه، پترزبورګ ته يو استازی راغی او په ښار کې دا آوازه خوره شوه چې مسکو فرانسويانو ته تسليم شوی دی. خورا وحشتناکه وه، ټولواک په څه حال و ! کوتوزوف خيانت کړی و او ټول هغه کسان چې سردار واسيلي ته د هغه د لور ايلن د مرګ له امله دعا ته راتلل، د پخوا برخلاف و، پخوا به دی د کوتوزوف په ستاينو نه مړېده، خو اوس يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له دې عياش بوډا نه د بل څه تمه هم نه کېده، ( هغه ته چا د کوتوزوف په اړه پخوانۍ خبرې نه وريادولې او له ده نه خپله هم د لور د غم له لاسه هر څه هېر شوي و ) هغه به ويل:

- زه يوازې له دې امله تعجب کوم، چې څنګه د روسيې برخليک داسې يوه سړي ته سپارل شوی دی.

تر هغه پورې چې د مسکو د تسليمېدو خبر غير رسمي و، په هغه څه شک کېده، خو په بله ورځ د ګراف راستوپچين له خوا دا رسمي پيغام راورسېد:

- د سردار کوتوزوف ياور ما ته يو ليک راوړی چې په هغه کې له ما نه غوښتنه کېږي، هغوی ته څو تنه د پوليسو افسران د دې لپاره ورکړم چې د ښار له منځه د ريازان د واټ پلو ته د پوځ لارښوونه وکړي.

په ليک کې يې ليکلي و چې په خواشينۍ سره مسکو تسليموي، اعليحضرت ټولواک:

د کوتوزوف دغه کړه د پلازمېنې او ستاسو د امپراتورۍ برخليک تباه کوي، کله چې روسيه په دې پوه شي، هغه ښار چې په هغه کې د روسيې پرتم او ستاسو د نيکونو خاوره نغښتې ده، دښمن ته تسليمېږي، هغه به سرسامه او وربېږدي. زه هم پوځ پسې روان يم، ما هر هغه څه چې کولای شول، له ځانسره راواخېستل او اوس پرته له دې چې د خپلې مينې په برخليک وژاړم، بل څه کولی نه شم.

ټولواک چې دا پيغام تر لاسه کړ، شهزاده والکونسکي يې له يوه ليک سره مل کوتوزوف ته ورولېږه په ليک کې راغلي و:

- سردار ميخاييل ايلاريانوويچ! د اګست له نهه ويشتمې راهيسې مې له تاسو نه هېڅ خبر تر لاسه کړی نه دی. د سپتمبر په لومړۍ نېټه د مسکو د ستر قوماندان خواشيني خبر له يارسلاوو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته راورسېد. ښکاري تاسو پرېکړه کړې ده، چې له پوځ سره یو ځای مسکو پرېږدئ. تاسو خپله کولای شی دا تصور وکړئ چې د دغه خبر او رېدل به پر ما څه اغېز وکړی وي. ستاسو چوپتیا دغه اغېز دوه چنده کړی دی. زه تاسو ته یاور جنرال شهزاده والکونسکي دې لیک سره مل د دې لپاره درلېږم چې په خپله له تاسو نه د پوځ او د تاسو له خوا د دغې خواشینوونکې غمرلی پېښې په اړه خبر تر لاسه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

د مسکو تر تسلیمۍ نه نهه ورځې وروسته، د کوتوزوف له خوا یو استازی پترزبورګ ته راغی او په رسمي توګه یې د مسکو د تسلیمۍ خبر راوړ.

دا استازی یو فرانسوي و چې میشو، نومېده او په روسي ژبه نه پوهېده، (د دغه بهرني په وینا که څه هم هغه پردی و، خو هغه په زړه کې چور روس و).

ټولواک، د دغه استازی د رارسېدو سره سم د کامنی اوستر، په وچه کې د خپلې ماڼۍ په دفتر کې ومانه. میشو چې تر جګړې د مخه هېڅکله مسکو لیدلی نه و او په روسي نه پوهېده، کله چې د هغو (هغه شان چې خپله یې لیکلي دي) ستر ټولواک او مهربان امپراتور دربار د تګ ویاړ ور په برخه شو او د مسکو د سوځېدو او د اور د لمبو خبر چې دده لارې یې روښانولې، هغه ته ورساوه، خورا خواشینی شو.

که څه هم د ښاغلي میشو لپاره د غم سرچینې او هغه سرچینې چې د روسي ملت غم ترې راخوټېږي، باید جلا وي، خو د ټولواک کوټې ته د بدرګه کېدو په وخت کې، د هغه بشره داسې غم لړلې وه چې ټولواک سمدلاسه ترې وپوښتل:

- څه خبرونه مو راته راوړي؟ بد خبرونه، ډګروال!

میشو سوړ اسویلی وویست او ځواب یې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې، اعلیحضرته ! ډېر خواشینی غم لړلی خبر، مسکو تسلیم شوی دی !

ټولواک لکه چې اور اخېستی وي، په چټکۍ سره وویل:

- ایا دا کېدای شي چې زما لرغونې پلازمېنه دې بې جګړې تسلیمه شي ؟

میشو په خورا درناوي هغه څه، ټولواک ته وویل چې کوتوزوف ده ته ویلي و، هغه دا چې د مسکو په څنډو کې جګړه ناشونې وه. له دوو لارو پرته بل څه پاتې نه وو، لومړی دا چې یا باید پوځ تباه شوی وای او مسکو هم تسلیم شي او بله دا چې مسکو له مرګ ژوبلې پرته پرېږدي. او فیلد مارشال دا دویمه لاره غوره کړه.

ټولواک پرته له هغه چې میشو ته وګوري، هغه ته غوږ و، هغه وپوښتل:

- دښمن اوس ښار ته ننوتلی دی ؟

میشو په زغرده وویل:

- هو کې، اعلیحضرت همایوني ! هغه د ایرو په نغری بدل شوی دی. کله چې زه ترې راوتم، اورونو په کې لمبې وهلې.

خو همدا چې بیا یې ټولواک ته وکتل، له خپلو خبرو نه پښېمانه شو. ټولواک په ژوره او پرله پسې ستمېده، ساه یې ویسته، د هغه لاندنۍ شونډه رېږدیده او په یوه شېبه کې یې ښکلې، شنې سترګې له اوښکو لمدې شوې وې. دغه حال ټول یوه دقیقه دوام وکړ، ټولواک ناڅاپه داسې تندی تریو کړ، چې ګواکې ځان د خپلې ناتوانۍ له امله غندي، سر یې راپورته کړ او په زغرد آواز یې له میشو نه وپوښتل:

- زه داسې انګیرم ډګروالـه ! ټـول هغـه څـه چې پـېښ شـوي او پېښېږي، د دې لپاره دی چې خدای له موږه ستره سربښندنه غواړي. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو یم د هغه ارادې ته غاړه کېږدم. نو ګوره ! میشو ته ماته ووایه، کله چې پوځ ولیدل چې زما لرغونې پلازمېنه له جګړې پرته د ښمن ته پرېښودل کېږي، څه حال یې لاره ؟ ایا تا ونه لیدل چې د هغه روح مات شوی دی ؟

میشو ولیدل چې ټولواک لږ آرامه شوی، دی هم آرامه شو، خو د هغه هغو پوښتنو ته چې مخامخ ځوابونه یې په کار و، لا د ځواب ورکولو وخت نه و پیدا کړی او د فکر کولو لپاره یې د وخت پیدا کولو په پلمه وویل:

- اعلیحضرتا ! اجازه راکوئ، چې د یوه رښتني سرتیري په توګه هر څه په ډاګه او زغرده تاسو ته ووایم ؟

ټولواک ځواب ورکړ:

- ډګروال زه تل د همدې هیله لرم. د هېڅ شي د پټولو هڅه به نه کوئ، زه غواړم چې هر څه په ډاګه او ښکاره شي.

میشو چې له وخته لا ګېنې اخېستی و، خپل ځواب له درناوي سره د ځیرکې ټوکې په ملتیا چمتو کړی و.

- اعلیحضرتا ! کله چې زه راخوځېدم، ټول پوځ له ستر قوماندانه نیولې تر وروستي سرتیري پورې ټول ستر ډار، وحشت او ناهیلۍ پسې اخستي وو...

ټولواک تندی تریو کړ او زیاته یې کړه:

- څه وایئ ؟ دا څنګه کېدای شي، زما روسان به څنګه د دغې ماتې د شرم زغمي ؟ هېڅکله !

میشو یوازې همدې شېبې ته سترګه په لاره و، هغه د خپلو خبرونو لوبه پیل کړه او وې ویل:

- اعلیحضرتا !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی یوازې له دې ډاربږي چې کېدای شي ټولواک د نفس د سپېڅلوالي او سولې سره د لېوالتیا له امله د روغې منلو ته اړ شي. هغوی ټول ددې ارمان په لمبو کې سوځي چې سبا سربښندنې ته ور ودانګي. د روسي پوځ استازي دوام ورکړ:

- هغوی دې ته سترګې په لاره دي چې خپل ټولواک ته وښیي چې تر کومې کچې هغوی له هغه نه ځاریدو لپاره چمتو دي...

ټولواک ددې خبرې په اوریدو، د آرامۍ اسویلی وکیښ، سترګې یې وځلېدې او ښاغلی میشو یې پر اوږه وواهه او وې ویل:

- آه میشو! ډګروال! زه دې آرام کړم.

ټولواک سر ښکته واچاوه او څو شېبې په خوله پاتې شو، بیا یې سر راپورته کړ، ټول ځان یې راجوړ کړ، په شاهانه او مینه ناکه خوځېدا یې مخ میشو ته وروا ړاوه او وې ویل:

- ښه! تاسو به ببرته پوځ ته ورستانه شئ.

تاسو به زړور، تاسو به زما ټول رعیت ته ووایې، هر چاته او هر چېرې، هرهغه چېرې چې رسېږي، که زما لپاره آن یو سرتیری هم پاتې نه شي، زه به به خپله د خپلو نجیبو اعیانو او مهربانو کلیوالو بزګرو، په سر کې، خپله دجګړې ډګر ته ورودانګم، د خپلې امپراتورۍ وروستی توان به دد ښمن پر ضد وکاروم.

ټولواک چې دم په دم یې ولوله زیاتېده، په تلوسې دوام ورکړ:

خپلې ښکلې، مهربانې او ځلېدونکې سترګې یې آسمان پلو ور پورته کړې او وې ویل:

- خو که د خدای اراده داسې وي چې زما د نیکونو پر واک، زما د کورنۍ وخت پاتې ته ورسېږي او وروسته له هغه چې خپل ټول توان وکاروم، د زړه له کومې او په خپله خوښه به تر دغه ځایه رېږه پربږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ټولواک لاس د ټټر پر نیمایي کېښود )لاړ به شم او له خپل وروستي کلېوال بزګر سره به کچالو خورم، خو د خپل هېواد او ګران ملت، چې زه یې د سر ښندنې منت باریم، دبې ننګۍ او رسوایي کوم سند لاسلیک نه کړم....

همدا چې په لړزیدلي او هیجاني آواز یې دا خبرې وکړې، ناڅاپه یې مخ واړاوه او داسې برېښېده چې غوښتل یې په سترګو کې راغلې اوښکې له میشو نه پټې کړي. هغه د خپلې کوټې بر سر ته ورتیر شو، هلته، ترڅو شېبې دریدو وروسته، په پراخو ګامونو بېرته میشو ته راستون شو، په یوې قوې خوځېدا یې د هغه د لاس مړوند کېښکود. د هغه ښکلې او زړه راښکونکې بشره تکه سره اوښتې او په سترګو کې یې د قاطعیت او قهر د اورځلا ځلېدله، هغه وویل:

ډګروال ګوره ! هغه خبرې چې ما دلته درته کړې دي، هېرې نه کړې. کېدای شي یوه ورځ دغه خبرې په خوشالۍ سره یادې کړو.

هغه لاس پر خپل ټټر کېښود او وې ویل:

- یا ناپلیون او یا زه... نور نو موږ په ګډه نه شو کولای دواړه واکمن واوسو. ما اوس هغه ښه پېژندلی دی، هغه نور نو ما تیر ایستی نه شي.

ټولواک چې تندي یې تریویده، پټه خوله پاتې شو.

میشو چې دا خبرې واوریدې او د ټولواک په سترګو او بشره کې یې د هغه غوڅ پریکړون ولید، که څه هم هغه یو پردی، پردی و، مګر زړه یې د روسیې په مینه مست و، نو ځکه یې په دې پرتمینه شېبه کې ( هغه شان چې وروسته یې خپله ویل ) ددغو خبرو په اوریدو، په ګوګل کې د یوه خوځون اوربل شوی و. هغه هر هغه څه چې په زړه کې درلودل، دملت له احساس سره ګډ، په دې هیله چې دی خپله د ټولو ویاند او استازی دی، په درې خبرو کې ونغښتل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- همایوني ټولواک ستاسو حضور په همدې شپه کې د خلکو د ویاړ او اروپا د ژغورنې سند لاسلیک کوي.

ټولواک سر د میشو خواته ورښکته کړ او له هغه سره یې مخه ښه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

په هغه وخت کې چې د ښمن د روسیې پر نیمایي برخې ولکه ټینګه کړې وه، د مسکو او سپېدونکي وړاندې ولایاتو ته تښتېدلي وو او ډله ډله اربکیان د وطن ساتنې ته راپاڅېدل، موږ ته چې په هغه وخت کې مو ژوند نه دی کړی، بې ارادې دا تصور پیدا کېږي چې ټول روس له واړه نه نیولې تر زاړه پورې، ځان یوازې ددې لپاره قرباني کاوه چې وطن وژغوري او یا د هغه پر مرګ اوښکې توبې کړي. د هغو وختو په کیسو کې په ځانګړي ډول، د روسانو د سرښندنې، له وطن سره مینه، د ناهیلو او ویر او یا هېواد پالنې کیسې راغلې دي، خو په حقیقت کې دا ټول داسې نه وو. دا ټول موږ ته ځکه داسې ښکاري چې موږ د هغې تېرې زمانې په تاریخ کې یوه ګډه ګټه لټوو او د هغه ځانګړی فردي، انساني، ځانګړې ګټې موږ ته څرګندې نه دي. حال دا چې د وخت انساني هیلې او ګټې دومره تر ځانګړو فردي ګټو غوره وي چې آن د هغو د څرګندېدو مخه نیسي. (داسې چې هېڅ احساسېدای نه شی) د هغې زمانې د خلکو ډېرکي، آن د پېښو ټولیز بهیر ته هېڅ ډول پاملرنه هم نه لرله او ټول پام یې خپلو ورځنیو ګټو ته وراوښتي و او همدغه خلک د هغه وخت تر ټولو نه ګټندوی او ګټورو کړي هم وو.

هغو کسانو چې هڅه کوله د چارو په ټولیز بهیر پوه شي، په سرښندنې او اتلولۍ سره په هغو کې ګډون وکړي، په عمل کې هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې ترټولو ناکټور غړي وو. هر هغه څه چې هغو د خير په نامه کول، په تاوان به تمامېدل، د هغو پوځي غونډونو په شان وو چې پيير او مامونوف جوړ کړي وو، چې د کليو او بانډو له تالانه پرته بل کوم اغېز ترې پاتې نه شو... آن هغو کسانو به چې د ښه نيت څرګندونه کوله او خپل پاک احساسات يې بيانول او د روسيې د ورځنيو حالاتو په اړه به وغږېدل، د هغو غږېدا به بې ارادې تکراري او خپلاسي بڼه پيدا کړه يا به د هغو د غږېدا موخه پر ځينو کسانو د بې ځايه قضاوت حالت پيدا کړ او پر نورو به يې داسې تورونه لګول چې هيڅ‌چا په هېڅ ډول منلي نه شول، هغوی به يې په داسې ګناه تورن کړل...

په هغو پېښنو کې چې هغه وخت په مسکو کې تيريدې، ځومره چې په هغو کې د وګړو ونډه زياته وه، په هماغه کچه، هغه د هغوی لپاره د پوهېدو وړ نه وې. په پترزبورګ او له مسکو نه په جلا نورو ولايتو کې، هغو ښځو او نارينو چې د اربکي پوځ جامې اغوستې وې، روسيې او د هغې د پلازمېنې د برخليک لپاره يې ماتم نيو، د خپلو سرښندنو او نورو دې ته ورته چارو په هکله به غږېدل، حال دا چې په هغه پوځ کې، د دغه پوځ يا بل پوځ په مېنځ کې چې د مسکو له پولو بهر وو، څه کم هېڅ څوک د مسکو په اړه غږېدل څه چې آن چا د هغه په هکله فکر هم نه کاوه، خو کله به چې هغوی، هغو لمبو ته چې مسکو يې سوځاوه کتل، چا له فرانسويانو نه د غچ اخېستو قسمونه نه خوړل، بلکې هغوی به د خپل درې مياشتني معاش او د دريېمې لسيزې د خرخ، او له پوځ سره د خوځېدو کې سوداګرې بوډۍ، ماتريوشکا (لرګينې نانځکې) په اړه فکر کاوه.

نيکولای رستوف، پرته له هغه چې د وطن لپاره د سرښندنې او سر ځارونې لېوالتيا وښيي، يوازې له دې کبله چې تصادفاً د جګړې د پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخت کې په پوځ کې و ، د وطن په ساتنه کې يې ستره ونډه اخېستې وه ، نو ځکه پرته له هغه چې د پښېمانۍ احساس وکړي يا ځان ناوړه خيالو ته وسپاري ، هغو پېښو ته يې کتل چې هغه وخت په روسيه کې تېرېدلې. که به چا له هغه نه پوښتنه وکړه چې د روسيې د حالاتو په اړه څه فکر کوي ، ځواب يې ورکاوه چې په دې اړه کوم خيال نه لري او ويل به يې چې د روسيې په اړه فکر کول د کوتوزوف او هغه ته د ورته کسانو کار دی. هغه اورېدلي و چې قوماندان د غونډونو د منظمولو په چارو بوخت دی ، نو ځکه جګړه دا سې ژر پای ته رسېدونکې نه ده. د غو ټولو خبرو ته په پام سره ، دا له امکانه لرې خبره نه ده که په راتلونکو دوو درو کالونو کې د کوم غونډ قوماندانې ده ته وسپارل شي.

که څه هم هغه چارو ته په دې سترګه کتل ، خو کله چې دی د روتر ، ښارته د آسونو د اخېستو لپاره د خدمتيتوب له امله ، په راتلونکې جګړه کې له ګډون نه بې برخې شو ، د هغه ډېره خوابده نه شوه. هغه نه يوازې خوابدی نه شو بلکې خوشالي يې هم پټه نه کړه او ملګري يې هم ټول د هغه په دې حال پوه شول.

د برادينو ، د جګړې تر پيله څو ورځې مخکې ، نيکولای پيسې تر لاسه کړې ، څه اسناد او يوه ډله سواره يې مخکې ولېږل او وروسته دی هغو پسې وروخوځېد... کله چې به يې چې کوم کلي وليده روغ وليد او وې ليدل به چې هلته نه سرتيري او نه پوځيان ، نه د هغو ګاډي او نه کراچۍ ، نه له هغونه پاتې ناولتياوې ، يو هم نه ليدل کېږي ، بلکې دی هلته کليوال بزګر او کليوالې ښځې ويني ، د اربابانو روغ کورونه او څوځايونه چې هلته څاروي څريدل... دا سې به خوشالېده چې ګواکې د لومړي ځل لپاره دغه شيان ويني. په تېره بيا د ښځو ليدنې ، تر ټولو نه زيات او تر ډېره وخته پورې د هغه د حيرانتيا ، وهيښتيا او خوښۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب و. ځکه همدا روغې او ښکلې ښځې وې چې هرې يوې پسې به لس دولس افسرانو کتل او د هغو د زړه راوړلو لپاره به يې هڅې او سيالۍ کولې او که به کوم سپاره افسر له کومې سيمې نه دت يريدو په وخت کې له دغو ښځو سره کومه ټوکه وکړه، هغه ښځې به خوشاله شوې او ځانته به په غوره کې وې.

نيکولای، په خورا ښه طبيعت او خوشالۍ د شپې وروتژ ته ورسېد او په مېلمستون کې ځای پر ځای شو. هغه ټول هغه څه ځانته فرمايش کړل چې ډېر وخت په پوځ کې له هغو نه بې برخې و. بله ورځ يې پاک کالي واغوستل، ږېره يې وخريله، تاند او تازه او ښکلې دريشی په ځان، داسې دريشي چې له ډېرې مودې راهيسې يې نه وه اغوستې، د سيمې دقوماندان، قوماندانۍ ته ورغې.

د اربکيو مشر د جنرال په کچه قوموندان و. هغه د پوخ عمر خاوند و او په خپل پوځي دريځ او قوماندانۍ هم ډېر نازيده. هغه په خواشينۍ نيکولای ومانه (هغه دا کار د پوځيتوب له ځانګړتياو نه يوه ځانګړتيا بلله) له هغه نه يې ډولا ډول پوښتنې وکړې، د جګړې ټوليز بهير يې له هغه سره وڅېړه، پر ځېنو چارو يې ګوتنيوکې وکړې او ځېنې هغه يې ښې وستايلې، خو نيکولای خورا خوشاله او دا ټولې چارې او خبرې ورته د خوښۍ لامل وې.

نيکولای تر دغې کتنې وروسته دښار، والي ته ورغی. والي يو وړوکی، مست، ژوندی، مهربانه او ساده سړی و. هغه نيکولای ته د ښار هغه څو ځايونه وروښوول چې هغه کولای شول، هلته آسونه واخلي. دغه څو ځای له ښاره لرې و. د شلو ورستو په واټن کې يې د اس اخېستو د يوه بل ځای نښه هم ورکړه. والي نيکولای ته د هر ډول مرستو وعده ورکړه او له هغه نه يې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو د سردار ایلیا اندروویچ زوی یاستئ؟ زما مېرمن ستاسو د مور خورا نېږدې خورلنډه ده. کله چې هغه له نیکولای سره مخه ښه کوله هغه ته یې وویل:

- هره پنجشنبه دوستان زما په کور کې راټولېږي، نن هم د پنجشنبې ورځ ده، هیله کوم مهرباني وکړئ او زما کورته راشئ، داسې لکه خپل کورته چې راځئ....

نیکولای چې د والي له کوره راووت، یوه ګاډۍ یې ونیوه او د ښار په شل ورستۍ کې هغه ځای ته ورغی چې ده ته والي د آسونو د اخیستو لپاره ورښوولی و. ورونژ ښار ته د رسېدو په لومړیو وختونو کې د نیکولای لپاره هر څه د خوښۍ او ښادۍ وړ او د ټولو ټولو چارو سرته رسېدل ورته آسانه بربېښېدل. هغه ته هدف ته رسېدل لکه هغه شان چې د خوشاله خلکو ځانګړتیا وي، آسانه او سرته رسېدونکی و.

هغه ځمکوال چې نیکولای یې دیدن ته ورغلی و، د آس د سورلۍ یو ښه ماهر او د آسونو د ساتنې یو ښه لېوال و. هغه په آس پېژندنه کې جوړه نه لرله او ښه بې ساري ښکاري و. هغه د اصلو قالینو اوبدلو یوه دستګاه، د ښکلو او بې سارو فرشونو بېلګې او د خپلو پراخو ځمکو په ځانګړو ځمکه لاندې ځایونو او یخځایونو کې یې ډولا ډول او د سلهاوو کلونو زاړه او بې ساري شراب او اصل مست آسونه لرل.

نیکولای، په دوو خبرو د شپږو زرو روبله په بیه ۱۸ آسونه (لکه هغه شان چې ده ویل) د طویلې د ښه والي او د پوځ د آسونو د نسل د لاښه کولو لپاره واخیستل. هغو غرمنۍ وخوړله او د هنګری شرابو په څکلو یې هم ښه تنده ماته کړه. د دغه ځمکوال له ناظر سره داسې ښه انډیوال شو چې یو بل یې په نامه یادول، مخونه یې سره مچ او خدای په اماني سره وکړه او د ستنېدو پر وخت خورا خوشاله و او هره شېبه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډیوان ته د لا چټک تګ لپاره، ځکه هې ویل چې د والي مېلمستیا ته پر خپل وخت ورسېږي.

نیکولای جامې بدلې کړې، عطر یې ووهل، پر سر یې سرې اوبې واچولې، که څه هم لږ په ځنډ، خو دا خبره یې له ځانسره تکراروله چې: تر نه رسېدو ناوخته رسېدل غوره دي او له دې وینا سره سم د والي د کور خواته وخوځېد. په دغه بنډار کې نڅا، نه وه او چا د نڅا اټکل هم نه کاوه، خو ټول په دې پوهېدل چې ایکاترینا پتروفنا به د پیانو شاته کېني او د ببلاببلو نڅاوو نغمې به وغږوي، مېلمانه به له دغې شان موسیقۍ نه په خوند اخېستو نڅاو ته ولمسېږي، نو ځکه ټول د نڅا په جامو کې راغلي وو.

پر ۱۸۱۲ کال هم د ولایت ژوند کټ مټ د تل په شان و، خو یوازینی توپیر یې له پخوا نه دا و چې له مسکوه د زیاتو راغلو بډایانو د کورونو د راتلو له امله هلته شر او شور زیات شوی و. د خلکو ترمنځ بې پروایي هم زیاته شوې وه او هغو به ویل چې هرڅه کېږي هغه به کېږي... د خلکو ترمنځ خبرې او د زړه خواله لکه هغه شان چې په ټوله روسیې کې و، پخوا به د ورځني ژوند، کومه یو نیمه اپلته او د ګډو یارانو او دوستانو په اړه وې، خو اوس ټولې خبرې یوازې د مسکو، پوځ او د ناپلیون په اړه وې.

د والي په کورکې راټول شوي مېلمانه، د وروتژ د ښار تر ټولو غوره او مخور خلک وو.

د مېلمنو په منځ کې ښځې بې شمېره او د هغو په ډله کې له مسکوه د راغلو ښځو په منځ کې یو څو تنه د نیکولای آشنایانې هم وې، خو د نارینو په منځ کې داسې څوک نه و چې د پیاوړي سواره افسر او د ګیورګي د نښان له ګټندوی، سردار نیکولای سره سیالي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خو، د ورونژ ښار ته د دې لپاره تللی و، چې آسونه واخلي. د نارینو په منځ کې د فرانسوي پوځ یو ایتالوي افسر چې اوس اسیر شوی و لیدل کېده او نیکولای داسې انګېرله چې په مېلمستیا کې د دغه اسیر شته والي به د روسیې د اتل یعنی دده قدر لا پسې زیات کړي. دا یې د خبرو اترو لپاره یوه ښه پلمه ګڼله. نیکولای دا ټول همدا اسې احساسول او داسې یې انګېرله چې نور ټول هم هغه ایتالوي ته په دغه سترګه ګوري. نیکولای خپله هم له هغه سره خواخوږي او مهرباني ښودله، خو دا کار یې په احتیاط کاوه.

نیکولای همدا چې د سورو پوځیانو دریشي په غاړه مېلمستیا ته ورننوت له ځانه یې شا او خوا ته د عطرو او خوږو شرابو بوی خپریده، ښنه یې وغوښته او وې ویل:

- تر نه رسېدو ناوخته رسېدل غوره دي.

نورو هم د هغه خبره ومنله، څو واریې هغه پسې تکرار کړه او د هغه شا او خوا ته ورټول شول. ټولې سترګې هغه ته ور واوښتې. هغه ناڅاپه داسې احساس کړه چې ټول هغه ته د درانه مېلمانه په سترګه ګوري او دا دده لپاره ډېر دخوند وړ و چې په دې لرې لویدلي ښار کې، هغه هم د لذت او خونده د اوړدې مودې د بې برخې کېدو وروسته یې بیا هر څه پیدا کړي وو. نه یوازې د لارې د اوږدو تمځایو، سماوارونو، د هغه کلیوال خان د قالینو اوبدلو په کارخانه کې ښځو ته د هغو پام، د هغه د پام او خوښۍ سبب شوي و، بلکې د والي په دې مېلمستیا کې هم ډېرې ښځې (د نیکولای په اند بې شمېره) او پېغلې وې چې ټولې په تلوسې دې ته سترګې په لاره وې چې د نیکولای هغو ته پام شي. ښځو او نجونو له هغه سره نازونه کول او پخو ښځو لا د هماغې لومړي ورځې نه هڅه کوله چې د دغه سواره پوځ، ځوان او مست افسر زوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې کورنۍ تر منځ اړیکې ټینګ کړي. د دغو ښځو په ډله کې یوه هم د والي ښځه وه چې نیکولای یې د یو خپلوان په توګه مانه، هغې دی په ناز، یانی "نیکولا "ونوماوه او خورا نېږدې چا غوندې یې له هغه سره په " ته "خبرې کولې.

لکه هغه شان چې ویل کېدل کاترینا پتروفنا، په رښتیا هم د والس او اکومسې د نڅاو نغمې غږولې، نڅا پیل او نیکولای د دغه ولایت ټولو مخورو ته خپل هنر وښود. په خپلې کرارۍ او ښکلې خوځېدا یې ټول هک پک کړي وو. نیکولای په هغه شپه خپله هم د خپلې نڅابې سارو خو ځېداوو ته حیران و. په مسکو کې به داسې نڅېدلی نه وای او آن دغه نڅا به یې په مسکو کې غیر معمولې، احمقانه او خورا سپکه ګڼلې وای، خو دلته یې دا ور ګڼلې وه چې ټول حاضر کسان په داسې یو کار چې په پلازمېنه کې دودیز او معمولي بلل کېږي خو دلته په یوه ولایت کې لا څوک ورسره آشنا نه دی، حیران کړي.

نیکولای، ټوله شپه، یوې څورېې، ژیړ څنې، مالګینې ښځې ته چې د هغه ولایت د یو چارواکي مېرمن و، سترګې ګنډلې وې. د بې پروا او مستو ځوانانو په شان یې باور درلوده چې پردۍ ښځې د همدې لپاره پیدا شوي دي. نیکولای له دغې ښځې نه هېڅ، نه لرې کېده او د هغې له مېړه سره دی خورا خواخوږی و او مرکې یې ورسره کولې. که څه هم هغوی دا نه ویل خو په دې پوهېدل چې نیکولای او هغه ښځه هر څه په ګډه خوښوي. مګر داسې بربېښېده چې د هغې ښځې مېړه له نیکولای سره دا خبره نه مني او په تریو تندي او پریشانه، پریشانه کتو سره یې خپل دا حال نیکولای ته وښود، خو د نیکولای دغه سادګي دومره بې پایه وه چې کله نا کله به د هغې ښځه مېړه د نیکولای د ښه طبیعت او خوشالۍ تر اغیز لاندې راغي. هر څنګه چې و، و، خو د مېلمستیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای کې ځومره چې د ښځې ځېره له خوښۍ نه تازه او سره کېده، په هماغه اندازه د هغې د مېړه پر بشرې د غم ځپې او رنګ الوتنه راخوریدل. داسې بریښیدل چې د هغوی: د مېړه او ښځې د بشرې د تازه کېدو برخه یوه وي، خو هر ځومره چې د ښځې هغې دغه احساس زیاتېده، په هماغه کچه د مېړه هغه لاپسې کمېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

نیکولای چې موسکایې له شونډو، نه ورکېده پر څوکۍ یې داسې ډډه لګولې وه چې یوې خوا ته خم شوی و. سر یې هغې ښکلې ژیړ څڼې خوا ته ورټیټ کړی او د هغې د ښکلا لپاره یې خیالي افسانې ورته ویلې.

د سورو پوځیانو په تنګ پطلون کې یې وتلې پښې، یو په بل اړولې را اړولې، په داسې حال کې چې د عطرو څپې ترې خوریدې، له ده سره غړیدونکې ښکلې ته یې سندریزې ستاینې ویلې، ځان پالنې او ځانستاینې یې هم نه وې هېرې کړې. خپل ښکلي ورنونه یې هم په تنګ پطلون کې ښوول او ویل یې چې دی غواړي د ورونژ له ښاره یوه ښکلې ښځه پېدا کړي.

-ښه، دا ښکلې ښځه څوک ده ؟

ښکلې !د خدای په لاس جوړه شوې ده. د هغې سترګې( نیکولای سره غړېدونکې ښځې ته کتل ) شنې، خوله یې مرجان، خپله تکه سپینه ( د هغې بربنډو اوږو ته یې کتل ) او ونه یې لکه د یان ( په لرغونو یوناني افسانو کې د زیوس لور چې د ځنګلونو او طبیعت خدای وه او په ادبیاتو کې د ښکلا ښښه وه ) داسې ده.

په دې وخت کې د ښځې مېړه چې غمجنه موسکا یې پر شونډو خوره وه له خپلې ښځې و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د څه په اړه غږېږئ ؟

نیکولای د درناوی په نښه پاڅېد او وې ویل:

-آه ! نیکیتـا ایوانـوویچ ! ګـواکې غوښـتل یـې وو ایـي چې دی بـه خوشاله شي، که نیکیتا ایـوانیچ هم د هغـو پـه ټوکـو کـې ګډون وکـړي. هغـه خپلـې هغـې خبـرې تـه دوام ورکـړ چـې غـواړي د دې لـه ښـاره یـوه ژېړ ځنې پټه کړي.

مېـړه هماغـه شـان غمړلـی موسـېده او ښـځه هماغـه شـان خوشـاله برېښېده. د والي ښځه چې یوه پـاک زړې ښـځه وه او د رستوف کـره وړه یې نه خوښېده، هغوی ته ورنېږدې شوه او وې ویل:

-نیکولینکه ! آنا ایګناتیوفنا هیله لري تا ووینې.

د آنا ایګناتیوفنا نوم یې داسې په ژبه اداکړ چې رستوف سمدلاسه پوه شو چې آنا ایګناتیوفنا، کومه خورا غوره مېرمن ده.

هغې وویل:

- راځه چې ځو نیکوله ! ګوره تا خپله ماته اجازه راکړه چې تا په دغه نامه یاد کړم.

-ګوره تروري ! دا راته وو ایه چې دا مېرمن څوک ده ؟

-آنـا ایګناتیوفنامـالوینځوا ! هغـې سـتا پـه اړه لـه خپلـې خـورځې اوریدلي و چې څنګه تا هغه ژغورلې وه... تصور یې کولای شي هغه به څوک یې ؟

- نیکولای وویل:

ما خو ډېر کسان ژغورلي دي.

- د هغـې خورځـه، شـهزادګۍ بالکونسـکایا ده. هغـه اوس دلتـه پـه ورونژ کې له خپلې ترور سره اوسي. اهآ ! څنګه سور شوې ! نه پوهېږم، نه چې ؟....

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما يې آن تصور هم نه شو کولای، دا څه خبرې دي ترور يې !

- ډېر ښه ! ډېر ښه ! څه عجبه شوخه ياستئ.

د والي ښځې هغه د يوې زړې لوړې او خورا ښورېې مېرمنې خواته چې شنه پخوانۍ خولۍ يې پر سر وه او هماغه شېبه د ښار له مخورو سره له قطعو ( پاڼو ) کولو او زګاره شوې وه، بدرګه کړ.

دا ښځه هماغه مالوينڅوا ، د مور له خوا د شهزادګۍ ماريا ترور وه. هغه کونډه او خورا بدايه وه او تل د ورونژ په ښار کې اوسېدله. کله چې رستوف هغې ته ورنږدې شو ، هغه ولاړه او په جوارۍ کې يې د بايللو پورونو ، پور پرې کاوه. هغې د درنو خلکو په شان درناوی وکړ او هغه جنرال ته يې چې له دې نه قمار ګټلی و، ښکنځلو ته دوام ورکړ.

هغې نيکولای ته لاس ور اوږد کړ او وې ويل:

- ډېره خوشاله يم د زړه سره ! هيله کوم چې ماته راشئ !

بوډۍ وروسته له هغه چې د شهزادګۍ او د هغې د خدای بښلي پلار په اړه چې ښکاريده چې هومره يې نه خوښېږي، وغږېده. له رستوف سره يې د سردار اندرې په هکله چې بيا هم بربښېده ، چندان ښه نه پرې لګېږي، خبرې وکړې، خو مخکې له دې چې له هغه سره مخه ښه وکړي، نيکولای ته يې بلنه ورکړه چې د دې کور ته ورشي.

نيکولای ژبه وکړه چې ليدو ته به يې ورځي، خو کله چې يې له مالوينڅوا سره خدای په امانی کوله، بيا تک سور شو.

د شهزادګۍ ماريا د نوم په ياديدو به هغه يو آشنا احساس، د شرم او آن د ويرې احساس، احساساوه.

نيکولای چې له مالوينڅوې نه لرې کېده ، غوښتل يې چې بېرته د نڅا بنډار ته ورستون شي، مګر کوربنې ښورب خو ښکلې لاس د نيکولای پر لاس ور کېښکود او ورته وې ويل چې غواړي، له هغه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغړېږي. هغه يې صالون ته بدرګه کړ او په صالون کې ناست کسان په هماغه شېبه کې له دې امله چې د والي د مېرمنې او د هغې د مېلمه د خبرو خنډ نه شي، سمدلاسه له صالون نه ووتل.

د والي ښځې چې وړه بشره او مهربانه څېره يې لرله، په زغرده او تريو نندي وويل:

- ګرانه ته پوهېږې، دا ستا ليلي ډېره ښه ناوې ده، غواړې ريباري به يې درته وکړم؟

نيکولای وپوښتل:

څوک يادوئ؟

- غواړم تاته شهزادګۍ وغواړم. کاترينا پتروفنا ... غواړې؟ زما په اند خورا ښکلې ده، څنګه؟ پوهېږم چې مور به دې ډېره منت داره شي، رښتيا يې رښتيا، څه نجلۍ ده! ډېره ښکلې! هغه هېڅ بدرنګه نه ده.

نيکولای داسې چې ګواکې چا دغه ښځه خپه کړې وي، وويل:

-نه، نه، هېڅ بدرنګه نه ده، چا ويل چې بدرنګه ده؟ ګوره ترور جانې، زه يو پوځي يم او هغه شان چې له پوځيانو سره ښايي، زه پر هيڅچا ځان نه ورزغمم. او له چا سره مخالفت هم نه لرم.

رستوف دغه خبرې په داسې چټکۍ کولې چې آن د دې وخت يې هم پيدا نه کړ چې د خپلو ويلو په هکله فکر وکړي.

- ګوره دا په ياد ولره چې زما خبرې ټوکې نه دي.

-کومې ټوکې؟ د والي ښځې ګواکې چې له ځانسره غږېږي، وويل:

-هو، هو! بيا يې مخ هغه ته ورواړاوه او زياته يې کړه:

په دې لړ کې غواړم دا هم ووايم چې ته د هغې ژېړ څښې شا او خواته ښکته پورته کېږې، د هغه مېړه ته د سړي زړه خوږېږي، که رښتيا راباندې وايې... نيکولای په خورا سادګۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-آخ ! دا څه وايي، مور‌ ِ له هغه سره ملګري يو. زما په خيال کې هم دا نه ګرځي چې زما د غه شان ښه وخت تېريدل د چا لپاره د خواشينۍ او خوابدۍ وړ شي.

شپه پخه شوې وه چې نيکولای ته وریاد شول:

- نه پوهېږم ما څه سادګي کړې ده، خو د والي ښځه اوس ځي او ريباري کوي، مګر سونيا به څنګه شي ؟ خو کوربنۍ د مخه ښه په وخت کې بيا هغه ته وويل:

-ګوره په ياد دې اوسه !

نيکولای هغه څنګ ته کړه او وې ويل:

-پوهېږې تروري ! که رښتيا درته وايم.. څه شي ؟ څه شي ؟ ګرانه درځه چې هلته سره کېنو.

نيکولای ناڅاپه دا سې هيله او وړتيا احساس کړه چې د خپل زړه ټول رازونه ( هغه رازونه چې تر اوسه يې آن خپلې مور او خور او خپلو نېږدې دوستانو ته نه و، ويلي ) دغې پردۍ ښځې ته ووايي.. هغه وويل:

پوهېږئ تروور جانې ! ډېره موده کېږي چې مور جانه مې غواړي له کومې بډايې نجلۍ سره زما کوژده وکړي، خو زه آن د دغه کار له خياله هم کرکه لرم، واده د پيسو په خاطر.

د والي ښځې وويل:

-پوهېږم، هو کې پوهېږم !

- خو د شهزادګۍ بالکونسکايا په اړه خبره بله ده، لومړی خو بايد رښتيا درته ووايم چې هغه مې ډېره خوښېږي، هغه زما په زړه ښځه ده او بله خبره داده چې په هغه ځانګړي حالت کې زما او ددې ديدن وشو، هغه ډېر د تعجب وړ دی ، ځکه تل مې په خيال کې ګرځي راګرځي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به بر خليک پريکړه وي. رښتيا وايم مور مې له پخوا نه په دې خيال کې وه، خو قسمت به نه و چې مور يو له بل سره وګورو. تل به دا سې پېښېده چې مور يو له بل سره آشنا نه شو او هغه چې زما خور ناتاشا د هغې له ورور سردار اندرې سره کوژده وکړه، دا مې په خيال کې هم نه ګرځېده چې کوم وخت به له هغې سره واده وکړم. دا قسمت ته ګوره چې زما او د هغې ديدن هغه وخت وشي چې ناتاشا او د هغې ورور خپل اړيکي سره وشلول. بيا هغه پېښه پېښېږي چې تاسو پوهېږئ. ما په دې اړه هېڅ چاته هېڅ نه دي ويلي او هېڅکله به يې هم چاته ونه وايم. يوازې تاسو ته مې وويل او بس.

د والي ښځې د مننې په نښه د هغه څنګل کېښکوده.

نيکولای چې تک سور شوی و، ناڅاپه يې هغې ته وويل:

- تاسو صفيه پېژنئ ؟ هغه مې د ترور لور ده. هغه ما ته ګرانه ده. ما له هغې سره د واده وعده کړې ده او غواړم له هغې سره واده وکړم. اوس پوه شوې چې ولې بله خبره نا شونې ده ؟

-ګرانه دا ته څه فکر کوې ؟ صفيه يوه بېوزلې نجلۍ ده، يو ټنګه هم نه لري. تا خپله ويل چې. پلار ژوند دې خرابه دی ، دا کار به دې ژوند پوره تباه کړي او بله دا چې که صفيه لږ عاطفه هم ولري، معلومه نه ده چې ژوند به يې څنګه شي ؟ دا لومړې خبره، بله دا چې هغه به دځان او ستا د مور د مايوسۍ او د دواړو د ژوند د تباهۍ سبب شي... نه، نه ګرانه ! ته او صفيه بايد په دې خبره پوه شئ.

نيکولای پته خوله پاتې او دا خبره ښه پرې ولګېده. هغه تر لږې چوپتيا او ساړه اسويلي نه وروسته وويل:

-په هر حال ترورې، دا کار ناشونی دی. بله خبره لا داده چې ايا شهزادګۍ غواړي له ما سره واده وکړي ؟ هغه اوس ماتم هم لري. ايا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي هغه په دې اړه فکر وکړي ؟

د والي مېرمن وويل:

-ته څه فکر کوې چې زه سمدلاسه تا ته کوژده کوم که څنګه ؟ نه، نه، هر کار خپل وخت او کار لري. نيکولای د هغې څورب لاس ښکل کړ او وې ويل:

تاسو خو په ريبارۍ کې بې ساري مهارت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

له رستوف سره تر کتنې وروسته شهزادګۍ ماریا، مسکو ته راغله. په مسکو کې هغې خپل وراره او د هغه روزنکی پیدا او د خپل ورور سردار اندرې هغه لیک یې تر لاسه کړ چې په هغه کې دوی ته لارښوونه شوې وه چې مسکو ته تر رسېدو وروسته، دوی په ورونژ کې خپلې ترور مالینخوا ته ورشي. د لېږدېدو ربړونه او ستونزې، د ورور غم، په نوي استوګنځي کې د ځای پر ځای کېدو خواری، له نویو خلکو سره پېژندګلوي، د وراره روزنه او پالنه، دې ټولو د شهزادګۍ ماریا هغه احساس چې د پلار له ناروغۍ او مرګه، په تېره بیا له رستوف سره تر کتنې وروسته، دې ته پیدا شوی و، سخته تر اغېز لاندې راوستې وه. هغه خورا خواشینې وه. د پلار د مرګ ویر او د روسیې تباهي ټول او ټول سره یو ځای شوي وو. اوس تر یوې میاشتې آرامه ژوند وروسته، دغه زوریدنې دم په دم زیاتېدې او د هغې آرامي یې ترې شړله. هغه ورخطا وه. هغه ګواښ چې دا یې ډېره زوروله او کړوله، هغه د واوره روزنه او پالنه وه. د وراره د روزنې له امله ځکه تل په اندېښنه کې وه چې ځان یې د هغه د روزنې وړ نه ګاڼه، خو د ننه په ګوګل کې په دې راضي وه او دا رضایت یې هم له دې امله و چې هغه هیلې او خیالونه چې ددې په زړه کې د رستوف تر کتنې وروسته را پیدا شوي وو، دې په ځان کې ښه او پوره ځپلي وو.

کله چې د والي ښځه تر خپلې مېلمستیا وروسته، بله ورځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالینځوا دیدن ته ورغله، له هغې سره د خپل دغه تکل په اړه وغږېده ( خو دا یادونه یې وکړه چې په اوسنیو حالاتو کې د رسمي ریبارۍ آن تصور هم نه کېږي، خو بیا هم کېدای شي، ددغو دوو ځوانانو د کتنې لاره ددې لپاره آوره شي چې له یو بل سره لا نېږدې آشنا شي ) د والي ښځې چې د ترور خوښه ترلاسه کړه، نو د شهزادګۍ ماریا تر مخې یې د رستوف په اړه خبرې پیل او د هغه د کړو وړو یادونه یې وکړه او وې ویل چې رستوف ددې د نامه په اوریدو تک سور شو. شهزادګۍ ماریا ددغو خبرو له اوریدو ، نه یوازې خوشاله نه شوه بلکې د هغې روحي آرامي لا پسې نا آرامه او په زړه کې یې د یاغي هیلو د شکونو او ملامتۍ او اله ګولې یوه څپه بیا راژوندې شوه.

شهزادګۍ ماریا ، د هغو دوو ورځو په اوږدو کې چې ددغو خبرو او له رستوف سره د کتنې تر منځ تېرې شوې، تل په دې خیالونو کې ډوبه وه چې له رستوف سره د کتنې په وخت کې به ددې کړه وړه څنګه وي. کله به یې ویل چې هر کله رستوف، ترور ته راشي دا به مېلمستون ته نه ورځي، ځکه چې دا ویرمنه ده او ویرجن باید مېلمانه و نه مني او کله به یې بیا فکر کاوه. تر هغې خواخوږۍ او مرستې وروسته چې رستوف له دې سره کړې دي، دا به ددې له خوا ، نه مننه او خورا بده وي او کله به یې په خیال کې دا تېره شوه چې ددې ترور او د والي ښځه ددې او د رستوف په اړه کوم ځانګړی تکل لري. ( د هغوی ځینو غلچکونو او خبرو ددې ښودنه کوله او ددې دا خیال به یې لا پسې پیاوړی کاوه ) او یا به هغې ځان ته ویل چې یوازې کولای شي په خپل ناقص عقل سره، د هغو په اړه داسې فکر وکړي، هغې به ویل:

-ایا هغوی په دې نه پوهېږي چې دا لا تر اوسه هم د ویر په جامو کې ګرځي ؟ دغه شان ریباري ددې د پلار روح ته سپکاوي او په خپله ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زوریدو سبب نه کېږي ؟ همدا چې د هغه د دیدن لپاره یې مېلمستون ته د ورننوتلو تکل وکړ ، په خیالونو کې ډوبه او د دې تصور یې وکړ چې رستوف به له دې سره د دیدن په مهال دې ته څه وایي. دې په زړه کې هغه ځوابونه هم راجوړ کړل چې دا به یې هغه ته وایي. د غه خبرې، ځوابونه او مرکه دې ته یا خورا سپک وبرېښېدل او یا دداسې ژورې معنی درلودنکي وو چې د دې سر، نه پرې خلاصېده، خو له هر څه نه دا ډېره له دې ویریده چې د رستوف په لیدو دا خواشیني نه شي. هغې دا احساسوله او دا هڅه یې کوله چې دا سې ونه شي. هغې تصور کاوه که داسې وشي، د دې راز به ښکاره شي.

د یکشنبې په ورځ چې کله شهزادګۍ ماریا له کلیسا راستنه شوه، چوپړ مېلمستون ته راننوت او هغې ته یې د ګراف رستوف د راننوتلو خبر ورکړ. هغه د دې زیري په اوریده ورخطا نه شوه او یوازې یې اننګي لږ څه سره او په سترګو کې یې لږه نوې ځلېدونکې ځلا وځلېده.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-تروري تا هغه ولید ؟

شهزادګۍ ماریا دغه خبره په داسې آرامۍ وویله چې خپله هم نه پوهېدله، څنګه هغه د دې خبرې په وخت کې داسې آرامه او طبعي پاتې شوه.

کله چې رستوف کوټې ته راننوت، شهزادګۍ د دې لپاره سر ښکته واچاوه چې مېلمه ته یې وخت ورکړ ،له ترور جانې سره روغبړ وکړي او وروسته کټ مټ په هغې شېبه کې چې نیکولای رستوف (مېلمه) دې ته مخ وروا ړاوه ، سر یې راپورته او په یو ځلېدونکې غلچک یې د هغه سترګو ته هرکلی ووایه. په ښکلي انداز، بشپړ ډاډ او ښکلې موسکا پر شونډو، پاڅېده او خپل ښکلی لاس یې په مهربانۍ د رستوف خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور وړاندې کړ او داسې یو آوازیې چې د لومړي ځل لپاره په هغه کې یو نوی سندریز ، تود او د ګوګل له تله راپاڅېدونکی د ښځتوب غږ اوریدل کېده، له هغه سره خبرې پیل کړي. پېغله بوری ین، هم چې په مېلمستون کې وه، په شک او تعجب یې شهزادګۍ ماریا ته کتل. هغه چې خپله د ناز ماهره وه، تصور یې هم نه شو کولای، چې شهزادګۍ له هغه نارینه سره له دې نه زیات په ناز ، ادا او ځیرکتیا وغږېږي چې غواړي دا یې خوښه شي.

پېغلې بوری ین له ځانسره وویل:

- یا تور رنګ ورسره ښه لګي او یا په رښتیا ښکلې شوې ده او زما ورته پام نه و. له هغه غوره داده چې ددې دا غږیده او خوځېده خومره په زړه پورې شوي دي.

که شهزادګۍ ماریا کولای شوای په هغه وخت کې په دې اړه فکر وکړي، هغه به له پېغلې بوری ین، نه لا زیات په ځان کې راغلي بدلون ته حیرانه شوې وای.

له هماغې شېبې چې شهزادګۍ ماریا دغه مهربانه او ګرانه بشره ولیدله. په هغې کې د ژوند یوه داسې نوې تلوسه را وپاریده چې هغه یې ددې له خوښې پرته خوځېدا او غږیدا ته هڅوله. د رستوف د رانٔنوتو سره سم د هغې څېره بدله شوه. د فانوس د منځ د انځورونو په شان چې لا روښانه شوی نه وي ، تول رنګارنګ انځورونه او کږې وږې هنري کرښې یې تورې او بې مانا برېښي، خو وروسته له هغه چې د هغه شمعه ولګېږي ناڅاپه د هغه فانوس بې ساري او حیرانوونکې ښکلاوې راڅرګندې شي. د شهزادګۍ بشره هم همداسې چور بدله شوه، هغه سپېڅلې او روحاني اور چې ددې په ګوګل کې لګېدلی و او دا د هغې له تودوالي نه ژوندۍ وه، د لومړي ځل لپاره ددې په بشرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې را څرګندہ شو. د هغې ټول روحاني او ددې په ګوګل کې ټوله لېوالتیا چې دې خپله هم له هغې نه کرکه لرله، له ځانه خوابدیتوب، نا خوښي، د هغې زوریدنې او غم، رحم ته هڅه، اطاعت، مینه او سربښندنه، ټول او ټول اوس د دغو ښکلو ځلېدونکو سترګو، له یوې ښکلې موسکا سره مل، د هغې د نازکې څېرې په ګوټ ګوټ کې راو ځلېدل.

رستوف ټول دغه څه داسې روښانه او څرګند لیدل چې ګواکې ټول عمر ده، هغه پېژندله. هغه داسې انګېرله چې دده تر مخې ولاړ څوک، چور بل څوک او تر ټولو هغو کسانو نه چې ده په ټول ژوند کې پېژندل او یا یې لیدلي وو، غوره او لوړ دی، آن تر هغو غوره هم ده. خبرې اترې خورا ساده او موضوعات هم ورځني وو. هرومرو دجګړې خبرې راپارېدې او دهر وخت په شان د خواشینۍ په څرګندلو کې لا زیاتېدې. دغه راز د شهزادګۍ ماریا او رستوف د وروستي دیدن خبره هم رایاده شوه، خو رستوف هڅه کوله چې خبره بدله کړي. د والي دمهربانې ښځې یادونه وشوه او د نیکولای او شهزادګۍ ماریا خپل خپلوان رایاد شول. شهزادګۍ ماریا د خپل ورور په هکله نه غږېده، خو کله چې یې ترور د اندرې یادونه وکړه، هغې خبره بدله کړه. دا څرګنده خبره وه چې هغې کولای شول د بل هر چا په شان د دود له مخې د روسیې د بدمرغۍ په هکله څه ووایي، خو دې ته ورور تر هر چا او هر څه نه زیات ګران و. هغې نه شو کولای او نه یې غوښتل د هغه په اړه هسې کوم څه ووایي. د نیکولای دې ته پام شو چې په ټولیز ډول هغه ځیرکتیا او پام چې دده په خټه کې نه لیدل کېده اوس په ده کې را څرګند شوی دی. د شهزادګۍ ماریا په کړو وړو ښه پوهېده او هغه څه چې ده لیدل، دی لا په دې ډاډه کاوه چې شهزادګۍ ماریا په خپل ډول کې یو بې سارې او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو تو پیر لرونکې ده. نیکولای هم کټ مټ لکه د شهزادګۍ ماریا په خبر، کله چې د هغه په اړه خبرې کېدې او آن کله چې د هغه په اړه فکر کېده تک سور او ښته او ورخطا کېده، خو له هغې سره او د هغې په وړاندې نیکولای ځان چور آرامه او خپلواکه احساساوه. هغه به پوره هغه څه نه ویل چې د غرېدا لپاره یې چمتو کړي وو، بلکې هغه څه یې چې هماغه شېبه خیال ته ورتلل او خوښ یې و، هماغه یې ویل.

نیکولای په دغې لنډې کتنه کې لکه هغه شان چې هر ځای کې د دغو کتنو په وخت کې ماشوم هلته وي، کله چې چوپتیا خوره شوه، د سردار اندرې زوی ته ور وړاندې شو، پر هغه یې لاس تیر کړ او ترې وې پوښتل چې غواړې د سواره پوځ افسر شې؟ هغه یې په منګولو کې را جګ کړ، په خوښۍ یې راتاو او په دې شېبه کې یې شهزادګۍ ماریا ته وروکتل. د شهزادګۍ ماریا، مهربانه او له نیکمرغۍ نه پاریدلې غلچک، دده د خوښې نارینه په غېږ کې د ټینګ شوي ماشوم نه، نه جلا کېده. د نیکولای دې غلچک ته پام شو او داسې وبرېښېده چې د هغه په مانا پوه شوی و. دی د هغه له خونده تک سور شو او په خورا خوښۍ او مهربانۍ یې د ماشوم ښکلول پیل کړل.

شهزادګۍ ماریا د خپل پلار د مړینې د ویر له امله هېڅ چېرې نه تله او نیکولای هم دا غوره وګڼله چې د هغوی کره تګ راتګ ونه کړي، خو دوالي ښځې خپلې ریبارۍ ته دوام ورکاوه. هغې نیکولای ته د شهزادګۍ هغه خبرې کولې چې هغې د هغه په اړه له دې سره کړې وې او شهزادګۍ ماریا ته یې هغه مینه ناکې او ښې ویناوې وریادولې چې نیکولای به خپلو خبرو کې هغې ته کړې وې، نو له همدې امله یې داسې لاره جوړه کړه چې دغه دواړه په کلیسا کې تر لمانځنې مخکې د پاپ سره یو ازې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم نیکولای د والي ښځې ته وویل چې شهزادګۍ ماریا ته هېڅ ډول مینه ناکې خبرې ونه کړي، خو دا وعده یې وکړه چې کلیسا ته به ورسره لاړ شي....

له شهزادګۍ ماریا سره تر دغې کتنې وروسته که څه هم د نیکولای د ژوند په بهیر کې کوم بدلون رانغی او هماغه شان پاتې شو، خو د ژوند پخواني خوندونه، ټول د هغه لپاره بې خونده شول. هغه زیاتره وخت د شهزادګۍ ماریا په هکله په فکر کولو کې تیراوه، خو دغه فکر هسې نه و لکه د هغو نجونو په اړه چې ده به په بنډارونو کې لېدلې او نه په هغه ډول چې ده به ډېر وخت او په یو ډول مینه ناکې تلوسې د سونیا په اړه فکر کاوه. هغه لکه هغه شان چې د هر ښه ځوان خیال وي او هرې نجلۍ ته د خپلې راتلونکې ښځې په توګه ګوري، هره ښه نجلۍ په خیالونو کې خپله ښځه ګڼي او له هغې سره د ګډ ژوند چرتونه وهي، فکر کاوه:

چې سپین اوږد کمیس په غاړه، سماوار ته ناسته، د ښځې د ماشومانو ګاډی یې داسې، ماشومان یې هسې، دمور او پلار اړیکې یې ځنګه او څنګه او نور او نور....

د راتلونکې په اړه دغو خیالونو ډېر خوند ورکاوه، خو کله چې به هغه د شهزادګۍ ماریا په اړه چې ده ته یې ریباری کېدونکې وه، فکر کاوه، له هغې سره یې د ګډ ژوند په اړه هېڅ فکر هم نه شو کولای، هغه که په دې اړه د فکر کولو هڅه هم کوله ، هسې بې پایلې ورته بریښېده او دغو خیالونو هغه خواشینی کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

د بارادینو د جګړې، زموږ د پوځ د بې ساري مړګ ژوبلې وحشتناک حالت او تر دې هم لا وحشتناکه د مسکو د تسلیمۍ خبر، ورونژ ته د سپتمبر په نیمایي کې راورسېد. شهزادګۍ ماریا د ورور د ټپي کېدو خبر یوازې په ورځپانو کې په داسې ډول ولوست چې د پېښېدو د ځای په اړه یې، هېڅ ډول معلومات نه درلود، خو بیا هم هغې پرېکړه وکړه چې لاړه شي او هغه ولټوي

نیکولای له شهزادګۍ ماریا سره له کتنې پرته دا خبرونه له بل چا واورېدل.

نیکولای چې د برادینو د جګړې، په تېره بیا د مسکو د تسلیمۍ خبر واورېد، نه ناهیلی شو، نه په قهر او نه یې دې ته ورته نور څه احساس کړل، خو ناڅاپه هغه داسې خواشیني، د وجدان نا آرامي او له ځان سره شرم احساس کړ چې نور یې په ورونژ کې ځانته د ناستې ځای نه لید. هغه ته ټولې خبرې یو ډول لاسي او نارښتینې برېښېدې، هغه نه پوهېده چې پر دغو خبرو او کړو وړو کې څنګه قضاوت وکړي او داسې یې انګېرله چې یوازې په غونډ کې به ده ته هر څه بېرته څرګند او په ډاګه وبرېښي، هغه غوښتل چې په چټکۍ د آسونو پېرېدل پای ته ورسوي. کله نا کله پرته له هر ډول پلمې او ناحقه خپلو چوپړانو او یاورانو په قهرېده.

له ورونژه د رستوف له تګه څو ورځې مخکې په جګړه کې د روسي پوځ د برې ویاړ، په کلیسا کې د دعا او منت دارۍ د مراسمو د نیولو په وخت کې هغه څو کتاره تر شا ودرید، پوځي دریځ ته په پام، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلابېلو خيالونو کې ډوب ، د مراسمو تر پايه همالته ولاړ پاتې شو. کله چې دعا پای ته ورسېده، د والي ښځې هغه خپلې خواته وروغوښت.

هغې د سر په ښوريدو ، هغې ښځې ته چې توري جامې يې اغوستې وې، اشاره وکړه او وې ويل:

-شهزادګۍ دې وليده ؟

نيکولای سمدلاسه شهزادګۍ وپېژانده ، خو نه د هغې د مخ له ځنګه چې له خولۍ نه راڅرګند و بلکې د هغه ډار، رحم او احتياط د احساس له مخې چې د هغې په ليدو ، دده په زړه کې راوپاريده. شهزادګۍ ماريا په څرګنده په خپلو خيالونو کې ډوبه وه او د کليسا نه تر وتلو مخکې يې پر خپل ټټر او تندي بيا صليب انځور کړ.

نيکولای په حيرانۍ د هغې مخ ته کتل. دا هماغه څېره وه چې ده پخوا ليدلې وه، د هغې په بشره کې هماغه تنده تلوسه، روحاني او کوګليزه رڼا لېدل کېده، خو دا وار هغه روحاني رڼا چور بله رڼا وه. په هغه کې د غم، د ناهيلې تلوسې او خواشينۍ تصوير انځوريده. نيکولای د پخوا بر خلاف د شهزادګۍ په مخکې، پرته له هغه چې د والي د ښځې لارښوونې ته سترګه په لاره شي، خپله هغې ته ونږدې شو ، دې ته په نه پام سره چې دلته په کليسا کې له هغې سره خبرې کول، ښه دی که بد ، له هغې سره يې خبرې پيل کړې او ورته وې ويل:

دده دې د ماتم او وير اوريدلي او د زړه له کومې هغې ته خپله خواشيني څرګندوی.

همدا چې هغې د هغه غږ واوريد. ناڅاپه د هغې څېره وغوړيده او همهاله د هغې پر بشری د غم او خوښۍ څپې را خورې شوې.

رستوف وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غواړم تاسو ته یو خبره وکړم او هغه دا که سردار اندری نیکولایوویچ ژوندی نه وای، دیوه پوځي قوماندان په توګه به په ورځپانو کې د هغه د مرګ خبر خپور شوی وای.

شهزادګۍ که څه هم په دې نه پوهېده چې هغه څه وایي، هغه ته یې کتل، خو د هغه په څېره کې د غم او خواشینۍ د حالت له څرګندېدو یې خوند اخېست.

نیکولای ویل:

- ما د ګولۍ (ورځپانو لیکلی لاسي بم) د لګېدو نه ډېر تېپونه لیدلي. هغه یا هماغه شېبه انسان وژني او یا خورا سپک وي. زه هیله لرم چې هر څه ښه دي او په دې ډاډه یم....

شهزادګۍ د هغه خبرې پرې کړې او وې ویل:

- دا څه وخت دی.. د ګېنهۍ له امله یې خپله خبره پای ته و نه رسوله او په یوې درنۍ او به زړه پورې خوځېدا یې (د بل هر کار په شان چې د هغه په مخکې به یې کاوه) د درناوۍ په نښه هغه ته وکتل او خپلې ترور پسې لاړه.

په دغه ماښام نیکولای هېڅ چېرې نه لاړ ددې لپاره په کورکې پاتې شو چې دآسونو له پلورونکو سره، خپل حسابونه خلاص کړي. کله چې یې دغه حسابونه خلاص کړل، که څه هم بل چېرته د تګ لپاره ناوخته شوې وه، خو د ویدیدو لپاره هم لا وخته وه. نیکولای تر ډېرې پورې په خپله کوټه کې وړاندې وروسته ګرځېده راګرځېده، د خپل ژوند په هکله یې فکر کاوه. دغه حال او دا فکرونه، د هغه په ژوند کې کم پېښېدل.

شهزادګۍ ماریا، د سمولینسک په څنډو کې، د هغه پر زړه خورا خوږه اغیزه کړې وه. دا چې دی هغه وخت دلو مړي ځل لپاره له هغې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ شوی و ، دا چې دده مور شهزادګۍ ده ته، دیوې بډایې ناوې په توګه ښوولې وه، دا ټول ددې لامل شوي وو چې دی هم په ځانګړې توګه هغې ته پاملرنه وکړي.

د ورونڅ په ښار کې یې له هغې سره کتنه نه یوازې هسې اغیزمنه بلکې خورا اغیزمنه وه. نیکولای د هغې روحاني او اخلاقي ښکلا حیران کړی و . په هر حال هغه تکل کړی و چې له ورونڅه لاړ شي او دا تصور یې هم نه کاوه چې له ورونڅه، تګ او له شهزادګۍ ماریا سره لرې کېدل به دی وزوروی، خو په کلیسا کې له شهزادګۍ سره دده دیدن ، تر هغه څه چې دی ورته هیله مند و ، پر ده زیاته اغیزه کړې وه. (نیکولای دا احساسول ) تر هغه څه نه زیات چې ده د خپلې آرامۍ لپاره غوښتل. دا رنګ الوتې تانده او غمجنه څېره، دا روښانه غلچک، دا نرمه او ښکلې خوځېدا او تر ټولو لا غوره دا ژور او مینه ناک غم چې ددې د څېرې په ټولو نښو او کرښو کې څرګند و ، دی زوراوه او له هغې سره خواخوږۍ او په هر څه کې ګډیدو ته لمساوه. نیکولای رستوف په نارینو کې د لوړ روحاني حالت د لیدو زغم نه لاره ( نو له دې کبله د هغه سردار اندرې نه خوښېده ) ده د غه فلسفي غمجن حالت سپکاوی ګڼه، مګر د شهزادګۍ دغه غمجن حالت، د هغې د هغه ژوره روحاني آرامي څرګندوله چې نیکولای هغه نه پېژانده، خو په ده یې سخت اغیز کاوه، هغه له ځانسره ویل:

-باید ښکلې نجلۍ وي ! کټ مټ د ښاپېرۍ په شان ! ولې زه آزاده نه یم ؟ ما ولې له سونیا سره په اړیکو کې تلوار وکړ ؟

نابېره او بې ارادې یې په خیال کې یوه پرتله وکړه، بې وزلې یو پلو او هغه روحاني بډایتوب چې نیکولای خپله نه درلوده، بل پلو ، نو له دې کبله هغه دغه روحاني بډایتوب ته په ډېره درنه سترګه کتل. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې تصور وکړ که دی اوس آزاده وای، څه به شوي وای ؟ څنګه به یې د هغې ریباري کوله ؟ څنګه به هغه ددې ښځه وای ؟ نه، نه، ده ددغه شان یو حال تصور نه شو کولای. د هغه زړه ربړدیده او کوم روښانه تصویر یې تر سترګو نه ورته. هغه له سونیا سره د ګډ ژوند تصویر، پخوا انځور کړی و، ددغه خیال انځور خورا ساده، مګر روښانه و، ټول هغه څه چې په دغه خیال او انځور کې و، دی پرې پوهېده، ځکه هغه دده د خیال زېږنده وو، ځکه هغه سونیا ښه پېژندله، د هغې په ټولو کړو وړو او عادتونو بلد و، خو د شهزادګۍ ماریا تر څنګ راتلونکی ژوند دده لپاره نا آشنا و، دی پرې نه پوهېده او تصور یې هم نه شو کولای، ځکه ده هغه نه پېژندله او ده ته یوازې ګرانه وه.

د سونیا په اړه تصور او خیال تل رنګین او لوبو ته ورته و، خو د شهزادګۍ ماریا په اړه تصور هغه ته تل ګران او وحشتناک و. هغه ته وریادیدل:

- څنګه هغه په دعاوو کې ډوبېږي !

داسې ښکاریده چې د هغه ټول روح په دعاوو کې ډوبېږي. هو کې، دا هغه دعاوې دي چې غرونه رغونه خوځوي. زه په دې ډاډمن یم چې د هغې ټولې دعاوې به قبولې شي او بیا وروسته وریاد شول:

- ولې زه د هغه څه لپاره چې غواړم یې، دعا نه کوم ؟ زه څه غواړم ؟ له هغې ژبې او وعدې ژغورنه چې ما سونیا ته ورکړې ؟

د والي د ښځې خبرې وریادې شوې او له ځانسره یې وویل:

-هغه رښتیا وایي چې له سونیا سره زما واده کول به له بدمرغۍ پرته بل هېڅ څه نه وي. مور به مې له غمه مړه شي. زما مور به له غمه مړه او د پلار چارې به مې تالا والا شي. وحشتناکه ګډوډي. ماته ګرانه ده، خو هغه شان چې ښایي، ماته هغه ګرانه هم نه ده. ناڅاپه یې په دعاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل وکړ:

- لویه خدایه ما له دغه وحشته وژغوره ! له دغې بې لارې نه مې خلاص کړه !

د دعاوو په مرسته کولې شو، غرونو وخوځو، خو د دې لپاره باید ایمان ولرو او هسې تشې دعاوې ونه کړو. هغه شان دعاوې چې ما او ناتاشې په ماشومتوب کې کولې، د ساري په توګه مو به ویلې:

- یا خدایه واورې په خوږو بدلې کړې !

او بیا به مو انګړ ته ورمنډه کړې چې واورې په خوږو بدلې شوې دې او کنه ؟

خو اوس د دغو شیانو لپاره دعا نه کوم. تر دې خبرو وروسته یې خپل پیپ یوې خوا ته کېښود او لاسونه یې دعا ته برابر کړل، د سپېڅلي شمایل تر مخې ودرید او دعا ته برابر شوي لاسونه یې شهزادګۍ ماریا ته د دعا لپاره پورته کړل. هغه لا د هر وخت دعا نه وه کړې چې اوښکې یې په سترګو کې را ډنډ شوې، ساندو ته یې غاړه کېښکوده، خو په دې وخت کې لاورشکا چې څو لیکونه یې په لاس کې وو، کوټې ته راننوت. نیکولای په چټکۍ خپل آواز بدل کړ او غږیې وکړ:

-احمقه ! ما چې غږ نه وی در کړي ولې راننوزې ؟

لاروشکا په خوبولي آواز وویل:

- د والي د ښځې نه راغلی، تاسو ته زیری لري، تاسو ته یې لیکونه راوړي دي.

--ښه ده، ښه ده ! لیک کېږده، درځه لاړشه !

نیکولای دوه لیکونه واخېستل، یو یې د مور او بل یې د سونیا و. هغه، هغه لیکونه د لیکدود او د سونیا د قلم له نښې وپېژندل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک څو کرښې یې لا لوستې نه وې چې د هغه رنګ والوت او سترګې یې له ډار او خوښۍ نه ووتې، هغه په لوړ آواز وویل:

- نه، نه دا ناشونې ده !

هغه ته څمکې ځای نه ورکاوه. بیا یې لیک په ځیر ولوست، یو وار یې بیا اوږې پورته واچولې، لاسونه یې څنډ وهل. په داسې کې چې خوله یې وازه پاتې وې او سترګې یې په تېرو بدلې شوې وې، د کوټې په منځ کې هک او حیران ودرید. هغه، هغه څه چې یوه شېبه مخکې په دعا کې له خدایه غوښتل، قبول شوي وو. هغه په دې ډاډ درلود چې خدای به یې دعا قبوله کړي، خو هغه له دې نه داسې حیران او هک پک شوی و چې ګواکې کوم بې ساري څه تر سره شوي وي. داسې بریښېده چې په ژوند کې یې هم ددغه شان یو څه پېښېدو ته انتظار نه درلود. داسې چې ګواکې دده ددې هیلې داسې تر سره کېدل، ددې ښودنه کوله چې دا د خدای په دربار کې دده ددعا د قبلېدو له امله نه بلکې یو تصادفي خبره وي.

دا د هغې غوټې غوړېدل و چې د رستوف د آزادۍ زېری یې راوړ. دا غوټه د سونیا په دغه ناڅاپي لیک (د نیکولای له نظره ) پرانستل شوې وه، هغې لیکلي و:

وروستی بد مرغه حالت، په مسکو کې د رستوفیانو د کورنۍ د ټولې شتمنۍ تالا والا کېدل، د ګرافینې هغه هیله چې په وار وار سره یې ویلې و چې نیکولای دې له شهزادګۍ بالکونسکایا سره واده وکړي، دده خپله چوپتیا او سوړوالی، دې ټولو او ټولو(سونیا ) دې ته اړوزي چې له خپلې ژبې او وعدې سترګې پټې کړي او نیکولای ته د هغه بشپړه ازادي ورکړي.

هغې لیکلي و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



" دا زما لپاره خورا ګرانه ده چې فکر وکړم، د هغې کورنۍ د غم او په هغو کې د ناندریو او سالیو سبب شم چې زه خپل ژوند د هغوی منت باره ګڼم، زما مینه یو ارمان لري او هغه د هغو کسانو نیکمرغي ده چې ماته ګران دي. نو نیکولس( نیکولای ) ، زه له تانه هیله کوم چې ځان له خپلې وعدې او ژبې نه آزاد وګڼې او ډاډ ولري چې هرڅه چې پېښېږي، هغه به پېښېږي، خو یو څه په یاد لره چې بل هېڅ چا ته به دا سې ګران نه وي لکه ستاسو سونیا ته چې وې ".

دغه دواړه لیکونه د ترویځې له ښارګوټي لیکل شوي وو. دویم لیک د ګرافینې و. د ګرافینې په لیک کې د دوی د مسکو د وروستیو ورځو د ژوند حال بیان شوی و. له مسکوه وتل، د اورونو لګېدل او ددوی د ټولو شتمنیو تالا والا کېدل. ګرافینې په خپل لیک کې دا هم لیکي و چې سردار اندری له نورو ټپیانو سره یو ځای له دوی سره په همدې کاروان کې مل و. هغې لیکلي و چې د هغه روغتیایي حالت خورا ګواښمن و ، خو اوس داکتر ورته ویلي دي چې د رغېدو ډېره هیله یې پیدا شوې ده. دې یادونه کړې ده چې ناتاشا او سونیا لکه د روغتیاپالو په شان د هغه پالنه کوله.

نیکولای له دې لیکونو سره یو ځای، بله ورځ د شهزادګۍ ماریا دیدن ته ورغی. نه ماریا او نه نیکولای یوه هم په لیک کې په دې اړه چې په لیک کې ناتاشا د هغه پالنه کوي، خبره څه معنی لري، یوه خبره هم ونه کړه، خو ددغه لیک له برکته و چې ناڅاپه نیکولای، له شهزادګۍ ماریا سره ځان داسې نږدې وګاڼه چې د هغې او ځان تر منځ یې څه کم د خپلوۍ اړیکي احساس کړل.

بله ورځ نیکولای، شهزادګۍ ماریا ، د یارسلاو ښار ته بدرګه کړه او څو ورځې وروسته دی خپله هم خپل غونډ ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

نیکولای ته د سونیا لیک چې د هغه د دعا د قبولۍ نښه وه، د تریوځیا، په ښار کوټې، کې لیکل شوی و. په دې لیک کې له کومې بدایې پېغلې سره واده کول د مشرې ګرافینې د خیالونو د انځوریدو څرګندونه کوله. هغه په دې پوهېده چې سونیا په دې لاره کې تر ټولو لوی خنډ دی، نو له همدې کبله په دې کورکې د سونیا ژوند، هغه هم په تېره بیا د نیکولای د لیک د تر لاسه کولو وروسته چې په هغه کې یې په باګوچاروو کې له شهزادګۍ ماریا سره د خپلې لیدنې او مرستې په اړه لیکنې کړې وې، ورځ تر ورځ ګرانېده. مشرې ګرافینې، هره شېبه سونیا زوروله او د هغې د زورولو لپاره یې له هرې پلمې کار اخېست.

له مسکوه تر وتلو څو ورځې مخکې، مشره ګرافینه چې له حالاتو او پېښو خوابده شوې وه، سونیا ځانته ور وغوښته او د هغې د ملامتولو پر ځای یې په ژړا له هغې نه غوښتنه وکړه چې په یوې سرښندنې او قربانۍ، له نیکولای سره خپل اړیکې وشلوي او په دې توګه د هغو ښو حق پر ځای او ادا کړي چې له دې سره په دې کورکې شوي دي. ګرافینې سونیا ته وویل:

-تر هغه چې له ما سره ژبه و نه کړې، زه به هېڅکله آرامه نه شم.

سونیا په ژړا شوه، لکه دلېونو په شان یې ساندې وهلې او په ژړا ژړا یې ویل، هر هغه چې دوی غواړي، دا به یې تر سره کړي، خو بیا یې هم په ډاګه او زغرده څه نه ویل. هغې نه شو کولای، د زړه په تل کې، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ومني چې کېدونکي دي. هغې نه غوښتل ځان له هغې کورنۍ نه ځار نه کړي چې دې ته يې ډوډۍ ورکړې وه، دا يې روزلې وه، هغه د نورو د نيکمرغۍ لپاره د ځان ځارونې سره روږدې وه. په هغې کورنۍ او کورکې، د هغې دريځ داسې و چې يوازې د سرښندنې او ځان ځارونې له لارې يې کولای شو، خپلې ښيګڼې وښيي. هغه له دې کار سره روږدې شوې وه او دا کار يې خوښېده، خو پخوا دا داسې عادت شوې وه او منلې وه چې له هر څه نه په انکار سره، دا د ځان او نورو تر نظر نه يوازې ښه برېښي بلکې له نيکولای سره د واده کولو وړتيا پيدا کوي. نيکولای، هغې ته په ژوند کې تر هر چا نه زيات ګران و. دا وار له هغې نه هيله کېده چې، له هغه چا نه تېره شي چې د هغې د لاس ته راوړلو لپاره يې دا ټولې هڅې او سرښندنې کړې وې. له هغه چا نه دا بايد تېره شوې وای چې ددې لپاره يې د ژوند معنی لرله.

د لومړي ځل لپاره هغې دا احساس کړه، هغه کسان چې پر دې يې تر ټولو زيات حق درلود او ټول ژوند يې ددې خواخوږي کړې ده، اوس دا تر ټولو زيات په عذابوي او دا له هغو نه کرکه لري. هغې له ناتاشا سره ځکه کرکه پيدا کړه چې هغې په ژوند کې هېڅکله داسې بد مرغي نه وه ليدلې.

ناتاشا په ژوند کې له چا سره سرښندنې ته اړتيا نه لرله او تل يې نور د ځان لپاره سرښندنې ته اړ کړي وو، خو له دې سره سره بيا هم ټولو ته ګرانه وه. د لومړي ځل لپاره سونيا ناڅاپه داسې احساس کړه چې په دې کې له نيکولای سره د ارامۍ او سپېڅلې مينې نه، يو سوځنده احساس، چې له تقوا او مذهبي احساس نه هم لوړ و رالمسېږي. سونيا چې نورو پورې اړوند ژوند، صبر او زغم ډکه کړې وه، د همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس تر اغیز لاندې په ناڅرګنده او ټولیزو خبرو کې ګرافینې ته ځواب ورکړ او تر هغه وروسته یې هم هڅه کوله، له هغې سره له خبرو اترو نه ډډه وکړي. هغې په تولیزتوګه دا هیله لرله د نیکولای راتګ ته سترګه په لاره شي. او له هغه سره په دې دیدن کې نه یوازې اړیکي ونه شلوي بلکې د تل لپاره یې له هغه سره لا ټینګې او خواږه کړي.

په مسکو کې د رستوفیانو د کورنۍ د وروستیو ورځو د ژوند، ستړیاوو او له سختیو، پیدا شوي وحشته، هغو ناولیو خیالونو او زورونکو فکرونو چې سونیا زوروله، دا یې تر خپل اغیز لاندې راوستې وه. هغه په دې خوشاله وه چې په خپلو کړو وړو به دغه ټولې ستونزې هېرې کړې، خو کله چې هغه په کور کې د سردار اندرې له شتوالي نه خبره شوه، سره له هغه چې په هغه او ناتاشې یې د زړه له کومې زړه خوږېده، خو په زړه کې یې د خوښۍ او ویرې یوه داسې تلوسه پیدا شوه چې خدای دې نه کوي چې له نیکولای نه جلا شي. هغه په دې پوهېده چې ناتاشې ته یوازې سردار اندرې ګران دی او هېڅکله به د هغه مینه هېره نه کړي. هغه په دې پوهېده چې که بخت بیا په دې سختو او وحشتناکو شرایطو کې ناتاشا او سردار اندرې سره یو ځای کړي دي، بیا به یو بل ته ګران او هغه وخت به بیا نیکولای د خپلوۍ له کبله ونه شي کولای، له شهزادګۍ ماریا سره واده وکړي..

د لومړي ځل لپاره، د رستوف کورنۍ د ترویڅکی په ښار ګوټي کې دمه وکړه.

د دغه ځای په مېلمستون کې یې هغوی ته درې کوټې ورکړې. له دغو درې کوټو نه یې یوه سردار اندرې ته جلا کړل شوه. د هغه ټپونه په دې ورځ تربل هر وخته ښه وو. ناتاشا به له هغه سره ناسته او د هغه پالنه به یې کوله. د هغه د څنګ په کوټه کې، ګراف او ګرافنینه ناست او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه روحاني سره چې د پخوانيو آشنايانو او مرستندويانو ديدن ته راغلی و، په خورا درناوي يې د زړه خواله کوله. سونيا هم هماغه ناسته او په دې تلوسه کې وه چې پوه شي، سردار اندرې او ناتاشا څه سره وايي. هغې د دروازې له شا د هغو غږ اوريده. د سردار اندرې د کوټې ور پرانيستی و. ناتاشا په خورا تلوار او ګړندۍ له کوټې راووته. د هغې، هغه کشيش ته چې د هغې په ليدو پاڅېد او خپل اوږد لستوڼی يې په کيڼ لاس د تبرک په هيله برابر ونيو، پام نه شو. ناتاشا سونيا ته رانږدې شوه او هغه يې له لاسه راونيوه.

ګرافينې وويل:

- ناتاشا، څه شوې؟ دلته راشه!

ناتاشا وړاندې لاړه، کشيش د تبرک په نښه لاس پرې تېر کړ او ورته وې ويل چې له خدای او د هغه له سپېڅلي بنده (ولی-پاپ) نه مرسته وغواړي.

د کشيش تر وتلو سمدلاسه وروسته، ناتاشې سونيا له لاسه ونيوه او له هغې سره د بېيمې کوټې ته لاړه او ورته وې ويل:

-سونيا دا راته ووايه، هغه به ژوندی پاتې شي؟ سونيا پوهېږې، زه څومره نيکمرغه او څومره بدمرغه يم! ګرانې سونيا! د زړه سره! هر څه د پخوا په شان دي، کاشکې ژوندی پاتې شي.

د سونيا خواشينې تر خورلنډې لږه نه وه. سونيا هم د ناتاشې له غمه او هغه ته له سودا نه او هم د خپلې خواشينۍ نه چې هېڅوک ترې خبر هم نه و، په سلګو سلګو ژړل، ناتاشا يې ښکلوله، هغه يې آراموله او ويل يې:

- کاشکې ژوندی پاتې شي، کاشکې!

-هو کې! زه په دې پوهېدم! د خدای شکر دی. هغه به ژوندی پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.

دوارو خورلنډي، تر ژړا، غږېدا او اوښکو پاکولو وروسته، د سردار اندرې د کوټې د دروازې پلو ته لاړې. ناتاشې د کوټې دروازه، پرانسته او د کوټې د ننه يې ورو کتل. سونيا د نيمه پرانتې دروازې په خوله کې ولاړه وه.

سردار اندرې، پر درې لوړلو بالښتونو پروت و. د هغه رنګ الوتې بشره، آرامه سترګې پټې او داسې برېښېده چې په ارامۍ او منظمه سا باسي.

سونيا په داسې حال کې چې د خپلې ترورزيۍ لاس راونيو، هغه يې له دروازې لرې کړه او ناڅاپه چغه کړه:

-آخ! ناتاشا!

سونيا چې رنګ يې تښتېدلی و او شونډې يې رېږدېدې، وويل:

-دا، هو کې، دا... هماغه...

ناتاشې په کراره دروازه پورې کړه او له سونيا سره په ګډه د کړکۍ پلو لاړه، خو په دې يې لا سر نه و خلاص چې څه وايي.

سونيا له وحشت او خوښۍ نه په ډکې څېرې وويل:

- ستا هغه وخت ياديږي چې په هينداره کې مې ستا فال ليده. هغه وخت د اترادنيا وختونه وو. هغه ورځ د حضرت مسيح د زوکړې شپه وه. ستا يادېږي چې څه مو وليدل؟

ناتاشا چې له حيرته يې سترګې ځلور شوې وې، وويل:

-هو کې! هو کې!

هغې ته په تته ورياديده چې سونيا هغه وخت د سردار اندرې په اړه څه ورته ويلي و او يادونه يې ورته کړې وه چې هغه په کې پروت ويني.

سونيا دوام ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-یادېږي دي ؟

ما هغه وخت ولیدل او تا ته مې ټول وویل، تا او دونیاشې ته، ما وویل چې هغه په کټ کې پروت دی.

هغې په وار، وار خوځېدا د هغه په انځورولو خپله ګوته پورته کوله.. او ویل یې چې هغه په کټ کې پروت او سترګې یې پټې کړې او همدا اسې ګلابي څادر ترې تاو دی، هغه دي لاسونه یې پر یو بل کېښودل. هغې دا ویل او دم په دم د هغه تصویرول او انځورول زیاتول چې څو شېبې دمخې یې ویلي وو. هغه شېبه په شېبه په دې ډاډمنه کېده چې دا هماغه څه دي چې دې پخوا په هینداره کې لیدلي وو. هغې پخوا هېڅ شي نه و لیدلي او هغه څه چې هغه وخت د هغې ذهن ته ورغلي و، هغې د ټولو هغو شیانو په شان رښتیا ګڼل، لکه چې دې ته وریادیدل. هغې هغه وخت ویلي و چې سردار اندرې دې ته کتلي دي، سردار اندرې دې ته موسېدلی دی او په ګلابي څادر کې یې سر مروړل شوی دی. دغه شیان دې ته نه یوازې وریادیدل، بلکې پوره ډاډ یې درلوده چې دې رښتیا لیدلي دي..

ناتاشا په خیالو کې ډوبه وه، هغې وپوښتل:

-نو دا ټول څه مانا لري ؟

سونیا خپل سر په لاسونو کې راټینګ کړ او وې ویل:

-آو، څه وو ایم، پوهېږمه چې دا ټولې هسې بابیزه خبرې دي.

څو دقیقې وروسته سردار اندرې زنګ وواهه او ناتاشا د هغه کوټې ته ورغله، خو سونیا په ګڼهۍ او مینې چې خورا لږ به دد دې پر زړه راخوریدل د کړکۍ تر څنګ پاتې وه او په دې خیال کې وه چې څه پېښېږي او څه کېږي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورځ، ګرافینې ددې وخت پیدا کړلیک ولیکي او په پوځ کې یې خپل زوی ته ولېږي. کله چې سونیا د ګرافینې له خنګه تېریده، سریې راهسک کړ، په کرار او لړزیدونکي آواز یې وویل:

- سونیا، ته نیکولینکا ته څه شي نه لیکي؟

او سونیا دعینکو له شا نه، د هغې په ستومانه سترګو کې ټول هغه څه ولوستل چې ګرافینې غوښتل سونیا ته وو ایي. په دې کتو کې هم زاری، وې هم وېره، هم له هغه څه نه شرم چې دې یې ویل غوښتل او هغه کرکه چې که ددې د خبرو د نه منلو له امله به دې څرګندوله.

سونیا ګرافینې ته ورنېږدې او د هغې پښو ته په ګونډو ګونډو شوه، د هغې لاس یې ښکل کړل او وې ویل:

- لیکم یې مورجانې!

سونیا هغه ورځ له هغه څه نه چې پېښ شوي وو، په تېره بیا د هغه له رازه ډک اتکل نه چې دا پرې پوه شوې وه، نرمه شوې، له تلوسو پاریدلې او زړه یې له مینې مست شوی و. اوس دا په دې پوه شوې وه که د ناتاشا او سرداراندرې اړیکې بیا تازه شي، نیکولای به حق و نه لري، له شهزادګۍ ماریا سره واده وکړي، داسې یې انګېرله چې د سرښندنې او رښتینتوب، هغه روحیه چې په ژوند کې دا د هغه لېواله وه، بیا د هغې ګوګل ته راستنه شوې ده. توري سترګې یې د هغه ستر کار د سرته رسېدو، له خبرتیا نه څو واره له اوښکو راډکې شوې. ددغو اوښکو له امله یې څو واره د لیک لیکل وځنډیدل. هغې لیک ولیکه، لیک نیکولای ته ورسېد او مور ولیدل چې هغه یې څنګه حیران کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

په هغه پوسته کې چې پېير تر څارنې لاندې و ، له ده سره د هغو افسرانو کړه وړه چې دی یې اسیر کړی و ، له تربګنۍ ډک ، خو له درناوي سره مل وو. داسې بربښېدل چې د دغو مشرانو افسرانو او سرتیرو په کړو وړو کې شک او تردید ځکه لیدل کېده چې هغوی په دې نه پوهېدل چې دی څوک دی. (هغوی دا تصور کاوه ، نه چې ډېر لوی سړی وی )له دې سره همهاله هغوی له ده سره ځکه تربګني کوله چې دوی هغه سره جنګېدلي وو.

خو بل سهار چې کله پېيره بدله او د پرونیو افسرانو او سرتیرو پر ځای نوی هغه راغلل. پېير داسې انګېرله چې دی، د دغو لپاره ، هغه شان د پام وړ نه و ، لکه د هغو لپاره چې دی یې اسیر کړی و. په رښتیا هم دغه څورب او لوی سړی چې د روسي بزګرو کالي یې اغوستي وو ، د نویو پوځیانو لپاره ، هغه چالاکه ، چټ ، سړی نه و چې د تالنګرو په وړاندې په مېړانه دریدلی و ، د سورو پوځیانو سره جنګېدلی و او په پرتمین غږ یې له لمبونه د ماشوم د ژغورنې غږ کړی و ، هغه د هغو لپاره د اسیرانو په منځ کې ۱۷ مه شمېره اسیر و چې نه پوهېدل په تور او ګناه د لوړ پوړو چارواکو په سپارښتنه نیول شوی و. که د هغه په څېره کې کومې ځانګړې ، ځانګړتیاوې ، وې هغه دا وې چې هغه ورخطا شوی نه و ، خو په بې ساري توګه په خیالونو کې ډوب و. په فرانسوي ژبه پوهېده او داسې ښه پرې غږېده چې د فرانسویانو حیرت یې پاراوه ، خو سره له دې هم پېير ، هغه ورځ له نورو تورنو اسیرانو سره په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه کې ځکه تېره کړه چې د دوی افسر ته ، هغه کوټه په کار وه چې دی یوازې په کې بندي و. له پیېر سره په کوټه کې روسي بندیان ټول د ټولنې خورا خوار خلک وو. هغوی چې کله په دې پوه شول چې پیېر د مخورو له ډلې نه دی، له ده پردې، پردي او ځان یې له ده نه لرې کړ. په تېره بیا چې کله هغوی په دې پوه شول چې پیېر په فرانسوي هم غږېږي. پیېر ځان ته د هغو له ملنډو نه ډکې خبرې په خواشینۍ اوریدې.

بله ورځ پیېر، له دې نه خبر شو چې د فرانسویانو له خوا دوی ټول نیول شوي کسان به ښار ته د اور ورته کولو له امله محکمه شي. دریمه ورځ یې پیېر، له نورو اسیرانو سره یوه کور ته چې هلته یو سپین برېتی فرانسوي جنرال، دوه نور ډګروالان او ځینې نور فرانسویان چې متې یې په ریښکیو تړلې وې او په کوټه کې ناست وو، ورو ستل. هلته له پیېر او نورو نه په داسې ځېږه او ټینګه ژبه چې له ورځني انساني کړو نه لرې وه او په ټولیزه توګه په داسې ژبه چې قاضیان له تورنو نه پوښتنې کوي، داسې پوښتنې پیل شوې وې:

- دا څوک دی ؟ چېرې نیول شوی دی او هلته یې څه کول ؟

او داسې نورې پوښتنې.

دغه پوښتنې چې د ژوند د اصلي چارو له پوښتنو لرې او دژوند له اصلي ستونزو رابرکول یې هم له پامه غورځول ، د ټولو هغو پوښتنو په څېر چې په محکمو کې کېږي، یوازې د دې لپاره وې چې محکمه کوونکي هدف ته د رسېدو لپاره بنسټ پیدا او دعوا هلته ورسوي چې دوی وکولای شي، تورن کسان محکوم کړي، خو همدا چې تورن به داسې کوم ځواب ورکړ چې د تورن محکومول به یې ګرانول، دوی به محکومیت ته هغه جوړ شوي دلایل لرې کړل او د خبرو اترو بهیر به چې هر پلو لاړ لاړ به. پردې سربېره ، پیېر هماغه احساس درلود چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورن کسان يې په ټولو محکمو کې لري. هغه دا چې دی هم حيران و چې، ددې ټولو پوښتنو موخه څه ده ؟

پيير په دې پوهېده چې ددغو خلکو د واک په منګلو کې راګير شوی دی او يوازې د هغو د واک زور دی چې دی يې هلته راوستی دی. هغه په دې پوهېده چې يوازې همدې واک ، دوی ته دا حق ورکړی دی چې له دوی نه پوښتنې وکړې او دوی يې ، هغوی ته دځوابونو ويلو ته اړ کړي. هغه په دې پوهېده چې ددې محکمو يوازينۍ موخه دا ده چې دی تورن کړي. نو له دې کبله څنګه چې واک و ، هغه شان يې کړه وړه و او واک د تورنولو تکل درلود ، نو څکه په محکمه کې پوښتنو او ځوابونو ته هم اړتيا نه وه. دا سې ښکاريده چې ټولو يوه موخه لرله او هغه دا وه چې بايد تورن ګنهګار وګڼل شي. پيير ددې پوښتنې په ځواب کې چې، دنيولو په وخت کې يې څه کول ؟ ځواب ورکړ:

-هغه ماشوم يې خپل مور او پلار ته رساوه چې د اور له لمبو نه يې ژغورولی و.

بله پوښتنه دا و چې ولې له غلو او تالانګرو سره لاس او ګريوان شوي و ؟ ده ځواب ورکړ:

-دې د هغې ښځې ساتنه کوله چې سپکاوی ورته شوی و او دا د هر نارينه دنده بولي، له هغې ښځې دفاع وکړي چې سپکاوی ورته کېږي او تېری پرې شوي وي. دا...

پرته له هغه چې دی خپلې خبرې پای ته ورسوي، دده خبرې يې څکه ور ودرولې چې پوښتونکي په دې پوښتنو کې خپل ارمان ته نه رسېدل.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې:

-د هغه کور په انګړ کې چې اور يې اخېستی و ، څه کول ؟

هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه لاړم چې وګورم، له مسکو سره څه کېږي.

او بيا يې د هغه خبرې پرې کړې.

له هغه نه يې دا نه پوښتل چې چېرې روان و بلکې دا يې پوښتل چې ولې د اور اخېستو په وخت ځای کې و ؟

له هغه نه يې بيا لومړی پوښتنه وکړه چې نوم دې څه دی ؟ هغه په لومړي ځل ورته وويلې و چې نه غواړی دې پوښتنې ته ځواب ووايي...

هغه سپين برېتي جنرال چې اننګي يې تک سره او تانده څېره يې لرله، په درنه او ترخه ژبه وويل:

- وليکه. دادې ، دا ښه کار نه دی، ښه کار نه دی.

په څلورمه ورځ د زوبوفسکي په کوڅه کې هم اور ولګيد.

پيېر او دیارلس تنه نور تورن کسان يې د کريمسکي ګودر ته بوتلل او ديوه سوداګر د ګاډيو په سرای کې واچول. پيېر يې چې کله د ښار له واټونو او کوڅو نه تېراوه، په ښار کې د اورونو د لګېدو نه د خواره شويو لوګيو نه يې سا بنده بنده کېده. هرې خواته به يې چې کتل، د اور لمبې وې. هغه، لا تر هغه وخته پورې د مسکو ددې اورونو د لګېدو په مانا نه پوهېده او په خورا ډار او وېرې يې دغو اورونو ته کتل.

پيېر، د کريمسکي د ګاديو په دې سرای کې، په څلورمه ورځ د فرانسوي سرتېرو له خبرونه پوه شو چې ددې برخليک د مارشال هغې پريکړې پورې اړه لري چې کېدای شي نن سبايې وکړې، خو پيېر د سرتيرو له خبرو نه په دې نه پوهېده چې کوم مارشال. دا سې برېښېده چې د سرتيرو لپاره مارشال د واک تر ټولو لوړه او له رازه ډکه کچه وه.

د اسارت دغه لومړۍ ورځې، د سپتمبر تر اتمې پورې چې دغه اسيران يې د دويم ځل څېړنو او تحقيق لپاره بوتلل، د پيېر لپاره خورا ګرانې او زورونکې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

د سپتمبر په اتمه، هغه افسر چې سرتيرو هغه ته ډېر درناوی کوي او له همدې ښنو داسې برېښېده چې لوړ پوړی به وي، دګاډيو هغه سرای ته راننوت چې اسيران په کې بنديان وو. دغه افسر چې تصور کېده د ستري قوماندانۍ له افسرانو نه به وي، کاغذ يې په لاس کې و. د اسيرانو د سوب او ناسوب په ښنبه يې د ټولو او له هغه ډلې نه د پېير نومونه ( هغه چا چې خپل نوم نه ښوده ) ولوستل. هغه په بې پروايۍ او رخې ټول اسيران وڅارل او هغه ساتونکي ته يې چې د زندانيانو څارنه يې کوله، سپارښتنه وکړه چې مارشال ته تر وروستلو دمخه ، هغوی ته بايد پاکې او سمې جامې ورواغوندي. يو ساعت وروسته يوه ډله سرتيري راغلل، پېير او نور ديارلس اسيران يې د "ديوويچې"ډاګونو ته بوتلل. تر بارانه وروسته، آسمان شين، لمر او پاکه ښه هوا وه. لوګي د هغې ورځې په پرتله چې پېير يې د زوبوفسکي له څارنځي نه راوستلی و ، څه ټيټ نه خوريده، خويوازينی تو پير يې دا و چې هغه د خوريدو پر ځای ، پورته لوړيده او پورته کېده. د اور لمبې هېڅ چېرې نه ليدل کېدې، خو سره له هغه هم تر هغه ځايه چې پېيرليدای شو ، مسکو ټول سوځېده. هرې خواته چې پېير کتل، کنډوالې وې. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنډوالو کې ، نغري، لوګي، دود وهلي ديوالونه او ا پرې وې. که څه هم يو نيم د تېرو ديوالونه ناسوځېدلي پاتې وو ، هرې خوا ته به چې پيير کتل، ده په ښار کې کوم آشنا ځای نه پېژانده. يو نيم ځای به کومه کليسا روغه رمټه او ناسوځېدلې پاتې وه. کرملين پرزيدلی نه و. هغه له خپلو لوړو برجونو ، ديوالونو او خپل ايوان نومي برج سره(دغه برج په ۱۷۰۱ کال کې جوړ شوی و )له لرې ځلېده. له هماغه ځايه د کليسا د زنګونو زړه رېږدونکي غږونه اوريدل کېدل. د دغو زنګونو آوازونو پيير ته دا ورپه ياد کړل چې نن د يکشنبې ورځ د مسيح د مور د زوکړې ورځ ده، خو داسې بربښېده چې هېڅوک نه شته چې د دغه ورځ، ستره ورځ ولمانځي. هره خوا کنډوالې او د اور د لمبو نه پاتې ايرې او مړه لوګي وو. که کله ناکله به يو نيم روس وليدل شو ، هغه به وحشت وهلی، زړې جامې به يې وې او د فرانسوي پوځيانو په ليدو به يې چېرې ځان پټاوه.

داسې ښکاريده چې د روسانو ځالې ورانې او تالان شوې وې، خو پيير له ارادې پرته دا احساسوله چې پر دغو کنډوالو به، د دغې روسي جوړښت د تباهۍ پر ځای يو نوی فرانسوي جوړښت چې له هغه پخواني هغه نه به ډېر توپير لري، جوړشي.

کله چې د هغه منظمو ، خوشاله څه بې پروا سرتيرو ته چې دی او نور مجرمين يې بدرګه کول پام شو او وې ليدل چې لوړپوړی فرانسوي په دوه آسيزه ګاډۍ کې لوړ ناست دی. يو سرتيری دغه ګاډۍ چلوي. هغه هم د هغه يو خوښۍ ښونکي موزيک د مارش له غږه چې د ګدر له کينې خوا نه اوريدل کېږي، هم د افسر په لاس کې، له هغه کاغذه چې هغه سهار يې د هغه له مخې د مجرمينو نومونه لوستي وو ، په دې پوه شو چې دده اټکل رښتيا دی. او اټکل دا چې دی د سرتيرو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا نيول شوی او له نورو نيول شويو سره دې خواته، هغې خواته بيول کېږي. هغه ته داسې برېښېده چې کېدای شي، دی يې هېر شوی او يا يې له نورو نه جلا کړي، خو نه، هغه ځوابونه چې ده په تحقيق کې ويلي و، د تل لپاره ده پورې نښتي وو: هغه کسان چې خپل نومونه پټوي او اوس يې دی په همدې تور، يعنی هغه کسان چې خپل نومونه پټوي، او دې کار د پيېر په زړه کې وحشت پاراوه، خدا زده چې چېرې روان کړی و. د سرتيرو په ځيرو کې د دغو تورنو کسانو، پر ګنهګاری ډاډ او باور له ورايه ځرګند و. هغو داسې انګېرله چې دغه اسيران او د هغو په منځ کې پيېر، په رښتيا هماغه کسان دي چې دوی لټول او اوس يې هغه ځای ته بدرګه کول چې بايد دغه کسان هلته بدرګه شي. پيېر داسې انګېرله چېيو برباد شوې دړه ده چې ديو سم او ښه خوځېدونکي ماشين، هغه ځرخ ته ورلوېدلي دي چې ده ته ناآشنا دی.

پيېر يې له نورو مجرمانو سره يو ځای، د شنه ډاګ ښۍ خواته يوې صومعې ته نېږدې په يوه لوی باغ کې پرتې ماڼۍ ته بوت.

دا د شهزاده شيرباتوف، کور و. پيېر پخوا په وار وار سره دلته، د کور د خاوند مېلمه شوی و، خو د سرتيرو له کړو وړو نه داسې برېښېده چې اوس دلته مارشال شهزاده ، ايکميولسکی، ميشت دی.

هغوی يې د ودانۍ د ننوتلو د زينو مخکې ودرول او يو يو يې د ننه بدرګه کول. پيېر شپږم تن و چې د ننه بدرګه شو. هغه يې د هغه دهليز له لارې چې هينداري په کې ولاړې وې، بدرګه کړ، بيا يې د انتظار کوټې او له هغه ځايه يوه اوږده دفتر ته چې د دروازې مخې ته يې يو ياور ولاړو ، بوت.

مارشال داوو ، چې عينکې يې پر پزه ايښې وې د ولاړ ميز تر شا ناست و. پيېر هغه ته ښه ورنېږدې شو. مارشال داوو ، چې برېښېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې مخې ته د ایښودل شوي کاغذ په لوستلو ډوب و، سر راپورته نه کړ او په کرار یې وپوښتل:

- تاسو څوک یاستئ ؟

پېیر، له دې امله چې خوله پاتې شو چې د خبرو توان یې نه لاره.
داوو د پېیر لپاره د نورو فرانسوي جنرالانو په شان وو، هغه ټولو د خورا سخت زړو او بېرحمه په نامه پېژاند. پېیر د هغه سړي څېرې ته چې لکه د خورا سخت ګیرښوونکي په شان یې د ځواب اوریدو لپاره زغم او صبر کولی شو، کتل، خو په دې پوهېده چې په ځواب کې هره شېبه ځند کېدای شي. دده د ژوند په بیه تمامه شي، خو هغه په دې هم نه پوهېده چې څه ووایي. هغه نه غوښتل هغه څه ووایي چې لومړي ځل یې د پوښتنو په ځواب کې ویلي و. د خپل نوم او دریځ برالا کول هم د هغه لپاره ګواښ درلود او هم د شرم وړ و، خو مخکې له هغه چې پېیر، پریکړه وکړي چې څه ووایي جنرال داوو، سر راپورته کړ، عینکه یې له پزې نه تندي ته ور لوړې، سترګې یې تنګې، په ځیر یې پېیر ته وکتل.
په سړه خو ځیرتیا سره یې دده لپاره چې په پېیر کې ویره راوپاروي، وویل:

- زه دا سړی پېژنم.

هغه سره لړې چې تر دې نه مخکې د پېیر پر ملا او اوږو راخوره شوې وه، د هغه سر لکه غوټه دا سې ځان کې ومروړله او وې ویل:

-نه، نه، والاحضرت جنرال ! نه والاحضرت جنرال ! تاسو نه شي کولای ما وپېژنئ ، ما هېڅکله تاسو لیدلي نه یاست.

جنرال داوو، د هغه خبره پریکړه. مخ یې هغه بل جنرال ته چې په کوټه کې له ده سره ناست و او پېیر هغه لا لیدلی نه و، وروا ړاوه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا د روس جاسوس دی.

داوو، دا وویل او پښیر ته یې مخ وروا ړلوه. پښیر ناڅاپه په ډډ او چټک غږ وویل:

- نه، نه، والاحضرته ! تاسو نه شو کولای ما وپیژنئ، زه یو اربکی افسر یم او لا تر اوسه له مسکو هم وتلی نه یم.

- نوم مو څه دی ؟

بېزاوخوف.

 څوک کولای شي دا ثابته کړي چې دا خبره دروغ نه ده ؟

پښیر په نه خوابدی، خو ننواتي وزمه غږ وویل:

-والاحضرت !

جنرال داوو، سترګې پورته کړې او په ځیر یې پښیر ته وکتل. د څو شېبو لپاره یو بل ته ښه ځیر شول او همدغو کتلو پښیر وژغوره. په دغو غلچکونو کې د جګړې او محکمو له شرایطو او اصولو پرته، ددغو دوو تنو ترمنځ انساني اړیکی ټینګ شول. دغو دواړو په دغو تتو شېبو کې بې شمېره څه احساس کړل، په دغه احساس پوه شول چې دوی دواړه د بشر ماشومان او سره ورونه دي.

داوو، له هغه کاغذ نه چې هلته انساني ژوند په شمېره کې تمامېده، د سر راهسکولو په لومړې شېبه کې، پښیر هم یو له هغو شمېرو نه یوه شمېره وګڼله او کولای یې شول د هغه د چانواری، سپارښتنه ورکړي. د هغه دمرګ حکم وکړي او هغه د وجدان عذاب او نا آرامي ونه ګڼي، خو اوس پښیر هغه ته یو انسان برېښېدلی و. یوه شېبه په چرت کې لاړ او په سره ژبه یې ځواب ورکړ:

- تاسو به د خپلو خبرو رښتیاوالي څنګه ماته ثابته کړئ ؟

پښیر ته فراسوي افسر رامبال ورپه یاد شو. د هغه غونډ او نوم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کړل. د هغه د کور ننبه یې وویله. داوو، بیا وویل:

- تاسو هغه څوک نه یاستئ چې ځان هسې راپېژنئ.

پېیر په لړزیدلي آواز او پرې پرې خبرو د رښتیاوالي لپاره خبرې پیل کړې، خو په دې وخت کې یو یاور کوټې ته راننوت او جنرال داوو ته یې څه وویل. د هغه خبر په اوریدو چې د هغه یاور جنرال ته راوړی و، ناڅاپه د جنرال څېره وغوړیده او د خپلو تڼیو تړل یې پیل کړل. داسې برېښېده چې پېیر یې هېر کړی دی.

کله چې یاور هغه ته وریاده کړه چې اسیر یې تر مخې ولاړ دی، تندي یې تریو کړ، مخ یې پېیر ته ورواړاوه، سریې وښوراوه او وې ویل:

- هغه بوزیئ!

خو پېیر په دې پوه نه شو چې هغه چېرې بیا یي. هغه بېرته هغه زندان ته چې دی یې ترې راوستی و او یا هغه اعدامځای ته چې ملګرو یې د "دیوویچې" ډاګونو تر څنګ د تېریدو په وخت کې هغه ته ورښودلی و.

مخ یې واړاوه او وې لیدل چې یاور یې بیا له داوو، نه د څه شي پوښتنه کوي.

داوو، ځواب ورکړ:

- البته چې هو!

خو پېیر په دې پوه نه شو چې څه شي "هو"

پېیر، نه شو کولای رایاد کړي چې څومره وخت او چېرې روان دی. په حیرانتیا او پوره بې خبرۍ کې، پرته له هغه چې خپل شا او خوا ته څه شی ووینې، له نورو سره ګام په ګام خوځېده، مګر څنګه چې ټول ودریده، دی هم ودرید. خو په دې ټوله موده کې یوه خیال د هغه خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان اخته کړی و. دا خیال دا و چې چا بالاخره پر هغه د اعدام حکم کړی و. دا کار د هغو کسانو پریکړه نه وه چې ده نه یې تحقیق کړی و. له هغو نه هېڅ چا د دغه شان پریکړې تکل نه لاره.

داوو، چې هغه ته په داسې انساني غلچک کتلي و هم دا کار نه و کړی. که جنرال داوو، یوه دقیقه بل هم له هغه سره پاتې شوی وای، په دې به پوه شوی وای چې دا سم کار نه دی، خو په دې وخت کې یاور راننوتلی او دغه دقیقه یې تالان کړې وه. داسې بربېښېده چې یاور هم کوم بد نیت نه لاره، خو کولای یې شول چې کوټې ته را نه شي، خو دی نه پوهېده، نو دا ځوک و چې دی یې په اعدام محکوم اوه، دی یې واژه او له ژوند نه یې بې برخې کاوه؟

پېیر یې د هغه له خیالونو سره، د هغه له هڅو. هیلو او یادونو سره له مینځه وړ؟ دا د چا کار؟

پېیر دا احساسوله چې دا د هېڅ چا کار نه دی. دا کار د هغو شرایطو و. د هغه جوړښت او نظم و چې جوړ شوی و.

پېیر د کوم یو نظام او جوړښت قرباني و چې واژه یې، هغه یې له هرڅه نه بې برخې کاوه. هغه یې نابوداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

بندیان یې د شیرباتوف له کوره مخامخ د "دیوویچې" ډاګونو دصومعې له څنګه، د هغه دیوال شا ته بوتلل چې هلته یو وار درول شوي وو. ددغه دار شاته کندې کېندل شوې وې. د کېندل شویو شیلو تر څنګ تازه خاوره پرته او شا او خوا ته یې د خلکو ګڼه ګونه وه. له دغو خلکو نه یو لږ شمېر روسان او نور د ناپلیون د پوځ غیر رسمي پو ځیان، المانیان، ایتالویان او فرانسویان وو چې پوځي رنګارنګ جامې یې اغوستي وې. د دار، ښۍ او کیڼې خواته فرانسوي پوځیان چې شنې پخونې دریشۍ یې اغوستې، د اوږو پر سر یې پتارې او بې پیکه خولۍ یې پر سر وې ولاړ وو.

مجرمین یې په کاغذ کې د شمېر له مخې ودرول (پېیر شپږم تن و ) بیا یې دار ته نږدې کړل. ناڅاپه له دواړو خواوونه د ډهل چغه واوریدل شوه. پېیر د ډهل د دغه غږ په اوریدو داسې احساس کړه چې د هغه له زړه نه کترې جلا شوې. هغه د درک او تفکر احساس او توان له لاسه ورکړی و. هغه یوازې لیدلی او اوریدلی شو. هغه یوازې یوه هیله لرله او هغه دا چې دغه وحشتناکه پېښه هر څه ژر پېښه شي. پېیر، خپلو ملګروته وکتل او هغوی یې په ځیر وڅارل. د دوی د کتار دوو وروستیو هغو ږیرې وهلې وې. یو تن یې لوړ ډنګر او بل یې توربخن، جړ ځېږې، خورب و چې پیته پزه یې لرله. دریېم هغه یې د پنځه څلو ښتو په منګ یو چوپړ و چې د څنو زیاته برخه یې سپینه شوې، ښه خورب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلې خېټه یې لرله. څلورم تن یې یو کلیوال بزګر و، ښه ښکلی، چې درنه ږیره او تورې سترګې یې لرلې. پنځم هغه یې یو کارګر و. تک ژېړ، ډنګر، مهربانه د اتلسو کالو په عمر او اوږد کمیس یې په غاړه و.

پېیر د فرانسویانو خبرې اترې اورېدې، د هغو یو تن یې وپوښتل:

- څنګه یو یو به ولو، که دوه دوه؟

مشر افسر په سړه او ارامه ژبه ځواب ورکړ:

-دوه دوه.

د سرتیرو په منځ کې ناآرامي او ولوله خوره وه، داسې ښکارېده چې ټول تلوار کوي، خو د هغه تلوار دې ته ورته نه و چې هغه کار چې دوی ته د پوهې وړ دی، ژر تر سره کړي. بلکې د هغوی تلوار د هغه چا تلوار ته ورته و چې په زور هغه کار ترینه غواړي، چې د ده سرته رسونوکي سر نه پرې خلاصېږي، خو سرته رسول یې ترې غواړي.

یو ولسي فرانسوي چې دستمال یې تر غاړې تاو کړی و، د مجرمانو د کتار ښۍ خوا ته ورنېږدې شو او د هغوی لپاره یې په روسي او فرانسوي ژبه د محکمې حکم ولوست.

تر هغه وروسته یو جوړه فرانسویان، مجرمینو ته ورنېږدې شول او د افسر په سپارښتنه یې د کتار له پیل نه دوه تنه بندیان راونیول او د دار خوا ته یې وروستل. بندیان چې دار ته ورورسېدل، ودرېدل او د کڅوړو تر راوړلو پورې چې دوی ته یې د اعدام په وخت کې ورپه سرکوله، چپ پاتې شول، د هغه تپي ښکارپه څېر چپ شول چې د ښکاري راتګ ته ګوري او شا او خوا ته ګوري. یو یې پرله پسې پر ټټر او تندی صلیب انځوراوه، خو هغه بل خپل څټ ګراوه او خپلې شونډې یې داسې خوځولې، تا به ویل چې موسېږي. سرتیرو په چټکۍ د هغو سترګې وتړلې، خولۍ یې وراغوستې او هغه یې دار پورې تړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولس تنه ښنبه ویشتونکي، ټوپک په لاس، په منظمو او ټینګو ګامونو له خپلو کتارونو راووتل او له داره اته ګامه لرې ودریدل. پییر د دې لپاره مخ وا ړاوه چې هغه څه ونه ویني، چې اوس یې تر مخې تېریدونکي وو. ناڅاپه د ډزو غږ واوریدل شو. د دغو ډزو خرپهاري د پییر په غوږونو کې داسې له وحشته ډکې انګازې وکړې چې په ټول عمر کې یې داسې وحشتناکه او ډارونکي غږونه نه وو اوریدلي. بېرته یې مخ راوا ړاوه او وې کتل. لوګي ولاړو او رنګ الوتي فرانسویان په ریږدیدونکو منګلو د څمڅې تر څنګ په څه شي اخته وو. دوه تنه نور یې راوستل. دغو دوو تنو هم په هماغه شان کتو او غلچک کتل، چپه خوله، له زاریو نه ډکو سترګو او ناهیلۍ نه داسې برېښیدل چې ګواکې په هغه څه یې سر نه خلاصېږي، چې په دوی تیرېږي او وړاندې دوی ته انتظار لري. د هغو په دې باور نه راته چې مرګ تر مخې دی، ځکه یوازې دوی وو چې پوهېدل، ژوند څه معنی لري، خو ځکه یې په دې باور نه درلود، چې هغوی څوک له دغه ژونده بې برخې کړي.

پییر نه غوښتل دغه پېښه وګوري، بیا یې مخ واړاوه، خو بیا ګوا کې وحشتناکه غړمبهاري او چاودنې د هغه په غوږو کې انګازه وکړ، او له دې ډزو سره هممهاله هغه لوګی ولید، د چا وینه، او رنګ تښتېدلی فرانسویان چې د دار تر څنګه یې په ریږدیدونکو منګلو یو بل پورې وهل او په کوم کار اخته وو. پییر په سختۍ سره سا ویسته او شاو خوا یې کتل، داسې برېښیده چې غواړي وپوښتي، دا څه پېښه ده ؟دا څه خبره ده ؟

او دا پوښتنې یې له ټولو هغو سترګو نه اوریدې چې د ده سترګو سره مخامخ کېدې.

د ټولو په څېرو کې، د روسانو، د فرانسویانو، له سرتیري نه نیولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر افسره پورې، د ټولو ټولو له استثنا پرته، د ټولو پـه څېرو کې، هغـه دغـه ډار او لـه هغـه سره مـل کـړکېچ چې د ده پـه زړه کې و، لیـده کـومـه شېبه د پېیر په ګوکل کې دې غوغا سره راپورته کړ:

- نو، بالاخره څوک دغه کارونه کوي؟ دا خو ټول، د ما پـه شان لـه دغه کاره زوربږي نو څوک؟ څوک دا کارونه کوي؟

یو چا قومانده ورکړ:

- شپږ اتیاوم توپکوال دې رامخې ته شي !

د پېیر څنګ ته ولاړ پنځم مجرم یې وړاندې بوت. ، خو یوازې، پېیر پوه نه وو چې هغه ژغورل شوی دی. هغه په دې نه و پوه چې دی او پاتې نور مجرمین یوازې د دې لپاره دلته راوستل شوي وو چې د دغو نورو د اعدام په وخت کې دلته واوسي. هغه چې وحشت او ډار یې دم په دم په زړه منګلولې لګولې، خو د نه د خوښۍ او نه د ډار احساس کاوه، نو یوازې یې هغه څه ته په حیرت کتل، چې د ده تر مخې تیریدل. پـنځم مجرم هماغـه کارګر و، چې کمیس یې اغوستی و، همدا چې هغـه تـه ورنږدې او له لاس یې راونیو، هغه په ډار ببرته راودانګل او له پېیر نه غبږ تاو کړه. (پېیر وربږدید او ځان یې له هغه نه راخلاص کړ) کارګر پـه لاره نه شو تلای، هغوی، هغـه تـر تخرګ لاندې راونیـو، خو هغـه چغـې وهلې، همدا چې دار ته وروررسېد، چپ شو. ګواکې هغه په څه شي پوه شو، یا هغه پوه شو، چې چغې یې بې ځایې دی، یا یې داسې تصور کاوه چې دا ناشونې ده چې دی څوک ووژني، د دار په مخ کې ودرید او له نورو سره یو ځای دې ته سترګه په لار و چې د هغه سترګې او لاسونه وروتړي. هغه په ځلېدونکو سترګو لکه ټپي ځناور خپل شا او خوا کتل.

پېیر، نـور نـه شـوکولای مـخ واړوي او سـترګې پټې کـړي. د هغـه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې ګڼه ګوڼې پلټنه او ګڼې د دې پنځم محکوم د وژلو لپاره خورا زیاته شوې وه. دا پنځم اسیر هم د نورو په شان آرامه بریښېده. د خپل نري او اوږد کوټ یوه خوایې پر بله خوا وروا ړوله او په خپلې یوې لوڅې پښې یې بله هغه ګروله.

کله چې یې د هغه سترګې وروتړلې، هغه غوټه چې دده څټ یې په عذابوه، خپله سمه کړه او کله چې یې هغه پر هغه خونې دار ور تکیه کړ، هغه شاته ډډه ووهله او لږ شا نته ښکته وښوید، خو همدا چې دا حال یې د ځان لپاره آرام و نه ګاڼه، ځان یې را جوړ، پښې یې را سمې، ټینګ ودرید او په آرامۍ یې پر دار تکیه وکړه. پیېر، په ځیر ځیر هغه ته وکتل او د هغه ټوله خوځېدا یې څارله.

هغه شان باید شوی وای، وشول. د قوماندان غږ پورته شو، تر هغه وروسته د اتو توپکو د ډزو غږ انګازه جوړه کړه، خو پیېر وروسته چې څومره هڅه کوله د توپکو ډزهاری غږ وریاد کړي، یو غږ یې هم رایادولی نه شو. هغه یوازې دومره لیدل چې د هغه کارګر، بدن ناڅاپه ولوید، خو دا ښکاره نه وه چې ولې ولوید او په خپله ریښکۍ کې ځوړند پاتې شو. ورپه یاد شول چې هغه د ځان له دوو برخو نه وینې راوبهېدې او پړې د هغه د ځان د دروند والي له امله ښکته لاړ. د کارګر سر او غاړه، په غیر عادي بڼه ښکته ځوړند او پښې یې تر ځان لاندې راټولې شوې. کېنا ست او پیېر د دار پلو ته ورمنډه کړل. هېڅ چا یې مخه ونه نیوله. وحشت ځپلي او رنګ تښتېدلي خلک د کارګر شا او خوا اخته وو. یو زوړ بربتور، فرانسوي چې له وژل شوي نه یې رشمه راخلاصوله، لاندنۍ ژامه یې رېږدیدله. وژل شوی مړی ولوید. سرتیرو په کرکې او چټکۍ مړی د دار شا ته پورې واهه او څمڅې ته یې ور وارتېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې بربښېدل چې ټول پوهېدل چې دوی جانیان دي او باید ژر تر ژره د خپل جنایت نښې پټې کړي.

پیېر، څمڅې ته ور وکتل او وې لیدل چې کارګر داسې پروت دی چې ځنګنونه یې سرته نبږدې، مخ پورته پراته دي. یوه اوږه یې ښکته او بله یې لوړه او لا تر اوسه په ښوریدو، ښوریدو، په برابره توګه ښکته پورته کېدې. او نور یې په بېلونو پر مړي خاورې ورتویولې. یوه سر تیري له قهر او کرکې په ډک آواز پر پیېر غږ وکړ چې خپل ځای ته راستون شي، خو پیېرپوه نه شو، هماغه شان دار ته نبږدې ولاړ و او چا له هغه ځایه و نه ښوراوه.

کله چې څمڅه ښه له خاورو ډکه شوه، د قوماندان غږ واوریدل شو، پیېر یې خپل ځای ته راستون او فرانسوي سرتیري چې د دار دواړو خواته کتار وو، دښۍ خوا، ښۍ پلو ته شول او په منظمو قدمونو د دار له مخې تیر شول ځلورویشت سرتیري، توپک په لاس چې وسلې یې تشې شوې وې، دګڼه ګونې په منځ کې ولاړ وو. کله چې د هغو ټولي ددوی له څنګه تیریدل، هغوی په چټکۍ په کتار کې خپل ځایونو ته ورستانه شول.

پیېر چې کتلو یې هېڅ معنی نه لرله، دغو ټوپکمارو ته چې په چټکۍ، جوړه جوړه د خلکو له مینځه وتل، کتل. له یو تنه پرته، نور ټول له خپلو ټولیو سره یو ځای شول. دغه یو تن یو ځوان سرتیری و چې رنګ یې الوتی و، خولۍ یې څټ ته ورښکته شوې وه. توپک یې مخ ښکته ورځوړند و، هماغه شان د څمڅې تر څنګ له هماغه ځای نه یې چې ډزې کړې وې، ولاړ و. هغه لکه مست نشه یې داسې کوږ وږ. کله وړاندې او کله وروسته کېده او هڅه یې کوله خپلې ناکاره پښې ټینګې کړي. یو زاړه افسر، د ټولي، ټولیمشر له کتاره ورمنډې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځوان سرتيرى يې له اوږو راونيو او دکتار خواته يې راپورې واهه. روسي او فرانسوي ګڼه ګونې سره وخوځېدې او تيت او پرک شوې. ټول چپه خوله او سرونه ښکته روان وو.

يوه فرانسوي وويل:

- اوس به اور اچول ورزد کړي !...

پېير، هغه چاته چې دا خبره کړې وه وروکتل او پوه شو چې دا کوم سرتيرى دى چې د شويو کارونو له امله غواړي په کوم شي خپل نا آرامه روح آرام کړي، خو نه يې شو کولاى. هغه خپلې پيل شوې خبرې ناتمامې پرېښودې، لاس يې وښوراوه او لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

تر دغو اعدامونو وروسته يې پيېر له نورو تورنو کسانو نه جلا کړ او هغه يې يوازې په يوه وړه کنډواله شوې او سوځېدلې کليسا کې بندي کړ.

مازديګر مهال و چې يو افسر د دوو سرتيرو په ملتيا کليسا ته ورننوتل او پيېر ته يې خبر ورکړ چې ګناه يې ببښل شوې ده او اوس به دی د پوځي اسيرانو کمپ ته وسپارل شي. پيېر پرته له هغه چې پوه شي، هغه ته څه ويل کېږي، پاڅېد او د سرتيرو سره وخوځېد. هغه يې، هغو کوټو ته راوست چې له سوځېدلو تختو نه، د شنو ډاګونو پر لوړو جوړې شوې وې. پيېر يې له دغو کوټو نه په يوې کې واچاوه، په تپه تياره کې د شلو په شا او خوا کې بنديان ترې راتاوو شول. پيېر هغو ته کتل، خو په دې نه پوهېده چې دغه خلک څوک دي، دلته څه کوي او له ده نه څه غواړي. هغه خبرې چې ده ته کېدې، ده هغه اورېدې، خو ده، نه څه غبرګون ښوده او نه يې په مانا پوهېده. ده هغو پوښتنو ته چې له ده کېدې، او پرته له دې چې دی پوه شي څوک له ده سره غږېږي، ځوابونه نه ويل. ده ددې خيال ساته چې څوک يې خبرې اوري او کنه يا يې په مانا پوهېږي او نه پوهېږي، د هغو خبرو ته کتل او د هغو د ټولو خبرې، هغه ته بې مانا او اپلتې برېښېدې.

له هغې شېبې نه چې د دغو خلکو له خوا نه چې نه يې غوښتل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووژني، دغه وژنې تر سره او پېير هغه وليدلې، د پېير له ګوګله هغه فنر (يا خوځونکی قوت) چې د ټولو ژوندیو ننبه وه را وا اېستل شو او هر څه د هغه لپاره را پرزیدلي او په يوه بې معنی څه بدل شول. که څه هم هغه ځانته دا نه ویل چې پر انسانیت، ټولنیز عادلانه جوړښت، عالم، روح او خدای یې ایمان بایللی دی، (پېير، پخوا هم له دغه شان يو ازمايښت سره مخامخ شوی و، خو هېڅکله یې داو سني وار په شان ژور او پیاوړی نه و) پخوا به کله که پېير له دغه شان یو شکمن حالت سره مخامخ کېده، د هغه لامل به د هغه خپلې ګناهې وې او هر وار يې د زړه په تل کې دا احساسوله چې د دغو ناهیلیو او شکونو نه ژغورونه په ځان کې ولټوي، خو اوس هغه دا احساسوله چې دا د هغه ګناه نه ده چې نړۍ د هغه په وړاندې راپرزيدلې او له بې معنی ورانیو نه پرته بل څه پاتې نه و. هغه داسې انګېرله چې ایمان او ژوند ته راستنېدل د هغه په واک کې نه دي.

په توره تیاره کې پرې راټول شوي وو، داسې ښکاريده چې په هغه کې کوم شي د هغو پام وراړولی دی. هغه ته يې څه وويل، د کوم څه په اړه يې پوښتنې ترې کولې، بيا يې کوم چېرته بوت او په پای کې، هغه په کوم کنج کې ځان د کومو خلکو په منځ کې وليد چې له په خپلو مینځو کې د هر څه او شي په اړه غږېدل او خنديدل.

دزندان له هغې بلې خوا کوم چا په ملنډو، خو په ننداريزه ښه غږ وکړ:

- هوکې ورونو! دا هم هماغه شهزاده دی چې... او د هماغه پر کلمې يې ښه زور راوست...

پېير، پټه خوله او بې خوځېدا د ديوال خواته پر سوارې ناست و. کله به يې سترګې تړلې او کله به يې بېرته پرانستې، خو هر وار به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سترګې سره ورغلې، د هغه کارګر وحشتناکه څېره چې د خپلې ساده‌ګۍ له امله به لازیاته وحشتناکه برېښېده او تر مخې به ورته ودریده او تر هغه لا وحشتناکه د هغو سرتیرو څېرې وې چې له خپلې خوښې نه پرته قاتلان شوي وو. بیا به یې سترګې پرانستې او بې معنی یې په هغه تورتم کې خپل شا او خوا ته وکتل. د هغه ترڅنګ کوم لنډ ونی کړوپ سړی ناست و چې ده د پیل نه له دې کبله هغه ته پام شوی و چې دهر وار خوځېدا نه وروسته به له هغه نه د خولو بوی را پاڅېده. دغه سړی په تپه تیاره کې په خپلو پښو څه کول. که څه هم پېیر د هغه څېره نه لیدله ، خو داسې یې احساسوله چې پر له پسې ده ته ګوري. پېیر چې په دې توره تیاره کې هغه ته ښه ځیر شه، نو پوه شو چې هغه سړی د خپلو بوټونو ګیټس خلاصوی ، خو په هغه ډول چې هغه سړی دا کوي، دا د پېیر لپاره د پام وړ وه.

هغه سړي لومړی له یوې پښې ګیټس نه ، خلاص کړ، په خورا پام یې هغه ومروړه او بیا یې د هغه بل په خلاصولو پیل وکړ او په خورا ځیر یې پېیر ته هم کتل. تر هغه پورې چې هغه په یوه لاس، خلاص شوی ګیټس ځوړانداوه، په بل لاس یې له بلې پښې نه د بل ګیټس پرانستل پیل کړل. په دې توګه هغه په خورا ځیرمنو خوځېدو، په ماهرانه کړیز(دایروي) ډوله بڼه، پرته له هغه چې دلاسونو خوځېدا یې تم شی، له خپلو پښو نه ګیټسونه خلاص کړل او لومړنی هغه یې خپل سر پورې پر دیوال، په هغه لرګین مېږوي چې ټک وهلی و، ورځوړند کړ. بیا یې چاقو را واخیست، کوم شي یې پرې کړل، سر پورې یې کېښود، ځانته یې ځای خوښ کړ، ښه په ارامه ځای پر ځای شو، ځنګنونه یې را پورته او په غېږ کې ټینګ کړل او مخامخ د پېیر، څېرې ته په کتو شو.

پېیر د دغه سړي په اراموونکې خوځېدا، په هغې کرارۍ او نظم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په د غـه کنج کې ځان لپاره جوړ کړی و او آن لـه هغـه نه پـه پـورتـه کېدونکې تند بوی کې، کوم زړه خوښوونکي او آرامه کېدونکي څه احساسول. له هغه نه یې سترګې اړولې او په ځیر یې هغه ته کتل، هغه لنډوني سړي ناڅاپه وویل:

- ښه باداره ! د پرې خوارۍ دې لیدلې ؟

د هغه سړي په اواز کې داسې سادګي او خواخوږي نغښتې وه چې پيير غوښتل د هغه ځواب ووايي، خو د هغه ژامه ورږدېده او ژړا يې ستونی کېښکود. هغه لنډوني سړي سمدلاسه د پيير په حالت پوه شو او پرېيښود چې دی خواشینی شی، هغه په هماغـه لـه خوږو او لـه خواخوږۍ نه په ډکه ژبه چې د روسي کليوالو ښځو ژبه ده، وويله، ویل:

- ګرانه غم به نه کوي، متل دی چې وايي:

يو ساعت زغم، يوه پېړۍ ژوند. هو کې، زما د زړه سره، ښه ده او شکر د خدای دی چې ژوندي پاتي شوو، غم ولې، خواشيني ولې ؟

هغه وويل:

ښه او بد خلک پيدا کېږي.

همداسې په غږېدا غږېدا، په يوه کرارېې خوځېدا، پر خپل ځنګانه ورخم شو، پاڅېد، وټوخيد، غاړې يې خلاصې کړې او کوم چېرته لاړ.

د زندان له وروستې برخې يې يو خوږ او زړه پالونکی غږ واورید:

- اوهو ! ورته ګورئ ! دوکه مار راغي، له ياده يې نه وزي.

سرتيرو په دې وخت کې پر هغو سپي ور وشکارل. هغه له سپي لرې او ببرته خپل ځای ته راستون شو او کېناست. په کوم شي يې چې په کومه زړه ټوټه کې مروړل شوی و، په لاس کې و.

بيا هماغې پخوانۍ او مودبې غږېدا تـه راستون شو، خپـل زوړ ټوکر يې وغوړاوه او لـه هغـه نـه يـې څو کچالوان چې پـه تناره کې الو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو، راويستل او پيير ته يې ست وکړ.

- دادي نوش يې جان يې کړه ! غرمه خو آش و، خو کچالو ترټولو نه غوره خواړه دي

. پيير ټوله ورځ په خوړو تېره کړه او د کچالو بوی هغه ته ترټولو بويونونه، خورا زړه پارونکي وبرېښېده. په داسې حال کې چې سرتيري نه يې مننه کوله، بيا يې خوړل پيل کړل.

سرتيری، يو کچالو راواخيست او وې ويل:

- دا تاسې څه کوئ ؟

لنډوني سړي يو کچالو را واخيست، هغه يې په خپل لاس کې، په څاړه په دوو برخو وويشه، له خپل زاړه ټوکر نه يې لږ مالګه را واخيسته. مالګه يې پر کچالو وشنيندله، پيير ته يې ورکړ او وې ويل:

- کچالو بايد دغسې وخوړل شي.

هغه وويل:

- کچالو خورا بې ساري خواړه دي. ته يې دغسې وخوره !

پيير ته داسې وبرېښېده چې په ژوند کې يې تر دغه نه خواږه نه و، خوړلي.

پيير وويل:

- نه، نه، زه يې پروا نه لرم، خو هغه بد مرغه يې ولې او په ګناه چانواري کړ. هغه وروستی زنداني و او د شلو کالو په منګ و.

لنډ وني سړی وويل:

- څه ؟ څه ؟ کومه ګناه ؟ د څه شي ګناه ؟

داسې ښکاريده چې د هغه ټولې خبرې په خوله کې چمتو دي. بې ارادې يې په ژبه جاري شوې، سمدلاسه يې دوام ورکړ:

- ښه باداره ! دا راته ووايه چې تاسې ولې په مسکو کې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوئ؟

پیېر وویل:

-ما فکر نه کاوه چې هغوی دې داسې ژر راورسېږي، زه هسې تصادفاً په مسکو کې پاتې شوم.

-ښه نو ګرېته ! دا راته ووایه چې تاسو فرانسویانو څنګه ونیولئ ؟ له خپله کوره ؟

- نه، څه وایي ؟ هسې لاړم، اور لګېدلی و ، چې ګورم، نو هغه و چې هغو ونیولم او د اور لګولو په تور یې محکمه کړم.

ټیټ ونې سړي وویل:

-کومه محکمه ؟ هر چېرې چې محکمه ده هلته بې عدالتي ده.

پیېر چې وروستی کچالو وخوړ، وې پوښتل:

- ته له پخوا نه دلته یې ؟

-زه ؟ دا تیره یکشنبې ورځ پر روغتون راتویې شول او زه یې هماغلته ونیولم.

- ته څوک یې ؟ سرتیری یې ؟

- د پیشیرونسکي د غونډ له سرتیرو نه یو سرتیری. نږدې و چې له تبې مړ شم. اصلا یې موږ ته هېڅ ونه ویل. موږ د شلو تنو په شا او خوا کې ناروغان په روغتون کې پراته وو. موږ نه فکر کاوه او نه مو د دې تصور کاوه چې څوک دې پر روغتون هم راولوېږي.

پیېر وپوښتل:

- څنګه دلته خفه یې ؟

- څنګه خفه یم ګرېته ! ددې لپاره چې له پیېر، سره خبرې اترې آسانه کړې، زیاته کړه:

- زما نوم پلاتون دی او کورنی نوم مې کراتیاف دی. په غونډ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکانو د ګربت په نامه یادولم. څنګه خفه نه شم ګربته ! مسکو خو د ټولو ښارونو مور ده. نو ولې خفه نه شم. د مسکو د غه حال ته چې وګورې، هغه په چټکۍ وویل:

- ښه ده. ښکاره خبره ده او پخوا خو سپین ږیرو ویل:

- چنجی کرم کدو، خوري، خو کرم کدو لا خلاص شوي نه وي، خپله خوسا شوې یې.

پېير وويل:

- څه ؟ څه دې وويل ؟

کراتايوف وپوښتل:

- ما څه وويل ؟ ما وويل چې زموږ عقل پر خدای له قضاوت کولو نه عاجز دی.

او تصور يې کاوه چې خپله خبر يې بيا تکرار کړې ده، نو سمدلاسه يې خپله خبره اوږده کړه:

- ښه باداره ! ستا حال څنګه دی ؟ جايدادونه مو پر ځای دي ؟ کور مو ؟ نغری او دسترخوان مو څنګه دي ؟ شته که تالان شوي دي ؟ زاړه مور او پلار مو ژوندي دي ؟ ماشومان مو ؟

که څه هم په تياره کې د سرتيري څېره نه ليدل کېده، خو داسې يې احساسوله چې کله هغه دا خبرې کوي، د هغه پر شونډو د مينې موسکا را خوره شوې ده. دی، له دې خبرې نه ډېر حيران او خواشينی شوی و چې کله يې واوريدل چې پېير مور او پلار په تيره بيا مور نه لري، هغه وويل:

- ښځه د مشورې لپاره وی، خواښې د غورو، خو ګرانه مور نشته. هېڅ ښځه چاته مور کېدای نه شي، بيا يې خپلو خبرو اترو او پوښتنو ته دوام ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماشومان خو لرئ ؟

داسې ښکاريده چې د پېير د "نه" ويلو ځواب دی سخت خواشينی کړ ، خو سمدلاسه يې زياته کړه:

- ښه ده ، پروا نه لري. لا تراوسه ځوان يې ! خدای ته هيله شته ، اولاد به درکړي، خو ژوند بايد په کراره وشي.

پېير ناڅاپه وويل:

- ښه ده ! ښه ده ! خو اوس نور، نور پروا نه لري.

پلاتون په نا چتيکۍ ځواب ورکړ:

-اخ، ګرانه ! ا ته څه وايې ؟ دسترګو توره ! جايدادونو ، زندان او زولنې، دا ستا په واک کې نه دي، توکل په خدای کوه.

هغه ډېره ولګوله، لږ ارامه شو. وټوخيد او ستونی يې صاف کړ.

داسې برېښېده چې اوږدې کيسې ته ځان چمتو کوي، هغه نقل راپيل کړ:

- هو کې دغسې زما د زړه سره ! ما لا په خپل کور کې ژوند کاوه، ملکونه مو ښه و ، ځمکې مو زياتې او. بزګرو مو ښه ژوند لدرلود ، شکر د خدای دی کور مو جوړ دی، بزګر او مزدورانو مو د خدای شکر ښه دي. زما له پلار سره د هغو شمېر اوه تنه کېده. ژوند ښه تيره ده. رښتينې عيسويان وو او بيا پېښه وشوه...

پلاتون کرتايوف اوږدې کيسې وکړې او ويل چې څنګه يوه ورځ هغه پرديو ځنګلونو ته ورتير شو ، ده هلته لرګي ټول کړل، هلته دی ساتونکو ونيو ، هغه يې ښه وواهه ، محکمه يې کړ او بيا يې پوځ ته ولېږه. څه به درته وو ايم ګربته !

په داسې غږ چې موسکا يې بدلوله، وويل:

- نور به در ته څه وو ايم ګوربت جانه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم ما فکر کاوه چې بد مرغي راغلې، خو بیا هم خوشاله و. که ما ګناه نه وای کړې، زما ورور به یې پوځ ته لېږلای وای. زما د غه کشر ورور پنځه ماشومان درلودل، خو زه له ښځې پرته څوک نه لرم. ما یوه لور لرله او پوځ ته له تګه مخکې هغه خدای له مونږ نه واخېستله. یوه وار له پوځ نه کورته په رخصتۍ لاړم، خو پوه شوم چې زما د کورنۍ ژوند تر پخوا نه ښه شوی دی. د کور په انګړ کې ډېر څاروي ولاړ دي. ښځې په کورونو کې وې او دوه ورونه مې د کار لپاره بهر وتلي وو. یوازې کوچنی ورور مې چې میخایل نومېده په کور کې پاتې و. پلار به مې ویل، ماته به یې ویل:

- ټول ماشومان د مور او پلار لپاره لکه د لاس د ګوتو په شان یو برابر دي. له ګوتو نه چې هریوه خوږ شي، ټول یو شان خوږېږي. که پلاتون سر یې خریلای نه وای، میخایل به یې پوځ ته لېږلای وای. هغه مونږ ټول وربللو او د شمایل په وړاندې یې درولو، پوهېږې، منې یې او کنه؟ پلار به راته ویل چې ددې شمایل په وړاندې سم په ګونډو شو، بیا یې ښځې ته ویل:

- ته هم د هغه په وړاندې سر ټیټ کړه. هلکانو تاسو هم همداسې وکړې، پوه شوئ او کنه؟ هوکې ملګریه، ژوند همداسې دی، هر برخلیک یو ژوند غواړي، هر څه د خدای په لاس کې دی، مونږ هسې قضاوت کوو چې دا ښه دی او که بد. دا ښه کار نه دی. زما نیکمرغه ملګریه، زمونږ نیکمرغي داسې ده، لکه اوبه، په کب نیوونکي ځال کې. کله چې د غه جال د اوبو په منځ کې وي، له اوبو ډک وي، خو کله چې یې له اوبو راوباسې، بیا له اوبو تش شي. هوکې ملګریه همداسې ده.

پلاتون د غنمو له سوارۍ نه په جوړ شوي ځای کې، ځای پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. یو ځوشېبې پټه خوله پاتې شو او بیا پاڅېد.

هغه وویل:

-ښکاري خوب درځي پلاتونوفه !

. ژر، ژر یې پر ټټر او تندي صلیب انځورول پیل کړل او ددې کار په لړ کې یې وویل:

- لویه خدایه مورږ په خپل امان کې وساته او مورږ وژغوره !زمورږ ملاتړه

حضرت مسیحه ! سپېڅلیه نیکولایه ! او فرو او لاورا(دوه سپېڅلي شمایل دي) پر مو. رحم وکړه ! دا ټول باید دوه واره نور هم تکرار شي.

سجده یې وکړه، پاڅېد ، سوړ اسویلی یې وویست، پر خپل ځای د وښو پر سوارې کېناست او وې ویل:

ـخدای دې ما د یوې وچې تېږې په شان ویده کړي او د یوې ډوډۍ په شان مې دې بېرته راویښ کړي.

هغه تر دې خبرې وروسته وغځېد ، کوټ یې پر ځان واچاوه او د ویدو کېدو تکل یې وکړ.

پېیر وپوښتل:

- دغه دعا چې تا ولوسته، څه دعا وه ؟

پلاتون، (که له پېیر سره خبرې اترې نه وای، خوب به وړی و )وویل:

- ما څه شي نه دي لوستلي(هغه د ویدو کېدو په حال و )ما یوازې دعا وکړه، ولې ته دعا نه کوي ؟(هغه نور نو خوب یوړ).

پېیر وویل:

-نه، نه زه دعا کوم. خو تا دغه فرولا لاورا څه لپاره ویل.

پلاتون په چټکۍ ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو څنګه ؟ دا د آسونو دعا ده، انسان باید څارویو په خیال کې هم واوسي، نه وینې، هغه دوکه ماره راستنه شوې ده، ځان تودوی، د ارموني(ددې خبرې سره سم یې له خپلو پښو سره نږدې سپې ولیده او ویې نازوله. مخ یې واړاوه او هغه دم ویده شوه.

چېرته د باندې له لرې د ژړا او چغو غږ راته. د زندان د دیوالونو د چولو نه د اور شغلې لیدل کېدې، خو د ننه په زندان کې توره تیاره وه، غږونه هم نه اوریدل کېدل. پېییر تر ډېرو پورې ویده کېدای نه شو، سترګې یې رڼې وې، په توره تیاره کې په خپل ځای کې پروت و او. پلاتون خرپهاري ته یې چې دده تر څنګ ویده و، غوږ نیولی و. هغه داسې احساسوله، هغه دنیا چې تر دې نه مخکې دده په روح کې راپرزیدلې وه، اوس بیا په نوې ښکلا، په نوې او ټینګه بنه ببرتهدده په روح کې په نوي ډول راغوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

په هغه زندان کې چې پيير ساتل کېده، هغه څلور اونۍ تېرې کړې. له ده سره مل درويشت اسيران، درې افسران او دوه تنه مامورين هم وو.

دغه ټول کسان، ګواکې وروسته پيير ته په خيالونو کې په تته بڼه وريادل، خو په هغو کې پلاتون کرتايوف د تل لپاره د پيير په خيالونو کې د داسې يوې خورا او تر ټولو غوره، ښې، پياوړې خاطرې په توګه پاتې و چې د بشپړروسي کرکتر، د ټولې مهربانۍ او غونډ منډ احساس څرګندونه يې کوله.

بله ورځ سهار د وخته چې کله پيير خپل ګاونډی وليد، د هغه ګردې تصوير د هغه په ذهن کې ابدي شو. د پلاتون سر تر پښو اندام چې هغه فرانسوي کوټ يې اغوستي او د ملا وستني په ځای يې ملا په رېښکۍ تړلې وه، د هغه پوځي بربډګی ډوله خولۍ، يو ګردی تصوير ذهن ته سپاره. ککره يې چور ګرده وه، د هغه ملا، ټټر آن لاسونه چې تل يې داسې نيول چې ګواکې څه شي وړي. ټول او ټول ګرد وو. د هغه خوږه موسکا، د هغه نصواري تاندې سترګې هم ګردې وې.

پلاتون کرتايوف، د هغو کيسو له مخې چې د خپل پخواني پوځي ژوند نه يې کولې او ټولو دغو کيسو هغو جګړو پورې اړه لرله چې ده ګډون په کې کړی و، بايد پنځوس کلن وای. هغه خپله نه پوهېده چې څو کلن دی او دا يې هم ويل يې نه شو چې څه وخت پيدا شوی دی، خو د هغه غاښونه سپين، ټينګ او ځلېدونکي وو. د خنديدو په وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې(هغه تل خندل)د مرغلرو د دوو امیلونو په څېر له ورایه ښکاریدل. هغه روغ، جوړ او له هره پلوه بشپړ و. د سر او ږېرې یو تار و یښته یې هم سپین شوي نه و. ټول ځان یې خورا پوست او سره له هغه هم ټینګ او چالاکه و.

د هغه د مخ بشره، د وړو ګردو ګونځو سره سره، د سادګۍ او ځوانۍ نښې لرلې. آواز یې خوږ او سندریز و، خو د هغه د غږیدا تر ټولو غوره ځانګړتیاو سادګي، زغردوالي او له معنی ډک والي و. دا په داګه څرګنده وه چې هغه، هېڅکله د هغه څه په اړه فکر نه کاوه چې ده ویل یا یې ویل غوښتل، نو له دې کبله د چټکوالي او ډاډ، د هغه د غږیدا او په هغه کې د کلمو ادآ، د هغه د وینا نه جلا کېدونکې برخه وه.

د اسارت په لومړیو ورځو کې، د هغه ځاني توان او قوت په دې کچه چې ګواکې دی، په دې نه پوهېږي چې ستړیا او ناروغي څه ته وایي، هره شپه به چې ویده کېده، هغه به ویل:

- اې لویه خدایه ! موږ د تېږې د یوې ټوټې په توګه ویده او دیوې ډوډۍ په توګه مو راویښ کړه. هر سهار به چې له خوبه راپاڅېد، اوږې به یې پورته اچولې او ویل به یې:

- بیګا ګرد ویده شوم او سهار بېرته په پښو وخوځېدم.

او په رښتیا هم، هغه به چې وغځېد لکه تېږه داسې به ویده کېده، سهار به یې ځان وخوځاوه، راویښ به شو او په هماغه شېبه کې به، له ځنډه پرته، لکه ماشوم چې په خپلو نانځکو لوبې کوي. دی به هم په کوم کار اخته شو. هغه په هر کار ښه پوهېده، که څه هم په هغو کې یې ماهرت نه لاره، خو کارونه یې بد نه و. هغه تل بوخت و او یوازې د شپې به یې ځانته اجازه ورکوله چې وغږېږي، غږیدا یې خوښېدله او سندرې یې هم ویلې. سندرې به یې چې ویلې، د نورو سندرو غاړو په څېر به نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و چې اوریدونکي، د خپلو سندرو اوریدو ته راپاروي. د هغه سندرې ویل داسې و ، لکه د مرغانو به خبر. ده دغو سندریزو غږونو ته ځکه اړتیا لرله چې له هغه سره به یې خپله خوښېدا ، دریدل او پاڅون برابرول. د هغه سندرې تل خوږې، زړه راښکونکې، غمجنې او ښځینې وې. خبره او تندی به یې د سندرو ویلو په وخت کې تل زغرده او تریو وو.

له هغه ورځې چې اسیر شوی و ، ډېره یې لوړه شوې وه، ټول هغه څه چې دده له پوځي او قیمتي ژوند سره اړه لرله، ده ابسته ارتېږلي وو او په نا آګانه توګه، خپل پخواني ژوند یعنی بزګري کلیوالي ژوند ته ورستون شوی و ، هغه ویل:

- د سرتیری ژوند پای ته رسېدلی دی، دخدای په امان !

د هغه نه خوښېدل چې څوک د هغه د پوځي ژوند او وخت په اړه وغږېږي. که څه هم هغه له خپل تیرشوي ژوند نه نارضا و او زیاتره وخت به یې دا تکراوله چې په خپل پوځي ژوند کې هېڅکله چا وهلی نه و. کله به چې هغه کیسې کولې، زیاتره وخت به دغه کیسې د هغه پخواني کیلوالي ژوند په اړه چې ده ته ډېر ګران برېښېده. هغه متلونه چې ده په خپلو خبرو کې کارول، هغه متلونه نه و چې زیاتره به سرتیرو کارول. د هغه متلونه زیاتره نه یوازې دا چې ښکنځمار او بربنډې ویناوې وې، بلکې هغه به ډېر ولسي وو. دغه متلونه که څه هم د خپل په ځای کارونې په وخت کې ښې او ژورې معنی لرلې، خو د هغو جلا جلا کارول د هغو معنی ته سخت تاوان رساوه.

ده به زیاتره وخت داسې خبرې کولې چې د هغه له پخوانیو خبرو سره یې ضدیت درلود ، خو د هغه دغه او هغه خبرې دواړه سمې وې. د هغه غږېدا خوښیده او غږیدل یې ښکلي وو. هغه به وینا په متلونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېنو ستاينو کې سينګارو له، خو پيير ته داسې برېښېده چې هغه د غه متلونه خپله جوړوي. د هغه د وينا تر ټولو غوره ښکلا په دې کې وه چې کله ناکله به يوه ساده پېښه يا خبره چې پيير به هم د هغې پېښې د سادګۍ له امله هغه ته پاملرنه نه کوله، د هغه پر ژبه د ښکلا او پرتم ښنه وه. هغه به هغو کيسو ته چې د پوځي خدمت په وخت په اړه ويل کېدې، په وار وار تکرارېدې، ښه غوږ نيو. خو تر هرڅه زيات، د هغه ، هغه کيسې خوښېدې چې په رښتينې ژوند کې پېښې شوې وې. هغه به د دغو کيسو داريدو په وخت کې موسېده او د اوريدو په لړ کې به يې د داستانونو د ښکلاوو د لارا سپړنې لپاره پوښتنې کولې.

کراتيوف، په زړه بايللو ، دوستۍ او مينې، هغه شان چې پيير پوهېده، نه پوهېده، خو هغه ته ، هر څه چې به په ژوند کې ورسره مخامخېده ګران و او په مينه يې هغه منل او زغمل. له هر چا سره به چې مخامخ کېده ، په مينې يې له هغه سره مينه کوله. هغه هم، نه يو ټاکلي يا پېژندلي چاسره، بلکې هر هغه څوک به چې له ده سره مخامخ کېده ، ده ورسره مينه کوله. هغه ته خپل سپی، خپل ملګري، فرانسويان او پيير چې په زندان کې دده ګاونډي و ، ټول او ټول ګران و ، خو پيير داسې احساسوله چې د کراتيوف، د ټولې مهربانۍ او خواخوږۍ سره سره چې له ده سره يې لري (دغه مهرباني او خواخوږي د پيير له خوښې پرته له ده سره کېده ) د هغه جلاوالي او بيلتون به يوه شېبه هم هغه خوابدی نه کړي. او پيير هم کرار کرار د کرتايوف په وړاندې دغه احساس پيدا کړ.

پلاتون کراتايوف، دنورو ټولو اسيرانو لپاره يو عادی سرتيری و ، هغوی دی د ګربت او ياهم پلاتوشه په نامه ياداوه. له هغه سره به يې د زړه له کومې او په خواخوږۍ ټوکې کولې او هغه ته به يې کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارل، خو د پېير لپاره، هغه تل هماغه شان پاتې و، لکه د هغې لومړې شپې په شان چې ده د لومړي ځل لپاره دی ليدلی و. يعنی له تصوره وتلی، ګردی او د تل لپاره د سادګۍ او رښتينتوب نښه.

. پلاتون کراتايوف، له خپلې دعا نه پرته هېڅ شي له ياده زده نه و. کله به چې هغه خپلې خبرې پيل کړې، دا سې بر ښېده چې هغه پوهېږي ، ځنګه او چېرې هغه پای ته ورسوي.

کله به چې د هغه کومې خبرې پېير حيران کړ او له هغه نه به يې هيله وکړه چې هغه بيا ووايي، هغه څه به يې چې يوه شېبه مخکې ويلي و، نه شو کولای وريا د کړي. دغه راز ده دا هم نه شو کولای چې د خپلې خوښې سندرې شعر پېير ته ووايي. دا سندره دا وه: ((خپل ګران چنار ګوتې مې زړه را بدوی ))

هغه په وينا او خبرو کې د جلا جلا کلمو په معنی نه پوهېده او نه يې کولای شو پوره پرې پوه شي. د هغه هره کلمه او هر چاره، هغه ته د هغو ناڅرګندو او نا آشنا هڅو غبرګون و چې دی خپله هم له هغو نه خبر نه و. دا دده ژوند و، خو دده ژوند لکه هغه شان چې ده خپله انګېرله، له نورو نه جلا هېڅ معنی نه لرله. د هغه ژوند، يوازې د ټوليز ژوند د يوې برخې په توګه، ده تل دا سې احساسوله، معنی پيدا کوله. د هغه خبرې او کړه وړه، په هماغه نظم، هرو مرو والي او دده له واکه پرته ادا او ترسره کېدل، لکه عطر چې له ګلو را پاڅي. هغه نه د کومې جلا کلمې يا جلا چارې په معنی او نه يې په موخې، په يوه هم نه پوهېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

وروسته له هغه چې شهزادګۍ ماريا له نيکولای نه واوريدل چې د هغې ورور، د ياروسلاو په ښار کې د رستوف له کورنۍ سره دی، د خپلې ترور د مخالفت سره سره يې بيا هم سمدلاسه پريکړه وکړه چې له خپل وراره سره يو ځای هغه پلو ته وخوځيږي. دا کار آسانه و که کړکيچن؟ شونی و که نا شونی؟ دې خپله دنده ګڼله چې هر څنګه کيږي، د خپل ورور څنګ ته چې دمرګ په حال و، ځان ورسوي. دې هر هغه څه چې له لاسه کېدل کول، چې خپل وراره، خپل ورور ته ورسوی. هغه پاڅېده او وخوځېده، هغې فکر کاوه که سردار اندرې خپله دې ته خبر نه دی ورکړی، له دې امله دی چې يا خو داسې ناروغه دی چې دليکلو توان نه لري او يا داچې هغه دا کار ددې (شهزادګۍ ماريا) او خپل زوی لپاره خورا ګرانه او له کړکيچه ډکه چاره بللې ده.

څو ورځې وروسته شهزادګۍ ماريا دخوځېدا لپاره چمتو شوه، د هغې دسفر کاروان، يوه لويه ګاډۍ، وه چې دا ورونژ ته په کې راغلې وه، يوه وړه کراچۍ او يوه بله لاسي دباروړلو کراچۍ ګوتې وو. له هغې سره په سفر کې پېغله بوری ين، نيکولای جان او ښوونکی يې، د هغې بوډۍ مينځه، درې چوپړان، يو ځوان ياور، يو آشپز چې ترور يې اړ کړی و، خوځېدونکې وو.

مسکو ته دعادی لارو نه تګ خورا ګواښمن او آن تصور يې هم نه شه کېدای، نو له دې کبله، شهزادګۍ ماريا، مزل ته درسېدو لپاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلارې بدلېدو ته اړه شوه. يعنی هغه لاره يې غوره کړه چې د ليپڅک ، ريزان، ولاديمير او شويا د ښارګوټو له لارې تيريده. دغه لاره نه يوازې ډېره اوږده وه بلکې له دې کبله چې په ټولو رباطونو کې د آسونو بدليدل ناشوني وو، هر څه خورا ګران او دريزان ښار ته نېږدې، خو دفرانسويانو د پيدا کېدو خبرې کېدې، نو ځکه ډېره له ګواښه ډکه وه.

د ټولې لارې په اوږدو کې، پېغله بوری يېن، دوْسال او د هغې چوپړان د شهزادګۍ ماريا، دهڅو، روحي پياوړتيا او ټينګ تکل ته حيران پاتې وو. هغه تر ټولو ناوخته ويديده، تر ټولو نه د وخته وينښېده او هېڅ داسې ستونزه نه وه چې د هغې د تکل خنډ شي. د هغې د هڅو او هاند او تګ ته د تلوسو له برکته وو چې نورو ته هم دغه د خوځون او تکل احساس ورلېږديدلی و او د دويمې اونۍ په اوږدو کې و چې هغوی ياروسلاو نومي ښار ته ورسېدل.

شهزادګۍ ماريا، د ورونژ په ښار کې د خپلې استوګنې په موده کې، د خپل ژوند، تر ټولو نه غوره نيکمرغي ګڼله او د دغې نيکمرغي خوندیې احساساوه، نور نوله رستوف سره د هغې مينې نه هغه زوروله او نه يې په عذابوله. دغه مينه د دې له روح سره نغښتل شوې او د دې د روان او ځان نه جلاکېدونکې برخه ګرځېدلې او دا نور له هغې سره له سيالۍ نه لاس په سر شوې وه.

که څه هم هغې هېڅکله، په ډاګه دا خبره چاته نه وه کړې، خو هغه اوس په دې ډاډه وه چې يو څوک ورته ګران دی او دا هم يو چاته ګرانه ده. هغه په دې خبره، هغه وخت پوره ډاډه شوه چې نيکولای رستوف دې ته راغی او په خپله وروستۍ کتنه کې دې ته وويل چې ددې ورور( سردار اندرې )د رستوفيانو له کورنۍ سره مل دی. نيکولای، آن دې ته اشاره هم ونه کړه چې، که سردار اندرې جوړ شی، د هغه او ناتاشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانۍ شلېدلي اړيکي به بيا او بېرته راتازه شي، خو شهزادګۍ ماريا د هغه له سترګو او بشرې نه دا احساس کړې وه چې هغه به دې خبره ښه پوه او د هغه په اړه فکر کوي. د دې سره سره له دې سره نيکولای اړيکي خورا مينه ناک او نزاکته ډک وو، نه يوازې د غه اړيکي بدل نه شول، بلکې داسې بريښېده چې نيکولای په دې خوشاله چې اوس د دوی د خپښۍ اړيکي په اسانۍ او لا مينه ناک ډول هغه (شهزادګۍ ماريا) ته چې څو موده د مخه يې هغه احساس کړی وو، څرګند کړي. شهزادګۍ ماريا، په دې پوهېده چې هغې ته د لومړي او وروستي ځل لپاره يو څوک ګران دی.

لکه هغه شان چې د سفر په وخت کې تل پېښېده، شهزادګۍ ماريا، داسې په غمونو کې ډوبه وه چې خپله اصلي موخه يې هېره کړې وه، خو همدا چې يارسلاو ته نبږدې شول، د هغه څه په فکر کې شوه چې هغه نه څو ورځې وروسته بلکې نن مانښام ورسره مخامخ کېدونکې وه، د هغې تلوسې او ګبنيتوب پای نه درلود.

کله چې د هغې د ترور لاربنود چوپړ چې شهزادګۍ ماريا، د څارنې او ددې چارو د پلټنې لپاره مخکې استولی و او دنده يې لرله چې وګوري د رستوف کورنۍ چېرې مېشته او استوګنه ده او په دې ځان خبر کړي چې د سردار اندرې روغتيا څنګه ده؟ بيزته راستون شو دښار د لويې اډې مخې ته، له يوې لويې ګاډۍ سره مخامخ شو. هغه د ګاډۍ له کړکۍ نه، د شهزادګۍ، له ګبنۍ نه رنګ الوتي او ډار پسې اخېستنه څېره وليدله او دی هم ډار پسې واخېست، او وې ويل:

ـ ستاسو حضور! ډېر څه پوښتنه مې وکړه، د رستوف کورنۍ د ښار په ډګر کې، د سوداګر برو نيکوف په کور کې مېشته او ځای پر ځای شوې ده. هومره لرې نه ده، د ولګا د رود پر څنډه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماريا ، په وحشت او پوښتنيز غلچک د لاړښود چوپړ مخ ته وکتل، هېڅ نه پوهېده چې هغه څه وايي، په دې يې سر نه خلاصېده چې ولې د دې پوښتنې چې:
-ورور يې څنګه دی ؟ ځواب نه وايي. د شهزادګۍ پر ځای، پېغلې بوری ين، دا پوښتنه وکړه او وې ويل:
-سردار څنګه دی ؟
- والاحضرت هم له دوی سره په هماغه کور کې ميشت دی.
شهزادګۍ په زړه کې وويل:
ښکاري چې ژوندی دی. فکر يې وکړ او په کراره يې له ځانسره وويل:
-هغه څنګه دی ؟
-خلک وايي هغه په هماغه حال چې و ، په هماغه حال دی.
شهزادګۍ ماريا ، دا ونه پوښتل چې:
- هغه په هماغه حال چې دی، څه معنی ؟
هغې يوازې کمکی وړوکي او ه کلن نيکولای ته، خپل وراره ته، د سردار اندرې زوی ته چې د دې تر مخې ناست و او له خلکو نه د تش ښار له ننداري نه يې خوند اخېست، کتل. هغې سر ښکته وا چاوه او تر هغه وخته پورې يې را پورته نه کړ چې د هغوی درنه او لويه ګاډۍ چې د خوځېدا شړقېدا يې شر او شور جوړ کړی و ، په يو ځای کې ونه درېده او له ګاډۍ نه د ښکته کېدو د زينو د برابرولو غږ پورته نه شو.
دلوي يې ګاډۍ دروازې خلاصې شوې. کينې خوا ته يې اوبه ، لوی سيند او ښۍ خوا ته يې زينې وې. بر زينه چوپړان او د هغو په منځ کې ، يوه سره پخونه نجلۍ چې اوږدې تورې کوڅۍ يې لړلې ولاړه وه، دد غې نجلۍ پرشونډو داسې موسکا خوره وه چې شهزادګۍ ماريا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لاسي او ناخونده بربښېده (دا سونيا وه). شهزادګۍ ماريا پر زينو وروختله او هلته ولاړې نجلۍ چې لاسي موسکا يې پر شونډو خوره وه، دې ته وويل:

- دې پلو، دې خواته !

او شهزادګۍ د انتظار په خونه کې له يوې پخې ښځې سره چې ختيځه بشره يې لرله او په چټکۍ او خواشينۍ د دې خواته را روانه وه، مخامخ شوه. دا مشره ګرافينه وه. هغې له شهزادګۍ ماريانا غېږ تاو کړه او تر ښکلولو نه وروسته يې وويل:

- زما ماشومه ! راته ګرانه يې ! ځومره ډېره موده وشوه چې مې نه يې ليدلې !

شهزادګۍ ماريا، د خپلې ټولې نا آرامۍ او خواشينۍ سره سره په دې پوه شوه چې دا مشره ګرافينه ده او بايد دا هم څه ورته ووايي. هغه خپله هم په دې پوه نه شوه چې څنګه يې وکولای شول يو څو فرانسوي کلمې په هماغه ډول چې دې ته ويل شوې وې، ووايي او وپوښتي:

- هغه څنګه دی ؟

ګرافينې وويل:

- ډاکتر وايي چې اوس ګواښ نه شته.

خو له دې خبرې سره هممهاله، ګرافينې يو سوړ اسويلی وکيښ او سترګې يې آسمان خواته ور لوړې کړې، د هغې دغه کتل د هغه څه برخلاف و چې دې ويلي و.

شهزادګۍ ماريا وپوښتل:

- همدا اوس، همدا اوس ګرانې شهزادګۍ !

هغې له دې خبرې سره جوخت، کمکي نيکولای جان ته چې له دوسال سره ګډ راننوت مخ ورواړاوه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه ښکلې او نازولې هلک دی.

ګرافینې، شهزادګۍ میلمستون ته بدرګه کړه. سونیا له پېغلې بوري ین سره غږېده او ګرافینې نیکولای نازوه. په دې وخت کې مشر ګراف کوټې ته راننوت او له شهزادګۍ سره یې روغبړ او ستړې مشي وکړه. ګراف له هغه وخته چې وروستی ځل یې شهزادګۍ لیدلې وه، ډېر بدل شوی و. هغه وخت، دی، داسې مست، خوشاله او پر ځان ډاډمن سپین ږیری و، خو اوس داسې خوار او ناهیلی برېښېده. هغه، له ګرافینې سره د غږېدا په لړ کې پر له پسې، دې خوا، هغه خوا کتل چې ګواکې غوښتل یې وپوښتي هغه څه چې دی کوي یا یې وایي سم دي که ناسم؟

د مسکو تر سوځېدو نه وروسته چې دده شتمنۍ او جایدادونو، په ایرو او کنډوالو بدل شوي وو، داسې برېښېده چې ده پر ځان ډاډ له لاسه ورکړی او داسې یې انګیرله چې دده لپاره په ژوند کې ځای پاتې نه دی.

شهزادګۍ ماریا، د هغې لېوالتیا او ناآرامۍ سره سره چې په دې شېبه کې د خپل ورور د ژر لیدو لپاره یې لرله او د هغې خواشینۍ سره سره چې د ورور د لیدو نه پرته، دې ته د نورو خبرو او کړو نه پیدا شوې وه، دې غوښتل سمدلاسه خپل ورور وګوري، خو نورو پر له پسې د هغې د ورور په ستاینو وخت تېراوه. هغې د ورور د دیدن په هیله کې د ډوبیدو سره سره بیا هم هغه څه ثارل چې ددې په شا او خوا کې تېریدل او داسې یې احساسوله چې اوس سمدلاسه باید همدې حالاتو او دنورو کړو وړو ته غاړه کېږدي. هغه څه ته چې دا ورسره مخامخ ده، که څه هم ددغو ټولو خبرو او کړو وړو زغم ورته ګران و، خو بیا هم هغې کوم شکایت نه درلود. مشر ګراف سونیا هغې ته ور وپېژندله او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل:

- دا زما خوريئ ده ، هغه تاسو پېژنئ شهزادګۍ !

شـهزادګۍ مشـرې ګرافینـې تـه مـخ وروا ړاوه او هڅـه یـې کولـه د تربګنـۍ هغـه احسـاس چې دد غـې نجلـۍ پـه وړانـدې ددې پـه زړه کـې راپاریدلی دی، آرام او کرار کړي. هغې سونیا ښکل کـړه، خو پـر هغـې ځکه هر څه ګران تمامیدل چې ددغو ټولو خلکو طبیعت چې لـه دې نـه راتاو شوي وو ، لـه هغـه څـه نـه زیـات تـوپیر درلـود چې ددې پـه زړه کـې تیریدل.

هغې پر ټولو غږ وکړ او وې پوښتل:

-هغه چېرې دی ؟

سونیا ځواب ورکړ:

- د لاندې، ناتاشا له هغه سره ده.

سونیا تکه سره شوه او زیاته یې کړه:

- درځئ چې ورشو ، وې ګورو ! او رښـتیا زه فکـر کـوم تاسـې سـتړې شوې یاستئ، شهزادګۍ ؟

د شهزادګۍ په سترګو کې د خواشینۍ اوښکې شبوه شرېږ. هغـې بیا ګرافینې ته مخ وروا ړاوه او غوښتل یې چې بیا له هغې نه وپوښـتي، څنګه او له کومې لارې هغه ته (ورورتـه ) ورشي. پـه همـدې وخت کـې و چې د کوم چا نرم، سندریز، خو چټک ګامونـه، تـا بـه ویـل لکـه دنـا څګر قدمونه د دروازې شاته وا وریـدل شول. شـهزادګۍ مـخ وروا ړاوه او وې لیدل چې ناتاشاوه، تا به ویـل چې منډې را وهـي، ددې خواتـه را روانـه ده. هماغه ناتاشا چې تیر وار یې په مسکو کې د هغوی د کتنې پـه وخت کې کرکه ترې راغلې وه. هغـې لا ددې وخت پیدا نـه کـړ چې ناتاشـې تـه وګوري، خو پـه دې پوه شوه چې هغـه درد احسـاسوی چې دا پـرې اختـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، نو ځکه د هغې ربښتيني دوست دی. د هغې پلو يې ور ودانګل، غبرګې تري چاپېره کړه او په داسې حال کې چې سر يې پر اوږو ور ايښی و، ښه يې وژړل.

ناتاشا چې د سرداراندرې د کټ تر څنګه ناسته وه، همدا چې د شهزادګۍ له راتګه خبره شوه، په ارامو خو چټکو ګامونو، هغو ګامونو چې شهزادګۍ ماريا ته سندريز برېښېدلي وو، د هغه له کوټې راووتله او ددې خواته يې رامنډه کړل. کله چې ناتاشا د شهزادګۍ ماريا پلو ورمنډه کړل، د هغې په حيرت وهلې او ګښې اخېستې څېره کې يو څه ښه څرګند و او هغه مينه وه. دميني حالت و. له سرداراندرې سره مينه، له شهزادګۍ ماريا سره مينه، له ټولو هغو سره مينه چې ددې د خوښۍ سره يې اړه پيدا کوله. د خواخوږۍ حالت، د نورو په خاطر د زوريدني حالت او دبې پايه هېلې او لېوالتيا حالت، هغه حالت چې خپل ټول څه او ځان له هغو سره تر مينې ځار کړي. داسې برېښېده چې په دغې شېبه کې، هغې نه دځان او نه له هغه سره د خپلو اړيکو پرته، هېڅ خيال د هغې په خيال کې نه و.

حساسه شهزادګۍ ماريا، ناتاشې ته په لومړي غلچک کې په هرڅه پوه شوه او له غمه په ډک خوند يې د هغې پر اوږو اوښکې تويولې.

ناتاشې ورته وويل:

-درځه چې ځو! ورځه چې ورشو ماريا!

او هغه يې بلې کوټې ته بدرګه کړه.

شهزادګۍ ماريا سر راپورته، اوښکې پاکې، مخ يې ناتاشې ته وروااړوه او داسې انګېرله چې دا به له هغې سره په هر خبره او هر څه پوه شي.

-ښه نو... څه... به..

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې غوښتل څه ووښتي، خو ناڅاپه چپه شوه، هغې داسې انګېرله چې نه شي کولای په خبرو او کلمو پوښتنې او ځوابونه وشي. د ناتاشې سترګو او بشرې باید هر څه په زوره او په ډاګه دې ته ویلي وای.

ناتاشې هغې ته کتل او داسې بریښېده چې هغه له دې امله په ډار او شک کې ده چې ټول هغه څه چې دا پرې پوهېږي ووایي او یا یې ونه وایي. هغې ګواکې دا احساس کړی و چې د دغو ځلېدونکو سترګو په وړاندې چې ددې د زړه تر تله پورې یې لاره وهلې ده، نه شو کولای ټول رښتیا، هغه رښتیا چې دا ترې خبره او پرې پوهېږي و نه وایي. د ناتاشې شونډې ناڅاپه ورږدېدې. د هغې د خولګۍ نه نا ښکلې ګونځې را تاو شوې، په ساندو ساندو یې ژړا پیل او په لاسونو کې یې خپله بشره پټه کړه.

شهزادګۍ ماریا په هرڅه پوه شوه.

خو په هرحال، هغې هیله لرله او د همدې هیلې په هیله یې د هغه څه په اړه پوښتنه وکړه، چې دې باور نه پرې لاره:

- نو ښه، د هغه ټپونه څنګه دي؟ حال یې څنګه دی؟

ناتاشې یوازې وکولای شول چې دومره وایي:

- تاسې... تاسې خپله یې وګورئ!...

یو څو شېبې وروسته دواړه په ګډه د هغې کوټې د دروازې شا ته ولاړ وو چې سردار اندرې په کې پروت و. دواړه ددې لپار کېناستې چې ژړا یې آرامه شي او بیا په ارامو څېرو د ننه کوټو ته ورننوزي.

شهزادګۍ ماریا وپوښتل:

-- دا ناروغي یې څنګه وه؟ ډېره موده کېږي چې حال یې خرابه شوی دی؟ او دا پېښه څه وخت شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا وویل چې په پیل کې یې خورا سوځوونکې تبه او ګوابښمن درد درلود ، بیا د ترویخه په سیمه کې دا ښه شول، خو داکتر له یوه شي ډاریده او ((هغه ۴۴۲ روس ))و ، بیا دغه ګوابښ لرې شو ، خو کله چې د یاروسلاو ښار ته راورسېدو ټپونه یې په خوسا کېدو شول (ناتاشا ، د هغه د ټپونو په ټول حالاتونو:خیرینتوب او خوساستوب ، به هرڅه پوهېدله ) داکتر ویل چې د ټپونو د خرینتوب او بیا خوسا کېدو تداوي هم کېدای شي، خو کله چې بیا تبه پرې راغله، داکتر ویل چې دغه تبه خورا ګوابښمنه ده.

ناتاشې وویل:

-خو دوه ورځې د مخه ناڅاپه دغه پېښه وشوه.

هغې د خپلو ساندو او ژړا مخه ونیوه او وې ویل:

- زه نه پوهېږم چې څنګه ؟ خو تاسو به یې په خپله وګوري چې له نه څه جوړ شوي دي.

شهزادګۍ وپوښتل:

- خورا خوار شوی دی ؟ ډنګر شوی دی ؟

نه، داسې نه دی، تر خوارتوبه هم لا بدتره دی، تاسي به یې خپله وګورئ !واخ، واخ ماریا ، ماریا ، هغه ډېر ښه دی، خو. هغه نه شي کولای، نه شي کولای ژوندی پاتې شي.... ځکه چې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

کله چې ناتاشا په خپل دوديزې ادا د هغه دروازه پرانسته، شهزادګۍ ته يې تر ځانه د مخکېدو بلنه ورکړه. شهزادګۍ ماريا داسې احساس کړه چې ستوني يې سلګيو ته چمتو دی.

هر څومره چې هغې د ځان دآرامولو او تسل هڅه کوله ، دا په دې پوهېده دا چې د اوښکو دتوييدو مخه نيولی نه شي، شهزادګۍ ماريا په دې پوهېده چې ناتاشا ددې خبرو معنی څه ده چې:

- دوه ورځې دمخه دی داسې شو.

. هغه په دې پوهېده چې د هغې دا حالت چې دا ناڅاپه آرامه او مهربانه شوه څه معنی لري.

هغه پوهېده چې په دغه مهربانۍ او کرارۍ کې د مرګ نښې دي. هغه چې دروازې ته ورننېږدې کېده، د اندرې هغه بشره يې وليدله چې دې له ماشومتوبه پېژنده. د ورور هغه مهربانه، ارامه او خوږه څېره چې خورا لږه به داسې برېښېده او پر دې به يې تل داسې ژوره اغيزه کوله. هغه په دې پوهېده چې هغه به دې ته شعر ووايي، هغه شان ارامه او مينه ناکې خبرې به وکړي چې پلار يې تر مرګه مخکې دې ته کړې وې. هغه خبرې چې دا به يې زغم ونه شي کړای او هرو مرو به وژاړي. وړاندې يې که وروسته يې، مګر هرو مرو دا پېښېدونکې و او دا کوټې ته ورننوته. څومره به چې ددې سترګو له نېږدې نه ، په ځرګنده او لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګنـده ، د هغـه بشـره د هغـې بشـرې ځانګړتیـاوې لیـدلې، پـه همـاغـه اندازه به سلګیو ددې ستونی او غاړه پسې اخېستې، ناڅاپه یې د هغه څېره ولیدله او د دواړو کتنې او غلچکونه سره مخامخ شول.

سردار اندرې، پر یوې اوږدې کټ ډوله څوکۍ پروت و، شا او خوا یې بالښتونه ایښي وو او یو اوږد کمیس یې په غاړه وچې د خرلمۍ پـه پوست ګاڼل شوی و. هغه دنګر او تـک ژیـړ و. د هغـه پـه یـوه ډنګر او لـه سپین والي نه راڼه لاس کې یې دستمال او د بل لاس ګوتو یې پـه نرمـې خوځېدا مخ پورته له برېتو سره لوبې کولې او سترګو یې نویـو راغلـو کسانو ته په ځیر ځیر کتل.

شـهزادګۍ ماریـا، چې د هغـه بشـره ولیـده او سـترګې یې د هغـه لـه سترګو سره مخامخ شوې، ناڅاپه یې ګامونو چټکتیا له لاسه ورکړه او داسې یې وانګېرله چې سلګۍ یې له ستوني او اوښکې یې لـه سـترګو تښتېدلي دي. د هغـه دبشـرې پـه لیـدو او د هغـه لـه غلچـک سره د خپـل غلچک له مخامخ کیدو سره سم، هغـه ناڅاپـه ځانتـه وشرمیده او ځـان یې ګنهګار وګاڼه.

هغې له ځانه وپوښتل:

-هو کې ! خو ګناه مې څه ده ؟

د ورور ساړه خو برند غلچک ځواب ورکړ:

-ګناه دې داده چې ژوندۍ یې او د ژونـد پـه اړه فکر کوې، حال دا چې...

د هغـه مـلال او ژور کاتـه او غلچـک چـې کلـه پـه کـراره د خـور او ناتاشې پلو ته ور واوښت، نه نورو ته بلکې دځان دننه ته یې پام او لـه تربګنۍ سره مل و.

دتل په شان یې خور سره لاس ورکړ او سره ښکل یې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې، دده د ساړه او پردی غلچک په شان ، په ساړه او پردی غږ وویل:

-سلام ماریا ! څنګه دې وکولای شول تر دې ځایه راشې ؟

که سردار اندرې د ناهیلۍ چغې وهلای وای، د هغه چغو به شهزادګۍ ماریا دومره نه وای حیرانه کړې، لکه د هغه د دغې اوسنۍ غږیدا آواز چې پر دې یې داسې اغیز کړی و.

په هماغه ساړه او کرار غږ یې چې په کې له ورایه د څه رایادولو هڅه اوریدل کېده، وپوښتل:

- اوس دې روغتیا څنګه ده ؟
- شهزادګۍ خپله له خپلې پوښتنې حیرانه شوه.
- هغه وویل:
- -ګرانې دا باید له داکتره وپوښتې.

که څه هم داسې برېښیده چې هڅه یې کوله دا خبره په لا مهربانۍ وکړي، خو په تش آوازیې وویل:

-له تا نه مننه ګرانې چې راغلې !

- شهزادګۍ ماریا د هغه لاس کېښکود. سردار اندرې د هغې دلاس په کېښکودلو سره ، تندي لږ تریو کړ. هغه چپ شو او خور یې نه پوهېده چې څه ووایي. هغه په دې پوه شوه چې په دې دوو ورځو کې څه پرې راغلي دي. د هغه له خبرو په تیره بیا د هغه له کتو نه چې ساړه و او تربګنۍ ترې وریدله، په هرڅه کې پردیتوب احساسېدل، داسې پردیتوب چې د ژوند لپاره ډارونکي او وحشتناک و. داسې بربښېده چې نور نو د ژوندیو په حال پوهېدای نه شي، خو سره له هغه هم داسې احساسېدله چې دنه پوهېدو علت ، له دې کبله نه دی چې هغه یې احساسولئ نه شي، بلکې له دې کبله و چې ژوندي پرې پوهېدای نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او نه شي کولای پرې پوه شي، دی په داسې یو څه کې ډوب شوی و.

- سردار اندرې چوپتیا ماته کړه او په داسې حال کې چې ناتاشې ته یې کتل، وویل:

- ګوره چې برخلیک بیا څنګه سره یوځای کړو ؟ هغه بیا منډې راپسې وهي.

شهزادګۍ ماریا هر څه اوریدل، خو په هغه څه نه پوهېده چې ورور یې ویل. هغه، هغه حساس او ځیرک سردار اندرې څنګه کولای شول د هغه چا په اړه چې ده ته ګرانه ده او دی هم په دې پوهېده چې دی هم هغې ته ګران دی، داسې خبرې وکړي. که هغه تصور کولای شول چې دی ژوندی پاتې کېږي، په دغه شان سړه او له سپکاوي نه ډکه ژبه به یې دغه شان خبرې نه کولای. که هغه پر مرګ باور نه لرلای، نو څنګه یې پر ناتاشې زړه نه خوږېده ؟

دې خبرې یو دلیل درلود او هغه دا چې د هغه لپاره نورهېڅ شي پروا نه لرله، دې خبرې دده لپاره یوازې یوه معنی لرله، هغه دا چې د هغه لپاره تر دې نه مهم راز راسپړ شوی و. خبرې اترې یې ډېرې سړې، شلېدلې او هره شېبه به له ځند سره مخامخیدلې.

ناتاشا وویل:

ماري د ریزان له لارې راغلې ده.

د سرداراندرې دې ته پام شو چې ناتاشا د هغې خور نه د ماریا بلکې د ماري په نامه یاده کړه. دا لومړی ځل وه چې ناتاشا دده تر مخې د هغه خور په دې نامه یادوی او خپله یې هم دې ته پام شو، هغه وویل:

-ښه ؟

هغه ته یې وویل چې مسکو ټول سوی او اېرې شوی او...

ناتاشا له خبرو پاتې شوه، نور یې نه شو کولای وغږېږي. داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاريده چې هغه هڅه کوي، پر ځان زور راولي چې خبرې واوري، خو نه يې شو کولای. هغه وويل:

-هوکې !وايي چې سوی دی، ډېر د خواشينی‌ ور دی.

هغه مخامخ کتل او په برېتو کې يې ګوتې وهلې.

سردار اندرې سکوت مات کړ، داسې برېښېده چې هغه غواړي د کومې غورې خبرې په اړه له هغوی سره وغږېږي، نوځکه يې وويل:

- تا له ګراف رستوف سره وليدل ؟

هغه په خورا ساده او آرامه ژبه ، که څه هم ښکاريده چې دی پوه شو چې دده په خبرو د ژونديو سر نه خلاصېږي، دوام يې ورکړ:

- هغه راته ليکلي دي چې ته يې ډېره خوښه شوې يې.

او تر هغه وروسته يې په داسې خوشالی‌ چې ګواکې تر لټونې وروسته يې هغه کلمات چې هيله يې لرله، پيدا کړي وي، ژر ژر وويل:

- که تاسي ته هم هغه ګران وای، څومره ښه کار به شوی وای چې واده مو کړی وای.

شهزادګی‌ ماريا ، د ورور خبرې اوريدې، خو د هغه په خبرو نه پوهېده، او يوازې ددې ښکارونه يې کوله چې د ژونديو له حاله څومره لرې شوی دی، بله معنی لرله.

هغه ناتاشې ته وکتل او په کراره يې وويل:

- اوس ولې زما په اړه خبرې کوو ؟

ناتاشا احساس کړه چې د هغه سترګې په دې خښې دي، دې هغه ته ونه کتل او بيا ټول چپه خوله پاتې شول.

شهزادګی‌ ماريا چې شونډې يې رېږدې، ناڅاپه يې وويل:

-اندرې ته غوا... ته هيله نه لرې چې نيکولای جان ووينې ؟

د لومړي ځل لپاره د سردار اندرې پر شونډو د ليدو وړ موسکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راخوره شوه، خو شهزادګۍ ماريا چې د هغه بشره او شونډې ښې پېژندلې، په وحشت سره دا سې احساس کړه چې دده دغه موسکا نه يوازې له زوی سره نه دخوښۍ او نه دمينې نښه څرګندوی بلکې د شهزادګۍ ماريا په هغو وروستيو خبرو نرمې ملنډې دي چې غوښتل يې د ورور احساسات راوپاروي.

هغه وويل:

- زه ډېر خوشاله يم چې نيکولای دلته دی، څنګه ؟ روغتيا يې ښه ده؟

****

کله چې يې نيکولای جان سردار اندرې ته راوست، هغه په ډار پلار ته کتل، خو هغه ځکه نه ژړل چې هېڅ چا نه ژړل. سردار اندرې، هغه ښکل کړ، خو دا سې بربښېده چې نه پوهېږي، له هغه سره څه ووايي.

کله چې يې نيکولای جان بېرته بوت، شهزادګۍ ماريا بيا ورور ته ورنږدې شوه، هغه يې ښکل کړ، نور يې نو د خپلو اوښکو مخه نيوای نه شوه او همدا سې ټينګه په ژړا شوه.

سردار اندرې چې په ځير ځير هغې ته کتل، وې پوښتل:

- څنګه نيکولای جان ته ژاړې ؟

شهزادګۍ ماريا، په ژړا ژړا کې، د تاييد سر وښوراوه او وې ويل:

- ماريا ! ته انجيل پېژنې ؟ خو ناڅاپه چپ پاتې شو ؟

-څه دې وويل ؟

سردار چې په هماغه ساړه غلچک، هغې ته کتل، او وې ويل:

- هېڅ ! دلته بايد ونه ژوا ړې.

کله چې شهزادګۍ ماريا وژړل، هغه په دې پوه شو چې هغه ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ژاړي چې نیکولای به بې پلاره پاتې شي. هغه ډېره هڅه وکړه چې بېرته د ژوند بهير ته راستون شي اوژوند ته د ژوندیو په سترګه وګوري، هغه فکر وکړ:

-هوکې ! پر هغه هم باید ستا زړه خوږ شي، خو دا یوه ډېره ساده خبره ده. هغه ته په زړه کې د انجیل دا کرښې وریادې شوې:

-د هوا مرغان نه څه کري او نه څه ریبي، خو ستا سو پلار هغه پالي.

هغه دا خبره له ځانسره وکړه او غوښتل یې هغه شهزادګۍ ته هم ووایي. بیا یې ځانسره وویل:

- نه، نه، هغوی په خپل ډول دا تفسیروي، هغوی په دې نه پوهېږي. هغوی، په دې پوهېدای نه شي چې دا ټول احساسات دي چې دوی پرې ویاړي او زړه یې پورې تړلی دی. زموږ ټولو دغه ټولې اندېښنې چې موږ ته دا سې غوره بریښي، هغه ټول بې ګټې او په کار نه دي. موږ یو بل احساسولی او درک کولی نه شو.

او چپ شو.

****

د سردار اندرې، ماشوم زوی اوه کلن و. هغه متې متې کولای شول یو څه ولولي، خو په څه نه پوهېده. هغه تر دغې ورځې وروسته ډېر څه ولیدل او زده یې کړل. پوهه یې ترلاسه کړه، ځیرکتیا یې وموندله او تجربه، خو کله هماغه ورځ یې دغه پوهه او درک چې وروسته یې وموندل، درلودلای، بیا به هم په هغه څه پوه شوی نه وای چې د هغې پلار، ترور او ناتاشې تر منځ تیر شول او ده ولیدل. هغه هرڅه لیدل، خو پرته له هغه چې وژاړي له کوټې نه ووت. چپه خوله ناتاشې ته چې ده پسې ورووتله، ورنږدې شو، په حیا حیا یې هغې ته وکتل او په ښکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اند ېښنا کو سترګو هغې ته ځیر و. د هغه ګلابي لاندنۍ شونډه چې لږ پورته راغلې وه، لږ وربېږدیده، سر یې پر ناتاشې ورکېښود او په ژړا شو.

له هغې ورځې وروسته هغه هڅه کوله، له خپل روزونکي دوساله لرې لرې وګرځي. له مشرې ګرافینې نه چې دی یې نازوه او پاله، تښتېده. یا به یوازې ناست و او یا به په حیا حیا شهزادګۍ ماریا یا ناتاشې ته ورته داسې ښکاریده ، هغه ته له خپلې ترور نه هم ناتاشه زیاته ګرانه شوې ده، او په کراره به یې ځان د هغې تر خوا نازونو ته برابره.

شهزادګۍ ماریا چې کله د سردار اندرې له کوټې راووته، په پوره توګه په هغه څه پوه شوه چې د ناتاشې بشرې او سترګو ورته ویلې وو. هغه نور نو له ناتاشې سره د ورور د ژوند د ژغورنې په اړه نه غږیدله. هغوی به په وار سره د ناروغ پالنه کوله او ورسره کېناستلې به، خو نور یې نو نه ژړل. تل به یې دعا کوله او په ټول توان به یې هغه ابدي او له درکه بهر څه ته پناه وروړه چې اوس یې شته والي د دغه زنکندن په حال کې انسان پر سر داسې احساسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

سـرداراندرې نـه يـوازې پوهېـده چـې هغـه مـري بلكـې هغـه دا احساسوله چې حال يې مرګنی او د مرګ پولې ته نيمايي لاره يې وهلې ده.

هغه داسې احساسوله چې ټول هغه دنيايي شيان چې د خوښۍ او نفساني لذت او د احساساتو د پارونې سبب کېږي، لـه ده نـه پـه لـرې کېدو دي. هغه پرته له هر ډول تلوار او سودا نه، هغه څه ته سترګې پـه لاره و چې بايد ورپېښ شي. هغه ناليدونکی، لرې، ابدي، لاس تـه نـه راتلونکی ، ګواښمن او ناپېژندل شوی څه چې د ټول ژوند پـه اوږدو کې پر له پسې ده احساسوه، اوس ده تـه ډېر نـېږدې شوی و. هغـه هم د هغه آرامې او عجيبه هستي له برکتـه چې ده احساسوله ، د پوهېدو او منلو وړ وه.......................................................

دی، پخـوا لـه دغـه شـان يـوه پـای نـه ويريـده. هغـه دوه ځلـه د دغـه وحشتناک ډاراوعذابونکي احساس سره مخامخ شوی و ، خو اوس دی په هغه نه پوهېده.

لومړی ځل، هغه له دغه احساس سره هغه وخت آشنا شوی و چې د هغه تر مخې لاسي بم ولويد او ده وليدل چې په چورليدو چورليدو دده خواته راچورلي. ده په هغه شېبه کې د بوټو ، نيالګيو او آسمان پـه لـور کتل او په دې پوهېده چې د مرګ په پوله ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تر تېپې کېدو وروسته را په سد شو، په یوه شېبه کې د هغه په زړه کې، ګواکې د ژوند له قیده د مینې آزاده شوې غوټۍ وغوړېده، داسې ابدي او آزاده چې دغه ژوند پورې یې اړه نه لرله، داسې غوټۍ راټوکېده. دی نور له مرګه نه وېریده او د هغه په هکله یې فکر نه کاوه. د ټپي کیدو نه وروسته د عذاب او اپلتو ویلو په هغو شېبو کې د یو ازیتوب په هغه ساعت کې به یې چې څو مره د ابدي مینې، هغې مینې چې تازه یې پر ده څپه غوړولې وه، ځېرېده، پرته له هغه چې سر یې پرې خلاص شی، په هماغه کچه یې له دنیایي ژونده، بېزارېده. هر څه او هر چا پورې زړه تړل، تل د نورو په مینه کې ځان ځارول، یعنی له هېڅ چا سره په ځانګړې توګه مینه نه کول، یعنی له دنیایي ژونده زړه شلول دي. څو مره به چې دی، دابدي مینې دغه برېد ته ورننوت، په هماغه کچه به دی له ژونده بېزاره کېده او تر هغې کچې یې لا زیات هغه پوله ورانوله چې له مینې پرته د مرګ او ژوند تر منځ پرته ده. په لومړیو وختونو کې به چې کله هغه ته وریاد شول چې باید ومري، له ځانسره به ویل:

- نو څه چې مړشم؟ تر دې دنیا نه خو هغه ښه ده.

خو تر هغې شپې نه وروسته چې هغه د میتیشې په ښار ګوټي کې تیره کړه او د نیمې ببسدۍ په حال کې یې هغه ښځه چې دده خوښېده، تر سترګو شوه او بیا یې د هغې لاسونه پر خپلو شونډو ور کېښودل، په ارامۍ او خوښۍ یې وژړل. بیا پرته له هغه چې پوه شي، زړه ته یې دیوې ښځې مینه ورننوتله او یو ځل بیا یې له ژوند سره اړیکی تازه شوي وو. د خوښۍ او اندېښنو خیالونه پرې راخواره شوي وو. هغه شېبه وریاده شوه چې د بېړنیو روغتیایي مرستو په ځای کې یې کوراګین لیدلی و. نور یې نه شو کولای هغه احساساتو ته ورستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. اوس ده پـه دې پوښـتنې زوراوه چې ايـا هغـه بـه مـړ وي او كـه بـه ژوندی ؟ خو ده دا زړه نه شو كولای چې له ځانه دا پوښتنه وكړي.

د هغه ناروغۍ خپله لاره وهله، خو هغه څه چې ناتاشا يـاد كـړي و، هغه ورپېښ شول. هغه څه چې د شهزادګۍ ماريا لـه راتګـه دوه ورځـې مخكې ورپېښ شول، دا د مرګ او ژوند تر منځ ، هغه وروستی اخ وډب و چې دده به روح كې روان و. او پـه دې اخ او ډب كې مرګ بريالی كېـده. كه ده پـه ناڅاپي دا منلې وه چې ده تـه لا ژونـد ګران دی، دا لـه ناتاشـې سره دده د مينې پايلـه وه، خـو د ميتيشـې پـه سيمه كې د هغـې شپې تـر تېريدو وروسته، پـه هغه حال كې چې ده اپلتـې غږولـې، پـه همـدې حـال كې هغه ښځه ورسره مخامخ شوه چې دی ورتـه سـترګه پـه لاره و، د هغـه لاس يې پـر خپلـو شـونډو وركېښـود. پـه ارآمـه خـو خـورا خوښـۍ يـې اوښكې تويې كړې، پرته له هغه چې دی پوه شي، د يوې ښځې مينې يې زړه تـه لاره كـړې وه او هغـه بيـا لـه ژونـد سـره اړيكـې پيـدا كـړې وو. د خوښۍ او ګېنې خيالونه بيا پرې راخواره شول. . .

دا مابنام و. هغه د هرې شپې په شان تـر ماښـامنۍ وروسـته، لـږ تبـې اخېستی او خيالونو يې پـه بې سـاري توګـه رانـه و. سـونيا دميـز تـر شـا ناسـته او ده سـترګې پټـې كـړې وې. پـر هغـه ناڅاپـه د نيكمرغـۍ څپـه راخوره شوه او له ځانسره يې وويل:

-آه ! دا هغه ده چې ګوګل ته راننوته !

په رښتيا هم د سونيا پر ځای دمګړۍ راننوتلې ناتاشـا چې چـا يـې د راتګ په وخت كې آن دګامونو غږ هم اوريدلی نه و ، ناسته وه.

لـه هغـه وختـه چې ناتاشې د هغـه پالنـه كولـه، سرداراندرې د هغـې شـتـه والـي او نږديـوالي احساسـاوه. ناتاشـا پـر يـوې داسې لاسـتي لرونكي څوكۍ ناسته وه چې څنګ يې پـر هغـه لګېـده او پـر هغـه يـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمعې د رڼا دلګېدو مخه نيولې وه. هغې جورابې اوبدلې، هغې د جورابو اوبدل زده کول هغه وخت پيل کړل چې سردار اندرې هغه ته وويل:

-هېڅ بل څوک د هغې زړې بوډۍ په څېر چې جورابې اوبي، نه شي کولای د ناروغ پالنه وکړي او د جورابو په اوبدلو کې کوم آرامونکي څه نغښتي دي. د هغې نرۍ ښکلې ګوتې چې د اوبدلو او سپنيزډکې به يې کله ناکله پر يو بل ولګېدل، په هڅو کې وې او هغه ته د هغې په ښکته شويو خيالوکې د ډوبې بشرې يو اړخ له ورايه او په څرګنده معلومېده.

ناتاشا ، وخوځېده او د وړيو غونډارې د هغې له زنګنو ولويد. هغه پاڅېده او هغه ته يې وکتل. لاس يې ددې لپاره د شمعې مخې ته ونيو چې د رڼا مخه ونيسي. په چټکۍ، خو په احتياط او نرۍ خوځېدا خمه شوه، د وړيو غونډارې يې راپورته کړ او بېرته په هماغه حالت کېناسته.

سردار اندرې پرته له هغه چې وخوځېږي، هغې ته کتل، هغه ليدل چې ناتاشا تر خوځېدا وروسته ژورې سا اابستلو ته اړتيا لري، خو هغې دا کار ونه کړ او په احتياط يې نرۍ سا ويستله.

د ترويځکي دښارګوټي د صومعې په سيمه کې سرداراندرې او ناتاشا دتيرو پېښو په اړه غږېدل او سردار هغې ته وويل ، که ژوندی پاتې شي، دی به دژوند تر پايه پورې د خپل ټې له امله له خدای نه ځکه مننه کوي چې د هغه له برکته يې بيا له ناتاشې سره ديدن وشو ، خو په دې ټوله موده کې هغوی هېڅکله د راتلونکې په اړه ونه غږېدل.

سردار اندرې چې اوس په خيالونو کې ډوب و ، هغې ته يې په کتو کتو کې يې، د هغې د اوبدلو د نريو ستنو نرم آواز ته د غوږ نيولی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په ترخ کې يې له ځانسره ویل:

- دا شوني و او که ناشوني؟ ایا قسمت د څه لپاره زه په دې خوارۍ اخته او بیا یې له هغې سره یوځای کړم؟ چې مړ شم؟ ایا ماته یې د ژوند رښتیني بڼه د دې لپاره راڅرګنده کړه چې زه په دروغو کې ژوند وکړم؟ په دې نړۍ کې، هغه تر ټولو نه ماته ګرانه ده، نو څه؟ نو زه په دې څه وکړم چې هغه ماته تر ټولو ګرانه ده.؟

دهمدې خبرو په لړ کې يې ناڅاپه، بې ارادې او دعادت له مخې زګیروی وکړ. ده دا عادت د خپلې ناروغۍ نه د زوریدنې په موده کې پیدا کړی و.

ناتاشې چې د زګیروي دغه غږ واورید، او بدل یې پرېښودل، هغه ته ورنږدې شوه او همدا چې د هغه ځلېدونې سترګو ته یې پام شو، په نرمو نرمو ګامونو لا وروړاندې، پر هغه ورخمه او وې ویل:

-تاسو ویده شوي نه یاستئ؟

- نه، زه له ډېرې مودې تاسو ته ګورم، ماستاسې راننوتل احساس کړل، هېڅوک لکه د تاسو په شان، ماته دغه کراره آرامي او د زړه رڼا نه رابښي. زړه مې غواړي چې له خوښۍ نه ښه وژاړم.

ناتاشا، هغه ته لا وروړاندې شوه او پر څېرې يې د خوښۍ او مینې ځلا راخوره شوه، سردار اندرې، ورته وویل:

-ناتاشا تاسې ماته ډېره او خورا ډېره ګرانه یاستئ. له هرڅه نه چې په دې دنیا کې دي.

ناتاشا، د سترګو په رپ کې مخ وروا ړاوه او وې وې:

- او ماته؟ څنګه له هرڅه ډېره ګرانه؟

-څنګه له هرڅه ډېر؟ نو تاسې څه فکر کوئ؟ تاسو يې څنګه په زړه کې احساسوئ؟ زړه مو څه درته وايي؟ دزړه په تل کې يې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګېرئ ؟ ګوره زه به ژوندی پاتې شم ؟ تاسو ته څنګه برېښي ؟

ناتاشې په داسې یوې خوځېدا چې د لېونۍ مینې ښې په کې څرګندې وې، د هغه دواړه لاسونه یې راونیول او څه کم چیغه یې کړل:

-زه ډاډه یم، ډاډه یم !

سردار چپ شو. د هغې لاسونه یې راونیول، هغه یې ښکل کړل او وې ویل:

- څومره به ښه وای !

ناتاشا، ډېره نیکمرغه او ګڼې اخېستې ښکارېده، خو په هماغه شېبه کې ور په یاد شول چې دا کار ناسمه دی او هغه باید آرامه واوسي.

هغې چې د خپلې خوښۍ د ایلولو هڅه کوله، وې ویل:

-خو تاسو ویده نه شوئ ! ښه به دا وی چې ویده شئ، هیله کوم آرام وکړئ.

سردار اندرې، تر کېښکولو وروسته، د ناتاشې لاس پرېښود، هغه بېرته د شمعې څنګ ته راغله او په خپل پخواني حال کېناسته.

دوځله یې وروکتل او دواړه واریې ځلېدونکې سترګې سره وجنګېدلې. هغې د ځان لپاره د اوبدلو اندازه وټاکله او په زړه کې یې وویل چې تر هغه پورې چې تر دې ځایه پورې و نه اوبدل شي اوبدل به پرېنږدي.

په رښتیا هم تر دې نه وروسته د سردار سترګې پټې او ویده شو. هغه تر لږ ځنډ ویدو کېدو وروسته، ناڅاپه په داسې حال کې چې سړې خولې پرې را روانې وې او ګڼې اخېستی و، راویښ شو. دی چې کله ویده کېده، د هغه څه په اړه فکر کاوه چې دا ټوله موده یې د هغه په اړه فکر کاوه او هغه مرګ او ژوند و، خو اندرې زیاتره د مرګ په اړه فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه ، هغه ځان مرګ ته ډېر نېږدې احساساوه ،
سردار له ځانسره وویل:
- مینه ؟ مینه څه ته وایي ؟ مینه د مرګ خنډ ده. مینه ژوند دیهر څه ده ، پر ټول هغه څه چې زه پوهېږم ، یوازې له دې کبله پوهېږم چې مینه لرم. هر څه چې شته ، ټوله هستي د دې لپاره شته والي لري چې زه مینه لرم. هر څه یوازې مینې پورې اړه لري. مینه خدای دی او مرګ او زما مړه کېدل ، ما ته د مینې یوه برخه ده د کل او ابدیت سرچینو ته ورستنېدل دي.
دغه اند ښنې هغه ته آرامه ښنونکې وبرېښېدې ، خو دا اند ښنې یوازې اند ښنې وې. په هغو کې کوم څه نیمګړي ، کوم څه یو اړخیزه ، او کوم چور ځانګړي او ذهني و ، هغه څرګند نه و .. هر څه هماغه شان نا آرامه او تت و. او دی همداسې ویده شو.
هغه خوب لیده چې دی په هماغه کوټه کې پروت دی چې په رښتیا دی هلته پروت و ، هغه خوب لیده چې دی ټپي نه دی او رک روغ دی. د سردار اندرې ، په وړاندې بې شمېره ، ډولا ډول تباه شوي او بې پروا وګړي راښکاریدل. هغه له هغو سره غږېده او د کوم نه وړ څه په اړه یې له هغو سره خبرې کولې. هغوی کوم ځای ته د تګ تکل کړی وو. سردار اندري ته په تته وریادیدل چې دا ټول بې معنی او هسې بې ګټې او دی تر دې نه خورا لویې ستونزې لري ، خو هغه له هغو سره غږېده ، اپلتې یې ویلې او د ټولو د حیرت سبب و. په کرار کرار او په نا څرګنده ډول دغه کسان ورکېږي او د ټولو هغو پر ځای یو شي پاتېږي او هغه دروازه نومېږي او هغه باید وتړل شي. د دروازې پلو ورځي ، تړلې یې او غواړي قفل وراچوي. اوس هر څه او ټول په دې پورې اړه لري چې دی به وکولای شي هغه قفل کړي او که ؟ . هغه ځي ، تلوار کوي ، خو پښې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورسره خوځېږي او هغه پوهېږي چې دی نه شي کولای دروازه قفل کړي، خو پوره په هماغه شېبه کې چې دی له ډاره او په ناتوانۍ د دروازې پلو ورځښېږي، هغه، هغه وحشتناک شي د دروازې له هغه پلوه ، دروازه راکښېنکاږي ، هغه شي هڅه کوي چې دروازه په زوره راخلاصه کړي. هغه یو غیر انساني، شی دی، هغه مرګ دی. دروازه په زوره راخلاصېږي. اوس باید د هغه مخه ونیول شي. هغه په دواړو لاسونو دروازه کلکه نیسي او په خپل ټول او وروستي توان سره هڅه کوي چې دروازه تړلې وساتي. که څه هم د دروازې د خلاصولو مخه نیولی شي، خو نور نو د هغې قلفول ناشوني دي. د هغه قوت ډېر کمزوری دی، هر څه یې له واکه وزی، هغه قوت چې دروازه راپورې وهي، خورا وحشتناکه دی. د هغه له امله دروازه کله خلاصه او کله پورې کېده.

هغه وحشتناک بیا دروازه راپورې وهله. د سردار اندرې ، وروستی بې ساري قوت ، ناتوان او مات شو او د دروازې دواړه پلې ، مخامخ بې له غږه راخلاصې شوې. هغه شي رانىوت او هغه مرګ دی. او سردار اندرې مړ شو.

خو په هماغه شېبه کې چې هغه مړ شو ، سردار ته وریاد ښول چې هغه خوب ویني او په همدې شېبه کې چې هغه مړ شو ، هغه په ځان زور راوړ او را ویښ شو.

ناڅاپه یې پر روح رڼا را خوره شوه او هغه پرده چې تر هغه وخته پورې یې، هغه نالیدونکی او ناپېژندونکی څه دده له سترګو پټول، دده د باطن د سترګو له مخې لرې شوه ، هوکې دا مرګ و ، زه مړ شم. زه راویښ شوم. هوکې ! مرګ راویښېدل دی.

هغه داسې احساس کړه چې ګواکې دده په روح کې، بندي شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هځې او قوت آزاد شوي دي. او هغه، هغه آرامي او کراري چې نور نو له ده نه لرې نه شول، په ځان کې احساس کړل.

کله چې راویښ شو په سړو خولو کې ډوب و. په کټ کې یې ښوریدل پیل کړل، ناتاشا هغه ته ورنږدې شوه او ترې وې پوښتل چې څه شوي دی ؟ هغه نه ځواب ورکاوه او نه یې په خبره پوهېده او یوازې یې په ځیر ځیر هغې ته کتل.

دا هغه څه و چې د شهزادګۍ ماریا د راتګ نه دوه ورځې مخکې پېښ شوي و. او له هماغې ورځې راهیسې، هماغه شان چې ډاکټر ویلي و، ستومانه کوونکې تبې یاغي بڼه پیدا کړه، خو ناتاشې د ډاکټر خبرو ته پام نه کاوه بلکې هغې په سردار کې د هغه وحشت نښې لیدلې چې نور یې هغې ته د شک او تردید ځای پرینښود.

له هماغه ورځې د سردار اندرې لپاره له خوبه راویښېدو سره له ژونده راویښېدل هم پیل شول او په نسبي توګه د ژوند موده، هغه ته هغه تر هغه مودې نه لنډه و نه برېښېده چې له خوبه راوېښېده. او په نسبي توګه د خوب د مودې په پرتله.

د هغه وروستۍ ورځې او ساعتونه په خورا عادي او ساده ډول تیر شول.

شهزادګۍ ماریا او ناتاشې چې د هغه له څنګه لرې کېدې هم دا احساسوله. هغوی نور نه ژړل او نه یې د هغه پالنه کوله «هغه نور نه و، هغه له دوی نه جلا شوی و» هغوی په دې وروستیو وختونو کې خپله هم په دې پوهېدلې وې،. هغوی نور نه د هغه بلکې د هغه د خورا نږدې کسانو یادونه او پالنه یې کوله. د هغه د کالبد او تش بدن. هغوی دواړو دغه حالت په داسې اغیزمنه بڼه احساساوه چې د مرګ وحشتناکې بڼې پر هغو هېڅ اغېز نه کاوه او ددې وړتیا یې نه لیدله چې د هغه پر غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتم جوړ کړي. هغوی نه د هغه ترخوا ژړل او نه له هغه نه لرې کېدل، او په خپل منځ کې هېڅکله د هغه په اړه نه غږېدلې. هغوی دا سې انګېرله چې دوی به ونه شي کولای، هغه څه چې دوی پرې پوهېږي، په خبرو کې بیان کړي.

هغوی دواړو لیدل چې څنګه هغوی. په کرار کرار او آرامه آرامه ښکته او ښکته، هغې خواته چې ښایي، کوزېږي او دواړه پوهېدلي دي چې دا باید همداسې وي او همداسې ښه ده.

د زنکندن او دعا مراسم ترسره او مړی ومینځل شو. ټولو له هغه سره خدای پا مانۍ ته ورنږدې شول. کله چې یې زوی هغه ته راوست، پلار یې په تندي ښکل کړ او مخ یې واړاوه. هغه دا کار نه ددې لپاره چې ورته ګرانه وه او یا یې په پلار زړه خوږېده (شهزادګۍ ماریا او ناتاشا په دې خبره پوهېدل) بلکې ددې لپاره چې هغه تصور کاوه چې ده نه همداسې غوښتنه کېږي، خو کله چې له هغه نه غوښتنه وشوه چې دعا ورته وکړي، شا او خوا یې ګواکې ددې لپاره وکتل چې وپوښتي، ایا کوم بل کار هم وکړي او کنه ؟

وروسته له هغه چې د څو دقیقو لپاره ناخوځېدونکې او مړه ځنازه د دوی په وړاندې پاتې شوه، شهزادګۍ ماریا وویل:

- هرڅه پای ته ورسېدل ؟

ناتاشا مړی ته ورنږدې شوه، د هغه مړو لویدلو سترګو ته یې وکتل او په چټکۍ یې ورپټې کړې. هغې د هغه سترګې ورپټې کړې. هغه یې ښکل نه کړې بلکې په خورا درناوي یې د هغه پر اننګې چې ددې لپاره تر ټولو نږدې یاد و، ورکېښود، هغې وویل:

-هغه چېرې لاړ ؟ هغه اوس چېرې دي ؟

کله چې مړی ومینځل شو او کفن شوې ځنازې تابوت، پر میز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښنودل شو ، تهول راغلل، ددرناوي او خدای پا امانۍ په نښه په ژړا ژړا د هغه له څنګه تیر شول. نیکولای جان د هغه غم او زوریدو له غمه ژړل چې دده کوچنی زړه یې کېښکود. ګرافینې او سونیا نه یوازې، د سردار پر مرګ ژړل بلکې پر ناتاشې یې هم زړه تو ټه تو ټه کېده. بوډا ( مشر ګراف ) هر څه احساس کړي وو او په دې ژړل چې ډېر ژر دی هم باید دا وحشتناک او نه راګرځېدونکی سفر پیل کړي.

ناتاشا او شهزادګۍ ماریا هم اوس ژړل، خو هغوی نه په خپل ماتم بلکې هغوی د هغې مهربانۍ لپاره ژړل چې د غه ساده ، پرتمین او رازمن مرګ ، چې همدا اوس ددوی ترمخې تېر شوی و ، ددوی پر زړه را خوره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم کتاب

# دويمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د پېښو د پېښېدو په ټولو لاملو پوهېدل، د انساني ذهن له توانه وتلې خبره ده، خو په دغو لاملونو د پوهېدلو اړتيا په انساني روح کې نغښتې ده.

انساني ذهن چې د پېښو د بې شمېره کړکيچونو شرايطو ته چې هر يو يې کېداى شي د پېښو علت وي، لاره موندلاى نه شي ، تر ټولو لومړى، او نېږدې هغه يې اغېز ګڼي او وايي چې همدغه علت دى. چې په تاريخي پېښو کې( هلته چې انساني کړه د څېړنې اصل دى )تر ټولو لومړنى تصور، د خداى اراده ګڼل کېده او تر هغه وروسته د هغو کسانو اراده وه چې تر ټولو غوره دريځ يې لاره. يعنې تاريخي اتلان دي، خو ددې کار د پوهېدنې لپاره به دا بس بنسټ ته پاملرنه وکړو او په دې پوه شو چې د اتلانو اراده نه يوازې پر پرګنو اغېز لري بلکې هغه (پرګنې) هغه لارښوونه کوي.

کېداى شي داسې وبرېښي چې دا هېڅ پروا نه لري چې د تاريخي پېښو علت داسې يا هسې وګڼو... د هغو دووتنو تر منځ چې يو يې وايي، د لوديز خلک ځکه د ختيځ پلو ته لاړل چې ناپليون غوښتل او بل يې وايي چې دا چاره ځکه پېښه شوه چې بايد پېښه شوې واى، د دوى د توپير اندازه له هغو نورو دوو تنو نه چې يو يې وايي ځمکه ټينګه ولاړه او سيوري ترې چورلېږي او بل يې بيا وايي چې دوى نه پوهېږي چې ځمکه پر څه ولاړه ده، خو په دې پوهېږي چې د ځمکې او نورو ستورو د خوځېدا څارنه کوي. د تاريخي پېښو علت، د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



علتونو له یو علته پرته بل علت نه دی او کېدای هم نه شي، خو د پېښو د ارادې ځېنې قوانین پېژندل شوي دي او ځېنې هسې د تصور او خیال په کچه تصورېږي. د دغو قوانینو پېژندنه یوازې هغه وخت شونې ده چې مونږ د یو تن په اراده کې د علتونو له پلټنې تېر شو، لکه هماغه شان چې د ستورو د خوځېدا قانون یوازې هغه وخت پېژندلي شو چې انسان د ځمکې د ځای پر ځای سکون د قانون نه تېر شي.

مورخین د ۱۸۱۲ کال د بارادینو تر جګړې او د دښمن له خوا د مسکو د لاندې کولو او سوځولو نه وروسته د ریزان د واټ نه د کالوژسکایا او تارو فسکي کمپ ته د روسي پوځ لېږدیدل چې د کراسنایا پاخرا د ځنګیز خوځون په نامه نومول شوی دی، او هغه تر ټولو مهمه او نه هېریدونکې پېښه ګڼي. تاریخ لیکونکي د دغې سترې او نبوغ نه ډکې چارې ویاړ، د څو تنو ویاړ ګڼي او ټول په دې غږېږي چې د دې ویاړ زیاته برخه د چا ویاړ دی. آن بهرني او له هغه ډلې نه فرانسوي لیکونکي د دغه ځنګیز شاتګ او خوځون پریکړه، د روسي قوماندان نبوغ ګڼي او مني یې، خو دا علت نه ځرګندوی او نه څوک پرې پوهېدای شي چې ولې پوځي تاریخ لیکونکي او هغو پسې ټول دا لیکي چې د روسي پوځونو دغه خوځون چې روسیه یې ژغورلې او ناپلیون یې تالا والا کړی دی، د کوم یو تن د ژورې اند بښنې او نوښت زېږنده دی؟

په دې خبره پوهېدل په ربښتیا هم ګرانه خبره ده. لومړی خو دا ځکه ګرانه ده چې په دغه خوځون کې ژوره اند بښنه او نبوغ چېرې دی؟ ځکه هغه پوځ لپاره چې یرغل نه کوي، د ځای پر ځای کېدو د غوره ځای پیدا کول چې په اسانۍ خوراړه او کالي تر لاسه کولي شي نبوغ نه غواړي. د ۱۸۱۲ کال په حالاتو کې هر دیارلس کلن وآن د کوم بې عقله زلمي له زیار او هڅې پرته دا تصور کولای شو چې له مسکوه تر وتلو وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوځ دځای پر ځای کېدو لپاره تر ټولو غوره ځای د کالوژسکایا واټ ته نېږدې ځایونه وو.

دویمه خبره داده چې، دا ګرانه ده چې دا پیدا کړو چې تاریخ لیکونکو څنګه او ولې د روسیې ژغورنه او ناپلیون راپرزیدل ، په دې خوځون کې موندلی دی، ځکه دغه څنګیز خوځون که پخواني او د هغه هممهاله او وروستي شرایط په بل ډول و ،. کېدای شو چې هرڅه د روسیې د تباهۍ او د فرانسویانو د ژغورنېته لاره آواره کړې وای، که د روسي پوځ د ژوند تر دغه خوځون نه وروسته لا غوره شو ، په هېڅ ډول نه شو ویلای چې ددغه خوځون پایله وه.

که له دغه خوځون سره نور شرایط مل نه وای، نه یوازې به یې روسي پوځ ته ګټه رسولې نه وای بلکې هغه به یې تباه کړی هم وای. څه به پېښ شوي وای که مسکو نه وای سوځېدلای ؟ که ناپلیون او میورات روسانو نه وای ورک کړی ؟ که د کراسنایاپاخرا ، سیمې ته د تیریدو په وخت کې د بیتیګس او بارکلی په مشوره ، پر روسي پوځ برېد شوی وای ؟ داسې نور که ؟ که ؟ او که ؟...

دربیم هغه چې تر ټولو پېچلې او جړه ځکه ده چې تاریخ پوهان په لوی لاس دا هېرول غواړي چې د څنګیز خوځون چاره، یوازې یو تن پورې اړه نه لري. هېڅ چا د هغه اټکل نه و کړي او دا کار لکه د فیلې له سیمې د شا تګ په شان، دهیڅ پام په پوره توګه ځانته نه و ور اړولې، بلکې. دا پېښه ګام په ګام د یو بل پسې زېږیدونکو پېښو او شېبه په شېبه د نویو زیاتو او ډولا ډول پېښو نه رامنځ ته شوې پېښه وه او یوازې هغه وخت یې د یوې بشپړې پېښې بڼه پیدا کړه چې پېښه شوې وه او نور یې تیر وخت پورې اړه لرله...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

دغه ځنګیزه خوځېدا وه یوازې غه وخت پېښه شوه، چې روسي پوځ مخامخ او دیرغل برعکس شاته تګ پیل کړ او وروسته له هغه چې دفرانسویانو برېد ودرید، له خپل مخامخ تګ نه یې چې له پیل نه دوړاندې تګ تکل کړی و، لاس په سر شو، نو له دې کبله کله چې روسي پوځ ولیدل چې نور دوی پسې اخپستونکی پوځ یې تر شا نه لیدل کېږي، نو په طبعي توګه یې ښی خوا ته ځکه مخه کړه چې په هغه ځای کې د خوړو او کالیو له پریمانۍ نه خبر وو.

که داسې وانګېرو چې د روسي پوځ، نومیالي قوماندانان نه درلود او پوځ بې مشرۍ و، دغه شان پوځ به له دې پرته بله چاره نه لرله چې بېرته د مسکو خوا ته ستانه شي او دځان لپاره داسې دایروي یا کړیزه لاره، هغه خواه وټاکي چې هلته ابادې ځمکې او پریمانه خواړه او کالي وي.

دغه ځوځېدا د نژنیه له لارې، ریزان او تولا سیمو خواته ته دتلونکو لارونه دومره طبعي ښه لرله چې آن له روسي پوځ نه تښتېدلي داړمارانو هم خپلې خوځېدا لپاره دغه لاره ټاکلې وه او له پترزبورګ نه هم سپارښتنې راورسېدې چې کوتوزف هم باید د خپل پوځ دخوځېدا لپاره دغه لاره غوره کړي.

دتاروتینو په سیمه کې کوتوزف د ټولواک هغه لیک تر لاسه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دده پر کړو يې ځکه نيوکې کړې وې چې دده پوځ د ريزان له لارې خوځولی و ، خو بيا هم دليک تر پوره لوستلو نه وروسته دا څرګنده شوه چې ، په ليک کې هم ده ته لارښوونه شوې وه چې هماغه کالوژسکا يا لاره چې ده ټاکلې وه او ده ته تر ټولو غوره لاره ده.

روسي پوځ لکه هماغه شان چې څرګنده وه، له فرانسويانو سره د جګړې په ټوله موده کې او هماغه راز د بارادينو په جګړه کې، تر سختو ګوزارونو لاندې راغلی و ، همداسې يې تر ګوزارونو لاندې شا تګ ته دوام ورکړ، خو همدا چې ددغو ګوزارونو زور پای ته ورسېد او بل ګوزار يې يرغل ونه ليدل شو ، نو هغه حالت يې ښه وګاڼه او غاړه يې ورته کېښوده چې دوی خپله ورسره مخامخ شوي وو.

د کوتوزف وړتيا او نبوغ، په هغې جګړېزې کړنلارې او د پوځ په قوماندانۍ کې چې دده په نامه ياديږي نه و بلکې دده نبوغ په دې کې و چې بل هېڅوک په هغه څه نه پوهېدل او نه يې، درک کولای شول چې پېښېدونکي وو. هغه يوازينی څوک و چې له هماغه وخته د فرانسوي پوځ په ناتوانۍ او نا وړتياوو پوهېده او يوازينی څوک و چې د بارادينو د جګړې پايله يې د روسي پوځ برې ګاڼه. هغه د روسي پوځ د قوماندان په توګه، بايد تر ټولو نه زيات لېواله وای چې يرغل وکړي، خو داسې نه و ، دی يوازيني څوک و چې له خپل ټول توان نه يې ددې لپاره کار واخېست چې خپل پوځ په دغه بې ګټې جګړې کې له ننښتو وژغوري.

هغه ځناور چې دباردينو په جګړه کې ټپي شوی و ، په هماغه ځای کې چې ښکاري تر ښکاره وروسته پريښی و ، هماغه شان ، همالته پاتې و ، خو ښکاري په دې نه پوهېده چې ښکار يې ، ژوندی دی او کنه ؟ توان لري او کنه ؟ او يا يې ځان چېرې پټ کړی دی. ناڅاپه د ښکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيغې پورته شوې.

دغه ځناور فرانسوي پوځ و، دغه ځناور خپله چغه پورته کړه او د خپلې تباهۍ څرګندونه يې وکړه. ددغه ځناور څرګندونه، د کوتوزف پوځ ته د لوريستون په څېره کې د اوربند او سولې د استازي رالېږل و.

ناپليون په دې ډاډه و چې هر هغه څه ښه دي او که ښه نه دي، خو دا چې دده په خيال کې ګرځي، هغه ټول ښه دي. نو هماغه لومړی څه يې چې خيال ته ورغلي و او هېڅ معنی نه لرله، هغه يې کوتوزف ته ليکلي وو:

«شهزاده کوتوزف! زه خپل يو جنرال ياور تاسو ته دخورا مهمو خبرو لپاره درلېږم. ستاسې له مبارک حضور نه هيله کوم چې د هغه پر هر څه، په تېره بيا پر هغه څه باور وکړئ چې تاسو ته يې، ستاسې په اړه، زما له خوا دزړه له کومې وړاندې کوي. زه د خدای د لوی دربار نه هيله کوم چې تاسې په خپله سپېڅلې پناه کې وساتي»

مسکو، د اکتوبر دريمه، ۱۸۱۲ کال

ناپليون

کوتوزف هغه ته داسې ځواب وليکه:

«که زه اوس کومه روغه جوړه ومنم، راتلونکي به پر ما ته د لومړي لمسونکي په توګه لعنت ووايي. دا زموږ د خلکو اراده ده.»

هغه ناپليون ته داسې ځواب وليکه او خپل ټول توان يې ددې لپاره کاراوه چې پوځ له جګړې لرې وساتي.

د يوې مياشتې په اوږدو کې، په مسکو کې د فرانسوي پوځ ميشتيا او تالان او دمسکو په څنډو تاروتينو کې د روسي پوځ ځای پر ځای کېدل او استراحت، د دواړو خواوو پوځي توان (شمېر او استراحت) چور بدل کړل. دغه بدلون د روسي پوځ په ګټه تمام شو. که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوي پوځ حالت او د هغو شمېر روسانو ته څرګند نه و، خو همدا چې دغه بدلون څرګند شو، دیرغل اړتیا هم راپیدا او له هغه سره هممهاله په ډېرو ځایو کې د یرغل د وړتیا نښې هم رابښکاره شوې. دغه نښې دا وې:

دلوریستون لېږل، ، په تاروتینو کې د پریمانه خوړو او کالو پیدا کېدل، هغه خبرونه چې له هرې خوانه د فرانسوي پوځ د بې اوزګارۍ او بې نظمۍ او زموږ پوځ ته د نویو سرتیرو په اړه رارسېدل، د هوا ښه والي او زموږ د سرتیرو دمه کیدل، ، تر ډېر استراحته وروسته په سرتیرو کې د کار د سرته رسېدو د لېوالتیا پیدا کیدل ،... د فرانسوي پوځونو په حال د خبرتیا هیله، چې له ډېرې مودې راهیسې وزګار پاتې شوي وو... دغه راز په ځېنو کلیو ، باندو او لارو کې پر فرانسویانو د کلیوالو یرغلونو چې د هر یو پوځي په ګوګل کې یې د پیاوړتیا او ښه والي روحیه راپاروله. د دغو وړو برېو خبرونو د خلکو او کلیوالو تر منځ د رخې روحیه راخوټوله او په هغو کې د دغې اخېستو د احساس لمسېدل دم په دم تر هغه پورې په زیاتېدو ښکاریده چې فرانسویان په مسکو کې پاتې کیدونکي وو. له تولو نه غوره لا دا وه چې زموږ پوځ پر دښمن د غوره والي له امله بدل شوی و. د قوا او انډول بدلون موندلی و او یرغل هرو مرو کېدونکی و. پوره هماغه شان چې کله د ساعت ستنې ، په بشپړه توګه دیوې کړۍ ګرځېدا پوره کوي او زنګونه یې زنګ وهي، د پوځ لوړپوړو چارواکو هم همداسې د یو بدلون خوځون او اوښتون احساساوه، داسې یو بدلون، خوځون او اوښتون چې زنګونو یې زنګیدل، پیل کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

کوتوزف له خپلې قوماندانۍ او ټولواک له پترزبورګ نه د روسي پوځ قومانده کوله. مخکې تر هغه چې د مسکو د ماتې او سقوط خبرونه پترزبورګ ته ورسي، د جګړې لپاره یوه هر اړخیزه کړنلاره جوړه او د کوتوزوف په مشرۍ د کړنې لپاره لېږل شوې وه. که څه دا کړنلاره په دې خیال چې پر مسکو پخوانۍ واک ټینګ دی، جوړه شوې وه، خو بیاهم د ستري قوماندانۍ مشرۍ هغه ومانه او د هغه کړنه او عملي کول یې پیل کړل. کوتوزف، یوازې دومره ورته ولیکل چې د جګړې لارښوونه او مشري به له لرې واټن نه خورا ګرانه وي. پترزبورګ د دغو خنډ پېښوونکو ستونزو د اوارۍ او نویو سپارښتنو د سرته رسولو لپاره ځینې کسان کوتوزوف ته ورولېږل.

له دې نه پرته، د روسي پوځ په قوماندانۍ کې باید نوي بدلونونه، ترسره شوي وای. د وژل شوي باګراتیون او خوابدي شوی بارکلی پر ځای باید نور کسان ټاکل شوي وای. په خورا غوڅه توګه دا تصور پیاوړی شوی و چې د الف پر ځای ب او د ب پر ځای الف وټاکل شي. او یا برعکس د A پر ځای D او داسې نور، خو دا ټولې چارې دیو چا له خوښۍ پرته بله ګټه نه لرله. دا تصور هم له دې کبله وچې د پوځ د غوره والي لپاره د دغو چارو سرته رسولو ته اړتیا لیدله کېږي.

د پوځ په قوماندانۍ کې د کوتوزف او د هغه د درستیزوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بینیګیسن، ترمنځ تربګنی، قوماندانۍ ته د ټولواک د ډاډورکسانو راتګ او نویو بدلونونو له امله دبېلابیلو ډلو خپل منځي پېچلې کړکیچنې دوکې، دیوبل تیرا یستل او تربګنۍ سختې زیاتې لوبې روانې وې. چا یوه ته کنده کیندله او چا دبل لارې کې څاه جوړوله او داسې نور او نور. ددې ټولو دوکو په منځ کې اصلي پلمه هغه پوځي عملیات و چې دغو کسانو هریو تصورکاوه چې دی یې مشري او لارښوونه کوي، خو پوځي عملیات د دوی له ارادې پرته، همغه شان چې باید ترسره شي یعنې د دوی د اټکل نه لرې روان و. دې عملیاتو د ولس د خوښۍ پربنسټ خپله لاره وهله. دغه دوکې او تیرویستل ټولې له ټولو سره لویدلې، سیالي یې سره کوله او د هغو غبرګون د پوځ پر لوړ پوړو چارواکو خپل اغیز کاوه...

ټولواک د تاروتینو تر جګړې وروسته، داکتوبر په دویمه په خپل لیک کې کوتوزوف ته لیکلي و:

« شهزاده میخایل ایلاریونویچ! د سپتمبر د دویمې راهیسې دښمن پر مسکو ولکه کړې ده. ستاسو وروستي ګذارش د سپتمبر په شلمه رالېږل شوی و. په ټوله دې موده کې نه یوازې د دښمن په وړاندې زمونږ دلومړنۍ پلازمېنې د خپلواکۍ لپاره څه کار نه دی شوی بلکې د وروستیو رپوټونو له مخې تاسو نور هم شاته تللي یاست. د سیرپوخوا، سیمه هم دښمن لاندې کړې ده. دتولا سیمه چې د خپلو فابریکو له پلوه د پوځ د وړتیاوو د پوره کولو لپاره، خورا ضروري ده، تر ګواښ لاندې راغلې ده، د جنرال وینځیګېرود، په راپور کې وینم چې د دښمن یولس زره کسیز پوځ پترزبورګ ته په تلونکو لارو خوځېدلی دی او د دښمن بله قطعه چې څو زره تنه دی، د دیمتروف دښار پلو روان دي. او د هغه څلورم او دشمېر له پلوه دپام وړ پوځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزا او موزاسیک د سیمو تر منځ ځای پر ځای شوی دی. په خپله ناپلیون د سپتمبر په ۲۵ په مسکو کې و. د دغو ټولو اطلاعاتو له مخې دښمن خپل پوځونه داسې خواره واره کړي دي او خپله ناپلیون له خپل ګارډ سره لا په مسکو کې دی. ایا دا کېدای شي چې د تاسو په وړاندې د دښمن پاتې پوځ په داسې یو حالت کې وي چې تاسو پر هغو د برید توان ونه لري؟ برعکس په زیات ګومان داسې اټکل کولي شو چې هغه له خپلو ځوکنډ کونو او یا په اغلب ګومان د داسې یوې فرقې په ملتیا تاسو پسې در روان دی چې تر ډېرې اندازې نه له هغه پوځ نه خوار او ضعیف دی چې تاسو ته سپارل شوی دی.

داسې بریښي چې له دې حالت په ګټه اخېستو سره تاسو کولای شو پر دښمن چې له تاسو خورا ضعیفه دی. په بریالیتوب برید وکړئ، مات یې کړئ، یا یې لږ تر لږه شا ته تګ اړ او هغه سیمې چې د دوی تر ولکې لاندې دي، بېرته خپلې کړئ. تاسو به په دې کار سره تولا او نورو ښارګوټو ته د پېښې شوی ګوابښ مخه ونیسئ. که دښمن خپل پیاوړی پوځ پترزبورګ ته راولېږي او زموږ دغه پلازمېنې ته چې دلته هومره دپام وړ پوځ هم پاتې نه دی، تر ګوابښ لاندې راولي، ملامتې او مسوولیت به یې ټول ستاسو پر غاړه وي، ځکه تاسو تر خپلې قوماندې لاندې پوځ په برکت، که وغواړې، لږ زړه وکړې، په سربښندنه به د هغه مخه ونیسئ. دا په یاد لرئ چې تاسو به لا د مسکو د سقوط ځواب ولس ته وایئ. تاسو خو، دا تجربه لرئ چې زه کولای شم، تاسو وویاړم. د دغو ویاړلو اراده په ما کې ناتوانه شوې نه ده، خو زه او روسیه حق لرو چې له تاسو نه د پیاوړتیا، دریدو، سربښندنې او برې هیله ولرو. په جګړه کې ستا مېړانه، پوهه او قومانده، دا ټولې چارې ډېرې آسانه وي»

خو دغه لیک چې په هغه کې د پوځونو د انډول او په پترزبورګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی د پوځ د ربښتيني قوت ښودنه کوله، لا په لاره وه. هغه کوتوزف ته رسېدلی نه و، هغه نور نه شو کولای د ده تر قوماندې لاندې پوځ د يرغل نه راتم کړي او جګړه پيل شوې وه.

دا کتوبر په دويمه چې شاپووالف نومی قزاق له دې سيمې تېرېده، په غشي يو سوی، ښکار کړ او بل سوی يې ټپی کړ. دغه قزاق په ټپی شوی سوي پسې په ځنګل کې تر هغه وړاندې لاړ چې د مورا، د پوځ له کين اړخ سره مخامخ شو. د هغه پام شو چې دغه فرانسوي پوځ له هر ډول څارنې او ساتنې او بې احتياطۍ پرته هلته موضع نيولې وه. دغه سرتيری په خورا ملنډو خپلو ملګرو ته دغه کيسه وکړه او ويل يې چې نېږدې و، د فرانسويانو اسير شي. يو برېدګي چې دغه خبرې اورېدلې وې، هغه يې خپل قوماندان ته ورسولې.

قزاق يې سره راوغوښت، پوښتنې، ګروېږنې يې ترې وکړې. د قزاقو قوماندان غوښتل له دې حال په ګټه اخېستو له فرانسويانو نه څو آسونه برمته کړي، خو له دغو قزاقانو نه يو تن چې د پوځ له لوړپوړو سره اړيکی درلودل، دا خبرې د سترې قوماندانۍ يوه جنرال ته ورورسولې، په دې وروستيو وختونو کې په پوځ کې سيالۍ او ناندرۍ خورا زياتې شوې وې، ايرمولوف څو ورځې د مخه بنيګسين ته ورغلی او له هغه يې هيله کړې و چې له خپل واکه ګټه واخلي او پر فرانسويانو يرغل پيل کړي. بنيګسين ورته ويلي و، که تاسو مې پېژندلای نه وای، ما به فکر کړی و چې تاسو د هغه څه د سرته رسولو هيله نه لرئ چې غواړي. همدومره بس دی چې زه د يوه څه سپارښتنه يا هيله وکړم او کوتوزف د هغه برعکس کار وکړي.

دغه د قزاقانو له خوا راوړل شوی خبر د څارونکو له خوا هم تاييد شو او په ډاګه څرګنديده چې پېښه کېدونکې ده، تارونه يې ورېږديدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ساعتونو زنګونه ووهل. کوتوزوف د هغه واک له کبله چې تصور یې کاوه لري یې، د خپلې تجربې او پوهې له مخې چې د خلکو په پېژندنه کې یې لاره، بیا یې هم د بېنیګسینن هغه یاد دښت ته پام وکړ چې په هغه کې یې له ټولواک سره د مخامخ اړیکو څرګندونه او ښودنه یې کوله چې دغه اړیکی له یوه ارمانه پرته بل ارمان نه لري او هغه دا چې ټول جنرالان په یوه خوله وایي او د ټولواک هیله هم داده چې دغه ارمان ترسره شي، خو د قزاقانو خبر د هغه مخه ونه نیول شوای، دی دې ته اړوت د هغو عملیاتو قومانده ورکړي چې په خپله یې بې ګټې او زیان رسوونکي ګڼل او دی له یوې پېښې شوې پېښې سره مخامخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴

کوتوزوف ته د یرغل په اړه د بینیګسینن له خوا د یادښت لیږل او د فرانسویانو د پوځ د کیڼ اړخ د نه ساتنې په اړه د قزاقانو خبرتیا، د یرغل لپاره یوازنۍ وروستۍ نښې وې. د یرغل لپاره د اکتوبر پنځه نیټه وټاکل شوه.

د اکتوبر په څلورمه کوتوزوف د یرغل د پیل د قوماندې امر لاسلیک کړ. جنرال تول، هغه ایرمولوف ته ولوست او له هغه نه یې هیله وکړه چې د هغه په اړه نور یې دوړتیا وړ چارې تر سره کړي.

ایرمولوف وویل:

- ښه ده، ښه ده! زه اوس وخت نه لرم او له کوټې نه ووت.

د عملیاتو هغه کړنلاره چې جنرال تول، جوړه کړې وه، ډېره ښه وه، د هماغې کړنلارې په شان ښه وه چې د استرلیځ د جګړې لپاره لیکل شوې وه، خو توپیر یې دا وچې دا په الماني لیکل شوې نه وه.

لومړۍ شمېره پوځ خوځېږي، دا پلو او هغه پلو. دویم پوځ، خوځېږي، هغې خواته او هغې خواته. ټول د کاغذ پرمخ ټاکل کېږي. پوځونه، د هغو لپاره ټاکل شویو ځایونو ته رسېږي او دښمن نابودوي. هرڅه د نورو ټولو کړنلارو او تګلارو په شان خورا پرځای او غوره و. یو پوځ هم په خپل وخت خپل ځای ته ونه رسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې کړنلاره او ټوله تګلاره چمتو شوه او ایرمولوف ته ورولېږل شول چې پانې یې د سرته رسولو لپاره هغه ته وسپاري. د کوتوزف دګارد د سپرو پوځیانو نه افسر چې ده ته په سپاذل شوې دندې ډېر ویاړیده، د ایرمولف کورته راغی.

د ایرمولوف چوپړ هغه ته وویل:

-هغه لاړ، په کورکې نه شته.

دګارډ افسر د هغه جنرال کور خواته وخوځېد چې ایرمولوف زیاتره وخت د هغه دیدن ته ورته، خو نه جنرال هلته و او نه ایرمولوف.

د سواره پوځ ځوان افسر پر آس سپور شو او یو بل جنرال ته ورغی او وې پوښتل:

-نه، نه شته، هغه لاړ.

ځوان سواره افسر په زړه کې وویل:

- اوس ددې ټولو ملامتي او دخبر د ناوخته رسولو پړه پر ما را اچول کېږي.

هغه ټوله قطعه ایرمولوف پسې ولټوله، که چا به ویل چې ایرمولوف یې ولید چې له نورو جنرالانو سره کوم چېرې روان و او چا به په ډاډ ویل چې هغه بیا په خپل کورکې دی. هغه افسر چې لا غرمنۍ نه وه کړې، د ماښام تر شپږو بجو یې وخت په لټونه، پلټنه تیر کړ. ایرمولوف هیڅ ځای پیدا نه شو او هېڅوک نه پوهېده چې هغه چېرې دی. افسر په تلوار له خپل انډیوال سره یوه مړۍ ډوډۍ وخوړله او د مخکښو قواوو د ستري قوماندانۍ پلو، میلارادویچ ته ورغی، خو میلارادویچ هم په خپل کورکې نه و. هلته یې ورته وویل چې جنرال میلارادویچ د جنرال کیکین کورته، د نڅا جوړ شوي بنډار ته ورغلی دی او کېدای شي ایرمولوف هم همالته ورغلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه دا بنډار چېرې دی ؟
قزاقي افسر وویل:
- په اچکین کې. هلته، او دلاس په اشاره یې نېږدې یو کور وروښود.
- دا څنګه کېدای شي، هغه خو د جبهې لومړۍ کرښې ته نېږدې ده.
- د هغې د ساتنې لپاره یې دده غونډ ورلېږلی دی. نن شپه هلته داسې مستي او عیش او نوش دی چې خدای خپله ښه پوهېږي څه به وښي. د موسیقۍ دوه ډلې او درې سندرغاړي هم راغلي دي.
افسر د لومړۍ کرښې نه آپلو د اچکین سیمې ته ورغی. کله چې د کور پلو ورنېږدې کېده، له لرې نه یې د موسیقۍ او سندرو زړه راښکونکې انګازې واورولې، هغوی د سرتیرو نڅایزه سندره بلله:
- د شنیلو، د شنیلو په څړځایو کې، د شنیلو په څړ ځایو کې...
د سندرغاړو آوازونو او د نغمو انګازې چې کله ناکله به د شراو شور په منځ کې ورکېدل، اورېدل کېدل. د غو نغمو د افسر په زړه کې دخوښۍ او مستۍ څپې راوېښې کړې، خو بیا هم هغه وحشت او ګېښې پسې اخېستی و. هغه ځکه ورخطا او ناآرامه و چې ده ته سپارل شوی پیغام، ده په وخت نه و رسولی. نور نو د شپې نهې بجې وې. له آسه راکوز شو او د ارباب لا جوړې پاتې شوې ودانۍ مخکنیو زینو ته چې د روسي او فرانسوي کرښو تر منځ د جګړې په لومړۍ کرښې کې پرته وه، وروخوت. د انتظار په کوټه او د کور په ساقیخانې کې، چوپړانو د شرابو له جامو، خمونو او له مزناکو ډوډیو سره په تګ راتګ کې وو. سندرغاړي، کړکۍ ته نېږدې ولاړ وو. ځوان افسر د دروازې پلو ته بدرګه شو او هغه ناڅاپه د پوځ مشران او ټول جنرالان چې جګ ونی لوړ ایرمولوف هم د هغو په منځ کې وو، ولیدل. د ټولو جنرالانو تنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګریوانونه پرانستي ، څېرې یې تکې سرې او لـه خوښۍ نه غوړېدلې وې. ټولو په کړس کړس خندل او راټول شوي ولاړ وو. د صالون په منځ کې یو لنډ ونی او زړه راښکونکی ښکلی جنرال چې تکه سره څېره یې لرله، په خورا چټکۍ او مستۍ د پښو دټکولو نڅا کوله او غږونه اوریدل کېدل:

- ډېر ښه !واه، واه، نیکولای ایوانوویچ !افرین !آفرین !

ځوان افسر داسې وانګېرله چې له دغه شان پیغام او داسې ناوخته رارسېدلو سره یې، دوه ګونې ګناه کړې ده. هغه غوښتل ځوشېبې صبر وکړي، خو له جنرالانو نه، یوه تن هغه ولید او پوه شو چې د کوم کار لپاره راغلی دی. هغه له ایرمولوف نه پوښتنه وکړه چې دا سړی دڅه لپاره راغلی دی ؟ایرمولوف تندی تریو کړ، افسر ته ورنږدې شو، له هغه سره دباندې ووتل او دځوان افسر پیام یې واورید. لیک یې له هغه نه واخېست او هېڅ یې ونه ویل:

هغه شپه د لویې قوماندانۍ د سپورو پوځونو یوه افسر، دایرلوف په هکله وویل:

- تاته ټوکې ښکاري، ته څه فکر کوې چې هغه ناڅاپي دلته راغلی دی ؟

دا ټولې خبرې اټکلي شوي دي، سبا به یې کوري چې په کونوفینځین کې څه تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

بله ورځ سهار د وخته ستړی ستومانه کوتوزف، دوخته راپاڅېد، سهارنۍ لمانځنه او دعا يې وکړه، جامې يې واغوستې او له دې کبله يې طبيعت خپه و چې دی بايد د هغې جګړې قوماندانه وکړي چې دی يې نه غواړي. هغه په ګاډۍ کې سپور شو او د تاروتينو نه پنځه ورسته لرې د ليتاشيفسکي له سيمې نه، هغه پلو ته چې بايد يرغل کوونکي قطعات هلته راټول شوي وای، وخوځېد.

کوتوزوف د لارې په اوږدو کې ويده کېده او راويښېده، بيا يې دې ته غوږ نيو چې ايا د ښي خوا د ډزو غږ راځي او کنه؟ جګړه پيل شوې او که څنګه؟ خو لا تر اوسه پورې هرې خوا ته چوپه چوپتيا خوره وه. سپېدې په چاودېدو او د مني توده خو وريځنۍ ورځ پېلېدونکې وه. کوتوزوف د تاروتينو سيمې ته په نږدې کېدو و چې د لارې آپلو کې يې څو تنو سپورو ته پام شو چې آسونه ګډ ر ته د اوبو ورکولو لپاره بيايي. کوتوزف هغو ته وکتل، د ګاډۍ د درېدو غږ يې وکړ او له هغوی نه يې وپوښتل چې د کوم غونډ دي؟ هغو سپورو د خپلې قطعې نوم واخېست او ويل چې دوی بايد اوس له دې ځايه ډېر لرې، چېرته وړاندې په ښارځای کې وای. بوډا قوماندان له ځانسره وويل چې کومه تېروتنه شوې ده.

کوتوزوف د پلي غونډ پوځيان وليدل چې توپک يې کرار پر ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتار اېښی او سرتيري په ولسي جامو کې نغريو ته ناست دي. ډوډۍ او شولې پخوي او ځېنې هم لرګي او خس راټولوي. قوماندان له ګاډۍ نه راکوز شو، سرېې ښکته واچاوه، ژوره ژوره سا يې وويسته او پرته له هغه چې څه وواييي، سترګه په لاره وړاندې او وروسته خوځېده. کله چې دسترې قوماندانۍ راغوښتل شوی افسر اېياخين، راښکاره شو، کوتوزوف له ډېره قهره تک شين اوښتی و، خو دده دا قهر له دې کبله نه چې دغه افسر په کومه تېروتنه تورن وي بلکې له دې کبله و چې ده داسې څوک پیدا کړی و چې دده دقهر ارزښت یې لاره. بوډا له قهره رېږېدېده. سا يې بنده بنده کېده. هغه د هغه ليونتوپه حالت ته رسېدلی و چې کله ناکله به له غضبه په ځمکه لګېده. هغه پر اېياخين ورودانګل، لاس يې د ګواښ په نښه پر هغه پورته کړ، پر هغه يې چغې وروهلې او په ښکنځلو يې ښکانځه. په دې وخت کې بل راستون شوی افسر، بروزين هم له دې وهلو او ښکنځلو بې برخې پاتې نه شو:

- دا لا پسې کوم دوکه مار دی؟ دا سپک ولې!.

هغه په ډډ آواز چغې وهلې، لاسونه يې ارتېږل او شړل شړل رېږدېده. له ډېره قهر او غضب يې ځان خوړېده. هغه ستر قوماندان، والاحضرت، هغه څوک چې ټول په دې ډاډه و چې په روسيه کې هېڅ چا هېڅکله د هغه په کچه واک نه درلود، اوس په داسې يو حالت کې راګير شوی و چې د ټول پوځ تر مخې دخندا وړ ګرځېدلی و. له هغه ځانسره ويل:

-هسې مې له سهاره دعا کوله، هسې مې ټوله شپه په شوګيرو تيره کړه.

هغه له ځانسره دا فکر کاوه:

-آن چې کمکی افسر هم وم، چا زړه نه شو کولای چې داسې راپورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخاندي، خو اوس ؟

د هغه ځان داسې خوږېده چې تا به ویل چا ښه وهلی وی، نوځکه یې نه شو کولای چغې و نه وهي او خپل زړه له غضب او خواشینۍ تش نه کړی، خو ډېر ژر سترې او ستومانه شو، دا خوا، هغه خوا یې وکتل او داسې یې احساس کړه چې ډېرې ښکنځلې او اپلتې یې ویلي دي. ګاډۍ ته وروخوت او پټه خوله وخوځېد.

تللی غضب او خواشینی بېرته نه راستنېده. کوتوزوف په سترپا او ستومانۍ کې په سختۍ سترګې ورپولې او دا یرمو لوف چې پرون راهیسې ده ته نه و ورغلی، دبینیګسینین، کونوفینځین او تول هغو خبرو ته غوږ شو چې دوی په هغه ورځ د برېد د نه پیل نه، د ځان ددفاع لپاره کولې، هغوی هڅه کوله وو ایي چې برېد باید بله ورځ پیل شوی وای.

او کوتوزف دې ته اړوت چې بیا د هغوی خبرې ورسره ومنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

هغه پوځونه چې له مانښامه په تیاکلو ځایو کې راټول شوي وو، بله ورځ، د شپې په راخوریدو وخوځېدل. د مني شپه وه. تورو شنو پخونو وریځو آسمان پوښلی و، خو باران نه ورید. ځکمه لمده وه، خو ختې نه وې. پوځونه بې شر او شوره روان وو، خو یوازې کله ناکله به د توپونو د وسپنو غړونه اوریدل کېدل. په لوړې غږیدا د پیپ پر څښولو او داور په لګولو بندیز لګول شوی و او هڅه کېده چې آسونه شنهاري ته پرینښودل شي. د دغو چارو پټول، د هغه په زړه پورې والي لا زیاتوه. ټول خوشاله روان وو. څو پوځي ډلې ودریدې، وسلې یې کېښودې او پر ځمکه یې کتار کړې. خپله پوځیان پر لمدې ځمکې پریوتل، ځکه هغو فکر کاوه هلته رسېدلي چې باید رسېدلي وای. ځینو (زیاتره هغو) ټوله شپه په تګ تیره کړه. داسې برېښېده هغه ځای ته چې باید رسېدلي وای نه دي رسېدلي.

ګراف ارلوف او دینیسوف له خپلو قزاقانو سره (تر ټولو نه مخکې کمکۍ ډله) یوازینۍ ډله وه چې پر خپل وخت هغه ځای ته رسېدلې وه چې باید رسېدلې وای. دغه ډله دیوه ځنګله په وروستې څنډه کې د دیمتروفسکي ښار ګوټې د سرومیلوفي کلی ته د تلونکې نرۍ لارې تر څنګ میشته شوه..

ګراف ارلوف چې د سپېدو ترچاودیدو نه مخکې، تازه سترګې پټې کړې وې، له خوبه راویښ کړای شو. د فرانسوي پوځ نه یو را تښتېدلی یې ورته راوست. دغه تن د پونیاتوفسکي د پوځ نه، یو پولندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېدګی و. دغه پولندي برېدګي ویل چې له فرانسوي پوځه يې د تېښتې علت، هغه ظلم و چې پر ده کېده. هغه ویل چې دی باید لا د وخته افسر شوی وای، خو دی افسر شوی نه دی، مګر دا چې دی ډېر زوړر دی له همدې امله يې خپله قطعه پرېښې ده. ده ویل چې له هغو نه دغچ اخېستو تکل لري. هغه خبر راوړی و چې مېورات له دې ځایه وړاندې یو ورست، شپه کوي. ده غوښتنه کوله که ده ته سل سواره ورکړل شي، هغه به ژوندی راولي. ګراف ارلوف-دینیسوف له خپلو ملګرو سره مشوره وکړه. دا وړاندیز خورا په زړه پورې او پر هغه سترګې پټول ګران و. ټول چمتو شول او ټولو ویل د پولندي برېدګی خبره دې ومنل شي. تر ډېرو خبرو اترو او څېړنو نه وروسته تورنجنرال ګریکوف ومنله چې له دوو قزاقي غونډو سره مل له دغه پولندي سره لاړ شي.

ګراف ارلوف-ینیسوف برېدګی آزاد کړ او ورته وې ویل:

- ګوره په یادلره که دې دروغ ویلي و، داسې به دې ځوړند کړم، لکه سپی او که دې رښتیا وویل، سلې زرینې سکې به درکړم.

برېدګي چې خورا غوره بڼه غوره کړې وه او تندی يې تریو کړی و، بې له هغه چې ځواب ورکړي، پر آس سپور شو او ګریکوف پسې چې په چټکۍ خوځېدلی و، روان او په ځنګله کې پناه شول.

ګراف ارلوف د سهار له سړې وږمې نه چې نوې پې رالوتې وه، ځان کېښکود او له دې کبله چې په خپل مټ يې دغه شان یوه چاره پیل کړې وه، ګبڼې اخېستی و. د ګریکوف تر بدرګې وروسته له ځنګله نه راووت او دنوی راختونکي لمر تر شغلو لاندې د دښمن د پوځ په ننداره شو. د هغو د نغریو داور په مړه کېدو و. زموږ پوځونه باید د ګراف ارلوف-دینیسوف ښي اړخ ته د غونډۍ په لمنو کې راڅرګند شوی وای. هغې خواته يې وکتل، سره له هغه چې هغوی باید له لرې لیدلای شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای، خو د دغو پوځونو کومه نښه نه لیدل کېده. د فرانسویانو په خواکې، هغه شان چې دوی ته بربښېده د دښمن د پوځ اړخ کې یو ډول خوښي او خوځون لیدل کېده. په تیره بیا د هغه یاور چې خورا ځیر او تند نظر درلود، هم دغه خبره منله. ګراف ارلوف چې دغه پوځ ته سترګې ګنډلې وې، وویل:

-په رښتیا هم ناوخته شوې ده.

هماغه شان چې ډېر وخت داسې پېښېږي، هغه څوک چې موږ باور پرې کړی، نور له موږه پناه شوی او موږ له خپل باور او اعتماد نه پښېمانه شوي یو. ګراف ارلوف ته هم ناڅاپه دا څرګنده شوه چې هغه بربدګی دوکه مار و او دوی یې دوکه کړي دي. د دوی دبربد کار یې برباد کړی دی. دا څنګه کېدای شي چې څوک ستر قوماندان تیرباسي او د دومره پرګنو له مینځه سرتیري بوزي.

ګراف وویل:

- رښتیا هم دې دوکه مار دروغ ویلي دي.

دګراف له چوپړانو نه یو تن چې د ګراف په شان د دښمن په لیدو ، په دغه کار بدګمانه شوی و ، وویل:

- امر کوئ چې راستانه شي ؟

- هو ! رښتیا ؟ تاسو څه فکر کوي ؟ که یې په خپل حال پرېږدو ؟ او کنه ؟

- امر وکړه چې راستانه شي.

ګراف ارلوف، خپل ساعت ته وکتل او ناڅاپه یې په غوڅه وویل:

- راستانه دې شي، راستانه دې شي. ناوخته به وي، بالکل رڼا شوې ده.

او چوپړ د ګریکوف پسې ځنګله ته ور ودانګل. کله چې ګریکوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرتـه راسـتون شـو ، ګـراف ارلـوف ددغـې بـې پـايلې ازمـوينې ، پليـو پوځونو ته دانتظار نه چې لا راغلي نه و او هم ددښمن له رانېږدې کېدو نـه ( د هغـه ټـولي پوځيـان هـم دده پـه شـان وو )ګڼـي. پسـې اخېسـت، پريکړه وکړه بريد پيل کړي. په زګيروي ډوله آواز يې قومانده ورکړه:

-سپاره شئ

پوځيان يې منظم شول او پر ځان يې صليبونه وويستل.

-خدای مومل شه !

په ځنګله کې يې د هورا غږ آوازې جوړې کړې. او سل سل تنه ، تا بـه ويل چې له کوم جواله راتوېږي. او قزاقان يو په بل پسې لکه ازاد شـوي مرغـان ، والوتـل ، نيزې پـه لاس لـه سينده واوښـتل او پـر دښـمن يـې وروړانګل.

لومړي فرانسوي چې دقزاقـانو بريـد وليـد ، لـه ډاره يـې د وحشت او ناهيلي. داسې چغه پورته کړه چې د هغوی ټول پوځيان چې هلتـه وو ، آن دريشي. هم نا اغوستې ، ټولو همداسې پـه ډار ټـول توپـک ، توپونـه او آسونه پرېښودل او هر چا چې هر ې خواته کولای شول ، وتيښتېدل.

که هغو قزاقيانو چې فرانسويان يې پسې اخېستي وو ، خپـل شـا او خوا شيانو ته پاملرنه نه وای کړې، هغوی به هم ميرات او هم هغه پـورې نور ټول اړوند کسـان او شـيان لانـدې کـړي وای. قومانـدان هـم همدغـه غوښتل. پـه تښـتېدونکو پسـې د هغـو منډه او لمسـون آسـانه کـار نـه و. هېڅ چا د قوماندان قومانده نـه اوريـده. همالتـه يـو زره پنځـه سـوه نيـول شـوي اسـيران، اتـه ديـرش توپونـه ، بيرغونـه او تـر ټولـو نـه دقزاقـانو دخوښي. څه، آسونه، شېړې، څادر اوځېنې نـور شيان برمتـه شـوي وو. بايد ددې ټولو غم وخوړ شي. پـر اسيرانو او توپونـو واک ټينـګ شـي، غنايم وويشي، چېغې ووهي، آن نانډري. يې سره جوړې کـړي او قزاقـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ټولو اخته شول.

فرانسویان چې پوه شول چې نور نو دوی پسې څوک نه شته، لږ زړور شول او کرښې یې بېرته لږ سره منظمې شوې پوځي فرانسوي ډلو، بیا په ډزو پیل وکړ. ګراف ارلوف چې لا همدا اسې پیاوړو قوتونو ته سترګه په لارې و، هم نور و نه شو کولای فرانسویان پسې واخلي.

په دې وخت کې لومړی پوځی ډله، د کړنلارې له مخې خوځېږي. او نورې هم همدا اسې د بېنیګسینین تر مشرۍ لاندې او د ټولو په لارښوونه، که څه هم ناوخته کړې وه هم خوځېدلي او یو چیرې ته رسېدلې وې، خو نه هغه ځای ته چې ورته ټاکل شوې و، بلکې د تل په شان خوځېدلی لارې ته وتلی کسان لومړی خوشاله او لېواله وو، خو یو وخت دریږي. ددوی په منځ کې د نارضایتۍ ګونګوسی اورېدل کېږي، خو په پای کې په خپله تیروتنه پوه شول او بېرته ستانه شول.

یاورانو او جنرالانو هره خوا منډې وهلې، شر او شور یې کاوه، چغې یې وهلې، خپل مینځ کې یې شخړې او ننداری کولې، ګوت نیوکې وې او ویل یې چې دا لاره چور، هغه لاره نه ده چې دوی غوره کړې ده، دوی ناوخته کړې ده، یو څوک یې سره ملامتاوه، ښکنځل یې سره کول، خو په پای کې ټولو لاسونه پورته کړل او وخوځېدل چې کوم ځای ته رسېږي:

- آخر به یو چېرته ورسېږو ! په رښتیا یو چېرته ورسېدل، خو هلته چې باید رسېدلي وای، یو شمېر هلته رسېدل، خو ډېره ناوخته شوې وه او له لاسه یې څه نه کېدل او خپله دد ښمن د ډزو ښه شول.. باګورت، عمر خوړلی، نومیالی، باتور او آرام جنرال هم له ډېرو تیروتنو، دریدا او خوځېدو او له ضد او نقیض سپارښتنو نه په تنګ او سخت په قهر شو او د خپل طبیعت او عادت برخلاف یې ټولو ته داسې ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړې چې ټول يې حيران کړل:

- زه نه غواړم چې ماته څوک د جګړې روزنه راکړې، زه تر نورو ښه کولې شم چې له خپلو سرتيرو سره يو ځای سر ښندنه وکړم، مخکې لاړ شم او مړ شم.

هغه تر دې خبرو وروسته پاڅېد او وړاندې لاړ. زړور او هيجان اخيستې باکووت، پرته له هغه چې فکر وکړي چې وړاندې او دفرانسويان تر ډزو لاندې تګ يې ګټه لري او که تاوان. مخامخ د جګړې ډګر ته شو او خپلو سرتيرو ته يې هم د دښمن د ډزو د باران لاندې، د وړاندې تګ قومانده ورکړه.

ګوابښ، ډزې او مرمۍ، هغه څه وو چې ده اوس غوښتل او د هغه باغي قهر د هغه لېواله و. د دښمن له مرميو نه يوې لومړۍ هغې دی وواژه. او تر لومړنۍ مرمۍ نه وروسته نورو مرميو نور سرتيري ووژل، د هغه پوځ تر يو مودې هسې د دښمن تر دغه مرګني اور لاندې پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

په دې لړ کې باید نورو روسي پوځونو هم پر فرانسویانو برید کړی وای. کوتوزوف هم دهمدې پوځونو په مینځ کې و. هغه په دې ښه پوهېده چې دده له خوښې برخلاف پیل شوې جګړې نه به ، له پښېمانۍ پرته ، بله ګټه تر لاسه نه شي. له دې کبله یې د خپل توان په اندازه ، د پوځ د پرمختګ مخه نیوله او خپله هم هومره وړاندې نه خوځېده.

کوتوزوف، پټه خوله پر خپل خړ آس سپور و او د برید په اړه یې په خورا زړه تنګۍ او ځنډ ، پوښتنو ته ځوابونه ویل.

هغه میلارادویچ ته چې غوښتل یې وړاندې ودانګي، وویل:

- تاسو ته له برېده پرته ، بل څه خیال نه درځي، خو تاسو وینئ چې موږ نه شو کولای کړکیچن خوځون وکړو.

یو بل تن ته یې ځواب ورکړ:

- سهار یې ونه شو کولای میورات ژوندی اسیر کړي. ټاکل شوې ده ، ځای ته په خپل ټاکلی شوی وخت ورسېږي، اوس نو هېڅ کېدای نه شي... هغه وویل:

- ټول غواړي چې یرغل پیل شي، له بېلابېلو لارو ، دوی وړاندیزونه کوي، خو کله چې برید پیل شي، هېڅ شي به چمتو نه وي، دښمن له هرڅه نه خبر او د خپل وړتیا وړ اټکلونه کوي.

ایرمولوف، ددې خبرې په اورېدو ، خپل بانه سره وروستل، نرۍ موسکا یې پرشونډو خوره شوه، هغه په دې پوه شو چې پر ده راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوابښ تیر شوی او کوتوزوف هم پر ده، په همدومره ملنډو قناعت کوي.

ایرمولوف، ترڅنګ ولاړ رایوفسکی په ځنګانه وواهه او په کراره یې وویل:

-ددې ټولو ملنډو موخه زه یم.

تر دې ټولو خبرو نه وروسته، ایرمولوف وړاندې لاړ او په خورا درناوي یې کوتوزوف ته وویل:

- والاحضرت! لا ناوخته شوې نه ده، دښمن لا لرې شوی نه دی، ښه به دا وی چې د اور قومانده ورکړې، کنه پوځ ته به د باروتو بوی تر سپږمو هم نه شي.

کوتوزوف، هېڅ ونه ویل، خو کله چې یې هغه ته خبر ورکړ چې د میورات پوځونه شاته درومي، د اوربل امر یې ورکړ، خو هر سل ګامه وروسته یې د لس پنځلس دقیقو د دریدو امر کاوه.

ټوله جګړه، په هغو کړو کې تمامېده چې د ارلوف-دینیسوف قزاقانو کړې وو. دنورو قطعاتو د کړو پایله دا شوه چې هسې له ځوسوو تنه سرتیرو نه بې برخې شول.

تر دغې جګړې وروسته، کوتوزوف دالماسو نښان وګاټه، بینیګسین هم څو الماسونه او سل زره روبله، نورو هم د خپلو رتبو په اندول خورا ښې ډالۍ اورتبې تر لاسه کړې او بیا د پوځ په قوماندانۍ کې نوې ټاکنې او بدلونونه وشول.

دتاروتینو تر جګړې وروسته، روسي افسرانو او جنرالانو ویل:

- ګورئ! موږ روسان تل ټولې چارې سرچپه کوو، اوس هم کټ مټ همداسې سره وایي او موخه یې داده چې کوم احمق دا کارونه سرچپه کړي دي او که دموږ په زړه وای دا به داسې نه وای. خو هغه کسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز خبرې کوي، یا خو له کاره خبر نه دي او یا په لوی لاس دځان دغولولو لپاره داخبرې کوي. ټولې جګړې: تاروتینسکایا، برادیسکایا، اوستیرلیشکایا، یوه هم هغه شان چې اټکل شوې وې، ونه شوې او اصلي خبره هم همدا ده.

ډېر خپلواک قوتونه، بل هېڅ ځای دومره خپلواک نه وي، لکه د جګړې په ډګر کې چې خپلواک وي، ځکه دجګړې په ډګر کې، هر څه د مرګ او ژوند په اړه وي. هر څه دجګړې په بهېر اغیز کوي او هېڅکله ددغه بهېر اغیز اټکل کېدای نه شي او هېڅکله هم نه شي کولای د کوم بهېر او قوت همګامه واوسي...

که تاریخ لیکونکي، په تیره بیا فرانسوي هغوی لیکي چې جګړې او نښتې د مخکنیو ټاکل شویو کړنلارو او تګلارو پربنسټ ترسره شوي دي، یوازینۍ پایله یې چې ددوی له دغو خیالاتو اخستې شو هغه داده چې د هغوی لیکنې ناسمې دي.

تاروتینسکایا جګړې، هغه هدف تر لاسه نه کړ چې ښاغلی تول، ورته ټاکلی و یعنې هغه شان چې دجګړې په کړنلاره کې یې اټکل شوی و، نه قطعات جبهو کې ځای پر ځای شول او نه یې هغه پایله ترلاسه کړه چې ګراف ارلوف غوښته. ګراف ارلوف غوښتل چې میورات اسیر کړي او نه هغه ارمانونه تر سره شول چې بینیګسین او نورو د ځان لپاره ټاکلي وو. نه هغه ارمانونه چا ولیدل چې په یو وار د دښمن د ټول پوځ نابودي غوښتل کېده. او نه د هغه افسر ارمان ترسره شو چې په جګړه کې یې د ګډون ارمان درلود، د سرښندنې تکل یې کړی و او نه د هغه قزاق دا ارمان و خوت چې په جګړه کې به یې ډېر غنایم په نصیب شي. او داسې نور او نور ارمانونه.. خو که د جګړې اصلي موخه، هغه وه چې په رښتیا ترسره شوه، هغه په هغه وخت کې د ټول روسي ملت هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه او هغه دا وه چې(له روسيې نه د فرانسويانو ويستل او د هغو د پوځ تالا والا کول و )په دې توګه دا ثرګنده وه چې د کرنلارې له مخې د تاروتينسکايا دجګړې نه کېدل، د جګړې د هغه وخت په بهېر کې، هغه څه و چې اړتيا ورته ليدل کېده. له دغې جګړې نه تر دې نه د غوره پايلې هيله کول، نه يوازې ګرانه بلکې ناشونې خبره وه. له خورا اله ګولې سره سره، په کمو هلو ځلو او لږې مرګ ژوبلې د ټولې جګړې نه تر ټولو غوره ګټه تر لاسه شوه. د روسي پوځ د شاتګ، پر ځای يرغل پيل کړ. د فرانسوي پوځ کمزورتيا ښکاره او هغه ټکان ورکړ شو چې د ناپليون پوځ يې تېښتې ته اړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

ناپليون، د (لا مسکوا ) په نامه د نه هېريدونکې ګټندويې جګړې نه وروسته پر مسکو ولکه ټينګوي، هېڅ څوک ددې برې په ګټلو کې ځکه شک نه لري چې د جګړې ډګر د فرانسويانو تر واک لاندې پاتېږي. روسان شاته د رومې او پلازمېنه د ښمن ته پرېږدي. مسکو د خوړو کالو له بې سارو زيرمو او بې شمېرو وسلو او مهماتو سره د ناپليون په منګلو کې دی. روسي پوځ چې دوه برابره تر فرانسوي هغه ضعيفه دی، ديوې مياشتې په اوږدو کې پر دښمن يو وار هم د کوم برېد هڅه نه کوي.

د ناپليون حالت خورا غوره او پرتمين دی. ددې لپاره چې په لا دوه برابره قوت د روسي پوځ پر پاتې شويو ډلو برېد او هغه ټوټه کړي. ددې لپاره چې د ځان په ګټه سوله ټينګه کړي او يا ددې لپا ره چې د سولې نه د روسانو د انکار په وخت کې به وخت کې، پر پترزبورګ د ګوا ښمن برېد خبرې وشي او آن ددې لپاره که د ناڅاپي ماتې په وخت کې بېرته سمولينسک او يا ويلنا ، سيمو ته شا تګ وشي، په مسکو کې پاتې شي او ددې لپاره که په لنډه توګه وويل شي چې د اسې ښکاريده چې د هغه غوره او ګټوونکي حالت د ساتنې لپاره چې په هغه وخت کې فرانسوي پوځ درلوده، کوم نبوغ ته اړتيا نه وه. ددې چارې د سرته رسولو لپاره، ديوې ساده چارې سرته رسول په کار و:

- پر ښښودل شي چې پوځ د خلکو شتمني تالان کړي، ټول پوځ ته ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنيي جامې چمتو شي ( د هغه د ټولو هغو وګړو لپاره چې په مسکو کې وو )د شپږو مياشتو لپاره د اړتيا وړ خواړه( د فرانسوي تاريخ ليکونکو په وينا ) ، خو ناپليون ، دا دنابغو ، نابغه، لکه هغه شان چې پر خپل پوځ ښه واکمن و ، ښه قومانده يې هم کوله، د مورخينو په وينا له دغو کارونو ، يو کار هم ونه کړ.

هغه نه يوازې په دغو کارو کې يو کار هم ونه کړ بلکې خپل ټول واک يې ددې لپاره کاروه چې دده مخې ته د ټولو پرتو لارو چارو له منځه ، تر ټولو احمقانه او وژونکې هغه غوره کړي. له ټولو هغو چارو نه چې ناپليون کولای شول، يعنی ژمی په مسکو کې تير کړي، يا پترزبورګ ته لاړ شي، يانيژني ګورد ته وخوځيږي، يا له هماغه لارونه چې وروسته کوتوزوف پرې لاړ شي، شمال يا سهيل ته لاړ شي ، يا داسې کوم بل څه وکړي ، ون کړل، خو هغه څه چې ده وکړه، تر هغه احمقانه څه نه و او هغه دا چې دی د اکتوبر تر مياشتې پورې په مسکو کې پاتې شي، سرتيري پرې ښودل چې په ښار تالان ګډ کړي او وروسته يې چې مسکو پرېښود ، زړه نا زړه و چې کومه قطعه او قوماندانې، هلته پرېږدي او کنه ؟

کوتوزوف، ته ورشي، خو پرته له هغه چې جګړه پيل کړي، په شا شو ، ښي خوا ته مخه کړي او کمکي ياروسلاو ، تر سيمې پورې لاړشي. بيا يې هغه تصادف چې پر دښمن د يرغل لپاره درلود ، ونه ازمايه ، پر هغه لار چې کوتوزوف، تللی و ، پرهغې لار لاړ شي که څنګه ؟ يا بېرته د موژايافسکی پر لاره چې د وورانو کنډوالو سيمو ته د سميلينسک لارې ته وتله، وخوځيږي

تر دې نه احمقانه څه چې د پوځ د تباهي سبب کېدل، بل فکر يې نه شو کولای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د جګړې خورا غوره تګلارو جوړونکو، د روسي پوځ له ونډې پرته د ناپليون د پوځ د تباهۍ او تالاکولو لپاره کومه تګلاره جوړه کړې وای، کومه لارښوونه يې کړې وای، د کومو عملياتو وړانديز يې کړی وای، دا سې به يې نه کړي لکه هغه څه چې خپله ناپليون وکړل او تر هر څه زيات يې د هغه پوځ ته تاواني کړ.

ناپليون په خپل نبوغ سره دا کار تر سره کړ، خو دا خبره چې ناپليون خپل پوځ ځکه تالا والا کړ چې غوښتل يې هغه تباه کړي، يا که وويل شي چې هغه هسې ساده دی. دا به په هماغه کچه ناسمه وی چې وواېو، هغه خپل پوځ ترمسکوه ځکه راوست چې خپله يې داسې غوښتل او دی خورا هوښيار او نابغه و.

په دواړو حالاتو کې، د هغه د خپل شخصيت اغيز چې د هغه د هر سرتيري تر شخصيت او ارادې نه، پياوړی نه و، يوازې دا اغيز لاره چې له هغو قوانينو سره يې اړخ لګاوه چې د پېښو د پېښېدو اټکل يې کولی شو.

د تاريخ پوهانو دا اند چې د ناپليون پوځ په مسکو کې خپله پياوړتيا له لاسه ورکړه( يوازې له دې کبله و چې د هغه د کړو د وروستيو پايلو اټکل يې ونه شو کړای)چور ناسمه ده. هغه تر ۱۸۱۳ کاله پخوا ، تر هغه وروسته خپلې ټولې پياوړتيا نه کار واخېست چې د خپل پوځ لپاره غورې لارې چارې ولټوي. په دې موده کې دده چارې، په مصر، ايتاليا، اتريش او پروس کې د هغه تر حيرانوونکي چارو نه کمې نه وې. موږ په پوره توګه په دې نه پوهېږو چې هغه هلته څه ښې چارې کړې دي، په مصر کې د هغه دسترو چارو ستاينې او خبرتياوې موږ ته د فرانسوي سرچينو له ويناوو را رسېدلې دي. موږ نه شو کولای په اتريش او پروس کې د هغه په نبوغ ځکه قضاوت وکړو چې د هغو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه معلومات موږ باید له فرانسوي او الماني سرچینو نه تر لاسه کړو. له جګړو او نښتو پرته ، ناپلیون ته د نه ایلیدونکو ماتیو او نه ماتېدونکو پوځونو تصور نه کېدونکې تسلیمي، المانیان د هغه د نبوغ منلو ته اړ کړي دي. ځکه دا یوازیني دلایل دي چې په جرمني کې د جګړې د پېښېدو لپاره ویل کېدل، خو د خدای شکر دی چې موږ داسې کومه مخ توري نه لرو چې د هغه د پټولو لپاره هغه نابغه وګڼو. موږ پېښو ته په رښتیا د حق ګڼلو لپاره لویه بیه ورکړې او نه غواړو دا حق له لاسه ورکړو.

د ناپلیون کړه او نبوغ په مسکو کې ، په نورو ځایو کې، د هغه د کړو په شان حیرانوونکي او له نبوغه ډک دي. مسکو ته د راننوتلو نه نیولې بیا تر وتلو پورې هغه پرله پسې فرمانونه ورکول او د جګړې کړنلارې یې جوړولې. په مسکو کې د اوسېدونکو او د هغو د استازو نشتوالي او آن د مسکو سوځېدلو ، هغه خواشینی نه کړ. هغه نه د خپل پوځ هوساینه، نه د دښمن هلې ځلې، نه د روس د ملت نیکمرغي ، نه د پاریس اداره او نه په راتلونکې کې د ټینګېدونکې سولې د ځانګړتیاو په اړه دیپلوماسي، یو هم له پامه لرې نه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

مسکو ته د رانتوتلو سره همهاله ، ناپلیون د جګړې په اړه جنرال سباسبستیان ته سپارښتنه کوي چې د روسي پوځونو خوځون تر سختې څارنې لاندې ونیسي. له مسکوه وتونکو بېلابېلو لارو ته پوځونه استوي او میورات ته فرمان ورکوي چې کوتوزوف پیدا کړي. بیا په ځیر او ښه پاملرنه په کرملین کې د لا ښه امنیت او پوځونو د غوره ځای پر ځای کېدو امرونه کوي او تر هغه وروسته، په ټوله روسیه کې د جګړې له نبوغه ډکه کړنلاره جوړوي.

په سیاسي برخه کې: ناپلیون، تورن یاکولیوف (د پېژندل شوي روس پوهان ـ ګرځن پلار ) چې کور یې تالان شوی او په دې نه پوهېږي چې څنګه ځان له مسکوه وباسي، ځانته ورغواړي او په هر اړخیزه توګه هغه ته خپل سیاست بیانوي. د خپل رحم او مهربانۍ په اړه ورته وايي او د روس ټولواک الکساندر ته لیک لیکي. په دې لیک کې ځان پوروړی ګڼي چې خپل دوست او ورور ټولواک الکساندر په دې خبر کړي چې راستوپچین، په مسکو کې خپلې دندې په خورا ناوړه او ناسمې سرته رسولې دي. هغه د غه لیک د یاکولیوف په لاس پترزبورګ ته لېږي. بیا په هر اړخیزه توګه د خپلو عقایدو او مهربانیو په اړه په توټولمین، ته هم غږېږي او هغه د جرګو مرکو لپاره پترزپورګ ته لېږي.

په حقوقي برخه کې یې سمدلاسه سپارښتنه وکړه، هغه کسان پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جزا ورکړ شي چې مسکو ته يې اورورته کړي دي او د ظالم راستوپچين ، د جزا په نامه يې سپارښتنه وکړه ، د هغه کور وسوځل شي.

د اداري چارو په برخه کې ، مسکو ته يو اساسي قانون جوړوي. د ښار د اداري لپاره يو تن ښاروال ټاکي او بيا يوه خبرتيا هم خپروي:

« د مسکو اوسېدونکو !

ستاسو بدمرغۍ او خوارۍ خورا درنې دي ، خو ټولواک واکمن هيله لري ، هغه پای ته ورسوي. تاسو به د هغو وحشتناکو کړو د ببلګو په اړه اوريدلي وي چې هغه جانيانو او باغيانو ته څنګه جزا ورکوي. بې پايه هڅه کېږي چې بې نظمي او بې امنيني پای ته ورسوي. هغه مشري چې ستاسو له منځه ټاکل شوې ده ، ښاري جرګه يې جوړه او په خورا خواخوږۍ به د ښاري چارو واک تر لاسه او کار پيل کړي. د غه جرګه ګۍ به ستاسو په چوپړ کې ، ستاسي اړتياوې به پوره ، د غه کسان به له نورو نه د تو پيريدو لپاره ، يوه سره پټاره په اوږو اچوي او ښاروال به د سرې پټارې ترخنګ يوه سپينه پټاره هم په اوږو اچوي ، خو په غيررسمي وخت کې به هغوی يوازې پرچپ لاس يوه سره پټاره تړي.

د ښار پوليسي اداره د پخوانيو اصولو له مخې جوړه او د دغو پوليسو له برکته په ښار کې امنيت او نظم ښه شوی دی. حکومت همدا اوس د ښار په ټولو سيمو کې د پوليسو دوه عمومي قوماندان او شل سيمه ايز قوماندانان ټاکلي دي. هغوی په کين لاس د سينې پټارې له مخې پېژندلی شئ.

د بېلابېلو عقايدو څو کليساوې پرانستل شوي ، په هغو کې لمانځنې رواني او هېڅوک د چا د مذهبي مراسمو خنډ کېدای نه شي. هره ورځ ستاسو يو شمېر ښاريان خپلو کورونو ته راستنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سپارښتنه شوې ده چې له هره یوه سره د هغې بد مرغۍ په کچه چې هغه ته ورپېښه شوې ده، مرسته او خواخوږي وشي.

دا هغه امکانات او چارې دي چې حکومت یې ستاسو په چوپړ کې کاروي چې بېرته ستاسو هوسايي تامين او قانون ټينګ شي، خو دغه ارمان ته د رسېدو لپاره، له حکومت سره ستاسو ملګرتيا ته اړتيا ليدله کېږي، څومره چې کولای شئ، هغه خوارۍ او زوريدنې هېرې کړې چې تاسو ليدلي او زغملي دي. راتلونکې روښانه ده، برخليک ته هيلمند اوسئ او په دې ډاډه اوسئ چې له حتمي او له شرمه ډک مرګ سره به هغه کسان مخامخېږي چې پر تاسو ظلم او تاسو ته پر پاتې شتمنيو تيري کوي. په دې کې شک مه لرئ چې ستاسو د شتمنيو ساتنه به کېږي. ځکه تر ټولو نه د سترو او عادلو پادشاهانو اراده، همدا غواړي.

سرتيرو او د مسکو اوسېدونکو، هرڅوک او هر قام چې یاستئ پر حکومت خپل باور بيا راپيدا او ټينګ کړئ، ځکه حکومت د نيکمرغيو سرچينه ده. په ورورګلوئ ژوند وکړئ، يوله بل سره ګډه مرسته او خواخوږي ولرئ .. سره يو شئ چې د ظالمانو د ظلم مخه ونيسئ .. که پوځي او دولتي چارواکو ته غاړه کېږدئ، ډېر ژر به مو اوښکې ودرېږي» .

****

د خوړو او کالو او نورو ورځېنو اړتيا په اړه ناپليون، سرتيرو ته سپارښتنه وکړه چې په وار سره مسکو ته لاړ شي او د تالان له لارې د پوځ اړتياوې پوره کړي. په دې توګه يې په دې برخه کې د پوځ د راتلونکې غم وخوړ. په مذهبي برخه کې ناپليون امر وکړ چې ټول کشيشان بېرته راوستل شي او په کليساوې کې لمانځنې بيا پيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوداګرۍ او د پوځ د اړتیا په اړه یې دغه لاندنۍ خبرتیا خپره کړه:

خبرتیا !

تاسو دمسکو اوسېدونکو !

استادانو او کارګرانو !

تاسو وروستیو بدمرغیو له ښاره لرې کړي یاستئ، تاسو ځمکوال بزګرو چې لا تر اوسه هم کوم نامعلوم ډار په دښتو کې ایسار کړي یاستئ، غوږشئ او واورئ:

آرامي دغې پلازمېنې ته راستنېږي او نظم په هغې کې ټینګ کېدونکی دی. ستاسو همښاریان چې هغوی ته کېدونکي درناوي کوي، له خپلو کورونو او ځارځایونه راوزي. د هغو او د هغو دشتمنیو په وړاندې هرډول تیرې، سمدلاسه جزاویني. معظم همایوني ټولواک پاچا د ټولو خواخوږي کوي او پرته له هغو کسانو نه چې د هغه له فرمانو نه غاړه غړوي، ستاسو نه یو تن هم خپل دښمن نه ګڼي. هغه غواړي چې ستاسو بدمرغۍ پای ته ورسوي او هیله لري چې تاسو خپلو کورونو او کورنیو ته راستانه کړي. د هغه دښه نیت ملګرتیا وکړئ. موږ ته راشئ، ځکه امنیت او آرامي دلته ده.

دمسکو اوسېدونکو په پوره ډاډ خپلو مېنو او کورونو ته راستانه شئ ! ډېر ژر به د خپلو اړتیاوو ، وړشیان پیدا کړئ. دکار زیار ایستونکو استادانو او کارګرانو ! خپلو فابریکو ته راوګرځئ، ساسو مینې، دوکانونه او ستاسو ساتونکي ، تاسو ته سترګې په لاره دي. راشئ کارونه مو پیل او د خپلو کارونو له برکته مو د ویاړ وړ ګټې، وګټئ. او تاسو اې بزګرو چې دجګړې له وحشته مو ځنګلونو ته پناه وړې ده، مه ډاربېږئ. خپلو جونګړو ته بېرته راستانه شئ او پوره ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوسئ چې له تاسو او ستاسو شتمنيو نه به دفاع وشي. د ښار بازارونو او انبارونه ستاسو لپار پرانستي دي او تاسو کولای شي، له خپلو اړتياوو نه زيات مالونه او فصلونه هلته خرڅ کړئ، حکومت دا لاندې چارې د دې لپاره ترسره کړئ چې ستاسو د آزادې راکړې ورکړې لاره آواره شي:

۱- تردې نېټې نه وروسته بزګر ، ځمکوال او د مسکو ښنډه او سېدونکي او کليوال کولای شي له هر ګوانښه پرته ، خپل هر ډول محصولات ، هر څه چې وي، ښار ته راوړي او په هغو دوو بازارونو کې خوايا او اخوتنيرياد ، کې يې خرڅ کړئ.

۲- د دوی محصولات دې د پېرېدونکو او پلورونکو له خوا په ټاکل شوې بيه واخستل شي، خو که پلورونکي هغه بيه چې غوښتونکي يې دي، تر لاسه نه کړي، اختيار لری چې هغه بېرته کلي ته يوسي او هېڅ څوک به په هېڅ پلمه د هغو د وړلو خنډ نه شي.

۳- د هرې اونۍ د يکشنبې او چهارشنبې په ورځو به د بازار لويې ورځې وې او د سه شنبې او شنبې په ورځو به په پوره شمېر پوځيان دلارو د ساتنې لپاره له دې کبله ګمارل کېږي چې له ډاړه مارانو نه ښار ته د مالونو د رسولو ساتنه وکړي.

۴- کليو او بانډو ته د ستنېدو په وخت کې به د لارو نه همداسې ساتنه وشي چې کليوال او بزګر له خپلو ګاډيو او کراچيو سره په آرامه زړه بېرته لاړ شي.

۵-د دودېزې او ورځنۍ سوداګرۍ د بيا پيل کېدو لپاره به سمدلاسي چارې او کارونه تر سره کېږي.

دښار او کليو اوسېدونکو ، د کار استادانو او کارګرانو !

تاسو د هرقام چې ياستئ، تاسي ته بلنه درکول کېږی چې د ټولواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپراتور د پلارنيو هيلو د سرته رسولو لپاره هڅه او د ټولنيزې آرامۍ لپاره له هغه سره مرسته وکړئ. خپل باور او ډاډ له هغه ځار کړئ او له هغه سره په يو ځای کېدو کې ځنډ مه کوئ».

د پوځيانو او ولسي خلکو د روحيې د لوړولو لپاره پرله پسې پريټونه جوړېدل، سوغاتونه او ډالۍ ويشل کېدې. ټولواک امپراتور به دښار په کوڅو کې ګرځېده، د ښار او سېدونکو ته به يې ډاډ ورکاوه او سره له هغه چې د دولتي ستونزو په اړه به په اندېښنو کې ډوب و، په خپله به يې د هغو تياترونو په نندارو کې ګډون کاوه چې دده په امر پرانستل شوي وو.

د عدالت او خواخوږۍ په برخه کې چې د پادشاهانو تر ټولو غوره ځانګړتيا ده، ناپليون هم چې هرڅه کولای شو، کول يې. هغه سپارښتنه وکړه چې د خيريه موسسو د دروازې پر تندی دې وليکي:

-زما د مور کور!

هغه په دې ډول غوښتل چې د ماشوم او مور سپېڅلې مينه او شاهانه پرتم سره يوځای کړي. هغه، هغو روزنتونونو ته لاړ او خپل سپين لاسونه يې هلته ميشتو يتيمانو ته ورواړاندې کړل چې هغوی يې ښکل کړي، په خورا مهربانۍ يې له توټولمين سره د زړه خواله وکړه، بيا لکه هغه شان چې تيير، په خواخوږۍ ژبه ويل، سپارښتنه وکړه، د خپلو سربازانو معاش له هغو روسي پيسو نه ورکړي چې دده په امر جعلي جوړې شوې وې. هغه په دې چارو سره د ځان او فرانسوي پوځ پرتم او وياړ زياتوه او له هغه سره يې همهاله له هغو کسانو سره مالي مرسته کوله چې کورونه يې په اورونو کې سوځېدلي وو، خو له دې کبله چې خواړه خورا ګران و او د هغو ويشل هم پر ديو ته چې ډېر کي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان هم وو، ګرانه وه، پریکړه وشوه چې هغوی ته کاغذي روبلونه وویشل چې وکولای شي هر څوک چې هر څه غواړي، هرځای، خپلې اړتیا پوره کړي.

د پوځ د نظم لپاره پر له پسې ددې لپاره فرمانونه ورکول کېدل چې له خدمته د سرغړونکو او د خلکو د شتمنۍ تالانګرو ته د سختې جزا غوښتنه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

خو د تعجب وړ دا وه چې دې ټولو چارو، اند ښنو او بې شمېره نقشو چې په خپل ډول کې ساری نه درلود، بنسټيزې جرې يې آوارې نه کړې بلکې د ساعت د ستنو په شان چې د ساعت له مينځ سره يې اړيکي شليدلې وې، يوازې د ساعت پر مخ چورليدې او د مينځ له څرخونو سره يې هېڅ اړوند نه درلود.

په پوځي برخه کې د جګړېز نبوغ کړنلاره، لکه هغه شان چې تيير، د هغه په اړه وايي:

« د هغه نبوغ هېڅکله ژور، د ستاينې او حيرانۍ وړ څه نه و رامنځ ته کړي».

او په نسبي توګه له ښاغلي فن سره يې په خبرو اترو کې هڅه کوله دا په ډاګه کړي چې د جګړې دغه له نبوغه ډکه کړنلاره، نه د اکتوبر په څلورمه بلکې د اکتوبر په پنځلسمه ترتيب شوې ده. دا کړنلاره نه هېڅکله تر سره شوه او نه يې د تر سره کېدو امکان و، ځکه هغه له ژونده خورا لرې وه. وروسته ښکاره شوه چې د کرملين د ماڼۍ دلا ټيګښت لپاره چې بايد جومات ( ناپليون د نيکمرغه واسيلی کليسا په همدې نامه يادوله ) ورانه شوی وای، يو هسې ناوړه چاره وه. له مسکوه د ناپليون د وتلو په وخت کې کرملين په مانيونو الوزول، د هغه پخوانۍ هيله ترسره کوله او د ماشومانو هغو لوبو ته پاتې کېده چې ترخپلې پښو لاندې ځمکه ځکه وهي چې پر دغې ځمکې دی لوېدلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټپي شوی دی. د روسي پوځ پسې اخېستل چې دده ټول خیال پر ځان اخته کړی و، عجیبه ښه غوره کړې وه. د فرانسوي پوځ قوماندانانو د روسي شپیته زریزه پوځ ورک کړی و. د تییر په وینا، یوازې د میورات هنر او نبوغ و چې د روسیې دغه شپیته زریزه پوځ لکه ستن په درمنده کې پیدا کړي.

په دیپلماتي برخه کې، ټول هغه دلایل چې ناپلیون د توټولمین او یاکولوف لپاره ویلي وو (هغوی خو زیاتره د ګاډیو او جامو د لاس ته راوړلو په غم کې و) ټول ددې لپاره وچې خپل عدل او لوړ خیالونه ورته ثرګند کړي، خو دغه دلایل ټول بې ځایه او بې ګټې شول. ټولو اک الکساندر دده دغه استازي ونه منل او د هغو راوړلو پیامونو ته یې ځواب ورنه کړ.

ګنهګارانو ته دجزا ورکولو په برخه کې وروسته له هغه چې داور اچولو په تورنیمایي کسان اعدام شول، دمسکو پاتې نیمه برخه هم په ایرو بدله شوه.

د اداري اصلاحاتو په برخه کې دښاروالۍ پرانستل او په ښار کې دښاروالۍ دڅانګو جوړېدل، و نه شو کولای د خلکو دشتمنیو د تالان مخه ونیسي. دا کار یوازې د هغو څو تنو په ګټه تمام شو چې ددغو جوړ شویو ادارو مشري یا غړیتوب یې درلود. دغو کسانو یا دنظم دساتنې په پلمه دښار په تالان کې ګډون کاوه او یا یې ځپله شتمني دتالانګرو له تالانه ژغورله.

دمذهب او کلیسا په برخو کې، د هغه هلې ځلې، په هغې آسانۍ سره چې په مصر کې جوماتونو ته دده په تګ سره بریالې شوې وې، دلته بې اغیز پاتې شوې. یو، دوه درې تنه کشیشان چې په مسکو کې هغو پیدا کړي وو، هڅه وکړه چې د ناپلیون تکلونه پرځای شي، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه يو تن د لمانځنې په وخت کې کوم فرانسوي سرتيري په څپېړه وواهه او د هغه ديو بل تن په اړه، يو فرانسوي مامور داسې يوه خبرتيا خپل لوړ ځاى ته استولې وه:

« هغه کشيش چې موږ پيدا کړى او په کليسا کې مو د لمانځنې پېلېدو ته اړ کړى و، هغه کليسا پاکه کړه، قفل يې ور واچاوه او بيا لاړ. په همدې شپه يې د کليسا قفلونه او دروازه سره ماته کړې، کتابونه يې څيرلي يا ارتېړلي او نوريې هرڅه مات او وران ويجاړ کړي دي.

د سوداګرۍ په برخه کې د کار له استادانو، کارګرانو او بزګرو سره ملګرتيا لېوالتيا ونه موندله. نه د کار استادان پيدا شول، نه کارګر او نه بزګر او هغه چارواکي چې کارګرو او بزګرو پسې به لرې لرې سيمو ته تلل، همدا چارواکي به خلکو نيول او وژل به يې. تياترونه تر پرانستلو وروسته، ډېر ژر وتړل شول. ځکه چې د دغو تياترونو دلوبغاړو جامې او نور وسايل غلا او لوټ شوي وو او نه هنرمندانو نه شو کولاى خپلې ننداري جوړې کړي.

خيريه چارو هم کومه ښه پايله نه لرله. جعلي او غير جعلي پيسې په مسکو کې پريمانه، خو کوم ارزښت يې نه لاره. فرانسويان چې په تالان او دغنايمو په راټولو لګيا وو، له زرو پرته بل څه نه منل. نه يوازې په سخاوت د ناپليون له خوا ، هغه جعلي لټونه او پيسې چې هېڅ ډول ارزښت يې نه لاره، خلکو او خوارانو ته ويشل کېدې، بلکې سپينو زرو هم د سرو زرو په وړاندې خپل ارزښت بايلود، خو تر ټولو عجيبه چاره د لوړپوړو چارواکو او ناپليون له خوا د تالان او غلا د مخنوي فرمانونه وو، چې چور به ګټې پاتې شول.

يو ځې چارواکو داسې خبرتياوې ورکولې:

د تالان او غلا د مخنوي لپاره، د ورکړل شويو فرمانونو سره سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم په ښار کې تالان او غلا روانه ده، نظم نه شته او داسې کوم سوداګر چې قانون ته غاړه کېږدي او په خپلو چارو بوخت وي، نه لیدل کېږي. له یوازې پوځ سره مل سوداګرو ته اجازه ورکول کېږي چې خپل مالونه، هغه د غلا مالونه خرڅ کړي. . له دې خبره پرته چې سرتیري په غلا او تالان لګیا دی، بل کوم خبر نشته.

د اکتوبر نهمه

« غلا او تالان د پخوا په شان روان دي. زموږ په سیمه کې د غلو د داړو داسې یو ډاره شته چې د پوځ له مرستې پرته د غلو د نیولو او د غلا مخنوي کار سخت ګرانه وي».

ټولواک امپراتور(ناپلیون)له دې امله خورا ناراضه و چې د غلا او شوکو د مخنوي لپاره دده د سپارښتنو او فرمانونو سره سره، بیا هم د ګارد او پوځ ډلې په کلیو او بانډو کې لوټماري کوله او بېرته کرملین ته راستنېدل. پرون او نن، په پخواني ګارډ کې غلا او تالان تر بل هر وخته زیات شوي وو. د ټولواک امپراتور دې ته خوا شنه وه چې دده خورا ښه سرتیري چې دده د ځان، پرتم ساتونکي او د نظم او اطاعت غوره بېلګه دي، تر هغې کچې یاغي شوي دي چې اوس د پوځ پر زیرمو او انبارونو هم برید کوي، نورې ډلې بیا له پوځي دود د ستور نه دومره لرې شوي دي چې د ساتونکو افسرانو او سرتیرو قومانده اصلا نه اوري، نه یوازې د هغو قوماندې ته غوږ نه ږدي بلکې هغوی ښکنځي او آن پر خپلو هغو، هم برید کوي.

قوماندان ولیکل:

« د دربار د تشریفاتو مشر، له دې امله خورا شکایت لري چې د پرله پسې سپارښتنو او هیلو سره سره ، سرتیري هر چېرې چې رسېږي، آن د ټولواک امپراتور د کوټې لاندې متیازې کوي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پوځ د هغې له بنده ټېښتېدلې ګلې په شان، آن هغه خواره چې کېدای شي کومه ورځ هغوی له لوږې وژغوري، بیا هم ترپښو لاندې کوي. په مسکو کې چې د هغو د پاتې کېدو موده چې څومره اوږدېده، هغوی په هماغه اندازه دغو نیمګړتیاو او ناروا چارو پلو ورپرزېدل. ددې ټولو خبرو سره سره دغه پوځ له خپل ځایه هم نه خوځېده، خو یوازې هغه وخت یې تېښته پیل کړه چې ددوی یو کتار سره له ګاډیو او کراچیو د سمیلینسک پر لارې او د تاروتینسکي په نښته کې د دښمن لاس ته ورلوېد او ناڅاپه ډار پسې واخېستل. د تاروتینسکي د جګړې خبر چې به ناڅاپي ډول ، دیو پوځي پریټ په وخت کې ناپلیون ته ورسېد د تییر ، د وینا له مخې په امپراتور کې یې روسانو ته د جزا لمسون راوپاراوه، نو هغه و چې تر دې خبرې وروسته یې د پوځ د وتلو فرمان چې ټول پوځیان یې سترګه په لار و ، ورکړ.

ددغه پوځ وګړو له مسکوه د تېښتې په وخت کې، ټول هغه څه چې په دې ښار کې غلا ، شوکه او تالان کړي وو ، له ځانسره واخېستل. ناپلیون هم خپله ځانګړې خزانه له ځانسره واخېسته. او تییر د لیکنې له مخې، کله چې امپراتور خپل هغه پوځیان چې دده خزانه یې وړه ولیده، په وحشت کې شو. هغه په جګړه کې د خپلې تجربې له مخې دا وار لکه هغه شان چې مسکو ته دننږدې کېدو په وخت کې یې، د خپل یو مارشال ته د زیاتو کراچیو او ګاډیو د سوځولو امر کړی و، دا وار یې داسې کومه سپارښتنه ورنه کړه. هغه ، د هغو ګاډیو او کراچیو کتارونو ته چې سرتیري یې وړل، وکتل او وې ویل چې ښه ده، دغه ګاډۍ او کراچۍ به وروسته د خوړو ، کالو او د ټپیانو او ناروغانو د لېږدولو لپاره په کار شي.

د پوځ حالت د هغه ځناور حال ته ورته و چې خپل مرګ احساسوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نه پوهېږي چې څه وکړي.

مسکو ته د فرانسوي پوځ تر ننوتلو وروسته، بیا د هغه ترتباهۍ پورې، د ناپلیون د اهدافو او د هغو د ماهرانه کړو وړو څېړنه، د هغه ځناور د رواني اړو دوړ څېړنه ده چې سخت ټپي شوی وي. ډېر وخت داسې پېښېږي چې ټپي ځناور، د کوم هسې غږ په اورېدو، د ښکاري مخې ته وردانګي، وړاندې او وروسته درومي او د خپل مرګ بهېر لا پسې چټک کړي. ناپلیون هم د خپل پوځ تر فشار لاندې، همدغه حال درلود او همدغه کارېې وکړ. د تاروتینسکي جګړه، هماغه غږ و چې په ټپي ځناور کې یې وحشت راوپاراوه، هغه وړاندې ودانګل او ځان یې غشې ته برابر کړ. د ښکاري پلو یې ورمنډه کړل، بېرته یې راوګرځول، بیا یې وړاندې او بیا یې بېرته شاته او بیا تر ټولو نه، ده ته پر ګټوورې، ګواښمنې، قانوني او آشنا لارې وخوځېد.

ناپلیون چې موږ ټولو ته، د دغه ټول بهېر لارښود برېښېده (لکه په بېړیو کې هغه تیره څوکه چې وحشیانو ته د لارښودنې څوکه برېښې) د خپل ګرد پوځي ژوند په موده کې، هغه ماشوم ته پاتې کېده چې د ګاډۍ د ننه تسمې یې نیولې وې، خو دی تصور کوي چې د همدې تسمو له لارې ګاډۍ چلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

داکتوبر د میاشتې په شپږمه نېټه، پېیر په زندان کې له خپل ځایه (دلرګیو له کوټې) راووت، له څه شا او خوا لاړ، د دروازې ترمخې ودرید، له یوا اوږد ځاني سپي سره چې لنډې پښې یې لرلې او له ده تاویده راتاویده لوبې پیل کړې. دغه سپی له دوی سره په هغه لرګین زندان کې اوسېده او تل به له کراتایوف سره ویده کېده. کله ناکله به هغه ښار ته ، خدازده کوم ځای ته تللو ، خو بېرته به راستنېده. کېدای شي هېڅکله هغه هېڅ چا پورې اړه نه درلوده او اوس هم دغه سپي کوم خاوند نه لاره. فرانسویانو ، دغه سپی ازور ، نوماوه. هغه ټوکمار کیسه پور سرتیري، دغه سپی ته فیماګالکې نوم ورکړی و. کراتایوف او نورو هغه د(خړکي)او کله هم د واسیلي په نامه یاداوه. داسې برېښېده چې د نوم، ختې او آن د ځانګړی رنګ درلودل، د کمکی سپي ته څه تاوان نه رساوه. د هغه ببره، له ویښتو ډکه خو نری لکۍ به تل شخه ولاړه وه. د هغه کږې وږې پښې ، هغه ته داسې په چوپړ کې وې چې کله به فکر کېده، هغه په لاسي توګه څلور واړه پښې یو واري کاروي او یوه وروستنۍ پښه په خورا ښکلې بڼه لوړله نیسي او په نورو دریو پښو په چټکۍ منډې وهي. د هغه لپاره هرڅه د خوند اولذت پلمه و. کله به یې له خوښۍ نه چغې وهلې او کله به له خوشالۍ په شا ورغړیده، کله به په خیالونو کې ډوب شو او اند ښنمنه بڼه به یې غوره کړه، پیتاوي کې په یې ځان تاوداوه. او کله به یې دلرګیو له ټوټو یا وښو سره لوبې کولې او ټوپونه به یې وهل.

د پېیر جامې اوس یوازې، د پخوانیو وختونو یو خیرن، زوړ کمیس او د سرتیرو د دریشۍ یو پطلون و چې پایڅې یې د کراتایوف په خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره په ښينګرو کې په رشمو تړې وې چې د سړو مخه ونيسي، زوړ جمپر اغوستي او خولۍ يې هم پر سر و. په دې موده کې د پيير څېره ډېره بدله شوې وه. نور د پخوا په شان څورب نه و، خو بيا هم د هغه د لوړې ونې او پراخو اوږو له امله چې د هغه د کورني ميراث ځانګړتيا وه، پياوړی او زړور برېښېده. ږيره او برېت ښه ببر شوي وو او د بشرې لاندنۍ برخه يې پوښلې وه. اوږدې جړې وړې ځنې يې له سپږو ډکې شوې وې او له خرينو الي داسې ښکاريدې لکه ليمځی. سترګې يې لکه تېږه، آرامې او لټونکې وې. د پيير کتل او د سترګو خوځېدا داسې و چې هېڅکله داسې نه و ، د هغه پخواني ملال کتل اوس خورا خوځېدونکي او ياغيتوب ته چمتو کېدل. پښې يې بربنډې وې...

آسمان له څو ورځو راهيسې شين و ، سهارې به ځمکه يخ وهلې وه او د روسانو په خبره د(بابې ليته )يعنی ځنډنی اوړې مهال و.

هرڅه، نېږدې او لرې، څه کوډ ګره ځلا لرله. دغه ، هغه حال و چې يوازې او يوازې دمنې په شپو او ورځو کې ليدل کېږي. هلته لرې د ورببيوفې په غونډيو کې کليسا ، کلی او کورونه ليدل کېدل. بربنډې ونې، شګې، کاڼي او تږې، د کورونو بامونه ، دکليسا د زنګونو شين برج او د لرو سپينو کورونو څنډې، ټول او ټول په خورا غير طبيعي ښو داسې برېښېدل چې تا به ويل ، په هوا کې له هرڅه جلا او پرې شوي دي. دلته نېږدې د کوم ارباب د وران شوي سوځېدلي کور ، آشنا کنډواله چې فرانسويان په کې ځای پر ځای شوي وو ، ليدل کېده، خو په هغه کې ولاړې ولې لا شنې پخونې برېښېدې. آن دغه کنډواله شوی ، سوځېدلی کور چې په خړه هوا کې به ډېران ته ورته و ، اوس په دې پاکه ځلېدونکې او آرامه هوا کې يو ډول ښکلې او آرامه برېښېده.

دفرانسويانو د ساتونکو مشر چې تنۍ يې خلاصې پرېښې وې، يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولۍ يې پر سر او يو لنډ پيپ يې د غاښونو په مينځ کې نيولی، دبنديخانې له يوه کنجه راووت او په داسې حال کې په خوا خوږۍ يې ستر ګه کېښکودله، پېير ته ورنږدې شو او وې ويل:

-ښاغليه کيريله ! عجيب لمر دی ؟ کټ مټ لکه د پسرلي په شان. ( فرانسويانو پېير همداسې يادوه ) په دروازه يې ډډه ولګوله او پېير ته يې د پيپ ست وکړ، که څه هم هغه تل پېير ته د پيپ څښول ست کاوه، خو پېير هم تل د پيپ څښولو نه انکار کاوه. فرانسوي وويل:

- په دغه شان هوا کې به چکر ته تللی وای.

پېير، له هغه نه د جګړې او پوځ د خوځېدا په اړه پوښتنې وکړې، فرانسوي وويل چې څه کم ټول پوځ خوځېدلی او نن سبا به د بنديانو په اړه هم فرمان راورسېږي. په هغه بنديخانه کې چې پېير بندي و، د سکالوف په نامه يو سرتيری سخت ناروغ او ځنکدن په حال و. پېير دغه فرانسوي ته وويل چې بايد ددغه سرتيري غم وخوړل شي. فرانسوي، پېير ته وويل چې ته بې غمه اوسه، دلته ګرځنده روغتونونه شته او کېدای شي ناروغان هغو ته وسپارل شي او ډاډ يې ورکړ چې په ټوليزه توګه قوماندانانو د هرڅه غم خوړلی دی.

يوه اونۍ مخکې فرانسوي پوځيانو ته چرم او ټوکر ورکړ شوي وو. هغوی دا چرم او ټوکر روسي اسيرانو ته ورکړي وو چې دوی ته موزې او کالي وګنډي.

کراتايوف، له هغه کميس سره چې په ځير سره يې مروړلی و، د زندان له کوټې راووت او وې ويل:

- چمتو دی، چمتو دی، ګرېته !

کراتايوف هم د تودخې له امله او په کار کې د اسانتيا لپاره، يوازې يو پطلون او يو څېرې خيرن تور کميس اغوستي وو. هغه خپلې څڼې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه هغه شان چې د کار استادان يې تړي، په يوې ټوکريز ريښکۍ خپل تندی داسې تړی و چې ګرده ښېره يې لا پسې ګرده او تر پخوا لا خوږه برېښېده.

پلات(کراتايوف)خپل ګنډل شوی کميس پرانست او په موسېدو موسېدو يې وويل:

هغه شان چې مو د جمعې په ورځ ويلي و، هماغسې مې وکړه، فرانسوي سرتيري په نا آرامۍ شا او خواته کتل، خو په پای کې يې تا به ويل چې شک يې له زړه لرې کړي وي، خپله دريشې په چټکۍ وويسته او کميس واغوست. هغه تر دريشۍ لاندې څه نه اغوستل. د هغه بربنډ، ژېړ او ډنګر بدن يوازې يوه وريښمن، ګل لرونکي او غوړ واسکټ پټاوه. داسې برېښېده چې هغه له دې کبله آرامه دی چې اسيران يې ووينې او پرې وخاندې. په تلوار يې سر د کميس پر ګريوان ومانډه، خو يو اسير هم څه ونه ويل... ده خپله وويل:

- نه دي، ښه دې ګنډلی دی. له تاسو نه منه، خو پاتې شوی ټوکر چېرې دی ؟

- هغه به لا ښه ښکاره شي، که کوم بل څه، تر هغه لاندې وانه غوندې، خورا ښه ښه او ښکلي به وي.

فرانسوي، څه پيسې له جيبه راوويستې او کراتايوف ته يې ورکړې او به خندا يې وويل:

- مننه، مننه ملګريه ! خو پاتې ټوکر به څنګه شي ؟

د پېير دې ته پام شو چې پلاتون نه غواړي، پر هغه څه ځان پوه کړي چې فرانسوي يې وايي، هغو ته يې کتل، خو هېڅ يې نه ويل. کراتايوف، فرانسوي ته د پيسو له امله مننه وويله او له خپل کار نه يې خوند اخېستو ته دوام ورکړ. فرانسوي، هماغه شان په پاتې شوي ټوکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګار کاوه او له پېښېر نه یې هیله وکړه چې دده خبرې، کراتایوف ته وژباړي.

کراتایوف وویل:

- په پاتې شوی ټوکر دی څه کوي؟ موږ ته یو ښه ګیتس ترې جوړېږي ․. ښه ده، ښه ده، خدای دې مل شي.

او کراتایوف چې ناڅاپه یې دبشرې رنګ بدل شو، په خورا خواشینۍ یې ټوکر چې ښه یې مروړې و، له کمیس لاندې راوویست، هغه ته یې ورکړ او وې ویل:

- بلا ورپسې.

کراتایوف، تر دې خبرې وروسته بېرته لاړ. فرانسوي ټوکر ته وکتل، په چرت کې لاړ، په پوښتنیز انداز یې داسې پېښېر ته وکتل چې ګواکې د پېښېر غلچک ده ته څه وویل.

فرانسوي ناڅاپه تک سور شو او په قهرجن آواز یې چغه کړل:

-پلاتونه ! پلاتونه چېرې ځئ؟ راشه، راشه، دا ټوکر واخله، دا دې ستا وي.

فرانسوي، ټوکر هغه ته ورکړ، له هغه نه یې مخ واړاوه او لاړ.

کراتایوف سر وښوراوه او وې ویل:

- وایي چې کافر دی، کافر... کافر دې وي، خو رحم خو لري.

سپین ږېري وایي، غوړ لاس نرم وي او وچ لاس ماتېږي. هغه خپله لوڅ لغړ دی او ټوکر یې ماته راکړ.

کراتایوف چې په خیالو کې ډوب و او په موسېدو موسېدو یې هغه ټوکر ته چې په لاس کې و، کتل، تر شېبه چوپتیا نه وروسته یې وویل:

- خو یوه جوړه ښه ګیتس ترې جوړېږي.

او ترې دې خبرې نه وروسته، د اسیرانو کوټې ته ورننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د پېير له اسيرېدو څلور اونۍ تېرې شوې وې. که څه هم فرانسويانو هغه ته ويل چې دی به د سرتيرو له زندانه، د افسرانو ځای ته ورولېږدوي، خو دی په هماغه ځای کې پاتې شو چې لومړې ورځ ورته راوستل شوی و.

پېير په کنډوالو شوي او سوځېدلي مسکو کې د اسې سختۍ، خوارۍ او له زوريدو نه ډکې ورځې وليدلې چې زغمل يې له انساني واکه لرې وه، خو هغه د خپل پياړي بدن او روغتيا له برکته چې ده درلود ځان ښه احساساوه.

ده نه يوازې هغه هر څه په آسانۍ بلکې په خوښۍ زغمل. په همدې موده کې ده هغه روحي آرامي وموندله چې دی تر اوسه پورې بې ګټې ورپسې ګرځېده. هغه په خپل ژوند کې ډېر وخت هره خوا د غه ارامي لټوله، خو په پای کې هغه دغه آرامي او روحي کراري، د برادينو په جګړه کې، د سرتيرو ارامي او روحي ارامتيا، دی په حيرت کې اچولي و. هغه به تل ستومانه او لار ورکی و. هغه دغه ارامي په خيريه چارو، په فراماسوني خدمتونو، په عياشۍ، شراب څکلو، مېړانې، سرښندنې او له ناتاشې سره په شاعرانه مينه کې لټولې. ده هڅه کوله چې دغه آرامي د تفکر له لارې تر لاسه کړي. خو په دې ټولو لټولو کې هغه لا پسې بې لارې او ځان يې دوکه کړی و. هېڅ په لاس نه و، ورغلي، خو په پای کې، پرته له هغه چې خپله يې پام شي، هغه دغه ارامي او سوله ايز حالت له ځان سره د سولې او يوازې د مرګ د وحشت او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقوا سره د بلد تیا له لارې او کراتایوف سره د پېژند ګلوۍ له برکته تر لاسه کړل. دا سې بربښېده هغه وحشتناکې شېبې چې ده د خپلو نورو اندېوالانو د اعدامولو په وخت کې ولیدلې او وزغملې، هغه وحشتناک خیالونه او احساسات چې تر هغه پورې دده تر پامه خورا غوره بربښېدل، د تل لپاره دده له ذهن او خیال نه وتوږل شول او چور یې ترې هېر کړل. هغه ته نه د روسیې غمونه، نه د جګړې کړاونه، نه د سیاست ناندرۍ او نه د ناپلیون اند ښنې، یو هم مهم نه و او دا سې یې انګېرله چې ده پورې اړه نه لري، ده، د هغو په وړاندې کومه دنده او پور نه لاره، نوځکه ده نه شي کولای، د هغو په اړه قضاوت وکړي. هغه د کراتایوف دا خبره تکراروله چې ویل یې:

-روسیه اوړی او یووالی نه لري.

او دغو خبرو په عجیبه ډول دی آرامولو. اوس ده ته خپل هغه تکل چې غوښتل یې ناپلیون ووژني، نه یوازې د پوهېدو وړ نه و بلکې خورا د خندا بربښېده. له رازه په ډکو شمېرونو او حسابونو کې فال لیدل او... مکاشفه، اوس ټول ورته بې معنی او ملنډې بربښېدل.

د خپلې ښځې په وړاندې کرکه او هغه ننګ چې ده د خپل ځان لپاره بدنامي ګڼله، نه یوازې اوس ده ته بې معنی بلکې په زړه پورې هم نه بربښېده. ده به ویل:

- دا ده پورې څه اړه لرله چې دغې ښځې چېرې او څنګه هسې ژوند کاوه چې د هغې خپله خوښېده ؟

په تیره بیا ده دا ده پورې څه اړه لرله چې دی او یا نور په دې پوه شي چې د کوم اسیر نوم ګراف بېیزاو خوف دی. ؟

اوس یې زیاتره وخت له سردار اندرې سره خپلې مرکې او خبرې وریادولې. تل یې په خیال کې له هغه سره خپل خیالونه یوګڼل، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ څه توپیر، د هغه په اند ښښنو پوهېده. سردار اندرې فکر کاوه چې نیکمرغي تل ناوړه څه دي، خو دغه خبره یې له خواشینۍ او ملنډو نه په ډګه ژبه کوله. داسې بریښېدل چې د دغې خبرې په ویلو سره کوم بل خیال او روي. دده د خبرو معنی دا وه:

- په موږ کې د نیکمرغۍ د لاس ته راوړلو ټولې هڅې او لېوالتیا یوازې دده لپاره دي چې موږ هغې ته ونه رسېږو او ونه ډارېږو، خو پیېر، پرته له هغه چې پر دغو اند ښښنو ځانښبود نه وکړي، پر هغو ښه پوهېده او د عدالت غوښتنه یې کوله. د رنځ نشتوالي، د اړتیاوو پوره کېدل او د هغه په پایله کې د ژوند او کار د ډول لپاره د ټاکنې ازادي، اوس د پیېر لپاره بې شکه او تر ټولو غوره انساني نیکمرغي بریښېده. دلته او اوس د لومړي ځل لپاره پیېر په پوره توګه له خوړو او خوند اخیست. هغه وخت چې وږی کېده او خواړه یې غوښتل، هغه له څکلو خوند اخیست، له خوبه یې خوند اخیست، کله چې تږی کېده له اوبه نه یې خوند ګاټه او له تودیدو نه چې کله به ساړه و، کله به یې چې له چاسره غږېده، خبرو به خوند ورکاوه او د هغه سړي اوریدو ته به غوږ غوږ و. د اړتیاوو پوره کېدل، ښه خواړه، پاکوالي او ازادي، اوس دده لپاره، نیکمرغي، چې پخوا ترې بې برخې و، هرڅه، هرڅه غوره نیکمرغي بریښېده. د کار او دژوند، د ډول ټاکنه چې تر اوسه دده ته ناشونې وو، داسې آسانه بریښېدل چې هېرول یې، په ژوند کې بې پایه ارامي، دا اړتیا د پوره کولو نه، د لاس ته راغلې نیکمرغۍ ټول خوند له مینځه وړي. او د کار په غوره کولو کې زیاته آزادي، هماغه آزادي ده چې ده ته په ژوند کې زده کړې، بډایتوب، ټولنیز دریځ ورکړی و. دغه کار، د هغه لپاره د کار غوره کول خورا ګرانول او د کار اړتیا او د هغه کېدل یې ناشوني کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپيير ټولې هيلې او خيالونه اوس دده دژوند هغو وختونو پورې تړلي وو چې دی آزاد شي. په هر حال تر دې نه وروسته، د ټول ژوند په موده کې پيير په خورا لېوالتيا د خپل دغه يو مياشتني اسارت، ددغې مودې د ژورو او خوښې پارونکو احساساتو چې نور يې احساسولې نه شي او تر ټولو غوره لا دا چې د هغې ژورې او بې پايه ورځې د آزادي په اړه و، چې په همدې موده کې، ده د هغه خوند ليدلی و، فکر يې کاوه او غږېده.

کله چې لومړۍ ورځ هغه سهار له خوبه پاڅېد، له خپل اسارت ځايه دباندې رڼا ته ووت، تر هرڅه دمخه يې د نوې وادويچې د کليسا ګنبدې او صليبونه وليدل. له دوره نه پر ډکو شنيليو يې يخ وهلی شبنم وليد. د وربيوفې دغونډۍ لوړې څوکې يې وليدلې، دمسکو د سيند پرڅنډه و يې تاو راتاو شوې ګڼې ونې چې لرې لرې په ګلابي افق کې ټېټېدې ليدې، دتازه هوا خوند يې په زړه کې احساس کړ، له مسکوه ددښتو پلو ته يې دالوتکو کارغانو کغېدل واورېدل او بيا وروسته چې ناڅاپه دختيځ په لرو لمنو زرينې دوړې راخورې او دلمر تبۍ په خورا پرتمين برې د ګڼو وريځو له غبرې راوښويده او ټولې ګنبدې، دکليسا دصليبونه، شبنم او لرې لرې افقونه، په دغې رڼايي کې ډوب شول. پيير، دا سې يو نوی له خوښۍ او نيکمرغۍ نه ډک احساس، احساس کړ چې تر هغه وخته پورې يې په ژوند کې هېڅکله احساس کړی نه و.

دغه احساس نه يوازې دا سارت په ټولو موده کې هغه پرينښود بلکې څومره به يې چې ژوند سختېده، په هماغه کچه به دغه سختۍ لا پسې زياتېدلې.

هغه درناوی چې په دغه اسارت ځای کې تر ځای پر ځای کېدو نه وروسته، دده په وړاندې، له ده سره نورو اسيرانو، ده ته کاوه، دی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ډول درنې چارې او دهر شي زغم ته هڅاوه او د هغه، هغه معنوي پیاوړتیا یې لاپسې پیاوړې کوله. په ځو ژبو بلدتیا ، هغه ته د فرانسویانو درناوی ، د هغه سادګي او پر ځان ډاډ او دا چې هرڅه به چاله ده نه غوښتل، ده به ورکول(هغه دافسرانو په شان هره اونۍ درې روبله ترلاسه کول )دا سارت په ځای کې یې، د خپل ځاني قوت له برکته پر دیوال د میخ وهلو له لارې، سرتیرو ته خپل توان ښودل، هغه مهرباني او خواخوږي چې ده له نورو اسیرانو سره په خپلو کړو وړو کې کوله، ددې زغم او استعداد له امله چې کرار او ناخوځېدونکی کېښې، هېڅ ونه وایي او په فکر کې ډوب شي، دې ټولو ځانګړتیاوو سره سره ، هغه دنورو لپاره یو مرموز او تر نورو غوره څوک بریښېده ، هغو ځانګړتیاوو ، لکه دده بدني پیاوتیا ، آرامه ژوند ته بې اعتنايي او دده سادګي نه یوازې هغه ته کوم تاوان نه و رسولی بلکې هغه یې د نورو اسیرانو په مینځ کې په بې سارې څېرې او اتل بدل کړی و. پېیر دا سې انګېرله چې دغه دریځ دنورو په وړاندې دی لا مسوول او پوروی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

داکتوبر د شپږمې نه د اومې پر شپه، له مسکو نه د ګټهندويو فرانسويان وتل پيل شول. پخلنځي، انبارونه او زندانونه رنګېدل، کراچۍ او ګاډۍ باريدلې او پوځي ډلې لارو ته سېخېدلې.

د سهار په اووبجو فرانسوي پوځونه، سفر ته چمتو، له خپلو وسلو سره، خولۍ پر سر، کڅوړې پر شا يا پر اوږو پرتې، دد غه زندان پروړاندې کتار شوي وو او د هغو کسانو غږيې اوريده چې اپلتې يې غږولې او يو بل يې په بدو ښکنځلو ښکنځل.

دننه په زندان کې هر څه چمتو وو، ټولو اسيرانو جامې اغوستې وې، ملاېې تړلې، بوټ پر پښو او يوازې دې ته سترګې په لاره وو، چې دتګ او وتو غږ وشي، يوازې ناروغ سرتيري سکالوف، خوار، رنګ الوتی چې له سترګو يې شنې شنې کړۍ اوښتې وې، نه يې کالي اغوستي او نه يې څه په پښو کړي وو، يوازې پر خپل ځای ناست او خپلو ملګرو ته يې، چې يوه هم ده ته پام نه کاوه په پوښتنيزه سترګو کتل او پرله پسې يې کرار کرار او يو رنګه زګيروی کاوه. داسې ښکاريده چې هغه نه هومره له ناروغۍ نه (هغه له ډېره اسهاله وينې کېناست) بلکې دی له يوازې پاتې کېدو نه ډاريده. او له همدې ډاره يې زګيروی کاوه.

پيير، هغه بوټ پر پښو کړي وو چې کراتايوف، دفرانسويانو لخوا، له راوړې چرم نه ورته جوړ کړي وو، ملاېې هم په يوې ريښکۍ تړلې وه، ناروغ ته ورنږدې او د هغه تر مخې د پښو پر سر کېناست.

هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او خدایه ! او خدایه مړ به شم، مړ به شم خدایه !

پېير وويل:

-ښه ده، ته صبر وکړه. زه به اوس له هغو نه وپوښتم.

هغه پاځېد او د زندان پلو ورغی، دلګی مشر، له دوو تنو سرتیرو سره جوخت له بهره، راننوت. دا دلګی مشر، هماغه څوک و چې پرون یې ده ته د پيپ څښولو ست کړی و. دلګی مشر او سرتيری د تلونکو په ډله کې وو. کڅوړې يې پر شا، خولۍ يې پر سر او د خوليو بندونه يې ترزنو لاندې تړي وو. د هغو څېرې چور بدلې شوې وې.

دلګی مشر د دروازې پلو ته ور روان و چې د قوماندان په قوماندې دزندان دروازه وتړلي او بايد د دغه ځای تر پرېښودو او خوځېدو د مخه اسيران وشمېري.

پېير وويل:

- دلګی مشره ! له ناروغ سره څه کوئ ؟

خو په هغه شېبه کې چې هغه دا خبره کوله ده ته شک پيدا شو چې دا هماغه دلګی مشر دی او که بل کوم، نا آشنا سړی دی، ځکه د هغه کړه وړه، خورا ناوړه شوي وو.

د پېير د دې خبرې سره هممهاله، ناڅاپه له دواړو خواوو نه د ډهل غږ واوريدل شو. دلګی مشر، د پېير د خبرو په اوريدو تندی تريو کړ، وې ښکنځل او دروازه يې په ګړز پورې کړه. په زندان کې تپه تياره شوه او له دواړو خواوو نه د ډهل په رارسېدونکي غږ کې، د ناروغ د زګيروی غږ ورک شو.

پېير، له ځانسره وويل:

- داده، داده بيا پيل شوه.

او دده له ارادې پرته يې پر ملا ساړه راخواره شول. د دلګی مشر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدله شوې خبره کې، د هغه د غړېدا په آواز کې، د ډهل په پارونکي او کښونکي غږ کې، پېير، هغه له رازه ډک او هر له هر څه نه بې پروا قوت وپېژاند چې انسانان دې ته اړ وي چې ، د دوی له خوښې نه پرته ځان ته ورته کسان ووژني. هماغه قوت چې ده د خپل اعدام په ورځ ليدلی و. له دې قوت او واکه ډارېدل، له هغه نه ډډه کول، له هغو کسانو نه چې وسلې يې په لاس کې دي، داهيله کوله، يا هغه ته نصيحت کول هسې بابيزه خبره ده.

پېير، اوس په دې خبره پوهېده ، هغه بايد انتظار ويستلای وای او زغم يې لرلای وای. پېير نه ناروغ ته ورنږدې شو او نه يې وروکتل. هغه په تريو تندي، خواشينی او په پټه خوله د زندان دروازې ته ولاړ و.

کله چې د زندان دروازه پرانستل شوه ، اسيرانو لکه د پسونو د گلې په شان سره پورې وهل، يو بل يې لاندې کول ، له يو بل نه مخکې کېدل او د دروازې ترمخې کوټه شول. پېير تر ټولو نه مخکې او هماغه تورن ته نږدې شو چې د دلگۍ مشر په وينا چمتو و ، له پېير سره هر ډول مرسته وکړي. دغه تورن هم د تنگ جامې اغوستې وې او د هغه د ساړه غلچلک او سړې بشرې نه ((هماغه )) څه ځرگندېدل چې پېير د دلگۍ مشر په خبرو او د ډهل په آواز کې احساس کړی وو.

تورن چې سخت په قهر و ، د اسيرانو سره نښتي کتار ته چې له څنگه يې تيريده ، کتل او پرله پسې يې سپارښتنې کولې.

- خوځېږئ ، خوځېږئ !

پېير که څه هم په دې پوه شو چې تورن ته رسېدل به کومه گټه ونه لري، خو بيا هم هغه ته ورنږدې شو.

تورن په داسې يو پردي غلچک چې گواکې پېير هېڅ نه پېژني، هغه ته وکتل او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه غواړئ ؟
پېير په اسارت کې د پاتې ناروغ خبرې وريادې کړې.
تورن ځواب ورکړ:
- مړ خو به نه وي، خوځېدای خو شي او پرته له هغه چې پېير ته وګوري، پر اسيرانو يې چغو ته دوام ورکړ:
- خوځېږئ، ژر ژر خوځېږئ !
پېير ځواب ورکړ:
خوځېدای نه شي، حال يې مرګنی دی.
خو افسر لا تندی تريو کړ او په يوې چغې يې پېير ته وويل:
- ورکېږه رانه، بلا درپسې...
-ډنګه، ډنګه، ډنګه، ډنګه، ډنګه، ډنګه ،... د ډهل غږ، شر او شور کاوه او پېير پوه شو چې هغه مرموز قوت پر دغو خلکو لاس برى شوى او اوس نورې خبرې هېڅ ګټه نه لري.
اسير افسران يې له سرتيرو افسرانو نه جلا کړل او ورته وې ويل چې مخکې لاړ شي. د دغو افسرانو شمېر چې پېير هم د هغو په ډله کې و، ډېرشو تنو ته ورسېد، خو د اسيرو سرتيرو شمېر، تر درې سوو هغو نه هم زيات وو.
هغه افسران چې له نورو زندانونو نه را پرېښودل شوي وو، يوه هم پېير نه پېژانده. د هغو جامې تر پېير هغه نه خورا ښې او پاکې وې، نو ځکه يې هغه ته په شک او ديوه پردي پردي په سترګه کتل. پېير ته نېږدې يو اسير چې ښکاريده خپل اسيرانديوالان يې ډېر درناوی کوي، يو ځورب، تک ژيړ او ښتي جګړن چې خواشيني برېښېده او تاتاري چپنګۍ يې اغوستې او ملا يې په يوه دستمال تړې وه، روان و. هغه په يوه لاس تمبکمروړه (دتنباکو غوټه) تر تخرګ لاندې منډلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بل لاس يې لاسي چلم چې د ختهو سرخانه يې لرله، نيولې وه. جګړن چې غړمبېده، ستمېده او له ټولو سره په شر او شور کې و. هغه داسې تصور کاوه چې ټول دی پورې وهي، ټول تلوار کوی، حال دا چې چېرې يې تلوار کړی وای ؟ ټول حيران و، حال دا چې هغوی له حيرانۍ هېڅ نه و. يل، ټيټ وني افسر له ټولو سره غرېده او داسې اټکلونه يې کول چې اوس به دوی چېرې او څو مره لرې بيايي او دوی به نن تر کومه ځايه پورې ورسېږي. هغه مامور چې رسمي جامې اغوستې او ليمڅې بوټ يې پر پښو و ، هرې خواته منډې وهلې، د مسکو د سوځېدلو ودانيو ننداره يې کولې، خپل د سترګو ليدلی حال يې په لوړ آواز نورو ته وايه او ويل يې چې دا يا هغه کنډواله تر سوځېدو د مخه څنګه وه. درېيم افسر چې په ختهه پولنډی و، له هغه مامور سره چې پوځي جامې يې اغوستې وې، په دې ناندرۍ کولې چې د مسکو د ودانيو په پېژندنه کې تېروتلی دی او د خپلو خبرو رښتياوالي ته يې ډېر دلايل هم راوړل.

جګړن په خواشينۍ وويل:

- څه بيځايه ناندرۍ کوي ؟ پلار دې سپرو مړ کړ که پليو، ستا له ښې يې وويست. د نيکول کوڅه وسوه او يا د والس، ټول يو شي، وينئ چې مسکو ټول ايره شوی دی او هر څه تر پايه سوځېدلي دي.

او هغه څوک چې تر شا يې روان و، هغه يې پورې واهه او ورته وې ويل:

-څه پورې وهل کوئ ؟ بله لاره نه شته که څه ؟

سره له هغه چې ، هغه، دی هېڅ پورې وهلی نه و.

د مسکو د سوځېدلو کورونو له ليدو نه، له دې خوا او هغې خوا نه د اسيرانو د خواشينۍ او افسوس آوازونه اوريدل کېدل.

-وای، وای، اخ، دا څه حال دی ؟ دا زما مسکو او اريچي ګورئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبووا ګورئ او کرملین ګورئ چې نیمایي نشته. ما خو ویل چې ټول زاماسکوریچي سوځېدلی او کنډواله شوی دی. مهرباني وکړئ. . .

جګرن وویل:

- نو پوهېږئ چې ټول، ټول ایره شوي دي، نو خبرې بیا څه په کار دي؟

دخوموفسکس ( دمسکو له څو سیمو نه یوه سیمه وه چې سوځېدلې نه وه ) په سیمې کې ، کله چې د یوې کلیسا له مخې تیریدل، ټول اسیران ناڅاپه یوې خواته کنډک شول او د کرکې او خواشینۍ چغې یې پورته شوې:

- ګورو کافرانو څه کړي دي ؟ یو مړی پروت دی او چا په څه شي غوړ کړی دی.

پېیر هم د هغې کلیسا خواته چې د کرکې او خوابدۍ آوازونو او چغې ترې اوریدل کېدل ورنېږدې شو او په تت حالت کې یې هغه څه ولیدل چې د کلیسا پر دیوال ورتکیه شوی و. هغه د خپلو هملارو اندېوالانو له خبرونه چې هغه دوی ته تر ده نه ښه ښکاریده، په دې پوه شو چې دا د کوم سړي مړی دی او د کلیسا دیوال ته درول شوی و او مخ یې د لوګیو پر مومو ورغوړ شوی دی.

د پوځ دڅارونکو او اداره کوونکو ښکنځلې او چغې واوریدل شوې:

- ځئ ! ژر ځئ ! بلا وهلو ، لعنتیانو !

او فرانسوي سرتیرو له غضبه په ډکې نوې څپې، هغه اسیران چې په خواشینۍ یې دیوال ته د ولاړ مړي ننداره کوله، وړاندې پورې وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

د خاموفیکوف په کوڅه کې اسیران یوازې او هغوی پسې پر آسونو سواره ساتونکي او له هغو سره مل ګاډۍ او کراچۍ روان وو، خو کله چې د خوړو کالو بازار ته ورسېدل د توپونو له یو لوی کتار سره چې ولسي ګاډۍ او کراچۍ هم ورسره ګډې شوې وې، مخامخ شول.

پله ته نېږدې ټول ودریدل، ټول دې ته سترګې په لاره شول چې مخکې تلونکې ډله وخوځېږي. اسیرانو د پله له پاسه، تر څانه وړاندې او تر څانه وروسته بې شمېره ګاډۍ او کراچۍ لیدلې. ښې اړخ ته، هلته چې د کالوژسکایا او نیکوچسکایا لارې سره یوځای کېدې، تر ډېرو لرو لرو پورې، بې شمېره سرتیري او ګاډۍ لیدل کېدې. هغه په تګ تګ کې وړاندې ورکتل. .

دا تر ټولو نه دمخه وتلې د بوګارون قطعه وه. د هغه شاته، د سیند پر غاړه او د کامي پر پله د مارشال(نیا ) پوځونه او د هغو د ګاډیو او کراچیو کتار روان و.

د داوو، قطعه چې اسیرانو هم هغو پورې اړه لرله، د کریمسکي د ګدر له لارې روان و او یوه برخه یې د کالوژسکایا واټ ته هم ور اوښتې وه، خو د ګاډیو او کراچیو کتار او قافله دومره اوږده وه چې د بوګارون د قطعې وروستۍ ګاډۍ لا د مسکو د کالوژسکایا واټ ته نه وې وروتلې چې د (نیا ) د سرتیرو مخکنۍ ډلې بیا دبالشایا اردینکي واټ ته ورننوتلې وې. اسیران د کریمسکي د ګودر نه تر تیریدو وروسته، څو ګامه وړاندې لاړل، بیا ودریدل، بېرته وخوځېدل او له هرې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډۍ او سرتیري پرله پسې او په زیاتېدونکي ډول را روان وو. هغه څو سوه متره لاره چې پل یې د کالوژسکایا له واټه بېلاوه، اسیرانو څه کم په یوه ساعت کې ووهله او د زماسکو اریځسکي او کالوژسکایا د واټونو دیوځای کېدو په ډګر او ګرځني کې دیوې لویې ډلې په توګه څو ساعته ولاړې پاتې شوې.

دګاډیو او ارابو خوځېدا او د هغو د تګ راتګ شر او شور، دګامونو او منډو غږ، دقهر او غضب چغې او ناري او ښکنځلې چې د سیند دڅپو شرهاري ته ورته وو، له هر پلوه اوریدل کېدې. پېیر دیوې ودانۍ نیمه سوځېدلي دیوال ته غبرګ ولاړ و او دغه غږ ته چې په تصور کې، هغه ته دډهل د غږ په شان برېښېده، غوږ غوږ و.

څو تنه اسیر افسران، ددې لپاره چې هرڅه ووینې، پر هغه نیمه سوځېدلي دیوال وروختل چې پېیر یې څنګ ته ولاړ وو. هغوی ویل:

-دغه ته وایي خلک! ته به وایي چې قیامت دی، په توپونو ورختلي! ګورئ! ښه ګورئ څه حال دی؟ نامردانو هرڅه لوټ کړل! هلته شاته ګورئ پر خپله کراچۍ یې څه بار کړي دي؟ ته ښه ګوره! کوم شمایل نه یې کوم شي شکولي دي. توکل په خدای، داسې ښکاري چې هغه باید الماني وي. توکل په خدای، زموږ کلیوال بزګر دی. هو هو پدرلعنتی داسې یې بار کړی چې په لاره هم تلای نه شي. هغه بل بیا کراچۍ لاندې کړې، خپله پرې سپور شوی، ته ښه ورته ګوره! د صندوقونو پر سر ناست دی. هو! بابا دوی سره نښتي دي.

-اخ! وهه یې! په وربوز یې وهه! تاته وایم په وربوز! تر ماښامه هم چېرې تلای نه شو. ګورئ! ګورئ! ګورئ! رښتیا وایم داخپله ناپلیون دی، ښه ورته ګورئ عجیبه آسونه دي! د کراچیو او ګاډیو سرته ګورئ! دتاجونو څه ځانګړې نښې پرې ولاړې دي. ګاډۍ یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې ښې کوټې په شان ده. یوه بوجۍ ترې ولویده، هغه نه وینئ، بیا یې سره ووهل، هغه ښځه ګوره ! والله چې بد شي نه ده، هوکې ! څه وایې، تاته خو لاره هم پرانیزي، ته ګوره ! پای یې نه لیدل کېږي. دا نجونې ګوره ! روسي دي، خدای دې لري، نجونې ، هسې په کراره په ګاډۍ کې ناستې دي...

له هماغه شېبې نه چې پيير د هغه مرموز قوت په پیدا ایښت پوه شو ، هېڅ شی، دی نه حیراناوه ، نه د هغه مړي لیدل چې چا د ټوکو او ملنډو لپاره غوړ او تور کړی و او نه د دغو ښځو چې ښکاره نه وه چې کومې خواته ځي او مندې وهي. او نه آن د مسکو کنډوالو کېدلو او ایره کېدو او نه نورو ټولو هغو شیزونو چې پيير اوس لیدل ، یوه هم نه شو کولای پر ده کومه اغیزه وکړي. داسې بربښېده چې د هغه روح سختو ورځو ته سترګه په لاره دی. هغه له هر هغه څه نه چې دده روحي توان ته یې تاوان رساوه، ډډه کوله.

د ښځو ګاډۍ راورسېده. تر هغې نه وروسته ، بیا ډولا ډول ګاډۍ ، کراچۍ او څه نورې ارابې چې سرتیري په کې سپاره وو او په یوې نیمې کې به ښځېنه سپرې وې، رارواني وې.

پيير دغه خلک یو یو او جلا جلا نه لیده، هغه یوازې د هغو خوځون ته کتل، داسې بربښېده چې ټول دغه آسونه او وګړي کوم مرموز قوت وړاندې باسي. ټول هغوی د هغه یو ساعت په اوږدو کې چې پيير د هغو په ننداره بوخت و ، له بېلابېلو کوڅو نه راوتل او ټولو یوه هیله لرله او هغه دا چې ژر تر ژره له دې ځایه تیر شي. ټول هغوی په یوډول یو بل نه خپه کېدل او یو له بل سره یې لاس آچاوه. یو او بل ته یې په یو ډول خولې کړولې. تندي یې تریوول، ټولو په یوه ډول یو بل ښکنځل، هماغه د ځوانۍ تندوالی او غوښتوب، پر یو بل د برېد تکل او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکنځلو وروسته يو بل ته هماغه شان بد کتل چې نن سهار پيير د ډهل وهلو په وخت ي د بربډګي په څېره کې ليدلي وو.

لمر په غړ غړو و چې د کتار مشر، خپل سرتيري او ساتونکي راټول کړل. په چغو او نارو، په زور زور غږيدا ، دګاډيو او کراچيو منځ ته ورننوت او اسيران چې له هرې خوا محاصره شوي وو، دکالوژسکايا واټ ته ورننوتل.

په چټکۍ روان وو، چا دمه کولو ته نه پرېښودل او تر هغه چې لمر ونه لويد له خوځېدا هم پاتې نه شول. کتار کتار ګاډۍ ودريدې او خپلې سورلۍ يې دريدو ته چمتو کړې. ټول نارضا او خواشيني برېښېدل. تر ډېرو دښکنځلو، چغو او غضب آوازونه او ناندريو غږونه اوريدل کېدل. . .

ساتونکو له خپلو اسيرانو سره ، تر هغه وخته لا زيات ه دښمني کوله چې سهار د مسکو نه دخوځېدا په وخت کې يې له هغوی سره کړې وه، دا د لومړي ځل لپاره و چې په دې تمځای کې اسيرانو ته، له خوړو سره، غوښه، هغه هم دآس غوښه ورکول کېږي.

داسې برېښېده چې ټولو فرانسويانو، له افسره تر سرتيري پورې له هره اسيره کرکه پيداد کړې، کړه وړه يې د هغو په وړاندې کرکجن او له قهره ډک شوي او دې کرکې له هغوی سره د دوی دپخوانۍ دوستۍ او لېوالتيا ځای نيولی و.

دکرکې او دښمنۍ دغه احساس هغه وخت لا پسې پياوړی شو چې د اسيرانو د سر شمېرنې په وخت کې څرګنده شوه چې هغه روسي سرتيری چې له مسکو نه يې د وتلو په وخت کې يې دګېډې د ناروغې پلمې کولې، تښتېدلی دی. پيير وليدل چې يو فرانسوي ځارونکي ، يو روسي سرتيری چې له دې کبله چې له لارې لږ لرې شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواهه او دا يې واوريدل چې جګړن هماغه فرانسوي چې ده خپل دوست ګاڼه، دلګي مشر د روسي سرتيري د تېښتې له امله وښکانځه او ورته وويل چې محکمې ته به يې ولېږي. دلګي مشر، ددې خبرې په ځواب کې وويل چې روسي سرتيري ناروغ و او خوځېدای نه شو، افسر ځواب ورکړ، سپارښتنه شوې ده، هر هغه څوک چې له تګ او خوځېدا پاتېږي، بايد وويشل شي. پيېر داسې انګېرله، هغه زورونکی زورور قوت چې د سرتيرو د اعدام په وخت کې دی، سرسامه کړی او اغيز يې پرې کړی و، او بيا د اسارت په وخت کې هومره نه احساسېده، اوس بيا پر ده راخوره شوی دی.

هغه يو سخت وحشت پسې اخېستی و، خو ده داسې احساسوله چې هر څومره هغه زورونکی زورور قوت، دده د ماتولو لپاره قوت اخلي، په هماغه اندازه د هغه له قوته لرې کېږي او دده په زړه کې، د ژوند قوت پياوړی کېږي.

پيېر، خپله هغه ماښامنۍ چې د اروبشو ډوډۍ او دآس د غوښې شوروا وه، وخوړه او د ډوډۍ په لړ کې يې له خپلو ملګرو سره د زړه خواله وکړه. نه پيېر او نه د هغه ملګرو، يوه هم، نه د هغه په اړه چې دوی په مسکو کې ليدلي وو څه ويل، نه د دوی په وړاندې د فرانسويانو د زورزياتي په هکله او نه د هغې سپارښتنې په اړه چې له پښو پاتې ناروغان بايد وويشل شي. داسې برېښېده چې دوی ټولو د اسارت د سختيو په وړاندې چې دم په دم زياتېدې، ټينګار کوی، دغه ټينګار دوی د خوښۍ او يا تريو تندی د ښودلو په بڼه ښوده. هرکله چې به خبره، ورځني ژوند او حال ته ورسېده، بيا يې خبره سره بدلوله.

ډېر وخت تير شوی و چې لمر لويدلی و. په رڼه آسمان کې ځای ځای ستوري ځلېدل. سرې نيمې مياشتې چې نوی يې سر راهسکاوه لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورنۍ لمبې په شان د آسمان په لمنه کې خوره شوې وه. د سپوږمۍ پلوشو ډاګونه روښانه کړي و. لمر لويدلی و، خوشپه لا پوره خوره شوې نه وه. پيير د خپلو نويو دوستانو له مينځه پاڅېد، د اور له مينځه، د واټ بلې خواته چې ويل کېدل، هلته اسير سرتيري ځای پر ځای شوي دي، ورواوښت. غوښتل يې چې له هغوی سره څه د زړه خواله وکړي، خو هغه، فرانسوي پيرې پرېنښود او بېرته راستون شو.

پيير، بېرته راستون شو، خو هغه د نغري څنګ ته کېناست او نه د خپلو ملګرو خواته بلکې هغه د ګاډۍ خواته پر سره ځمکه کېناست، پښې يې راټولې کړې، سر يې ګريوان ته کړ. تر ډېرې مودې په خيالونو کې ډوب، همداسې په کراره کېناست. پيير ته هېڅ چا مزاحمت نه کاوه. ناڅاپه يې خنديدل پيل کړل. هغه په ډډ، خواږه او لوړ آواز داسې په لوړه خنديده چې خلکو له هرې خوانه په حيرت او تعجب پام ورااړاوه او د دغې عجيبې او بې سارې خندا خاوند ته يې ورکتل.

پيير په کړس کړس او لوړه خندل:هه ها.. خه خا... ها ها ها... او له ځانسره په لوړه غږيده:

-سرتيرو نه پرېښودم، زه يې ونيولم او هلته يې بندي کړم. هغوی زه اسير کړی او ساتلی وم. څوک؟ زه يې اسير کړی وم؟ زه؟ زه يې؟ زما ابدی روح! ها ها ها، خاخاخا!

داسې يې په کړس کړس خندل چې اوښکې يې له سترګو ښکته شېوه وې.

يو څوک پاڅېد، ده ته ورغی چې وګوري، دغه عجيب سړی په څه پورې خاندي. پيير نور نه خنديده، پاڅېد، له دغه ځيرمن سړي نه لرې شو او خپل شا او خوا يې وڅارل.

هغه ستر پوځ چې د خلکو له ګڼې ګونې، غږيدا، دنغريو د سرو لمبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ترکهاري او شر وشوره نا آرامه و، کرار کرار آرامیده. بشپړه سپوږمۍ، ځلېدونکي او لوړه آسمان ته راختلې وه. د پوځ آپلو کروندې، شنېلیو او ځنګلونه چې تر دې دمخه تت برېښېدل، اوس لرې لرې، په افقونو کې کرار کرار را څرګندیدل. د دغو ځنګلونو لمنې او د کروندو غاړې هغه بې پایه روښانه افقونه وو چې لوړیدل او ټیټېدل او دلیدونکو پام یې ځانته وراړاوه. پېیر سر پورته کړ او آسمان ته، دبې پایه ستورو سیند ته چې ټولو سترګکونه وهل، کتل. هغه له ځانسره ویل:

-دا ټول زما دي، دا ټول په ما کې دي او دا ټول زه یم. او دا ټول هغو نیولي، بندي کړي یې دي او په لرګینو کوټو کې یې اچولي دي.

هغه وموسېد، لاړ، د خپلو نورو انډیوالانو منځ ته ورغی او ویده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

د اکتوبر په لومړیو نېټو کې، د ناپلیون یو بل استازی، کوتوزوف ته راغی او د روغې داسې یو لیک یې راوړ چې ګواکې له مسکو نه لیکل شوی دی، حال دا چې ناپلیون، د کالوژسکایا په پخوانۍ لاره، له کوتوزوفه وړاندې تللی و.

کوتوزوف دې لیک ته هم د هغه لومړني لیک په شان چې لیورستون راوړی و، هماغه شان ډول ځواب ورکړ، هغه ځواب داسې و:

-د روغې په اړه خبرې ناشونې دي.

تر دې ډېر ژر وروسته، د دوروخوف دایله جارۍ له پوځه چې د تاروتینې له کینې خوا نه وړاندې روان و، خبر راورسېد چې د پروس د پوځ یو شمېر فرانسوي پوځیان، دفومینسکایا په سیمه کې لیدل شوي دي. دغه پوځیان له خپلې قطعې نه جلا شوي او کېدای شي په اسانۍ سره، نابوده شي. سرتیرو او پوځیانو بیا د تکل غوښتنه کوله. دسترې قوماندانۍ جنرالانو چې د تاروتینې آسان برې مست کړي وو، په ټینګار سره له کوتوزوف نه غوښتنه کوله چې د دوروخوف، د ایله جار پوځ وړاندیز ومني، خو کوتوزوف دهېڅ ډول کړو اړتیا نه لیدله.

دوی په پای کې یوه منځګړې پریکړه وکړه او دا هغه چاره وه چې باید شوې وای. یوه وړه پوځي ډله د فومینسکایا سیمې ته ددې لپاره واستول شوه چې پر پروسي پوځ برېد وکړي. لکه وروسته چې څرګنده شوه دغه دنده خورا ګرانه او ګواښمنه وه. هغه دیو عجیب تصادف له مخې دوختوروف ته وسپارل شوه. هغه کمینه او کمکی دوختورف چې هېڅچا دجګړې د خریطو په جوړولو کې د هغه هنر موږ ته نه و انځور کړی. هغه دوختورف چې د پوځونو د مخ ته تګ په لېوالتیا کې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېړانــه ، د ســرتیرو د تشــویق لپــاره د ســنګرونو پــه وړانــدې، د هغــه داوربلونو دښودنې یادونه چا نه وه کړې، هغه دوختورف چې چا مېړنی اوغـوځ نـه ګانـه، هغـه دوختـورف چې لنډ پـاري او بې اند ښنـنې ګڼل کېـده، هغـه دوختـورف چې د روس او فرانسـې پـه ټولـه جګـړه کـې، داوسـتیرلیځې لـه نښـتې نیـولې بیـا تـر ۱۸۱۳ کالـه پـورې، هرځـای او هرچېرې چې سختی وې او ګوا ښمنه قومانده، ټول ده ته ورپه غاړه وې. داوستیرلیځ په جګړه کې هغه وروستی ځوک و چې د اوګیست دنهر لـه سیمې راوزي. د پوځ بیـا راټولـو تـه مټې رانغاړي. هغـه وخت چې ټول تښتي، وژل کېږي. د پوځ په پاتې شونې کې ، آن یو جنرال هم نه و ، چې د پوځ دښلا ښلو کنډکونو د تالا والا کېدو او تیت او پـرک کېـدو مخـه ونیسي. دوختورف د توان په اندازه هغه منظموي او له نابودۍ یې مخه نیسي. پـه سیمولینسـک کـې د نـاروغې او تبـۍ سره سره لـه شـلو زرو سرتیرو سره مل دفرانسوي پوځ پـه وړانـدې وردانګي او دښار د دفـاع غږ کوي. پـه سیمولینسـک کـې هغـه د ملاخو ، د دروازې ترشا ، هغـه لا د سختې تبې نـه مټې سترګې پټې کـړې نـه وې چې پـر ښـار د توپـونو د سـختو ډزو نـه راویښ او ټولـه ورځ یـې لـه سیمولینسـکه دفـاع وکـړه. دبارادینو په جګړه کې چې کله باګراتیون ووژل شو او زمـوږ د پـوځ د کین اړخ له لسو زرو تنو سرتیرو نه په سلو کې نوي وګړې ووژل شـول او دفرانسي ټول توپچي قـوت همدې پلـو تـه قومانـده شـوي و. همـدا بې ارادې او پـڅ دوختـوروف، بیـا هلتـه ورلېـږي. کـه څـه هـم نېـږدې و چې کوتوزوف خپل تکل بدل کړي او بل څوک هلتـه واستوي، خوبیـاهم پـه خپلې دې پریکړې دربېږي او پـه خـورا تلـوار دی، دغـې ګواښـمنې دنـدې تـه ګمـارې. دغـه کمکـی ځانـي او پـټ خـولي دوختـوروف، بـارادینو تـه ورځي او پـه دغې جګړه کې دروسي پوځ پـه خـورا سـترو ویـاړو بـدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ډېرو شعرونو او داستانونو کې، دغو جګړو د ډېرو اتلانو نومونه انځور شوي دي، خو د دوختورف د نامه یادونه هېڅچا نه ده کړې.

اوس بیا دوختورف، فومینسکي ته، بیا کمکي یارسلاف ته چې له فرانسویانو سره زموږ وروستۍ نښتې هلته شوي دي، واستول شو. هغه ځای ته چې، په برالا او ځرګنده هلته فرانسوي پوځیان وژل کېږي او پوځ تالا کېږي. موږ ته ډېر کسان د دې جګړې د اتلانو او نوابغو په نامه انځور شوي دي، خو د دوختوروف په اړه یوه کلمه هم چا ویلې نه ده او که چا څه یادونه هم کړې وي، هغه هسې تش په نوم او په شک او ګمان کې یاده شوې ده.

داسې برېښي چې د دوختورف په هکله دغه چوپتیا ، بیا هم د هغه د لوړتیا ښېه ده....

د اکتوبر په لسمه، په هغه ورځ چې دوختوروف فومینسکي ته د رسېدو په نیمایي لاره کې، د دې لپاره د اریسوا ، په کلي کې تم شو چې ځان د هغو سپارښتنو عملي کېدو ته چمتو کړي چې ده ته ورکړل شوي وې. فرانسوي پوځ، له خپلو ټولو ، الو ګلو او ګډ وډ خوځون سره په بشپړه توګه ځان د میورات سنګرونو ته ورساوه. او داسې برېښېده چې جګړه پیل کړي، خو پرته له هغه چې دلیل یې په ډاګه شي، ناڅاپه یې خپله لاره د کالوژسکایا د نوي واټ پلو ته ورکړه کړه او د فومینسکي په سیمه کې چې تر دې پورې یوازې یو بروسو ، هلته ولاړه وه، دیره شول. دوختوروف، په دې وخت کې له دوروخوف نه پرته د فیګنز او سیسلاوین، د دوو نه چندان ګڼ شمېرو پوځونه مشري هم کوله.

داکتوبر په یوولسمه، سیسلاوین له خپل یوه فرانسوي اسیر سره په اریسوا کې خپل قوماندان ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه فرانسـوي اسـير ويـل دي فومينسـکې تـه نـن راغلـی دی.
د فرانسـويانو دغـه پـوځ ، د هغـو دسـترو پوځونـو مخـکښ قـوت او ناپليون هم له هغو سره دی. ده ويل ، پنځه ورځې کېږي چې دغه پـوځ لـه مسکوه راخوځېدلی دی. پـه هماغـه ورځ لـه باروفسـکی نـه يـوه راغلـي کليـوال وويـل چې ده پـه خپلـو سـترګو ولیـدل چې سـتر پـوځ ښـار تـه ورننـوت. د دوروخـوف د پـوځ ځوتنـه قزاقـانو وويـل چـې دوی ځـو فرانسوي پوځي ډلې وليدلې چې د باروسک پلو ورانـدې لاړې. لـه دې ټولو خبرو نه يوه خبره ځرګنديده او هغـه دا چې، پـه هغـه ځـای کـې چې دوی د يوې فرانسـوي قطعـې انتظـار درلـود ، ټـول فرانسـوي پـوځ چې مسکو نه راوتلی دی، دلتـه راټـول شـوی او د کالوژسکايا د زاړه واټ، ناڅرګندې لارې ته برابر شوي دي. دختوروف، له دې امله چې حالت يـې چور ناڅرګند و ، دهېڅ ډول پريکړې تکل نـه شـو کـولای او نـه پوهېـده چې په دې وخت او حالت کې دده دنده څه ده. ده ته قومانده شوې ده چې په فومينسکې بريد وکړي، خو دا قومانده هغه وخت ورته شوې وه چې هغه د بروسو له قطعې نه پرته بل څوک نه و ، حال دا چې اوس د فرانسـې ټول پوځ هلته راکوټه شوي و.

ايرمولوف غوښتل چې د خپلـې پېژندنې او تکـل لـه مخـې، پريکـړه وکړي، خو دوختورف ويل چې د ستر قوماندان ، د قوماندې نـه پرتـه بـه بله پريکړه او کار نه کوي.

ددې چـــارې د ســـرته رســـولو لپـــاره دوی يـــوځيرک افســـر بالخوويتينوف، ټاکلی و چې دليک د رسـولو ترڅنګ يې بايـد پـه ښـو خبرو او ويناوو کې هم هرڅه ويلي وای:

د شپې له يولسو بجو نه تېرې وې چې بالخوويتينوف ، د ليـک سـره مل شفاهي سپارښتنې تر لاسه او ديوه قزاق په ملتيـا يـې يـو زيـاتي آس هم له ځانسره واخيست او د سترې قوماندانۍ په لور وخوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

دمني تپه تیاره او توده شپه وه. ځلورمه ورځ وه چې باران ورېد.

بالخوویتینوف، تر دوه واره آس بدلولو او دیرش ورسته واټڼ، ختو او چیکړو ډکې لارې نه وروسته ، دیونیم ساعت په موده کې، تر یوې بجې نه وروسته، دلیتا شوفسکي سیمې ته ورسېد.

د هغې دروازې مخې ته چې دیوال پر لوړه برخه یې لیکل شوي و:

-ستره قوماندانی !

له آسه راکوز شو، آس یې پرېښود او تیاره دهلیز ته ورننوت. یو ځوک هلته، په هغه تپه تیاره کې په ستمېدو ستمېدو پاځېده، ده هغه ته ویل:

-نوکریوال جنرال ته ، مهرباني وکړئ ، ژر وواېئ، ژر ! ډېر مهم خبر دی. چوپړ له خوا خوړېده نه په ډکه ژبه وویل:

- له پرون شپې راهیسې ناروغ دی او درې شپې کېږي ویده شوی نه دی. تاسو لومړی تورن صاحب راویښ کړئ.

بالخوویتینوف، په تیاره کې لکه ړوند ، هغه دروازې ته چې ورته پرانستل شوې وه، ورننوت او وې ویل:

-ډېره مهمه خبره ده، له جنرال دوختوروف نه راغلی یم.

چوپړ تر هغه دمخه وخوځېد او یوځوک یې له خوبه راویښاوه:

-والاحضرته ! والاحضرته ! یوربیار راغلی دی.

دیوچا خوبولی آواز وویل:

-څه شي ؟ څه شي ؟ دچا له خوا ربیار ؟

بالخوویتینوف، په تپه تیاره کې هغه ځوک چې له ده نه یې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، نه لیده، خو د هغه له غږه یې تصور کاوه چې هغه به کونوفینځین نه وي.

ده وویل:

- ددوختوروف الکسي پیتروویچ، ریبار ! ناپلیون د فومینسکې په سیمه کې دی.

راوینس شوي سړي سا وویسته او وغځېد، هغه چې په تیاره کې ګواکې څه لټول ووی:

-- خبره داده چې زړه مې نه غواړي، هغه راوینس کړم. ناروغه دی، کېدای شي دا خبرې هسې آوازې وي.

بالخوویتینوف، وویل:

- ګورئ پیغام دی ! ماته سپارښتنه شوې ده چې سمدلاسه یې نوکریوال ته ورسوم.

-صبر وکړئ چې شمعه ولګوم.

خوبولي سړي چوپړ ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

-هېڅ معلومه نه ده، داته لعنتي، دا شیان چېرې منده ي.

دا سړی د کانوفنیځین یاور، شیربینین و. هغه غږ کړ:

-پیدا مې کړ، پیدا مې کړ.

چوپړ اورلګیت ولګاوه او شیربینین شمعه دانۍ لټوله. هغه په کرکې وویل:

-دا څه مرداري ده.

بالخوویتینوف، د اورلګیت دشغلو په رڼا کې د شیربینین ځوانه بشره ولیدله، د هغه شمعه په لاس کې وه. هلته ګوښې یو سړی پروت و، هغه کونوفینځین و...

شیربینین له استازي نه لیک واخیست او وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بالخوویتینوف، وویل:

- خبر رښتیا او سم دی. اسیران، قزاقان او جاسون ، ټولو په یوه آواز یوه خبره کوي.

شیربینین وویل :چاره نه شته، باید راویښ یې کړو. هغه پاڅېد او د هغه سړي خواته چې خولۍ پر سر وه او تر پوځي کوټ لاندې ویده و ، ورغی او غږ یې پرې وکړ:

-پیوتر، پیترویچه !

خوانوفینځین هېڅ ونه ښوریده.

یاوربیا وویل:

-ستره قوماندانی ! 

هغه وموسېد او تصور یې کاوه چې په دې خبره به هغه هرو مرو راویښ شي. او په رښتیا هم په خولۍ کې مروړل شوی سر، سمدلاسه رالوړ شو.

د کانوفنیڅین په ښکلې او مالګینه څېره کې چې غومبوري یې له تبې تک سره اوښتي وو ، د هغه خوبولې مستي او ویښتیا چې سخته نا انډوله بربېښېدل، ره ګډ شول، خو ناڅاپه وربېږدید ، ټکان یې وخوړ او څېرې آرام حالات پیدا کړ. د شمعې له رڼا نه یې سترګې وبرېښېدې او په تلوار یې وپوښتل:

- ښه ! خبره څه ده ؟ د چا ګزارش دی ؟

ددې په لړ کې چې افسر ته غوږ و ، لیک یې پرانست او هغه یې ولوست. هغه یې لا ترپایه لوستلی نه و چې خپلې پښې یې چې وړینې جورابې یې اغوستې وې، پر ځمکه کېښودې او د بوټ په پښو کولو یې پیل وکړ. بیا یې خپله د خوب خولۍ له سره پورته کړه، د خپل ټیک (شقیقې ) ویښته یې منځ کړل او خپله پوځي خولۍ یې پر سر کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ته خو ژر راغلې، درځه چې جلالتماب ته ورشو !

کانوفیڅین ، سمدلاسه پوه شو چې رارسېدلی خبر ډېر مهم دی او په رسولو کې یې باید ځنډ ونه شي.

دا ښه کار و او که بد ، په دې اړه یې هېڅ فکر ونه کړ. هغه ته دا هېڅ مهمه نه وه. هغه دجګړې ټولو چاروته ، نه دمنطق او تفکر بلکې په بل ډول کتل. د هغه په روح کې یوه ژوره او نا ویل شوې عقیده وه او ده باور درلود چې ټولې چارې به سمې شي، خو په دې باور باید باور ونه شي. ده به ویل چې په دې خبره هېڅ باور په کار نه دی بلکې یوازې او یوازې باید کار وشي. هغه کار کاوه او دا کار یې داسې کاوه چې خپل ټول توان او قوت یې تر هغه ځاراوه. پیټر پېټرویچ کانوفنیڅین هم د دوختورف په شان، تا به ویل، یوازې د نزاکت له مخې د۱۹۱۲ کال د اتلانو په ډله کې نیول شوی و. هغه اتلان لکه: بارکلي، ریفسکي، ایرمولوف، پلاتوف او میلارادوویچ وو. هغه هم د دوختورف په څیر دلږ استعداد او لږو اطلاعاتو خاوند بلل شوی و. کانوفنیڅین هم د دوختورف په څیر هېڅکله دجګړې کړنلارې نه جوړولې، خو تل به په هغو ځایو کې و چې ترټولو نه زیاتې سختۍ او کړکیچ به و. تر هغه چې دکشف نوکریوال جنرال ټاکل شوی نه و ، تل به یې، آن د ویدو کېدو په وخت کې هم د کوټې دروازه پرانیستې وه. هغه سپارښتنه کړې وه چې دهر ریبار د رارسېدو په وخت کې دی راویښ کړي. دجګړې په وخت کې به تل تر اور لاندې و او له همدې کبله به کوتوزوف، هغه ملامتوه او ډارېده به چې کوم کار پسې یې ولېږي. هغه هم کټ مټ د دوختورف په څیر د ماشین هغه غوره پرزه وه چې له شر او شور او کړپ او کړوپ نه پرته یې خپل کار کاوه.

کانوفینڅین چې په هغه تپه تیاره او لمدبنه شپه کې له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جونګړې راووت، تندی یې د هغه درد له امله تریو کړ چې په ککرۍ کې یې د ناوړه خیالونو د ګرځېدو له امله، احسا ساوه. هغـه پـه دې اړه فکـر کاوه چې پـه سـتره قوماندانۍ کې بـه اوس لـوړ پـوړې چـارواکي، ددې خبر په اوریدو ، څه اله ګولـه جوړه کړي، پـه تیـره بیـا بینیګسـین چې د تاروتینې تر جګړې وروسـتـه ، لـه کوتـوزوف سـره غوښـه او چـاړه شـوي وو. هغه فکر کاوه چې هغه به ددې خبر په اوریدو څه کوي ؟ څـه نانـدرۍ به پیل شي ؟ څه قوماندې بـه ورکـړل شـي ؟ او څـه سپارښـتنې بـه نـاوړې وګڼل شـي ؟ کـه څـه هـم دی پـه دې ښـه پوهېـده چـې لـه دې نـه پرتـه هرڅـه ناشوني دي، خوبیا هم دغو احساساتو دی ډېر زوراوه.

په رښتیا هم کله چې هغه د خبر د رسولو لپـاره د جنـرال تـول ، کـوټې تـه ورننـوت، تـول سمدلاسه هغـه جنـرال تـه چـې لـه ده سره پـه کوټـه کـې اوسېده، د خپلو خیالونو او تصوراتو په ویلو پیـل وکـړ، کـانوفینڅین چـې پـه پټـه خولـه هغـه تـه غـوږ غـوږ و ، ناچـاره دې تـه اړوت چـې ورتـه وواییـ:ښه به دا وي چې ژر تر ژره جلالتماب ستر قوماندن ته ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

کوتوزوف، د ټولو نورو سپین ږیرو په څیر د شپې لږ ویده کېده، هغه به د ورځې تل خو ناڅاپه څوشېبې سترګې پټې کړې. د شپې به هغه پرته له دې چې دریشي وباسي، پر خپل کټ وغځېد او زیاتره وخت به یې سترګې همداسې رڼې خو په فکرونو کې به ډوب و.

اوس هم همدغه شان پر خپل کټ غځېدلی او خپل دروند او لوی سر یې په خپلو څوربو لاسونو کې کلک نیولی، په خیالونو کې ډوب او په هماغې یوې سترګې یې تېپې تیارې ته کتل.

له هغه وخته چې بېنیګسین له ټولو اک سره دلیکونو، لیکل پیل کړي وو او په قوماندانۍ کې تر ټولو نه واکمن چاروا کی ګڼل کېده له ستر قوماندان سره یې له مخامخ کېدونه ډډه کوله. کوتوزوف هم آرامه او په کرار شوی و او چا هغه ته نه سپارښتنه کوله او نه یې دې ته اړاوه چې خپل پوځونه بې ګټې جګړې ته قومانده کړي. هغه له ځانسره په دې اړه فکر کاوه چې د تاروتینې تر جګړې او ترجګړې نه یو ورځ مخکې پېښو نه چې لا تر اوسه یې غمرلی اغیز پاتې و او دی یې زوراوه، باید دعبرت درس او پایله اخېستل شوي وي.

کوتوزف فکر کاوه:

-هغوی باید په دې پوه شي چې زموږ له خوا د یرغل پیل به، بری ونه لري. زغم او وخت زما پیاوړي جنګیالان دي. هغه په دې پوهېده چې شنې منې باید له څانګو را ونه شکول شي،. منې چې پخې شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپله رالوېږي. که منه له ونې خامه راوشکول شي، هم منه خرابېږي او هم غابنونه بربښوي. هغه د يوه تجربه لرونکي او عمر خوړلي ښکاري په څير په دې پوهېده چې ځناور تېپي دی، داسې چې يوازې د روس ملت په خپلې پياوړتيا او ځيرکتيا کولای شي ه داسې څوک ټپي کړای شي، خو دا لا په ډاګه نه وه چې دغه ټپ مرګنی دی او کنه؟ کوتوزوف، د ناپليون دځانګړو استازو، لوريستون او بيرتيليم په رارسېدو او د خپلو جنګيالو له خبرونو نه، څه کم په دې ډاډمن شوی و چې هغه مرګنی ټپي شوی دی، خو دا بايد په ډاګه شوی وای او ويل به يې چې ددې چارې لپاره بايد صبر وشي.

کوتوزوف، له ځانسره وويل:

-هغوی ټول غواړي تر هر چا دمخه ور ودانګي او وګوري چې ښکار څنګه مري، مګر صبر وکړئ، هر څه به وګورئ، ټولې ښودنې او برېدونه، خو دا ټول دڅه لپاره؟ نو دا ټول دڅه لپاره؟ ټول غواړي ځان وښيي، هغوی ټول غواړی برېد وکړي، له جګړې نه خوند واخلي او امتياز ترلاسه کړي. داسې بربښي چې هغوی له وينو خوند اخلي، هغوی ټول هغو ماشومانو ته ورته دي چې څوک د هغوی له خبرو او کړو نه، نه پوهېږي، دا ټول اخ او ډب ولې او دڅه لپاره و، ځکه هغوی ټول غواړی دا په ډاګه کړي چې دوی څومره ښه جنګېږي، خو اوس خبره په دې کې نه ده.

څه بې ساري، ښکلي وړانديزونه او کړنلارې دي چې دوی ټول يې ماته نه وړاندې کوي. هغوی فکر کوي چې کله دوی دوه درې واره څه تصادفي کړنلارې جوړې کړي(هغه پوځي کړنلاره ورياده شوه چې په پترزبورګ کې يې جوړه کړې وه )ټولې چارې به جوړې وي، حال دا چې د تصادفاتو ونډه خورا زياته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې جرړې پوښتنې ته ځوک ځواب ویلې نه شي چې ایا د برادینو په جګړه کې دښمن لیدلی تېپ مرګنی و او کنه ؟ دا یوه میاشت کوتوزوف هم دې خیالونو ډوب کړی و. له یو پلو فرانسویانو مسکو لاندې کړی و او له بله پلوه کوتوزوف دا په ډاګه احساسول ، هغه ګوزار چې ده او د روس ټول اولس دښمن ته ورکړی دی، باید مرګنی وي، خو دې خبرې بیاهم ثابتول غوښتل.

په دې توګه دی یوه میاشت سترګې په لاره پاتې شو ، څومره به چې وخت زیات تیریده ، په هماغه کچه به یې زغم کمیده . هره شپه به چې پر خپل کټ پریوت، هغه څه به یې کول چې ځوانو جنرالانو به کول او دا هغه څه وچې ده به تل د هغو له امله هغه ځوان جنرال غندل او ښکنځل. ده به هم خیال پلو واهه چې د کوم تصادفي پېښې له امله ناپلیون وژلې شوی وي. هغه به دځوانانو په څیر خیال پلوونه وهل ، خو دده او هغو دخیال پلوونو ترمنځ توپیر په دې کې و چې ده به په دغو خیالو کې کومه پریکړه نه کوله، که څه هم دده ددغو خیالونو شمېر له یوه نه نیولې، بیا تر دوو او تر زرګونو پورې وو. څومره به چې دی په دې خیالونو کې ډوبیده ، په هماغه کچه به ددغه خیالونو تصور زیاتېده. هغه به د ناپلیون د ټول پوځ یا یوې برخې دخوځون بېلابېل ډولونه تصورول:

- دساري په توګه د پترزبورګ پلو ته ددغه پوځ ورخوځېدل، پر ښار د کېدونکي مخامخ یرغل یا د هغه کلابندول ، آن په دې اړه به یې فکر کاوه چې ناپلیون به دده خپله وسله دده پرضد کاروي( له هغه څه نه چې دی له ټولو نه زیات ډاریده ). ده به فکر کاوه چې ناپلیون به په مسکو کې پاتې او هلته به ځای پر ځای شي. او کله کله به دې اند ښېښې زوراوه چې د ناپلیون پوځ به د میدین او یوخنوف، سیمو ته به شا ولاړ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو يوازينى څه چې ده يې اټکل نه شو کولاى، هماغه پېښ شول، يعنى له مسکو د ناپليون د وتلو نه وروسته د ناپليون د پوځ لـه الـه ګـولې او سر سامتوب نه ډکې لومړۍ لسې ورځې وې.

دا د ناپليون د پوځ هغه خوځېدا وه چې د فرانسې د پوځ د بشپړې نابودۍ او تالا والا کېدو لاره يې آواره کړه. دا هغه څه وچې کوتوزوف، آن د هغه تصور هم نه شو کولاى.

د بروسې، د پوځ پـه اړه د دوروخـوف ګـزارش، د نـاپليون پـوځ د خوارۍ او دربدرۍ په هکله د پارتيزانو خبرتياوې او هغه آوازې چې لـه مسکوه د فرانسوي پوځ د وتلو پـه بـاره کې خورې وې. دې ټولـو ددې معنـى لرلـه چې د فرانسـې پـوځ مـات شوى، د وتلو لاره لټوي او ځـان تېښتې ته برابروي، خو دا يوازې تصورات وو او آوازې چې د ځوانانو د بوختيا لپاره وې، نه د کوتوزوف لپاره. هغه د خپل شپيته کلن ژونـد د تجربو له برکته په دې پوهېده چې تجربې ژوند کوم لـور تـه سيخه وي. هغه په دې پوهېده، که يوڅوک ديوې خبرې پلوي يا غوښـتونکى وي، څومره به هغه وکولاى شي، هغه په خپله خوښه بدل کړي. دا سې يې بدل کـړي لکـه دى يـې چې غـواړي او دده خوښـه وي. او همدغـه کسـان پـه څومره آسانۍ د خپلې خوښې څه ته مخ اړاوي. له دې کبله هر څومره بـه چې هغه له دغو آوازو او تصوراتو سره لېوالتيا ښودله، ده بـه ځانتـه پـه هماغه کچه ډاډ ورکاوه چې هغه ونه مني. دغو خبرو ، د هغه ټول روح او روان په ځان اخته کړى و. هر هغه څه چې دغـو خبـرو پـورې اړه نـه لرلـه، دده لپاره هېڅ ډول پـه زړه پـورې نه وه. دسترې قوماندانۍ لـه مشـرانو سره دده جرګې مرکې، هغه ليکونه چې له تاروتينـه يـې مېـرمن سـتايل، ته ليکل. درومانونو لوستل، د وياړونو ښنـل، له پترزبورګ سره لکينـه او هغو دليکنو او اخېستنه او داسې نور او نور دده لپاره د ژوند پـه بـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی خبرو بدلې شوې وې، خو دفرانسویانو ماته چې یوازې ده یې اټکل کړی و، دده د زړه یوازینۍ لېوالتیا او خوشالي وه.

داکتوبر دمیاشتې د یوولسمې په شپه یې، سر په لاس ابښی و او په همدې اړه په خیالونو کې ډوب و.

په ګاونډ کوټه کې د ټول، کانوفنینځین او بالاخویتینوف د ګامونو غږ واوریدل شو.

فلیدمارشال پرهغو غږ وکړ:

- های، څوک یاستئ؟

دننه راشئ! راځي! څه خبرونو دي؟

تر هغه چې چوپړ شمعه لګوله، جنرال تول، دلیک ټوله موخه هغه ته وویله.

کوتوزوف وپوښتل:

- دا لیک چا راوړی دی؟

خو چې کله شمعه روښانه شوه، تول، د ستر قوماندان د سړې او ناخوځنده څېرې نه ټکان وخوړ.

-په دې کې هیڅ شک نه شته، جلالتمابه!

-ورغږ کړئ! ورغږ کړئ چې دلته راشي!

کوتوزوف ناست و، یوه پښه یې لاندې ځوړنده کړې وه، بله پښه یې داسې خپل ځان لاندې ورټوله کړې وه چې خپله پړسېدلې، لویه ګېډه یې پرهغه ور ابښې وه. خپله جوړه سترګې یې لاپسې ددې لپاره تنګه کړې وه چې د دوختوروف له خوا رالېږل شوی استازی، ښه وګوري. داسې ښکاریده چې هغه غوښتل، د هغه په بشره کې، د هغه پټې اندېښنې ولولي.

د خپل کمیس پرانتې ګریوان یې، دټټر پر سر راټول او وتاړه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرامه او عمر خوړلي آواز يې دوختوروف ته وويل:

- وايه ! وايه ګرانه ! راواندې شه ! رانېږدې شه ! وايـه څه خبر دي راتـه راوړي دي ؟ ښـه ! وايـه، نـاپليون لـه مسـكوه لاړ ؟ دا رښـتيا دي، څنګه ؟

بالاخويتينوف لومړی ټول هغه څه، پـه هر اړخيزه توګـه ده تـه وويـل چې ده ته يې د ويلو سپارښتنه شوې وه.

كوتوزوف د هغه خبره پريكړه:

- وايه، ژر ژر يې وايه ! دا كرار كرار غږېدل دي، اور را لګوي.

بـالاخويتينوف، خپلـې خبـرې پـای تـه ورسـولې او لارښـو ونـې تـه سـترګې پـه لاره چـپ شـو. جنـرال تـول، غوښـتل چـې څـه ووايـي، خـو كوتوزوف يې خبره پرې كړه. ده خپله غوښتل څه ووايي، خو ناڅاپـه يـې بشره بدله او ګونځې ګونځې شوه. لاس يې د تـول، خواتـه وروغځـاوه ، مخ يې بلې خواته واړاوه او د خپلې كوټې پلو تـه يې چې يـو شـمايل پـه كې راځوړوند او تر نورو برخو څه تياره غوندې وه، ور كتل.

لاسونه يې پر يو بل كېښودل او په رېږديدونكي آواز يې وويل:

- لويه خدايه ! زموږ خالقه ! تاسو زموږ دعا ومنله !

روسيه دې وژغورلـه ! تـا نـه مننـه او شـكر كـوم. لويـه خدايـه ! لويـه خدايه !

او وې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

د دغه خبرله اوريدو نه، بيا دجګړې تر پاى ته رسېدو پورې دکوتوزوف ټولې هلې ځلې يوازې ددې لپاره وې چې که زور وي، که په هيلو، ځيرکۍ يا زاريو ، ددښمن پر پوځ چې په خپل سر د تباهۍ پلو روان و، د خپل پوځ د بې ګټې يرغل او نښتې مخه ونيسي.

دوختوروف، دکمکي يارسلاو پلو ته ځي ، خو کوتوزوف د ټول پوځ خوځون کرار او آرامـوي، دکالوژسکايا د پرېښودو قوماندې ورکوي، ځکه له هغه ځايه وتل، په پوره توګه شوني بريښېده. کوتوزوف، په هرځاى کې شاتګ کوي، خو دښمن د هغه شاتګ ته انتظار نه باسي، هغه شاته تښتي، چور مخالفې خوا ته.

د ناپليون تاريخ ليکونکي مورږ ته په تاروتينې او کمکي يارسلاو کې د هغه جګړيز ماهرتونو انځورونو باسي او دا تصور وړاندې کوي او وايي که ناپليون د روسې ښه فصل لرونکي، حاصل لرونکي جنوبي ولاياتو ته ورننوتلاى واى، څه به پېښ شوي و ؟

خو دوى دا نه وايي چې هېڅ شي او هېڅ څوک ، ددغو جنوبي حاصل راوړونکو ولاياتو دتګ خنډ نه وو(ځکه روسي پوځ دغه لارې ازادې پريښې وې)دغه مورخين دا هېروي چې ناپليون هېڅ شي ځکه نه شو ژغورلي چې د هغه پوځ په خپله لا هماغه وخت دځان ت دباهۍ شرايط برابر کړي وو. ځکه دغه پوځ پر مسکو له ولکې سره سم د خوړو او کالو بې سارې زېرمې تر لاسه کړې، نه يوازې دا چې وې نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای هغه وساتي بلکې هغه يې تر پښو لاندې تالا والا کړې. هغه پوځ چې سميلينسک ته په رسېدو، ددې پر ځای چې د غه نعمتونه وويشي، پر هغوی يې شوکې ګډې کړې. نو دغه پوځ کالوژسکايا ولايت ته په رسېدو ځنګه او ناځاپه کولای شول، سم خلک شي، حال دا چې د کالوژسکايا اوسېدونکي، هماغه شان روسان و، لکه دمسکو اوسېدونکي. لکه هماغه شان چې په مسکو کې اورونو ښار سوځاوه، هلته هم اورونو هرڅه سوځول.

دغه پوځ هېڅ چېرې او اصلا اصلاح کېدونکی نه و. هغه دبارادينو له جګړې نه نيولې بيا دمسکو تر تالان او غلا پورې، په ځان کې د ماتولو او خوساکولو کيمياوي ځانګړتيا لرله.

دغه وګړي، دپخواني پوځ پوځيان له خپلو مشرانو سره، پرته له هغه چې خپله پوه شو، هر څوک هرچېرې او هر پلو تښتېدل (خپله ناپليون او بل هر سرتيري) يوازې يوه هيله لرله، هغه دا چې دی په خپله دغه ګډوډ حالت نه، چې په پوره توګه په هغه نه پوهېدل چې څومره ژر کېږي، ځان وباسي.

يوازې له همدې کبله و چې په کمکی ياروسلاو کې دجګړېيز شورا په جوړه شوې غونډه کې، د جنرالانو دنظر غوښتنې په لړ کې چې هر چا خپل اند ښرګند اوه، کله د ساده سرتيری موتن وغږيد ، د هغه نظر، بې قدره نظر وګڼل شو، که څه هم د هغه نظر د ټولو په زړه کې و او هغه په ډاګه څرګند کړه او وې ويل چې څومره ژر کېږي، بايد ژر ترژره له دې ځايه ووزي، ټولو خوله پټه کړه او هېڅ چا، آن ناپليون ددغه ترخه حقيقت په وړاندې چې ټولو ماته خوړلې ده، څه ونه ويل.

که څه هم دوی ټول د وتلو په اړتيا پوهېدل، خو دتېښتې منل دوی ته شرم برېښېده. يوازې يو بهرنی ټکان په کار و چې دغه شرم مات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او د غه ټکان د اړتیا په وخت کې راپیدا شو او دا د ټولواک د راننوتلو په وخت د (ټولواک د هورا ) ناري وې.

بله ورځ تر جګړیزې جرګې وروسته ناپلیون، سهار وختي په دې پلمه چې غواړي د جګړې لومړۍ کرښې، هغه هم پخوانۍ او راتلونکې کرښې وګوري. هغه له خپلو مارشالانو او چوپړانو سره یوځای د سرتیرو په منځ کې، د هغو منځنۍ کرښې ته ورغي. یرغلګر قزاقان چې د تالان او غنایمو په خیال کې و، ټولواک ته خورا نږدې شوي او کولای شول، هغه اسیر کړي. خو هغوی، ټولواک اسیر نه کړ. ځکه د دوی حرص د هغه د ژغورنې سبب شو. یعنې هماغه څه و چې د فرانسوي پوځ د تالا او تباهۍ سبب شوي و. هغوی د ناپلیون د اسیرولو پرځای، غنایمو او تالان ته مخه کړه او ناپلیون ځان له دوی نه وژغوره.

کله چې د دون زامنو (قزاقانو ) کولای شول، ټولواک ناپلیون، د خپل پوځ په منځ کې اسیر کړي، دا څرګنده شوه چې هغه له چټکې تېښتې پرته، هغه هم له خورا نږدې لارې نه، بل څه کولای نه شو. ناپلیون چې هم له خپلې هغې راوتلې څلویښت کلنې خېټې سره، نور هغه پخوانی چمتوالي او زړورتیا نه لرله. په دې خبره پوه شو. د قزاقانو نه پیدا شوي ډار چې ناپلیون یې پسې اخستی و، سمدلاسه یې د سرتیری موتن خبره ومنله او د تاریخ لیکونکو د وینا له مخې یې د سمیلینسک پلو خپل پوځ ته د شاتګ قومانده ورکړه.

دا چې ناپلیون د موتن د سرتیري ونیا ومنله او پوځ یې شا ته تګ ته اړوت. د هغه د پریکړې دلیل نه و بلکې پر ټول پوځ کې د هغه اغېز کوونکي قوت دلیل و چې هغوی یې د موژاسکي د واټ پر لور خوځاوه او هم مهاله یې پر ناپلیون هم اغیز کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

کله چې انسان په خوځښدا کې وي، هغه تل د دغه خوځښدا لپاره یوه موخه ټاکي. د دې لپاره چې انسان وکولای شي د زرو(۱۰۰۰) ورستو مزل ووهي، باید هیله مند واوسي او فکر وکړي چې د غه مزل ته د رسېدو سره به یو ښه او په زړه پورې ځه ته رسېږي. هغه باید د داسې یوې نیکمرغې مینې تصور وکړي چې په ده کې د تګ تلوسه راوتخنوي.

د فرانسویانو لپاره ، دغه مینه، دیرغل او پرمختګ په وخت کې، د مسکو لاندې کول او د وتلو او شا ته تګ په وخت کې خپل وطن ته بېرته رسېدل و ، خو وطن ډېر ډېر لرې و. او د هغه مسافر چې زر ورست مزل یې تر مخه دی، دې ته اړوزي چې خپله موخه او تکل هېر کړي او ځانته ووایي:

- تر ځلویښت ورست مزله وروسته نن باید ، د دې شپې د تیرولو ځای ته ځان ورسوي. لومړی مزل، دده د ویده کېدو ځای چې دده د وروستي مزل ښې او موخه تتوي او د مسافر ټولې هیلې او غوښتنې په ځان کې رامروړي. هغه هڅه او هاند چې په هر انسان کې جلا راڅرګند بږي د پرګنو په ډله ایز خوځون کې لا پسې ډېرېږي. . . .

د فرانسویانو لپاره د سیمولینسک په پخوانۍ لارې بېرته خوځېدل، وروستی ارمان د دوی خپله مېنه او هغه هم خورا لرې وه او نږدې موخه چې د ټولو په ارمان بدله شوې وه، د سیمولینسک ښار و. دغه ښار ته د هیله مند مزل په توګه کتل، نه له دې کبله وچې په هغه کې، دا اړتیا وړ نعمتونه او نوي رارسېدلي پوځونه پریمانه وو(که څه هم د پوځ مشرانو خپلو وګړو ته دغه شان وعدې نه ورکولې، برعکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن خپله ناپليون هم په دې پوهېده چې خواره او کالي هلته زيات نه دي) بلکې ديوه هيلمند مزل په څير د سيمولينسک ټاکنه له دې کبله وچې، ددغه ارمان ټاکنې دوی ته دا توان ورباښه چې وړاندې لاړ شي او دربښتينو محروميتونو خوند وګوري. هغوی ټولو ، هغه کسان چې پوهېدل او هغه يې چې نه پوهېدل، په يوه کچه ځان په دې تيرا ېستل چې د سيمولينسک پلو ته تګ ،. دوی نيکمرغۍ مېنې ته رسوي، نو ځکه ټولو هغې خوا ته هڅه کوله.

فرانسويانو لويې لارې ته په رسېدو سره، په حيرانوونکې پياوړتيا او بې سارې چټکۍ د خپل تصور شوي هدف او موخې پلو په تېښته وو. ددې ترخنګ په ډله ايزه ، يو آواز او د يو مزل پلو ته تګ ، فرانسويانو ته ستر قوت ورباښه. د هغوی يووالي يو بل علت هم درلود او هغه علت دفرانسويانو ګڼ شمېروالي وو. د هغوی هماغه بې شمېروالي، ګواکې د فزيک د پوهې دجاذبې دقانون پر بنسټ، د هغوی هر يوجلا جلا ، دځان خواته ورکشاوه او سره يو ځای کول يې. د هغوی سل زره کسيزه ډله ديوه ستر دولت په څير يو ځای خوځېدل.

ددغې ډلې هر يوه، يو ارمان درلود او هغه دا چې اسير شي او په دې ډول ددغې بدمرغۍ له وحشته ځان وژغوري. که له يوې خوا ، دهدف او مزل پلو ، د سيمولينسک پلو ته دډله ايز قوت، د هغو هريو ، يوه لورې ته، خوځون ته هڅول، نو له بلې خوا کله چې يو پوځ نه شي کولای ځان ډله ايز اسارت ته وسپاري، که څه هم فرانسويانو له هرې شېبې نه جلا ګټه اخېسته چې يو بل نه جلا او په هرپلمه چې کېږي، ځان روسانو ته ورتسليم کړي. دغه پلمې هغوی ته تل پيدا کېدا ای نه شوې. هماغه بې شمېروالي، ډله ايز خوځون او دخوځون چټکتيا هغوی له دغو پلمو بې برخې کول. او دفرانسويانو ددغه پرګنيز او بې شمېره وګړو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځون د قوت د رول او اېسارول، نه يوازې د روسانو په واک کې نه و، بلکې د غه کار يې ناشونی کاوه .. له ټاکلې بربنډه د يوې چارې تيريدل، او د يو بل ځيز ټوټه ټوټه کېدل د د جلاتوب بهېر چټکولي نه شي..

که هرڅومره تود خه زياته کړو، د واورې يو غونډاري، نه شي کېدای په يو وار اوبه شي، خو د دې لپاره چې هغه واوره اوبه شي، د هغې لپاره يو ټاکلي وخت په کار دی. ځکه برعکس هرڅومره چې تود خه زياته شي، واوره لا پسې سختېږي.

د روسي پوځيانو په ډله کې، له کوتوزفه پرته، بل څوک په دې خبره نه پوهېدل. کله چې د سيمولينسک له لارې د فرانسوي پوځ تېښته په ډاګه شوه، د کانوفينيڅن د اکتوبر د يوولسمې شپې اټکل په رښتيا کېدو شو. د پوځ ټولو مشرانو غوښتل ځان وښيي، مېړني شي، د دښمن د تېښتې خنډ شي، اسيران ونيسي، بربند وکړي او د يرغل غوښتونکي وو.

کوتوزوف په خپل قوت (د هر قوماندان د غه قوت چندان زيات هم نه) هڅه کوله چې د يرغل مخه ونيسي.

هغه نه شو کولای هغه څه، هغو ته ووايي چې نن يې مونږ وايو:

- ولې جګړه ؟ ولې د فرانسويانو د تېښتې مخې ته خنډ واچول شي او خپل خلک او بې شمېره بد مرغه فرانسويان ووژل شي ؟ ولې ؟ د دې ټولو ته څه اړتيا ليدل کېږي چې د دغه پوځ يو په دريمه برخه، له مسکوه د يازما، تر سيمې پورې، د لارې په اوږدو کې، په خپل سر ووژل شوي او تالان شوي دي. دا کار د څه لپاره کېږي ؟

خو هغه د خپل عمر خوږلي ژوند د تجربو له برکته، هغو ته دا سې خبرې کولې چې هغوی نه شو کولي په ژوند کې هم، پر هغو پوه شي. هغه، هغو ته د زرين پله په اړه خبرې کولې. (هغه پل چې تښتېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمن پرېږي تیر شي )هغوی پر ده خندل، پر ده یې لعنت وایه، داړې ورته جینګولې. دا خوا هغه خوا یې ټوپونه ورته اچول او دمړه ځناور پر شا او خوا ګڼه ګوڼه جوړوله او په ځانستاینو کې ډوب وو.

د ویازما سیمې ته نبږدې، ایرمولوف میلادراویچ، پلاتونوف او ځېنو نور چې فرانسویانو ته نبږدې شول، نه یې شوکولای د خپل غچ اخستونکي احساس مخه ونیسي او دد وو فرانسوي پوځونو مخې ته ورونه دانګي او تالا والا یې نه کړي. هغوی له خپلو دغو کړو نه، دکوتوزف دخبرولو لپاره ، هغه ته یو پاکت ولېږه او دلیک پرځای یې په هغه کې سپین کاغذ کېښود.

دکوتوزوف د ټولو هڅو سره سره چې له بربد نه یې د خپل پوځ مخنوی کاوه، بیاهم د هغه پوځ پر دښمن بربد وکړ او د هغو دتېښتې مخه یې ونیوله. پلو غونډونو، هغه شان چې کیسې کوي، د ډهل او نغارې په غږېدو کې پر دښمن یرغل وکړي، وې وژل او په زرګونو تنه خپل کسان یې له لاسه ورکړل.

هغوی دهېڅ چا لاره بنده نه شو کړای، څوک یې تالا والا نه شو کړای او فرانسوي پوځ دغه ګوانښ، لاپسې راټول او په اتفاق کړ او هماغه شان کرار کرار پسې اوبه کېده او دسیمولینسک پلو یې د خپلې تباهۍ مزل واهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم ټوک

# درېيمه برخه

۲۲۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

دبارادينو جګړه، تر هغې وروسته پر مسکو ولکه او بې له کومې نښتې د فرانسويانو تېښته، دتاريخ له خورا اغيزبښوونکو پېښو نه يوه پېښه ده.

ټول تاريخي پوهان په دې خبره يوه ژبه دي چې د خلکو او ددولت بهرنۍ چارې او دريځ او د هغوی په اړه د هغو خپل منځۍ شخړې، دجګړو په توګه راڅرګند يږي. په دغو جګړو کې د وړو يا سترو بريو پايلې د دولت او خلکو سياسي واک يا زياتوي او يا کموي.

دا به ډېره د تعجب او حيرانتيا وړ برېښي چې څنګه کوم يو پاچا يا امپراتور له بل پاچا يا امپراتور سره وران شوی، پوځونه يې راټول کړي، پر دښمن يې ور دانګلي ، پر هغه بريالی شوی، د هغو درې ، پنځه يا لس زره کسان يې وژلي او د خپل دغه بريد له امله يې پر يو ملت او د هغه پر څو ميليونو وګړو ولکه ټينګه کړې ده، خو دا د پوهېدو وړ نه ده چې څنګه د يوه پوځ د ماتې له امله چې د هغه ملت د وګړو سلمه برخه ده، د هغه ټول ملت دلاندې کولو سبب کېږي. دتاريخ ټول شواهد (تر هغه ځايه چې موږ ته څرګند دی)ددې واقعيت څرګندونه کوي چې پر يوه ملت دبل ملت کمکی يا ستر پوځي بری، د هغه ملت د يووالي او ناتوانۍ نښه نه ده. د يوه ملت پوځ ماتېږي او له هغه سره هممهاله د بريالی ملت حقوق پر جګړه بايللی ملت غوره والي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کوي او د پوره ماتې پر وخت کې خو ماتې خوړلی ملت چور د بریالي ملت له خوا لاندې کېږي.

دا تل (د تاریخ په اوږدو کې )همداسې وه. له لرغونو زمانو نه تر ننه پورې، د ناپلیون ټولې جګړې د ددې دود څرګندونه کوي. څومره چې د اتریش پوځ ماتېږي، په هماغه کچه اتریش له خپلو حقوقو بې برخه او پر هغو فرانسوي حقوق لا پسې خورېږي. د (اینوی) او(ایوریشت)په سیمو کې د پروس خپلواکي پای ته رسوي.

خو ناڅاپه، په ۱۹۱۲کال کې د مسکو په څنډه کې د روس پر پوځ بری مومی، مسکو لاندې کوي، خو تر دې نه وروسته، پرته له نویو جګړو، نه یوازې روسیه نه نابودېږي بلکې د فرانسي شپیته زریزه پوځ تالا والا او تر هغه وروسته ناپلیوني فرانسه نابودیږي...

د۱۸۱۲ د جګړې په لړ کې، له بارادینو نه نیولې بیا او بیا د فرانسویانو تر وېستلو پورې، ټول ددې څرګندونه کوي چې په یوه جګړه کې بری، نه یوازې پر یوه ملت لاسبری نه دی، بلکې پر هغه ملت د ولکې کومې دایمي نښې هم نه نه لیدل کېږي. له هغو نه دا څرګندیږي. هغه قوت چې د ملتونو د بري ټاکوونکی قوت ، دا تلو فاتحانو په لاس کې نه دی، آن نه په پوځ او جګړې بلکې په کوم بل څه کې نغښتي دي.

فرانسوي تاریخ لیکونکي چې له مسکوه تر وتلو مخکې د فرانسوي پوځ حالت انځوروي، داسې چې په دغه ستر پوځ کې ، که څه هم هرڅه منظم و ، خو په سورو پوځونو ، توپچي او ترانسپورت کې آن د آسونو او نورو څارویو لپاره وابښه یا نور خواړه هم نه پیدا کېدل. ددغې بدمرغۍ مخه ځکه هېڅچا نیولې نه شوه چې کلیوالو بزګرو خپل وابښه سوځول، خو فرانسویانو ته یې نه ورکول... تصور وکړئ چې دوو تنو تورې سره اخیستي او د تورو د چلولو له ټولو دودونو سره یې غوښتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري وچلوي او سره ونښلي. د دوی سيالي تر ډېرې پورې دوام کوي، خو يو سيال ناڅاپه احساس کړه چې تښتي شوی دی. هغه دا هم احساس کړه چې دا څه تشه لوبه نه ده او ژوند يې له ګواښ سره مخامخ دی، خپله توره يې وارتېرله او پر مخه ورغلې لومړۍ متروکه يې را واخېسته او تر سره يې تاووله. اوس نو تصور وکړئ چې دغه سيال ، په داسې هوښياري او ځيرکتيا ، ترټولو نه ښه وسيله ، خپلې موخې ته درسېدو لپاره کاروله او هممهاله په دې ټينګار کاوه چې په توره او د توري وهلو په ټول مهارت سره سيال مات کړي. کولای شئ تصور وکړئ چې دغه ناڅرګند حالت به څه غوغا ګډه کړي. هغه توري وهونکي چې د توري وهلو د ټولو دودونو له مخې د توري وهلو غوښتونکي وو ، هغه فرانسويان وو او د هغو هغه سيالان چې توري يې وارتېرلې او متروکو ته يې لاس کړ، هغه روسان وو. او هغه خلک چې هڅه يې کوله ، هر څه د توري وهلو د ټولو دودونو له مخې راوسپړي، هغه تاريخ ليکونکی دی چې دغه پېښې انځوروي.

په سميلينسک کې د اورونو د لګېدونه داسې جګړه پيل شوه چې هېڅ شی يې پخوانيو جګړو ته ورته نه وو. د ښارونو او کليو سوځول او تر جګړې وروسته ببرته شاتګ، د بارادينو ګوزار او بيا شا ته تګ، د مسکو سوځول، د خلکو ښارنه او کليوالو نيول، د خوړو کالو د کاروانونو لوټول او غلچکۍ جګړې، هغه څه و چې د يوې جګړې ځانګړتيا هم نه لري.

ناپليون، له هماغه وخته چې په مسکو کې ميشت شو او ښه تورزن دريځ يې غوره کړ او د توري پر ځای يې پر سر لوړه متروکه وليدله، پرله پسې يې کوتوزوف او ټولو اکساندر ته ريباران ورلېږل او خواشيني يې څرګندوله چې جګړه د خپلو ټولو دودونو برخلاف روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. (ګوا کې د انسانانو د وژلو لپاره په رښتيا هم کوم دود ، دود دی). که څه هم فرانسويانو د جګړيز دود ، له سرغړونو نه شکايت درلود ، که څه هم په جګړه کې د روس دلوړپوړو قوماندانانو د متروکو کارول ، معلوم نه و ، ولې شرم يې ګاڼه او غوښتل يې چې د توريالیو د ټولو دود دستور ته په پام کې، له دښمن سره د تورو په نڅا کې، دربيم او څلورم دريځ تر لاسه کړي او داسې هنر څرګند کړي چې لومړی هغه ته ورسېږي. په دې توګه په ولسي جګړه کې ، له پرتم او ښکلا نه ډکې متروکې ، پرته له هغه چې دچا دخوښۍ او ناخوښۍ خيال وساتي، په خپل ټول قوت پورته شوې او په احمقانه سادګۍ، خو خورا هدفمنده بڼه بې له هغه چې په څه پوه شي، پورته کېدې، رالويدې او تر هغه پورې دفرانسويانو پر ککرو لګېدې چې يرغلګر پوځ يې تالا والا کړ.

پر هغه ملت دې ویاړ وي چې ۱۸۱۳ کال کې چې کله د فرانسويانو برخلاف جګړه پای ته ورسېده، د جګړې د ټول دود دستور ته په درناوي، توره ښکته او غلاف ته يې کړه. دوی نه يوازې په ماته غاړه توره ستر سيال ته وړاندې کړه بلکې هغه يې د هغه ترمخې يې کېښوده.

او وياړ دې وي پر هغه ملت چې د بدمرغۍ په ورځ، په دې خيال کې نه وي چې نور ملتونه، په دې ته ورته ورځو کې څه کوی؟ او په خورا سادګۍ او آسانۍ هغې لومړې متروکې ته لاس وراچوي چې پر مخ ورځي، هغه را اخلي او تر هغه پورې يې چورلوي او دښمن پرې وهي چې د هغه په روح کې د غچ او سپکاوي احساس په خواخوږۍ او زړه خوږي بدل نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

دجګړې د تش په نوم دود دستور نه، په سرغړونو کې يوه تر ټولو د پام وړ او ګټوره سرغړونه، پر منظم او ټينګ پوځ، د ګډوډو او تيتو پرکو خلکو يرغل دی. دغه ډول چارې تل په هغو جګړو کې پېښېږي چې جګړه ولسي او ملي بڼه پيدا کوي. په دغو ډول ښتو کې ددې پرځای چې يوه ډله دبلې ډلې په وړاندې ودرېږي، يوه خوا په وړو وړو ډلو ويشل کېږي، په يو وزري ډول پر دښمن غلچکي بريدونه کوي، دسترګو په رپ کې تښتي، بيا چې ددښمن لويه ډله په دوی بريد کوي، دوی خپله وخت ته په پام سره بيا بريد کوي. دغه غلچکيان يا جګړه مار همداسې جنګېدل، دقفقاز غرنيو همداسې کول او د ۱۸۱۲ کال په جګړه کې روسانو همداسې وکړل.

دغه ډول جګړه، دپارتيزاني جګړې نوم ګټلی دی او داسې ګڼل کېږي چې دغه نوم د هغه اهميت ته په پام کې خورا غوره نوم دی. خو دا بايد وويل شي چې دغه شان جګړه نه يوازې د يو دود دستور سره هم برابره نه ده بلکې د ټولو جګړيزو دودونو برخلاف او دتاکتيکي جګړې له اصولو نه لرې ده. دجګړې دود دا وايي چې يرغلګر بايد خپل پوځ له کبله ښه راټول کړي چې دسيال دبريد په وخت کې پياوړي واوسي.

پارتيزاني جګړه( لکه هغه شان چې تاريخ ښيي، پارتيزاني جګړه تل ګټونکې ده )چور ددغه دستور نه وتلې او لرې جګړه ده.

دغه لرې والي په دې کې دی چې په جګړه پوهنه کې، ديوه پوځ پياړتيا او قدرت د هغه شمېر پوره اړه لري، يعنې چې څومره د پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر زيات وي، په هماغه کچه د هغه پياوړتيا او قوت زيات وي(برى تل د ګڼشمېره پوځونو په برخه دى)...

د تاريخ په اوږدو او د جګړه پوهنې په بهېرکې ډېرې داسې بېلګې پيدا کولاى شو چې د پوځ زياتوالى، د هغو د قدرت نښه نه وه او خورا وړو ډلو پر خورا سترو پوځونو برى تر لاسه کړى دى...

په ۱۸۱۲ کال کې چې فرانسويان شا ته تلل، خو د تاکتيک له مخې هغوى بايد په وړو وړو ډلو کې له ځايه دفاع کړې واى، خو بيا هم دوى هڅه کوله سره غونډ او يوځاى واوسي. ځکه د هغو روحيه داسې خرابه شوې وه چې يوازې يو ځاى يې کولاى شو، څه ښه شي، د دې برعکس روسانو بايد د پوځي تاکتيک له مخې، ډله ايز بريد کړى واى، خو هغوى په وړو وړو ډلو کې ځکه وويشل شول چې روحيه يې خورا لوړه او پياوړې وه او پرته له هغه چې کومې سپارښتنې او قوماندې ته سترګه په لاره ښى، پر فرانسويانو يې يرغل وکړ او له کومې اړتيا پرته يې د ګوابن څپو ته ور دانګل او خوار يې ګالللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

سمیلینسک ته د فرانسویانو په ننوتو سره یوځای پارتیزاني جګړه پیل شوه.

تر هغه مخکې چې زموږ حکومت (روسیه) په رسمي توګه پارتیزاني جګړه ومني، قزاقانو او بزګرو کلیوالو، د دښمن په زرګونو تنه پوځیان، پر کلیو یرغلګر او دوښو یو وزري غله او داړه مار وژلي وو. هغوی پر خپل سر، بې کومې ځانګړې کړنلارې او سپارښتنې، لکه سرسام سپي چې پرلیونو سپي داړې لګوي، پر هغو یرغل کاوه؟

دینیس داویدوف، لومړنی څوک و چې په خپلې روسي ځانګړتیا او ځیرکتیا، د هغې پورته شوې وحشتناکې متروکې او وسلې په قوت او پیاوړتیا پوه شو چې د جګړې هېڅ ډول دود د ستور او هنر ته یې غاړه نه کېښوده او پر فرانسویانو یې تالان ګډاوه او نابودول یې. د دغې ډول جګړې قانوني کول، د هغه د لومړي ګام ویاړ، د هغه ویاړ ګڼل کېږي.

د اګست په ۲۴ نېټه د داویدوف لومړنۍ پارتیزاني ډله په رسمي توګه جوړه شوه او تر هغه وروسته بیا نورې ډلې هم رامنځ ته شوې. هر څومره چې جګړه اوږدېدله، په هماغه کچه د دغو ډلو شمېر زیاتېده.

پارتیزانو، ستر پوځ (د ناپلیون پوځ) ډلې ډلې او ټوټې ټوټې کړ. هغوی د فرانسوي پوځ له وچې شوې ونې نه، راتویې شوې پاڼې ټولولې او کله ناکله به یې ونه هم ښوروله. د اکتوبر په میاشت کې چې کله فرانسویان د سمیلینسک پلو ته په تېښته وو، د دغو پارتیزانو ډلو شمېر سلګونو ته رسېدلې وې، چې هره یوې ځانګړې اندازه او حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود. د یوې ډلې مشر، د کلیسا د یو مشر "چلي "لاسمل و چې د یوې میاشتې په اوږدو کې یې څو سوه اسیران نیولي وو. د واسیلي په نامه د یوه کلیوال مشرښځې هم په سلګونه فرانسویان وژلي وو.

د اکتوبر په وروستیو نېټو کې د پارتیزاني جګړې سختې شپې او ورځې وې. د جګړې لومړی پړاو تېر شوی و. په هغه پړاو کې پارتیزانان ، له خپلې زړورتیا نه په حیرت کې خو هره شېبه له دې نه ډارېدل چې د فرانسویانو له خوا محاصره او اسیر نه شي ، نو ځکه دوی هېڅکله آسونه کراری ته نه پرېښودل. له هغو نه ښکته کېدل، په ځنګلونو کې پټېدل او دې نه ډارېدل چې دښمن یې پسې وانخلي. اوس نو د جګړې بهیر تاکل شوی او ټول په دې پوهېدل چې د فرانسویانو په وړاندې څه وشي او څه ونه شي. اوس یوازې د هغو قطعاتو قوماندان چې له خپلو قوماندانانو سره یې د جګړېز پوهنو له مخې فرانسویان له لرې څارل، لا تراوسه هم ځینې عملیات ناشوني ګڼل. وړو پارتیزاني ډلو چې له پخوا نه یې خپلې چارې او عملیات شوني ګڼل چې د لویو قطعاتو قوماندانانو د هغو په اړه آن د فکر کولو توان هم نه درلود. قزاقان او کلیوال بزګر چې د فرانسویانو منځ ته یې تګ راتګ درلود ، اوس یې د هرې چارې سرته رسول شوني ګڼل.

د اکتوبر په دوه ویشتمه دینیسوف چې د یوې پارتیزاني ډلې مشرې کوله. له خپلې ډلې سره په یوه لرې سیمه کې په لیوالتیا هلې ځلې کولې او لا سهار وختي خوځېدلی و. هغه ټوله ورځ د لویې لارې ترخنګ په یوه ځنګله کې د هغه فرانسوي کاروان لاره څارله چې د سواره پوځ خورا ډېرې وسلې خواره کالی او روسي اسیرانو د خبرتیا له مخې د خورا لږ شمېر ساتونکو تر څارنې لاندې د سمیلینسک پلو ته روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه کاروان له شتوالي نه، نه یوازې دینیسوف او دولوخوف (هغه هم د یوې پارتیزانې ډله پارتیزاني ډله مشرې کوله) چې له دینیسوف سره نېږدې شا او خوا کې و، خبر و، بلکې دا خبر دځېنو لویو قطعاتو قوماندانانو ته هم رسېدلی و او لکه هغه شان چې دینیسوف ویل، هغو ته یې غاښونه تیرول. ددغو پارتیزانو ډلو نه، د دوو لویو مشرانو چې یوه ډله یې پولندي او بله یې جرمنه وه، څه کم همهاله دواړو، دینیسوف ته بلنه ورکړه چې د دوی له پارتیزانو ډلو سره یوځای او په ګډه به، پر دغه کاروان برید وکړي.

دینیسوف چې دغه لیکونه ولوستل وې ویل:

-نه ورونو! ماهم بریت هسې بې ځایه نه دی غوړ کړی.

هغه دلیک تر لوستلو وروسته جرمن قوماندان ته ولیکل چې د هغې ټولې هیلې او مینې سره چې دی یې ددغه شان یو زړور او پېژندل شوي جنرال، تر قوماندې لاندې کار ته لري، هغه باید ددغه نیکمرغۍ نه ځکه ځان بې برخه کړي چې هغه لا دمخه د پولندي قوماندان، قوماندانی منلې ده، هغه پولندي قوماندان ته هم دې ته ورته لیک ولیکه او هغه ته یې ولیکل چې هغه د جرمن قوماندان قوماندانی منلې او له هغه سره یوځای شوی دی.

دینیسوف چې په دې ډول ځان د مشر قوماندانانو نه راخلاص کړ، تکل یې وکړ، پرته له هغه چې خپلو مشرانو ته خبر ورکړي. خپله له دولوخوف سره په ګډه برید وکړي او د خپل لږ شمېر قوت په مرسته دغه کاروان اسیر کړي.

دغه کاروان د اکتوبر په دوویشتمه د میکولینه له سیمې نه د شمیشیووا خواته په غځېدلی، یو لوی ځنګل کې پروت و چې په ځېنو ځایو کې دلارې غاړې ته نېږدې او په ځېنو ځایو کې د یو ورست په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه لرې و.

دینیسوف یوه ټوله ورځ په دې ځنګل کې پاتې شو. کله به د ځنګل زړه او کله به د هغه څنډو ته ووت او پر له پسې یې د فرانسویانو کاروان څاره. هماغه ورځ سهار میکولینې ته نږدې، په هغه سیمه کې چې لاره ځنګل ته نږدې تیریده، په ختهو کې د فرانسویانو دوه ښتې کراچۍ لاندې او له ځانسره یې ځنګله ته یوړې، خو له هماغې شېبې نه تر ماښام قضا پورې، پرته له هغه چې په کاروان برید وکړي، فرانسویان یې څارل.

هغوی باید فرانسویان ډار کړي نه وای او په کراره یې پرېښي وای چې د شمیشوا تر سیمې پورې په آرامه تللي وای او بیا له دولوخوف سره په هغه ځنګله کې چې ماښام دوی هلته د پېښیرې لپاره دد بره کېدو پریکړه کړې وه، سره یوځای شوی وای. (له شمیشوا نه یوورست لرې) او بیا په سپیده داغ کې، د ځنګله له دواړو خوا او نه لکه واوره داسې پر فرانسویانو راتویې شوي وای، برېد یې کړی وای او ټول یې اسیر کړي وای.

له دوی نه دوه ورسته واټنه لرې شاته، د میکولینه په سیمه کې چې ځنګل له هرځایه زیات لارې ته رانږدې شوی و، ددې لپاره شپږ قزاقان درول شوي او ګمارل شوي وو چې د فرانسویانو په راښکاره کېدو سره سمدلاسه دوی ته خبر ورکړي.

دولوخوف هم باید کټ مټ له شمیشوا نه دوه ورسته وړاندې لاره داسې تر څارنې لاندې نیولې وای چې دا ورته ښکاره وای چې فرانسوي پوځونه په کوم واټن کې را روان دي. داسې تصور کېده چې د فرانسویانو په دغه کاروان کې تر یوزرو پنځه سوه تنه را روان وو. خو د دښمن د پوځ زیاتوالي دینیسوف نه ډاراوه. دینیسوف یو څه ته اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرله او هغه دا چې پوه شي د دښمن دغه قوتونه، کوم پوځيان دي ؟ هغه په دې کار د پوهېدو لپاره يوې ژبې (يعني د دښمن نه يوه سړي ته) اړتيالرله. هغه ورځ سهار د دغې هيلې د سرته رسېدو لپاره ، دغه کار په داسې يو تلوار ترسره شوی و چې د دوی د يرغل په پايله کې، د فرانسويانو د يوې ګاډۍ ټول پوځيان وژل شوي وو او يوازې يو زلمی ډولچي چې له خپلې ډلې نه شاته پاتې و ، نيول شوی و. خو دغه زلمی ډولچي په دې اړه چې په دغه کاروان کې څه ډول پوځيان روان دي، هېڅ نه پوهېده.

دينيسوف، پر کاروان دويم بريد له ګواښه ډک ګاڼه، ده نه غوښتل چې په دې کار سره په ټول کاروان ګډوډي ورګډه کړي، نو ځکه يې په خپله ډله کې تيخون شيربتوا نومی کليوال بزګر د شميشوا سيمې ته وراندې مخکې له مخې ورلېږلی و چې که کېدای شي، د فرانسوي پوځ له ډلې نه لږ تر لږه يو تن اسير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

دمني يوه توده، خو له اوربښته ډکه ورځ وه. تا به ويل چې آسمان او افق دواړه په يوه رنګ خړپړ وو. کله به د لړو لمن راخوره او کله به دباران سخته څپه تيره شوه.

دينيسوف، ورين کوټ په غاړه او پاپا نومې خولۍ يې پر سر چې دباران څاڅکي ترې څڅېدل، پر يوه اصيل ډنګر آس سپور و. هغه هم د خپل آس په څير ، د سخت باران له زوره سر ښکته ځوړند او غوږونه ځړولي، تندی تريو او په خورا پريشانۍ يې وړاندې کتل. که څه هم تورو لنډه ږيره يې رسېدلې وه، خو وچ ډنګر مخ يې له قهره ډک بربښېده.

د دينيسوف څنګ ته ، دده په شان ورين کوټ په غاړه او پاپاخينه(له قرقل نه جوړ شوې اوږده خولۍ) نومې خولۍ پر سر اا ېساول قزاق چې دده مرستيال ګڼل کېده پر آس سپورروان وو.

دربيم افسر، اا ېساول لاوايسکي و. هغه هم ورين کوټ اغوستی او پاپاخينه خولۍ يې پر سر وه او لوړه نرۍ ونه يې لکه دړه داسې کږه شوې وه. هغه سپينه بشره، ژېړې څېې، تنګې خو رڼې سترګې لرلې. ډاډمنې آرامې څېرې او پر آس ناستې يې پر ځان د ډاډ او راضيتوب څرګندونه کوله. که څه هم په لومړي نظر کې دا ګرانه خبره وه چې د سواره او د هغه دآس ځانګړتياوې څرګندې شي، خوبيا هم د دينيسوف او ايساول له لومړي وار ليدو نه دا څرګنديدله چې باران وهلي، لامده شوي او دا ګرانه پرې تمامېږي. داسې تصور کېده چې دينيسوف پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



آس ناست سړی دی، خو اېساول داسې نه برېښېده، اېساول د تل په څېر آرام او داسې نه و چې ګواکې سړی پر آس ناست دی بلکې آس او پر هغه سپور سړی یو برېښېدل.

تر هغو نه څه وړاندې یو کلیوال سړی روان و، هغه د لاربښود دنده لرله. ورښت ښه لوند کړی و، جاکټ پر غاړه او خولۍ یې پر سر وه. لږ شاته پر یو یوه ډنګر قرغزي آس چې لوړیال او اوږده لکۍ یې لرله، یو ځوان افسر سپور و. هغه شین بخوند فرانسوي کوټ هم اغوستي و. شونډې یې چاودلې او وینې ترې بهېدلې، د هغه څنګ ته یو سپور پوځي روان و. هغه ځان پسې شاته د آس پر ذین یو فرانسوي زلمی چې زړه شلېدلې پوځي دریشي یې اغوستې وه او خولۍ یې پر سر وه، کېنولی و. دغه زلمي له یخنۍ نه سره شوي لاسونه، تر سواره نه تاو کړي وو. زلمي خپلې بربنډې پښې په دې هیله ښورولې چې ګواکې په دې ډول یې تودې کړي. هغه وروځې برندې کړې وې او په حیرت یې شا او خوا کتل. دغه فرانسوي ډولچي و چې نن سهار اسیر شوی و.

د هغو تر شا، پر یوې نرۍ له چیکړو ډکې ځنګلي لارې چې د آسونو له ګڼه ګوڼې لا پسې چیکړنه شوې وه، درې درې، څلور څلور سواره، هغوی پسې قزاقان چې چا وړین او چا هم فرانسوي کوټونه اغوستي وو او یو خو یې آن د آس یو ځل هم پر ځان اچولی و، روان وو. آسونه که څه هم ژیړ بخون او څه سره بخون وو، تول د باران له لمدیدو نه توربخون برېښېدل. د آسونو یالونه سخت لامده شوي وو او غاړې یې عجیبې نرۍ برېښېدې. له آسونو نه بخار پورته کېده. د ټولو وګړو کالي لکه د آسونو د ذینونو د جلوونو دریښکۍ په شان، لکه ټوله ځمکه او پر ځمکې د پرتو پاڼو په څېر لامده او سریښناک شوي وو. پر آسونو ټولو ناستو خلکو سرونه ښکته نیولي وو او هڅه یې کوله، ځکه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوري چې له کاليونه ځان ته رسېدلې او به په ځان تود يې او پر ښېږدي چې نورې او به يې، پښو، ځنګونو او غاړو ته ورننوزي.

د قزاقانو د روانو کرښو په منځ کې، دوه کراچۍ چې فرانسوي آسونو پورې تړې وې او بيا د دغو آسونو افسارونه د قزاقانو د آسونو افسارونو پورې نښتي وو، مخ وړاندې روانې وې. د دغو کراچيو ارابو، پر ځمکه د پرتو غونډانو (د ونې کونده) او شاخو سره له لګېدو نه شر او شور جوړاوه او د آسونو قدمونو د لارې په ډنډونو کې شړپ او شړوپ کاوه.

د دينيسوف آس په لاره کې له يوه ډنډ نه لاره چپه کړه، يوې خوا ته کوږ او د هغه ځنګون يې له يوې ونې سره ولګاوه.

دينيسوف په قهر سره چغې کړې:

-آخ ! څه کوئ !

خوله يې جينګه، غابښ ښکاره او آس ته يې درې ګوزاره ورکړل. هغه په دې کار سره ځان او خپلو ملګرو ته ختې وروشيندلې. د دينيسوف طبعه خورا خرابه وه. هم باران او هم لوږې، دواړو د هغه طبيعت ور ختېه کړی و. (له سهاره راهيسې هېڅ چا، هېڅ نه و خوړلي) خو تر ټولو نه لا بده خبره دا وه چې د دولوخوف هېڅ پته نه لګېده او نور هغه کسان هم چې د اسيرانو يرغمل کولو پسې تللي وو، لا تر اوسه بېرته راستانه شوي نه وو.

دينيسوف په زړه کې ريبل او کرل او له ځانسره ويل:

-بيا به خدا چې په دې لاره داسې کاروان راشي. هېڅکله !

په يوازې ځان يرغل خورا ګوابښمن دی، خو بلې ورځې ته ځنډ يدل هم دا ګوابښ لري چې دغه غوړه مړی به زموږ له لاسه د پارتيزانو کومه بله لويه ډله خپله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینیسوف، له ځانسره غږیده، لږې لږې، چېرته وړاندې یې کتل او د دولوخوف له خوا درالېږل شوي ریبار لاره یې څارله.

دینیسوف له ځنګله نه راووت، په هغه ځای کې چې ښی خواته تر لرو لرو معلومېده، ودرید، هغه وویل:

-- کوم څوک را روان دی.

ایساول هغې خواته چې دینیسوف ښوده کتل او وې ویل:

-- دوه تنه دي، یو افسر او یو قزاق.

د هغه تل دا خوښیده چې داسې شدل وغږېږي چې قزاقان پرې پوه نه شي:

- یوازې ددې تصور نه کېږي چې په خپله ډګروال دی وي.

دغونډیو پر لمن کې د دوی خواته را روان کسان له سترګو پناه ه، خو څو دقیقې وروسته بیا راښکاره شول. مخکې را روان هغه یې، افسرو چې سترې ستومان آس یې د متروکې په وهلو خوځېدو ته هڅاوه. څنې یې جړې، ګډې وډې او باران وهلې وې. تر هغه وروسته یو قزاق و، چې پر رکاب ولاړ و او خپله کراچۍ یې زغلوله، را راوان و. دغه افسر خورا ځوان زلمی و، تکه سره بشره، نا ارامه سترګې او خپله خندنی وه. هغه د دینیسوف خواته ور ودانګل او هغه لیک یې، هغه ته ورکړ چې باران لوند کړی و.

افسر هغه ته وویل:

- دا د جنرال له خوا نه دی. ښښنه غواړم چې لوند شوی غوندې دی.

دینیسوف تندی تریو کړ، لیک یې واخېست او هغه یې خلاص کړ.

ځوان افسر، ایساول ته مخ ورواړاوه او په داسې حال کې چې دینیسوف لیک لوسته، هغه ته یې وویل:

-- ټولو ویلې چې ګواښ دی، ګواښ دی، غواړم وو ایم چې ما او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکاروف (هغه قزاق ته یې اشاره وکړه چې ورسره روان و ) ځانونه چمتو کړي وو. هر یو مو دوه اون.. خو همدا چې سترګې یې په فرانسوي ډولچې ولګېدې، خپلې خبرې یې پرې کړې او وې پوښتل:

- دا څوک دی ؟ اسیر دی ؟ تاسو نښتې هم کړې دي، اجازه دی، له هغه سره وغږېږو ؟

په دې شېبه کې دینیسوف، هغه چاته چې لیک یې ورکړی و، ورودانګل او چغه یې کړل:

- رستوفه ! پیتیا ! تا ولې ونه ویل چې ته څوک یې ؟

دینیسوف وموسېد، مخ یې وروا ړاوه او دافسر لاس یې کېښکود. دغه افسر پتیا رستوف و.

هغه په ټوله لاره کې دې ته ځان چمتو کاوه چې څنګه له پخوانۍ آشنایۍ، دوستۍ او یادونې نه پرته دیوه غوره او مشر افسر په شان له دینیسوف سره مخامخ شي، خو همدا چې دینیسوف هغه ته وموسېد، پیتیا هماغه شېبه له خوښۍ نه تک سور واوښت، خپله رسمي ځانګړتیا او حالت یې هېر شو او داکیسه یې پیل کړه چې څنګه دی د فرانسویا له څنګه راتیر شو او دا چې دی څومره خوشاله دی چې ده ته دغه چاره سپارل شوې ده. هغه دا هم وویل چې ده د یازما، په نښته کې ګډون کړی دی او لیدلي یې دي چې څنګه یو سپور تر نورو نه په تو پیر او غوره جنګېده.

دینیسوف د هغه خبرې پرې کړې او وې ویل:

- ستاسي له لیدو نه ډېر خوشاله یم.

او پر بشرې یې بیا د خواشینۍ څپه راخوره شوه. هغه مخ ابساول ته وروا ړاوه او وې ویل:

- میخایل فیوکلیتچ ګوره ! دا لیک بیا د هغه الماني له خوا رالېږل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی. دا د هغو له ډلې نه دی.

او دینیسوف بیا کیسه پیل کړه چې دې الماني په دغه لیک کې چې دوی ته رالیږلی دی، خپله هغه غوښتنه بیا لیکلې ده چې هیله کوي، پر فرانسویانو د برید لپاره د دوی له ډلې سره یو ځای شي. ده د پایلې په توګه یې وویل:

- که سبا ته مو د دغه د فرانسویانو کاروان لاندې نه کړو، هغوی به دغه غوره مرۍ زموږ له ستوني وباسي.

کله چې دینیسوف له اسپاول سره غږېده، پیتیا د هغه د خبرو له بې پروایۍ نه څه خوابدی او نا آرامه شوی و او داسې یې انګېرله چې ګواکې د دې حال سبب، د ده د پطلون پایڅې وې، چې یوه ښکته او بله پورته وه، نو ځکه یې هغه تر کوټ لاندې داسې جوړې کړې چې د هېڅ چا ورته پام نه شو او څومره چې کولای شو، هومره یې هڅه کوله خپله پوځي بڼه غوره کړي.

د درناوي په نښه یې لاس خولۍ ته ورپورته کړ او بېرته یې د "یاور جنرال "لوبې چې مخکې له مخکې یې ځان د هغې لپاره چمتو کړی و، پیل کړې، هغه وویل:

-عالیجناب که کومه سپارښتنه ولرئ؟

دا به راته وو وایئ، بېرته خپلې قطعې ته لاړ شم او که دلته پاتې شم؟

دینیسوف چې په خیالونو کې ډوب و، وې ویل:

-هو کې، ایا ته کولای شي تر سبا پورې دلته پاتې شي؟

پیتیا چغې کړل:

-آخ! څومره ښه! زه کولای شم له تاسو سره پاتې شم؟

دینیسوف وپوښتل:

- د جنرال امر څه و؟ سمدلاسه باید ورستون شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیتیا تک سور شو او په ننواتې پوښتنیزه ډول يې وويل:

- هغه په دې اړه کومه سپارښتنه نه ده کړې، تصور کوم پاتې کېداى شم.

دينيسوف وويل:

-ښه ده چې داسې ده. پاتې شه.

هغه خپلو ګړو ته مخ وروا اړه او سپارښتنه يې وکړه په ځنګل کې خپلو دمه ځايو پلو ته لاړ شي، هغه پيدا کړي، وپوښتي چې هغه د شپې راځي که نه راځي. هغه خپله غوښتل چې له ايساول او پيتيا سره د شميشوا پلو د ځنګله لمنو ته لاړشي او له هغه ځايه د فرانسويانو د نن شپې دمه ځاى او هلته د هغو ځاى پر ځاى کېدل وګوري.

هغه ، هغه کليوال بزګر ته چې د دوى لارښوونه يې کوله، وويل:

-- ښه، رېروريه ! موږ به شميشوا ته ورسوي.

دينيسوف، پتيا او ايساول له څو قزاقانو او سواره پوځيانو سره چې اسير يې چېرته بوو ، له کينې خوانه په شيليو کې، د ځنګل پلو وروخوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

باران دریدلی و، خو یوازې لړې خورې او د ونو له څانګو څاڅکي څڅېدل. دینیسوف، اېساول او پیتیا په چوپه خوله خولۍ پر سر پلن پوندي کلیوال بزګر پسې چې د دوی لارښوونه یې کوله، روان وو.

کلیوال بزګر چې کله د لارې ګرځني ته ورسېد، ودرید او په داسې حال کې لاس یې ښوراوه، په یوډول رازه ډکه خوځېدا سره یې هغوی، خپل پلو وربلل.

دینیسوف او پیتیا هغه پلو ورغلل، له هغه ځایه چې هلته هغه کلیوال بزګر ولاړ و، فرانسویان لیدل کېدل. له دې ځایه ځنګله ته څېرمه تېټو غونډیو ته ورته ډاګونو نه لیدل کېدل. د تونډې ښکتې شیلې خوا ته، یو کوچنی کلی چې د خان کور په کې وران برېښېده، لیدل کېده. په دغه کوچني کلي او د هغه دخان په کور کې، د هغه په ټولو کروندو او باغونو کې، د هغه په شا او خوا څاګانو او نهرونو کې او د پله او د کلي ترمنځ تر دوه سوه سازانه واټن پورې په لاره کې، دلـړو په منځ کې، د خلکو بې پایه ګڼه ګونه او ډلې لیدل کېدې، د هغو غیر روسي غږونه او چغې، د هغوی آسونه چې کراچۍ او ګاډۍ یې مخ پورته کشولې. دغه راز د هغو د غږېدا آواز هم له ورایه اوریدل کېده.

دینیسوف، پرته له هغه چې سترګې له فرانسویانو نه بل پلو واړاوې، په کرار آوازیې وویل:

- هغه اسیر دلته راولئ

قزاق له آسه راښکته شو او ډولچي زلمی یې له ځانسره دینیسوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بوت. دينيسوف د فرانسويانو ډلو ته د کتو په ترڅ کې وپوښتل چې هغه څوک او د کومې قطعې دی. زلمي خپل له يخه بې حسه شوي لاسونه په جيبونو کې ومنډل، وروځې يې پورته واچولې او په وحشت وحشت يې دينيسوف ته کتل. که څه هم داسې برېښېده چې هغه هيله لري، ټول هغه څه چې دی پرې پوهېږي، ووايي، خوبيا يې هم ځوابونه څه ګډوډ ښکاريدل او يوازې يې دد ينيسوف پوښتنو ته دتاييد سر ښوراوه. دينيسوف تندی تريو کړ، له زلمی نه يې مخ واړاوه او خپلې انګېرنې يې ابساول ته بيان کړې.

پيتيا په چټکۍ خپل سر خوځاوه، کله به يې دغه ډولچي زلمي، کله به يې دينيسوف، کله به يې ابساول او يا به يې هغو فرانسويانو ته چې په کلي او لارو کې روان وو، کتل. هغه هڅه کوله کوم مهم څه له پامه ونه غورځوي او هر څه سم واوري. د دينيسوف سره يې سترګې وځلېدې او په خوشالۍ يې وويل:

- دولوخوف راشي او که را نه شي، بايد مرستې ته يې ورودانګو، څنګه؟

ابساول وويل:

- ځای ډېر ښه ځای دی. دينيسوف دوام ورکړ:

- پلي به ښکته خوا ته، دجبې له لارې ورولېږو او دوی به باغ ته ور ننوزي او تاسو به له قزاقانو سره له هغې خوانه ورشئ.

دينيسوف، دکلي شاته ځنګله ته اشاره وکړه او زه به له خپلو سورو سره له دې خوا نه، خو په دې وخت کې و چې دډزو غږ واوريدل شو...

ابساول وويل:

- دشيلې له لارې تګ ناشونی دی، آسونه به په جبې کې ډوب شي. هغوی بايد له ښۍ خوانه را تاو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې اوږدو کې چې دوی دواړه په کراره غږېدل، تر دوی نه ښکته په شیله کې، دیوې چینې لخوا نه دډزو غږ واورېدل شو. بیا د نورو ډزو غږ او تر هغه وروسته له ډزو نه پورته شوی سپین لوګی راښکاره شو. بیا د فرانسویانو ډله ایز شر او شور چې ګواکې د خوښۍ انګازې ترې خورېدې، دغونډۍ له لمنو نه واورېدل شو.

په لومړیو شېبو کې دینیسوف او اېساول څه ټکني غوندې شول او شاته یې ودانګل. دا ډزې او غږونه دومره دوی ته نږدې وو چې، داسې یې وانګېرله چې خپله د همدې ډزو او شر او شور موخه دې. یوتن چې سره بخون کالي یې اغوستي وو، دجبې له پلوه ددوی خواته منډې راوهلې، داسې ښکاره شوه چې دډزو او دفرانسویانو دچغو ښبه همدا سړی وې.

اېساول غږ کړل:

- اوهو !وګورئ !دا خو زموږ خپل تیخون دی.

-هوکې، هو دی به خپله دی.

دینیسوف وویل:

-ډېر دوکه مار دی.

اېساول سترګې تنګې کړې او وې ویل:

-ترې تښتئ.

هغه سړی چې ویل کېده ، تیخون دی، په چټکۍ ځان سیند ته ورساوه او داسې دسیند څپو ته ورودانګل چې شا او خوا ته یې د اوبه و شیندل شوې. هغه یوه شېبه تر اوبو لاندې ورک شو ، خو همدا چې دساحل غاړې ته ورسېد ، تک تور له اوبو راووت او په منډه شو ، هغه فرانسویان چې دی یې پسې اخېستی و ، ودریدل.

اېساول وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې، ښه کار کوي.

دينيسوف، په هماغه خوابښيني او غمجن غږ وويل:

-دوکه مار دی، هغه تر اوسه بورې، آپلو څه کول ؟

پيتيا وپوښتل:

-دا څوک دی ؟

-دا زموږ د استخباراتو او امنيت سړی دی، مالېږلی و چې اسيران ونيسي.

پيتيا وويل:

- هو کې، هو کې !

هغه دد ينيسوف له لومړۍ خبرې سره داسې سر ښوراوه چې ګواکې هر څه چې اوري، دی پرې پوهېږي، حال دا چې هغه، د هغه څه نه چې ده ته ويل کېدل ، په يوه خبره هم نه پوهېده.

***

تيخون شيرباتی، دقطعې يو له غورو او هره شېبه وړو کسانو نه و. هغه په پکروفسکي ، دګژات د کوزې برخې له اوسېدونکو نه و. دينيسوف چې کله ددغې جګړې په پيل کې د پاکروفسکې سيمې ته په راغی ، د خپل عادت له مخې يې مشر راوغوښت او له هغه نه يې وپوښتل چې دفرانسويان په اړه څه معلومات لري. ددې ډلې مشر هم دبلې هرې ډلې دمشر په څير، له ځانه په دفاع کې ، له سلو هو ، نه يو (نه) غوره وګڼله او وې ويل چې له هېڅ شي او هېڅ چا نه خبر نه دی، خو کله چې دينيسوف هغه ته وويل چې غواړي پر فرانسويانو بريد وکړي او کله چې ده وپوښتل چې ايا فرانسويان ددوی خواته نه دی ورغلی، مشر وويل ، شوکماران او تالانګر په رښتيا هم ددوی په سيمه کې پيدا شوي دي او يوازې تيشکه(تيخون) دی چې ددغو شوکمارو مخه يې نيولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینیسوف وویل:
- لاړشئ
- او تیخون ده ته راولئ.

هغه یې راوست او دینیسوف، د هغه له دغو هلو ځلو او پالنې نه مننه وکړه. هغه یې ښه ونازاوه او د سیمې د مشر تر مخې یې پاچا(ځار)ته د وفادارۍ، له وطن سره د مینې او د هغې کرکې په اړه چې د هیواد د هر بچي په زړه کې د دښمن په وړاندې را خوره شوې ده، وغږېد. تیخون چې ښکاریده ، د دینیسوف خبرو ډار کړی دی، وویل:

- موږ له چا سره څه کار نه لاره، یوازې مو له هلکانو سره خپل وخت تیراوه، یو د شلو په شا او خوا کې چرګان غلا شول. خو موږ له چا سره څه کار نه لاره.

بله ورځ چې دینیسوف، د تیخون په اړه هرڅه هېر کړي وو او د پاکرافسکې له سیمې نه تلونکی و ، هغه ته خبر ورکړو چې تیخون راغلی او په دې ټینګار کوي چې غواړي د دوی د پارتیزاني ډلې غړی شي، و دینیسوف سپارښتنه وکړه چې هغه دی ومنل شي.

تیخون په پیل کې غیر پوځي چارې لکه د نغریو تودول، د اورونو بلول، د اوبو راوړل، آسونو ته د وښو رسول او د اسې نورې سرته رسولې، خو ډېر ژر یې په غلچکي پوځي ګوزارونو او نښتو کې هم مېړانه، زړورتیا او ماهرت وښود. هره وار یې پر فرانسویانو په کېدونکو غلچکونو کې ګډون کاوه او هر وار به له کالیو ، وسلو او نورو غنایمو سره راستنېده. او که له هغه نه به د اسیر غوښتنه کېده، اسیر به یې هم نیوه او له ځانسره به یې راوست.

دینیسوف، ډېر ژر، تیخون له بیګارۍ نه وزګار او له ځانسره به یې ځانګړو دندو ته بوو او هغه ته یې د قزاقانو په ډله کې دنده وسپارله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تیخون پر آس سورېدل نه خوښېدل، تل به پلی ګرځېده، خو هېڅکله به له سورو نه شاته نه پاتې کېده. د هغه وسله، یو چقمه داره، خوله خلاصی توپک و چې د نورو د خندولو او ټوکو لپاره به یې له ځانسره ګرځاوه، خو د هغه غوره وسله، هغه نیزه او تبرګی و چې د هغه په کارولو کې یې بې ساری لاسبری او مهارت درلود او له ده سره داسې مل وو، لکه لېوه او د هغه غاښونه ، چې د هغه په مرسته د خپل ښکار تر وړیو لاندې آډو کې راباسي، ژوییې او ټوټه ټوټه کوي یې. . .

تیخون د پارتیزانو په ډله کې، خورا زړور او ګټور سړی و. هېڅ چا د هغه په اندازه پر فرانسویانو د مرګني غلچکونو لپاره دومره وړ وختونو نه موندل او هېڅ چا د هغه په اندازه اسیران نه نیول او نه یې فرانسویان وژل. هغه دغه راز د قزاقانو او سواره پوځ د وګړو ترمنځ ټوکې ټکالې کولې او په خپله یې هم دغه چارې خوښېدلې.

دینیسوف پرون شپه، هغه شمیشوا ته ددې لپاره استولی و چې یو څوک د راز او معلوماتو لپاره اسیر کړي، خو تیخون نه و غوښتي چې د یوه فرانسوي په اسیرولو بسنه وکړي او یا دا چې د شپې ویده شوی و، نو هغه و چې په رڼا ورځ د بوټو او ونو منځ ته ورننوت او دینیسوف د غونډیو له پاسه لیدل چې هغه د فرانسویان د پوځ منځ ته ورننوتلی او هغو هم هغه پیدا کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ٦

دینیسوف، وروسته له هغه چې له ابساول سره ، پر فرانسویانو دغوڅ یرغل په اړه چې اوس یې په خپلو سترګو د هغه رانبږدې کېدل ولیدل، یو څه نور هم وغرېید ، د خپل آس مخ یې واړاوه، بېرته ستون شو او وې ویل:

- ښه وروره ! اوس درځه چې ځو ، ځانونه لږ وچ کړو.

دینیسوف چې د ونو له څانګو نه دیوې جوړې شوې وړې څپرې څنګ ته ورسېد ، ودرید او د ننه ځنګله ته ځیر شو. یو سړی چې جمپر په ځان، قزاقي خولۍ یې پر سر، ټوپک پر اوږو ، تبر په ملا تړلی، اوږدې پښې په ټینګو اوږدو قدمونو ، په داسې حال کې چې اوږده لاسونه یې شا او خواته ښورول، په بې پروایۍ د ونو په منځ کې له ځنګله نه راووت. دغه سړی د دینیسوف په لیدو ، هغه څه چې په لاس کې و ، په تلوار دبوټو شاته وارتېږل، خپله لمده خولۍ یې له سره لرې کړه او د خپل قوماندان خواته راوړاندې شو. دا سړی تیخون و. د هغه بشره له حماقته ګونځې ګونځې وه، د هغه وړې سترګې ځلېدلې او په هغو کې دخوښۍ او نیکمرغۍ نښې څرګندیدې. هغه خپل سر داسې پورته کړ چې ګواکې هڅه یې کوي، دخندا مخه ونیسي. هغه مخامخ دینیسوف ته ځیر شو.

دینیسوف وویل:

-چېرې ورک شوی وې ؟

تیخون په شدل، خو په داسې یو غږ چې سندریزه انګازه یې خوروله، په زوړتیا او چټکۍ ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چېرې ورک وم ؟ د فرانسويانو اسيرېدو پسې ورک وم.
- نو ولې په رڼا ورځ ؟ خره ! نو ولې دې ځوک اسير نه کړل ؟
تيخون چې پوځي بندلرونکي بوټ يې پښو وو ، خپلې، پښې يې لا پسې سره لرې او پراخې کړې او دوام يې ورکړ:
- لا په هماغه لومړي سر کې مې يو تن اسير کړ، خو هوا لا تياره نه وه، هغه مې ځنګله ته راوست، بيا مې له ځانسره وويل:
- په دې يوه اسير خو هېڅ نه کېږي، ښه به دا وي چې لاړ شم او کوم بل تن هم برمته کړم.
د دينيسوف، اېساول ته وويل:
-ګورئ ! څه دوکه مار دی.
-ښه هغه يو دې ولې را نه وست ؟
تيخون په خواشينۍ، خو په تلوار ځواب ورکړ:
-رانه وست ! ولې يې راولم ؟ دا کارونه ګټه نه لري. تاسو څه فکر کوئ ؟ زه نه پوهېږم چې ستاسو څه ډول اسيران په کار دي ؟
- وينئ ؟ څه ځيرک خو غولوونکی دی، ښه !
تيخون دوام ورکړ:
-لاړم چې يو بل تن اسير کړم، په کراره، په ځنګله کې، پر ځمکه وغځېدم، دغه شان (تيخون ناڅاپه ، په داسې ډول چې هېڅ چا يې تصور هم نه کاوه، په تلوار، خو خورا آرامه د ځمکې پر مخ وغځېد او دا يې وښوده چې څنګه په ځنګله کې پر ځمکه وځښېد. )
بيا يې زياته کړه:
-بيا يو تن له کومې خوا راپيدا شو او هغه مې راونيو (دا يې چې وويل په چټکۍ يې ودانګل چې څنګه ) بيا مې ورته وويل، ځه چې ځو او جلالتماب ډګروال ته ورشو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چیغې او نارې سورې پیل کړې.

په دې وخت کې یو ځلور تنه نور راپیدا شول. پر ما یې توري راوویستې، ما هم خپل تبرګی پرې راوویست (تندي یې تریو کړ، ټټر یې وړاندې وویست او چغه یې کړل) او ومې ویل (او هغه څه یې چې کړي و، وې ښودل).

ایساول خپلې ځلېدونکې سترګې تنګې کړې او وې ویل:

- دلته مو له غونډۍ نه لیدل چې څنګه د ډنډو له لارې په تیښته وتښتېدې.

پیتیا، غوښتل د زړه له کومې وخاندي، خو پام یې شو چې ټول د خندیدو مخنوي کوي. هغه په چټکۍ له تیخون نه، د ایساول او دینیسوف پلو ته سترګې ورواړولې، خو په دې یې سر نه خلاصېده چې دا څه معنی لري.

دینیسوف په خواشینۍ وټوخید او وې ویل:

-ته دا احمقانه لوبې پرېږده، دا ووایه چې هغه یوتن اسیر دې ولې را نوست؟

تیخون په یوه لاس ملا او پر بل هغه، سر وګراوه، ناڅاپه یې ټوله بشره وغوړیده او د احمقانه خندا سره سم یې داړې راووتې. (د شیرباتي لقب. چې دبې پرې شونډې معنی لري، له همدې امله پرې ایښودل شوی و) او دخوښۍ رڼایي یې برمخ راخوره شوه. د دینیسوف بشره هم وغوړیده او پیتیا په کړس کړس به زوره په خندا او وروسته تیخون هم له هغه سره همغاړی شو.

تیخون وویل:

- هغه ډېر خوار و، د ځان جامې یې ټوټه ټوټه او څېرې وې، په هغه حال مې چېرې بوولی وای؟ هغه څه کوئ چې هغه ډېر بد ژبی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالیجنابه هغه ویل چې:
-زه په خپله د آنرال(جنرال)زوی یم، هېڅ چېرې نه ځم، لاس دې خلاص.
دینیسوف وویل:
- جوړ کوټې (د خره بچی)دی، زه غواړم ، حال معلوم کړم او دی د جامو کیسې کوي.
تیخون وویل:
-ماهم غوښتل چې حال ترې معلوم کړم، خو هغه ویل چې په هېڅ شي نه پوهېږي او له هېڅ شي خبر نه دی. مګر سرتیري ډېر زیات او حال ډېر خراب دی.
تیخون زیاته کړه:
-هسې نوم یې د سرتیرو دی، که یو ، هم وشي، ټول به په تېښته شي او اسیران به شي.
تیخون د دې خبرې وروسته په خوښی، خو په غوڅه ښه د دینیسوف سترګو ته ځیر شو.
دینیسوف په تریو تندي او ځېږه ژبه وویل:
-اوس چې یو څو سوه لښتې وخورې، بیا به خپله و وایې چې یو من څو پتیرې کېږي او په خپله به رښتیا پیل کړې.
تیخون وویل:
-ولې د اسې ژر خوابدي کېږي ؟ څه وایئ، ایا ما ستا د ا فرانسویان نه دي لیدلي ؟ ته لږ پربږده چې تیاره خوره شي، څومره چې غواړې درته راولمه یې، یو نه درې تنه به درته راولم.
دینیسوف وویل:
- درځئ چې ځو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن تر پېښېره ځایه پورې لاړ، په خواشینۍ یې تندی تریو کړ او هېڅ یې ونه ویل.

تیخون یې شاته روان و او پیتیا اوریدل چې هغه څنګه له قزاقانو سره خاندي. قزاقانو پر هغه د هغو موزو له امله چې ده د بوټو (ونو) په منځ کې وراتېرلې، ټوکې کولې.

کله چې د تیخون له خبرو، دوی ته پیدا شوې خندا او موسکا پای ته ورسېده، د پیتیا په یوه شېبه کې په دې سر خلاص شو چې تیخون فرانسوي اسیر وژلی دی. هغه ګښېي واخېست او نا آرامه شو. په همدې شېبه کې یې اسیر فرانسوي ډولچي ته وکتل او زړه یې پرې خوږ شو، خو دغې نا آرامۍ ټول د سترګو د رپ په اندازه دوام وکړ، هغه دا غوره وګڼله چې سر راپورته اوددې لپاره چې د سبا ورځې د عملیاتو لپاره له اېساول نه پوښتنې او پلټنې وکړي، ځان زړور او چمتو ښکاره کړي. او دا ټول هم ځکه چې ځان ورته تر هغو کسانو نه کم ونه برېښي چې دی اوس ورسره مل و. دولوخوف پسې لېږل شوی افسر، له دینیسوف سره په لاره کې مخامخ شو او هغه ته یې دا خبر ورکړ چې دولوخوف اوس په خپله رارسېږي او د هغه هرڅه ښه دي.

د دینیسوف پر څېرې ناڅاپه د خوښۍ څپې راخورې شوې، پیتیا ته یې ورغږ کړل او ورته ووې ویل:

- ښه اوس نو ته خپل حال راته ووایه، ستا کارونه څنګه دي؟

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

پیتیا له مسکوه لاړ، خپل خپلوان یې پرېښودل اوله خپل غونډ سره یوځای شو. هغه تر دې نه ژر وروسته، دداسې یوه جنرال یاور شو چې دیوې لویې قطعې قوماندان و. د خپل پوځي ژوند، په تیره بیا دعملي افسري ژوند له مهاله او له هغه وخته چې د ویزیمسکي په جګړه کې یې ګډون کړی و. تل یې په ګوګل کې دخوښۍ او نیکمرغۍ ولولو ځپې وهلې او په دې خوشاله و چې هغه لوی شوی او پر له پسې د مېړانې غرور کوي. هغه به تل په دې ځار کې و چې خدای مه کړه چې د رښتني سرښندنې کومه شېبه او پېښه ترې پاتې نه شي. هغه د هغه څه له امله چې په پوځ کې یې لیدل او اوریدل، ځان نیکمرغه ګاڼه، خو سره له دې هم هغه تل داسې انګېرله چې رښتنی اتلتوب او مېړانه په هغو ځایو کې دی چې دی هلته نه وي، نو له دې کبله ده تل تلوار او هڅه کوله هغه ځای ته ځان ورسوي چې دی هلته نه شته.

کله چې د اکتوبر په یوویشتمه، دده جنرال، دا هیله څرګنده کړه چې یو څوک دډینیسوف قطعې ته ورلېږي، پتیا په یوې بې ساري خواخوږۍ وویل چې دی دې هلته واستول شي، خو پیتیا ته یې د ویزیمسکي په جګړه کې د هغه کړه وړه وریادکړل.

پیتیا په هغې جګړه کې ددې پر ځای چې خپله دنده سرته ورسوي، دجګړې په لومړیو کرښو ته لاړ شي، دفرانسویانو سیمو ته ورننوتلی و چې تر اور لاندې راتلای شوې او له خپلې تومانچې نه یې څو ډزې هم کړې وې. اوس دنوې سپارښتنې او هلته د استولو په وخت کې له هغه نه هیله وکړه چې د ډینیسوف دډلې په هېڅ ډول پوځي کړو وړو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډون ونه کړي. له همدې کبله ، کله چې دینیسوف له هغه نه وپوښتل چې له دوی سره پاتېږي او که بېرته ستنېږي، تک سور واوښت او هک حیران شو چې څه وکړي. ترځنګله پورې رسېدل، پیتیا خپله دنده بلله چې ده ته وسپارل شوې چارې ترسره او د هغو تر رسېدو نه وروسته سمدلاسه خپلې قطعې ته ورستون شي، خو کله چې یې هلته فرانسویان او تیخون ولیدل پوه شو چې نن شپه هرو مرو برید کېدونکی دی. هغه خپل تکل ډېر ژر بدل کړ او له ځانسره یې داوپتیله چې دده جنرال چې تر اوسه پورې یې دده ډېر درناوی کاوه او ده یې هر سپارښتنې ته غاړه کېښوده ، یو احمق جرمن او دینیسوف یو اتل دی. ایساول بل اتل او تیخون هم بل اتل دی. نو له دې کبله په دغو سختو شېبو کې د هغو یوازې پرېښودل د شرم وړ او بد کار دی.

کله چې دینیسوف او پیتیا له ایساول سره د ځنګله څنګ پوستې ته ورسېدل، د تیارې لمن په غوړېدو وه. د ماښامنۍ تیارې په رڼا یې کې، ذین شوي آسونه، سواره پوځیان او قزاقان لیدل کېدل. سرتیرو په داسې ځایونو کې نغري جوړول چې په امن کې وي. هغوی ځان شیلو ته برابرول، څکه ډاریدل چې فرانسویان یې د اورونو لوګی له لرې ونه ویني. د یوې وړې خېرې تر څنګ یو قزاق چې لستوني یې بډ وهلي وو او د پسه غوښه یې ټوټه کوله. تر دغې خېرې لاندې د دینیسوف د ډلې درې تنه سرتیري له لرګیو نه د میز په جوړلو لګیا وو. پیتیا خپل لوند کمیس وویست ، وریې کړ چې سره وچ یې کړي او خپله یې د ماښامنۍ په جوړلو کې له افسرانو سره مرسته پیل کړه. لس دقیقې وروسته میز جوړ او پر هغه ډوډۍ برابره وه . پر میز کاغذي دستمالونه غوړیدلي وو. دغه راز هلته ودکا ، رومي، خواړه، سپینه ډوډۍ، کباب شوی پسه او مالګه مرچ هم ایښي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیتیا چې د افسرانو په منځ کې د میز تر شا ناست و، په غوږو لاسونو یې چې د وازدې غوږ ترې څڅېدل، الول شوې غوښه ټوټه کوله او خوړله. دماشتوب یو خوږ او خوندور احساس چې نه یوازې یې له ټولو خلکو سره له مینې او خواخوږۍ نه زړه ډک کړی و، بلکې د دغه احساس له مخې یې دا باور درلود چې له ده او نورو ګړو سره دغه شان مینه او احساس لري.

هغه دینیسوف ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

- ښه نو، واسیلي فیدرووېچ تاسو څه فکر کوئ، پروا خو نه لري، که زه له تاسو سره یوه ورځکۍ هم پاتې شم.

پرته له هغه چې ځواب ته سترګې په لاره شي، خپله یې ځانته ځواب ورکړ:

- ماته سپارښتنه شوې ده چې اطلاعات راټول کړم، خو یوازې تاسو ما د جګړې تر ټولو غوره برخې ته... غوره برخې ته پرېږدي. زه نه مډالونه غواړم، نه ښنانونه... زه یوازې غواړم... پیتیا غاښونه وچیچل، خپل هسک کړی سر یې وخرخاوه، شا او خوایې وکتل او لاسونه یې وخوځول.

دینیسوف چې مو سېده تکرار یې کړه:

-تر ټولو نه غوره برخې ته !

پیتیا دوام ورکړ:

-زما یوازینۍ هیله داده چې ماته بشپړه قومانده راکړئ، چې زه خپله قومانده ورکړم، تاسي ته څه سختۍ لرئ ؟

په دې شېبه کې یې، هغه افسر ته چې غوښتل یې له کباب شوي پسه نه غوښه راجلا کړي، مخ وروا ړاوه او هغه ته یې وویل:

-اخ ! تاسو چاړه غواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خپل لاس چاړه يې هغه ته ورکړه. افسر چاړه وستايله.
پيتيا تک سور شو او وې ويل:
-مهرباني وکړئ، وايې خلي ! زه داسې چړې ډېرې لرم.
او ورپسې پيتيا ، ناڅاپه چغې کړل:
-او بابا ، ما چور هېر کړل.
او بيا يې چغې کړل:
-زه خورا ښه مميز لرم، زموږ کلي ته نوی دوکاندار راغلی دی. داسې ښې ساري شيان يې راوړي چې مه کوه پوښتنه. ما مميز لس پاوه واخېستل، زه خو د خوږو له خوړو سره عادت يمه. تاسي يې هم غواړئ ؟

او پيتيا ودانګل، په دالان کې يې خپل قزاق ته ځان وروړساوه او خپله توبره يې چې پنځه پاوه مميز په کې و، راوړه.
هغه وويل:
-نوش يې جان يې کړئ ! مهرباني وکړئ ښاغلو !
هغه اېساول ته مخ وروا ړاوه او وې ويل:
-د تاسو به د قهوې د اېشولو لپاره څه کېږي، په کار نه وي ؟ ما د خپلې قطعې په دوکان کې واخېستل، خورا ښه شيان دی کنه ؟ هغه ښه، ښه شيان راوړي دي. او تر ټولو مهمه خبره خو لا داده چې هغه خورا مهم سړی دی. دغه شيان به هرو مرو تاسو ته راولېږم. که غواړئ چقمق به هم درته راولېږم، کېدای شي خلاص شوي وي يا له کاره لويدلي وي، ګوره ! کله کله داسې کېږي. ما له ځانسره را اخېستي دي، دا ګورئ !
هغه خپله توبره وښودله، ما دلته سل چقمقه ډېر ارزانه را اخېستي دي. مهرباني وکړئ چې څومره په کار دي، هومره واخلئ، کولای شئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروا یخلئ او ټول هم اخېستي شي. خو ناڅاپه یې خبرې پرې کړې او تک سور شو او تصور یې وکړ چې زیات وغږېد که څنګه ؟

هغه پاڅېد او وریاد یې کړل، چې کومه بله سادګي خو به یې نه وي کړې. د هغې ورځې ټولې پېښې یې وریادې کړې، هغه فرانسوي، ډولچي وریاد شو او په زړه کې یې تیره شوه:

- مورږ خو دلته ډېر ښه یو ، خو هغه به څه حال لري ؟ هغه به یې چېرې اچولی وي ؟ څه خواړه به یې ورکړي وي او کنه ؟ یا به یې ورورړي نه وي ؟ خو دې ته یې پام شو چې د چقمقونو په اړه یې اپلتې ویلې دي، نو ځکه اوس له نورو خبرو ډارېده.

له ځانسره یې وویل:

-هرو مرو به سره ووایي چې خپله زلمی دی ، نو څنګه یې په دې هلک زړه خوږېږي، خو زه به سباته وښیم چې زه زلمی یم، که څوان ؟ پیتیا همداسې فکرونو کول:

- دا نو څه د شرم ځای دی، که زه له هغو نه وپوښتم ؟ په هر حال، هر څه فکر چې کوي، کوي دې، بیا تک سور و اوښت او په حیرت سره یې ددې لپاره نورو افسرانو ته وکتل چې وګوري، د هغو په څېره کې د ملندو نښې ښکاري او کنه ؟

هغه وویل:

-اجازه ده چې هغه اسیر شوی هلک ته ورغږ کړو ؟ اجازه ده چې هغه ته څه خواړه او اوبه ورورړو ؟ اجازه ده...

دینیسوف چې تصور کېده، دغه کارونو د شرم ورګنې، وویل:

- هو کې ! دزړو خوږي هلک دی، ډېر به وړی شوی وی، ورغږ کړئ چې دلته راشي، هغه وینسینت بوس، نومېږي، ورغږ کړئ، ورغږ کړئ، پیتیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه به ورغبږ کړم.
دینیسوف وویل:
- ورشه، هغه خوار ته ورغبږ کړه !
هغه تکرار کړه:
- ورغبږ کړه ! ورغبږ کړه ! درحم وړ دی.
کله چې دینیسوف دا خبرې کولې، پیتیا د دروازې تر مخې ولاړ و. هغه د افسرانو له مینځه ورتیرشو او ځان یې دینیسوف ته ورنږدې کړ او وې ویل:
- ګرانه ! اجازه راکړه چې ښکل دې کړم. آخ، پوهېږئ، څومره غوره کار وشو، څومره ښه کار وشو !
هغه دینیسوف ښکل کړ او انګړ ته یې ورمنډه کړه، د دروازې تر مخې ودرید او چغې یې کړل:
- بوس وینسینت ! وینسینت !
له تیارې نه یو آواز راپورته شو.
- ښاغلیه ! ستاسو څه په کار دي ؟
پیتیا ځواب ورکړ:
- هغه فرانسوي هلک چې نن اسیر شوی دی.
قزاق وویل:
- ښه، هغه سین یادوې.
د وینسینت نوم، قزاقانو په ویسین او کلیوالو بزګرو او سرتیرو په ویسنیو بدل کړی و.
په دغو دواړو بدل شویو نومونو کې، د پسرلي او پسرلني معنی نغښتې وې. نو ځکه هغه هلک دوی د «پسرلیګوټي» په نامه چې د زلمي او ماشوم ښه یې ښه یې څرګندوله، یادوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هلته د نغري سره ناست و او ځان يې تاوداوه.

له خنداسره مل، يو غږ له هماغې تيارې نه راپورته شو:

- ها ها ها ها، پسرليکوتيه !

له پټيا سره نږدې سپور ولاړ پوځي، وويل:

- ځيرک هلک دی، ډېر وږی و، همدا اوس مو ډوډۍ ورکړه.

په تياره کې د قدمونو غږ واوريدل شو، په ختو کې د لوڅو پښو شرپهاری تر غوږ او ډولچي هلک د دروازې په خولې کې راڅرګند شو.

پيتيا وويل:

-آه، داتاسو ياستئ ؟ډوډۍ غواړئ ؟ډار ېږمه !هېڅوک څه نه درته وايي !راځه !راووزه !راځه !

هغه په خواخوږۍ او مهربانۍ د هغه پر لاس، لاس ورکېښود او وې ويل:

-راځه !

ډولچي چې ماشوم وزمی آواز يې رېږديده، وويل:

-

له تاسو نه مننه ښاغليه !

هغه خپلې پېښبلې په ختو ککړې پښې راڅښولې او له ختو نه د پښو په پاک کولو پيل وکړ.

پيتيا غوښتل، دغه ډولچي ته ډېر څه ووايي، خو نه يې شو کولای. هغه په دالان کې د هغه ترڅنګه ولاړو، خو حيران پاتې وچې څه ووايي. بيا يې په تيارو کې د هغه لاس راونيو او هغه يې کېښکود.

له خواخوږۍ نه په ډک آواز يې وويل:

-مهرباني وکړئ، دننه راشئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیتیا له ځانسره وویل:

-آخ، آخ ! کاشکې مې یو څه درته کولای شوای !

پیتیا دروازه راخلاصه کړه او هغه یې له خپل څنګه بدرګه کړ.

کله چې ډولچې دننه را ننوت، پیتیا له هغه لرې کېناست، ځکه هغه ته یې پاملرنه دځان لپاره سپکاوی ګاڼه. هغه لاس جیب ته کړ. په جیب کې یې په خپلو پیسو لاس وواهه، هغه یې لاندې باندې کړې او په شک کې و چې ایا دا به شرم نه وي او کنه ؟ چې ډولچې ته پیسې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

د دينيسوف په سپارښتنه يې ډولچي ته خولۍ ورپر سر کړه، کتاب او ودکا يې ورکړل او وې ويل چې هغه له اسيرانو سره ونه لېږي او له خپلې ډلې سره يې وساتي. دولوخوف چې کوټې ته راننوتلی و، د پيتيا ورته پام شو. ده د پوځيانو په منځ کې، دفرانسويانو په وړاندې ددولوخوف دبې ساري مېړانې او د کرکې کيسې اوريدلې وې. نوله همدې امله، له هغې شيبې نه چې دولوخوف کوټې ته راننوت، يوه شيبه يې هم له هغه نه سترګې بل پلو نه غړولې. پرله پسې يې هغه ته کتل، غاړه يې ددې لپاره په ويار هسکه نيولې وه چې ځان له دولوخوف سره دمرکې اوخبرو سيال وګڼي.

د دولوخوف سادګۍ او عادي کړو وړو، پر پيتيا سخت اغيز ښندلی او هغه يې حيران کړی و.

دينيسوف، قفقازي چپنه اغوستې، ږيره يې پرېښې وه او د نيکولای معجزه لرونکی شمايل يې په غاړه کې پروت و. د هغه ژبې او کړو وړو، د هغه دحالت دځانګړتيا څرګندوله کوله، خو دولوخوف برعکس چې پخوا يې په مسکو کې د پارس د شهزادګانو په څېر جامې اغوستې، اوس يې دګارډ ديوه مغرور افسر بڼه لرله. ږيره يې چپه وهلې وه او يوه غوړه افسري دريشي يې چې د ګريګوري وياړمن روسي نښان يې پرټټر ټمبلی و، اغوستې او ساده پوځي خولۍ يې پرسر وه. خپلې لمدې جامې يې وويستې، هغه يې يوې خواته کېښودې او پرته له هغه چې له چا سره سلام سترې مشي وکړي، مخامخ د ينيسوف ته راغی. له هغه نه يې دجګړې او چارو په اړه پوښتنې پيل کړې. دينيسوف، د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیالونو او لویو چارو د سرته رسولو د تکلونو په اړه چې په سر کې یې ګرځول، هغه ته خبرې وکړې. د هغه پیام په اړه چې پیتیا راوړی و او د هغوځوابونو په اړه چې دغه زلمي، دوو جنرالانو ته ویلي وو او تر هغه وروسته یې هغه څه چې ده د فرانسویانو د کاروان په اړه له ځانسره لرل، هغه ته بیان کړل. دولوخوف، وویل:

-ښه ! دادي، ټول په هرڅه خبر دي، خو باید په دې پوه شو چې دفرانسویانو د پوځ شمېر څو، څو ډلې او کومې ډلې دي. باید هغو ته ورشو، تر هغه پورې چې د هغوی په شمېر په پوره توګه پوه نه شو، له هغوی سره دنښتې اجازه نه شته. زما خوښېږي چې هر کار په پوره ځیرکتیا او پام ترسره شي. هوکې ! دغسې ! اوس نو راته ووایئ په دغو ښاغلو کې داسې څوک شته او کنه چې له ماسره د هغوی سیمو ته ورشي ؟ زما دریشي راسره ده.

پیتیا چغې کړل:

- زه، زه، زه درسره ځم !

دینیسوف، دولوخوف ته مخ وروااړاوه او وې ویل:

-نه، ته هېڅ چېرې تلای نه شې او پیتیا خو اصلا نه پرېږدم چې له دې ځایه وښوري.

پیتیا چغې کړل:

- ولې زه لاړ نه شم ؟

-داځکه چې همداسې ده.

پیتیا وویل:

- ډېره ښښه غواړم، ښښنه ځکه غواړم چې زه خوځېږم او ځم، بله خبره نه شته.

او مخ یې دولوخوف ته وراړاوه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تاسو ما له ځان سره بیایئ ؟

دولوخوف چې دفرانسوی، ډولچې ننداره یې کوله، خدای خبر چې دخیال مرغه یې چېرې الوته.

هغه وویل:

- ولې نه ؟

هغه له دینیسوف نه وپوښتل:

-ډېره موده کېږي چې دا زلمی دلته دی ؟

همدا نن یې سره نیولی دی، دی خپله پر هېڅ شی خبر نه دی، خو ما همدلته له ځانسره پرېښود.

دولوخوف، وویل:

-په نورو څه کوي ؟ چېرې یې لېږي ؟

دینیسوف، ناڅاپه تک سور شو او وې ویل:

-څنګه چېرته ؟ هغوی لېږم. هر یو تسلیموم او د تسلیمی خط اخلم. په زوړتیا او ټینګه ویلي شم او وجدان مې هم له دې امله آرامه دی چې زما داسیرانو له ډلې یو هم وژل شوی نه دی. تر دې چې زما د سرتیرو وجدان نا آرامه وي او ولړل شي، ماته د دیرشو او یا درې سوو اسیرانو تسلیمي غوره او آسانه ده، همدا سې نه ده ؟

دولوخوف یوه سړه او له ملنډو ډکه موسکا وکړه او وې ویل:

-دغه له خواخوږۍ ډکې خبرې به ددغه ځوان ګراف ، شپاړلس کلن زلمي پر خولې ښې ښکاري، ښه به دا وي چې ته دا خبرې پرېږدې.

پیتیا په حیا وویل:

-زه نه غواړم، څه ووایم، زه یوازې غواړم ووایمار یوازینۍ هیله مې داده چې هرو مرو له تاسو سره لاړ شم.

دولوخوف، دوام ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-درځئ چې ځو !نو څه ته ګوري وروره !داخبرې پرېږدئ، دا د خواخوږۍ او مهربانۍ خبرې.

داسې بربښېده چې په دې اړه ځکه خبرې خوند ورکوي چې دينيسوف يې خواشينی کاوه. هغه سر وښوراوه او وې ويل:

-نوښه ، دا يوتن مو ولې له ځانسره ساتلی دی ؟له دې کبله چې زړه دې پرې وسوو ؟ځکه موږ ټول ستا دا سيرانو په تسليمۍ او خط اخېستلو هم پوهېږو. ته چې سل تنه تسليموې ، ديرش تنه ژوندي ځای ته نه رسېږي. يا له لوږې مري اويا وژل کېږي، دا به ښه نه وي چې اصلاً څوک اسير نه شي ؟

ايساول، خپلې ځلېدونکې سترګې، لاپسې تنګې کړې او ددې خبرو دمنلو په نښه يې سر وښوراوه.

- دا نور، نو په ما اړه نه لري او په دې هکله غږيدل هم نه غواړم. دچا وژل هم په غاړه نه اخلم، ته وايې چې مري، مري دي، نوڅه ؟خو خبره داده چې زما له لاسه مړه نه شي.

دولوخوف وخندل:

-که هغوی توان لرلای او کولای شوای، زه به يې اوس سل واره نيولای وای، ته به يې هم نيولای وای، چا دې دآزاد طبعيت پروا هم نه کوله. که په لاس ورشو ، سمدلاسه به مو پر کومه ونه راځوړند کړي. تر يوې شېبې چوپتيا نه وروسته يې وويل:

-ښه به دا وي چې يو کار وکړو ، زما قزاق ته ورغږ کړئ چې له خپلې کڅوړې سره راشي، ما دلته دوه فرانسوي دريشيانۍ راوړې دي او پر پيتيا يې غږ وکړ:

-نوښه !ته غواړې چې له ما سره لاړ شي ؟

پيتيا تک سور اونېږدې و چې له سترګو يې اوښکې راتويې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دینیسوف ته وکتل او وې ویل:

-زه ؟ زه هرو مرو درسره ځم.

په هغه موده کې چې دولوخوف له دینیسوف سره په دې اړه چې له اسیرانو سره څه وشي، خبرې کولې، د پیتیا په زړه کې ، بیا یو ډول نا آرامه تلوسه راوتخنیده او یوه تلوار پسې واخېست. هغه بیا به دې پوه نه شو چې دغه تیریدونکې او کېدونکې پېښې ښې دي او بدې دي. هغه له ځانسره فکر وکړ:

-که مشران او مخور داسې ګڼي، خو همداسې سمه ده. هرو مرو باید همداسې وشي، خو اصلي خبره داده چې دینیسوف باید داسې ونه ګڼي چې زه د هغه هرڅه منم او هغه پر ماخپله قومانده وچلوي. زه هرو مرو له دولوخوف سره، دفرانسویانو ترولکې لاندې سیمې ته ورځم، که هغه ورتلای شي. زه هم کولای شم ورشم.

دینیسوف چې هرخه وکړل، هغه ته یې د نه تګ ډاډ ورنه شو کړای، هغه ویل چې دی هم عادت لري، هرڅه په پام او ځیرکتیا ترسره او په نیمای کې یې پرېنږدي. هغه وویل چې دی دده ژوند ته د ورپېښو ګواښونو خیال نه ساتي.

هغه هم داسې وویل:

-ګورئ، دا راسره ومنئ، که موږ په پوره توګه په دې پوه نه شو چې دفرانسویانو شمېر څومره او څنګه دي، ، ځکه دې خبرې پورې زموږ، هغه هم د سلګونو تنو ژوند تړلی دی، حال دا چې موږ دوه تنه یو ، او اصله خبره خو داده چې زما خپل زړه غواړي چې لاړ شم، زه هرو مرو ځم، تاسو نور نه شي کولای ما راتم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

پیتیا او دولوخوف، فرانسوي کوټونه واغوستل او د هغوی خولۍ یې هم پر سر کړې. تر هغه وروسته هغې لوړې پوستې ته ورغلل چې له هغه ځایه دینیسوف د فرانسوي پوځ څارنه کوله. هغوی له ځنګله نه راوتلې او په تپه تیاره کې یې ځان شیلې ته رسولی و و. همدا چې شیلې ته ورسېدل، دولوخوف، هغو قزاقانو ته چې له دوی سره راغلي وو، سپارښتنه وکړه چې همالته دوی ته سترګه په لارې پاتې شي. هغه خپله په چټکۍ تر هغه پورې وړاندې لاړ چې پله ته ورسېد. پیتیا چې له لېوالتیا او همهالهګبنۍ نه مرګني حالت ته رسېدلی و، د هغه تر څنګ سپور روان و ؟

پیتیا وویل:

-که اسیر شوو، زه خو ژوندی نه تسلیمېږم، تومانچه لرم.

دولوخوف په کراره ، خو چټکۍ وویل:

-په روسي ژبه مه غږېږه. له دې خبرې سره همهاله ، له تیارې نه یو غږ راپورته شو:

- څوک را روان دی ؟! او د ټزو غږ واوریدل شو.

د پیتیا پـرمخ وینـې راوبهېـدې اوتومـانچې تـه یـې لاس وروړ. دولوخوف، پرته له هغه چې خپل آس کرار یا چټک کړي، وویل:

-د شپږم غونډ د اولان د ډلې یم.

د یوه پېیره دار تور سیوری د پله پر سر راښکاره شو او وې ویل:

-د شپې نوم ؟

دلوخـوف، خپـل تـګ لـږ وروکـړ، څـه وړانـدې لاړ او لـه تـګ سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



همهماله یې وپوښتل:

-کولای شم، وپوښتم، ډګروال ژیرار، دلته دی ؟

پېیره دار پرته له هغه چې د هغه ځواب ورکړي، د هغه مخه یې ونیوه او بیا یې وپوښتل:

-د شپې نوم ؟

دولوخوف، ناڅاپه په قهرشو او خپل آس یې مخامخ پرهغه وروست او په خورا غضب یې پرهغه چغې کړې:

- کله چې یو افسر چکر ته وزي، پېیره دار له هغه نه د شپې نوم نه پوښتي. تاسو نه مې وپوښتل ډګروال ژیرار، دلته دی او کنه ؟

او بې له هغه چې له هغه پېیرداره ځواب ته چې لاره یې ورته پرېښې وه، سترګه په لاره پاتې شي، دولوخوف همداسې دغونډۍ پلو وخوځېد.

دولوخوف، په هغه تیاره کې، په لارې کې له تیرېدونکو نه یو تن ودراوه او له هغه نه یې وپوښتل چې قوماندان او افسران چیرې دي ؟ دغه سړی چې یو سرتیری و او یوه بوجۍ په اوږو بارو، ودرېد دولوخوف آس ته ورنږدې شو، د هغه پر آس یې لاس تیر کړ او هسې په ساده ژبه یې دولوخوف ته وویل چې قوماندان او افسران پاس لوړ دغونډۍ ښۍ خواته په کلاکې وو (موخه یې هماغه دکوم خان باغچه ګۍ وه )

دولوخوف، پر هغې لارې چې له دواړو خواوو به یې، دلګېدلو اورنو دناستوفرانسویانو دغږېدا، غږ راتـه ورانـدې لاړ او هغې باغچګۍ ته ور وګرځېد. له دروازې ورننوت، له آسه کوز شو او هغه دنغري پلو ته چې څو تنه یې شا او خواته ناست او په لوړ آواز غږیدل، ورتیر شو. دنغری په کوز سر کې، پر اېښې دیګ کې څه اېشیدل. یوتن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتيرى چې خولۍ يې پر سر او شين بخون کوټ يې پر غاړه و، د هغه تر ځنګ ګونډې وهلې وې او په هغه کې يې د خپل توپک سيخ ښوراوه. د دغه سرتيري بشره داور په رڼايي کې، تکه سره برېښېده.

دنغرى بلې خواته، په تياره کې يو ناست افسر وويل:

- په دې پېريانو يې والله که وګڼې !

يو بل افسر په خندا شو او وې ويل:

-ټول اسيروي

دواړه افسران چپ شول او د تياري په هغې خوا کې يې چې دولوخوف او پيتيا پرخپلو آسونو سپاره راروان و، د قدمونو آوازونو ته غوږ ونيو.

دولوخوف په لوړ او رسا آواز وويل:

- سلام ښاغلو !

دنغري په تياره کې ناست افسران سره وکټېدل، لوړ ونى افسر چې اوږده غاړه يې لرله، له نغري نه راتاو شو، دولوخوف ته ورنږدې شو او وې ويل:

- تاسو ياست کليمان ! تاسو له کومې بلا...

د هغه ژر خپلې تيروتنې پام شو چې له ناپېژندلو کسانو سره مخامخ دی، تندی يې لږ څه تريو کړ، له دولوخوف سره يې ستړي مشي وکړه او وې پوښتل چې څه مرسته ورسره کولای شي. دولوخوف ورته وويل چې دی او ملګرى يې له قطعې وروسته پاتې شوي دي، هغه دا هم وويل چې له ټولو نه يې پوښتنې کړې دي چې د شپږمې قطعې احوال لري او کنه ؟ خو هېڅ چا په دې اړه معلومات نه لرل. پيتيا ته داسې وبرېښېده چې دغه افسران ده او دولوخوف ته په کرکه او شک ګوري. يو څوشېبې ټول حيران او چپ پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نغری نه آپلو له خندا نه ډک یو آواز راپورته شو او وې ویل:
-که له مونږ سر مو دمانښامنۍ تکل کړی و، ناوخته کړې مو ده.
دولوخوف ځواب ورکړ:
-دوی دواړه ماړه دي او همدا نن شپه باید وړاندې لاړ شي.
هغه خپل آس، هغه سرتیري ته چې د خپل توپک سیخ یې په دیګ کې ښوراوه، ورکړ او په خپله دنغري په خواکې دناست اوږدغاړي افسر څنګ ته ګونډه شو.
دغه افسر چې له دولوخفه سترګې بل پلو نه غړولې، دوه واریې له هغه نه وپوښتل چې دوی د کوم غونډ دي؟ دولوخوف، هغه ته ځواب ورنه کړ او داسې یې وښوده چې د هغه پوښتنه یې اوریدلې نه ده. هغه له خپل جیب نه خپل فرانسوي، پیپ راوویست، پیپ یې ولګاوه او له افسرانو نه یې دلارې د امنیت او قزاقانو دغلچکي یرغل او ګواښ په اړه وپوښتل.
له نغري نه آپلو ته، ناست افسر وویل:
-دغه داړه ماران هرچېرې پیدا کېږي.
دولوخوف، وویل چې قزاقان یوازې ده او دده دملګري په شان له خپلو ډلو نه پاتې کسانو ته ګواښمن دي. او بیا یې په پوښتنیزه بڼه زیاته کړه چې هغوی په لویو ډلو برېد نه کوي، خو ده ته یې هېڅ ځواب ورنه کړ.
پیتیا د اور څنګ ته ولاړ او د هغوی خبرو ته غوږ غوږ و، هره شېبه یې په زړه کې تیریدله چې اوس به هغه وخوځېږي.
خو دولوخوف پای ته رسېدلې خبرې بیا راپیل کړې، په ځیرتیا او ټینګه یې له هغوی نه پوښتنې پیل کړې:
- څو قطعې، په کوم شمېر او څومره اسیران له دوی سره روان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسي اسیرانو په اړه یې وویل:

-دا هم هسې ناوړه کار دی چې دا مړي ځان پسې کشکاږي، ښه به دا وای چې ټول مو چاټنواري کړي وای.

یوه لېونۍ خندا پیل شوه، پیتیا لـه ځانسره وویـل چې اوس بـه فرانسویان د هغوی پر دوکه پوه شي. بیا پرته لـه هغه چې وغواړي پاڅېد او له نغري نه یوګام شاته لاړ. هېڅ چا هغه ته ځواب ورنه کړ او نه په خندا کې ورسره همغاړي شول. هغه فرانسوي افسر چې کوټ یې پر ځان اچولی و او اوږد غځېدلی و اونه معلومېده، سر یې راهسک کړ او پـه زګیروي ډولـه توګـه یې خپـل ملګري تـه څه وویـل. دولوخوف، وخوځېد او هغه سرتیري ته یې ورغږ کړل چې آسونه یې نیولي وو.

پیتیا همداسې بې واکه په زړه کې وویل:

-ښه ده، آسونه خو راکوي.

آسونه یې راوستل.

دولوف غږ وکړ:

-شپه مو په خیر ښاغلو !

پیتیاهم غوښتل چې وواییې:شپه مو په خیر ! خو وې نه شو کولای چې څه وواییې.

افسرانو په خپل منځ کې کوم نه پوهېدونکي څه وویـل. دولوخوف، په ډېره ارامۍ او کراره پرخپل آس چې چېرې تړلی نه و، سپور شو او همداسې په کراره د کلا له دروازې نه ووت. پیتیاهم له هغه سره غبرګ خپل آس وخوځاوه او غوښتل یې شاته مخ واړوي او وګوري چې فرانسویان خو به، په دوی پسې نه وي راغلي، خو زړه یې ونه شو کړای.

دولوخوف چې لویې لارې ته سم شو، پر هغې لارې چې راغلی و، نه لاړ، بلکې د کلي پلو وړاندې لاړ، غوږونه یې څک کړل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پیتیا ، هغه غړونه چې په روسي ژبې غږېدل و پېژندل او دلګېدلو اورونو ترخنګ یې، په داسې حال کې چې د روسي اسیرانو تصویرونو ، دسترګو تر وړاندې تصورول، یوې مخ ځوړندې لارې ته مخه کړه. ځانونه یې پله ته ورسول. کله چې پله ته ورسېدل، د پېیره دار تر څنګ تیر شول او هغه ته یې پام شو چې په خورا ختېه طبیعت د پله په سر ګرځي، راګرځي. هغوی ته یې هم هېڅ ونه ویل. دوی هم ځان هغې شیلې ته ورساوه چې قزاقان ورته سترګې په لاره و.

دولوخوف وویل:

- ښه نو دخدای په امان !

دینیسوف ته وواېئ چې سهار ته دلومړې ډزې سره...

هغه غوښتل چې لاړ شي، خو پیتیا د هغه لاس راونیو ، هغه یې ودراوه، له ګښې او خوښۍ نه په ډک آواې یې وویل:

-نه، نه، تاسو په رښتیا هم خورا مېړنی سړی یاستي ! های، های چې څومره ستر او غوره کار وشو ، څومره غوره ! ماته ډېر ګران یاستئ ،. دولوخوف وویل:

-ښه ده، ښه ده، خو پیتیاهغه نه پرېښوده، ددولوخوف پام شو چې پیتیا په تیاره کې د هغه پلو ورخمېږي او غواړي دی ښکل کړي. دولوخوف د پیتیامخ ښکل کړ ، وې خندل، د خپل آس مخ یې واړاوه او د شپې په تیاره کې یې ځان ورک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

پیتیا چې خپلې څپرې ته راستون شو، دینیسوف یې په دالان ډوله ځای کې ولید، دینیسوف خورا ناآرامه، ګبنی، اخستی او په دې ډېر پښېمانه و، چې ولې یې پیتیا ته دتګ اجازه ورکړې ده. دی د هغه راتګ ته نا آرامه سترګې په لاره و. کله چې یې په پیتیا سترګې ولګېدې، چغه یې کړې:

-خدایه شکر!

کله چې یې له پیتیانه په خورا خوند او ولولو، پر هغه تیرې شوې کیسې واورېدې، نو وې ویل:

- په رښتیا له خدایه شکر! په تا دی لعنت وي، پوهېږي! ستا له غمه ویده شوی نه یم. د خدای شکر، راځه ویده شه، کېدای شي تر سهاره یو چرت ووهو.

پیتیا وویل:

- ښه ده، خو ماته لا خوب نه راځي. له دې پرته، زه خو ځان ښه پېژنم، که یو وار ویده شوم، نور نو کار وران دی، بلـه خبره خو لا دادی چې زه تر جګړې مخکې ویده کېدای هم نه شم.

پیتیا یوه موده، په څپره کې پاتې شو او په خورا خوند یې، دفرانسویانو منځ ته، د خپل ورتګ خیالونه پالل. هغه نه یوازې په دغو خیالونو کې ډوب و بلکې د راتلونکې ورځې، رښتینې جګړه یې دسترګو تر وړاندې انځوروله. وروسته تر هغه چې پوه شو، دینیسوف خوب وړی، پاڅېد او انګړ ته ووت. هوا تیاره وه. باران دریدلی و، خو دونو له څانګو څاڅکي څڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستې ته نېږدې، د قزاقانو څېرې او له هغو سره نېږدې تږل شوي آسونه، لکه تور تور داغونه، تر سترګو خوځېدل. د تورو څېرو شاته، د هغو څنګ ته دولاړو دوو کراچیو او هغو پورې تړلو آسونو شا او خواته، اورنه، په مړه کېدو وو. قزاقان او سواره پوځیان لا ویده نه وو. یو نیم ځای د څاڅکو د څڅېدو، د آسونو د شنهاري او د سرتیرو د بنګهاري غږونه اوریدل کېدل.

پیتیا چې له دالان ډوله ځای نه ووت، په تپه تیاره کې یې شا او خوا وکتل او کراچیو ته ورنږدې شو. دیوې کراچۍ لاندې د کوم چا د خرپهاري غږ پورته و. زین شویو آسونو خپلې اوربشې خوړلې. پیتیا په تپه تیاره کې خپل آس وپېژاند، که څه هم د هغه آس د کمکۍ روسیې (اوکرائین) و، خو هغه، هغه قره باغ نومولی و، د خپل آس اوربوز یې راونیو، هغه یې مچ کړ او وې ویل:

-ښه قره باغه ! سبا به خدمت کوو ! هغه قزاق چې د کراچۍ څنګ ته ناست وې ویل:

-اربابه ښه به دا وي چې لږ څه ویده شي.

نه، نه. دا سې ښکاري چې تاسې، لیخاچوف نومېږي ؟ وینئ مو ږ همدا اوس راورسېدو، د فرانسویانو منځ ته ورغلي وو. پیتیا، قزاق ته، په بشپړه توګه، د فرانسویانو منځ ته د خپل ورتګ کیسه وکړه، دا یې هم ورته وویل چې ولې یې دا کار کړی دی. هغه دا هم وویل چې ولې غوره ګڼي چې انسان خپل ژوند له ګواښه سره مخامخ کړي، ده وویل خو یو کار هم باید بې تکله نه وي.

قزاق وویل:

- ښه به دا وی چې لږ څه ویده شوی وای.

پیتیا ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه، نه، زه له بې خوبۍ سره ربړدی شوی يم. او ګوره ! ستاسو د تومانچو، چقمقې زړې شوې نه دي ؟ ما له ځانسره نوې چقمقې راوړې دي، څنګه ؟ په کار خو به دي نه وي ؟ که غواړې در وايي‌خله.

قزاق له کراچۍ لاندې سر راوويست.

پيپتا وويل:

-زما عادت دی، هر کار په ځيرکتيا وکړم، ځينې خو هر څه، په هر ډول او بې پامه کوي او وروسته بيا پښيمانه وي، خو زما ځيرکتيا خوښېږي.

قزاق وويل:

-رښتيا هم همداسې ده.

-نور مې غوښتل تاسو ته ووايم، که مهرباني وکړئ او زما توره هم تيره کړئ ګرانه ! هغه پخه شوې ده...(خو پيتيا وډار شو چې دروغ ونه وايي) هغه هېڅکله چا تيره کړې نه وه، کولای شي هغه تيره کړې ؟

- ولې نه ؟ کېدای شي.

ليخاچوف پاڅېد او په کڅوړه کې يې څه لټول. پيتيا ډېر ژر پر فولادي ببلاو(تبرې) د سولولو انګازيز غږ چې دجګړې آواز يې درلود، واوريد، پر کراچۍ وروخوت، پاس کېناست او ترکراچۍ لاندې ناست قزاق دتورې تيرولو ته دوام ورکړ.

پيتيا وويل:

-څنګه ؟ زلميان ويده دي ؟

-ځينې ويده دي او ځينې لا وينښ دي ؟

-ښه، هغه هلک څنګه ؟

-هغه سپرليګوټی ياده وي ؟ هغه، هلته د شنيليو په منځ کې پروت دی. هغه له ډاره ويده شوی دی، پوهېږئ، له هغه نه ډېر راضي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې خبرې وروسته، پيتيا تر ډېرې مودې پورې چپ پاتې او رارسېدونکو آوازونو ته غوږ غوږ و. د تيارو له مينځه د قدمونو غږ وار وريدل شو او له هغه ځايه د کوم سړي سيوري راښکاره شو.

د غه سيوری کراچۍ ته ورنږدې شو او وې پوښتل:

-د بادار، توره تيره کوم.

هغه سړی چې پيتيا تصور کاوه، د سواره پوځ له پوځيانو نه دی، وويل:

-دا ډېر ښه کار دی، ګوره ! تاسو سره پيالې پاتې نه دي ؟

-هلته ، د ارابې ترڅنګ ايښې دي.

او د سواره پوځ، سواره پياله واخېسته او لاړ.

پيتيا ، هرومرو پوه شوی و چې په ځنګله کې دی او د دينيسوف د پارتيزانې ډلې غړی دی. دوی يو ورست له واته لرې او پر هغې کراچۍ ناست دي چې له فرانسويانو يې برمته کړې وې او آسونه يې ترڅنګ پورې تړلي دي. د کراچۍ لاندې قزاق ناست او توره تيره کوي. .

.

که پيتيا په دې وخت کې هرڅه ليدلي هم وای، د هغه لپاره د تعجب وړ نه و، هغه ، په هغې کوډګره نړۍ کې ډوب و چې په هلته هرڅه کېدونکي و.

هغه آسمان ته کتل، هغه يې هم لکه د ځمکې په څېر پاړوګر تر سترګو شو. آسمان د شنه کېدو په حال کې و او وريځې په چټکۍ د ونو پر سر خوځېدلې. دا سې تصور کېده چې د ستورو له مخې پردې لرې کوي. کله ناکله هغه ته دا سې برېښېده چې آسمان په شنه کېدو او په توره تږمۍ کې ډوبېږي، بيا يې پام شو چې دا وريځ ده. کله به يې تصور کاوه چې آسمان لوړ دی او لا پسې لوړېږي او کله خو بيا چور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته راکوزېږي. دومره راکوزېږي چې کېدای شي، لاس ور واوږد او هغه ته ورورسېږي.

پیتیا د سترګو په ترڅلو پیل وکړ او سر یې وښوراوه. څاڅکي څڅېدل او دغږېدا غږ اورېدل کېده. دآسونو شنهاري واورېدل شو، آسونو سرونه او یالونه یې وخنډل او د کوم ویده دخرهاري غږ اورېدل کېده.

دتورې دتیرې کولو غږ هم تر غوږه راته:جغ، ج، جغ، جغ، جغ...

او پیتیا ناڅاپه د یوې انګازینې موسیقۍ غږ چې یوه آشنا، او پرتمینه او خوږه سندره یې ویله، واورېده. پیتیا د خپلې خور ناتاشې په شان و، تر خپل ورور نیکولای نه موسیقي زیاته خوښیده، خو هېڅکله یې دموسیقۍ زده کړې یې نه وې کړې، نو له همدې کبله دده غوږو ته، دغه ناڅاپي سندریزې انګازې، ده ته ځکه خورا نوې برېښېدې چې دده لېوالتیا یې په مینتوب بدلوله. دغه موسیقي دم په دم لوړېدله. نغمه د موسیقۍ د نغمه غږونکو آلاتو له یوه نه بل ته اوښته. دغه نغمه چې خوږېده او لوړېده د موسیقۍ په دنیا کې د فوګ په نامه یادیده. پیتیا اصلاً په دې نه پوهېده چې فوګ څه ته وایي... کله کله به دغه آواز د کلیسا آسماني اواز ته ورته شو او کله به دبري خوږه او نه هېرېدونکې سندره ترې جوړه شوه.

پیتیا چې لږ څه وړاندې وښورید، ځانته یې وویل:

-آخ، هوکې ! زه خوب وینم، په غوږو کې مې سندرې غږېږي یا کېدای شي زما خپل موزیک دی. دادي بیا زموږ نغمه، بیا راته غږوي.

..

هغه سترګې وترلې او آوازونه، له هرې خوا ګواکې، له لرې لرې رارېږي، رایوځای کېږي، ګډېږي او بیا له سره دیوې خوږې نغمې، دیوې بري راوړنکې نغمې په توګه رامنځ ته کېږي، پیتا له ځانسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:

-آخ ! څه ښکلې ده ! څومره غواړم، څومره چې کولای شم.

هغه هڅه وکړه چې د هغه ستر ارکستر مشري او لارښوونه وکړي.

پیتیا سپارښتنه وکړه:

-نو آرام شي، اوس ټول چوپ ږي.

او آوازونه هغه ته غوږ غوږ وو. او اوس، پوره، خوشاله او لا له خوشالۍ نه ډک سندریز آوازونه، دیو ناپېژندلي تل نه راخوځېدل.

او پیتیا بیا وویل:

-سندروغاړو اوس ستاسو وار دي !

او لومړی له لرې نه دنارینو غږ واورېدل شو او بیا ښځېنه تیره آوازونه ورسره مل شول. آوازونه کرار کرار او په یوه ډله ایزه بڼه پورته کېدل او په پرتمینه بڼه لوړېدل. پیتیا ددغو آوازونو، زړه غوړېدونکې ښکلا په ځان کې احساسوله او د هغو دبې پایه ښکلا نه په وحشت کې و. همدا نغمه دیو پرتمین او بري غږونکي مارش سره مل شوه. له دې سره همهاله داوبو دڅاڅکو دڅڅېدو او دتورې دتیریدو، دجغ، جغ، جغ غږ هم پورته و. د آسونو داوربشو خوړلو او د هغو دشنهاري او غورځېدو غږونه هم اورېدل کېدل، خو دغو آوازونو، دغو نغمو ته کوم تاوان نه رساوه بلکې له هغو سره په هما آهنګۍ کې ګډېدلې.

پیتیا نه پوهېده چې دغه حال څومره دوام پیدا کړ، هغه خوند ترې اخیست، پرله پسې له خپل خوند اخېستو نه په حیرت کې و او داهیله یې لرله چې چاته د هغه په اړه څه ووایي.

د لیخاچوف، خواږه غږ دی راویښ کړ:

- ستاسو توره چمتو ده، کولای شئ فرانسویان پرې ووهئ.

پیتیا را په حال شو او چغه یې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-رښتیا هم ړنا شوې، ړنا شوې.

هغه نالیدونکي آسونه نور نو له ورایه لیدل کېدل او د ونو د بربنډو ښانګو لـه مینځـه ړنـا خوریـده. پیتیـا ټکـان وخـوړ، لـه خپـل ځایـه یـې ودانګل، یو روبل یې له جیبه راوویست او لیخاچوف ته یې ورکړ. تـوره یـې واخېســته، هغــه یــې وښــوروله، وې ازمایلــه او پــه غــلاف کــې یــې کېښوده. قزاقانو آسونه راخوشې کړل او د هغو تنګونه یې ور وتړل.

لیخاچوف وویل:

-دا هم قوماندان !

دینیسوف، له پوستې نه راووت، پیتیا ته یې ورغږ کړل او قومانده یې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱

د سهار په تته، ترږمۍ کې يې په چټکۍ سره آسونه راخوشې کول، تنګونه ورتړل او په بېلا بېلو ډلو کې يې چمتو کول. دينيسوف د پيش قراول مخې ته ولاړ و او ورستۍ سپارښتنې يې کولې. د پښو د سلګونو ښبهارو آوازونه اوريدل کېدل چې په ختهو اوچيکړو کې، پاڅېدل، په ختهو کې ننوتل او له لمر نه مخکې ترږميو په لړ کې، د ونو په منځ کې تلل او پناه کېدل. ابساول، زاقانو ته سپارښتنې کولې. پيتيا خپل آس نيولی او په تلوار يې د سپريدو د سپارښتنې شېبې شمېرلې. ديخ وهلو اوبو نه يې مينځل شوی مخ، په تيره بيا سترګې لکه اور داسې ځلېدلې، پر شا يې راخوره شوې سره لرې، په چټکۍ پر ټول ځان او په يو ډول په خوريدو وه.

دينيسوف، وويل:

-ښکاري چې هرڅه چمتو دي، درځئ، آسونه راولئ.

آسونه يې راوستل. دينيسوف قزاق ته په ډېر قهر شو چې د هغه د آس تنګ ښه کلک تړل شوی نه و. هغه تر ښکنځلو وروسته ودانګل او پر خپل آس کېناست. پيتيا د خپل آس جلو نيولی و. آس د عادت له مخې غوښتل د خپل خاوند ورنو ته خوله وروړي، خو پيتيا پرته له هغه چې خپل درونده والي ته پام وکړي، وې دانګل او پر خپل آس کېناست، دده شاته، په تياره کې، راخوځېدلي سواره ته مخ ورواړاوه، دينيسوف ته نېږدې شو او وې ويل:

-واسيلي فيدرو ويچ! ماته يوه دنده راکوئ؟ مهرباني وکړئ، دخدای لپاره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دينيسوف، ګواکې پيتيا چور هېر کړی و ، د هغه خواته يې مخ وروا ړاه او په ټينګه يې وويل:

- له تاسو نه يوه هيله لرم، زما تر څنګ به اوسئ. او هېڅ پلو به نه خوځېږئ.

د ټولې لارې په اوږدو کې دينيسوف، نور نو يوه خبره هم ونه کړه او چپه خوله روان وه. ګله چې د ځنګله څنګ ته ورسېدل، هوا ښه روښانه شوې وه. دينيسوف، په کراره ، اېساول ته څه وويل او قزاق د هغه او پيتيا تر څنګ تير شول. کله چې ټول راورسېدل، دينيسوف خپل آس وخوځاوه او مخ ښکته پر غونډۍ شېوه شو. آسونو چې د شا پښې يې کږې وږې کولې، په داسې حال کې چې سواره پرې سپاره وو، کرار کرار، په ريږديدا ريږديدا ، ښکته د شيلې پلو ته ښکته شول. يوازې لرې لرې شيان وو چې د لړو په څپو کې نه ښکاريدل. دينيسوف چې شيلې ته ورسېد ، د سر په ننبه يې ، تر څنګ ولاړ قزاق ته اشاره وکړه او وې ويل:

-ننبه !

قزاق لاس پورته کړ او ښکته په شيله کې د ډزو غږ پورته شو او له ډزو سره هممهاله دآسونو د ګامونو شر او شور چې وړاندې يې دانګل او له هغو سره مل د سرتيرو شور او ځوږ چې له هرې خوا راټول شوي وو ، د درې په فضا کې انګازې جوړې کړې وې.

د آسونو او سرتيرو د دغه غريو سره سم، پيتيا د آس ډډې ته متروکه ورغبرګه کړه ، قبضه يې وخنډله او پرته له هغه چې د دينيسوف، دغې خبرې ته چې د هغه له څنګه به نه لرې کېږي، پام وساتي وړاندې هه کړل او دډزو په اوريدو سره داسې ورته بربښېدل چې شا او خوا د سهار رڼا خوره شوې، لمر په تندي ولاړ او تنکنده غرمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پله آپلو ، آس يرغه کړ. ترهغه نه وړاندې، په واټ کې قزاقان روان وو. دی، د پله پر سر، هغه قزاق ته چې له خپلو ملګرو نه شاته پاتې و ، ور ورسېد. په تلوار له هغه نه تير شو ، يو شمېر پوځيان چې ښايي فرانسويان به وو ، په مخه ورغلل. هغوی د واټ له ښي خوا نه کينې خواته منډې وهلې. له هغوی نه يو تن ، د پيتيا تر آس لاندې په خټو کې ولويد. ديوې څپرې مخې ته څو تنه قزاقان را ټول وو او کوم څه يې کول. د ګڼه ګونې له منځه وحشتناکې چغې راوتلې. پيتيا دغې ګڼه ګونې ته ورننېږدې شو او لومړې څېره يې چې وليده، يو فرانسوي سرتيری و رنګ يې الوتی ، لاندنۍ ژامه يې رپېدېده او هغه نيزه ډوله لرګی يې چې دده خواته په نښه و ، لاس کې نيولی و.

پيتيا چغې کړل:

-هورا زلميانو !

هر څه زمونږ منګلو ته لويدلي.

د خپل آس جلو يې کېښکود او خپل تود شوی آس يې وړاندې کوڅې ته وروځغلاوه.

وړاندې ډزې روانې وې، له هرپلوه قزاقان، سواره پوځيان او هغه اسيران چې جنډه جنډه جامې يې اغوستې وې، په منډو وو او داسې چغې سورې او رمباړې يې وهلې چې د پوهېدو وړ نه وې. دا ګرانه و چې څوک پوه شي چې هغوی څه وايي. يوه فرانسوي چې ککره يې بربنډه، خواشينې بشره يې تکه سره، شين بخوند کوټ يې اغوستی و ، د سورو پوځونو په وړاندې يې، نيزه په لاس دځان ساتنه کوله. تر هغه چې پيتيا ورورسېد ، فرانسوي لويدلی و. په زړه يې بيا له دې امله اند ښننه راخوره شوه چې بيا ناوخته رارسېدلی و. هغه به خورا تلوار هغې خواته ودانګل چې د پر له پسې ډزو غږ ترې راته. ډزې د هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور په انګړ کې روانې وې چې پرون شپه دی او دولوخوف، هلته تللي وو. فرانسویانو دبوټو او نیالګیو په ډک باغ کې، ددغو بوټو او نیالګیو تر شا سنګر نیولی و

او پر هغو قزاقانو یې چې د دروازې شا او خوا یې ګڼه ګونې جوړه کړې وه، ډزې کولې. پیتیا چې دروازې ته ورننږدې شو، د لوګو او باروتو منځ کې یې دولوخوف ولید ، د هغه بشره له ډاره او رنګ الوتنې نه تکه شنه اوښتې وه. رمباړې یې وهلې او خپلو کسانو ته یې سپارښتنې کولې. کله چې پیتیا هغه ته ورننږدې شو ، هغه وویل:

-له کوره راتاو او پلیو ته سترګه په لاره شئ.

پیتیا چغې کړل:

-سترګې په لار، سترګې په لار، دڅه لپاره ؟ وړاندې ؟

پر ته له هغه چې یوه شېبه تم شي، هغې خواته چې، د ډزو غږ ترې راته، ورودانګل. هغې خواته چې له بل هرځای نه هلته، لوګی او باروت زیات وو. د کارتوسو ، دډزو غږ اوریدل کېده. مرمۍ خورې ورې لاړې او بې نښې ولګېدې. یو نیمه یې په څه کې ونښتې. قزاقان او دولوخوف، له دروازې نه ، انګړ ته د پیتیا پسې ورننوتل. فرانسویان چې دګڼ لوګي په څپو کې هره خوا خواره وو، چا وسلې ارتېږلې، چا منډې وهلې، دبوټو او نیالګو له شا راوتل اود مخې له خوا راتلونکو قزاقانو پلو ورغلل او ځېنې نورو هغو دغونډۍ په لمنه کې د چینو پلو ته په منډه مخه کړه. پیتیا همداسې پر آس سپور و. دانګړ په منځ کې روان و. ددې پر ځای چې هغه، د خپل آس جلو ونیسي. دوړاه لاسونه یې په چټکۍ او عجیبه بڼه وځنډل او څومره چې مخکې روان و، په هماغه اندازه یوې خواته کږېده، د هغه آس، د هغه نغري پلو ته چې د سهار په رارسېدو په مړ کېدو و، ورغي. ناڅاپه ودرید او پیتیا ل یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



درونـد پيټـي سره غونجېـده، خـو د هغـه سر ناخوځېـدونکی پـاتې و. مرمۍ يې پر ککره لګېدلې وه.

دولوخوف، دفرانسويانو له مشر سره چې د خپلې تورې پـه سر يې دتسليمۍ په نښه سپين ټوکر غوټه کړی و او لـه کوره ووت، تـر خبرو وروسته، لهآسه راکوز شو او د پيټيا د مړی خواتـه چې خلاصه غېږ او ناخوځېدونکي لاسونه ، پر ځمکه پروت و ، رنېږدې شو. هغه وويل:

- پای ته يې ورسېدل.

دا يې وويل، پاڅېد او لـه دروازې دباندې، ددينيسوف هرکلي تـه چې دده خواتهر روان و ، ورووت.

دينيسوف چې له هماغه لرې نه لويدلی پيټيا چې د مـرګ نښـه يې ځرګندوله، وليد ، چغه کړل:

-وې واژه !

دولوخوف، تکرار کړه:

-پای ته ورسېده.

داسې برېښېده چې ددغې خبرې له تکراره خوند اخلي. دايې وويـل او پـه چټکـۍ د هغـو اسيرانو خواتـه چې تلوار اخېستي قزاقـان تـرې راچاپير شوي وو ، ورغي او پر دينيسوف يې غږ وکړ:

- اسيران به نه نيسو !

دينيسوف، پرته له هغه چې ځواب ورکړي، دپيټيا خواته ورغي، له آسه راکوز شو ، په ريږديدونکو لاسونو يې، دپيټيا د وينو او پـه ختـو لړی مخ چې بيا شين شوی و ، د ځان خواته راواړاوه او د پيټيا خبرې يې ورياد ې کړې:

-زما عادت دی، کوم خواږه چې ولرم، هغه نورو ته ورکوم، خورا ښه مميز دي، تول يې دروا خلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قزاقان هغه غږ حیران کړل چې د سپي غپیدا ته ورته و. دینیسوف په تلوار سره، له هغو نه مخ واړاوه، هلته دریدلي اغزن سیم ته ورنږدې شو او ځان یې ترې ټینګ کړ.

د هغه روسي اسیرانو په منځ کې چې دینیسوف او دولوخوف راخوشې کړي وو، پیېر بېزاوخوف هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

له هغې ورځې نه چې د روسي اسیرانو ډله چې پیېر هم په کې و، له مسکوه راوتلې وه، د هغو په اړه هېڅکله د فرانسوي قوماندانۍ له خوا کومه نوې سپارښتنه را رسېدلې نه وه. د اکتوبر په دوه ویشتمه نېټه، نور نو له هغوی سره ته هغه قطعه او نه کومه کراچۍ، چې له دوی سره له مسکوه راوتلي وو، هېڅ پاتې نه وو. نیمایي کراچۍ چې په هغو کې کاروان، خواړه او کالي بار، لا په هماغه لومړیو مزلونو کې وو، قزاقانو لاندې کړل او نیمایي هغه یې تر دوی نه مخکې وړاندې تللي وو. له هغو سواره پوځیانو نه چې پلي پاتې شوي وو او په لومړۍ سر کې د دوی مخې ته روان وو، یو هم پاتې شوی نه و. تول تري تم شول. هغه توپچي پوځ چې په لومړیو رباطونو کې دوی تر خپلې مخې لیدل، نور خپل ځای د مارشال ژونو، د قطعې لویو لویو کتارونو او ډلو ته چې د وستفالتي (له سرتیرو جوړه شوې خدمتګاره ډله) د ډلو له خوا یې ساتنه کېده، پرېښې و. د اسیرانو شاته د سورو پوځیانو د وسایلو کتار را روان و.

د ویازما له سیمې چې مخکې فرانسوي پوځیان په درې کتارونو کې روان وو، اوس دیوې ګډې وړې ډلې په توګه خوځېده. په دغه پوځ کې الهګوله او بې نظمي چې د پیېر په لومړۍ رباط کې ورته پام شوی و اوس په بې ساري توګه لا پسې زیاته شوې وه.

په هغې لارې کې چې دوی روان وو، دواړو خواوو ته یې، بې شمېره مړه آسونه پراته وو، جامې شږې پوځیان چې له خپلو قطعو یا ډلو نه وروسته پاتې وو، کله به له خپلو ډلو سره یو ځای شول، کله به با

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغو ببرته پاتې او کله به هم چور ځای پر ځای پاتې شول. په دغه مارش کې څو ځله، په دروغو دچغو ډهل غږېدلی و، پوځیانو خپلې وسلې چمتو کړې وې، ډزې او وارونه یې کړي وو، تښتېدلي وو، ببرته راټول شوي وو او یو بل یې د هغو دروغجن وحشت له امله چې خپله یې پر ځان راوستی و، ښه ښکنځلي وو.

د سواره پوځ مهمات او وسایل، د اسیرانو ډله او د مارشال ژونوو، کراچۍ او ګاډۍ چې د دریو ګډو خو نامنظمو ډلو یا کاروانونو په توګه روانې وې، که څه هم لا تر اوسه د جلا او بشپړو قطعو په ډول برېښېدې، خو بیاهم په چټکۍ سره خورې ورې کېدې.

په هغه کتار یا ډله کې چې په پیل کې یو سلو شل ګاډۍ او کراچۍ روانې وې، اوس شپېته عرادې هم پاتې نه وې. شپېته نورې یې یا روسانو تالا کړې وې او یا خپله فرانسویانو چېرې پرېښې وې. د ژونوو د قافلې هم څه ګاډۍ یا کراچۍ پرېښودل شوې وې. د داوو، د قطعې شاته پاتې کسانو پر دغه کاروان برېد کړی و او درې ګاډۍ یې ترې لاندې کړې وې. پېیر د المانیانو له خبرو نه په دې پوه شوی و چې د دې قافلې د ساتنې لپاره د ګمارل شویو ساتونکو شمېر، تر هغو ساتونکو نه زیات وو چې د اسیرانو د ساتنې لپاره ګمارل شوي وو. یو الماني سرتیری خو یې په خپله د مارشال په سپارښتنه چنماري کړی و. هغه په دې تورن شوی و چې په جیب کې یې د مارشال د سپینو زرو یوه کاچوغه پیدا شوې وه.

د دغو درې کاروانونو د اسیرانو ډله تر ټولو زیات کمه شوې وه، له هغو درې سوو تنو نه چې له مسکو راوتلي وو اوس له سلو نه کم کسان پاتې وو. د سرتیرو لپاره، د سواره پوځ د ذینونو او په خپله د مارشال ژونوو، تر ساتنې نه، د اسیرانو ساتنه، ګرانه تمامېدله، هغوی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدل چې دآسونو ذینونه یا دمارشال ژونوو، دسپینو زرو کاچوغې به یوڅه یا چاته په کار شي، خو په دې نه پوهېدل چې دغه ډله روسي اسیران چې ددوی په څبر لوڅ، وږي، تږي او دمرګ په حال، هرچېرې له پښو پاتې کېدونکي( دوی ته سپارښتنه شوې وه چې هرڅوک له پښو پاتې کېږي، باید وویشتل شي )ولې دوی ساتي. دا خبره نه یوازې د پوهېدو وړ نه و بلکې کله ناکله خو خورا دکرکې وړ هم برېښېده.

دا تصور کېده چې له دې خبرې نه ددوی ډار ددې لپاره و چې په دغه غمږلي حالت کې چې دوی خپله راګیر وو، پرخپلو اسیرانو یې رحم را ونه پارېږي.

د داراګاپوژ، په سیمه کې چې کله سرتیرو خپل اسیران په یوې تبیله کې بندیان کړي وو او خپله یې پر خپلو زیرمو تالان جوړ کړي وو، ځو تنو اسیرانو له هغه ځایه ځمځه وهلې وه او تښتېدلي وو، خو فرانسویانو هغه نیولي او ویشتلي وو.

هغه دود چې په مسکو کې داسیرانو دساتنې لپاره یې سپارښتنه شوې وه او د هغه له مخې باید اسیر افسران او اسیر سرتیري جلا جلا وساتل شي، له پخوا راهیسې له پامه غورځېدلی او چایې مراعات نه کاوه. هغه کسان چې لا خوځېدای شو، ټول په ګډه روان وو. پېیر له هماغه دربیم ګرځنې نه وروسته، له کراتایوف او د هغه له خړنګې کوږپښې سپي سره چې کراتایوف ته یې د خپل خاوند په سترګه کتل، یوځای شوی و.

له مسکوه تر وتلو، درې ورځې وروسته، په کراتایوف، بیا هغه تبه ولګېده چې له اسیرېدو دمخه د هغه له امله په روغتون کې بستر شوی و. به هره اندازه چې کراتایوف تبې خوار او ضعیفاوه، په هماغه اندازه پېیر ځان له هغه لرې کاوه. له هغه وخته چې کراتایوف ناروغ او ضعیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی و، پیېر نه یوازې له هغه سره په یوه کوټه کې نه اوسېده بلکې هڅه یې کوله چې هغه ته ورنېږدې هم نه شي. هغه ته به چې ورنېږدې شو، د هغه زګیروي به یې اورېده او له هغه نه دلګېدونکي بوی نه به په عذاب و، نوځکه یې نور ځان له هغه نه لرې کاوه او نور یې د هغه خیال نه ساته او آن فکر یې هم نه پرې کاوه.

پیېر، د اسارت په زندان کې، نه د تفکر او استدلال له مخې بلکې دژوند په ټول مفهوم سره په دې پوه شوی و چې انسان د نیکمرغۍ لپاره پیدا شوی او خپله نیکمرغي په انسان کې او د هغه د طبیعي انساني اړتیا په سرته رسېدو کې نغښتې ده. د انسان بدمرغي نه په اړتیاوو بلکې په زیاتوالي کې ده. پیېر، د دې وروستیو وروځو په یون کې، په یوه نوي رښتینتوب او خواخوږوالي پوه شوی و، هغه په دې پوه شوی و چې په دنیا کې، د وحشت وړ هېڅ څه نه شته. هغه په دې هم پوه شوی و چې په دنیا کې هېڅ داسې حالت نه شته چې، انسان په هغه کې د بې پایه نیکمرغۍ او آزادۍ خاوند شي. دغه راز د اسې حالت هم نه شته چې انسان په هغه کې چور بدمرغه او بې واکه وي. هغه په دې پوه شوی و چې د انسان رنځ او ازادۍ یوه پوله لري او ددغو دواړو پولې خورا سره نېږدې دي. هغه په دې هم پوه شوی و چې د یوه انسان پر ګلابي بستر، د یوې ګلپاڼې دراغورځېدو د خواشینۍ، د هغه، د هغې نننۍ خواشینۍ او خوابدۍ نه کمه نه ده چې پرلمده ځمکه بربنډ څملي، دځان یوه خوا یې له سړو ربړېدي او د ځان بله خوا یې داور له تود خې سوځي، د هغه پښې چې اوس د هغه د سوري شوي بوټ په اندازه خوړېده، لکه پخوا به یې چې د نڅاد ټینګو او تنګو بوټو د پښو کولو له کبله پښې خوږېدلې، هغه په دې پوه شوی و، کله چې هغه په خپله خوښه، لکه هغه شان چې ده خپله تصور کاوه، له خپلې ښځې سره واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، هغه تر هغه څه نه چې اوس په تبیله کې ویده و، زیاته آزادي نه درلوده. په هغه رنځونو کې چې ده وروسته د اسارت د رنځونو په نامه نومول، خو په خپل وخت یې هومره نه و، احساس کړي، تر ټولو بدیادونه، د هغه دلوڅو چاودو پښو، د دردونو یادونه وو. د آس غوښه خوږه او هضمېدونکې وه، د شاړو څمکو تریو والي چې دوی د مالګې پر ځای په خوړو کې کاروله، هم ښه مزناکه وه. هوا هم هومره بده نه وه، نور نو ساړه نه و، د وروځې به یې په خوځېدا ځان تود اوه، د شپې به یې اورونه بلول او سپږو به چې چیچه، د هغو له چیچېدو به تودیده. یوازې یو شي، په پیل کې ورته ګران او ده لپاره زورونکی و او هغه دده پښې وې.

د دغه یون په دویمه ورځ کله چې پېیر د خپلو پښو د ښنګرو او د هغو اړکو ته وکتل، وې ویل چې په دې رنځورو پښو تګ ناشوني دی، خو کله چې ټول پاڅېدل، هغه هم وخوځېد، ګوډ ګوډ کېده، همدا چې وروسته لږ څه تود شو، د هغه دردونه کرار او دی بې دردِه وخوځېد. ماښام یې چې بیا خپلو پښو ته وکتل، بیا په وحشت کې شو، مګر ده د هغو له کتنو مخ واړاوه او ځان یې په بل څه اخته کړ.

پېیر، نوی د انساني ژوند په توان او د پام اړولو په هغه ژغورونکي واک پوه شوی و چې انسان ته خدای ورښلی دی.. که څه هم د هغو له ډلې نه په سلګونو تنه، په دې ډول وژل شوي وو، خو نه یې لیدلي او نه یې اوریدلي و چې څنګه له پښو، پاتې کېدونکي اسیران ویشتل او وژل شوي وو. هغه د کراتایوف په اړه چې ورځ تر ورځې، ناتوان کېده او دا په ډاګه وه چې د هغه برخلیک هم باید د نورو وژل شویو اسیرانو په شان وای، فکر نه کاوه. پېیر، تر دې لا کم د خپل ځان په اړه فکر کاوه. څومره چې به پر ده حالات خرابېدل، څومره به چې راتلونکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لابدمرغـه او وحشـتناکه بربښـېده، د هغـه څـه بـرخلاف چې دی ورسـره لاس او ګريـوان و، د هغــه پــر ذهــن داســې خــوږو خوښــۍ پــارونکو لېوالتياوو او آرامه کوونکو خيالونو چې دده له اوسني حالـت سـره يـې هېڅ ډول اړيکي نه لرل، راخوريدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

د دویشتمې نېټې غرمه. پېیر، دغونډۍ له چیکړو پر ډکه او یخ وهلې لوړه روان و او خپلو پښو او لوړې ژورې لارې ته یې کتل. کله ناکله به یې خپلې شا او خواکې د اسیرانو ډلې ته چې د ټولو بشرې ورته آشنا وې وکتل او بیا یې خپلو پښو ته سترګې ورواړولې. دا او هغه دواړه ددې لپاره په یوه اندازه خپل او آشنا وو. د کراتایوف کوږ پښې، خړ رنګه سپی چې "خړکي" "غړ به یې پسې کاوه، خپله لکۍ یې ښوروله او په خوښۍ یې منډې وهلې. بیا به یې کله د وروستیو پښو نه یوه، د خپلې خوښۍ اوخوند لپاره ګېډې لاندې راپورته کوله او په درې پښو به یې ټوپونه اچول او بیا به یې په غپا غپا پر څلورو پښو، پر هغو کاغانو چې د واټ څنګ ته ناست وو، ورودنګل. "خړکي" "اوس تر هغه وخته چې په مسکو کې ژوند کاوه، خورا خوښ او څورب بربښېده. څلورو خوا ووته یې غوښې پرتې وې. له انساني غوښو نیولې بیا د آس تر غوښې پورې، دخوسا کېدو په حال کې وې. د خلکو ګڼه ګوڼې دغو غوښو ته د لېوانو د نېږدې کېدو مخه نیولې وه، نو له دې چې "خړکي" "به چې هرڅه غوښتل، هومره به یې خوړلی شول.

له سهاره بارانګوټی وریده، داسې بربښېده چې شېبه په شېبه به ودرېږي، او آسمان به شین شي. خو څو شېبو نه وروسته، اوربدو بېرته زور واخېست. باران وهلې ځمکې نور نو د اوبو دمنلو زغم نه درلود، نو ځکه اوبو شودو یارو ته مخه کړې وه.

پېیر روان و شا او خوا یې کتل، خپل قدمونه یې درې درې شمېرل او هر درې قدمونو نه وروسته یې خپله یوه ګوته اړوله. په زړه کې به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران ته مخ وراړاوه، هغه سره به یې د زړه خواله کوله او ویل به یې:

-ښه ده، ښه ده، نور، نور...

هغه داسې انګېرله چې د هېڅ شي په اړه فکر نه کوي، خو د هغه زړه لرې لرې، ژور ژور د کومې غورې او آرام ښېوونکې اند ښنې په خیالونو کې ډوب و او فکر یې کاوه کراتایوف ته د غه اند ښنه، دده له پرونیو خبرونه، یوه نازکه او روحي لېوالتیا نه راپیدا شوې اند ښنه وه. پېیر چې له سړو نه رېږېده، پرونۍ شپه یې په خپل شپني ځای کې د مړه کېدونکي اور په وړاندې تیره کړې وه. هغه پاڅېد او هغه نغري ته چې شغلې یې وهلې، ورغی، پلاتون (کراتایوف) د همدې نغري خوا ته ناست و، هغه خپل کوټ لکه د کلیسا د پاپانو په څېر چې سر په کې پټوي، په سر اچولی و، په خورا خوند او په زړه پورې ژبه یې چې دده د ناروغۍ څرګندونه یې کوله، هغه نکل چې په وار وار پېیر ترې اوریدلی و، سرتیرو ته وایه. شپه له نیمایي اوښتې وه، دا هماغه وخت و چې هره شپه به په همدې وخت په کراتایوف تبه لګېده، دا هماغه وخت و چې شپه به په پخېدو او کیسې به تودیدې. پېیر چې نغري ته ورنږدې کېدو سره هممهاله د کراتایوف ناروغ او کمزوری غږ اوریده او د هغه غمرلې څېره چې د اور په رڼایۍ کې ښه څرګنده شوې وه، ولیده، په زړه کې یوه بده ناخواله احساس کړه. هغه د غه سړي ته، د خپل احساس او خواخوږۍ له راپاریدو نه ډاریده، غوښتل یې له هغه ځایه لرې شي، خو بل نغری نه و، نو ځکه دی، دې ته اړوت چې هماالته کېني، خو هڅه یې کوله پلاتون ته ونه ګوري.

هغه وپوښتل:

-څه دي؟ روغتیا دې څنګه ده؟

کراتایوف وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- روغتيا ، روغتيا څه وي ؟ په روغتيا پسې خو به او ښکې نه تو يوم. خدا ی مرګ نه را کوي.

کراتايوف، دا وويل او د خپلې پېيل شوې کيسې ويلو ته يې دوام ورکړ.

پلاتون چې پر وچ او رنګ الوتي مخ يې موسکا خوره وه او په ځانګړي خوښۍ يې سترګې ځلېدلې، وويل:

-هو کې زما وروره ! هو کې زما وروره !

پيير په دې کيسه ښه پوهېده. کراتايوف، يو شپږ اوه واره دغه کيسه ده ته يوازې او په ډېر خوند او رنګ او احساس کړې وه. څنګه او څومره چې پيير په دغې کيسه پوهېده، هغه اوس دغې کيسې ته ديوې نوې کيسې په شان غوږ ونيو او د کراتايوف د کيسې ويلو دوخت خوند ، شور او لېوالتيا پيير ته هم ورلږ ديدلي وو. دا کيسه د يوه زاړه ، ښه خلقه او نيا ومن سوداګر بوډا کيسه وه چې له خپلې کورنۍ سره اوسېده او يوه ورځ له خپل بډا ی ملګري سوداګره سره د ماکارو ، سيمې ته تللی و. دوې شپې هغه دواړه سوداګر په يوه مسافرځای کې ويده شوي وو. دواړه سوداګر ويده شول، خو بله ورځ سهار چې يو سوداګر راويښ شو ، د هغه ملګری وژل شوی، شتمني يې تالان شوې او په وينو لړې چاړه دده تر سروېږدي لاندې پيدا شوې وه. قاتل محکمه شو ، تورن شو او جزا يې وليده.

او کراتايوف زياته کړه:

- هغه شان چې قانون حکم کاوه دغه سوداګر قاتل د جبرې کار سيمې ته ولېږداوه.

- هو کې زما وروره !

(پيير په همدې برخه کې د کيسې اوريدو ته غوږ شو ). په دې کيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس او که څه زيات کلونه تير شول، دا سوداګر په هماغه زندان او د جبرې ځای په سيمه کې اوسېده. هغه شان چې تقدير و، بوډا هرڅه ته غاړه ږدي، کوم بد کار نه کوي، هرڅه زغمي، خو يوه هيله لرې او هغه له لويه خدايه د مرګ هيله وه.

- ډېر ښه!

او يوه شپه له همدا مور غوندې، د دغه زندان زندانيانو سره راټولېږي، دغه بوډا سوداګر هم له هغوی سره دو. دوی دا سره وايي چې هر يو بايد، ووايي چې څوک په څه ګناه زنداني شوی دی او څنګه يې د خدای له ارادې نه غاړه غړولې ده او د هغه په وړاندې مخ توری دی. هر چا هرڅه ويل:

- چا ويل چې څوک يې وژلی دی، چا ويل يو څه يې کړېی دی؟ چا ويل يې دوه يې وژلي دي، بل ويل چې اور يې لګولی دی، هغه بل ويل چې له يو څه تښتېدلی او يو نيم خو ويل چې هسې بې ګناه يې راوستی دی. يوه چا له بوډا نه وپوښتل:

-ښه بابا جانه ته د څه لپاره دلته زورېږې؟

هغه وويل:

- هو کې ګرانه وروره! درته ووايم چې زه نه د خپلو ګناهونو بلکې د نورو ګناهونو له امله دلته راغلی يم، هو کې، ما نه سړی وژلی دی، نه مې غلا کړې ده او دا درته ووايم چې ما خپل مالونو هم نوروته ورکول. زه، زمامهربانه ورونو! درته ووېل شي چې زه سوداګر وم، خورا زياته شتمني مې درلوده.

هغه همدا اسې خپله کيسه هغو ته کوله او هر څه يې په ترتيب هغوی ته ويل:

-ورونو زه په خپل غم کې نه يم، هو کې زه خدای درته رالېږلی يم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما زړه یو ازي خپلې زړې ښځې او ماشومانو ته سوځي.

او ټنګ په ژړا شو او وې ژړل.

ته د خدای رضا ته ګوره چې د هغه سوداګر وژونکی هم د دوی په منځ کې ناست و ، زړه یې پر هغه بوډا سخت خوږیده ، هغه قاتل په یوې ځانګړې ادآ هغه بوډا سوداګر ته ورنږدې کېږی او پوښتې یې:

-بابا جانه دغه پېښه چېرې پېښه شوې وه ؟ چېرې او کوم وخت ؟

راپاڅېدا او د سپین ږیرې پښو ته ګونډه شو ، هغه ته یې وویل:

-ته زما له خوا تر سره شویو ګناهونو له کبله دلته ناست یې ؟ ته خو تالا والا او تباه شوی یې. ګورئ او خلکو ! ټول ښه ځیر شئ ! خدای په خپله ښه پوهېږي، دغه سړی بې ګناه او دا ټولې بدۍ ورځې یې هسې زغملي دي، هغه سوداګر ما وژلی و. هوکې بابا ! ته ویده وې او ما هغه چاړه جې هغه سړی پرې وواژه، ستا تر بالښت لاندې کېښوده. ما وبښه بابا !د خدای لپاره ما وبښه !

کراتایوف چچپ شو ، په خوښۍ وموسېد او اور ته په کتو کې یې ، یو لرګی په اور کې ځای پر ځای کړ.

سپین ږیري هغه ته وویل:

-خدای دې وبښه ! موږ ټول د خدای پر وړاندې ګنهګاران یو. دا هم زما د خپلو کناهونو ډالۍ ده.

هغه خپله په ژړا او تودې تودې اوښکې یې له سترګو راتویې شوې.

د کراتایوف موسکا لاپسې وغوړیده ، داسې چې دغه غوړیدا د هغه پر ټولې خبرې راخوره شوه. داسې بربښېده ، د هغه څه په اړه چې دی اوس فکر کوي او غواړي هغه ووایي ، د هغې کیسې د ویلو ټول خوند په کې نغښتی دی، هغه وویل:

-ښه ګوربته ! څه فکر کوي ؟ هېڅ ، ځي او د زندان مشر ته ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپېژني چې قاتل ته يې او دا ورته وايي چې شپږ تنه دې وژلي دي؟ (ستر داړه مار او وژونکی و ) خو زړه مې دغه سپين ږيري ته سخت وسو، زه نه غواړم چې له مانه په عذاب شي.

هرڅه يې وويل، وې ليکل او هغه شان چې ښايي ، ټول يې ولېږل. هغه زندان خورا لرې پروت و، تر هغه چې هغه ګنهګار محکمې ته ورسېږي، بيا هغه محکمه شي، بيا لکه هغه چې ښايي محکمه پريکړه وکړي او هغه حکم وليکل شي، بيا مشران هغه لاسليک کړي او بيا هغه حکم څار(پادشاه )ته ورسېږي، بيا څار دبوډا دبښني فرمان لاسليک کړي اوبيا دغه بې ګناه سوداګر آزاد شي. د هغه ظلم له امله چې پر هغه شوی دی، ښـنه تري وغوښتل شي، هغه وپالل شي او خواخوږي يې وشي. ډېر وختونه پرې تير شول. هرڅه چې و، په ورځو کې يوه ورځ دغه فرمان راورسېد ، د سوداګر لټه پيل شوه. دغه شان بې ګناه سپين ږيری چېرې دی؟ او څنګه يې دا ټول زغملي دي؟ همدلته وه چې د کراتايوف لاندنې ژامه څه وريږديده، خو بيايې هم دوام ورکړ:

- هو کې ګوربته !

کراتايوف، خپله کيسه پای ته ورسوله او پرته له هغه چې څه ووايي، تر ډېرې پورې يې وموسېد او مخامخ يې چېرته کتل.

نه خپله کيسه بلکې د هغه رازمن معنويت، د هغه ښادی ښودونکې خوښـي چې د کيسې د ويلو په وخت کې د کراتايوف، پر څېرې راخوريده او د هغې ناپېژندل شوې خوښۍ پټې ولولې، د پېير پر روح لاسبری شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

ناڅاپه د یوې چغې غږ واورېدل شو:

- پر خپلو ځایو ودرېږئ !

د اسیرانو او د هغوی د څارونکو ترمنځ یوه د خوښۍ ښوونکې ولولې او زیري راوړونکې پېښې، څه پر تمینې ننبې راڅرګندې شوې او له هرې خوانه د قومانداناتو چغې اورېدل کېدې. له کینې خوانه، ډښکلو او نویو پاکو جامو اغوستونکي سواره راښکاره شول. هغوی یرغه روان وو. د ټولو پر څېرو یو ډول داسې ګښی خوره وه چې ستر واکمن ته د نږدې کېدو په وخت دوګړو پر څېرو راخپرېږي. د اسیرانو ډله خوره وره شوه... څارونکي رامخې ته شول او په خپلو ځایونو ودرېدل، غږ شو:

- امپراتور ! امپراتور ! مارشال ګیرڅوګ !

او همدا چې د مړو او ثوربوسورو ډله تیره شوه، دیوې ګاډۍ د راتګ غږ چې خړ رنګو آسونو کشوله، واورېدل شو. پېیر یوه شېبه، دیوه سړی ثوربه، سپینه، ښکلې او آرامه څېره ولیده چې درې کونجه خولۍ یې پر سر وه، هغه د مارشالانو له ډلې نه یو مارشال و. د پېیر لوړې او پام ته وراړونکې ونې، د هغه پام ځانته وروا ړاه. پېیر داسې وانګېرله چې د مارشال په تریو تندي شوې څېره کې چې له ده نه یې مخ آړاوه، څه عذاب او رنځ لیدل کېږي او هڅه یې کوله چې هغه له ده نه څېره پټه کړي.

یو جنرال چې په تکه سره څېره کې یې د ډار ننبې څرګندې وې او د اسیرانو د ډلې مشري یې کوله، خپل ډنګر آس یې یرغه کېدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅاوه. هغه يوه بګۍ پسې مخه کړه. څو افسران سره يوځای شول او سرتيري هم پرې راټول شول. د ټولو څېرې ګېڼې اخېستې او ډار ترې وريده.

پيېر واوريدل چې ټول پوښتي:

-هغه څه وويل ؟ څه شی ؟ څه ؟

د مارشال د تيريدو په وخت کې، اسيران په يوه کوټه کې يو کنج ته شول او پيېر ، کراتايوف چې سهار راهيسې يې نه و ليدلی، وليد.

کراتايوف پر خپل ځای کې کېناست او د چنار ونې ته يې ډډه ولګوله. د هغه په بشره کې د تيرې شپې د بې ګناه سوداګر د مظلوميت د نقل د خوښۍ نه پرته، يوه پرتمينه آرامتيا هم ليدله کېده.

کراتايوف، په مهربانه ګردو سترګو چې اوس له اوښکو ډکې وې، پيېر ته کتل. داسې بربښېده چې هغه ته، دځان پلو د نږدې کېدو بلنه ورکوي او غواړي کوم څه ورته ووايي، خو پيېر چې دځان په اړه سخته اندېښنه لرله، داسې وښوده چې د کراتايوف کتل يې نه دي ليدلي. او په تلوار لرې شو.

کله چې د اسيرانو ډله بيا وخوځېده، پيېر شاته وکتل ، کراتايوف دلارې څنګ ته، ترچنار لاندې ناست او د هغه پر سر ولاړ وو دوو فرانسويانو په خپل منځ کې څه ويل. پيېر نور نو شاته ونه کتل او همداسې ګوډ ګوډ پر غونډۍ وروخوت.

د هغه له شانه، له هماغه ځايه چې هلته کراتايوف ناست وو دډزو غږ واوريدل شو. پيېر د غه ډزې په څرګنده واوريدې د دې ډزو د اوريدو سره همهاله دا وریاد شو چې هغه لا د مارشال د تيريدو له شېبې نه تر سميلينسکه پورې د پاتې رباطونو او مزلونو پيل کړې شمېر پوره کړی نه دی، هغه خپل شمېر ته دوام ورکړ. دوه فرانسوي سرتيري چې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتوپکو له خولې نه لوګی وت، د پییر له څنګه تیر شول. د دواړو رنګ الوتی و. له هغو نه یو تن، پییر ته له شرم ډک غلچک ورولېږه. د هغه بشره د هغه ځوان بشرې ته پاتې کېده چې ده د خپلو اسیرو ملګرو د اعدام په وخت کې لیدلې وه. پییر چې د غـه سـرتیري تـه وکتـل، وریاد شول چې څنګه د غه سرتیري پرون نه ابله ورځ. پر نغري د خپل کمیس دوچېدو په وخت کې، هغه وسوځاوه او ټولو پرې وخندل.

دشا له خوانه ، له هغه ځایه چې کراتایوف هلته ناست و ، د سپي د چغو او سورو غږ واوریدل شو ، پییر وویل:

- څه احمقه سپی دي، ولې دا چغې سورې وهي ؟

که څه هم له پییر سره تلونکو سرتیرو او د هغه ملګرو لکه په خپله دده په شان هغې خواته وکتل چې لومړی د ډزو غږ ترې واوریدل شو او بیا د سپي د رمباړې ، خو بیا هم د هغو څېرې ډېرې جدي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

دمارشال پوځي کتار او د اسیرانو ډله، د شمیشیوا په کلي کې تم شول. ټول، ډلې ډلې او نغري يې ولګول. پېير هم يوه نغري ته ورنېږدې شو، د آس سره شوې غوښه يې وخوړه، د اورڅنګ ته وغځېد او هماغه شېبه خوب يوړ. هغه هماغه خوبونه ليدل چې د برادينو تر جګړې نه وروسته يې په موژايسک کې ليدل.

بيا رښتيتی ژوند دخوبونو له دنيا سره ګډېدل، بيا کوم چا، چې دی په خپله و که کوم بل څوک، ده ته، هماغسې په موژايسک کې دويل شويو وينا وو په څير، کوم خيالونه ويل:

«ژوند هر څه دی، ژوند خدای دی، هر څه خوځېږي و ځای بدلوي او همدا خوځون خدای دی او تر هغه پورې چې ژوند دی، د خدای د پېژندنې لذت هم شته. د ژوند ګرانښت د خدای ګرانښت دی.

دغه ژوند، د هغه له ټولو انځورونو او د هغه دنا سزا وړو رنځونو سره سره، له دغه ژوند سره مينه او لېوالتيا تر ټولو ګرانه او غوره نيکمرغی ده.

پېير ته وريا د شول:

-کراتايوف!

هغه ته ناڅاپه لکه دژوندۍ څېرې په توګه، د جغرافيې کمکی ځانه او مهربانه ښوونکی چې چور دده هېر شوی و، وريادشو، هغه بوډا ده ته وويل:

-صبر وکړه!

هغه بوډا ده ته د جغرافيې ګُره وروښودله، دا ګُره، يوه ژوندۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېدونکي او بې اندازې ګړه وه. د ګړې مخ له داسې ټکويا څاڅکو چې خورا سره نېږدې وو، جوړ شوی، ودا څاڅکی به ښوريدل، بې ځايه کېدل او يو ځای کېدل به. کله به له څو څاڅکو يو څاڅکی او کله به يو څاڅکي په څو څاڅکو بدل شول. داسې تصور کېده چې هر څاڅکی سره شيندل کېږي چې ډېر ځای ونيسي...

بوډا ښوونکي وويل:

-او ژوند همدا دی !

پېير فکر وکړ:

-څومره ساده او آسانه دی، ما څنګه نه شو کولای پخوا په دې خبره پوه شم.

ښوونکي وويل:

-خدای په منځ او تل کې دی، هر څاڅکی هڅه کوي، ددې لپاره لا زيات خپور شي چې خدای په ځان کې څرګند کړي. دغه څاڅکی پسې لوېږي، راټولېږي، يو ځای کېږي، د ګړې له مخې ورکېږي، تل او ژورې ته ځي او بېرته راپورته کېږي. هو کې ! دې کراتايوف ته وګوره !

-وشيندل شو او ورک شو !

ښوونکی زياته کړه:

-څنګه سر دې پرې خلاصېږي !

يو غږ وا وريدل شو:

-څنګه سر دې پرې خلاصېږي او کنه ؟ او کنه بلا ورپسې !

او پېير راويښ شو. هغه راپاڅېد او کېناست.»

يوه فرانسوي سرتيری چې څوشېبې مخکې يې يو اسير دنغري له څنګه شړلی و، خپله دمنګلو پر سر اورته نېږدې ناست و او په سيخ کې يې غوښه کبابوله. لستوني يې بډوهلي وو، او له غټو غړو ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډګوتي لاسونو يې چې له ويښتو ببر وو ، سيخ په خورا مهارت پر اور چورلاوه. د هغه له خواشينۍ ډکه بشره او يرغلګر بانه، داور د شغلو په رڼايي کې له ورايه راڅرګند شول.

هغه ځان سره وبنګېد ، په چټکۍ يې مخ دده شاته ولاړ سرتيري ته وروااړاوه او وې ويل:

-هغه ته بې تفاوته ده، داړه ماره درځه !

هغه سرتيري چې د کباب سيخ يې پر اور چورلاوه، په خواشينۍ خبرې او تريو تندي پيير ته وکتل. پيير مخ ترې واړاوه او دتيارې پلو يې وکتل. هلته يو روسي اسير، هماغه اسير چې فرانسوي د نغري له څنګه شړلی و ، ناست او په کوم شي يې لاس واهه. پيير وروړاندې شو او د سرتيري تر څنګ يې ، يو ناست ژېړ رنګی سپی وليد ، سپي لکۍ وښوروله او پيير وويل:

-آه ! راغی، بلا...

هغه خپله پيل کړې خبره بشپړه نه کړه، هغه ته نابېره. پلاتون هغه غلچک ورياد شو چې دچنارو تر ونو لاندې دناستې پر وخت يې ده ته ورکتلي و. له هغه سره هممهاله، هغه ډزې چې ده هلته اوريدلې وې، د سپي قولې، د فرانسوي سرتيرو له جنايته شرمېدلې څېرې، د هغه له څنګه په چټکۍ د هغو تيريدل، د هغو له ډلې نه ديوه په لاس کې توپک چې له خولې نه يې لوګی خوت او په کورکې د کراتايوف نشتوالي، ټول او ټول ده ته همهاله ورياديدل. دې يادونو پر ده څپه څپه يرغل کاوه او هغه په دې ډاډه شو چې کراتايوف وژل شوی دی، خو له دې سره همهاله، په دې شېبه کې، د هغه په خيالونو کې، لوی خدای پوهېږي له کومه، د هغه مابنام يادونه راخواره شول چې ده د کيف په ښار کې ، د خپل کور په برنډه کې له يوې ښکلې پولنډۍ ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره تیر کړي وو ، خو دا چې ده ونه شو کولای، د هغو او خپلو ننیو یادونو ترمنځ اړیکي پیدا او پایله تري واخلي، سترګې یې وتړلې او د طبعیت اوړنۍ منظره یې ، دلامبو له خاطرو او لوړي او ښکته خوځېدونکي ګړي له تصویرونو سره یوځای شول، هغه چېرته او به ته ورښکته شو ، داسې چې او به یې له سره هم وا وښتې.

د سپېدو مهال و چې هغه د ډزو او د چیغو سورو غږ را ویښ کړ ، د پېیر له څنګه نېږدې فرانسویان تښتېدل.

له هغو نه یوه تن چغې کړل:

- قزاقان !

او له یوې دقیقې وروسته ، یوې ډلې چې روسي څېرې یې لرلې، پر ده شا او خوا راټول وو.

د پېیر تر ډېرې پورې پر هغه څه سر نه خلاصېده چې هلته تیریدل، هغه له پلو نه د ملګرو د خوښۍ ناري سورې اوریدې. زړو سرتیرو ، له قزاقانو او سورو پوځیانو نه غېږې تاوولې او له ژړا نه په ډکو نارو یې چغې وهلې:

-وروڼو ! ماته ګرانو ! دزړه سرو !

سواره پوځیان او قزاقان له اسیرانو نه راتاوو شول او په تلوار تلوار ، هغوته چا کالي، چا موزې او چا ډوډۍ ورکول. پېیر چې د هغو په منځ کې ناست و ، پر له پسې یې سلګۍ وهلې او آن یوه خبره یې هم نه شوه کولای. هغه، هغه لومړنی سرتیری نه و چې ده ته ورنېږدې شو ، غېږیې ترینه تاو کړه او په سلګو سلګو یې هغه ښکل کړ.

* * * *

دولوخوف دیوه کنډواله شوي کور، د دروازې تر څنګ ولاړ و او تر مخې یې ، دبې وسله شویو فرانسویانو یوه ډله تیریده. فرانسویان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې شوي حالت نه خورا نا آرامه وو او په خپل منځ کې په لوړه لوړه غږېدل، خو کله چې به هغوی، د دولوخوف له ځنګه چې په کراره او نرمۍ یې په متروکه خپله موزه وهله تېرېدل او دوی ته یې په هینداریزو سترګو چې د هغوی لپاره یې د خوښۍ هېڅ زیری نه لاره، کتل، هغوی به چپ شول.

د دروازې بل ځنګ ته د دولوخوف قزاق ولاړ و او اسیران یې شمېرل. او دهرو سلو تنو په پوره کېدو به یې یوه کرښه ویسته.

دولوخوف له هغه قزاقه چې اسیران شمېرل، وپوښتل:

-خو تنه شول ؟

قزاق ځواب ورکړ:

-دویمه سلیزه پوره شوه.

دولوخوف وویل:

-خوځېږه ! خوځېږه !

ده دغه خبره چې خوځېږه، له فرانسویانو زده کړې وه او همدا چې دده سترګې په فرانسویانو لګېدلې، په هغو کې به د کرکې او دښمنۍ نښې راځرګندې شوې.

دینیسوف چې قزاقي خولۍ یې له سره لرې کړې وه، په تریو تندي او غمجنې بشرې، هغو قزاقانو پسې روان و چې د پیتیا رستوف ځنازه یې، په باغ کې د کېندل شوي قبر پلو وړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د اکتوبر له اته ویشتمې چې ساړه پیل شول، د فرانسویانو تېښتې تراژیدي بڼه پیدا کړه. هغوی یا سړو وهل او یا د اورونو ترڅنګه سوځېدل یا ، خوبې بیا هم تالان شوي او غلا شوي شیان نه پرېښودل، د هغوی دریغ لا بدلیدونکی نه و. د بله ډله ټولواک ، سیمه ایزه امیران، ، شهزادګان او مارشالان ټول او ټول په خوځېدونکو ګاډیو او کراچیو کې له دغو قیمیتي پوستینونو او کوټونو او نورو غلاوو شویو غنایمو سره روان وو.

خو له مسکوه د وتلو له پیله لا تر او سه پورې د هغوی د تېښتې او شاتګ په دریځ کې کوم بدلون راغلی نه و.

له مسکو نه د ویازما تر سېمې پورې د فرانسویانو له درې اویا یزه پوځ نه، د ګارد له پوځه پرته(چې د جګړې په ټوله موده کې یې د تالان او شوکو نه پرته بل څه نه وکړي ) دشپږو زرتنو نه زیات څوک پاتې نه وو. (له دغې ډلې نه پنځه زره تنه په جګړه کې وژل شوي وو )دغه شمېر له د ضرب وهلو په شان چې وروستې شمېرنې په خپل سر راځرګندېږي، همدا سې راځرګندیده.

فرانسوي پوځ دمسکو او یازما ، دیازما او سمیلینسک، د سمیو لینسک نه نیولې بیا بیریزنې ، له بیریزنې ته تر ویلنا پورې، دنورو ډولا ډول او سختو شرایطو لکه دسړو زیاتېدل او کمېدل، دپارتیزانو له دخوا د هغوی پسې اخېستل، د لارو بندیدل او له داسې نورو نه پرته، په پرله پسې له مینځه تلل او پو پناه کېدل.

د فرانسویان دغه پوځ تر یازما ، نه وروسته، ددې پر ځای چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخوا په شان په درې کرښو روان وي، په يوې ګډې او له اله ګولې ډکې ډلې بدل شوی و. او تر پايه پورې همداسې روان و.

بريتــه، خپــل امپراتــور (نــاپليون) تــه (ټــول پــه دې پــوهېږي چــې قوماندان، په خپلو ګزارشونو کې څومره غير رښتيني شيان په څومره مبالغه ليکي) وليکل:

تصور کوم دنده لرم، د سرتيرو او قطعاتو حالات، لکه هغه شيان چې خپله مې په دې درې ورو ستيو ورځو کې د هغو خوځېدا ليدلې، ستاسو همايوني اعلحضرت ته وليکم. پوځ څه کم ټول سره شړېدلی او خور ور شوی دی. د هغو سرتيرو شمېر چې ځان تر بيرق لاندې تګ ته اړ ګڼي، څلورمه برخه پاتې ده. پاتې کسان هر څوک په خپله خوښه، د خوړلو دلټولو او د نظم د کړکيچ نه د ژغورنې له کبله، هرې خوا ته ځي او تښتي. ټول د سميلنسک په اړه فکر کوي او دې ته سترګې په لاره دي چې هلته استراحت وکړي. په دې ورو ستيو ورځو کې سرتيري خپل ټوپک او کارتوس هسې ارتېږي. ستاسو همايوني اعلحضرت راتلونکی تکل چې هرڅه وي، هغه به وي، خو ملي ګټې دا غوښتنه کوي چې پوځ په سيملينسک کې راټول شي. هغه له غير پوځي او ناوړه کسانو نه پاک شي. دا سې کسان چې آسونه او وسلې ترې پاتې دي، څو ورو ځو استراحت او خوړو ته اړتيا ليدله کېږي. سرتيري له لوږې او ستړيا نه، مرګني حال لري او په دې ورو ستيو ورځو کې خو ډېر په لارو او تم ځايونو کې مړ شول. دغه د بد مرغۍ او خوارۍ حالات، هر څه لاپسې کړکيچن او ګواښمن کوي او که د دغې بدمرغۍ د مخنوي لپاره کومه چاره ونه سنجول شي، موږ به د خپل واک د ساتنې لپاره کوم پوځ ونه لرو.

د نوامبر نهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سيملينسک په ديرش ورسته واټن کې

فرانسويانو چې سيملينسک د خپلو هيلو او ارمانونو د غوړيدو ځمکه ګڼله، هلته ورسېدل، دخوړو او کالو د لاس ته راوړلو په هيله يې ديو او بل شکول او وژل پيل کړل، خپلې زيرمې يې تالا او دمغازو تر لوټولو وروسته ، خواره واره او وړاندې په تېښته وو.

پرته له هغه چې خپله پوه شي، چېرته او د څه لپاره درومي، ټول روان وو. تر ټولو نه زياته بې خبرې د ناپلیون وه، ځکه هېڅ څوک نه و چې هغه ته سپارښتنه يا مشوره ورکړي. خو ددې ټولو خبرو سره سره ده او د هغه کسانو خپل پخوانی عادت مراعاتول:

فرمانو نه يې ليکل، ليکونه او راپورنه يې لوستل، ، ورځني مهال ويشونه يې جوړول، يو بل ته يې د اعلحضرت همايوني، زما وروره شهزاده اکسموله ! ټولواک ناپلیون ! او نور نومونه يادول.

دغه فرمانونه يې او سپارښتنې ټول د کاغذ پرمخ وې، هېڅ چا هغه سرته نه رسول، ځکه هغه د سرته رسېدو نه وړ نه و ، که څه هم هغوی يوبل د همايوني اعلحضرت، ټولواک او ورور په نامه يادول، هغوی ټولو دا احساسوله چې هغوی، خورا خوار او سپک خلک دي چې د ظلم کاسه يې نسکوره شوې او اوس بايد د خپلو کړو ځواب وواييي.

سره له هغه چې هغوی دا سې ښودله چې د پوځ په غم کې دي، خو هغو هر يو يوازې دځان په اړه فکر کاوه او دا چې څنګه ژر تر ژره لاړ شي او ځان وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

د شاتګ په وخت کې، د روس او فرانسې د پوځ عملیات له مسکوه تر نیمانا پورې د پټ پټاني او سترګو پټولو هغې لوبې ته ورته و چې ترپایه دلوبغاړو سترګې تړلې وي او کله ناکله د خپل ځان دښودلو لپاره یو زنګ وشرنګوي. په دې لوبه کې هغه لومړی څوک چې باید ونیول شي، له هر ډول ډاره پرته زنګ وهي، خوکله چې هغه له ګواښ سره مخامخ شي، هڅه کوي چې د زنګ له شرنګېدو پرته ځان وژغوري. هغه له خپل سیال نه تښتي او زیاتره وخت د تېښتې په خیال کې، سیال پر هغه برېد کوي او نیسي یې.

د ناپلیون پوځ هم په لومړي سر کې کله نا کله ځان ښوده. دا هغه لومړني وختونه و چې دوی د کالوژسکایا لارې ته مخه کړه، خو وروسته چې د سیملینسک لاروته ورسېدل، هغو په تښتېدو تښتېدو کې زنګونه هم شرنګول. د هغوی زیاتره په دې تکل کې وو چې ووزې، وتښتي، خو مخامخ پر روسانو وربرابرېدل.

دفرانسویانو تېښتې او هغو پسې مل د روسانو تلوار، ددښمن د تقربي ځای د پیدا کولو لپاره اصلي وسیلې، آسونه وو، چې د ستړیا له لاسه له پښو پاتې کېدل. دغه راز دواړو سیالو خواوو، د ځای د بیا بیا او ژر ژر بدلیدلو له امله د اړتیا وړ اطلاعات یا په لاس نه راتلل او که رارسېدل هم، په خپل وخت نه رارسېدل. که په دویمه نېټه به خبر راورسېد چې د دښمن پوځ چېرې ځای پر ځای شوی دی، بله ورځ یعنی په دریمه نېټه چې باید پر هغو برېد شوی وای، دغه پوځ به بیا نور هم وړاندې تللی وو دا سې ځای به رسېدلی و چې د هغه په اړه به هېڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطلاعات نه وو.

یو پوځ تېښتېده او بل ورپسې و. فرانسویانو له سیملینسک نه وروسته، ډېرې لارې لرلې او داسې برېښېده چې په دې ښار کې تر ټلورو ورځو پاتې کېدو وروسته، هغوی کولای شي د خپل دښمن (روسانو) دځای پر ځای کېدو سیمه پیدا او په دې اړه دځان په ګټه کومه پریکړه وکړي، خو تر ټلورو ورځو وروسته، هغه بې نظمه ډله، تېښتې ته مخه کړه، نه ښی او نه کینې خوا ته لاړل، د تګ د تکل له هر ډول تدبیر او اند ښېښې نه پرته، د کراسنو او ورشو پر هماغې پخوانۍ لارې چې تر ټولو لارو، نا وړه، خو دوی ته آشنا لاره وه، خپلې تېښتې ته دوام ورکړ. هغوی په دې تصور چې دښمن تر شا دی نه تر مخې، دم په دم یې واټن سره لرې کېده او ډېر ژر د ټلریشتو ساعتونو د واټن په کچه سره لرې شوي وو. تر ټولو دمخه امپراتور، بیا شاهان او ورپسې سیمه ایز شهزادګان، په تېښته وو. روسي پوځ تصور کاوه چې ناپلیون، تر ټولو غوره لاره، غوره کړې ده، ښي پلو ته یې مخه کړې او د دنیبر له سینده به واوړي. هداسې هم وشول، هغوی ښي پلو ته لاړل او دکراسنو لویې لارې ته ووتل. او همالته و چې د پټ پټوني او سترګو پټولو لوبه کې، فرانسویان زموږ له مخکښو پوځونو سره مخامخ شول. فرانسویان ددغې ناڅاپي پېښې له امله ځای پر ځای ودریدل، دوی پسې اخېستي پوځ ته یې شا او وروسته بېرته په تېښته شول. دفرانسې خورور پوځ، د درې ورځو په اوږدو کې، ډله ډله، قطعې قطعې، لومړی د شهزاده، بیا د دانو، او وروسته د «نیسه» قطعه، د روسی پوځ له منځه تېریدل. هغوی یو او بل ته شا کړې وه، درانه مهمات، توپخانه، وسلې، او آن خپل نیمایي وګړي یې پرېښې او یوازې د شپې په تیارو کې به پر روسي پوځ تر څنګیزو برېدونو وروسته تېښتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارشال نی، چې تر ټولو وروسته و( ځکه د هغه بد مرغه حالت او یا له همدې امله ، هغه د هغه چا په شان و چې دده تر پښو لاندې ځمکې هغه ته تاوان رسولی وي او خپلو پښو لاندې ځمکه ژر تر ژره پرېږدي، هغه په دې کې و د سیملینسک دیوال که څه هم د چا مخې ته خنډ کېده نه، ځنګه رنګ کړي )

مارشال نی له خپل لس زریزه پوځ سره. و ، اورشو ته، ناپلیون ته مخه کړه ، خو هلته دده یوازې زرتنه پوځ پاتې و خپل پوځ او توپخانه پرېښودل، د شپې په تیاره کې له دنیپره واوښت او یوازې له خپلو زرو تنو وګړو سره یې ځان ناپلیون ته ور ورسساوه.

فرانسویان چې هماغه شان د ښمن پسې اخښستی وو ، هماغه د پټ پټوني لوبه کې، نور هم وړاندې، د ویلنا پلو په تېښته وو. د بیریزینې د سیند غاړو ته په رسېدو ، بیا اله ګوله پرې ګډه شوه ، د هغوی زیات شمېر په سیند کې ډوب شول، یو زیات شمېر هغو یې روسانو ته تسلیم شول او پاتې نور چې هر چا هر ځنګه کولای شول، له سینده پورې وتل او وړاندې وتښتېدل. د هغوی یو ستر قوماندان پوستین واغوست، خپل ملګري یې پرېښودل او په یوازې ځان په کراچۍ کې روان و. نور هم چې چا ځنګه کولای شول، د هغه په څېر وتښتېدل او هغه چا چې نه شو کولای وتښتي، یا تسلیم شول او یا هم ووژل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

داسې بربښنده چې دجګړې او تېښتې په دغو عملیاتو کې ، فرانسویانو له هرهغه څه نه چې ددوی د وژل کېدو سبب کېږي ، مخ نه اړاوه. ددغو پرګنو په یوه خوځېدا کې، دکالوژسکایا له واټه نیولې بیا دستر قوماندان تر تېښتې پورې، ټول خوځون چور بې معنی و. داسې بربښېدل، آن هغه تاریخ پوهان چې دتاریخ تګ لوری دیوه مشر د ارادې زېږنده ګڼي ، نه شي کولای دغه شاته تګ د خپل نظر سره سم وګڼي، خو نه داسې نه دی، ددې برخلاف تاریخ لیکونکو ، غرونه غرونه کتابونه ددې عملیاتو په اړه لیکلي دي چې په هغو کې یې د ناپلیون دجګړیز نبوغ، د هغه دځیرکو جګړیزو کړنلارو ، لرلید لرونکو اټکلونو او د هغه دمارشالانو دبې ساریو بري راړونکو قوماندو ستاینې شوي دي. تاریخ لیکونکو ، له کمکي یارسلاونه د ناپلیون تر شاتګه، له هغه ځایه شاتګ چې هلته هر ډول نعمتونه پیدا کول ورته پریمانه و او هم په بله لاره چې وروسته کوتوزوف پرې لاړ، دی یې پسې واخېست ، هم تلای شو. دغه غیر لازم شا ته تګ ، هغه هم له ورانو او ګړوو لارو نه ، په بېلابېلو دلایلو ستایي. له سیملینسکه وروسته داورشو پلوته د هغه شاته تګ ، په همدې ډول ستاینزو ویناوو ستایي. بیا په کراسنوکې د هغه داتلوالۍ غورې او ستاینې کېږي. داهغه ځای دی چې ګواکې دی پریکړه کوي د پوځ مشري خپله واخلي او دجبهو قوماندانې هم خپله کړي. هغه هلته په شنه ډاګ کې قدم وهی او وایي:

- امپراتوروالي بس دی، نورنو ددې وخت رارسېدلی دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال واوسم.

خو د دې خبرې سره سره يې هماغه شېبه، بېرته تېښتې ته مخه کړه او خپل مات، خوار او له ځانه شاته پاتې پوځ يې تقدير ته وسپاره.

بيا يې موږ ته د مارشالانو، په تيره بيا (نيه)نومي مارشال د غوره او بري راوړنکی روح ستاينې وويلې او زياته يې کړه چې دده مېړانه په دې کې ده چې هغه د شپې په تيارو کې، د ځنګلو او بې لارو لارو نه، ځان د دنيپر سيند ته رسوي. مارشال له هغه سينده اوړی، د خپل علم، توپخانې او په سلو کې د نوی (۹۰) وګړو د له لاسه ورکولو نه وروسته، د اورشاو په سيمه کې پناه لټوي.

او په پای کې مورخين د ستر امپراتور د وروستي خوځون او د هغه له خوا د خپل قهرمان پوځ پرېښودنه، موږ ته ديوې سترې چارې او نبوغ په بڼه انځوروي، آن د تېښتې دا وروستې پېښه چې په انساني ژبه کې، ورته وروستی سپکاوی ويل کېدای شي او هر ماشوم په هغه د شرم احساس کوي، ددوی د مورخينو له خوا ديوې سترې مېړانې په نامه ستايل کېږي.

کله چې خبره دلته رسېږي چې تاريخي پېښې دومره وړاندې کش شوي اونوريې وړاندې پورې وهل ناشوني دي، کله چې نور هر څه، په ډاګه د هغه چا پرضد دي چې بشريت هغه عالي او ښه ګڼي، تاريخ ليکونکي د سترې ژغورنې خبرې له ګېډې راباسي.

کله چې مورخين د ستر په اړه غږېږي، هلته نور نو د ښه او بد لپاره ځای نه شته، هلته يوازې ستر پاتې کېږي اوستر خو بد کېدای نه شي. هېڅ ناولتوب نه شته چې ستر ته وويل شي.

همدا چې تاريخ ليکونکي ستروالي رامنځ ته کوي، نور هلته ښه او بد نه شته، هلته يوازې سترتوب او ناسترتوب وي او بس. هر هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر دي، هغه ښه او هر هغه چې ستر نه دي، هغه بد دي. ستر یعني وجدان، د مورخینو له انده «ستر» داسې ځانګړي وګړي دي چې دوی خپله هغه اتل نوموي. او ناپلیون چې ځان په تاوده پوستین کې مروړي، نه یوازې خپل ملګرو، د خپل پوځ مشران بلکې خپل سرتیري چې دده د خپلې وینا له مخې، ددنیا بل سرته یې راوستي وو، د مرګ منګلو ته سپاري او خپله کورته ځي. دی داسې انګیري چې ستر انسان دی او دزړه له کومې دآرامۍ احساس کوي. پنځوس کاله ټوله دنیا تکراروي:

- پرتم، پرتمین ! سترتوب ! ستر ناپلیون !

له ستر پرتمتوبه تر خورا وړو کېدو او سپکاوي پورې، یوازې یو ګام لاره ده. د چا په خیال کې هم دا نه ګرځي چې د یوه شي ستر ګڼل چې دښو او بدو په محک تلل کېدونکي نه وي، یوازې او یوازې د خپل ټیټوالي او بې اندازې سپکوالي منل دي.

موږ چې دښو او بدو د معیارونو په معنی، دحضرت مسیح د وینا له مخې پوهېږو، هېڅ شي نا سنجش کېدونکي نه شته. په هر هغه څه کې چې سادګي، نیکي او رښتیتوب نه وي، هلته ستر والي هم نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

کوم روس به وي چې د۱۸۱۲ کال د جګړې د وروستیو پېښو تاریخ ولولي او دژورې خواشینۍ او سختې نارضایتې او هک پک کېدو احساس ونه کړي. څوک دی چې له ځانه دا پوښتنه نه کوي چې زموږ درې واړه قطعې چې شمېر یې تر فرانسویانو هم زیات وو، هغه یې محاصره کړي وو، فرانسویان په اله ګوله کې، ورک لاري او حیران وو، وږي تږي او یخ وهلي وو، ډله ډله تسلمېدل او (د تاریخ د وینا له مخې) د روسانو موخه هم دا وه چې د فرانسویانو د تېښتې مخه ونیسي، ټول اسیر کړي، نو بیا ولې یې هغه ونه نیول او ټول یې چانواري نه کړل؟

څنګه وشول چې د روس پوځ د بارادینو په جګړه کې د فرانسوي پوځ له زیاتوالي سره سره بیا هم وکولای شول د جګړې ډګر پرېږدي، دښمن هک حیران کړي، خو اوس یې بیا سره له هغه چې تر ځانه کم شمېر فرانسویان له درې لوري کلابند کړي دي او دوی د پوځ اصلي موخه هم د دښمن محاصره کول و، خو بیا هم دوی خپل ارمان ته ونه رسېدل؟

ایا په رښتیا هم فرانسویانو زموږ په وړاندې دومره واک او ښه والي درلود چې زموږ له خوا د هغو د محاصره کېدو سره سره، بیا هم موږ ونه شو کولای پر هغو لاسبرې شو؟ څنګه دا ټول پېښېدای شو؟

تاریخ (یا هغه څه چې د تاریخ په نامه لوستل کېږي) دې پوښتنې ته داسې ځواب وايي چې ددې حال علت دا و چې کوتوزوف، ترماسوف، چیچاګوف، دې او هغه او هغوی داسې وکړل او داسې یې ونه کړل، خو دا څه وشول چې هغوی داسې یا هغسې ونه کړل؟ که موخې ته د نه رسېدلو ګناه، د هغو په غاړه وه، نو ولې هغوی محکمه نه شول؟ ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې جزا ونه ليدله ؟ خو آن که تصور وکړو چې د روسانو نه دبرې ملامتي، د کوتوزف ، چيچاګوف او نورو په غاړه وه، دا د پوهېدو وړ نه ده چې د کراسنو او بيريزينې په سيموکې د روسي د پوځ دښه حالت (په دواړو ځايو کې روسانو غوره دريځ درلود )سره سره يې ولې، هغوی د فرانسوي پوځ سرتيري، مارشالان، شهزادګان او امپراتور چې د دوی اصلي موخه وه ، اسير نه کړل ؟

د دغه عجيب دريځ سپړنه (لکه هغه شان چې روسي پوځي مورخين د هغه په اړه ليکي ) چې کوتوزوف پر دښمن دبريد مخنوی کاوه، چور ځکه ناسمه ده چې موږ ټول ښه پوهېږو چې د کوتوزوف ارادې نه شو کولای د يازوما او تورو تينا په څنډو کې ، پر دښمن د روس د پوځ مخنوی وکړای شي.

د دغو ټولوضد او نقيض خبرو سرچينه په دې کې ده چې، تاريخ ليکونکي خپلې ليکنې د ټولواکانو، جنرالانو دليکنو او هغو د ګزارشونو له مخې ليکي او په لوی لاس د۱۸۱۲ کال د پېښو په اړه د خپل کار بنسټ په تيروتنو دروي. هغوی دا سې ګڼي چې د روسي پوځ بنسټيزه موخه په دې پړاو کې دا وه چې د فرانسوي قطعاتو ترمنځ اړيکی پرې کړي او ناپليون، د هغه مارشالان او ټول پوځ اسير کړي.

روسانو هېڅکله دا سې يوه موخه نه لرله، ځکه چې:

- لومړی خو د ناپليون تيت او پرک شوی پوځ په منډه منډه له روسې نه وتښتېد او دا هغه څه و چې هر روسي د هغه ارمان لاره، نو هغه و چې بريد په هغو فرانسويانو پيل شو چې تښتېدل ، نو ځکه هغوی چې څومره ژر کولای شول، هماغسې په منډه وتښتېدل.

دويم د هغه دښمن مخه بندول او په لاره کې خنډ جوړول چې په چټکۍ ستا له خاورې تښتي، خپله بې معنی خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریيم دا چې د فرانسوي پوځ د نابودۍ لپاره چې بې له هر دلیل نه په خپل سر د نابودۍ پلو روان و، د خپل پوځ نابودي، یوه بې معنی خبره وه....

څلورم دا چې له امپراتور، له هغه سره مل شاهان شهزادګان او له هغوی سره ملګرو وګړو د اسیرولو هیله لرل، ځکه بې معنی خبره چې د هغو ساتل به لکه هغه شان چې آن د هغه وخت سترو دیپلوماتانو (ما ېستر او نورو ویل) د روسانو لپاره خورا ستونزمن کار و. تر دې نه لا بې معنی خبره دا و چې د ناپلیون د پوځ اسیرول، په داسې یو دریځ کې چې د کراسنو تر څنډو پورې زموږ خپل نیمایي پوځ هم له مینځه تللی و، حال دا چې د پوځ د اسیرانو د ساتلو لپاره باید څو پوځه وګمارل شي. دا په داسې دریځ کې و چې خپل پوځ پوره او خواړه او کالي نه درلوده او وګړي یې له لوږې مړه کېدل.

دغه ټولې عاقلانه کړنلارې، د هغه پالېزوان کړو او تکل ته پاتې کېږ ي چې د پالیز کتارونه یې خرو تر پښو لاندې کړي وي، هغه خر له پالیزه باسي، په منډه د دروازې پلو ته وردانګي او خر په سر وهي. د دغه پالېزوان د حقانیت لپاره یوازینۍ خبره کېدای شي دا وي چې وویل شي، هغه خورا خواشینی شوی و. خو د دغه پولو د جوړولو لپاره دا خبره ځکه کېدای نه شي چې هغه په پالیز کې د ورانو شویو پولو له غمه زوریدلی نه و.

خو د دې ټولو سره سره، له پوځ سره د ناپلیون د اړیکو پریکول هم بې معنی کار و او هغه ناشونی هم و...

له تارونتیو نه تر کراسنو پورې، په دغې خوځېدا کې، د روسي پنځوس زره پوځیان د ناروغانو، سترو، ستومانه او له پښو پاتې شویو په نامه کم شوي وو، یعني د یوه لوی ښار د وګړو په شمېره د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو ښايي پر ته له هغه چې په جګړه کې ګډون وکړي، وژل شوي وو.
د جګړې په دغه پړاو کې چې د يوه پوځ بې موزو، بې کاليو، بې خوړو او بې شرابو پوځيان په شپو شپو په ۱۵ درجو سړو کې، په وار وار شپې سباکوي، هغه هم په داسې حال کې چې ورځې لنډې، شپې اوه ساعته او شپې شپاړلس يا وولس ساعته اوږدې وې، پوځي نظم لکه هغه شان چې په جګړه کې وي، نه و. کېداى شي په څو ساعتو کې خلک خپله د مرګ پولو ته ورسېږي، خو نه مري، هغوی هره شېبه د لوږې او سړو له ګوانښه سره لاس او ګريوان وي. له همدې امله د يوې مياشتې په اوږدو کې، نيمايي پوځ تالا والا شو. د جګړې په دغه پړاو کې، تاريخ ليکونکي موږ ته وايي چې ميلارادويوويچ څنګه او پر کوم ځاى بايد څنګيز بريد کړاى واى. څنګه بايد تارماسوف، پر هماغه ځاى يرغل کړي او څنګه بايد چيچاګوف (چې تر څنګلو پورې په واورو کې ډوب و) کوم ځاى او کومې خواته لېږديدلاى واى، څوک تالا او د چا اړيکي يې له چا سره شلولې واى، او داسې نور او نور.
روسي پوځ چې نيمايي وګړي يې وژل شوي وو، ټول هغه څه ترسره کړل چې بايد تر سره شوي واى. ټول هغه څه چې د يوه ملت د ارمان لپاره ترسره شوي واى، تر سره شول. دا د هغو ګناه نه وه چې په تودو او آرامو کوټو کې نورو ناستوروسانو، داسې تصور کاوه چې بايد هغه چارې تر سره شوې واى چې ناشوني وې.
ټول هغه ضد او نقيض او عجيب ټکي او د پېښو ناڅرګند حالت چې اوس د واقعيت او د تاريخ ليکونکو د ليکنې تر منځ راپيدا شوى دى او هغه دا چې تاريخ ليکونکي يوازې د جنرالانو ښکلې خبرې او احساسات انځور کړى دي، نه د جګړې اصلي او رښتيني حالت.
د هغه لپاره د ميلارادويچ ويناوې، هغه مډالونه او نښانونه چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا هغه جنرال اخيستي او د هغه وړانديزونه، تر هغه ځه ډېر په زړه پورې او د پام وړ دي چې پنځوس زره تنه وګړي په روغتنونوکې پاتې او يا په اديروکې هېر شول. دا ددې لپاره آن هم د پام وړ نه دي، نوځکه يې هغوی د څېړنې وړ هم نه ګڼي.

په دې لړ کې دا خبره د پام وړ ده چې که يوازې د جنرالانو د غه ګزارشونو، کړنلارې او وړانديزونويوې خواته کړو او د هغو سل زره وګړو حالت ته پاملرنه وکړ چې په دغې جګړه کې يې مخامخ ونډه لرله، که دغه حالت ته پاملرنه وکړو، ټولې هغه تتې برخې به راڅرګندې شي چې لا تراوسه پورې ناڅرګنې برېښي، دا ناڅرګندتوب به ناڅاپه څرګند او برالا شي.

له پوځ سره د ناپليون د اړيکو پريکول، دلسګونو تنو نه پرته دبل هېڅ چا په خيال کې هم نه ګرځېدل، دا ځکه چې هغه بې معنی او د هغه عملي کېدل له امکانه لرې خبره وه.

خلکو يو ارمان درلود: د پرديو له ولکې نه د خپلې خاورې ژغورل. دا ارمان پوره شوی و. دا ارمان ځکه پوره ګڼل کېده چې لومړی:

فرانسويان خپله په تېښته و او هيله يې دا وه چې څوک يې د تېښتې خنډ نه شي.

دويم دا ارمان د خلکو په ګډو پوځي عمليا تو او د فرانسويانو په نابودولو ترسره شوی و.

دريم دا چې د روس پوځ په تښتېدونکي فرانسوي پوځ پسې غبرګ روان و او دې ته چمتو و، هرچېرې چې ودرېږي، هغوی به په زور پسې اخلي.

روسي پوځ د تښتېدونکي ځناور پر سر متروکې ته ورته و، تجربه لرونکی سپور په دې پوهېږي چې د زغلېدونکي ځناور پر سر ګوابښمنه پورته شوې متروکه، پر هغه تر ګوزاره ګتوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم کتاب

# ځلورم برخه

۲۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

کله چې انسان کوم ځناور د مرګ په حال کې ويني، هغه ډار پسې اخلي، ځکه خپل ځان د هغه د ځان يوه برخه ګڼي. هغه ويني چې د هغه ترمخې يو ژوند پای ته رسېږي، خو کله چې يو انسان مري، هغه کسان چې دی ورته ګران دی، له مرګه د ډار له وحشتناک احساسه پرته د جلا والي او روحي ټپي کېدو د ډار، لکه د فزيکي ټپ په څېر چې کله سړی وژني او کله هغه ببرته پالي، ورپاتېږي. د دغه احساس زوريدل تل پاتې او له وسيله نه چې د دغه بهير د لمسون لامل کېږي، ځان لرې ساتي.

د سردار اندرې، تر مرګه وروسته ناتاشا او شهزادګۍ ماريا دواړه په يوه کچه د دغه حالت احساسوه. هغوی روحا د مرګ د ګواښ د تصور په وړاندې چې د دوی پر زړه يې سيوری غوړولی و، ملا، ماته کړې وه او د دې توان يې نه درلوده چې د دغه ژوند ته د ژوند په سترګو وګوري.

هغوی په احتياط هڅه کوله د زړه تپونه د بهرنيو لمسوونکو زورونو کړو وړو نه وساتي، هر څه:

په کوڅو کې په چټکۍ رارسېدونکې ګاډی، د مېلمستيا په اړه يادونو، د کميسونو او نورو کاليو په هکله د نجونو پوښتنو، دوی ته د ډوډۍ خوړلو د بلنې غږ، تر ټولو لا بده دا چې، له دوی سره د خواخوږۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نامه د خلکو لاسي او ورځ چارډوله خبرو د دوی د زړه په تپونو مالګې دوړولې، دوی يې زوروله. دغو ټولو خوا خوږيو، ددغو دواړو د وړتيا وړ خاموشي چې د دوی دګډ زغم او تر اوسه لا د دوی په تصور کې د پاتې شويو وحشتناکو سندرويزو ساندو نه د پټ وحشت چوپتيا ماتوله او دوی دې ته نه پرېښودې چې هغوی ، هغو بې پايه او رازمنو خيالو ته وروګورې چې څو شېبې دمخه د دوی د سترګو په وړاندې تير شوي و.

دوی دواړو ، يوازې هغه وخت دغه د زړه د تل غم او زورېدنه احساسوله چې به يوازې وو. هغوی به په خپل مينځ کې خورا لږ غږېدلې او که غږېدلې به ، خبرې به د کوم ناڅرګند شي په اړه او هسې ګپ شپ به يې لګاوه. يوې او بلې په يوه کچه هڅه کوله، داسې څه رایاد نه کړي چې په هغه کې د رتلونکې يادونه کېده.

هغوی، د راتلونکې په اړه خبرې ، د هغه ياد ته سپکاوي ګاڼه، دغه راز دوی خورا احتياط کاوه چې د هېڅ کوم داسې شي يادونه ونه شي چې ددوی دخدای بښلي پورې به يې اړه پيدا کوله.

هغوی ته داسې برېښېدله، هغه څه چې په دوی تير شوي دي او دوی احساس کړي دي، نه شي کېدای په تورو کې انځور شي. هغوی داسې انګېرله چې د هغه د ژوند د هرې برخې يادونه، د هغه پرتم پرزوي او د هغه راز سپيڅلتيا راټيټوي چې دوی پيدا کړی دی.

په خبرو کې پرله پسې ځنډ ، د هر هغه څيز په اړه له خبرو کولو په احتياط ډډه کول چې هغه پورې يې اړه موندله، په هغو بربدونو له هرې خوا تم کېدل و چې نوربايد نه وای ويل شوي او تر دې نه لا په ډاګه او څرګنده د دوی په وړاندې ، هغه خيالونه دريدل چې دوی يې تصور کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ژور او پوره غم داسې ناشونی دی لکه همداسې چې ژور او پوره خوشي ناشونې ده.

شهزادګۍ ماریا ، د خپل دریغ له مخې یوازې او د خپل برخلیک واکمنه وه د هغه یو اصل دا و چې د خپل وراره روزنه او پالنه یې په غاړه لرله، هغه تر خپلې خورلنډې مخکې دخواشینۍ او غم له هغې دنیا نه چې دوې اونۍ په کې او سېدلې، راووته.

هغې ته له خپلوانو داسې لیک راورسېد چې دې باید د هغه ځواب لیکلی وای. هغه کوټه چې نیکولای جان او دوی دواړه په کې ویده کېدل ، لمده بل درلود او هغه ټوخېدې. الپاتیچ، یارو سلاو ته راغلی و او دچارو حسابونه یې راوړي وو. هغه شهزادګۍ ته وړاندیز وکړ او مشوره یې ورکړه چې مسکو ته راشي او د واژدوفیژنسکي په واټ کې په خپل کورکې چې دجګړې نه جوړ پاتې دی او یوازې لږ څه ترمیم غواړي میشته شي. ژوند روان و اوباید ژوند وشي. که څه هم د شهزادګۍ ماریا لپاره دا خورا ګرانه وه، دیوازیتوب اوځان خوړلو له هغې وینا نه چې د ورور د مرګ له وخته په هغه کې اوسېده، راوزي. دناتاشا یوازې پرېښودل هم د هغې لپاره نه یوازې دخواشینۍ بلکې د وجدان نا آرامي وه. هو ! دژوند اړتیاوو ، هغه هڅېدو ته وربلله او هغې، بې ارادې هغوته غاړه کېښوده. له الپاتیچ سره یې له حسابونو او د چارو په اړه تر خبرو وروسته د وراره له روزونکي دوسال سره مشورې وکړې او سپارښتنه یې وکړه چې مسکو ته دتګ چارې چمتو کړي. ناتاشا یوازې پاتې کېږي. وروسته له هغه چې شهزادګۍ ماریا ، مسکو ته دسفر لپاره چمتوالي پیل کړ، هڅه یې کوله له هغې سره مخامخ نه شي.

شهزادګۍ ماریا ، مشرې ګرافینې ته وړاندیز وکړ چې ناتاشا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی سره مسکو ته لاړه شي، ګراف او ګرافینې په خوښې سره د شهزادګۍ د غه خبرځکه ومنله چې ورځ تر ورځې یې د خپلې لور د روغتیا خرابي او رنګ ژیړیدو ته پام شوی و. هغوی دځای بدلون او د مسکو د داکترانو څارنه دلور لپاره ګټوره ګڼله.

خو کله چې خپلې ناتاشې ته دغه وړاندیز وشو، هغې ځواب ورکړ:

-زه هیڅ کله، هیڅ چیرې نه ځم، زما یوازینۍ هیله له تاسو نه داده چې په کراره مې پرېږدئ.

هغې دا وویل او له کوټې ووته. هغې نه شو کولای، د خپلو اوښکو مخه ونیسي. داسې بریښېده چې د هغې دا اوښکې نه دغم بلکې دخواشینۍ او غم دي.

وروسته له هغه چې ناتاشې احساس کړه چې شهزادګۍ ماریا، هغه غم او ویر ته یوازې پریښې ده، زیاتره وخت به هغه د خپلې کوټې پر څوکۍ ناسته، پښې به یې راټولې او سر په زنګون به یې چرتونه وهل. په خپلو نازکو قلمي او ناکرارو ګوتو یې څه شي څېړل او یا به یې په ټینګار په ناخوځېدونکو سترګو کوم شي ته کتل او سترګې به یې همالته پاتې وې. دغه له عذابه ډک یوازیتوب، هغه لا پسې په عذابوله، خو دغو زوریدو ته، هغې اړتیا لرله. همدا چې کوم څوک به د هغې کوټې ته ورننوتل، هغه به په چټکۍ پاڅېده، دبشرې بڼه او دسترګو غړول به یې بدل کړل. یا به یې کتاب راواخېست او یا به یې څه شي ګنډل او که څوک به ددې کوټې ته ورننوتل، داسې برېښېده چې دې ته به سترګه په لاره وه چې ددې کوټې ته ورننوتلي څوک ژر له دې نه ووزي. هغې ته داسې برېښېده چې دا دي اوس اوس به هغه راز چې ددې د روح موشګافه سترګو په ځان کې نغښتي و له وحشتناکې او له ځان خوړونکې پوښتنې سره د هغه سپړلو ته ملا تړلې او راوسپړي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د د سامبر پای و چې ناتاشا پـه تور وربښـمين کمـيس کې، جړې او پربښو دلې خورې ورې ځنې، ډنګره شوې، رنګ الوتې پر خپل کټ سر پـه زنګانـه ناسـته او پـه خپلو نـازکو منګلويې د خپـل ملاوسـتي پـای تاواوه او ببرته يې وازاوه. هغه د دروازې کنج ته يې کتل.

هغې، هغه پلو ته کتل چې داد پوهېده چې هغه ، هغه پلو تللی و، د ژوند هغه پلو ته، چې پخوا دې د هغـه پلو پـه اړه هېڅ فکر نـه وه کړی، هغه پلو ته چې پخوا هغې ته خورا لرې او لاس ته نه راوړنکی بربښـېده. هغه پلو ته چې اوس د هغې د پوچوالي، ورانـۍ، غـم او مـاتم او دژونـد تر دې پلو نه دې ته نبږدې او د پوهېدو وړ بربښېده.

هغې، هغه پلو تـه کتـل چې دې تصور کـاوه چې هغـه هلتـه دی، خو هغې، هغه پرته له هغې بنې نه چې، دې دلته ليدلی و، پـه بله بڼه ليـدلی نه شو. هغې ، بيا هغـه ، پـه هغـه بڼه چې دې د ميتيشـا ، د ترويځکې او ياروسلاو پـه سيمو کې ليدلی وړ، وليد.

هغې د هغه بشره ولـيده. هغـې د هغـه غـږ واوريـد او هغـه څـه چې دې هغه ته ويلي و، تکرارول او کله کلـه بـه يـې دځـان او د هغـه لپـاره د هغـو خبرو تصور کاوه چې کېـدای شـو ، هغـه وخـت د دوی تـرمنځ ويـل شـوې وای.

هغـه دی، هغـه چـې خپلـه بخملـي چـپن اغوسـتې، پرهغـې لاسـتي لرونکې څوکۍ ډډه لګولې ده، ځنګلې يې پر ځنګانه اوسريې پـر ډنګـر ژيړ شوي لاس ايښـی دی. ټټـر يـې سخت لويـدلی دی او اوږې يـې وتلـې دي. هغه شونډې چيچلې او ستر ګې يې ځلېدلې. پـه رنـګ الـوتې تنـدي يـې ګـونځې راخـورې او ببرتـه ورکـې شـوې. يـو ځنګـون يـې پـه يـوې ځانګړې او پرله پسې بڼې رېږدېده. ناتاشا پوهېـده چې هغـه لـه يـوه ژور درده زوربږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا ، فکر کوي:

-دغه درد څه شی دی ؟ولې دغه درد ؟ هغه څه احساس کوي ؟ څنګه خوږېږي ؟

د سردار اندرې د هغې کتو ته پام شو ، سترګې یې راپورته کړې او پرته له هغه چې وموسېږي، په خبرو یې پیل وکړ او وې ویل:

یوه خبره وحشتناکه ده او هغه دا چې خپل برخلیک یې د زوریدونکي ناروغ له برخلیک سره تړلی دی. دا یو ابدي عذاب دی. په یوه ځارونکي غلچک یې هغې ته وکتل. ناتاشې دغه غلچک ولید او دغه غلچک ته یې وکتل. ناتاشا دتل په شان مخکې له هغه چې دځواب په اړه فکر وکړي، ځواب یې ورکړ او وې وویل:

-نور داسې دوام پیدا کولای نه شي، دا به داسې نه وي، تاسو به رغېږئ، چور به رغېږئ.

ناتاشې، بیا هغه څېره وریاده کړې وه. او ټول هغه څه یې بیا احساسول چې په هغې ورځې یې احساس کړي وو. له دې خبرې سره مل یې، د هغه پر له پسې او غمجن غلچک وریاد او د هغه له ملامت او ناهیلۍ نه په ډکه معنی یې سر خلاص شو.

ناتاشې، اوس له ځانسره وویل:

-ما ومنله چې دا به خورا وحشتناکه وي، که هغه دتل لپاره په عذاب کې پاتې شي. ما دغه خبره یوازې له دې امله وکړه چې ددغه حالت زغمل به د هغه لپاره خورا ګرانه وي، خو هغه په دغه خبره داسې پوه شو او فکر یې وکړ چې دا به زما لپاره ډېره وحشتناکه ویې، هغه، لاهغه وخت غوښتل چې ژوندی پاتې شي، هغه له مرګه ویریده او ما داسې په احمقانه خو ادبي ډول هغه وویل، ما داسې تصور نه کاوه. زما په زړه کې ناوړه څه نه و ، ما چور بل ډول فکر کاوه، که ما هغه څه ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای چې تصور مې یې کاوه، ما به داسې ویلي وای:

-پرېږدئ چې هغه مړ شي !

پرېږدئ چې هغه زما دسترګو په وړاندې همداسې مرګني پاتې شي. د ژوند تر پایه پورې همداسې زما تر څنګه مرګني پاتې شي.

زه به هغه له اوسه هم، نیکمرغه وای. اوس... هېڅوک او هېڅ شي نه لرم. ایا هغه په دې پوهېده ؟ نه، نه پوهېده هېڅکله به پوه نه شي او اوس هم هېڅکله، هېڅکله دا تیروتنه ، جبران کېدای نه شي. او سردار اندرې، بیا همدا خبرې هغې ته تکرار کړې. هغه، هغې ته بیا هماغه خبرې تکرار کړې، دا وار ناتاشې هغه ته په تصور کې بل ډول ځواب ورکړ. هغې د هغه خبرې پرې کړې او ورته وې ویل:

-تاسو ته به وحشتناکه وي، نه نه، تاسو زما لپاره، تاسو پوهېږئ چې زه په ژوند کې له تاسو پرته بل هېڅوک نه لرم او تاسو سره ګډ عذاب زما لپاره نیکمرغي ده.

هغه د هغې لاس راونیو، هغه یې کېښکود، داسې یې کېښکود، لکه تر مرګه څلور ورځې مخکې یې چې کېښکودلی و. هغې په تصور کې، ډېرې خوږې، مهربانه او مینه کې خبرې، داسې خبرې چې هغه وخت یې باید ورته کړې وای، وکړې:

-ته ماته ګران یې... ګران، ګران یې....

دا خبرې یې کولې او خپل سرګردانه لاسونه یې سره مروړل او خپل غاښونه یې په خورا تلوار چیچل.

له خوښۍ نه ډک یو غم یې پر زړه راخوریده. اوښکو یې په سترګو کې باران جوړ کړ. خو ناڅاپه یې له ځانه وپوښتل:

-دا خبرې چاته کوي ؟ هغه چېرې او اوس هغه څوک دی ؟

اوبېرته هرڅه سارړه او د ناپوهېدو په ناڅرګنده غوټه کې ډوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول، بیا په ورو ځو کې د ګبني نبني رابنکاره شوې، هغې خوا ته یې سترګې خښې کړې چې هغه هلته و. او دا سې یې انګېرله چې شېبه شېبه کېدای شي راز راو سپړي.. خو په هغې شېبه کې چې د غه راز راسپړېده ، د دروازې د قفل کوم دروند او لوړ غږ د دې غوږونه یې نا آرامه کړل، وا ورېدل شو. د هغې مینځه دونیاشا ، رنګ الوتې، ګبني اخېستې، په چټکو او بې احتیاطو ګامونو کوټې ته راننوته. دونیاشا ، په ژوندي او ځانګړي انداز چغې کړل:

-کوم بد زیری دی، د پیتر ایلیچ، لیک را رارسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

له ټولو خلکو د پردیتوب له احساسه پرته، ناتاشې اوس د خپلې کورنۍ دغړو په وړاندې هم د پردیتوب ځانګړی احساس درلود. د هغې ټول خپلوان:مور او پلار، سونیا دومره هغې ته نېږدې او دومره له هغو سره عادت شوي او دومره دیدن دي ته تکراري شوی و چې د هغو ټولې خبرې او احساسات دې د خپلې هغې نړۍ لپاره سپکاوی ګاڼه چې دا اوس په کې اوسېده. هغه نه یوازې د هغو په وړاندې بې پروا وه بلکې هغوی ته یې په کرکه کتل.

هغې د پیټر ایلیچ او بدمرغۍ په اړه د دونیاشا خبرې واورېدې، خو په هغو پوه نه شوه.

ناتاشا په خپل خیال کې وویل:

-د هغو، هلته څه بدمرغي وي؟ هغوی ته به څه بدمرغي پېښه شي؟ د هغو هرڅه د پخوا په شان دود یزه او آرامه دي.

کله چې تالار ته ننوتله، پلاریې په تلوار د مشرې ګرافینې له کوټې نه راووت. پر مخ یې دغم څپې خورې او له اوښکو لوند و. داسې بریښېده چې، هغه له هغې کوټې راوتلی و چې له پخوانه پسې اخېستو سلګیو نه یې ستونی تش کړی دی. دناتاشا به لیدو یې له ناهیلۍ نه چغه پورته کړه ، په ژړا شو ، سلګۍ یې وهلې، داسې ژړا او سلګۍ چې له هغو نه دده څېره خوږینه شوې وه.

هغه چغې وهلې:

-پیتیا ! پیتیا ! پیتیا !

راشه چې مور دې غواړي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لکه ماشوم داسې سلګۍ وهلې، پښې سستې کېدې، په داسې حال کې چې کوږ وږ کېده د اوږدې څوکۍ پلو لاړ او داسې وبرېښېده چې پر څوکۍ ورولوېد او مخ یې په لاسونو پټ کړ.

لکه د تندر په څېر ناڅاپه د ناتاشې له سره ترپښو پورې یوه برېښنا وزغلېده او د هغې زړه ته یې یو درونکی ګوزار ورکړ، یو وژونکی درد یې احساس کړ. هغې داسې احساس کړه چې کوم څه په کې وچاودېدل او دا مري، خو تردغه درده وروسته یې په یوه شېبه کې داسې وانګېرله چې له هغو بندونو نه آزاده شوې ده چې دا په کې راګیره وه. د پلار په لیدو او د دروازې له شا نه یې د مور دلېونو او وېرونکو چغو په اوریدو، سمدلاسه او په یوه شېبه کې خپل غمونه، ویر او ځان هېر کړل. هغې پلار ته ورمنډې کړې، خو بې حاله وه. لاسونه یې ښورول او د هغې دروازې خواته یې اشاره کوله چې د مشرې ګرافینې د چغو غږ ترې راته. شهزادګۍ ماریا چې رنګ یې الوتی او لاندنۍ ژامه یې رېږدیدله، له دروازې راووته، ناتاشا یې له لاسه ونیوله او هغې ته یې څه وویل. ناتاشې، نه هغه لیده او نه یې د هغې غږ اوریده. هغه په چټکو ګامونو پر دروازې ورننوتله، یوه شېبه ودریده، داسې برېښېده چې له ځانسره په اخ او ډب کې وه او مور ته یې ورمنډه کړې.

مشره ګرافینه پر کټ پرته وه. په عجیبې ناآرامۍ او خورا بې سارې هڅې یې ځان د دیوال خواته کشاوه او سر یې په دیوال واهه. سونیا او نورو نجونو هغه له لاسه رانیولې وه.

ګرافینې د ناتاشې په لیدو چغې کړې:

-ناتاشې! ناتاشې! دا رښتیا نه دي. دروغ دي، دورغ دي... هغه دروغ وایي ناتاشې! هغې ددې پر شا او خوا راټول شوي خلک پورې وهل او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ځئ !ووزئ !ټول رانه ووزئ !دا دروغ دي، رښتيا نه دي !وايي چې وژلي يې دی، دا رښتيا نه دي، دا دروغ دي !

ناتاشې، پر کټ ګونډې وروهلې، پرمور ورټيټه شوه، له هغې يې غېږ تاو کړه، ناڅاپه يې هغه راپورته کړه، د هغې مخ يې خپلې خواته راواړاوه او خپلې غېږې ته يې را کېښکوده. پرته له دې چې په خبرو کې يې ځنډ راشي، په سلګو سلګو يې وويل:

-ادکې !ګرانې !زه دلته يم !زما دزړه سر يې ادکې !مورجانې !

هغې چې له مور نه همداسې غېږ تاو کړې وه، په مينه يې له هغې سره خواخوږي کوله، سرو پړدی او اوبه يې غوښتې. ناتاشې دمور تنې خلاصولې او ګريوان يې ورڅيراوه.

پرته له هغه چې دا ولوېږي، په زګيروي زګيروي يې وويل:

- موريې !د زړه سره !ګرانې ادکې !دما روحه قربان دې شم.

په داسې حال کې چې د هغې سر، لاسونه او مخ يې ښکلول او احساسوله يې چې د اوښکو باران يې پر ليمو او پزې راروان دی.

مشرې ګرافينې د خپلې لور لاسونه کېښکودل، سترګې يې پټې کړې او يوه شېبه چپه شوه، ناڅاپه په غير معمولي ډول او په خورا چټکۍ پاڅېده. بې له کومې موخې يې دې او هغې خواته وکتل او دناتاشې په ليدو يې د هغې له سره لاسونه تاو کړل او په ټول قوت سره يې هغه کېښکود او بيا يې هغه هماغه شان د هغې سر په لاسونو کې کلک نيولی و، خپلې خواته يې را ګرځاوه او تر ډېرې پورې يې د هغې دردلې او ګونځې څېرې ته کتل.

-هغې په زګيروي ډوله ښه، خو په ډاډه آواز وويل:

- ناتاشې زه درته ګرانه يم ؟ ته خو به ما نه تير نه باسې ؟ ته خو به رښتيا راته ووايې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا چې سترګې يې له اوښکو ډکې وې، په ځير ځير يې مور ته کتل او د هغې په سترګو او څېره کې يو ازې او يوازې د بښنې او زاريو هيلې او مينه ځلېدله او بس.

هغې بيا وويل:

-ګرانې مورجانې !

هغې خپله ټوله مينه او هيلې په خپل آواز کې مروړله چې کېدای شي وکولای شي. دغم هغه پيټی چې د مور پر زړه پروت دی، لږ څه راکم کړي.

مور په داسې حال کې چې له رښتينې پېښې شوې پېښې نه يې انکار کاوه ، دا يې نه منله چې داخپله دې ژوندې پاتې وې او د هغې ګران او نازولی زوی دې د ژوند له ګلاليو غوټو بې برخې شی وی. هغې د ژوند له ترخه حقيقت نه د لېونتوب رازمنې نړۍ ته پناه يوړه.

ناتاشا په دې نه پوهېده چې هغه ورځ ، هغه شپه، بله ورځ او بله شپه څنګه تير شول. نه ويده شوه او نه له مور نه لرې شوه. دناتاشې مينې پر له پسې نه په کومې بلې خبرې او يا کوم تسل بلکې هره شېبه په خورا صبر او زغم خپله مور ژوند ته بلله. دريېمه شپه وه چې ګرافينه څو شېبې آرامه شوه او ناتاشې سر د څوکۍ پر لاستي کېښود او دڅو شېبو لپاره يې سترګې پټې کړې، د کټ شغهاری شو او ناتاشې سترګې پرانستې، مشره ګرافينه په کټ کې ناسته وه او کرار کرار يې ويل:

-پوهېږې څنګه خوشاله يم چې ته راغلی، ته ستړی شوی يې، چای غواړې ؟

ناتاشا ، هغې ته ورنېږدې شوه. ګرافينې د لور لاس راونيو او دوام يې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښکلې شوې یې، نور نو ښه مېړه درته جوړ دی.

-مور جانې، تاسو څه وایئ ؟

-ناتاشې ! هغه نه شته، هغه نور نه شته.

او ګرافینې له لور نه غېږ تاو کړه او دلومړي ځل لپاره یې په ژړا پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

شهزادګۍ ماريا، خپل سفر وځنډاوه. سونيا او ګراف هڅه کوله چې د ګرافينې ترخنګ کله ناکله دناتاشې پر ځای ودرېږي، خو کولای يې نه شو. هغوی ليدل چې يوازې هغه کولای شي، خپله مور د هغې لېونۍ ناهيلتوب او وير نه راوباسي. ناتاشا په پرله پسې درې اونۍ، سره له هغه چې له مور سره په يوه کوټه کې نه اوسېده، دمور په کوټه کې پر ولاړې اوږدې څوکۍ څملاسته. هغې خپلې مور ته دارو او خواړه ورکول او تل به يې د زړه خواله ورسره کوله، ځکه يوازې دلور مينه ناک غږ و چې کولای يې شول د ګرافينې نه يې وير هېر اوه.

دمور روحي ټپ د رغېدو نه و. د پيتيا مرګ د هغې نيمايي ژوند تري اخستي و. د پيتيا تر مرګه يوه مياشت وروسته، هغه پخوانۍ مسته، خوشاله، پنځوس کلنه ښځه لکه مړی داسې له کوټې راووته چې ژوند يې نه غوښت او زړه پړه برېښېده. هماغه غم چې ګرافينه له نيمايي ژوند بې برخه کړې وه، ناتاشا يې بېرته له ژوند سره لېوالتيا ته وهڅوله.

هغه رواني ټپ چې د انساني روحي وير او درد نه راپيدا کېږي، که څه هم خورا عجيبه برېښي خو لکه جسمي ټپونو په څير لکه دجسمي ټپ کرار کرار رغېږي. ځاني ژور ټپونه چې روغ شي، داسې ښکاري چې چاودې يې سره ورغلي دي او جوړې شوې دي. روحي ټپونه هم دځاني ټپونه په شان يوازې، له انساني داخلي او د ژوند د بهېر له لېوالتيا سره په لمسون رارغېږي.

دناتاشا روحي ټپونه هم همداسې وو، داسې تصور يې کاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند يې پای ته رسېدلی، خو د مور مينې يې ناڅاپه دا ورښودله چې د ژوند موخه، مينه ده او دا مينه لا په دې کې ژوندی ده، مينه راژوندې شوه او د مينې له را ژوندي کېدو سره ژوند ، راژوندي شو.

د سردار اندرې د ژوند وروستي ورځې، ناتاشا او شهزادګۍ ماريا خورا نېږدې کړې. نوې بد مرغۍ هغوی دواړه لا پسې نېږدې کړې. شهزادګۍ ماريا خپل سفر وځنډاوه او وروستي درې اونۍ يې لکه ماشوم داسې له ناتاشې سره خواخوږي کوله. هغه وروستي اونۍ چې ناتاشې، د مور کوټې کې تيرې کړې، هغه له لاس او پښو غورځولې وه.

يوه ورځ غرمه، شهزادګۍ ماريا ، ناتاشې ته پام شو چې سختې تبې اخيستې او له تبې رېږديده. هغه يې خپلې کوټې ته بدرګه کړه او پر خپل کټ کې يې څملوله. ناتاشا څملاسته، خو وروسته له هغه چې شهزادګۍ ماريا پردې راښکته کړې، غوښتل يې چې ووزې، ناتاشا هغې ته ورغږ کړ او وې ويل:

-ماريا ، ماته خوب نه راځي، راشه راسره کېنه !

-ته ستړې شوې يې ؟ ښه به دا وې چې ويده شي.

- ولې مو زه له کوټې رااويستم ؟

هغې وپوښتل:

- نه، نه، تا ولې، زه رااويستلم ؟

شهزادګۍ ماريا وويل:

-اوس يې حال ډېر ښه دی، هغه نن داسې ښه غږيده.

ناتاشا ، په کټ کې پرته وه او په نيمه تياره کوټه کې يې د شهزادګۍ ماريا بشرې ته کتل.

ناتاشا له ځانسره ويل:

- هغه، ماريا ، هغه ته ورته ده ؟ هو کې، هغه ته ورته ده او که نه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ځانګړې څېره لري، يو ډول پردې، پردې ده، چور نوې او ناپېژندل شوې څېره او زه ورته ګرانه يم. د هغه په زړه کې به څه وي؟ يوازې او يوازې خواخوږي، مګر څنګه؟ هغه څنګه فکر کوي؟ ماته هغه څنګه ګورئ؟ هو کې، هغه خورا ستره نجلۍ ده.

په مهربانۍ او کمينۍ يې د شهزادګۍ ماريا لاس راونيو، خپلې خواته يې را کش کړ او وې ويل:

- ماشا(ماريا ته له نازه ماشا ويل کېږي)ته داسې فکر مه کوه چې زه بده نجلۍ يم، ښه؟ ګرانې ماشا ! ته پوهېږې چې ماته څومره ګرانه يې؟ راځه چې دواړه ښې، خورا ښې خورلنډې واوسو.

ناتاشې، له دې خبرو سرو هممهاله، له ماريا نه غېږ تاو کړه او د هغې لاسونه او مخ يې پرله پسې مچول.

شهزادګۍ ماريا د ناتاشې ددغې مينې او لېوالتيا نه هم شرمېده او هم خوشاله وه. تر دې ورځې نه وروسته د شهزادګۍ ماريا او ناتاشې ترمنځ هغه خوږه او له شوقه ډکه دوستي رامنځ ته شوه چې يوازې د ښځو ترمنځ وي. هغوی تل يو بل ښکلولې، يو بل ته يې مينه ناکې خوږې خبرې کولې او زياتره وخت يې سره ګډ تيراوه. که به يوه دباندې ووته ، هغه بله به نا آرامه وه او هڅه به يې کوله سره يو ځای شي. هغوی به کله سره يوځای وې، تر هغه وخته به يې ژوند زيات خوندور و چې يوازې به وې. د هغوی تر منځ تر دوستۍ لوړ احساس رامنځ ته شوی و او تل يې دا احساسوله چې يو د بل تر څنګه واوسي.

کله به چپه خوله په ساعتو ساعتو سره ناستې وې او کله به آن چې په خپلو کټونو کې هم پريوتې، تر سپېدو به يې د زړه خواله کوله. زياتره به د پخوانيو وختونو په اړه غږېدل. شهزادګۍ ماريا د خپل ماشمتوب، د خپل مور او پلار او د خپلو خيالونه په اړه خبرې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشې چې پخوا د ماریا د کمینۍ تسلیم او اطاعت، په دغه ژوند کې د حضرت مسیح د سربښندنې او ښوونو پر کې چې د خوراښکلي شعر بڼه یې لرله ، د نه پوهېده او خوند به یې نه ورکاوه ، اوس یې چې ځان له شهزادګۍ سره په مینه کې ګډ ګاڼه ، د هغې په پخوانې ژوند هم پوهېده او د ژوند پر هغو اړیکو چې پخوا یې سر نه پرې خلاصېده ، اوس هم پوهېده او هم یې خوند ورکاوه. هغه په دې خیال کې ځکه نه وه چې د اطاعت او تسلیم لاره خپله کړې چې دا له نورو لذتونو نه په خوند اخېستو رږدې شوې و ، خو دې ته هغه نه پوهېدونکې خوا خوږې چې پخوا یې پوهېدل ورته ګران و ، اوس یې په خپلې خورلنډې کې لیدله.

شهزادګۍ ماریاهم چې د ناتاشې د ماشمتوب او تاند پېغلتوب کیسې اورېدې، دې ته د ژوند پخوانې ناڅرګند اړخونه، یعنې پر ژوند او په هغه کې پر نغښتو لذتونو اعتقاد را څرګندېده. هغوی د پخوا په شان د "هغه "په هکله له دې کبله نه غږېدل چې ویره یې لرله او لکه هغه شان چې دوی ته بربښېده ، په خبرو ، هغه لوړ او تاند احساس را ړنګ نه کړي چې د هغه په اړه د دوی په زړه کې توخنېده. پر ته له هغه چې دوی، خپله د دوی خپل باور راشي. د غه چوپتیا د دې لامل شي، چې کرار کرار هغه هېر کړي.

ناتاشا ، ډنګره شوې وه، رنګ یې الوتی و او جسماً دومره ضعیفه شوې وه چې تل به ټولو د هغې د روغتیا پوښتنه کوله. دغو پوښتنو دې ته خوند ورکاوه ، خو کله به ناڅاپه نه یوازې د مرګ، ناروغۍ، ناتوانۍ او د ښکلا د ورکېدو ډار پسې واخېسته او کله به یې خپل بربنډ مړوند ته پام شو او د هغه ډنګرتوب نه به هکه پکه شوه. هغې به کله ناکله، بې ارادې، سهارې په هینداره کې، لکه هغه شان چې دې ته ښکارېده ، خپله ډنګره او خواره شوې بشره ولیدله. که څه هم هغې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې برېښـېده چې دا بایـد همداسې وي، چې ده، خـو بیـا بـه هـم داوېریدله او په غمونو کې به ډوبه وه.

یو وار چې کله هغې په ډېرې چټکۍ پـه بـرو پـورتـه زینو منډه کړه او سا یې بنده بنده شوه، بیـا یې سمدلاسه بې ارادې تکل وکړ، ښکته ودانګي، له ښکته یې بیـا پـورتـه وځغاستل او دا ټول ددې لپـاره چې د خپلو پښو قوت او د خپل توان حالت څرګند کړي.

بل وار یې د دونیاشاته ورغږ کړ. د هغې آواز ربړ‌ېدیده، سره لـه هغـې چې دې د هغې مینځې د رانږدې کېدو او دګامونو غـږ اوریـده، د زړه لـه تل نه یې، بیا په هغه آواز چې دې به کلـه سندرې ویلې، بیـا ورغـږ کـړل او خپله، خپل آواز ته غوږشوه.

هغه خپله نه پوهېده او کـه کـوم بـل چـا هـم ورتـه ویلي وای، ددې بـه باور نه کېدای چې د هغې په روح کې، تـر نـاولې کرکجنې پـردې لانـدې چې دې ته نالیدونکې برېښېده ، دځوان، تاند او یـو نـازک شنیلي زړې او ریښې په غوړیدو وې. دغه شنیلي بایـد ، ریښـې او څـانګې غـوړولي وای او د هغو تانـدو څـانګو او پـاڼو پـر ټـول هغـه غـم او خـواشـینۍ لمـن غوړولې وای چې پر دې خواره وو. دغو شنو تاندو څـانګو او پـاڼو ځکـه لمن غوړولې وای چې نور نو ، خلک د دې ویر نه یوازې ونـه لیـدلی شـي بلکې د چا ورته پام هم نه شي. د هغې د ګوګل ټپونه په رغـېدو وو.

دجنوري په پای کې شهزادګۍ ماریا مسکو ته لاړه او مشرګراف پـه ټینګار ټینګار ناتاشه دې ته اوړیسته چې ، هغه ددې لپاره له هغې سره لاړه شي چې هلته دا له ډاکترانو سره مشوره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

د ویازمې، تر ننښتې وروسته چې کوتوزف ونه شوکولای پر دښمن د خپل پوځ د یرغل، د دښمن د قطعاتو تر منځ د اړیکو د شلولو لېوالتیا او نورو داسې پېښو مخه ونیسي. له فرانسویانو سره ننښتې او هغو پسې د روسانو منډې، له کومې ننښتې پرته د کرنسو ترسیمې پورې دوام وکړ.

د فرانسویانو تېښته داسې چټکه وه چې هغوی پسې تلونکو روسانو نه شو کولای هغوی پسې ورسېږي، آسونه، سواره پوځونه او توپخانه شاته پاتې کېدل او د فرانسویانو د تګ لوري په هکله اطلاعات تل ناسم وو.

د روسي پوځ وګړي، له دغه پر له پسې منډو او خوځونه چې په شپه او ورځ کې یې خلوېښت ورست لاره وهله، داسې په عذاب او ستومانه شوي وو چې تر دې نه د چټک خوځون توان په کې پاتې نه و.

د روسي پوځ د ستړیا د کچې د اندازه کولو لپاره به دا بسه وي چې لاندې شمېرنې ته پاملرنه وکړو:

هغه پوځ چې د تاروتینو ، تر جګړې وروسته یې شمېر سل زریزو ته رسېده، او ټوله لاره کې یې له پنځو زرو نه زیات مرګ ژوبله نه درلوده او د اسیرانو شمېر هم له سلو نه زیاتېدل، د کرانسو سیمه ته د رسېدو په وخت کې پنځوس زره تنه پاتې وو.

فرانسویانو پسې د روسي پوځونو چټک خوځون ، پر روسي پوځ هم هماغه بد اغیز درلود لکه تښتې چې پر فرانسوي پوځ لاره. د دغو دواړو توپیر په دې کې و چې روسان په خپل خوځون کې آزاده وو. او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګوابښ او د وژونې ویره چې فرانسویان یې پسې اخستي وو، روسانو نه درلوده. د فرانسویانو بله بدمرغي دا وه چې د دوی پاتې شوونکي هم د دښمن لاس ته لویدل او د روسي پاتې شوونکي په خپلو کورونو کې پاتې کېدل. د ناپلیون د پوځ د کمېدو اصلي لامل د هغه چټکه تېښته وه او همدا کار د روسي پوځ د کمېدو اصلی لامل هم ګڼل کېږي.

د کوتوزوف د ټولو کړو وړو اصلی موخه له تاروتینو نه نیولې بیا تر یازما پورې یوازې او یوازې په دې کې وه چې تر پایه هڅه وشي، د دښمن د تېښتې مخه ، چې په رښتیا یې هم د دښمن د پوځ لپاره یې له تالا والا کېدو بله پایله نه لرله، ونه نیسي. ( د هغه څه برخلاف چې پترزبورګ او د روسي پوځ جنرالانو غوښتل ) نه یوازې دا چې د هغوی مخه یې نه نیوله بلکې هرڅه یې دې ته هڅول چې هغه لا پسې تېښتې ته وهڅوي د خپل پوځ خوځون آسانه او پېټې یې کم کړي.

د دې ترڅنګ، له هغه وخته چې د چټک تګ له امله د پوځ مرګ ژوبله او ستومانېدل څرګند شول، کوتوزوف د روسي پوځ د خوځېدا د کرارولو او د مه کېدو لپاره نور دلایل هم لرل. د روسي پوځ موخه، د فرانسوي پسې اخېستنه او څارنه وه. د فرانسویانو د تېښتې تګ لوري څرګند نه و، ځو مره به چې هغو پسې زموږ پوځیان ورلنډ وو، نو په هماغه کچه باید موږ دا لاره وهلې وای، خو یوازې هغه وخت چې له هغوی نه به زموږ واټن لرې و، موږ کولای شو، تر ټولو لنډې لارې د هغو پلو ورپرې کړو او هغو پسې ځان ورسوو...

کوتوزوف، نه د عقل یا پوهې بلکې په خپل ټول روسي روح سره دا احساسوله، لکه هر روسي سرتیري چې احساسوله، هغه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسویانو ماته خوړلې ده. دا چې دښمن تښتي او باید هغه تر پایه وځارل شي، خو له دې سره سره دغه تښته چې د چټکتیا او بې سارې یخ له امله بې سارې وه. دبل هر سرتیری په شان احسا سوله.

خو جنرالانو په تیره بیا غیر روسي جنرالانو چې دځانښودنې هیله یې لرله، خلک حیران کړې، ځان ستاینې خپلې کړې. دا ټول د څه لپاره ؟کوم شهزاد یا خپلواک اسیر کړي. دغو جنرالانو تصور کاوه ، هغه وخت چې د هرډول جګړې پېښېدل بې معنی او د شرم وړ و، باید دوی دښمن جګړې ته اړ کړی وای، دوی لېوالتیا ښودلې وای چې همدا وخت د کوم چا د مېړانې او بریاو وخت دی. کوتوزوف د جنرالانو د خبرو په اوریدو اوږې پورته واچولې، هغوی به یو په بل پسې هغه ته خپل هغه وړاندیزونه او دجګړې داسې تګ لارې به یې وړاندې کولې چې دوی پښېبلې، نیم برښنډ او وږي سرتیري چې شمېریې د یوې میاشتې په اوږدو کې ، پرته له کومې جګړې نیمایي ته راښکته شوی و ، نښتنه وکړي. که دښمن د تېښتېدونکي پوځ دغه تېښته او هغه پسې روسي ځارنه ترټولو نه په غوره ښه ترسره شي، روسي پوځ باید د روسې تر پلو پورې د تګ توان وساتي او ترهغه لارې چې وهلې یې ده، نوره زیاته لاره ووهي.

ددغو ځانښودونو او ځانستاینو ځانګړتیاوې، ددښمن دځپلو هیلې او د هغو د پوځي قطعاتو له یوبل نه د جلا کوله هڅې، په تیره بیا هغه وخت لا زیاتېدې چې روسي پوځونه به فرانسویانو ته نږدې شول.

دغه شان یوه پېښه د کرانسو دسېمې په څنډو کې هغه وخت پېښه شوه چې تصور وشو چې دوی د فرانسویانو له درې قطعو یوه پیدا کړې ده، حال دا چې دوی د ناپلیون په مشرۍ له یو شپاړلس زریزه فرانسوي پوځ سره مخامخ شوي وو.. سره له هغه چې کوتوزوف له خپل ټول توان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امکانه کار وا خېست چې په دغه مرګنۍ نښتې کې د خپل پوځ د ورګډېدو مخه ونیسي. هغه له مرګ او نابودۍ نه وژغوري ، د کرانسو د سیمې په څنډو کې د روسي ژوبل او ناتوان پوځ له خوا د تالا شوي فرانسوي پوځ وژلو درې ورځې دوام پیدا کړ.

جنرال تول، ټوله کرنلاره په خپل زړه جوړه کړه ،. لومړنۍ قطعه هغه پلو خوځېږي. . او نورې نور. . . لکه هغه شان چې په دې ډول حالاتو کې پېښېږي، هېڅ کار د ټاکلې کرنلارې له مخې ترسره نه شو.

شهزاده افګیني فیرتیمبیرسکی، دغونډ له سره پر هغو فرانسوي تښتېدونکو پوځونو ډتوپونو اورني ګوزارونو کول چې ددوی له ځنګه تیریدل. ده د مرستندویو قواوو غوښتنه کوله، دومره مرستندوی یې قوواوې له کومه شي ؟ فرانسویانو دشپې له خوا له روسي پوځونو نه ځان آوارو سیموته تاو کړ. څوک په دښته کې خواره شول او چا په ځنګلونو کې ځان پټ کړ. هر چا چې هر ځنګه کولای شول، ځان یې له دغې بلا نه لرې کاوه.

میلارادوویچ، چې ویل یې د پوځ د خوړو او کالیو اړتیاوې ده پورې هېڅ اړه نه لري او هېڅ وخت به هلته د هغه پته نه لګېده چې ده ته به اړتیا وه. هغه حان بېړنی شاه زلمی ګاڼه. له فرانسویانو سره د خبرو اترو او جرګو مرکو سخت لېواله و. هغه څو تنه ریباران یې دښمنانو ته ورلېږلي وو چې د تسلیمۍ خبرې وکړي. ده ډېر وخت په دغو خبرو اترو او ریبارۍ کې تیر کړ، خو هغه چارې چې ورسپارل شوې وې، یوه هم تر سره نه شوه.

هغه د خپلو پوځیانو پلو ورغی ، فرانسوي سواره یې هغو ته وروښودل او وې ویل:

-هلکانو دا قطعه تاسو ته دربښم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سواره چې له ستړیا او ستومانۍ نه یې ، آسونه لـه پښـو پـاتې وو ، د متروکو او تورو په مرسته یې هغه خوځېدو ته لمسول. هغوی پـه خـورا خواري، هغې ډالۍ ته، یعنې یو شمېر هغو فرانسویانو تـه چې لـه لـوږې او سړو (یخ )نه مرګ حال وو ، ورنېږدې شول. او هغـه فرانسوي پوځیـان چې په خورا سخاوت دوی ته ښنل شوي وو ، هغه څه تر سره کړل چې لـه پخوایې هیله لرله او هغه دا چې وسلې یې وارتېږلې او تسلیم شول.

د کرانسـویه د سیمې پـه څنـډو کـې ، شپږویشـت زره اسیران ، پـه سلګونه ټوپونه ، یوه لکړه چې د مارشـال لکـړه بلـل کېـده ، ونیـول شـول. ډېرې نانـدرۍ او خبـرې اتـرې پـه دې اړه وې چې څـوک پـه مېړانـه او سربښندنه کې تر نورو غـوره و ، خو ټولـو پـه دې افسـوس کـاوه چې ولـې یې پـه خپلـه نـاپلیون یـا لـږ تـر لـږه کوم مارشـال اسیر کـړی نـه دی. ددې نیمګړتیا ، ملامتي ، هر چا پر یوبل په تیره بیا پر کوتوزف ور اچوله.

دغه خلک په خپلو خیـالونو کـې ډوب وو او یـوازې دیوه غمـرلـي او راندە قانون سرته رسوونکي وو. هغوی ځانونه ستر اتلان بلـل او داسـې یې انګېرله چې ګواکې نه هېریدونکې چارې یې ترسره کړي دي. هغـوی کوتوزوف تورناوه او ویل یې چې هغـه لا دجګـړې لـه هماغـه پیـل نـه پـر ناپلیون د دوی دبرې لپـاره خنډونـه جوړول. دوی ویـل چې کوتـوزوف، یوازې د خپلو هوسونو او خیـالونو د سرته رسـولو لېـوني او لېوالـه دی. هغه د پالوتینا ذودونوف ، لـه سیمې (دا هغـه کلـی دی چې هلتـه د سـتر روسي شـاعر الکسـاندر پوشـکین د ښځې نتالیـا ګنچـاروف ، کـورنۍ اوسېده او کوتوزوف څو ورځې هلته پاتې شوی و. )ځکه زړه نه شـکوي چې هلته ښه آرامه وي. تر هغـه وروسـته یې پـه کرانسـویا کـې پـوځ تـه د دریدو امرځکه ورکړ چې هلتـه د نـاپلیون د نېږدې والـي د خبرېدو سـره سم دی ګبنۍ واخېست او هک پک پاتې و چې څه وکړي او آن دا خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پسې کېدې چې هغه له ناپليون سره ګوتې خوږې کړې او د کومې دوکې په تکل کې دي او ناپليون دی تطميع کړی دی او نور.

نه يوازې دغه خلک چې په خپلو خيالونو کې ډوب وو، دغه خبرې کولې بلکې ورو سته نورو خلکو، تاريخ ليکونکو او بهرنيانو ناپليون ستر او کوتوزوف يې بوډا درباري، دوکه مار، عياش، ضعيف النفس ګڼلی دی. روسانو خو هغه داسې بې تدبيره او بې اغيزه نانځکه ګڼلی ده چې د روس له سندريز نامه نه پرته، د روستوب، بله هېڅ نښه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

د ۱۸۱۲-۱۲۱۳ کلونو په اوږدو کې و چې کوتوزف په مخامخ توګه د تیروتنو له امله تورن شو. ټولواک هم له هغه ناراضه و. او په هغه تاریخ کې چې د دربار د سترو دریځوالو په سپارښتنه لیکل شوی و، هغه د یو داسې درباري دوکه مار او دروغجن په نامه، نومول شوی و چې ګواکې د ناپلیون د نامه په اوریدو ربړدیده او د کرانسویا او برزینا په سیمو کې یې د شویو تیروتنو له امله، روسي پوځ پر فرانسویانو د پوره بري له ویاړه بې برخې کړ.

دا د نه د سترو او نه سیالو خلکو برخلیک دی، هغه خلک چې د ویاړ شمله نه لري او روسي روح هغه نه پېژني. دا د هغو یو وزرو او تل یوازې پاتې شویو خلکو برخلیک دی چې د ازل ارادې ته، د هغې تر پېژندنې وروسته د خپلې ارادې غاړه ږدي. پرګنې، د غه راز خلک د لوړو ارادو او دلوړو قوانینو د پوهېدو له امله ګنهګار ګڼي، له هغو نه له همدې امله کرکه کوي او د جزا وړ یې بولي.

د خواشینۍ او افسوس وړ ده چې د روس تاریخ لیکوکو لپاره ناپلیون، دا د تاریخ نا ئخکه، چې هېڅکله او هېڅ چېرې، آن په تبعید کې یې هم انساني شرف نه درلود. د ویاړ او ستاینې وړ اتل دی. ستر دی او نه هېریدونکی. حال دا چې کوتوزوف د هغوی لپاره، هغه سړی دی چې د خپل پوځي خدمت په ټول پړاو کې، له پیله تر پایه پورې، له ۱۸۱۲ م کاله نیولې، بیا د بارادینو تر جګړې او ویلینا پورې، رښتنی او صادق پاتې شو، هېڅکله یې د خپلو کړو یو کړنه او آن یوه کلمه هم ناوړه و نه بلله. دغه سړی په تاریخ کې د سربښندنې او درک یوه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه پاتې شوی او ټول کړه یې د اوسني او راتلونکي پر بري ولاړ و، دغه شان یو سړی، هغوی او تاریخ لیکونکو ته یو ناتوانه نوم ورکی سړی ګل کېږي، له همدې امله دی. داسې یو سړی، چې کله د کوتوزف او د ۱۸۱۲ کال د پېښو یادونه کېږي، د هغوی لپاره د شرم وړ خبره ګڼل کېږي.

خو له دې خبرو سره سره دا به ګرانه وي چې داسې یوه تاریخي څېره تصور کړو چې د هغه هڅه او هاند داسې تل او پر له پسې، یوې موخې او نښتې ته ځیر وي.

ګرانه ده چې د داسې یوې موخې تصور وشي چې د یوه ملت لپاره دومره ارزښمنده، داسې غوره او د خلکو له ارادې سره داسې برابره وي. تر دې نه لا ګرانه به دا وي چې وکولای شو، په تاریخ کې داسې یو تاریخي شخصیت پیدا کړو چې مخې ته ایښې موخه یې دومره په بشپړه توګه سرته رسېدلې وي، لکه هغه موخه چې په ۱۸۱۲ کال کې کوتوزوف د هغې د سرته رسولو لپاره کار وکړ.

کوتوزوف، هېڅکله د کوم څلوېښت پېړیز څوکو (برجونه، لکه د مصر هغه) په اړه چې د هغه له سره وګوري نه غږېده، د هغې سرښندنې په اړه چې خپلې خاورې ته یې کړي، نه غږېده او د هغو چارو په اړه چې یې کړي یا یې د کولو تکل لري، هېڅکله څه نه ویل. هغه اصلاً ځان په اړه هېڅ نه غږېده. د کومې ځانښودنې او خپلې بې سارې وندې یادونې یې نه کولې. هغه تل خورا ساده او شډل سړی برېښېده او خورا ساده او شډلې خبرې یې کولې. خپلو لوڼو او، مادام م ستایل ته یې لیکونه لیکل، رومانونه یې لوستل، ښکلې ښځې یې خوښېدې او له هغو سره یې له کړو وړو نه خوند اخیست. له جنرالانو، افسرانو او سرتیرو یې ټوکې ټکالې کولې او هېڅکله د هغه چا په وړاندې نه درېده او سیالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوله چې غوښتل يې ده ته څه ثابت او په ډاګه کړي

کله چې ګراف راستوپچين د ياوزسکي د پله پر سر کوتوزوف هغه په منډې راغی، او په ملامتۍ کې يې هغه د مسکو د تسليمۍ ټوله ملامتي پر هغه ورواچوله او ورته وې ويل:

- ايا تاسو نه ويل چې مسکو به له جګړې پرته تسليموئ ؟

سره له هغه چې مسکو تسليم شوی و، کوتوزوف وويل:

-زه له جګړې پرته په رښتيا مسکو نه تسليموم.

کله چې ارکچيوف د ټولواک له خوا ده ته راغي او وې ويل چې بايد ايرمولوف د توپچي قوتونو قوماندان وټاکل شي، کوتوزوف ځواب ورکړ:

- هوکې ! ما خپله همدا اوس ، همدا وويل.

که څه هم يوه دقيقه مخکې يې چور بل څه ويلي و. دا له دې کبله و چې د دغو سترو بې پامه پرګنو په منځ کې هغه يوازينی سړی و چې د رارسېدونکي ګواښ اتکل يې کولای شو. ده ته دې معنی نه لرله چې د مسکو له رسوايۍ نه ډکې تسليمي ګناه راستوپچين خپله وګڼي او يا يې پر ده واړوي ؟ آن هغه ته دا خبره بې معنی برېښېده چې د توپچي قوماندان ايرمولوف دی، که بل څوک. دغه بوډا د ژوند او تجربو نه زده کړي وو چې د انسانانو د خوځون او لمسون تر ټولو غوره لامل نه اندېښنې او نه عقايد او نه هغه خبرې دي چې دغه عقايد څرګندوي. ، نو ځکه يې نه يوازې د دې پېښو په اړه بلکې تل هسې بې معنی او هرڅه چې په خوله ورتلل ، ويل يې

خو همدې سړي چې هېڅکله يې خپلو وينا وو ته پام نه کاوه، د خپل ټول خدمت په موده کې هېڅکله آن يو وار هم داسې څه نه و، ويلي چې د هغه يوازيني ارمان د سرته رسېدو، دلارې خنډ شي چې دې د ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې په اوږدو کې د هغه پلو روان و. په دې تصور او زورونکي ترخه ډاډ چې د هغه په خبره څوک نه پوهېږي، په وار وار په بېلا بېلو شرایطو کې هغه هم بې ارادې، خپل خیالونه څرګندوي. په لومړي سر کې یې چې کله د بارادینو په جګړه کې له خپلو شا او خوا کسانو سره پر حالاتو شخړه پیدا شوه، یوازینی څوک و چې ویل یې:

- د بارادینو جګړه د دوی بری دی. ده دا خبره په ډاګه کوله. هغه دا هم تکراروله چې د مسکو تسلیمي، د روسیې تسلیمي نه ده. هغه لوریستون ته چې د ناپلیون له خوا روغې ته رالېږل شوی و، وویل:

-روغه ځکه ناشونې ده چې خلک یې هغه نه غواړي.

هغه یوازینی څوک و چې د فرانسویانو د تېښتې په وخت کې یې ویل:

-هغه څه چې موږ یې هیله لرو، هغه خپله په خپل سر ترسره کېږي، نو ځکه ګوابس ته اړتیا نه شته.

هغه ویل چې د دښمن د پوځ وتلو ته باید ځکه زرین پل وتړل شي چې نه په تاروتنیو کې جګړې ته اړتیا شته، نه په یازما کې او نه د کرانسویه په سیمه کې.

هغه ویل چې د دښمن پوځ باید تر پولې پسې واخستل شي او دی یو روسي سرتیري پر لسو فرانسوي، هغو هم نه ورکوي.

او یوازې د سیالانو په وینا، د غه درباري بوډا چې د ټولواک د خوښۍ لپاره آراکچیوف ته دروغ وایي او د غه درباري بوډا په ویلینا کې په زغرده وایي چې نور د روسیې له پلوه جګړه د دوی په تاوان او بې ګټې ده. دی، دا ټولې خبرې د دې لپاره کوي چې ځان د خواخوږۍ او مهربانۍ وړ وګڼي، خو یوازې د هغه له ویناوو نه دا څرګندیده چې دی نه یوازې، له هماغه پیله د پېښو د پرمختګ په لوري پوهېده، بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کړه هم پرته له هرډول شک نه، ديو ارمان د سرته رسولو لپاره اغيزمن و ، هغه ارمان چې درې پړاوو يې لرل:

۱-له فرانسويانو سره د جګړې لپاره د خپلو ټولو پوځونو چمتو کول.

۲-پرهغوی بری.

۳-له روسيې نه د فرانسويانو ويستل او په ټول توان د خلکو او پوځ د بدمرغۍ د پېښې سپکول.

کوتوزوف د سستۍ هغه ستر استازی چې شعار يې صبر، زغم او د وخت تېرول و ، هماغه د بارادينو په جګړه کې د غوځو پريکړو او ګامونولوی دښمن، په مېړانه و جنګېد او ديوې پرتميني او ويارمنې جګړې لاره يې آواره کړه. هماغه کوتوزوف چې د استرليځ د جګړې له پيل نه لا د مخه يې ويل چې جګړه به بايلي، هماغه کوتوزف چې د بارادينو په جګړه کې يې د ټولو جنرالانو له ډاډ سره سره چې ويلې يې چې په جګړه کې يې ماتې خوړلې ده. او هماغه کوتوزوف چې د دې ټولو خبرو سره سره چې په تاريخ کې هېڅ داسې نه و شوې چې د جګړې ګټونکی پوځ دې شا تګ او تېښتې ته اړ وزي ، د دې ټولو برخلاف په دې ټينګار کاوه چې د بارادينو جګړه د روس د پوځ په ګټه پای ته رسېدلې ده. هغه يوازينی ځوک و چې د فرانسويانو د شاتګ او تېښتې په ټولو موده کې يې په دې ټينګار کاوه چې له کاره لويدلې دښمن سره بايد نښته و نه شي ، له نوې جګړې نه ډډه وشي او د روسيې له پولو وروسته بايد دښمن تعقيب نه شي.

خو د خورا تعجب وړ دی چې څنګه د غه بوډا جنګيالي، د ټولو د عقېدې برخلاف و کولای شول، د خلکو د دوديز روان په رڼا کې د پېښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سې سم اټکل وکړي. دا سې اټکل چې د خپل ټول خدمت په وخت کې یو وار هم تیر نه وزي ؟

د پېښو په اړه د دغه بې ساري خیال او اټکل سرچینه، له خلکو سره د هغه خواخوږي او د هغو په روان پوهېدنه وه، ده د خلکو او اولس دغه سپېڅلی احساس او پاکه چینه په خپل ګوګل کې ساتلې وه. یوازې د دغه عجیب احساس او د هغه په ګوګل کې د هغه د معنویت د سرچینې موندل و چې خلک او ملت یې د ې ته وهڅول. په دغې جګړه کې، هغه د خپل استازي او مشر جنګیالي په توګه غوره کړي.

او یوازې دغه احساس و چې ، هغه یې د انساني احساس پر لوړو ځوکو ودراوه او د پوځ دغه ستر قوماندان خپل ټول توان له هغې ځوکې نه، نه د انسان وژنې بلکې د انسانانو دژغورنې لپاره وګماري.

دغه ساده او کمین سړی، د دغې شاهانه سادګۍ او مینې په برکت، نه شو کولای د اروپا دروغ پالو د اتلانو په بڼه چې ځانته لاسي تاریخ جوړ کړي ځان را څرګند کړي او د خلکو له ارادې پرته ، په خپل تصور کې د خلکو لارښوونه وکړي.

چوپړان ستر انسان نه لري، ځکه چې ستروالي د ځان لپاره خپلې ځانګړتیاوې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

د نوامبر پنځمه، د هغې تش په نوم جګړې لومړۍ ورځ وه چې د کراسنینسکایا نوم یې ګټلی دی. کله چې جنرالانو دلمر په غړغړو کې، تر ډېرو خبرو اترو وروسته، خپل قطعات هغو ځایونو ته بدرګه کړل چې باید بدرګه شوي وای. خپل استازي او یاران یې لا ډول ډول او له یو بل اوضد فرمانونو سره مل، هرې خواته واستول، خو کله چې ثرګنده شوه چې دښمن هر چېرته په تېښته تښتي او جګړه ناشونې ده، کوتوزوف د کراسنینسکایا له سیمې ووت او د دوبرو، پلو ته چې قوماندانې یې هلته لېږدیدلې وه، وخوځېد.

آسمان تک شین او هوا سړه وه. کوتووف د خپلو ملګرو له لویو ډلو او له خپلو ناراضو جنرالانو سره چې تر شا یې ډنډوري پسې غږولې، پرسپین ثورب آس سپور او د دوبرو، د سیمې خواته ورغی. د ټولې لارې په اوږدو کې فرانسوي اسیران (هغه ورځ ۷ زره تنه اسیران شوي وو) ډله ډله دبل شویو نغریو اور شا او خواته راټول او ځانونه یې تودول. دوبرو، ته نېږدې، له یوې لویې ډلې اسیرانو سره چې ثبېرې موزې یې اغوستې وې، سرونه، لاس یا پښې یې په پټارو او یا هرهغه څه چې په لاس ورغلي وو، تړلي وو، مخامخ شول. هغوی له سنګرونو نه د راایستل شویو فرانسوي توپونو د اوږده کتار خواته ولاړ وو. ګڼه ګوڼه، شور او غږ وو. همدا چې ستر قوماندان رانېږدې شو، شر او شور چپ او د هغه خواته چې کرار کرار را روان و، ځیر شول. د هغه خولۍ پر سر، سره پټاره لرونکی سپین پیوندي پوستین پر غاړه، خم خم روان و. یوتن جنرال، کوتوزوف ته ګزارش ورکړ چې دغه توپونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسیران چېرې په لاس ورغلي دي.

کوتوزف، په خپلو غمجنو خیالونو کې ډوب او د جنرال خبرې یې نه اورېدې. په خورا خواشینۍ یې سترګې برندې کړې وې او په ځیر ځیر یې د هغه اسیرانو سر او ځان ته کتل چې خورا خوار او حیران برېښېدل. د فرانسوي اسیرانو زیاتره څېرې ډېرې وچې او بدرنګې شوې وې، پزې او غومبوري یې یخ وهلي وو او څه کم د ټولو سترګې پړسېدلې، سرې شوې او خېرنې وې.

د فرانسویانو یوه ډله، لارې ته نږدې ولاړه وه او دوو سرتیرو چې دیوه بشره له ټپونو ډکه وه، یوه ټوټه خامه غوښه په لاس ټوټه کوله. د هغوو په هغه چټک غلچک کې چې سورو ته یې وراچاوه، کوتوزوف ته د ټپي سرتیری په لنډ غلچک کې یوه پټه کرکه او کومه وحشتناکه غریزه نغښتې وه.

کوتوزوف یو څه شېبې د غو سرتیرو ته ځیر شو، د بشرې ګونځې یې لاپسې ژورې او بانه یې لاپسې سره نږدې شول. په خیالو کې ډوب او سر یې وښوراوه. هلته بلې خواته یې یو روس سرتیري ولید چې په خندا خندا یې یو بل اسیر پر اوږه ډباوه او په مینه مینه یې هغه ته څه ویل. کوتوزوف بیا هم هماغه شان سر ښوراوه.

هغه، چې د پرې ابرژینسکی غونډ مخې ته ولاړ و، له هغه جنرال نه چې د څه شي ثابتول یې غوښتل او هڅه یې کوله د ستر قوماندان پام هغه فرانسوي بیرغونو ته چې دوی ولکه کړي وو، ورواړوي، وپوښتل:

- ته څه شي وایې؟ څه شي؟

داسې برېښېده چې هغه ځان له هغو خیالونو چې په کې ډوب و، راوژغورو او وې ویل:

- بیرغونه! ها! سر یې پورته نیولی او هغې خواته یې وکتل. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګونو سترګې ، هغه ته په دې هیلې ور اوښتې وې چې دی څه وايي.

د پرې ابراژنسکي، غونډ په وړاندې ودرید ، سوړ اسویلی یې وویست او سترګې یې پټې کړې. د کوتوزوف سره، له مل کسانو نه کوم یو چا ، هغو سرتیرو ته چې بیرغونه یې په لاس کې وو ، اشاره وکړه چې له ستر قوماندان نه راتاو شي او د بیرغونو لاستي پر ځمکه کېږدي. کوتوزوف څو شېبې چپ پاتې شو او داسې بربښېده چې زړه نازړه یې د خپل دریځ غوښتنې ته غاړه کېښوده ، سر یې پورته او خبرې یې پیل کړې. د افسرانو ډله تري راتاو شوه. هغه په ځیر سره د راتاو شوو افسرانو کړۍ وڅارله او څو تنه یې په کې وپېژندل.

هغه سرتیرو ته مخ وروا ړوله او بیا یې افسرانو ته مخه کړه او وې ویل:

- له ټولو نه مننه !

په هغه چوپتیا کې چې د هغه پر شا او خوا کې څارل کېده، په ښه او څرګنده توګه د هغه له خوا ادا کېدونکي کلمات اوریدل کېدل:

- تاسو ټولو نه د ګران او صادقانه خدمت له امله مننه ! بری تر لاسه او روسیه به تاسو هېر نه کړي. ستاسو ویاړ دې ابدي وي !

هغه شا او خوا وکتل او چپ شو.

یو سرتیری چې فرانسوي ګربت لرونکی بیرغ یې په لاس کې و او بې ارادې یې د هغه څوکه د پري ابرژینسکي د بیرغ په وړاندې ورټیټه کړې وه، وویل:

- راټیټه یې کړه، سر یې راټیټ کړه، لږ یې نور راټیټ کړه، نورهم ، هو کې دغسې !

دژامې په چټکې چټکې ښوریدا سره یې پر سرتیرو غږ وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هورا زلميانو !

د زرګونو سرتيرو د غږ، يوه غړمبا پورته شوه. هو... را !

تر هغه پورې چې سرتيرو هورا ويسته، کوتوزوف، په کړوپه ملا، بيا د آس پر ذين ناست و، سريې ښکته اچولی و او په سترګو کې يې د مينې او ملنډو برېښنا ځلېدله.

کله چې د سرتيرو د هورا چغه پای ته ورسېده، وې ويل:

-هو کې ورونو داسې ده !

او ناڅاپه د هغه آواز او د بشرې رنګ بدل شو. نور نو هغه ستر قوماندان نه و، هغه يو خوار ساده بوډا و چې غوښتل يې، د زړه خوالې په توګه، څه د اړتيا وړ څه، نه افسرانو بلکې خپلو ملګرو ته وواييي.

د افسرانو په ډله او د سرتيرو په کتارونو کې، داسې، خوځون راښکاره شو چې هڅه يې کوله، هغه څه ښه واوري چې اوس ويل کېږي.

- هو کې ورونو !وينئ ! زه پوهېږم تاسو ته ګرانه ده، نو څه کولای شو !زغم ولرئ، لږ پاتې ده. کله چې دا مېلمانه بدرګه کړو، بيا به استراحت کوو.

ټولواک به ستاسو دا چوپړ نه هېروي. که څه هم تاسو ته ګرانه ده، خو بيا هم ښه داده چې په خپل کورکې ياستئ او هغوی.

هغه اسيرانو ته اشاره وکړه او وې ويل:

-تاسو ورته ګورئ !تر خورا بدو هم خوار دي. تر هغه پورې چې هغوی پياوړی وو، په کرار مو نه پرېښودل، خو اوس بايد رحم پرې وکړو، هغه هم انسانان دي !هو کې زلميانو !

هغه خپل شا او خواته وکتل او ځان ته له هک او پک او همهاله درناوي نه ډکو کتو کې يې، د ټولو خواخوږي او ملګرتيا احساسوله. بشره يې، د هغه له خوږې زړې موسکا نه چې د خولې او سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګونځو په شا او خوا کې لکه ستوري داسې غوړېده ، روښانه روښانه و. هغه چپ شو او ګوا کې له حیرته یې سر ښکته واچاوه.

هغه ناڅاپه سر راپورته کړ او وې ویل:

- که وواېو ، هغه چا درته رابللي وو ؟ ځي دې، بلا ورپسې !

خپله متروکه یې واره کړه او دجګړې په ټوله موده کې دا لومړی وار و چې په یرغه او ځغاسته لرې شو او د سرتیرو هورا چې کتارونه یې دچغو له زوره ماتېدل، هغه بدرګه کړ.

د پوځیانو په هغو خبرو چې کوتوزوف ویلې، خورا کم سر خلاصیده. له هغو نه یوهم نه شو کولای دفیلد مارشال په هغو خبرو چې لومړي یې په پوځي پرتمین ډول او په پای کې د یوه زاړه بوډا په ساده ژبه وویل، پوه شي.

خو ددغو خبرو اصلي معنی چې د زړه له تل نه ادا کېدې، نه یوازې د پوهېدو وړ وې، بلکې د هغه شاهانه رسمي پرتم او غوره احساس چې پر دښمن له رحم سره مل او د خپل حقانیت ثرګندونه وه او دښمن ته ددغه بوډا په ژېړو او ښکنځلو کې نغښتې وو ، دهر سرتیري پر زړه منګولې خښولې او د هغو له خوښۍ نه په ډکو چغو کې چې تر ډېرې پورې اوریدل کېدې، ثرګندې وې.

کل چې تر دې پېښې وروسته یو جنرال پوښتنه وکړه :

-امر نه کوئ چې ګاډۍ راوستل شي. کوتوزوف چې خورا هیجاني شوی و. دځواب په هځه کې یې سلګۍ له ژړا سره په ستوني کې راغوټه او ناڅاپه په ژړا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

دنوامبر په اتمه نېټه د کراسنینسکایا دجګړې په وروستۍ ورځې، دتیارو له خپریدو سره پوځونه، خپلې قشلې ته راورسېدل. ټوله ورځ آرامه، سړه او څه میده میده واوره هم وریدلې وه. ماښام ته نږدې هم لږ رڼا شوه او د واورو له منځه به کله ناکله په تور شنه رنګي آسمان کې، ستوري ولیدل شول. ساړه دم په دم زیاتېدل.

وسله وال غونډ چې د توراتینو له سیمو نه د راوتلو په وخت کې یې شمېر، درې زره تنه وو، د شپې تیریدو تاکلې ځای ته، تر ټولو نه مخکې د رارسېدو په وخت کې نهه سوه تنه پاتې وو. دغه تمځای د لویې لارې څنګ ته یو کلی و. د ځای برابرولو، چارواکي چې، د غونډ هرکلي ته راوتلي وو خبر ورکړ چې ټول کورونو او کوټې دفرانسوي ناروغانو یا مړو، یا هم دسپورو پوځیانو او یا د هغوی دقوماندانۍ د افسرانو له خوا ډکې او له یوې کوټې پرته چې دغونډ دقوماندان لپاره پاتې ده، نور هېڅ ځای نه شته.

دغونډ قوماندان هغې کوټې ته چې ورته ټاکل شوې وه ورغی. د هغه سرتیري او افسران دکلي نه تیر او وړاندې د وروستیو کورونو څنګ ته یې خپل پېټې او وسلې کېښودې.

غونډ د ځناورو د یوې بې پایې او بې شمېره ډلې په شان، ځانته د ځایونو په جوړولو او د ډخوړو په پخولو لګیا شو. یوه ډله سرتیري چې تر ځنګنو پورې په واورو کې ډوب وو، ښۍ خواته د چنارونو په ځنګله کې ځای پر ځای او خواره شول. سمدلاسه دتبرونو د وهلو، دځانګو دماتولو، ټوکو ټکالو او خندا غږونه په ځنګله کې خواره شول. بله ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډ د ګاډیو او کراچیو ترڅنګ چې په منځنۍ برخه کې یې آسونه هم ولاړ وو، دنغریو په جوړولو، داورونو په بلولو، د دیګونو په بارولو، د وچې ډوډۍ په راوړلو او آسونو ته د وښو او دانې په ورکولو لګیا شوه.

دربیمه ډله، ددې لپاره په کلي کې خوره شوه چې د قوماندانۍ افسرانو ته یې دخوب ځایونه ولټوي. دوی له کوټو نه د فرانسوایانو مړي راټول، له کوټو او واورو لاندې نه یې د سون او ددیوالو د جوړولو لپاره وچې دړې، سوارې او وچ لرګي راغونډول. د کلي د کورنو ترڅنګ پنځلسو تنو سرتیرو د یوې سرای ډوله کوټې دیوالونه چې چت یې لا پخوا الوزول شوي و، په خوښۍ او چغو سورو ښورول او غوښتل یې چې ویده شي.

هغوی، په تیارو کې چغې وهلې:

- هې، هې، راړنګ کړئ

هغو په چغو چغو، هغه دیوال چې واورې پرې پرتې وې او د یخونو د ماتېدلو غږ یې اوریدل کېده، ښوراوه. د دیوال په لاندنۍ برخه کې کرار کرار چاودې زیاتېدې او په پای کې دیوالونه له سرتیرو سره یو ځای راغوځار شول. له دې سره هممهاله د ټولو ګډه خندا او د خوښۍ چیغې واوریدل شوې.

-دوه، دوه، هغه، هغه چوکه ماته راکړئ. دغسې، ته چیرې ننوزې ؟

- ټولو هلکانو دمه وکړئ، درځئ، درځئ ټول یو ځای درځئ !

ټول چپ شول او یو نه لوړ، نرم او په زړه ښه لګېدونکي آواز سندره پیل کړه. د دربیمې انترې په پای کې له وروستیو تورو سره هممهاله شل غږونو یو ځای په ملګرتیا او ګډه چغې کړې:

- او هو را روان دی، ښوري، ښوري !

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د هغو د ټول زور او هڅو سره سره ديوال هومره چې دوی چغې وهلې، له ځايه نه ښوريده. په درنه، خوره شوې خاموشۍ کې، يو درونند غږ واوريدل شو:

-آها ! شپږم ټولی ! بلا وهلي ياستئ، شيطانانو ! څه ته ګورئ، مرسته وکړئ، موږ به زور وکړو.

د شپږم ټولي سرتيرو چې شمېر يې سلو تنو ته رسېده او کلي ته روان وو، له ديواله راپرزوونکو سره يوځای او په واورو کې پرلويدلي ديوال چې ۵ سازانه (سازان، د پخواني روسيې د اندازه کولو معيار دی. هر سازان ۲/۱ متره اوږد و) سورور و، تر خمېدو وروسته او په کوڅې کې وخوځېدل.

- درځه ! خوځېږه، څه ته ګورې ! تاته وايم !

له خوښۍ سره مل ښکنځلو غږونو پای نه لاره.

ناڅاپه د يوه سرتيري قومانده ورکوونکي غږ د ديوال وړونکو سرتيرو خواته واوريدل شو.

-څه خبره ده ؟

کوم دلګی مشر و چې په غورزو پرزو يې ويل:

- خپله ښاغلی دلته دی. جنرال په دې کوټه کې دی. تاسو بلا وهلي شيطانان، مورغولوو دلته څه حال جوړ کړی دی، زه به مو اوس...

لومړی رارسېدلي سرتيري ته يې ګوزار ورکړ او وې ويل:

-ولې په کرار نه درېږې، که څنګه ؟

سرتيري ارامه او چپ شول، هغه سرتيری چې، هغه دلګی مشر وهلی و، په ټوخيدو شو او له خپل مخې نه يې وينې پاکولې، ځکه د هغه له ګوزار سره سم مخ په ديوال لګېدلی او وينې شوی و.

کله چې د هغه پام شو چې هغه دلګی مشر لرې شوی دی، په حيا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټه وويل:

- ګوره ! بلا وهلی عجيب وهل کوي ! ټول اورونه يې راته په وينو ولړل.

يو له ملنډو ډک غږ وويل:

- که څنګه ؟ درته ګران نه يم ؟

او سرتيري چې نرم نرم غږېدل، کرارکرار وړاندې لاړل، خو همدا چې له کلي ووتل، بيا يې غږونه هماغه شان په چغو بدل شول او بيا هماغه اپلتې او بيا هماغه ښکنځلې پيل شوې.

د هغه کور له څنګه چې دغه سرتيري تيرېدل ، هلته د ستري قوماندانۍ مشران د چای لپاره راټول شوي او د پرونۍ ورځې د پېښو او د راتلونکې د اټکلو نو په اړه يې خبرې اترې کولې. دوی تکل لاره داسې پريکړه وکړي چې له کينې خوا د شهزاده پر ډلې دد ې لپاره يرغل وکړي چې له نور پوځ سره يې اړيکي وشلوي او دی اسير کړي.

کله چې سرتيرو ديوال ټاکلي ځای ته ورساوه ، هرې خوا ته نغري بل او د آشپزانو اورونه تاوده وو. دلرګيو د سوځېدو پړقهاري، د واورو د ويليدلو غږ. ونه اوريدل کېدل او د سرتيرو تور سيوري په دغې ټولې سيمه کې پر لاندې شوې واورې دې خوا او هغه خوا خوځېدل. تبرونه اوتبرګي هرې خوا ته لګېدل. هر څه، پرته له هر ډول سپارښتنو ترسره کېدل. د شپې لپاره لرګي زيرمه شول، دقوماندان لپاره کباب جوړ او ديګونه پر نغری بارشول.

د شپېږم ټولي لخوا راوړل شوی ديوال، په نيم دايروي ډول، د شمال خواته ودرول شو. د مېږويو په څېر ويو په خبنولو يې هغه ديوال پر ځمکه خښ او ټينګ کړ. تر څنګ يې نغري ولګېدل او اورنه بل شول. نغارې وغږول شوې، حاضري واخستل شوه، ماښامنۍ وخوړ شوه او د شپې تيرولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره هرڅوک دنغریو شا او خوا ځایونوکې پر ځای شول. چابوټ ګنډل، چا پیپونه ښنول، چا چور ځان لوڅ کړی و او ور ته یې سپړې وژلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

داسې برېښېده، په هغو تصور نه کېدونکو حالاتو کې چې روسي پوځيان را اېسار شوي دي ، نه تودې او سمې موزې لري، نه پوستيونو نه، نه کوټونه، نه کور او نه نور نور. واورې پرتې، تر اتلسو درجو پورې يخني، نه خواړه او نه کالي هېڅ شی نه وو ، ځکه چې ددغو شيانو د رارسولو کتارونه له پوځ نه ببرته پاتې کېدل.

داسې برېښېده چې پوځيان بايد په خورا ناوړه غمجن وير اخته شي، خو برعکس روسي پوځيان آن تر ټولو نه په ښو او غوره مادي حالاتو کې چې خواړه او کالي به يې ښه پريمانه وو ، داسې خوښ او تازه دمه نه برېښېدل. ددې علت دا وچې ټول هغه کسان به چې هره ورځ، په خواشينۍ، ناهيلۍ او سستۍ اخته کېدل، د پوځ له کرښو به پاتې کېدل او ټول هغه کسان چې له جسمي او روحي پلوه ناتوانه او سست وو ، لا پخوا شاته پاتې شوي وو او يوازې د پوځ تر ټولو نه غوره کسان چې له جسمي او روحي پلوه پياوړي وو ، چارو ته دوام ورکاوه. اتم ټولي ته چې د ديوال کوز پلو ته ديره شوی و ، تر ټولو نه زيات خلک راټول شوي وو.

ژېړځني سرتيری که څه هم له ډېر لوګي نه يې تندی تريو او بانه يې سره ګونځې کړي وو ، خوبيا هم له اوره نه لرې کېده، وويل:

- اې مکايوفه ! داڅه کوئ ؟ چېرې ورک شوې ؟لېوان خو به ډاړلی نه وې ؟

او بيا يې مخ بل سرتيري نه دلګی مشر ته وروا ړاوه او غږ يې پرې وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درځه کارغیه ! لږ څه لرګي خو راپیدا کړه.

دغه ژېړ ځني سرتیري، نه دلګي مشر او نه افسر و ، هغه یوازې یو ټکره او ښکلی ځوان و ، نو ځکه یې له ځانه پر خوارو سرتیرو غږ کاوه چې دا یا هغه چاره ترسره کړه. هغه ډنګر ، کمکی سرتیری چې کارغه یې بللی و ، په اطاعت سره پا څېد چې دده سپارښتنه پر ځای کړي، خو په دې وخت کې یو ځوان، نری او ښکلی سرتیری د اور په رڼا کې راښکاره شو او یو پنډ لرګي یې راوړ.

- دې خواته یې راوړه، څه ښه کار دې وکړ !

لرګي یې مات کړل، پر اور یې ورکېښودل، په خولۍ او د کوټ په لمن یې اور تازه او لمبه لمبه کړ. داور پر قهاري پورته شو. سرتیري لاپسې نغري ته ورواړندې شول او خپل پیپونه یې ولګول. هغه نری ښکلی سرتیری چې لرګي یې راوړي و ، لاسونه یې پر ملا کېښودل، خپلې یخ وهلې پښې یې له سرو نه پر ځمکه ډبولې او دا سندره یې ویله:
- آخ ادکې، سوړ شبنم !

هو کې ځومره ښه دی، هو کې د وسله وال سرتیری لپاره دا اور او دا نغری ښه دی... هغه داسې ویل چې ګواکې د هرې څپې پای مقطع لري او دی یې په لوستلو دربېږي.

ژېړ ځني سرتیري پام شو چې د نځېدونکي ځوان دبوټو تل الوزي نو چغې یې کړي:

- اې، دبوټ تلی دې الوزي ! د خدای په امانۍ سندري وایې.

نځېدونکی ځوان ودرید ، هغه چرم یې وشکاوه چې له بوټه یې جلاشوی و ، هغه یې د اور لمبو ته ور واچاوه او وې ویل:

- رښتیا وایې، ورور ه !

هغه کېناست او له کځوړې یې د وړیو یوه شنه فرانسوي ټوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوويسته او په هغه کې يې خپله پښه ومروړله. پـه داسې حال کې چې پښې يې اور ته ورغځولې، وې ويل:

- له يخه شنډې شوي دي. داسې وايي چې زر به مو پرېږدي. کلـه چې ددښمن غم ترپايه وخوړل شي، ټولو ته به دوه برابره شيان ورکوي.

دلګي مشر وويل:

-هغه مورغوی وينئ ! پتروف په لاره کې پاتې شو.

يوبل تن وويل:

-هوکې ما لا له پخوانه هغه څاره !

- هو، هغه يو سرتير ګوتې و.

- په دريېم ټولي کې يې سره وويـل چې يـوازې پـرون يـې نهـه تنـه کـم شوي دي.

- خپله فکر وکړه، کله چې پښې داسې يخ وهي، چېرې کولای شـي لاړ شي.

دلګي مشر غږ وکړ:

- اې، تاته وايم، پرېږدئ، دا اپلتې.

يوبوډا سرتيري په ملامتيـ، هغه سرتيري ته چې ويلي و، پښې يې يخ وهلې، وويل:

- نه چې ته هم غواړې مو رپرېږدي.

لـوړ پـزي سـرتيري، هماغـه چـې کارغـه نومـول شـوی و، ناڅاپـه، دنغري له څنکه راپاڅېد، په ډډ خو ربږديدونکي غږ يې وويل:

- نو ته څه فکر کوې ؟

-هغه چې غوړ او څورب دي، هغـه خوارېږي او هغـه چې خوار دي، مري. دا ماته ګوره ! وروستيـ سا باسم.

مخ يې دلګی مشر ته ورواړاوه او ناڅاپه يې په غوڅه ژبه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سپا رښتنه يې وکړه چې روغتون ته مې ورسوي، د اډونو لـه درده نور نو شنډېږم. نور يو ګام هم تلای نه شم.

دلګي مشر په کراره وويل:

-خير دی، خير دی، په کرار شه !

سرتيری آرام شو، خو خبرو اترو يې دوام پيدا کړ.

يوه سرتيري خبره په بله واړوله او نوې خبره يې پيل کړه:

- نن خو مې پريمان فرانسويان ونيول، خو موزې ؟ څه ووايم، ديوه هم سمې او روغې موزې نه وې، هسې تش په نوم موزې يې پر پښو دي.

-

خو هغه نځاګر سرتيري وويل:

-موزې يې قزاقانو ترې ويستلي دي. مړي يې لـه هغې کوټې ويستلي دي او يوه کوټه يې هم د ډګروال لپاره تشه کړې ده. زلميانو ! په هر حال مرګ د زړه خوړي خبره ده. کله چې يې هغوی دا خوا هغه خوا اړول، له هغو نه يو تن په کې لا ژوندی و، باور وکړئ. باور کوئ ؟ په خپله ژبه يې څه بنګاري کاوه.

لومړي سرتيري وويل:

-پاک خلک دي. دا سې تک سپين دي لکه د چنار د ونې په شان، ښه زړور هم په کې پيدا کېږي. څنګه ؟ مهربان خلک هم لري.

- ښه نو تا څه فکر کاوه، هغوی لـه هر قام او هر ډول خلکو نه، سرتيري راټول کړي دي.

هغه نځاګر سرتيري په نه پوهېدو کې موسکا وويل:

-هغوی زموږ په ژبه هېڅ نه پوهېږي. زه به لـه هغه وپوښتم په ختـه څوک يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هماغه خپله کیسه کوي، عجیبه خلک دي.

هغه سړی چې د فرانسویانو له سپینتوبه په حیرت کې وه، وویل:

-له ټولو نه خو د تعجب وړ خبره لا دا وه چې د موژایسکي کلیوالو بزګرو کوله، هغوی ویل چې دوی د جګړې له ډګره د وژل شویو په راټولولو پیل وکړ. ګورئ؟ یوه میاشت دا مړي پراته وو، خو خراب شوي نه وو او لکه د سپین کاغذ داسې پاک پراته وو، د سپینو باروتو په شان. کوم بوی یې هم نه کاوه.

یو تن وویل:

- دا به له دې کبله چې ساړه و.

- هو، هوښیار، څه هوښیاري کوي، له سړو مخکې خو تود خه وه. که د سړو له امله و، نو زموږ مړي به هم نه خوسا کېدای. وایي چې زموږ مړي داسې بوی اخستی و چې ورنږدې کېدل ګران و، د چنچیو له لاسه شړیدلي وو. لکه متیازې داسې بوی یې کاوه، خو د هغو لکه سپین کاغذ داسې پاک او لکه باروت داسې بې بویه.

ټول خاموشه شول.

دلګی مشر وویل:

-دا د خوړو له برکته دی، هغوی شاهانه ډوډۍ خوړله.

هېڅچا یې مخالفت ونه کړ.

هغه د موژایسک کلیوال بزګر، هما لته چې جګړه تیره شوې وه، وویل چې دوی له سلګونو کلیو نه مړي راټول، شل ورځې یې کار کاوه، خو بیا هم ټول راټول شوي نه دي. ویل کېدل چې لېوانو...

بوډا سرتیري، وویل:

-دا جګړه د رښتیانو جګړه وه. هغه جګړه چې موږ یې یادوو او وروسته به یادیږي، خو خلک یې هم ډېر وزورول...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کاکا جانه ! پرون نه آبله ورځ، موږ پرې ورودانګل، موږ ته چا وخت رانه کړ چې کومې خواته وروړسېږو. هغوی خپلې وسلې کېښودې، په ګونډو شوا او وې ویل، وبښی !

دا خو جګړه نه شوه، د جګړې نندارهده. داسې آوازې وې چې خپله پلون (ناپلیون) هم دوه واره نیول شوی دی. هغوی آن په خبره هم نه پوهېږي، نیسه یې، نیسه یې، درواخله، په لاس کې به دې په مرغۍ بدله شي. والوته او والوته او وزل یې هم ناشوني دي.

-یاره ! کیسلوفه ! دروغ خو هم یوه اندازه لري، تاته چې ګورم او دا لاپې دې اورم...

- کوم دروغ او کومې لاپې، ټول ربښتیا دي.

- که ماته په لاس راغلي وای، سمدلاسه به مې خښ کړی وای او یوه ننبه به مې هم پرې درولې وای. پوهېږې، څومره خلک دې وژلي دي ؟

بوډا سړي چې اربړمی یې ویسته، وویل:

-داسې به یې کړو چې نور، نو د ښوریدو نه وي.

خبرې اترې پای ته ورسېدې او سرتیري څملاستل.

یوه سرتیري چې دآسمان په لیدو یې زړه وتوخنید ، وویل:

-ګوره چې ستوري څنګه ځلېږي ؟ ته به وایې چې ښځو تکري ارتېږلي دي.

-زلمیانو ! دا ددې ننبه ده چې سږکال به فصلونه ښه ډېر وي.

- څه نور لرګي اورته په کار دي.

- یاره ملا مې له تودخې سوځي، خو خپته بیا یخ وهي، دا څه کیسې دي ؟

-خدای دې خیر کوي.

-څه دې خواته، هغې خواته اوړې، اور یوازې، څه دستما لپاره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څنګه ؟

دچپتیا له خپریدو سره، دڅو تنو ویدو سرتیرو خرپهاری اوریدل کېده، نور څو تنه اړخ په اړخ اوښتل او ځانونه یې تودول او یو نیم تن خو لا خبرو ته دوام ورکاوه. له اوره سل ګامه آپلو لرې، دیوې خوړې او مینه ناکې خندا غږ واوریدل شو.

دې پنځم ټولي څه شر او شور جوړ کړی دی، ښه مست خلک خو دي.

یو سرتیری پاڅېد او دپنځم ټولي خواته ورغی. دغه سرتیری په خندا خندا بېرته راستون شو او وې ویل:

-دوه فرانسویان یې نیولي دي، یو خو چور یخ وهلی دی او دا سې بل له مستۍ نه لېونی لېونی کېږي او سندرې وایي:

-اوي، اوي، درځي چې ورشو.

او څو تنه سرتیري دپنځم ټولي خواته ورخوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د پنځم ټولي ځنګل ته څېرمه ، يو لوی نغري د واورو په منځ کې لمبې وهلې او د ونو له يخه ډ کې څانګې يې روښانولې.

د شپې په نيمايي کې د پنځم ټولي سرتيرو د ځنګله په واورو کې د قدم وهلو او ترپښو لاندې څانګو د ماتېدو غږ اوريد.

يو سرتيري وويل:

هلکانو يږ دی !

ټولو سرونه راهسک کړل او غوږ غوږ شول. د ځنګله له خوا نه د نغري د رڼا خوا ته دوه تنه چې نا آشنا جامې يې اغوستې وې، راروان وو. يو له بل يې سره نيولي وو.

دا دوه تنه فرانسويان وو ، چې په ځنګله کې پټ شوي وو. هغوی په کومه ناڅرګنده او ناپوهېدونکې عسکري ژبه څه ويل. هغوی نغري ته ورنږدې شول. د هغوی يو تن چې لوړه ونه يې درلوده، افسري خولۍ يې پر سر وه، خورا ناتوان او ضعيفه بربښېده. نغري ته په نږدې کېدو يې غوښتل کېني، خو پر ځمکه ولويد. هغه بل لنډ ونی څه سورور چې مخ يې په دستمال کې تړلی او قوی بربښېده. خپل هغه لويدلی ملګری يې راپورته کړ، خپلې خولې ته يې اشاره وکړه او کوم څه يې وويل. سرتيري د فرانسوي په شا او خوا راټول او ناروغ يې پر کوټ څملاوه. دوارو ته يې شوله او ودکا راوړل.

دغه خوار فرانسوي افسر، هماغه رامبال و. او هغه سرتيری چې سر يې په دستمال تړلی و ، هغه د هغه ياور ، موريل و.

موريل چې کله ودکا وڅکله او شوله يې وخوړله، ناڅاپه يې يوه غمجنه خوشالي پيل کړه او پرته له هغه چې دمه وکړي، پرله پسې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتيرو ته په ناپوهېدونکې ژبه کوم څه ويل. رامبل، هغه ته وړاندې شوې ډوډۍ و نه منله، د اور خواته يې پرځنګل ډډه ولګوله، غځېدلی ناست او سرو سترګو يې روسي سرتيروته حيران حيران کتل. کله ناکله به يې يو اوږد زګيروی وکړ او بيا به ببرته را چپ شو. موريل د هغه اوږې ته اشاره وکړه، سرتيري يې پوه کړل چې ملګری يې افسر دی او بايد تود کړل شي. روسي افسر چې اور ته نېږدې شوی و، کوم څوک يې ډګروال ته ورولېږه چې تري وپوښتي، ايا نه غواړي دغه فرانسوي افسر ته اجازه ورکړي، دده کوټې ته بدرګه شي. رامبال ته وويل شول چې د ډګروال کوټې ته ورشي. هغه پاڅېد او غوښتل يې چې لاړ شي، خو وربېږديد او د هغه ترڅنګ ولاړ سرتيري که هغه نه وای نيولای، هغه به لويدلای و.

سرتيري له ملندو نه په ډکه ادا رامبال ته سترګه کېښکوده او وې وويل:

- څنګه؟ نه ورځې؟

له هرې خوا د نورو سرتيرو آوازو دغه ټوکمار سرتيري ته ګوابښ وکړ او وې ويل:

- احمقه! څه اپلتې وايې، که...

سرتيري پر رامبال وربول شول، دووتنو سرتيرو، هغه تر ترخګ لاندې ونيو، راپورته يې کړ او د ډګروال کوټې ته يې وروست.

رامبال خپل لاسونه د سرتيرو غاړې ته وراچولي وو او کله چې يې هغه بدرګه کاوه، په زګيروي، زګيروي يې وويل:

-آه زلميانو! زما مهربانو! مهربانو ملګرو! آه، زما مهربانو ملګرو!

او لکه د ماشوم په شان يې سر د يو سرتيري پر اوږې ورولويد.

په دې لړ کې، موريل په خورا ښه ځای کې ناست او سرتيري پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول شوي وو.

دغه لنډوني سورور فرانسوي افسر چې پړسېدلې سترګې يې له اوښکو ډکې وې، لکه د ښځو په شان يې خولۍ نه دستمال تاو کړی و او لنډه ښځينه پوستين يې په ځان. داسې برېښېده چې د ودکا له څکلو وروسته يې حال بل ډول دی، لاس يې څنګ ته دناست سرتيری په غاړه کې وراچولی و. په ډډه او پرې پرې آواز يې فرانسوي زمزمه کوله.

سرتيرو هغه ته وکتل او له خندا نه يې بډوډي کلک نيولي وو.

هغه ټوکمار چې سندرې يې ويله او موريل يې لاس په غاړه کې ور اچولی و ، وې ويل:

-څن. ګه. څنګه. را زده کړه. . زه يې ژر ژر کوم، راته وايه څنګه ؟

موريل سترګه کېښکودله او سندره يې پيل کړه:

-تل دې وې، څلورم هانري !

-تل دې وې هغه مېړنی زړور ټولواک او داسې نور څه په فرانسوي ژبه.

او سرتيرو د هغه پېښې کولې، خپل لاسونه يې څنډل او سندرې يې ويلې او په رښتيا يې هم ښې پېښې کولې.

له هرې خوانه دخوښۍ او کله هم دشډلې خندا غږونو انګازې کولې:

-وينئ !وينئ څومره ښه يې وايي !واه، واه. . .

موريل خندل او خندا يې پر بشرې کې ګونځې جوړولې.

-ښه، ورځه. دوام ورکړه، وايه !

هغه درې غوره چارې درلودې:

-څکل، سرښندنه او مهرباني.

- ګورئ، په رښتيا هم خورا ښې سندرې وايي، خو اوس وار د زاليتايووف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زالیتایووف په خورا خورايي سره وویل:

- کیو، کیو، کیو، یو، یو

هغه چې شونډې یې غوټۍ کړې وې، د هغه په شان وویل:

-کیو، کیو، کیو... دې، بې. دي.

هغه په سندریزه توګه دوام ورکړ:

- اوهو! خورا ښه! فرانسوي سندرې دغه شان ویل کېږي. هوي، هوي، ها، ها، هو ته بیا ورېی شوی یې.

ورکړئ، بیا شوله ورکړئ، داسې ژر مړښت نه لري.

بیا یې هغه ته شوله ورکړه او موریل په خندا خندا د درېیمې کاسې په خوړلو پیل وکړ. ټولو هغو سرتیرو چې موریل ته کتل، پر بشرو یې د خوښۍ موسکا خوره وه.

عمر خوړلي سرتیري چې د نغري آپلو غځېدلي و، دغه شان چارې یې اپلتې ګڼلې او ویل یې چې ښه کار نه دی، خو بیا یې هم کله ناکله سر راپورته کاوه، ځنګلې به یې ووهلې او په خندا خندا به یې موریل ته وکتل.

له هغو کسانو نه یوتن چې څادر یې له ځانه تاو کړی و، وویل:

- هغه هم خلک دي، آن اغزي هم پر خپلو رېښو ولاړ وي او په همداسې زرغونېږي.

- وای لویه خدایه! ستوري څنګه ځلېږي، د شپې به ښه یخ وي.

او چوپه، چوپتیا خوره شوه.

او ستوري ګواکې په دې پوهېدل چې اوس به نور څوک نه ورته ګوري. په تک تور آسمان کې یې لوبې کولې. ستوري به ځلېدل، کله په آرامه شول، کله به کومه خوښي په کې خوره شوه، خو په رازمن ډول یې په خپل منځ کې څه سره ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

فرانسوي پوځونه، درياضي د قاعدې له مخې کرار کرار له منځه تلل. د برزينا له سيمې نه چې تېريدل، د هغې په اړه ډېرې ليکنې شوي دي، دفرانسوي پوځ د له مينځه تللو يو منځنی پړاو و، هغه په هېڅ ډول ټاکوونکی او اريز پړاو نه و.

که د برزينا په اړه د ډېرې ليکنې شوي يا کېږي، که دفرانسويانو په اړه دي، هغه له دې کبله دي چې دفرانسويان تالا والا کېدل کرار کرار و، خو په لنډه موده کې يې د برزينا د وران پله پر سر خورا زياته او دبدمرغې تراژيدی ښه پيدا کړه. دا سې يوه بدمرغي چې د ټولو په ياد پاتې شوه، خو دبرزينا په اړه د روسانو له خوا د ډېرو ليکنو لامل يوازې دا و چې په پترزبورګ کې، دجګړې له ډګره، له برزينا نه لرې (پفول) دا سې يوه تګ لاره جوړه کړې وه چې دوی به دبرزينا د پله د ستراتيژيکې برخې په لوديز کې ناپليون اسيروي. ټول په دې ډاډمن وو چې هرڅه هسې کېږي لکه په تګ لاره کې يې چې اټکل شوی و، نو ځکه هغوی په تيره بيا په دې ډاډمن وو چې له برزيناتيريدل به دفرانسويانو د بشپړې تباهۍ سبب کېږي. ، خو رښتيانۍ خبره داده چې په برزينا کې دفرانسويانو مړګ ژوبله او دوسلو له لاسه وتل، تر هغه شمېره خورا لږه و چې په کراسينيسکايا کې و.

له برزينا نه د فرانسويانو د تيريدلو يوازينی اهميت په دې کې دی چې دغې چارې د ټولو هغو تګ لارو او اټکلونو ناسمولای ثرګند کړ چې ددښمن دبيلابيلو قطعاتو په هکله شوی و او هم يوازينی، سم او کېدونکی اټکل چې په دې اړه و او هغه هم دکوتوزوف له خوا شوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی د دښمن پسې اخېستل او له نښتې پرته د فرانسویانو د تېښتې او د چټک او زیاتېدونکي تګ څارنه. دغه پوځ لکه تېږي شوی ځناور، داسې په تېښته و چې دریدل یې ناشوني و.

هرڅومره چې فرانسویان لرې تېښتېدل او هرڅومره چې د هغو د ژوندي پاتې شویو کسانو حال (په تېره بیا له برزینا نه تر تیریدو وروسته چې د پترزبورګ د تګلارې ټاکونکي اغیز ته سترګه په لاره و) خرابیدونکی و. روسي قوماندان چې یوبل په تیره بیا کوتوزوف یې په غفلت او تیروتنو تورناوه ، لاپسې سودا یې کېدل.

داسې اټکل کېده چې د پترزبورګ د تګلارې د نه سرته رسېدو ګناه او ملامتي د کوتوزوف په غاړه شي، نو له دې کبله له هغه نه خوابدي، نارضایتي او پر هغه ملنډې پرله پسې زیاتېدې. البته دغه سپکاوی او ملنډې په خورا درناوي او دوکه کې څرګندیدې، داسې چې کوتوزوف آن په دې پوهېدای هم نه شو چې دی ولې او د څه له امله ملامت دی.

له هغه سره به څوک په ډاګه او په غوڅه نه غږېدل او که هغه ته به چا ګزارش ورکاوه ، د هغه پریکړې ته به داسې سترګه په لاره و چې ګواکې کوم رسمي، سترې چارې ته د اړتیا له مخې اړ شوي دي. د هغه سترګې به چې بل پلو وغړیدې ، دوی به خپلو منځو کې سترګې کېښکودې او په هر ګام کې به یې هڅه کوله هغه سره وغولوي او تیر یې باسي.

دغه ټول خلک ، له همدې امله چې نه یې شو کولای د هغه په ژورو خیالو یې سر خلاص شي، دا یې غوره ګڼله چې له دغه بوډا سره خبرې ونه کړي، ځکه هغه یې بې پایلې ګڼلې او ویل به یې چې هغه د دوی په ژورو اندېښنو او تکلونو نه پوهېږي. هغوی ته داسې برېښېده چې هغه به دوی ته د هرې پوښتنې په ځواب کې بیا هماغه خبره تکراروي (دوی ته د هغه ځوابونه هسې خبرې برېښېدې )ر. د زرین پله په اړه او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه چې له پولې نه تیر شوی، خوار او تالان شوي پوځ باید نور تعقیب نه شي او داسې نور او نور، دا او نورې خبرې چې دوی به په وار وار او لاپخوا اوریدلې وې. او ټول هغه څه چې ده ویل، هغه دوی ته تکراري برېښېدې. د ساري په توګه دا خبرې چې باید خوړو او کالو ته سترګې په لاره شو، سرتیري موزې او بوټ نه لري، تولې داسې ساده خبرې وې او هغه څه چې دوی خپله د هغو په اړه غږېدل او د هغو وړاندیز یې کاوه، د دوی لپاره خورا کرکیچن او عاقلانه وو او برعکس په دې ډاډه وو چې هغه باڅاري او بوډا دی، خو دوی نبوغ لرونکي خو بې واکه دي.

په تیره بیا تر هغه وروسته چې د سمندري قواوو نومیالی قوماندان او د پترزبورګ د اتل ویتګیشتاین پوځ له هغو سره یوځای شو. په قوماندانۍ کې دغه اپلتې په بې ساري توګه زیاتې شوې. کوتوزوف دغه لیدل، ساړه اسویلي یې ویستل او یا یې یوازې اوږې پورته اچولې. یوازې یو وار هغه خوابدی شو چې د برزینا تر پېښې وروسته بینیګسن په مخامخ توګه ټولواک ته ګزارش ورکاوه او هغه دا لیک هغه ته ولیکه:

(( د عالیجناب د ناوړې روغتیا حالت ته په پاملرنې سره، د دغه لیک د ترلاسه کولو سره به سمدلاسه د کالوګې سیمې ته خوځېږي او هلته به د نوې دندې ټاکنې او د همایوني ټولواک فرمان ته سترګې په لاره پاتې شي. ))

خو د بینیګسن تر لېږلو وروسته، ستر شهزاده کانستانتین پاولوویچ چې د جګړې په پیل کې یې هلې ځلې زیاتې وې او د کوتوزوف په سپارښتنه له پوځ نه لرې شوی و، بېرته جبهې ته راغی. ستر شهزاده چې اوس کله جبهې ته راورسېد، کوتوزوف ته یې خبر ورکړ چې اعلحضرت ټولواک د پوځ له بریاوو او کرار خوځون نه خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اند ښېښمن دی. هغه وويل چې همايوني اعلحضرت په پام کې لري چې
په دې څو ورځو کې خپله جبهې ته راشي.

دغه سپين ږيري، په هغه کچه په درباري چارو کې تجربه لرله لکه
په پوځي چارو کې چې لاسبری و. هغه کوتوزوف چې د سږکال د اګست
په مياشت کې د ټولواک د اداري برخلاف د پوځ ستر قوماندان ټاکل
شوی و، هغه سړی چې وليعد شهزاده او د ټولواک ځايناستي يې له
پوځه شړلي وو، هماغه څوک چې په خپله خوښه او د ټولواک د خوښې
برخلاف يې مسکو تسليم کړ، دغه کوتوزوف په هماغه شېبه کې په دې
پوه شو چې دده د بخت شېبې پای ته رسېدلي دي، هغه پوه شو چې دده
ونډه ترسره شوې او هغه ناڅرګند او بې پايه واک چې ده درلود، نور نه
شته. هغه له ده سره د دربار له اړيکو نه هم دا احساس کړې وه. له يوې
خوا هغه ليدل، هغه جګړه چې ده په کې ټاکوونکې ونډه لرله پای ته
رسېدلې ده او احساسوله يې چې دده چارې ترسره شوي دي، له بلې
خوا دې سره هممهاله ده خپله ځاني ستوماني او ستړيا احساسوله او
د دغه عمرخوړلي ځان لپاره يې استراحت ته اړتيا لرله.

د نوامبر په نهه ويشتمه کوتوزوف، د ويلينا سيمې ته لاړ. هغه د
خپل خدمت په موده کې، دوه واره د ويلينا والي ټاکل شوی و، په دې
بډای او له ورانيو نه په ژغورل شوي ښار کې د ژوند له آسانتياوو پرته
چې له مودو مودو نه هغه له هغو نه بې برخې و، کوتوزوف خپل
پخواني ملګري او يادونه بيا موندل.

هغه ناڅاپه خپلې ټولې پوځي او دولتي چارې او غمونه هېر او
څومره چې د هغه شا او خوا حالاتو ده ته اجازه ورکوله، هغه آرام او
ورځني معمولي ژوند ته مخه کړه. داسې بربښېده چې ګواکې هغه څه
چې اوس د نړۍ په تاريخ کې تيرېږي او يا وروسته تيرېدونکي و، ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې په هېڅ ډول اړه نه لري.

چیچیګوف، د هغو مشرانو له ډلې نه یو مشر و چې د دښمن د قطعاتو تر منځ د اړیکو د پریکولو او پر هغو د یرغل سخت لېواله و، غوښتل یې په یونان او بیا وروسته په وارسا کې کومه دوکه وکړي، خو دا یې هېڅ نه غوښتل هلته لاړ شي چې دی ګمارل شوی و.

چیچیګوف، له ټولواک سره په زړورتیا خبرو کولو کې خورا پېژندل شوې څېره وه. دغه چیچیګوف، کوتوزف ځکه خپل منت بارګانه چې کله پز ۱۸۱۱ کال کې د کوتوزوف له خوښې پرته له ترکیې سره د روغې د تړون لاسلیکولو لپاره استول شوی و، همدا چې پوه شو چې ستر قوماندان له خوښې نه پرته روغه شوې ده، ټولواک ته یې وویل چې دا د کوتوزوف خدمت دی.

همدغه چیچیګوف و چې د ویلینا دښار په هغې ماڼۍ کې چې کوتوزوف میشت کېدونکی و، تر ټولو لومړی ځوک و چې د هغه هرکلی یې وکړ. چیچیګوف، په سمندرۍ دریشۍ کې، لنډه توره تر ملا، خولۍ تر تخرګ لاندې نیولې، هغه ته ګزارش ورکړ او د ښار کلي یې ورته وړاندې کړه.

د دغه بوډا په وړاندې، د ځوانو قوماندانانو له نزاکته ډک، او له سپکاوي سره مل درناوی چې ددوی په وینا د دغه سپین ږیري کړه وړه له سپین ږیرتوبه باځارتوب ته ورته شوی و، او چیچیګوف چې په خورا لوړه کچه پر کوتوزوف له ملنډو او تورونو له ټولو نه خبر و، له ورایه او په څرګند ډول دده په کړو وړو کې را څرګند بدل.

کوتوزوف، له چیچیګوف سره د خبرو اترو په لړ کې، هغه ته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دباریسوف په سیمه کې له ده نه، دده غلا شوې ګادۍ او په هغه کې پراته کالي او کېړۍ بشپړ او ده ته بېرته وسپارل شي.

چیچاګوف له قهره اورنی شو او وې ویل:

- تاسو غواړئ ما ته ووایئ چې زه څه نه لرم چې ډوډۍ په کې وخورم؟ نه دا سې نه ده، برعکس تا سي د کومې سترې مېلمستیا لپاره یاست، زه کولای شم هغه در ته جوړه کړم چیچیګوف په هره خبره کې غوښتل دا ثابته کړي چې دی برحقه دی او دا سې تصور یې کاوه چې کوتوزوف هم همدا سې فکر کوي او طبیعت یې په دې خرابه دی.

کوتوزوف بیا خپله له بري ډکه او اغیزمنه موسکا پر شونډو راخوره کړه، او ورېې یې پورته واچولې او وې ویل:

-زه غواړم یوازې هغه څه ووایم، چې ماد هغه ویل غوښتل.

-کوتوزف د ټولواک دهیلې برخلاف، د پوځ یوه زیاته برخه په ویلنا کې ساتلې وه. کوتوزوف د هغه دملګرو او ده سره مل یارانو د وینا له مخې په ویلنا کې سخت ژوبل شوی او جسماً هم خورا ناتوانه شوی و. هغه په ناهیلۍ خپلې چارې څارلې او زیاتره هغه یې خپلو جنرالانو ته پرېښې وې او د ټولواک د راتګ په پلمه یې خپلې عیاشۍ کولې.

ټولواک چې له خپلو درباریانو، ګراف تولستوي، شهزاده والکونسکي، ارکچیوف او له نورو سره دنوامبر په اومه نېټه له پترزبورګ نه خوځېدلی و، دنوامبر په یوولسمه ویلنا ته راورسېدل او په هماغه ګاډۍ کې مخامخ ماڼۍ ته ورغلل. د سختو سړو سره سره دسلو په شا او خوا کې جنرال او دسترې قوماندانۍ افسران د درناوۍ او سلامۍ په دریشیو کې، دماڼۍ تر مخې هرکلي ته ولاړ وو او دسیمونوفسکي غونډ هم د ټولواک هرکلي ته سلامي و.

دهرکلي ډله، په هغې ګاډۍ کې چې په خولو کې لمدو درې آسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشوله او به مانۍ کې د تولواک مخې ته ورلېږلې شوې وه، ناري کړه:

- راروان دي !

کونوفنیڅن دالان ته ددې لپاره ور ودانګل چې د ساتونکي په وړه کوټه کې سترګې په لاره کوتوزوف ته د تولواک د رارسېدو زیری ورکړي.

یوه دقیقه وروسته غټ او ځورب بوډا چې د پریټ دریشي یې اغوستې، ټټر یې له تمبل شویو نښانونو او مډالونو ډک وو او تنډې خېټې نه یې نری دستمال تاو کړی و، په رپېږدېدونکو ګامونو برنډې ته راووت. کوتوزوف له پوځي دود سره سم خولۍ پر سر کړه، دستکشونه یې په لاس کې را واخېستل، یو خواته کوږ شو، په خورا خواریو پر زینو راښکته او هغه ګزارش یې چې تولواک ته چمتو کړی و، په لاس کې و.

ګڼه ګوڼه وه، د دري آسیزې ګاډۍ شر او شور چې لکه باز داسې الوته، را روانه او تولو خلکو ورته کتل. په رانېږدې کېدونکې ګاډۍ کې تولواک او فالکونسکي ناست وو.

دغه بوډا جنرال که څه هم د پنځوس کلن خدمت په موده له دغه راز مراسمو سره ښه آشنا او روږدی و، خو ددغو کړو وړو تر اغیزې لاندې راغی. په خورا اندېښنې یې لاس پر ځان تیر کړ، خپله خولۍ یې ځای پر ځای کړه، سمه یې کړه او بوره په هماغه شېبه کې چې تولواک پښه له ګاډۍ نه پر ځمکه کېښوده، هغه ته یې وکتل، هغه ته یې. سترګې ورپورته کړې، ببرته آرامه شو، ودرید، لږ ځیر شو او خپل ګزارش یې هغه ته وسپاره او په خورا نرم او ملایم غږ یې له هغه سره خبرې اترې پیل کړې. تولواک په یوه چټک غلچک، کوتوزوف سر ترپایه وڅاره. یوه شېبه یې تندی تریو کړ، خو سمدلاسه یې ځان ببرته راجوړ کړ، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وروا ړندې شو ، لاسونه يې پرانستل او له بوډا جنرال نه يې غېږ تاو کړه. د ټولواک دغې مهربانۍ د تل په شان پر کوتوزوف اغيز وکړ او د پخوا په شان بيا د خپلو احساساتو لاندې راغی ، کومې تلوسې پسې واخېست او ټنګ په ژړا شو

ټولواک له افسرانو سره روغبړ وکړ ، د سيمونوفسکي د هرکلي دغونډ له مخې تير شو ، بيا يې د بوډا لاس کېښکود او له هغه سره مل کوټې ته ننوت.

ټولواک چې کله له فيلد مارشال سره يوازې پاتې شو ، د دښمن د شاړنې او پسې اخېستو کې ، د دوی د پوځ سستۍ ، په کراسينيسکايا او برزينا کې د تيروتنو په اړه يې د خپلو اندېښنو تر څرګندولو وروسته يې په راتلونکې کې د روسيې له پولو نه بهر د خپلو کړو په اړه خپله اندېښنه ورته څرګنده کړه. کوتوزوف له هغه سره نه مخالفت وکړ او نه يې خپل نظر څرګند کړ ، هغه د هماغه اوه کاله پخوا په شان چې د اوسترليخ په جګړه کې ، په اطاعت او بې پروايي د ټولواک سپارښتنې اوريدلې وې ، هماغه حالت يې بيا پر څېرې راخور شو.

کله چې کوتوزوف ، له کوټې راووت ، په کړو وړو ګامونو او ښکته سر په دالان کې روان شو ، د چا غږ هغه ودراوه او وې ويل:

-تاسو عاليجناب !

کوتوزوف سر راپورته کړ او تر ډېر ځنډه پورې يې خپلې مخې ته ولاړ ګراف تولستوي ته چې د سپينو زرو په يوه قاب کې يې کوم وړوکی شی ايښی و ، کتل. داسې برېښېده چې کوتوزوف ، په دې نه پوهېده چې څه ترې غواړي ، خو ناڅاپه ګواکې ورپه ياد شول. نری موسکا يې پر پړسېدلې بشرې راخوره شوه ، په درناوي يې سر ښکته کړ او په قاب کې پروت وړوکی شی يې واخېست. دا د ګيورګي لومړۍ درجه نښان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

بله ورح مارشال یوه داسې غوړه او غوره غرمنۍ جوړه کړې وه چې نڅاوې هم په کې روانې وې. د ټولواک ګډون دغه مېلمستیا لاپسې ویاړمنه کړه. که څه هم کوتوزوف دګیورګي په لومړي درجه نښان ویاړل شوی او ټولواک په بې ساري توګه هغه ویاړه او نازوه، خو له فیلد مارشال نه د ټولواک په خوابدۍ هرڅوک خبر و. ټولو نزاکتونو ته پاملرنه کېده او په خپله ټولواک په دې برخه کې ترتولو غوره او ښه بېلګه وه، خو ټول په دې پوهېده چې سپین ږیری ملامت او د هېڅ چارې د سرته رسېدو نه دی. کله چې کوتوزوف، د نڅا بنډار ته د راننوتلو په وخت د اکاترینې (د روسیې ستر ټولواکه) دزمانې د پخوانی دود په شان سپارښتنه وکړه چې یرغمل شوي بیرغونه د هغه پښو ته وروار تېرل شي، ټولواک، په ناخوښۍ تندی تریو کړ او څه یې وویل او ځینو کسانود هغه خبرې واورېدې:

-زوړ ټوکمار !

له کوتوزوف نه د خپلواک خوابدي، په ویلنا کې ځکه لاپسې زیاته شوه چې کوتوزوف په ښکاره یا نه غوښتل او یا نه پرې پوهېده، د هغه جګړې په اهمیت پوه شي چې د دوی په وړاندې روانه وه.

کله چې دبلې ورځې پر سهار ټولواک، راټول شویو افسرانو ته وویل چې:

-تاسو نه یوازې روسیه ژغورلې ده، تاسو ټوله اروپا ژغورلې ده.

ټولو داسې وانګېرله چې جګړه پای ته نه ده رسېدلې.

یوازې کوتوزوف نه غوښتل په دې پوه شي او په ډاګه یې خپل نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګنداوه او ویل یې چې نوې جګړه نه شي کولای د روسیې دریځ ښه او ویاړ یې لا لوړ کړي. هغه نه یوازې دا بلکې دا یې هم ویل چې نوې جګړه به د روسیې او سني دریځ چې دده په اند اوس یې لري، سپک او ویاړ به یې راکم کړي. هغه هڅه کوله ټولو اک ته دا ثابته کړي چې د نویو پوځیانو راټولول ناشوني دي، هغه ویل چې د خلکو ژوند خورا خوار او کېدای شي نا بریاوو او له نورو نورو بدمرغیو سره مخامخ شي.

فلید مارشال په طبیعي ډول، په دغه اند سره یوازې او یوازې دراتلونکې جګړې خنډ و.

له بوډا سره د ټکر دمخنوي لپاره یوه آسانه لاره پیدا شوه ، دا لاره په دې کې وه چې د اوسترلیخ او ددې جګړې د پیل دوخت په شان چې قوماندانې یې د بارکلی په غاړه وه، پرته له هغه چې ستر قوماندان خبر او خوابدي شي ، دواک هغه لوړه چې دی پرې ولاړ او هغه ناځرګند او بې پایه واک چې دی یې لري ترې واخېستل شي ، او ټولواک ته وسپارل شي. دهمدې تکل د سرته رسولو لپاره د سترې قوماندانۍ په جوړښت کې څه بدلون راوستل شو ، دکوتوزوف د قوماندانۍ کړۍ کرار کرار ماتې او واک ورو ورو ټولواک ته ور ولېږدول شو. هریو، کونوفنیځن او ایرمولوف نورو چارو ته وګمارل شول. ټولو په ډاګه ناربې وهلې چې فیلد مارشال خورا خوار او روغتیا یې ښه نه ده.

د هغه روغتیا ځکه خرابه وه چې واک بل چاته، هغه چاته چې غوښتونکی یې و، ولېږدوي. او په رښتیا هم د هغه روغتیایي حالت ښه نه و.

لکه هغه شان چې په طبعي ، ساده او کرار کرار کوتوزوف د ترکیې له جبهې نه، په پترزبورګ کې د احتیاط غونډ ته استولی شوی او داربکیو راټولو ته ګمارل شوی و او بیا هماغه وخت د اړتیا له مخې اړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـول ، هغـه د پـوځ قوماندانۍ تـه ولېږې. اوس هـم هماغـه شان ساده ساده ، کرار کرار او په طبيعي ډول د کوتـوزوف لـه خوا د خپلو چارو ، تر سرته رسېدو نه وروسته ، د هغـه پـر ځای بل څوک چې اړتيا ورته ليده کېده ، راپيدا شو.

د۱۸۱۲ کال جګړې د روسيې روح ته لـه ګرانښت او ملی ګټو پرته ، بله ځانګړتيا هم بايد له لرلای او هغه د هغې اروپايي اهميت و.

لـه لـوديزه، ختـيځ تـه د پرګنـو ترخوځونـه وروسـته ، اوس بايـد لـه ختيځه لوديز تـه د خلکو خوځېدا پيل شوې وای. ددغې نوې جګړې لپاره نـوي نوميـالي پـه کـار دي ، هغـه نـوي نوميـالي چې د کوتـوزوف دعقايـدو او خيـالاتو پـه تـوپير يـې بايـد ددې نـوې چـارې دهڅولـو او لمسولو لپاره نور خيالات او عقايد لرلای.

لومړی الکساندر( د روسيې ټولواک ) دختـيځ نـه، لـوديز تـه د خلکـو دخوځون او دملتونو دبرېدونو دټاکلو لپاره، هماغه شان په کار و، لکـه کوتوزوف چې د روسيې د ژغورنې او وياړمن کېدو لپاره په کار و.

کوتوزوف د اروپا ، دقواوو د انډول او د ناپليون د ونډې پـه معنـى نه پوهېده. هغه نه شو کولای پـه دې پـوه شي. کله چې د روسيې دښمن تـا والا شـوی وی ، هېـواد او د هغــه ازادي د ويـاړلـوړو څوکـو تــه رسېدلي، دغه وياړته تر رسـېدو وروسـته د روسيي خلکـو اسـتازوته، روسي انسـان تـه، لکه ديوه روس پـه څير نوره اړتيـا نـه ليـدل کېده، د ولسي جګړې استازي ته له مرګه پرته بل هېڅ څه او هـېڅ چاره پـاتې نـه وه. هغـه مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

پییر لکه چې تل همداسې وي، د ټولو هغو جسمي او روحي ستونزو در ندوالي چې د اسارت په وخت کې لیدلی وو، یوازې هغه وخت احساس کړ چې د غه ستونزې او محرومیتونه پای ته ورسېدل. تر ازادېدو وروسته ، هغه د اریول، ښارته راغي او تر راتګه درې ورځې وروسته یې چې کله د کیف ښار ته د تګ تکل وکړ، ناروغه شو او درې میاشتې د ناروغۍ په بستر کې پاتې شو. داکترانو ویل چې (دصفرا دکیسې ) په ناروغۍ اخته شوی دی، خو داکترانو وینه یې ترې واخېسته، دارو درمل یې ورکول او تر هغه پورې د هغه تداوي کوله چې روغ شو.

ټول هغه څه چې پر پییر راغلي وو، له اسارته ، تر ازادۍ او بیا تر ناروغۍ پورې ، هېڅ یوه هم پر هغه کوم اغېز نه کړی. هغه ته یوازې خړه هوا ، غمرلي بارانونه، کله واوره او کله له اورښته پرته بل څه نه وریادېدل. په زړه کې پراته غمونه ، د پښې او تخرګ درد ، د بد مرغۍ غمرلي خاطرې او د خلکو زورېدنې وریادېدې. د جنرالانو او افسرانو له ګېڼې نه ډکې پوښتنې وریادېدې، د ګاډۍ او څو آسونو د لاس ته راوړلو لپاره خپلې هلې ځلې او ترټولو نه لا مهمه په هغه وخت کې د تفکر او احساس لپاره د استعداد نه لرل، وریادېدل. د خپلې آزادۍ په ورځ هغه د پیتیا رستوف مړی ولید. په هماغه ورځ هغه له دې خبر شو چې سردار اندرې د بارادینو تر جګړې یوه میاشت وروسته هم ژوندی او دا څو موده وړاندې د یاروسلاو په ښار کې د رستوفیانو په کورکې مړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه ورځ چې کله د ینیسوف دغه خبر پییر ته وایه، په دې ګمان چې پییر لا پخوا د خپلې ښځې ایلن له مرګه خبر دی، د هغې یادونه یې هم کړې وه. دغه ټول خبرونه او پیښې، هغه وخت پییر ته عجیب بریښېده. هغه داسې انګېرله چې دی نه شي کولای په دې ټولو خبرو پوه شي. په هغه ورځ، دده یوازینۍ هیله دا وه چې څومره ژر کېږي له دغې سیمې نه چې انسانان یو بل په کې وژني لاړ شي او چېرته سترګې پناه او آرام وکړي. ده هیله یې لرله چې آرام وکړي او د هغه څه په اړه فکر وکړي چې ده ته عجیب و اونوي پېښ شوي دي، خو همدا چې د اریول ښار ته ورسېد، ناروغه شو. کله چې له خوبه راویښ شو، هغه خپل څنګ ته له مسکوه راغلي دوه تنه ناست چوپړان ولیدل دغه دوه تنه، تیرنته او واسکا وو. مشر سردار چې د ایلیخ په سیمه کې اوسېده هم له دوی سره وو. دوی همدا چې د پییر له آزادۍ او ناروغۍ نه خبرشوي وو، ځان یې ددې لپاره هغه ته رارسولی و، چې د هغه پالنه او درملنه وکړي.

پییر د خپلې رغیدو په موده کې هڅه کوله کرار کرار ځان د هغو خیالونو له اغیزه چې په دې څو میاشتو کې د هغه په عادتونو بدل شوي وي وو، وژغوري او په دې ډاډه شي چې سبا ته یې څوک کومې خواته په زور لېږدیدوته نه اړوي، څوک به بیا تود بستر نه ترې اخلي او هرو مرو به سهارنۍ، غرمنۍ او ماښامنۍ ولري. خو هغه تر ډېرې مودې پورې یې لا په خوب کې هم ځان هماغه شان په اسارت کې لیده. دغه راز کرار کرار پییر په دې خبرو سرخلاصېده چې سرداراندري او دده ښځه مړه شوي دي او فرانسویان تالا والا او ماتې یې خوړلې ده.

دآزادۍ خوښوني احساس، هغه بې ساری سپېڅلی احساس چې د انساني غریزې، نه جلاکېدونکې برخه ده او له انسانه نه یې څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخېستی نه شي، دا هغه څه و چې ده دلومړي ځل لپاره له مسکوه تر وتلو وروسته احساس کړي و. دغه احساس دناروغۍ او له ناروغۍ نه درغېدو په موده کې دده روح پاله. هغه دې ته حیران و چې دغه روحي آزادي له بهرنیو پېښو سره هېڅ اړیکي نه لري، هغه دا هم انګېرله چې دغه آزادي ګواکې بې پروا خو په پرتمین ډول، په بهرنیو ازادیو ګاڼل شوې ده. پېښېر په هغه ښار کې یوازې او چور پردی پردی او هېڅ پېژندګلوي یې نه درلوده. هېڅ چا، له هغه نه، نه څه غوښتل او نه یې چېرې لېږه. هر څه چې ده غوښتل اوس هغه درلودل. د ښځې په اړه د هغه ټول پخواني خیالونه چې دی یې زوراوه، نور نه وو، ځکه هغه ښځه نور، نه وه. کله چې د خوړې او مزناکې شورا میز ده ته جوړېده او یا کله به چې په پاک او سپېڅلي بستر کې غځېده او یا به چې کله وریاد شول چې دده د ښځې او د هغه فرانسوي کیسه پای ته رسېدلې ده، هغه به له ځانسره وویل:

-آخ څومره ښه! آخ څومره خوندور!

او د خپل پخواني عادت له مخې یې خپل ځان نه پوښتنه کوله:

- نو څنګه؟ نو څنګه به کوم؟

او سمدلاسه یې خپله ځانته ځواب وایه:

-هېڅ! هسې ژوند به کوم، اخ چې څومره ښه ده.

هغه څه چې پخوا دی زووراوه، هغه څه چې دی تل د هغه په لټه کې و، هغه څه چې دده دژوند موخه و، نور دده لپاره شتوالي نه درلود. دژوند دغې نا څرګندې موخې اوس په تصادفي توګه نه یوازې په دغې شېبه کې، شتوالي نه لاره، بلکې ده داسې انګېرله چې دده دغه موخه نه شته او شته والي یې ناشونی دی. نور ددغې موخې نشتوالي هغه ته د آزادۍ هغه پوره احساس ورکاوه چې د هغه نیکمرغي یې جوړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اوس کومه موخه نه شوه لرلای، ځکه چې اوس هغه ایمان لاره. دا ایمان نه په ده یا هغه، یا په دې قانون او یا هغې قاعدې ایمان، یا په کومه خبره یا اند ېښنې ایمان، هغه پر خدای ایمان درلود.

تر دې نه پخوا هغه خدای په خپلو موخو کې لټاوه. ددغې لټونې موخه یوازې د خدای لټونه وه، خو دا سارت په وخت کې هغه ناڅاپه، نه ددنیا یا داند ېښنو او استدلال له مخې، بلکې مخامخ د احساس او شهود له لارې، پر هغه څه چې ده ته لا پخوا دده مینځې په خورا ساده ژبې ویلي و، ایمان راوړ:خدای، هغه دی خدای. هغه هرچېرې دی.

هغه په اسارت کې په دې پوه شو چې خدای په کراتایوف کې، تر هغه خدای نه چې ماسونیان یې دنړۍ د ستر جوړونکي او معمار په توګه مني، لوی، بې پایه او په تصور کې نه ځایدونکی دی. هغه د هغه چا په شان احساس درلود چې کومې ورکه یې لرې لرې د ګرځېدو په حال کې تر خپلو پښو لاندې پیدا کړې وې. هغه په خپل ټول عمر کې، دده په شا او خوا کې خلکو نه، کومې لوړې خواته کتل، حال دا چې لوړ کتل په کار نه و، ده باید یوازې خپلې مخې ته کتلي وای.

هغه پخوا تر دې، هغه ستر، بې پایه او دعقل له تصور بهرڅه، هېڅ چېرې لیدلی نه شو. هغه یوازې دا احساوله چې دغه شان څه باید یو چېرته وي. ده هغه لټول، ده ځان ته نږدې مفاهیمو کې له لنډپارۍ، وړکتوب، سپکوالي او بې معنی یې نه پرته بل څه نه لیدل.

هغه ځانته یوه لرې دنیا جوړه کړې وه. ده هلته لرې ورکتل. هلته ته چې دغه واړه دنیایي څه د خیال په لړو کې ورکېدل او ده ته په هماغه کچه ستر او بې پایه برېښېدل. ده ته اروپایي ژوند، سیاست، ماسونوالي، فلسفه او له انسانانو سره مرسته، ټول په دې ډول برېښېدل او هماغه وخت او هماغه شېبې چې ده د خپلو نیمګړتیاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېږ ګڼلې، د هغه عقل ، هغه لرې او له تصوره وتلي څه ته لاره موندله او هلته يې هم له لنډ پارې، دنيوي او بې معناتوبه پرته بل څه نه شو موندلای، خو اوس ده دا زده کړي و چې ستروالي، ابديت او بې پايتوب په هرڅه کې وويني او پيدا يې کړي. دا طبيعي خبره ده چې هغه دا وويني. او ددې لپاره چې ددغه لرې ليدونکي څه نه خوند واخلي، بايد هغه لرليد (دوربين) چې ده د نو رو له سره پورته په هغه کې کتل، لرې واچوي او په خوښۍ خپل شا اوخواته ، تل بدليدونکي، ستر، ابدي، اوله تصوره، وتلي او بې پايه ژوند ته وګوري، څومره چې ده نېږدې هغه ته کتل، په هماغه کچه دی آرامه اونيکمرغه و. هغه وحشتناکه پوښتنه د څه لپاره ؟ هغه پوښتنه چې تر دې نه مخکې به يې دده ذهن راپرزاوه، نور نو هغه له ځانه، نه پوښتله. اوس دا پوښتنه د څه لپاره وه ؟ د هغه دزړه په تل کې ځواب چمتو و: ددې لپاره چې خدای شته، هغه خدای چې د هغه له ارادې پرته، دانسان يو ويښته هم له سره، لويدلای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

د پېير پـه کړو وړو کې څه کم هېڅ بدلون نـه و راغلی. د هغـه بشره هماغه شان و، لکـه پخوا چې وه. هغـه لکـه د پخوا پـه شـان پريشـانه او داسې برېښېده چې دده ترمخې له تيريدونکو پېښو نـه چېرې لـرې، پـه نورو او ځانګړو خيالونو کې ډوب دی.

د هغه د پخواني او اوسني حالت توپير په دې کې و چې پخوا بـه يـې تر مخې تريدونکو پېښو او کړو ته کتل، خو هغـه بـه يې نـه ليـدل، هغـه څه به يې چې ده ته ويل، هغه به يې نه اوريدل، دردونکې ګونځې بـه يـې پر تندی راخورې شوې او داسې برېښـېده چې هڅـه کوی، خو نـه شي کولای، له ده لرې کوم ولاړ څه ته وروګوري.

هغه اوس هم، هغه څه هېرول چې ده ته به ويـل کېدل او هغـه څـه چې دده ترمخې تيريدل نه يې ليدل، خو اوس يې له ملنډو سره پـه مـل يـوې موسکا دابنودله چې دده تر مخې هر تيريدونکي څه ويني او هرڅـه چې ده ته ويل کېږي، هغه اوري، خو سره له هغه هم دا ښکاريده چې چور بـل څه ته ګوري او غوږ يې چور بلې خواته دی. پخوا که څه هم هغـه بدمرغـه خو مهربانه برېښېده. نو له همدې کبله خلکو له هغه نه د لرې کېدو هڅـه کوله. اوس يې د خوښۍ، ژوند ښنوونکې موسکا پر شونډو خوره و او له خلکو سره د خواخوږۍ لېوالتيـا يـې پـه سترګو کې ځلېدلـه. هغـه لـه ځانه پوښتنه کوله:

-ايا دا نور خلک هم دده په شان نيکمرغه دي او کنه ؟

نو ځکه خلکو له هغه سره له خبرو اترو نه خوند اخېست.

پخوا هغه ډېر غربېده او په غربېدا کې په قهريده، نورو ته يې لـږ غـوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيو خو اوس خورا لږ غږيده او داوريدلو زغم يې هم پيدا کړی و ، داسې چې خلکو آن په خورا لېوالتيا هغه ته خپل رازونه ويل.

مشره شهزادګۍ چې هېڅکله پېير ورته ګران نه و ، د بوډا ګراف تر مرګه وروسته يې ځان د هغه منت باره ګاڼه او له دې کبله يې د هغه په وړاندې په زړه ځانګړی احساس پيدا شوی و. هغې د اريول ښار ته تر راتګ نه لنډه موده وروسته په ډېرې حيرانۍ او تعجب دې ته پام شو چې ( هغه اريول ته د دې لپاره راغلی و چې د پېير له خواله دوی سره د ټولو نادودو سره سره، د ناروغۍ په وخت کې د هغه پالنه وکړي )پېير ورته ګران دی... پېير د شهزادګۍ د زړه د لاس ته راوړلو لپاره هېڅ نه کول او يوازې يې په ځير ځير يې هغه څارله. پخوا شهزادګۍ داسې احساسوله چې دې ته د هغې کتل له بې پروايۍ او څه ملنډو سره مل دي، نو ځکه د هغه په وړاندې به يې هم لکه د نورو په شان تندی تريو او د خپل ژوند او طبيعت ترخې خواوې ځرګندولې ، خو اوس برعکس هغې داسې انګېرله چې هغه ګواکې آن د دې د ژوند رازمن اړخونه لټوي او زړه ته يې دلارې د پيدا کولو په تکل کې دی. هغې لومړی په نه ډاډمنه توګه ، هغه ته کتل خو وروسته يې په خورا خواخوږۍ او مهربانۍ د خپل طبيعت رازمنې ځانګړتياوې هغه ته راوسپړل.

آن خورا ځيرکو او چالاکو کسانو هم نه شو کولای ، د شهزادګۍ داسې باور وګټي چې د هغې د ځوانۍ د ښو وختونو يادونه راوسپړي، هغه په خبرو يې راولي او خپل رازونو ورسره ګډ کړي. د پېير ټوله ځيرکتيا په دې کې نغښتې وه چې هغه د خپل روح د آرامۍ لپاره د شهزادګۍ په کرکجن ، وچ او د شهزادګۍ والي له غروره په ډک زړه کې يې انساني احساس راپاراوه.

شهزادګۍ په زړه کې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې !

کله چې هغه زما غوندې د ښو خلکو تر اغیز لاندې وي، خورا خورا مهربانه انسان وي.

د پېير چوپړانو، ترنتي او واسکا هم هغه بدلون ته پام شو چې د دوی د بادار په کړو وړو کې راغلی و. د هغوی دې ته پام شو چې پېير خورا ساده شوی دی. ترنتي به چې کله له خپل باداره کالي وويستل. کالي او بوټ په لاس به يې هغه ته شپه په خير ويلې او په کراره به د وتلو د هڅې په لړ کې، دې ته سترګې په لاره و چې بادار خو له ده سره د خبرو هيله نه لري، نو د پېير به دې ته پام کېدو او هغه به يې دراوه او خبرې به يې ورسره کولې..

هغه به پوښتل:

- ښه ! دا راته وايه ، تاسو ځانته خنګه ډوډۍ پيدا کوله ؟

او ترنتي به د مسکو د تالان نه کيسه راپيل کړه. د خدای بښلي ګراف يادونه به يې راتازه کړل. تر ډېره وخته ، کوټ په لاس به يې نقلونه کول او کله به هم د پېير خبرو ته غوږ او له خپل بادار سره به يې له خواخوږۍ او نېږدېوالي نه خوند اخيست. او د همدې خوښيو په څپو کې به له هغه نه ووت.

هغه ډاکتر چې پېير يې تداوی کاوه او هره ورځ به يې پوښتنې کولې او څارنې ته ورته. که څه هم د ډاکترانو د عادت له مخې يې دا خپله ونده ګڼله چې د داسې سړی ښه څرګنده کړي چې د هغه د ژوند هره ګړانه شېبه د انساني ژوند د ساتنې لپاره ده، هغه به په ساعتونو ساعتونو، د پېير خواته ناست و. د ناروغانو د نا ارامه اعصابو د څارنې په لړ کې يې هغه ته د خپلې خوښۍ په تېره بيا د ښځو په اړه خوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيسې کولې.

ډاکټر ويل:

- هو کې ! خبرې خو له دغه شان سړي سره خوند کوي، نه دا چې زموږ د سيمې (ولايت) ناروغانو سره.

په اريول کې څو فرانسوي اسيرانو ژوند کاوه. دغه ډاکټر هم د هغو يو تن چې يو ايتالوي ځوان و ، پيير ته راوست.

دغه ايتالوي، پيير ته تګ راتګ پيدا کړ او شهزادګۍ به د هغه په هغواندو او احساساتو خندل چې دغه ايتالوي د خبرو په لړ کې، پيير ته ځرګندول. دا سې ښکاريده چې دغه ايتالوي يوازې هغه وخت د نيکمرغۍ احساس پيدا کوي، چې پيير ته ورځي، له هغه سره غږېږي او هغه ته د خپل تير ژوند ، خپلې کورني ژوند او د خپلې مينې په اړه غږېږي او د فرانسويانو په تيره بيا د ناپليون په وړاندې کرکه ځرګندوي.

هغه پيير ته وويل:

-که ټول روسان او يا لږ ترلږه د هغو يوه برخه تاسو ته ورته وای ، له داسې خلکو سره جنګېدل به چور کفر وای. تاسو د فرانسويانو له لاسه څومره رنځ وليد ، خو تاسو اوس د هغو په وړاندې هسې چې وړ ده، ان کرکه هم نه ځرګندوی.

ايتالوي، له پيير سره ځکه داسې لېونۍ لېوالتيا ښودله چې پيير د هغه په زړه کې له ويرې سره مل ، داسې يوه احساس رالمسولی و چې د هغه ورځې د خورا غوره هيلې ځرګندونه يې کوله.

په اريول کې د پيير د اوسېدو په وروستيو وختو کې، د هغه پخواني ماسون، انډيوال ګراف ويلارسکي دده ديدن ته راغی. دا هغه څوک و چې په ۱۸۰۷ کال کې يې پيير ماسوني لوژ ته بدرګه کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویلار وسکي مېرمن یوه بډایه روسي ښځه وه چې د اریول په ولایت کې یې لوی نوم او ډېر جایدادونه لرل. ویلارسکي د ښار د خورو د برابرولو په اداره کې یوه موقته دنده لرله.

ویلارسکي چې کله اریول ته د بیزاو خوف، (پېیر) له راتګه خبر شو، سره له هغه چې له هغه سره یې دومره نږدې پېژند ګلوي نه لرله، هغه ته ورغی. له پېیر سره د هغه مینه او خواخوږي، د هغه کسانو خواخوږي او مینې ته پاتې کېدل چې معمولاً یې ځوک په یوه دښته کې دچا په لیدو ځرګندوي. ویلارسکي په اریول کې خفتیان پسې اخېستی و او له دې کېله چې هغه خپل یو سیال یې پیدا کړی و، په لیدو یې سخت خوشاله و.

د ویلارسکي په ډېره حیرانی دې ته پام شو چې پېیر له رښتیني ژونده شاته پاتې شوی او داسې چې هغه د ځانستاینې او بې غمی په رنځ اخته شوی دی.

هغه وویل:

- تاسو خورا زیات په ځان کې ډوب شوي یاستئ.

له دې خبرو سره سره. ویلارسکي تر پخوا نه له هغه سره خواخوږی او مهربانه و او هره ورځ به هغه ته ورته و، خو پېیر به چې کله ویلارسکي ته کتل او د هغه خبرې به یې اوریدې، هک پک او په حیرانی به یې دا فکر کاوه چې دی هم ځو موده پخوا همداسې و.

ویلارسکي ښځه لرله، ورنی یې لرله، د خپلې ښځې اداري او د جایدادونو چارې یې کولې. ټولې د غه چارې دده دژوند خنډ وي، هغه ته یې په سپکاوي کتل، ځکه د هغو د ټولو سرته رسولو موخه دده او د ده د کورنی د ګټې او ښه والي لپاره و.

پوځي، اداري، سیاسي او ماسوني خیالونو، د هغه ټول پام ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورا اړولی و. پییر پرته له هغه چې د هغه د خیالونو د بدلون هڅه وکړي، یا هغه برحق او ملامت وګڼي، په خپلې پرله پسې، آرامې او له ملنډو مل موسکا سره یې، ده ته، د داسې یوه آشنا اغیز ستاینه کوله.

له ویلارسکي، شهزادګۍ، ډاکټر او نورو ټولو هغو خلکو سره چې ده اوس لیدنې کتنې لرلې، ده داسې نوې بڼه پیدا کړې وه چې د ټولو مینه او خواخوږي یې ځانته را اړولې وه. او دا دده هغه اعتقاد و چې هرڅوک حق لري په خپله خوښه او ډول فکر وکړي، هغه احساس کړي، خپل ژوند ته وګوري او په دې باور چې په خبرو نه شو کولای د چا عقاید بدل کړل شي، دا د هرچا خپل حق دی. دا هغه څه و چې پخوا به یې د پییر زیات پام، آن تر قهرکېدو پورې ځانته ور اړوه، خو اوس له نورو سره دده د خواخوږۍ او ملګرتیا بنسټ جوړاوه. د خلکو ترمنځ اختلاف او یا د عقایدو او یا د ژوند د ډول توپیر په ده کې خوښي رالمسوله او پر شونډو یې له ملنډو ډکه موسکا راخوروله.

په ورځنیو چارو کې، پییر ناڅاپه دا احساس کړه چې داسې څه د هغه د کړو منځ پانګه شوي دي چې پخوا نه و.

پخوا د پیسو په اړه خبرې او پوښتنې، په تیره بیا له ده نه د یوه بډای سړی په توګه د پیسو غوښتنې چې تل او پرله پسې له ده کېدې، دی لېونتوب او سرسامۍ ته وسپاره. هغه به له ځانه پوښتل:

- وریې کړي؟ او که ور یې نه کړي؟ هغه به حیران و، ویل به یې:

- زه یې لرم او هغه اړتیا ورته لري. او هغه بل بیا تر هغه نه هم زیاته اړتیا ورته لري. څوک زیات اړمن دي؟ کېدای شي دواړه دوکه مار وي؟

پخوا به یې له دغو ستونزو د خلاصون هېڅ لاره موندلای نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه او هرچاته يې ورکولې، تر هغه پورې يې ورکولې، چې وې. د خپلو جايدادونو په اړه يې هم کټ مټ له همداسې پوښتنو سره مخامخېده. کله به يوه ويل: داسې وکړه او بل به وايي چې نه هسې ښه ده.

خو دی خپله دې ته حيران و چې ټولو دغو پوښتنو ده ته کومه پريشاني او خوابدی نه پيدا کوله. اوس په هغه کې داسې يو قاضي راڅرګند شوی و چې د داسې قوانينو له مخې چې ده نه پېژندل، هره ستونزه آواروله او ورته ويل يې چې څه وکړي او څه ونه کړي.

هغه اوس هم د پخوا په شان ، د پيسو او مالي چارو په وړاندې بې پروا و ، خو اوس ښېشکه دی په دې پوهېده چې کوم کار بايد وکړي او کومه چاره ونه کړي. دده دغه نوی قاضي د يو فرانسوي ډګروال د هغې غوښتنې په اړه و چې پيير ته راغلی و ، هغه ته يې د خپلې اتلوالۍ او مېړانې کيسې وکړې او په پای کې يې په خورا سپين سترګۍ د څلور زرو فرانکو غوښتنه وکړه هغه دا غوښتنه ددې لپاره کړې وه چې هغه خپلې ښځې او ماشومانو ته ولېږي. پيير . له کومې سختۍ او پر ځان له زور راوستو نه پرته، هغه ته، نه، ويلي و. وروسته دی خپل ځانته حيران و چې څنګه ده په اسانۍ هغه کار کړی دی چې پخوا به ده ته خورا ګران برېښېده، خو له دې سره همهاله ، کله چې ده فرانسوي ډګروال ته د پيسو له ورکولو ډډه کړې وه، ده تکل کړی و داريول له ښاره د خوځېدا نه دمخه ، په خورا ځيرکۍ ايتالوي ځوان دې ته وهڅوي، هغه پيسې له ده نه واخلي چې ډېره اړتيا ورته لري.

په عملي چارو کې دده د ورګډېدو بله نښه، د خپلې ښځې د پورونو د پريکړو او د مسکو د کورونو او باغونو د بيا جوړولو او نه جوړولو په اړه ، دده پريکړې وې.

هغه لا داريول په ښار کې و چې د هغه د جايدادونو د چارو چلونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته راغی او له پيير سره يې په ګډه خپل حسابونه وکړل. د چارو دمشر چلوونکي د حساب له مخې دمسکو اورونو، پيير ته دوه ميليونه روبله په شا او خوا کې تاوان رسولی و.

د هغه دجايداونو دچارو مشر چلوونکی ، ددغه تاوان له غمه د آرامی لپاره پيير ته هغه حساب وړاندې کړ چې ددغه تاوان سره سره ، ګټه نه يوازې لږه شوې نه ده بلکې زياته شوې هم ده ، خو په دې شرط چې دی د ګرافينې (خپلې ښځې - ايلن ) نه پاتې شوي پورونه چې دی يې ورکولو ته اړ هم نه دی، پرې نه کړي. دغه راز که دی په مسکو او دمسکو په څنډو کې د خپلو کورونو او باغونو دبيا جوړونې ته چې په کال کې له کومې ګټې پرته اتيازره خرڅ لري، ډډه وکړي.

پيير په خوښۍ سره وموسېد او وې ويل:

- هوکې، هوکې، همداسې ده. هوکې هوکې، زه دغو شيانو ته هېڅ اړتيا نه لرم. زه ددغو کنډوالو له برکته له پخوا نه هم بډای شوی يم.

خو دجنوري په مياشت کې له مسکو نه سافيليچ راغی. هغه دمسکو د حالاتو او د هغو حسابونو په اړه ورته وغږېد چې دمسکو او دمسکو په څندو کې د هغه دکورونو او بيا جوړولو لپاره په کار دي. د هغه له خبرو داسې برېښېده چې ددغو کارونو چارې پوره چمتو دي. له دې سره همهاله پيير له پيترزبورګه د سردارو اسيلي اونورو آشنايانو ليکونه ترلاسه کړل. په دې ليک کې د هغې د ښځې د پورونو يادونه شوې وه.

پيير پريکړه وکړه چې دده دجايداونو د مشر چلوونکي هغه تګلاره چې دده هم خوښه شوې وه، بې نتيجې ده او دی بايد پترزبورګ ته لاړ شي. له ښځې نه پاتې ستونزې آوارې کړې او بيا مسکو کې ميشت شي، خو هغه خپله په دې نه پوهېده چې دا کارونه دڅه لپاره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



؟ خو په دې کې يې شک لاره چې هغه بايد ترسره شي. دده دې پريکړې د هغه ګټه څلور برابره راښيته کړه، خو ده دا احساسوله چې دا کار بايد ونه شي.

ويلارنسکي هم مسکو ته روان او دواړه پريکړه وکړه چې په ګډه لاړ شي.

پيير په اريول کې د خپلې تداوۍ په ټوله موده کې د خوښۍ، ازادۍ او خوندور ژوند احساس کاوه، خو کله چې يې د سفر په لاره کې ځان په ازاده فضا کې وليد، په سلګونو نوې څېرې يې ليدلې او د هغو په ليدو د هغه احساس لا پسې پياوړی شو. هغه د سفر په ټوله لاره کې دښوونځي د هغه زدوکوونکي په شان خوښي کوله چې رخصت شوی وي. د ټولو څېرې، دګاډيوانانو، نندارچيانو په لاره يا په کلي کې دبزګرو کليوالو، ټولو او ټولو څېرو، هغه ته نوې معنی لرله. دده ترځنګ د ويلارسکي شتوالي او له اروپا نه د روسيې د ببرته والي او د خلکو د ناپوهې په اړه د هغه خبرو د پيير خوښي لا پسې زياتوله.

هلته چې ويلارسکي، د مرګ نښې ليدلې، پيير به هلته د ژوند غير معمولي پياوړتيا او ژورې نښې ليدلې. هغه پياوړتيا چې د غه يو ملت او خلک يې په هغو واورو کې راژوندي او يو موټي کول. هغه له ويلارسکي سره ناندرۍ نه کولې او داسې يې ښودله چې ګواکې د هغه خبره مني ( ځکه هغه ظاهري ملګرتيا له بې پايه شخړو او ناندريو غوره ګڼله )هغه به په خوښۍ، هغه ته موسبده او هغه ته به غوږ غوږ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

لکه هغه شان چې ګرانه ده وویل شي، ولې مېږتانه، له خپلې خاورینې ورانې ځالې نه کوم پلو او چېرته په تلوار دي. یوه ډله څه خځلې یا هګۍ او یا دمړو مېږتانو مړي له هغه ځایه کشکاږي او بله ډله بیا بېرته ځالې ته ور روان یې، دڅه لپاره دوی سره ټکرېږي. یو له بله مخې ته کېږي، ډغرې سره وهي، همدغه شان نه شو کولای وواېو کوم لاملونه د فرانسویانو له وتلو نه وروسته، روسان دې ته اړ کړي وو چې دمسکو نوي ځای ته ډله ډله ورستانه شي، خو بیا هم هماغه شان چې د دانو د جالو په شا او خواکې دتیتو پرکو مېږتنو ته ګورو، ددغو بې شمېره مېږتنو له ټینګار، هڅو او هانده پوهېږو چې د هغو دځالې د ورانۍ سره سره چې د هغو په کنډوالو کې یوازې د ځالې نښې پاتې وې. مسکو هم د اکتوبر په میاشت کې، سره له هغه چې نه چارواکي په کې پاتې وو، نه مقدسات او نه دلمانځنې د اړتیا وړ وسایل، نه د خلکو شتمنۍ او نه کورونه، خو بیا هم مسکو هماغه ګڼه ګوڼه درلوده، هغه هماغه شان مسکو و، د اګست دمیاشتې مسکو (تر جګړې مخکې مسکو) دمرموزو، سترو او نه راپرزیدونکو شیانو نه پرته، هرڅه په کنډوالو بدل شوي وو.

هغه لمسون چې خلک یې دفرانسویانو تر وتلو او له دوی نه ددغه ښار د پاکېدو نه وروسته، له هرې خوا نه دمسکو پلو ورتګ ته پارول، بېلابېل او ځېنې ځانګړي دلایل وو چې په لومړی سر کې یې چور ځناور وزمه بڼه او ځانګړتیا لرله، یوازې یو شي و چې هغوی ټول یې په ګډه دغې چارې ته لمسول او هغه، هغه ځای ته تګ و چې پخوا مسکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوميده او ددې علت هم دا و چې دوی وکولای شي هلته خپل کار ته دوام ورکړي.

يوه اونۍ وروسته په مسکو کې د ميشتو خلکو شمېر پنځلس زرو تنو او دوې اونۍ وروسته د هغو شمېر پنځه ويشت زره او همداسې ورځ په ورځ زياتېدل او زياتېدل. د دغو خلکو شمېر د ۱۸۱۳ کال په منې کې دومره زيات شو چې د هغو شمېر په ۱۸۱۲ کال کې په مسکو کې له ميشتو هغو نه واوښت.

هغه لومړني روسان چې مسکو ته ورسېدل ، هغه د فينځګراد نومي پوځ قوماندان او د مسکو د ګاونډو کليو کليوال او مسکويان و چې له ښاره تښتېدلي او د مسکو په شا او خوا کې پټ شوي وو ، کله چې روسان کنډواله مسکو ته راستانه شول. ويې ليدل چې ښار تالان شوی دی. نو دوی هم په غلا او تالان پيل وکړ ، هغوی هم هغه څه ته چې فرانسويانو کړي وو ، دوام ورکړ. کليوال به له خپلو کراچيو سره ددې لپاره راتلل ، چې د مسکو په ورانو کنډواله کورونو او کوڅو کې ټول پاتې شيان کلي ته يوسي. قزاقانو چې څه موندل ، هغه يې خپل پوځ ته رسول، د کورونو خاوندانو هر هغه څه چې هرچېرې او په نورو کورونو کې موندل، په دې پلمه چې دا د دوی دي، خپلو کورونو ته وړل.

لومړيو تالانګرو او داړمارو پسې ، نور تالانګر او داړمار، دويمو پسې دريېمې ډلې را رواني وې او ورځ په ورځ د هغو شمېره زياتېده. د داړمارو د شمېر زياتېدو سره، غلا او تالان هم ګرانېدل او ځانګړې بڼه يې موندله.

که څه هم پر مسکو د فرانسويانو د ولکې سره، ښار له خلکو تش شوی و، خو ديوه ژوندي ښار ټولې ځانګړتياوې او اصول لکه: سوداګري، کسب او کار، قيمتي راکړه ورکړه، دولتي ادارې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي کړه وړه په خپل ځای پاتې و. که څه هم د غه ځانګړتياوې له کاره لويدلې وې، خو تش په نوم يې دوام درلود. دوکانونه، غرفې، مغازې، ګدامونه، بازارونه او زياترې فابريکې، کارخانې او تخنيکي دوکانونه ټول او ټول پر خپل ځای وو. ماڼۍ، پرتمين قيمتي کورونه چې له غوره او قيمتي پرتمينو کاليو او کپړو نه ډک وو. روغتونونه، زندانونه، دولتي ادارې، وړې او لويې کليساوې، ټول پر خپل ځای وو. څومره چې په دې ښار کې د فرانسويانو ميشتيا اوږديدله، په هماغه کچه د ښاري ژوند د غه نښې له منځه تللې او آن تر دې چې په پای کې، داسې تباهي راغله چې له يو تالان شوي مړګني ډاګه پرته بل څه پاتې نه شول.

څومره چې فرانسوي تالان دوام پيدا کاوه، په هماغه کچه د مسکو بډايان او شتمن تالان کېدل، خو د تالانګرو توان هم راکمېده.

د روسانو تالان چې د روسيې د پلازمېنې د لاندې کېدو سره مل پيل شوی و، څومره چې زياتېده او دوام يې پيدا کاوه، په هماغه کچه د تالانګرو شتمي زياتېده او له هغه سره د مسکو شتمني او د ښاري ژوند نښې پراخېدې او زياتېدې.

له شوکمارو او داړمارو نه پرته، د خلکو نورې بېلابېلې ډلې. د کورونو خاوندان، روحانيون، لوړپوړي او کمکي چارواکي، سوداګر، کسبه کار، کليوال بزګر په ډول ډول خيالونو او تکلونو کې، څوک دولتي کار ته د تګ په هيله، څوک هسې د ليدنې پلټنې او څوک د خپلو حسابونو لپاره هرڅوک له هره پلوه، لکه وينه د زړه مراندو ته په تکل کې وو.

يوه اونۍ وروسته هغه کليوال بزګر چې له خپلو ګاډيو سره له ښار نه د څه وړلو په هيله راغلي وو، د چارواکو له خوا ونيول شول او دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړ کړل شول چې په خپلو کراچیو او ګاډیو کې له ښاره مړي دباندې وباسي. نورو کلیوالو چې د خپلو اندېوالانو دغه ناکامي واوریده ، خپل غنم او وړه یې رابار او مسکو ته د خرڅلاو لپاره راوړل. هغوی په خپل منځۍ سیالۍ کې قیمتونه داسې راټیټ کړل چې له پخوانیو نرخونو نه هم ټیټ و. د ختګرو او ترکاڼو ډلې ، هره ورځ د ښې خوارۍ او غریبۍ د پیدا کولو په هیله، ښار ته راتلل او د ښار په هره سیمه کې نوې ودانۍ راپیدا او کنډوالې هغه بیا جوړېدې. سوداګر او کسبه کارو ، خپل کارونه او راکړه ورکړه پیل کړه. په سویو او نیمه ورانو کورونو کې هوټلونه او سماوارونه جوړېدل. په روغو پاتې شویو کلیساوو کې روحانیونو لمانځنې پیل کړې وې، ځېنو د کلیساوو سپېڅلي مالونه او شمایل بېرته کلیسا ته راوړل. مامورینو خپل میزونه او له پاڼو او دوسیو ډکې الماري، په خپلو وړو وړو کوټو کې ځای پر ځای کول. لوړپوړو چارواکو او پولیسو له فرانسویانو نه ترتېښتې پاتې مالونه په خلکو ویشل. د هغو کورونو خاوندانو چې د نورو کورونه او کېري د دوی په کورو کې راټول شوي وو ، دا ګېلې او مانې کولې چې ځوک حق نه لري دغه ټول د کرملین ماڼۍ ته ولېږدوي. ځېنو نورو ګیلې کولې چې فرانسویانو له ځو کورونو نه غلا شوي کالي په یوه کورکې راکوټه کړې او دا به له انصافه لرې خبره وي چې د دوی په کورونو کې دغه راټول شوي کالي، د دغه کور خاوند ته پرېښودل شي، پولیسان یا ښکنځل کېدل او یا هم بډې ورکول کېدې چې د سوځېدل شویو شیانو قیمت په لسهاوو برابره زیات ولیکل شي یا هغوی له دولتي خزانې نه مرستې غوښتې او ګراف رستوپچین خپلې اعلامیې خپرولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

پيير، د جنوري په پای کې، مسکو ته راغی او د خپل جوړ پاتې شوی کور په يوه ګوښه کې ديره شو. هغه د راستو پچين ليدو ته ورغی او خپل څو تنه نور آشنايان يې چې مسکو ته راستانه شوي وو، وليدل. هغه د راتګ په دريمه ورځ تکل وکړ چې پترزبورګ ته لاړ شي. ټولو د بري لمانځنه کوله او. پلازمېنې په کنډوالو کې د ژوند شور او مستي په خوريدو وه. ټول د پيير په ليدو خوشاله و، ټول د هغه د ليدو لېواله وو او ټولو هيله لرله، له هغه نه، پر هغه د تيرو شويو پېښو پوښتنې وکړي. پيير د ټولو هغو کسانو په وړاندې چې ليدل يې د مينې او دوستۍ احساس کاوه، خو اوس يې بې ارادې له ټولو هغو خلکو سره په اړيکو کې احتياط کاوه چې نه يې شو کولای له چا سره، کومه ژبه يا وعده وکړي. ټولو هغو پوښتنو ته چې له ده نه کېدې، هغه مهمې وې او که نه وې، د ساري په توګه، چېرې به ژوند کوي؟ ايا کېدای شي چې دی خپل کورونو بيا جوړ او هلته ميشت شي؟ هغه څه وخت پترزبورګ ته ځي او ايا هغه به صندوقچه واخلي او ځای ته به يې ورسوي؟

ده به په لنډه توګه:

- هو، کېدای شي، زه فکر کوم او داسې نور ځوابونه يې ورکول.

هغه واوريدل چې د رستوفيانو کورنۍ د کسترامې به ښار کې ميشته شوې ده، خو د ناتاشې يادونه پر ده نه راخوريدل او که راخوريدل هم، هغه ډېر پخواني او تت خواږه يادونه وو. هغه يوازې دا احساسوله چې ځان نه يوازې د ژوند له ستونزمنو شرايطو بلکې له هغه احساس نه چې ده ته ګواکې بربښيده چې ده پر ځان زغملي، ازاد ګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکو ته د خپل راتګ په دربیمه ورځ یې له دربڅکویا نه واوریدل چې ، شهزادګۍ ماریا په مسکو کې ده.

د سردار اندرې د مرګ او د هغه د ژوند د وروستیو ورځو زوریدنې چې زیاتره وخت به ، د هغه په خیالونو کې ګرځېدې راګرځېدې، اوس په نوي قوت د هغه پر خیالونو یرغل وکړ. ترغرمنۍ وروسته خبر شو چې شهزادګۍ ماریا په مسکو کې ده او د فردفیژنکي، په کوڅه کې ، په خپل کور کې چې لا جوړ شوی نه دی اوسي. پیېر په هماغه ماښام هغې ته ورغی.

پیېر، د شهزادګۍ کور ته په تولـه لاره کې، لـه سردار سره، لـه هغه سره د خپلې ملګرتیا ، له هغه سره د خپلو مخالفتنو ، له هغه سره د خپلو کتنو ، پـه تیرې بیا د وروستې کتنې، د هغې کتنې پـه اړه چې پـه بارادینو کې شوې وه، فکر کاوه.

ایا هغه به په هماغه حالت چې زړه یې له کرکې ډک و ، مړ شوی یې ؟ ایا له مرګه دمخه به هغه ته دژوند راز راسپړل شوی نه وي ؟

هغه ته کراتایوف وریاد شو او د هغـه مـرګ. بې ارادې یې دغـه دوه کسان یې سره پرتله کړل. دغه دوه کسان سره له هغه تول توپیره چې لاره یې ، د هغې مینې لـه کبلـه چې ده لـه دغـو دواړو سره لرلـه، ده تـه دواړه سره ورته برېښېدل، دواړو ژوند کړی و او دواړه مړه وو.

پیېر په خورا ښه روحي حالت او غوره ښه، د زړې شهزادګۍ کورتـه وروړسېد. کور له جګړې او اور نه روغ پاتې و ، که څه هم د ورانۍ نښې یې په کور کې لیدل کېدې، خو د هغه ښه هماغـه پخوانۍ وه. هغـه بوډا چوپړ چې د پیېر هرکلی ته راوتلی و ، داسې برېښېده چې ګواکې وایي چې د شهزادګۍ شته والي د بې نظمۍ نښه نه ده، په خورا جدي ښه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-شهزادګۍ خپلې کوټې ته تللې ده او مېلمانه يوازې ديکشنبې په ورځ مني.

پيېر وويل:

- تاسو خبر ورکړئ، کېدای شي ومې مني.

چوپړ ځواب ورکړ:

- اطاعت کوم! تاسو مهرباني وکړئ او هغه د تصويرونو کوټې ته درځئ.

څو دقيقې وروسته چوپړ په داسې حال کې چې دوسال ورسره و، بېرته راستون شو.

دوسال، د شهزادګۍ له نامه پيېر ته وويل چې شهزادګۍ به ددې له ليدو نه خورا خوشاله شي او که دی اجازه ورکوي، له هر ډول رسمي هرکلي نه پرته، مهرباني وکړي په پاسنۍ پوړ کې د هغې کوټې ته ورشي.

شهزادګۍ د پاسني پوړ په يوه ټيټه کوټه کې چې يوه شمعه په کې لګېدلې وه، له يوې ښځې سره چې توري جامې يې اغوستې وې، ناسته وه. د پيېر دا په ياد و چې له شهزادګۍ سره تل يوه مينځه ګرځي، خو دا يې چې دغه مينځه څوک او څه ډول دی، په ياد نه و.

پيېر په تورو جامو کې ناستې مېرمنې ته وکتل او له ځانسره يې وويل:

- دا د شهزادګۍ کومه خورلنډه وي.

شهزادګۍ په چټکۍ پاڅېده او هغه ته يې لاس ور اوږد کړ.

وروسته له هغه پيېر، د شهزادګۍ لاس ښکل کړ، هغې د پيېر بدله شوې بشرې ته وکتل او وې ويل:

- ګوره په څه حال کې سره ګورو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې پـه تېنګـار د پېيـر نـه سـترګې خپلې خورلنډې تـه ورواړولې، ديوې شپېې لپاره يې هغه حيران کړ او وې ويل:

- هغې پـه دې وروستيو وختونو کې تاسو ډېرياد ولئ. کله مو چې ستاسو دژغورنې واوريدل ، ډېره خوشاله شوم. دا يـوازينی ښـه خبر و چې له ډېرې مودې وروسته مو اوريدلی و.

شهزادګۍ بيـا ، خو تـر پخوا نـه پـه لاپريشـانۍ خپلې خورلنډې تـه وکتل او غوښتل يې چې څه وواېي ، خو پېير يې خبره ونيوه او وې ويل :

-تاسو يې تصور کولای شي چې زه له هغه نه هېڅ خبر نـه وم. مـا فکـر کاوه چې هغه وژل شوی دی. ما چې د هغـه پـه اړه څه اوريـدلي دي، هغـه څه و چې، لـه نورو مې اوريـدلي دي، هغـه هم لـه دويمې اويـا دريمې خولې نه. ما يوازې دا اوريدلي و چې هغه د رسـتوفيانو لـه کـورنۍ سـره دی، خو دا چې څه حال لري، نه پوهېدم، دا څه برخليک دی ؟

پېير چټک او پـه لېوالتيا غږيده.

هغه ناڅاپه د هغـې دخورلنـډې څېرې تـه ځيـر او د هغـې څارونکې، مهربانه او له خواخوږۍ نه ډک غلچک ته يې وکتل او دې ته يې پام شو چې هغه ده ته ځيره ده. لکه تل چې د خبرو اترو پـه وخت کې احساسېږي، خدای خبـر ولـې ده احسـاس کـړه چې دغـه پـه تـورو جـامو کـې ښـځه، مهربانه، زړه سواندې او ويارمنه ده، داسې مهربانـه او ويارمنـه چې نـه غواړي چې له شهزادګۍ سره دده د زړه خوالې ته هېڅ مزاحمت نه کوي.

خو کله چې د رستوف د کورنۍ پـه اړه خپله وروستنۍ خبره وکـړه، د شـهزادګۍ ماريـا پـه تنـدی کـې د پريشانۍ نښـې لاپسـې راڅرګنـدې شوې، هغې بيا په تلوار، لـه پېيـر نـه سـترګې هغـې تورجامې ښځې تـه ورواړولې او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو په رښتیا هغه نه پېژنئ ؟
پېیر یو ځل بیا د شهزادګۍ خورلنډې ته، د هغې رنګ الوتې ډنګر مخ ته، تورو سترګو او عجیبې خولې ته وکتل. ده ته دغه کتونکې سترګې، ډېرې خپلې خو لا پخوا هېرې شوې، داسې سترګې چې دزړه راښکونکو ستاینه ورته کمه وه، ځېرې وې.
هغه فکر وکړ:
- نه، نه دا ناشونې ده، دا جدي، ډنګره، رنګ الوتې او زړه شوې بشره ؟نه دمنلو نه ده، دا هغه نه ده، دا به یوازې د هغه یادونه وي، خو په دې وخت کې شهزادګۍ ماریا وویل:
- ناتاشا !
او هغه خبره چې په ځیرمنو سترګو، خو په کړاو، داسې لکه زنګ وهلې دروازه چې خلاصیږي. په یوې موسکا وغوړیده او ناڅاپه له دغه پرانستل شوي وره نه، دپخوانۍ او هېرې شوې نیکمرغۍ وږم راولګید، په تیره بیا هغه وخت ده دغه وږم را خپور شو چې نور نو ده د هغه په اړه هېڅ فکر نه کاوه. دا خور شوی وږم، راخور او له ده نه یې پوره غبېږ راتاو کړه. کله چې هغه وموسېده، کله چې هغه وموسېده، نور پېیر ته په دې اړه هېڅ شک پاتې نه شو. دا ناتاشا وه او هغه ده ته ګرانه وه.
په هماغه لومړي شېبه کې پېیر هغې ته، شهزادګۍ ماریا ته او ترټولو نه غوره دا چې خپل زړه ته، هغه راز راوسپړه چې په خپله هم تر اوسه، دی ترې خبر نه و. هغه له خوښۍ او زورنکي ویرې نه پرته، تک سور شو. هغه غوښتل چې خپل هیجان پټ کړي. ، خو څومره چې به، هغه د هغه د پټولو لپاره هڅه کوله، هغه به لاڅرګنده او څرګنده په لاڅرګندو خبرو او تورو، هغه ځای ته هغې ته او شهزادګۍ ماریا ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه ویل چې ورته ګرانه ده.

پېير په زړه کې وويل:

- نه، نه، دا له دې کبله چې ما يې هيله نه لرله.

خو همدا چې غوښتل يې له شهزادګۍ ماريا سره پيل شويو خبرو ته دوام ورکړي، بيا يې ناتاشې ته وروکتل، تر پخوا نه لا زيات سوروالی يې پر بشرې راخور شو او دخوښۍ تر ټولو ستري ګبښۍ او ويرې يې زړه ومروړه. له هغه نه خبرې ګډې وډې او په نيمايي کې ترې پاتې شوې.

پېير، ناتاشې ته پام شوی نه و، نو ځکه هغه دلته د هغې دليدو هېڅ هيله نه لرله. خو هغه، هغه ځکه ونه پېژانده چې د دوی د جلاوالي په موده کې، په هغې کې راغلي بدلونونه خورا زيات وو. هغه ډنګره شوې وه، رنګ يې تک ژيړ اوښتی و. خو دا هغه څه نه و چې هغه يې دده لپاره تر ناپېژدونکې پورې بدله کړې وه، پېير درانو تلو سره سمدلاسه هغه ځکه ونه پېژانده چې د هغې په څېره کې، له هغو سترګو چې تل به له خوښۍ ډکې ځلېدونکې ژوندېښونکې ځلا خوريدله، خو اوس ده د رانو تلو په لومړې شېبه کې هغې ته په کتو کتو کې يې نه هغه موسکا وليدله، نه هغه غلچک، يوازې سترګې وې، او هغه هم ځيرکې، مهربانې او له غمه ډکه پوښتنيزې وې.

د پېير ګبښۍ، نه پر ناتاشا اغيز وکړ او نه يې نا آرامه کړ، بلکې يوازې د هغې دحيرانتيا سبب شوه، هغه حيرانتيا چې د هغه څېره يې لږ څه د پام وړ وځلوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

شهزادګۍ ماريا وويل:

-هغه دلته زما مېلمنه ده، ګراف او ګرافينه هم په دې ورځو کې راځي. د ګرافينې حال هم خورا خرابه دی او ناتاشا هم خپله ډاکتر ته اړتيالري، هغه مې په زور له ځانسره راوسته.

پيېر ناتاشې ته مخ ورواړاوه:

-ايا داسې يوه کورنۍ به وي چې يو غم ونه لري؟

تاسو پوهېږئ، دا ټول هغه وخت پيل شول چې موږ يې له اسارته آزاد کړو. ماهغه وليد. څه تکړه زلمی دی.

ناتاشې هغه ته وکتل او د هغه د خبرې په ځواب کې يې، يوازې خپلې سترګې بندې او ځلولې.

پيېر وويل:

- څه کولای شو ووايو او څه مو کولای شول چې تاسې ارامه شئ؟ هېڅ! نه پوهېږو داسې غوره ماشوم چې د ژوند له مستۍ نه ډک دی ولې ومري؟

شهزادګۍ ماريا وويل:

- هو! زموږ په زمانه کې، بې له ايمانه ژوند ګران دی.

پيېر په تلوار ورزياته کړه:

-هو کې! هو کې! دا رښتينې حقيقت دی!

ناتاشا په ځيرو سترګو پيېر ته وکتل او وې پوښتل:

- ولې؟

شهزادګۍ ماريا وويل:

- څنګه ولې؟ هغه څه په ياد لرل چې بله دنيا کې موږ ته سترګه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره دي.

ناتاشا، پرته له هغه چې د شهزادګۍ ماريا خبره تر پايه واوري، بيا يې په پوښتنيز غلچک پيير ته وکتل.

پيير دوام ورکړ:

- له دې کبله چې يوازې هغه څوک به، د دغه راز غم او وير چې پر موږ او تاسې راغلی، زغم وکړي، چې پر خدای، پر هغه خدای چې زموږ لارښوونه کوي، ايمان ولري.

ناتاشه په دې هيله چې څه ووايي، شونډې پرانستې، خو ناڅاپه خاموشه شوه. پيير په تلوار له هغې نه مخ واړاوه او له شهزادګۍ ماريا نه يې د خپل ملګري، د ژوند د وروستيو ورځو په اړه پوښتنه وکړه.

د پيير پريشاني اوس پای ته رسېدلې وه، خو داسې يې انګېرله چې د هغه پخوانۍ ازادۍ هم نېږدې ټولې له منځه تللې دي.

هغه داسې انګېرله چې اوس د هغه پر هرې خبرې او هرو کړو کوم قاضي ولاړ دی، هغه قاضي چې قضاوت يې د دنيا ترټولو خلکو غوره دی. هغه غږېده او له غږېدا سره هممهاله يې په دې فکر کاوه چې پر ناتاشې څه اغيز کوي. هغه په ځانګړې توګه داسې څه نه ويل چې د هغې خوښ شي، خو هر هغه څه چې ده ويل د هغې له نظره يې خپله د هغه په اړه قضاوت کاوه.

شهزادګۍ ماريا، د تل په شان په خورا تلوسې د هغه حالت په اړه کيسه پيل کړه چې څنګه له سردار اندرې سره ددې ديدن وشو، خو د پيير پوښتنو، د هغه بريد او نا آرامه کتو او د هغه له ګېڼې ريږديدونکې څېرې، هغه کرار کرار دې ته وهڅوله، د هغه، هغه حالت چې دا خپله آن په خيال کې د هغه له يادېدو نه ډارېده.

پيير، په بشپړه توګه د شهزادګۍ ماريا خوا ته ورخم شوی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا تلوسې یې هغې ته غوږ نیولی و او ویل یې:

-ښه، ښه، داسې، هو ! هغه آرام شو ؟ هغه نرم شو ؟ او په دې توګه هغه په خپل ټول قوت سره دزړه له تله ددې په لټه و چې ښه سړی واوسي، نو ځکه هغه ویریده... هغه نه شو کولای له مرګه وډار شي.

که هغه کومه نیمګړتیا لرله ، که لرله یې د هغه ، د هغه سرچینه په ده کې نه وه، هغه له بلې خوا نه وې.

پییر وویل:

-ښه، هغه داسې نرم او ارام شوی و ؟

هغه ناڅاپه ناتاشې ته مخ وروا ړاوه، په داسې حال کې چې د هغې له اوښکو ډکو سترګو ته یې کتل، هغې ته یې وویل:

- دا څو مره لویه نیکمرغي ده چې له تاسو سره د هغه دیدن وشو..

دناتاشې بشره وربېږدیده، یوه شېبه یې تندی تریو شو او سترګې یې ښکته واچولې. یوه دقیقه په شک کې وه چې څه ووایي او که ونه وایي، خو بیا یې له ګوګل نه په راپاڅېدونکي آرام غږ وویل:

- هو کې ! دا لویه نیکمرغي وه، په رښتیا ماته نیکمرغي وه. هغه یوه شېبه چپه شوه او بیا یې وویل:

-هغه... هغه... په هغه شېبه کې چې زه هغه ته ورغلم، هغه هم همدا هیله لرله.

دناتاشې غږ وربږدید او مات شو ، هغه تکه سره واوښته ، سریې راپورته کړ او ژر ژر یې خبرې پیل کړې:

-کله چې موږ له مسکوه وخوځېدو ، په هېڅ هم خبر نه وو. ما دا زړه نه شو کولای چې له چانه د هغه پوښتنه وکړم، خو ناڅاپه سونیا ماته وویل چې هغه زموږ له کاروانه سره دی. ما هېڅ تصور هم نه شو کولای. دا فکر مې نه شو کولای چې هغه به څه حال لري، زما یوازینۍ هیله دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې هغه ووینم او تر څنګه یې و اوسم. ناتاشا په غږیدا غږیدا کې ریږدیده او ستمېده. پرته له هغه چې چاته په خپلو خبرو کې دننوتو اجازه ورکړي ، ټول هغه څه یې چې هېڅکله دې چاته نه ویل، ټول هغه څه چې د دوی درې او نیزه سفر په اوږدو او د یارسلاو په ښارکې د اوسېدو په موده کې پرې تیر شوي وو ، هغوی ته وویل.

پیېر له حیرته په وازه خولې هغې ته غوږ و او له اوښکو په ډکو سترګو یې هغې ته کتل. هغه په داسې حال کې چې هغې ته غوږ و ، هغه، نه د سردار اندرې او نه د هغه څه په اړه چې ده ته ویل کېده، دیوه په اړه هم فکر نه کاوه. هغې یوازې هغې ته یې غوږ نیولی و او د هغه رنځ له امله یې پر هغې زړه خوږیده چې ددغې کیسې د ویلو په وخت کې ناتاشې اوس زغمه. شهزادګۍ ماریا چې دناتاشې ترڅنګه ناسته وه او د هغه زور له امله چې د خپلو اوښکو دتمېدو لپاره یې پر ځان راوړ، تندی یې ګونځې برېښېده او دلومړي ځل لپاره یې له ناتاشې سره د خپل ورور دژوند د وروستیو ورځو د مینې داستان اوریده.

هغې دغه زورونکي، خو له خوښۍ نه ډک داستان ته ډېره اړتیا لرله.

هغه غږیده، خورا وړې خبرې یې په ډېرې اوږدې بڼې د خپل زړه د پټ راز په توګه ویلې او داسې برېښېده چې هغه به، دغه کیسه هېڅکله پای ته ونه رسوي. هغې به یوه خبره بیا بیا تکراروله.

د دروازې له شا د دوسال غږ واوریدل شو ، هغه پوښتل چې ایا نیکولای جان کولای شي، دمخه ښې لپاره راننوزي ؟

ناتاشا وویل:

- هو کې ! خلاصې شوې ،. داده خبرې خلاصې شوې.

د نیکولای له راننوتلو سره همهماله، هغه په چټکۍ پاڅېده، داسې چې تا به ویل منډې وهي، د دروازې خواته لاړه... سر یې د پردې شاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دړې ولګید او په زګیر وي، زګیروي چې معلومه نه وه، له غمه او که په دروازې د سر دلګیدو له امله و، له کوټې نه ووته.

پیېر هغې دروازې ته چې ناتاشا ترې وتلې وه، کتل او په دې نه پوهېده چې هغه په ټوله نړۍ کې ولې یوازې پاتې شوې ده.

شهزادګۍ ماریا ددې کوټې ته د خپل وراره رانتوتلو ته پا ورا ړولی و او وراره ته پام هغه دغم له څپو راوویسته.

د نیکولای بشره چې سخته د خپل پلار هغې ته ورته وه، د پیېر پر زړه چې په دې وخت کې سخت نرم شوی و، داسې اغیز وکړ چې هغه سمدلاسه نیکولای جان ښکل کړ، په چټکۍ پاڅېد، خپل دستمال یې راوویست او د کوټې خواته لاړ، هغه غوښتل له شهزادګۍ ماریا سره مخه ښه وکړي، خو هغې، هغه تګ ته پرنښود او وې ویل:

-نه، زه او ناتاشه تر درې بجو پورې هم نه ویدې کېږو، مهرباني وکړئ او کینئ. زه سپارښتنه کوم چې ماښامنۍ جوړه کړي. تاسو ښکته لاړ شئ، موږ هم سمدلاسه درځو.

مخکې له هغه چې پیېر ووزي، شهزادګۍ هغه ته وویل:

- دا لومړي ځل و چې ناتاشې د هغه په اړه داسې غږېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

پېير يې يو لوی او روښانه خوړنتون ته بدرګه کړ. څو دقيقې وروسته د ګامونو غږ واورېدل شو، شهزادګۍ او ناتاشا کوټې ته راننوتې. ناتاشا ارامه وه، خو بيا هم د هغې جدي او بې موسکا حالت، د هغې بشرې ته راګرځېدلی و. شهزادګۍ ماريا، ناتاشا او پېير درې واړو، په يوه اندازه هغه نا آرامه حالت احساسوه چې معمولاً تر سپينو او د زړه له کومې نه د ويل شويو خبرو نه وروسته چاته پيدا کېږي. د مخکنيو خبرو دوام ناشونی و. د اپلتو ويل او د وجدان نا ارامي وه. سکوت کول هم څکه بد و چې، زړه خبرې غوښتې او چوپتيا يو ډول ښه خبره نه وه. هغوی په پټه خوله ميز ته ورغلل. چوپړانو له ميز نه څوکۍ را لرې کړې او د هغو تر ناستې وروسته يې بېرته ور وړاندې کړې. پېير د سړو خوړو، دستمال وغوړاوه او په دې هيله چې چوپتيا ماته کړي، ناتاشا او شهزادګۍ ماريا ته يې وروکتل. هغوی دواړو هم همهاله هغه ته وروکتل او د دواړو په سترګو کې د ژوند د خوند برېښنا او هغه اقرار ځلېده چې له غم او وير نه پرته په ژوند کې خوښي هم شته.

شهزادګۍ ماريا وپوښتل:

-تاسو خو ودکا څکئ؟

او په دې خبرې سره يې، د دوی تر منځ لوېدلې پرته پرده لرې کړه.

شهزادګۍ ماريا وويل:

-دڅان په اړه يو څه ووايه. ستاسو په اړه خورا عجيبې او غريبې کيسې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير له ملنډو په ډکه موسکا چې نور نو ددې لپاره عادي خبره و، وويل:

- هو کې، ماته هم زما پرعجبوالي خلک هرڅه او داسې خبرې وايي، څه چې ما آن په خوب کې هم نه دي ليدلي. ابراموا، مېلمه کړم او ماته يې هغه کيسې کولې چې پرما شوي دي يا بايد شوې واى. ستيپان ستيپانيچ هم ماته را زده کول چې څنګه بايد خپلې کيسې وکړم. زما دې خبرې ته پام شوى چې څومره سړى په زړه پورې وي(زه اوس په زړه پورې سړى يم)هغو سره هغه آرامه وى). هرڅوک يې مېلمه کول او خپلې کيسې ورته کوي.

ناتاشا وموسېده او غوښتل يې چې کوم څه ووايي:

شهزاده ماريا زياته کړه:

-مورې ته يې سره وويل چې تاسو په مسکو کې دوه ميليونه تاوان کړى دي، دا رښتيا دي ؟

پېير وويل:

- خو زه درې برابره بډاى شوم.

که څه هم د پېير چارې د هغې د ښځې پورونو او د کورونو د بيا جوړلو اړتياوو، ورژوبلې کړې وې، خو بيا يې هم ويل چې ګټه يې درې برابره شوې ده.

هغه په زغرده وويل:

-هغه څه چې ما بېشکه ګټلي، هغه خپلواکي ده چې...

خو دې ته يې پام شو، چې ددې خبرې دوام به ډېره ځانستاينه شي، له خبرو يې ډډه وکړه...

-کور موجوړوئ ؟

-هو ! سافيلچ همداسې پريکړه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماريا وپوښتل:

- دا راته وواياست چې تاسو لا په مسکو کې وئ چې د ګرافينې( د هغه ښځه ايلن )له مرګه خبر وئ ؟

شهزادګۍ ددې پوښتنې سره جوخت، ځکه تکه سره شوه چې دې دا پوښتنه سمدلاسه د پيير له هغې خبرې نه وروسته وکړه چې وې ويل:

- له هرڅه نه خپلواک شوی دی.

نو دې دا تصور وکړ چې ددې له دغې پوښتنې به هغه بل تصور تر لاسه کړي.

پيير داسې څرګنده کړه چې ګواکې دده آزادۍ ته د شهزادګۍ له اشارې نه، خپه شوی نه دی، هغه وويل:

- زه له د هغې له مرګه په اريول کې خبر شوم، تاسو يې تصور نه شي کولای چې دې خبر زه څنګه حيران کړم.

ژر يې ناتاشې ته سترګې وروا ړولې. د هغې په بشرې کې يې د پوهېدو د تلوسې نښې وليدې، هغه تلوسه چې غوښتل پوه شي، پيير د خپلې ښځې نوم څنګه يادوي.

بيا يې ژر وويل:

- که څه هم موږ خورا ښه ښځه او مېړه نه وو، خو د هغې مرګ سخت ويرمن کړم. کله چې دوه تنه خوابدي کېږي، تل دواړه ملامته وي، خو دګناه پېټی د هغه لاپسې زياتېږي چې له دغو دووتنو نه يوتن مړ شي. او بيا دغه شان مرګ.. نه ملګريلري ، نه خواخوږي. زما پر هغې ډېر ډېر زړه خوږېږي.

کله چې يې خپلې خبرې پای ته ورسولې، په خورا خوند يې دناتاشې په بشره کې يې د خپلو خبرو د تاييدنښې وليدې.

شهزادګۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هوکې !او بیا تاسو یوازې او ښه زوم یاستئ.

پییر ناڅاپه له حیا نه تک سور و او ښت او تر ډېرې پورې یې هڅه کوله، ناتاشې ته ونه ګوري، خو کله چې هغه، هغې ته د کتلو تکل وکړ، د هغې څیره سره، برنده او هغه شان چې ده ته برېښیده دیو ډول سپکاوي څرګندونه یې کوله.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-موږ اوریدلي، ایا تاسو په رښتیا په خپله ناپلیون لیدلی او خبرې مو ورسره کړي دي ؟

-هېڅکله، یو وار مې هم ناپلیون نه دی لیدلی، ټولو ته داسې برېښي چې کله اسیر شي، ګواکې د ناپلیون مېلمه یې. ما نه یوازې هغه لیدلی نه دی بلکې د هغه په اړه مې هېڅ څه اوریدلي هم نه دي. زه له خورا خوارو خلکو سره یو ځای وم.

ماښامنۍ پای ته ورسېدله. پییر چې په لومړي سر کې د خپل اسیرتوب په اړه کیسو نه ډډه کوله ، کرار کرار په خبرو راغي او د اسیرتوب یادونه یې رایاد کړل. ناتاشا چې نرۍ موسکا یې پر شونډو راخوره شوه، له هغه نه وپوښتل:

- خو دا خو رښتیا دي چې تاسو ، ځکه په مسکو کې پاتې شوئ چې د ناپلیون د وژلو تکل مو کړی و ؟ ستاسو یاد بېږي ، هغه ورځ مو چې د سوخاروف د برج تر څنګه ولیدل، زه په هماغه ورځ پوه شوم چې تاسو دا تکل لرئ.

پییر دا ومنله چې دا خبره رښتیا ده. له همدې اعترافه او د شهزادګۍ ماریا ، په تیره بیا د ناتاشې پوښتنو نه دی دې ته اړ شو چې کرار کرار د هغو ټولو پېښو حال بیان کړي چې پر ده تېرې شوې وې.

شهزادګۍ ماریا چې نرۍ موسکا یې پر شونډو خوره وه، کله پییر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله هم ناتاشې ته کتل، هغې د پییر په دې ټولو کیسو کې د صداقت او مهربانۍ نه پرته بل څه نه لیدل. ناتاشې چې څنګل لګولې وه. پرته له هغه چې له پییره سترګې بلې خواته واړوي ، له هغه څه نه چې له هغه نه یې اوریدل ، د هغې بشرې حالت هم بدلیده رابدلیده. داسې بریښېده چې په دې ټولو پیښو کې له پییره سره مل او هغه څه احساسوي چې پر هغه تیر شوي دي. پییر نه یوازې د هغې غلچکو بلکې د هغې له اوازه او هغو لنډو پوښتنو نه په دې پوهېده چې ناتاشه نه یوازې پر هغه څه چې پییر یې وایي بلکې پر هغه څه چې هغه غوښتل وو ایې او د ویلو توان یې نه لري، هم پوهېږي. د ماشوم او د هغې ښځې په اړه چې له هغو سره د مرستې له امله دی نیول شوی و ، خپله کیسه پییر داسې پیل کړه:

-یوه غمرلې پیښه وه. ماشومان یې پرېښودل، یو نیم خو په لمبو کې پاتې کېدل، زما تر مخې یې ماشوم د لمبو له منځه راوویست. له ښځو یې هرشي اخېستل ، آن غوږې یې له غوږو ترې شکولې...

پییر سور واوښت او ګېنې واخېست او زیاته یې کړه:

-او هماغه و چې یوه ډله څارونکي راورسېدل او ټول نارینه یې او په هغه ډله کې زه هم ، په دې نامه چې ګواکې په تالان کې او الـه ګوله کې ګډون لري ونیول.

ناتاشې وویل:

-داسې ښکاري چې تاسو ټولې خبرې نه کوئ، داسې بریښې چې څه به مو کړي و.

هغه چپه شوه او بیا یې وویل:

- کوم ښه کار.

پییر خپلو کیسو ته دوام ورکړ ، خو کله چې هغه د اعدام کیسې ته ورسېد ، غوښتل یې چې له دغو وحشتناکو کیسو نه سترګې پټې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، خو ناتاشې له هغه نه هيله وکړه چې هېڅ شي له دوی نه پټ نه کړي او هر څه ورته په ډاګه کړي.

پيير د کراتايوف کيسه پيل کړه( هغه د ميز له څنګه پاڅېد ، په کوټه کې ګرځېده راګرځېده او ناتاشې له هغه سترګې نه اړولې، بيا ودريد او وې ويل:

- ښه ! تاسو په دې پوهېدای نه شئ چې ما له دغه ساده او نالوستي سړي نه څه زده کړل.

ناتاشې وويل:

- نه، نه، راته ووايه، هغه چېرې دی ؟

-هغه يې زما تر مخې وواژه.

او پيير له فرانسوي پوځ سره د خپلو تلو او شا ته تګ او د کراتايوف د ناروغۍ (د هغه غبر پر له پسې ربړدېده ) او مرګ کيسه کوله.

پيير خپلې کيسې داسې کولې چې تا به ويل، هغه هېڅ کله چا ته، هغه ويلي نه دي او آن له ځان سره يې هم رايادې کړي نه دي. هغه ليدل چې په دې ټولې تيرې شوې پېښې نوې بڼه پيدا کوي. اوس ټولو هغو خبرو او څه چې دې ناتاشې ته ويل، هغه بې سارې خوند پيدا کاوه چې ښځې يې نارينه ته د غوږ نيولو نه وربښي. خو نه ځيرکو او هوښيارو ښځو ته چې غوږ نيسي او هڅه کوي هغو ته ويل شوې کېسې، هغوی د خپلې پوهې د زياتوالي لپاره ذهن ته وسپاري او د اړتيا په وخت کې يې بېرته نورو ته ووايي او يا اوريدل شوي څه ، په خپله خوښه بدل کړي او ژر تر ژره نه يوازې د خپل ذهن وړه دنياګۍ پرې رنګينه او خوږه کړي بلکې هغه هوښيارې او رښتينې ښځې د نارينو په خبرو کې بې ساري ښې خبرې پيدا او هغه خپلې کړي. ناتاشا خپله پرته له هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پوه شي، ټوله پام پام وه، هغې نه هېڅ شي بې پاملرنې نه پاتې کېدل، نه کومه خبره، نه کوم غلچک، نه دآواز ټيټېدل او لوړېدل، نه د هغه دبشرې ګونځې کېدل او يا د پېير کوم بل خوځون. هغې لا دنا ويل شويو خبرو، توري رانيول او مخامخ يې خپل راسپړل شوي ګوګل ته وړل او د پېير دنا سپړل شويو ارمانونو او دروحي حالت اتکل يې کولی شو.

شهزادګۍ ماريا د هغه په کيسو پوهېده، هغه يې احساسولې، خو هغې اوس بل څه ليدل او دې ټول پام ځانته وراړولی و. هغې د ناتاشا او پېير ترمنځ يوه رالمسېدونکې مينه او نيکمرغي ليدله او دلومړي ځل لپاره، ددې ذهن ته دښکلې خيال ورتګ د هغې ګوګل له خوښيو ډک کړی و.

د شپې درې بجې وې، چوپړان په خواشينې بڼه او تريو تندي رانول تل، شمعې يې بدلې کړې، خو هېڅ چا هغو ته پام نه کاوه.

پېير خپلې کيسې پای ته رسولې وې، ناتاشې په ځلېدونکو برندو سترګو پرله پسې، په ځير او پوره پام هغه ته کتل، داسې چې ګواکې هيله لري، غواړي په هغه څه پوه شي چې لا تراوسه پېير هغه نه دي ويلي.

پېير په حيا او نيکمرغۍ کې ډوب، حيران حيران، خو کله ناکله ناتاشې ته ورکتل او په دې فکر کې و، چې اوس څه ووايي او خبره بدله کړي. شهزادګۍ ماريا خاموشه شوه، خو د هېڅ چا دې ته پام نه و چې د شپې درې بجې دي او نور بايد چې ويده شي.

پېير وويل:

- بدمرغي او زوريدل. هو، که څوک غواړي، همدا اوس به پر ما هغه څه راشي چې تر جګړې مخکې پر ما راغلې وو او يا غواړي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه پر ما راشي چې په اسارت کې پر ما راغلي وو ؟زه به و وایم ، دخدای لپاره ! بیا اسارت او دآس غوښه. موږ داسې فکر کوو ، که له هغه ژونده چې موږ ورسره روږدي شوي یو ، لرې شو ، هر څه تباه کېږي، حال دا چې داسې نه ده او هلته ، نوې ښې لارې پیل دي. تر هغه پورې چې ژوند شته، نیکمرغي هم شته. ډېر څه لا تر مخې دي. هغه ناتاشې ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

- دا تاسو ته وایم.

ناتاشا چې چور دبلې پوښتنې ځواب وایه، وویل:

- هو ، هو ، زه هم له دې نه پرته چې هرڅه بیا وازمایم، بله هیله نه لرم.

پېیر په ځیر ځیر هغې ته وکتل.

ناتاشا په ټینګار وویل:

- بل هېڅ شي.

پېیر چغه کړل:

- دا رښتیا نه ده. دا زما ګناه نه ده چې زه ژوندی یم او غواړم ژوند وکړم او تاسو هم همداسې !

ناتاشې ناڅاپه سر په لاسونو کې کلک کړ او په ژړا شوه.

شهزادګۍ ماریا وویل:

- ناتاشا دا څه دروشول ؟

هېڅ. هېڅ، هغه په ژړا ژړا کې پېیر ته وموسېده او وې ویل.

- دخدای په امان، نور نو باید ویده شوو.

پېیر پاڅېد او مخه ښه یې وکړه.

***

شهزادګۍ ماریا او ناتاشا دتل په شان دخوب کوټې ته لاړې. هغوی د هغه څه په اړه چې پېیر ویلي و ، وغږېدې. شهزادګۍ ماریا د پېیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه خپل نظر څرګند نه کړ او ناتاشا هم د هغه په هکله څه و نه ویل.
ناتاشا وویل:
- ماریا دخدای په امان ! خو ګوره زه زیاتره وخت له دې ډاریږم چې د هغه په اړه(سردار اندرې) وغږیږو. ګواکې له دې ډاریږو چې د هغه په وړاندې خپل احساس کم نه کړو.
شهزادګۍ ماریا ژوره سا وویستله او په یوې سا یې د ناتاشې خبره تایید کړه، خو په خوله یې هېڅ و نه ویل. هغې وپوښتل:
-ایا کېدای شي هغه هېر کړل شي ؟
ناتاشې وویل:
-زه دومره خوشاله وم چې نن مې هرڅه وویل. ګرانه وه، زورنکې وه، خو ډېر ښه وشول چې هرڅه مووویل. زه په دې ډاډه یم چې هغه ته هم هغه ګران و، ما له همدې کبله هغه ټوله کیسه وکړه. ناڅاپه تکه سره شوه او وې ویل:
څه پروا خو نه لري چې ما هغه ته ټول وویل ؟
شهزادګۍ ماریا وویل:
- پېږیر ته ؟ نه، نه، ښه دې وکړل ؟ څومره ښه سړی دی.
خوناتاشه، ناڅاپه، په داسې حال چې له شیطانۍ نه ډکه موسکا یې پر شونډو خوره وه، هغه موسکا چې له مودې مودې راهیسې شهزادګۍ ماریا هغه نه و لیدلې، وویل:
- ماریا پوهېږې ! هغه څومره صادق او رښتینی دی، پاک زړی، تاند، چور ساده او شډل. ته پوهېږې ، ته پوهېږې، ته به وایې همدا اوس له کلي راغلی وی، پوهېږې ؟ همداسې نه ده ؟
شهزاده ماریا وویل:
- هو ! هغه له ژونده ډېر څه تر لاسه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کوټ ډوله یې کرتۍ یې لنډه شوه، څنې یې جوړې کړې، په رښتیا، په رښتیا چې...

شهزادګۍ ماریا وویل:

-زه پوهېږم چې هغه ته(سردار اندرې ) هېڅ څوک داسې ګران نه و، لکه هغه.

-هو، هغه له هغه نه ډېر توپیر لري، ویل کېږي چې نارینه هغه وخت ښه ملګرتوب کوي چې هېڅ څه یې سره ورته نه وي. دا رښتیا باید همداسې وي، رښتیا ده چې د هغوی هېڅ سره ورته نه دی.

- هو کې ! بې ساری دی.

ناتاشې ځواب ورکړ:

-نو ښه ده، دخدای په امان.

او هماغه له شیطانۍ نه ډکه موسکایې، ګواکې لکه هېره شوې یې چې وي، تر ډېرې مودې پورې پر شونډو پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

پیېر ته په هغه شپه تر ډېره خوب نه ورته، هغه په کوټه کې وړاندې وروسته ګرځېده راګرځېده ، کله به یې د کوم ګران او پېچلي څه په اړه فکر کاوه او کله به یې ټکان وخوړ، اوږې به یې پورته اچولې او کله به یې د نیکمرغۍ موسکا پر شونډو خوره وه.

هغه ته سردار اندرې ورياد شو ، هغه د ناتاشې په اړه فکر کاوه ، د هغې د مينې په اړه، کله به یې د هغوی پر پخوانۍ مينه رخه کوله، بيا به يې ځان له دې امله ملامتوه. بيا به يې ځان له دې امله وبانښه د سهار شپږ بجې وې او هغه لا همداسې په کوټه کې ګرځېده.

هغه له ځانسره وويل:

- ښه ! چې بې له دې نه کېږي، نو څه وکړم ؟

هر څه چې دی، باید هغه وزغمو.

په تلوار يې خپل کالي ووابستل او په کټ کې پريوت. نيکمرغه، خو نا ارامه زړه يې ټينګ او شک ته يې لاره نه پرېښوده.

هغه له ځانسره وويل:

- که هر څومره عجيب وي ، که هرڅومره دا نيکمرغي ناشونې وي، بايد له ټولو امکانات کار واخېستل شي چې هغه زما ښځه شي.

پيېر لا څو ورځې مخکې ، د جمعې ورځ پترزبورګ ته د خوځېدا لپاره ټاکلې ده. کله چې هغه د پنجشنبې په سهار راويښ شو ، سافيليچ د کاليو دبارونو د تړلو د سپارښتنې اخېستو لپاره هغه نه راغې.

پيېر بې ارادې له ځانه وپوښتل:

- پترزبورګ ته ؟ پترزبورګ نو څه ؟ په پترزبورګ کې څوک لرم ؟ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پترزبورګ کې څه خبره ده ؟

- هو، دا سې بربښې چې لا ډېر پخوا مخکې له هغه چې دغه پېښه شوې وي، ما له ځانه وپوښتل او نه پوهېدم چې د څه لپاره پترزبورګ ته ځم ؟ هلته څه لرم ؟ یا هم کېدای شي لاړشم.

د سافیلچ عمر خوړلې خبرې ته یې په کتو کتو کې، په زړه کې تېره شوه:

-هغه څومره ښه او ځیرک دی. هر څه یې په یاد دي او څه خوږه موسکا یې پر شونډو خوره ده.

پېیرو پوښتل:

-ګوره سافیلچه، ته غواړې آزاد شي ؟

-عالیجنابه زه به آزادي څه کړم ؟

د مشر ګراف تر سیوري لاندې ( لږ آرامه شو ) خدای دې جنتونه ځای کړي، د هغوی ډوډۍ مې خوړلې ، ستاسې نه مې هم څه بد نه دي لیدلي.

- ښه نو ماشومان څنګه کېږي ؟

- ماشومان به لوی شي عالیجنابه ! خو ستاسې غوندې بادارانو چو پړ لوی نعمت دی.

پېیر وویل:

-خو زما وارثان ؟ که ناڅاپه زه واده وکړم ؟

په یوې بې ارادې موسکا یې زیاته کړه:

- دا خو دې زړه ته لوېږي چې دا کار کېدای شي ؟

- که سپین سترګی مې نه ګڼئ، خورا ښه کار دی جلالتمابه !

پېیر په زړه کې وویل:

- د هغه لپاره څومره آسانه بربښي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په دې نه پوهېږي چې څومره وحشتناکه ده، څومره له ګوابښه ډکه ده، یا ډېره وحشتناکه وي، وحشتناکه ده، وحشتناکه !

ساوفلیچ وپوښتل:

- څه مهرباني کوئ، تاسو سباته تلونکي یاست ؟

پېیر وویل:

-نه، سفر یو څه ځنډوم، بیا به درته وو وایم چې څه وخت ، ته به ما وبښې چې ناآرامه وم دې.

خو د ساوفلیچ د موسکا په لیدو یې له ځانسره وویل:

-څه عجیبه ده چې هغه لا نه پوهېږي چې اوس نو کوم پترزبورګ ؟ او تر هر څه د مخه باید د غه خبره جوړه کړو ، که څه هم هرو مرو به پوهېږي، مګر ځان بې خبره نیسي. که له هغه سره وغږېږم ؟ وګورم هغه په دې اړه څه فکر کوي ؟ یا څنګه ، نه ، نه ، پرېږده، بیا وروسته.

د سهارنۍ پر وخت یې شهزادګۍ ته وویل چې پرون ماښام د شهزادګۍ ماریا دیدن ورغلی و او پوهېږي چې تصور یې هم نه شي کولای چې هلته یې څوک ولیدل ؟ نتالیا رستوا !

شهزادګۍ داسې وښودله چې په دې خبره کې هېڅ د پام وړ څه نه ویني. دا هماغه شان دی لکه ده که انا سیمونونا لیدلې وای.

پېیر وپوښتل:

-تاسو هغه پېژنئ ؟

هغې ځواب ورکړ:

- ما شهزادګۍ لیدلې ده او اوریدلي مې دي چې غوښتل یې، هغه د رستوف زوی ته ورکړي. دغه واده به د رستوف د کورنۍ په خیر وي، ویل کېږي چې هغوی سخت خوار شوي دي.

- نه ، د هغوی لور ناتاشا پېژنئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما هغه وخت یوازې د هغه د ژوند کیسه واوریده ، ډېر زړه مې پرې خوږ شو.

پییر له ځانسره وویل:

- نه پوهېږم، هغه نه پوهېږي، یا به داسې ښودنه کوي چې نه پوهېږي، ښه به داوي چې دې ته هم څه ونه وایم.

شهزادګۍ هم د پییر د سفر لپاره خواږه برابر کړي وو.

پییر له ځانسره فکر کاوه:

-څنګه هغوی ټول مهربانه دي، اوس به د هغوی ټولو لپاره ګرانه وي ، هغه چارې ترسره کړي چې د دوی نه خوښېږي. هغه هم زما لپاره. دا ډېره د حیرانتیا وړ ده. په همدې ورځ د پولیسو مشر، پییر ته له دې وړاندیز سره راغي چې حقوقي وکیل ولېږي. وکیل د دې لپاره ولېږي چې څو ټول شیان خپلو خاوندانو ته تسلیم کړي ( دا هغه شیان وو چې فرانسویانو له کورونو نه راوړي وو ).

پییر د سیمې د پولیسو مشر ته په کتو کتو کې، له ځانسره وویل:

- هوکې ! دا هماغه څوک دی. دا څه ویاړمن، ښکلی او مهربانه افسر دی. اوس په څه کمکیو او وړو شیانو اخته دی. سره له هغه هم بیا هغه پورې سره وایي چې هغه غلط سړی او له هرڅه نه ناوړه ګټه اخلي. څه اپلتې ؟او بیا ولې ګټه وانخلي ؟ هغه همداسې روزل شوی دی، ټول دا کار کوي. څومره خواخوږی بریښي، مهربانه او بارحمه بشره، ماته چې ګوري، موسېږي.

پییر د ماښامنۍ لپاره د شهزادګۍ ماریاکور ته لاړ.

هغه په واټونوکې د سوځېدلو کورونو او ودانیو ترمنځ، ښکلاوو حیران کړی و. د کورونو دبخاریو، موریو ( دودرو ) او راړنګ شویو دیوالونو د راین او لولیز شاعرانه مناظرو هغه راپارولی او تخنولی و..

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

د شهزادګۍ ماريا کورته رسېدو سره سم، پيير ته شک پيدا شو چې ، ګواکې په رښتيا پرون شپه دی دلته و او له ناتاشې سره يې ليدلي او غږيدلی دی.

هغه له ځانسره وويل:

-کېدای شي دا هسې تش خيالونه وي، دا تصور وي، کېدای شي زه کورته ورننوزم او هغه څوک ونه وينم، خو لا پوره کوټې ته ورننوتلی نه و چې هلته يې ناڅاپه دناتاشا شتوالي ځکه احساس کړ چې ده خپله ازادی له لاسه ورکړه. هغه په هماغه پرونی تور چپن ډوله کميس کې وه. اوربل يې هماغه شان جوړ کړی و ، لکه پرون ماښام، خو هغه نن چوربل ډول ښکاريده. که هغه پرون ماښام، هغه وخت چې دی کوټې ته ورننوت دغه شان وای لکه اوس چې ده، دا به ناشونې وای چې په لومړي غلچک يې هغه پېژندلې نه وای.

هغه هماغه شان وه، لکه هغه شان چې ده له ماشتوبه پېژانده او له هغه وخته چې د سردار اندرې کوژدنې شوې وه، په سترګو کې يې د خوښۍ ځلېدونکې رڼا او پوښتنيزه ادا ځلېدله. څېره يې مهربانه ، خو له شيطاني اداوو نه ډکه وه.

پيير ماښامنۍ وخوړه او غوښتل يې تر ناوخته کېني، خو دا چې شهزادګۍ د ماښامنۍ لمانځنې لپاره کليسا ته تلونکې وه، دی هم ورسره لاړ، خو تر هغه وروسته ګډ کورته راستانه شول.

سره له هغه چې شهزادګۍ ماريا او ناتاشا له ورايه د مېلمه په راتګ خوشاله وې، سره له هغه چې د پيير د ژوند ټوله لېوالتيا اوس له دغه کور سره وه... خوبيا هم...

دوی په دې ماښام د هر څه او هر څه په اړه وغږيدل ، له يوې ناڅيزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې نه ، پرله پسې خبره بلې هغې ته ور اوښته او کله ناکله به چوپتیا خوره شوه.

پيير په دې شپه ، تر دومره ناوخته پورې کښناست چې شهزادګۍ ماريا او ناتاشې په دې هيله يو بل ته سره کتل چې څنګه او څه وخت به هغه لاړ شي، پيير که څه هم دغه حالت ته پام و او هرڅه ليدل خو بيا هم کرارناست و.

شهزادګۍ ماريا چې ددغه حال اټکل نه شو کولای، تر هرچا لومړی په دې پلمه پاڅېده چې سر يې خوږېږي، مخه ښه يې پيل کړه او وې پوښتل:

- ښه ! څنګه تاسو سباته پترزبورګ ته روان ياستئ او کنه ؟

پيير په حيرانتيا او داسې چې ګواکې خوابدی شوی دی، په تلوار وويل:

- نه زه نه ځم. هو کې پترزبورګ ته نه ځم. له تاسو سره هم مخه ښه نه کوم. سباته راځم ، کېدای تاسو هم ځينې کارونه ولرئ ؟

هغه د شهزادګۍ ماريا تر مخې ولاړ و. تک سور اوښتی و او د وتلو توان يې نه درلود.

ناتاشې هغې ته لاس ورکړ او ووتله.

شهزادګۍ برخلاف د هغه چې لاړه شي، ځان پر لاستي لرونکې اوږده څوکۍ کې وارتبړه او په رڼو ځيرو سترګو يې په غوره پام پيير ته کتل. هغه ستوماني چې مخکې دې احساسوله، نور چور له منځه تللې وه. هغې اوږده او ژوره سا وايستله ، داسې سا چې ګواکې ځان او ودو خبرو او د زړه خوالې ته چمتو کوي.

د ناتاشې د وتلو سره هممهاله او په هماغه شېبه کې ، د پيير ټوله ګښنې او تلوسه له ده نه ورک او پر ده يو ډول شور او خوښي را خواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. هغه خپله څوکۍ په خورا چټکۍ شهزادګۍ ماریا ته ډېره ورنږدې کړه.

هغه د هغې د پوښتنیزې کتنې په ځواب کې وویل:

-شهزادګۍ مرسته راسره وکړه، زه څه وکړم؟ ایا هیله لرلای شم؟

شهزادګۍ، زما ګرانې! زما خبرې واوره. زه په هرڅه پوهېږم، زه پوهېږم چې د هغې وړتیا نه لرم. زه پوهېږم چې اوس په دې اړه خبرې ناشونې دي، خو زه غواړم د هغې ورور و اوسم، نه، نه، زه نه غواړم. زه نه شم کولای...

هغه له خبرو پاتې شو. پر مخ او سترګو یې لاس تیر کړ، هغه چې هڅه یې کوله خبرې بې ارتباطه نه شي، دوام یې ورکړ:

-ښه! داده وګوره! زه په دې نه پوهېږم چې هغه له څه وخته راته ګرانه شوې ده، خو ماته په ټول ژوند کې یوازې هغه، یوازې هغه ګرانه ده، زه له هغې نه پرته د ژوند تصور هم نه شم کولای. اوس خو له هغې نه دکوژدې هیله هم نه شم کولای، خو ددې تصور کېدای شي چې هغه زما شي او زه دغه بخت له لاسه ورکړم، وحشتناکه ده، دا راته ووایه، ایا زه دا هیله لرلای شم؟

دا چې هغې ځواب ورنه کړ، لږ ځنډنې شو، د هغې لاس یې ونیو او وې ویل:

-مهربانې شهزادګۍ! دا راته ووایه زه څه کولای شم؟

شهزادګۍ ځواب ورکړ:

زه د هغه څه په اړه فکر کوم چې تاسې ماته وویل. زه غواړم تاسو ته ووایم، تاسو حق لرئ همدا اوس هغې ته د خپلې مینې ووایئ...

شهزادګۍ ماریا لږ ځنډنۍ شوه، هغې غوښتل چې ووایي، له هغې سره اوس د مینې په اړه خبرې ګرانې دي، خو ونه یې ویل، ځکه هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل چې دا دربیم ورځ ده چې ناتاشا ناڅاپه او چوربدله شوې ده.

ناتاشا به د پییر د مینې د خبرو له اوریدو، نه یوازې خپه شوې نه وای، بلکې هیله به یې دا وای چې پییر هغې ته د خپلې مینې ویلي وای.

خوبیا هم شهزادګۍ ماریا وویل:

- سره له دې هم، هغې ته باید دغه خبرې ونه شي.

-نو ! آه زه څه وکړم.

شهزادګۍ ماریاوویل:

- دا ماته پرېږده، زه پرې پوهېږم.

پییر د شهزادګۍ ماریا سترګو ته ځیر شو او ویل یې:

- زه پوهېږم چې هغې ته تاسو ګران یاستئ.

شهزادګۍ ماریا خپله خبره راسمه کړه، تاسو به ورته ګران شئ.

هغې لا دا خبره بشپړه کړې نه وه چې پییر ودانګل او په داسې حال کې چې پر څېرې یې ډار او تلوار راخواره شوي وو، د شهزادګۍ ماریا لاس یې را ونیو او وې ویل:

-تاسې ولې دا فکر کوئ ؟ تاسې فکر کوئ چې زه هم هیلمند واوسم ؟ تاسو فکر کوئ ؟

په داسې حال کې چې شهزادګۍ ماریا موسېده، وې ویل:

- هو، هو، فکر کوم. د هغې مور او پلار ته لیک ولیکه او نورې خبرې ماته پرېږده. زه به هر وخت چې امکان ولري، ورسره وغږېږم، زه هم دا هیله لرم چې دغه کار وشي. او زړه مې دا احساسوي او راته وایي چې دا به کېږي.

پییر، په داسې حال کې چې د شهزادګۍ ماریا لاسونه یې ښکلول، وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



--نه، نه، دا ناشونې دي ؟ زه څومره نېکمرغه يم. نه، نه دا ناشونې ده... های چې څنګه بختور يم. !نه، نه، رښتيا هم دا ناشونې ده.

هغې وويل: ښه به دا وي تاسې پترزبورګ ته لاړ شئ، او زه به ليک درته وليکم، پترزبورګ ته ؟ښه ده، لاړ به شم، لاړ به شم، خو سبا کولای شم ببرته تاسو ته راشم.

پيير بله ورځ د مخه ښه لپاره راغې، دناتاشې خوشالي او لېوالتيا ترنورو ورځو څه کمه برېښېده، خونن به چې کله پيير د هغې سترګو ته ور وکتل، داسې به يې احساسوله چې ډوبېږي، داسې چې دی نور نه شته او له نيکمرغۍ او بختورتيا نه پرته بل هېڅ څه پاتې نه دي. هلته دناتاشې له هرغلچک، خوځېدا او خبرې سره به يې، زړه ته ويل:

- دا رښتيا ده ؟نه، نه، دا ناشونې خبره ده. او د هغې دغو کړو دی د نيکمرغيو څپو ته وسپاره.

کله چې يې له هغې سره مخه ښه کوله، د هغه نازک، تاند اوډنګر لاس يې راونيو او بې ارادې هغه څوشېبې له هر وختنه زيات په لاس کې ټينګ کړ.

ـ ايا په رښتيا به دغه لاسونه، دغه بشره ، دغه سترګې او ښينځه ښکلاوې، دغه پردۍ خزانې ، دا به په رښتيا زما شي، تل تر تله زما او لکه زما د خپل ځان په شانبه زما وي، نه، نه، دا ناشونې دي !

هغې په لوړ آواز، هغه ته وويل:

- ګرافه په مخه موښه !او په کرار يې زياته کړه:

- په خورا بې صبرۍ به دې سترګې په لاره واوسم.

دغه ساده کلمې، غلچک او دبشرې حالت د دوو مياشتو لپاره د پيير ديادونو ناوې او د نيکمرغيو خيالانو خيالونه جوړول. هغه به له ځانسره ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په خورا بې صبرۍ به دې ستر ګې په لاره واوسم.

هو کې، هو کې، ښکه هغې وویل ؟ هو، په بې صبرۍ به دې ستر ګې په لاره واوسم. آخ چې څنګه نیکمرغه یم.

پېیرله ځانسره وویل:

-دا څه وشول ؟ چې څنګه بختوریمه، بختور !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

هغه څه چې اوس د پيير په ګوګل کې تيريدل، هغه څه سره يې هيڅ ورته والی نه درلود چې دده په ګوګل کې د ايلن د ريباری په وخت کې تيريدل د هغه وخت په شان يې ده ته له شرمه ډکه يادې شوې ويناوې له ځانسره تکرارولې، هغه ځانته ته وويل:

-آخ، ولې ؟ولې ؟مې دا نه و ويلي ؟ولې مې هغه وخت وويل:

- تاسو ماته ګران ياست.

اوس برعکس هغه ټول هغه څه چې ده ناتاشې او هغې ده ته ويلي و ، ده توري په توري له ځانسره په خيال کې تکراول. هغه، د هغې دبشرې ټولې اداګانې، خوځېداوې او موسکاوې وريادولې. هغه نه غوښتل هغه تکرار کړي. د هغه څه د ښه والي او بد والي په اړه چې ده کړي و ، هيڅ شک پاتې نه و. يوازې به کله ناکله يو وحشتناک شک د هغه پر زړه راخور شو او هغه دا چې ده به ويلې چې ايا دا ټول خو به په خوب کې نه وي ؟

ايا شهزادګۍ ماريا تيروتلې نه ده ؟ايا زه خو له اندازې زيات مغرور او ځانستايونکی شوی نه يم ؟زه په دې ډاډه يم، خو که څه پيښه وشي ؟که شهزادګۍ ماريا هغې ته وواييې، هغه موسکه شي او ځواب ورکړي:څه عجيبه ده ! هغه هرو مرو تيروتلې ده. ايا هغه په دې نه بوهيږي چې هغه يو سړی ، هغه يو ساده سړی دی او زه ؟او زه چور بل ډول ، خورا لوړه...

يوازې دغه شک و چې د پيير زړه يې زوراوه ، هغه هيڅ لارې چارې هم نه سنجولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته دغه رارسېدونکې نیکمرغي داسې نه مننونکې برېښېده چې که کومه پېښه شوې وای، ده به نو رپه ژوند کې بل کوم ارمان نه لرلای او هرڅه پای ته رسېدل.

پییر په خپل ځان کې، د هغه له خوښۍ نه ډک ناڅاپه لېونتوب زغم نه لیده چې پر ده راخور شوی و.

د هغه لپاره دژوند ټول مفهوم، نه یوازې دده لپاره بلکې د ټولې نړۍ لپاره، ده ته د هغې په مینه او له ده سره د هغې په ممکنه مینه کې برېښېده. کله به هغه ته داسې برېښېده چې ټول خلک لکه دده په شان بختور دي، خو هغوی هڅه کوي خپله دغه بختورتیا له ده نه پټه کړي او داسې وښیي چې هغوی په نورو چارو بوخت دي. هغه په هره کلمه او هره خوځېدا کې د خپلې نیکمرغۍ نښې لیدلې. هغه زیاتره وخت له ده سره مخامخ کېدونکي خلک، په ځانګړو حالاتو کې، په خپل معنی لرونکې او له رازه ډکې خواخوږۍ او په خپلو نیکمرغو کتو او موسکاوو حیرانول. خو کله به چې هغه په دې پوه چې کېدای شي خلک دده له نیکمرغۍ نه خبر نه وي، دزړه له کومې به یې پر هغو زړه خوږېده، او په یو ډول نه یو ډول یې هڅه کوله هغوی په دې پوه کړي، پرهغو شیانو چې دوی پر اخته دي، چور بې معنی، پوچ او دوې پاملرنې وړتیا نه لري.

کله به که هغه ته د کومې چارې د منلو وړاندیز کېده او یا به د هغه ترمخې د ټولنیزو دولتي چارو یا جګړې په اړه خبرې اترې کېدې او به یا یې ورته ویل چې د خلکو نیکمرغي ددغه یا هغه کار سرته رسولو پورې اړه لري. هغه به په یوې لنډې زړه راښکوونکې موسکا هغه ته غوږ و. داسې خبرې او ټوکې به یې وکړې چې له ده سره غږېدونکي خلک به یې حیران کړل، خو هم هغه خلک چې ده یې تصور کاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دژوند په ربښتني معنی یعنې دده په احساس پوه شوي او هم هغه بدمرغه خلک چې ګواکې ده تصور کاوه چې دده احساس نه درک کوي، ټول خلک په دغه زماني پړاو کې د هغه ځلېدونکي احساس په رڼا کې چې دده په ګوګل کې ځلېده، دده له هرډول هڅونه پرته، له ده سره په هر ځل مخامخ کېدو کې، له خورا غوره انساني او زړه راښکوونکو ښېګڼو نه پرته بل څه نه لیدل.

د خپلې خدای ببښلې ښځې د کاغذونو او اسنادو د کتو په لړ کې به د هغې یاد او تصور، په ده کې هېڅ ډول احساس نه اپاراوه. خو ده په دې افسوس کاوه چې، هغه پرته له دې نه چې له دغو نیکمرغیو نه چې دی یې اوس لري، څه ووینې او وڅکي، له دې دنیا نه سترګې پټې کړې.

سردار واسیلي چې دلوړې چارې او د هغه په ویاړ د ښبانونو د ترلاسه کولو له امله اوس خورا مغرور شوی و، دده تر پامه یو د زړه خوږی، مهربان او خورا بوډا بربښېده.

پېیر وروسته زیاتره وخت دغه د لېونی نیکمرغی وختونه رایادول، ټول قضاوتونه چې په دغه موده کې ده د خلکو او پېښو په اړه کړي وو، دتل لپاره دده په ذهن کې پاتې او لا تر اوسه یې باور پرې درلود.

هغه وروسته یوازې د پېښو او شیانو په اړه د خپل دغه وخت له عقایدو نه پېښمانه، نه شو بلکې برعکس هر وخت چې به یې په زړه کې د چا، یا د څه شي په اړه کوم شک پیدا شو، د خپل همدغه نیکمرغه لېونتوب وخت نظریاتو ته به یې مخه کړه او هغه به تل برحقه او ربښتیا را ووتې. هغه به له ځانسره ویل:

- کېدای شي هغه وخت به زه عجیب او د خندا وړ بربښېدم، خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت دا سې لېوني او باڅاري نه وم لکه چې بربښېده ، بلکې برعکس هغه شېبه تر بل هر وخته خورا ځيرک ، هوښيار او منظم وم. په هر هغه څه پوهېدم چې په ژوند کې د پوهېدو وړ و ، نو ځکه زه نيکمرغه وم.

د پيير لېونتوب او باڅاروالی په دې کې و چې هغه د پخوا په څېر اوس د خلکو د ګرانښت لپاره له هغو نه د ځانګړو دلايلو د درلودلو چې ده د خلکو ښېګڼې ګڼلې، هيله نه کوله. ځکه مينې د ده زړه ډک کړی و. ده له خلکو سره پرته له کوم لامله مينه کوله او له هغو سره به يې د مينې لپاره ځانګړې ځانګړتياوې پيدا کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

دتر پېير دتگه وروسته ، په هماغه مابنام ناتاشا له خوښۍ په ډکې ، خوملنډو سره مل موسکا شهزادګۍ ماريا ته وويل چې پېير په رښتيا ، رښتيا له دې لنډې کړېټ او دې تازه جوړ شويو څڼو سره داسې برېښي چې، همدا اوس له حمامه راوتلی وي.

له هماغې شېبې نه ، د ناتاشا په ګوګل کې يو پټ ، دې ته هم نا آشنا او نه ايلېدونکی څه راويښ شوی و. د هغې هرڅه: بشره ، تګ ، کاته او غلچک . آواز او هرڅه هرڅه ناڅاپه بدل شول. پرته له هغه چې ده خپله هيله لرلای، يو شور او ژورې لېوالتيا د هغه په ګوګل کې غوغا جوړه کړه. او غوښتل يې چې دا خپلو ارمانو ته ورسېږي. ناتاشا له هماغې لومړې شپې نه ګواکې ټول هغه څه هېر کړي چې په دې تير شوي وو. هغې تر اوسه پورې آن يو وار هم له خپل حاله شکايت ونه کړ. يوه خبره يې هم د خپل تير ژوند په اړه ونه ويله او نورې له دې ويره نه درلوده چې د خپل راتلونکي ژوند لپاره د خوښۍ نه ډکې تګلارې جوړې کړي. هغه د پېير په اړه لږه غږېدله، خو کله به چې شهزادګۍ ماريا د هغه يادونه وکړه، د هغې په سترګو کې به ويده شوې ځلا بيا راوځلېده او شونډې به يې په يوې عجيبې موسکا سره راغوټې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ناتاشې کې راغلي بدلون، په لومړي سر کې شهزادګۍ ماريا حيرانوله، خو کله چې د هغه په معنی پوه شوه، دغه بدلون د هغې رخه راپاروله. شهزادګۍ ماريا به چې کله يوازې وه، په دې اړه به يې فکر کاوه او ويل به يې:

- ايا زما ورور هغې ته داسې لږ ګران و چې کولای شي، داسې ژر يې هېر کړي؟

کله به چې له ناتاشې سره وه، نه به له هغې خوابدې کېده او نه به يې ملامتوله. په ناتاشې کې د ژوند راويښ شوی شور، داسې لمسوونکی او د هغې د الهام لپاره هم داسې ناڅاپي و چې شهزادګۍ ماريا، دناتاشې په مخ کې داسې انګېرله چې آن هغه په زړه کې هم د هغې د ملامتولو حق نه لري.

ناتاشا په داسې بشپړه او دزړه له کومې ددغه احساس څپو ته ځان سپارلی و چې دغم پای ته رسېدل او دخوښۍ اونيکمرغۍ رارسېدل يې نه پټول.

کله چې شهزادګۍ ماريا له پيير سره د شپنۍ خبرو اترو او زړه خوالې نه راستنه شوه، هغه يې د کوټې په درشل کې وليده.

ناتاشې تکرار کړه:

-هغه وويل، هغه وويل.

د هغې پر څېرې د غم او زاريو سره مل خوښي او خوشالي راخوره وه.

- ما غوښتل چې د دروازې تر شا غوږ ونيسم، خوزه پوهېدم چې ته به هرڅه راته وايې.

هرڅومره به چې شهزادګۍ ماريا ، دناتاشې کتل ځانته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدونکي او اغيزمن ګڼل.

په هماغه اندازه به د شهزادګۍ ماريا لپاره دناتاشې کتل نه پوهېدونکي او اغيزمن و، هر څومره چې د هغې هيجان او ګبنۍ د زړه خوږي واى. بيا د ناتاشاخبرې په پيل کې د شهزادګۍ ماريا لپاره له سپکاويه کې او زورونکې بربښېدې. هغې ته يې وروور او له ناتاشې سره د هغه مينه وريادېده.

شهزادګۍ ماريا په زړه کې وويل:

-نو، څه کېداى شي؟ هغه بله چاره نه لري.

په غمرلي او څه تريو غوندې تندى يې ټول هغه څه ناتاشې ته وويل چې پېبير دې ته ويلي و.

ناتاشې چې پترزبورګ ته د پېبير د تګ واوريدل، هکه حيرانه شوله.

داسې چې ګواکې سر يې نه پرې خلاصېږي، ناتاشې تکراه کړه:

-پتربورګ؟

خو همداسې د شهزادګۍ ماريا غمرلې بشرې ته ځځيره شوه، د هغې د دغه غم د لامل احساس او تصور، ناڅاپه آرامه کړه، په ژړا شوه او وې ويل:

- ماريا! رازده کړه، څه وکړم؟ ډارېږم کوم حماقت ونه کړم. هر هغه چې ته راته ووايي، هغه به کوم، ماته يې رازده کړه.

- تاته هغه ګران دى؟

ناتاشې په پسېدو پسېدو وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو !

شهزادګۍ ماريا له خوشالۍ د ناتاشې د همدې خوښۍ له امله ، هغه ښښلې وه او وې ويل:

-نو ژاړې ولې ؟ زه ستا په نيکمرغۍ نيکمرغه يم.

-دا خو داسې ژر نه کېږي. خو يو وخت نه يو وخت به دې ارمان ته ورسېږي. ته تصور کولای شې ، هغه نيکمرغي چې زه د هغه ښځه واوسم او ته له نيکولای سره واده وکړي.

- ناتاشې ! ما له تا نه هيله وکړه چې په دې اړه مه غږيږه ، موږ به د تا په اړه غږېږو.

هغوی خاموشه شولې.

ناتاشې ناڅاپه وويل:

- خو پترزبورګ د څه لپاره ؟

او په خپله يې ببرته ځانته ځواب ورکړ:

- نه، نه، دا بايد همداسې وي.. کنه ماريا ؟ دا بايد همداسې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایلیزه (وروستیزه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

له ۱۸۱۲ کاله ، اوه کاله تیر شول. د اروپا د سمندرګي تاریخي یاغي څپې په خپلو څنډو کې پرېوتې ، و د هغه څې آرامه شوې، خو هغه مرموزه قوتونه چې د تاریخ د غه یاغي څپې یعنې بشري پرګنې خوځوي (مرموزې ځکه نومول شوي چې د هغو د خوځون او لمسون قوانین موږ ته ناپېژندل شوي پاتې دي ). هماغه شان دوام لري.

سره له هغه چې د دغه تاریخي سمندر څپې ظاهراً ناخوځېدونکې برېښېده ، خو ولسي پرګنې په پرله پسې ، د وخت د خوځون په څېر هماغه شان په خوځون کې وې.

د وګړو بېلې بېلې ډلې جوړېدې، خوریدې او د دولتونو د جوړېدو او پرزیدو او د خلکو د بیا ځای پر ځای کېدو ، لاملونه رامنځ ته کېدل.

تاریخي سمندرګی د پخوا په شان نور له یوه ساحله بل ته نه خوځېده ، هغه په تل کې څپې وهلې. تاریخي څېرې له دغو څپو سره له یوې غاړې نه بلې ته وړل کېدې او داسې برېښېده چې د غه څپې اوس پر یو ځای راچورلېږي.

تاریخي مشرانو چې پخوا د پوځونو مشري کوله او په خپلو فرمانونو یې د جګړو د پیل، د پوځونو د قوماندې او دولسونو د خوځون استازیتوب کاوه، اوس په سیاسي غورځنګونو او دیپلوماتي روغو ، د تړونونو په منلو او د قوانینو په جوړلو د خلکو لارښوونه کوله.

تاریخ لیکونکي د تاریخي شخصیتونو دغه کړه د ارتجاع په نامه نوموي.

تاریخ لیکونکي چې د دغو تاریخي شخصیتونو د کړو په تفسیر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله هغوی ، د دغې ارتجاع لامل ګڼي او پر هغو قضاوت کوي ، د هغه وخت پر تېرولو پېژندل شویو څېرو ، له الکساندر نیولې بیا تر ناپلیون پورې او بیا تر مېرمن ستایلې، او تر هغه وروسته ، تر فیتیې، شیلینګه، فاخته او شاتوبریانه پورې تول او تول خورا سخت زړې قضاوت ته رابلل کېږي. او د دغې ارتجاع په وړاندې د دریدو او له هغې نه د ملاتړ له امله یا برائت اخلي او یا تورنېږي.

د دوی د لیکنې له مخې روسیه هم په دغه تاریخي پړاو کې له ارتجاع نه بې برخې پاتې نه شوه. د دوی په وینا د دغو پېښو تر ټولو ستر ګنهګار لومړی الکساندر و. هماغه الکساندر چې د دوی د قضاوت له مخې، په روسیه کې د لیبرالیزم ، ریفورم او د مشروطه غوښتنې سرچینه او د دغه هېواد ژغورونکی و.

د اوسنۍ روسیې په ادبیاتو کې، د ښوونځیو له زده کوونکو نیولې بیا تر تاریخ پوهانو او تاریخي لیکونکو پورې به داسې یو ځوک پیدا نه شي چې لومړی الکساندر د خپلې پادشاهۍ په وخت کې د هغه د ناوړه کړو وړو له امله ونه غندي.

هغه باید داسې کړي وای، هغسې یې کړي وای او داسې هسې، په دې برخه کې هغه ښه وکړل او هلته یې ساده‌ګي او حماقت، د خپلې پادشاهۍ په پیل او د۱۸۱۲ کال په اوږدو کې یې کړو وړه او پریکړې ښې، خو په پولند کې د اساسي قانون جوړول، د سپېڅلې تړون منل او ارکیچییوف ته د واک سپارل د ګولیځین ملاتړ، د شیشکوف او فوتیوس ستاینه او پالنه او هغو د عرفاني اند ښښنو ملاتړ ، هغه ناوړې چارې وې چې د هغه د نورو ناوړه چارو لکه د جګړې لومړیو کرښو ته له تګه نیولې بیا د سیمونوفسکي د غونډ تر ړنګولو پورې ، تول تول غندي او ملامت یې ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو ملامتيو او تورونو د ليکلو لپاره لسګونې پاڼې په کار دي چې مورخين يې د هغه معنويت پر بنسټ چې ګواکې بشريت دوی ته وربښلي او دلومړي الکساندر لخوا ترسره شوي دي.

دغه تورونه او ملامتې څه دي ؟

دا هماغه چارې دي چې لومړي الکساندر تر سره کړي او مورخين هغه، د هغه وياړمنې چارې ګڼي.

دپادشاهۍ مشروط کول د ناپليون په وړاندې دريدل، په ۱۸۱۲ او په ۱۸۱۳ کلونو کې جګړو، د هغه کړه وړه، او نور نور (د هغه د ژوند بښوونکو او روزنيزو ځانګړتياو او د هغه بيولوژيکي جوړښت، هوکې ! چې د هغه شخصيت يې جوړ کړی دی) پوره اړه نه لري.

هوکې ! د هغه، د هغو ناوړو کړو له امله چې مورخين هغه ناوړه ګڼي، لکه (د سپېڅلې تړون منل، ، دلهستان اساسي قانون او د شلمو کلونو ارتجاع) ټول يوه سرچينه نه لري ؟ ددغو ملامتيو او تورونو سرچينه چېرې او په څه کې ده ؟ ددغو تورنو او نيوکو بنسټ دادی چې د لومړي الکساندر په څېر يو تاريخي شخصيت چې په بشري نړۍ کې تر ټولو نه د زيات واک خاوند او دځلا او پرتم په غوره دريځ ولاړ و، تر سختو دوکمارۍ او ناوړه نيوکو لاندې راغلی، تهمتونه پرې شوي، غوره مالۍ او د هغه پر وړاندې بې ساری درناوی چې تل له واک سره مل دی. دده پر وړاندې ترسره شوي، هغه څوک و چې د ژوند په ټولو شېبو کې يې د اروپا د ټولو ملامتۍ او مسوولیت دروند پېټی پر اوږو اخېستی و.

هغه (الکساندر) نه دچا دخيال تخليق او نه کومه افسانه، بلکې هغه د بل هر سړي په شان د خپلو عادتونو، خيالونو، پريشانيو سره، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلاوو ، رحم او لېوالتیا خاوند سړی و. د هغه مخالفیو هغه د انساني حرمت په نه درلودلو او بې رحمۍ تورناوه. پنځوس کاله پخوا د بشري توان په اړه هغه نظریات نه لرل، چې نن یې هغه اسناد لري، چې د زلمتیوب ټول ژوند په هغه لګیا دي. یعنې کتابونه یې لوستي، درس یې ورکړی او بیا یې دغه کتابونه او درسونه په یوه کتابچګوټې کې دځان لپاره لیکلي دي.

خو که دا سې تصور وکړو که الکساندر پنځوس کاله پخوا هغه دبشري ټولنې په اړه ، تیروتلي ، دا تصور هم باید وکړو د هغو تاریخ لیکونکو حکم چې اوس یې دلومړي الکساندر په اړه کوي ، تر یو څو مودې وروسته ، هماغه شان تیروتنه وبلل شي لکه دبشري خیر په اړه چې اوس د الکساندر کړه تیروتنه بلل کېږي.

که دتاریخ بهېر ته په ځیر وګورو ، دغه نظر ځکه طبیعي بریښي چې د هرکال او یا دبل هر نوي لیکوال په پیدا کېدو سره د بشر د خیر په اړه، غوره څرګندونې بدلېږي. دا په دې معنی ، هر څه چې نن دبشر خیر ګڼل کېږي، لس کاله وروسته به هغه کېدای شي شر وګڼل شي.

ددې ترڅنګ پر یو مهال او په یو وخت کې دخیر او شر نظریات کېدای شي، خورا یو له بل سره توپیر ولري. ځینې مورخین د پولند لپاره دا اساسي قانون جوړول او له سپېڅلي تړونه دالکساندر ملاتړ د هغه ښېګڼې او چوپړ بولي او ځینې بیا هغه د سزار وړ تیروتنه ګڼي.

د الکساندر او ناپلیون دکارونو په اړه موږ نه شو کولای ووایو چې له پلوه ګټور او له کوم پلوه هغه ناګټور او یا نه شو کولای چې ووایو دڅه لپاره هغه ګټور وو او په کوم دلیل تاواني دي. که دچا ، د کوم چا کړه وړه نه خوښېږي او یا یې یوازې په دې نه خوښېږي چې د هغه د پوهې کچه د خیر د پوهېدنې له کچې سره اړخ نه لګوي، ښایي په ۱۸۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال کې ترټولو غوره کار په مسکو کې زما د پلارنۍ مېنې روغ پاتې کېدل و، یا د پولند آزادي یا د روسي پوځ ویاړ یا د پترزبورګ یا بل هرپوهنتون آبادي او غوړېدل، یا د پولند آزادي، یا د روسي پرتم، یا په اروپا کې د قوتونو انډول، یا په اروپا کې د علومو د بهیر رنسانس او پر مختګ، خو زه باید اعتراف وکړم چې د هر تاریخي شخصیت کړه وړه، له دغو ټولو موخو نه پرته، نورې موخې چې زما ذهن د هغو له پېژندنې عاجز دی، هم لري.

که دا سې تصور وکړو که دغه د پوهې په نامه، نومول شوي څه، وکولای شي دغه ټولې بېلابېلې او مخالفې ډلې سره پخلا او د تاریخي پېښو او شخصیتونو کړو وړو لپاره یو ځانګړې او نه بدلېدونکې تله غوره کړي.

که دا ومنو، که الکساندر واک لرلای او دغه چارې یې ټولې. په بل ډول سرته رسولې وای.

که دا ومنو که هغه، د هغو کسانو په لارښوونه چې دی یې تورناوه، هغه کسان چې تصور کوي د انسانیت له وروستي ارمانه باخبره دي، خپله کړنلاره د ملیت، ازادۍ او یووالي او پرمختګ په نامه (چې د دوی لپاره تر دې غوره څه نه شته) دی به یې بیا هم ملامت ګاڼه. که دا ومنو چې دغه شان کړنلاره، کېدونکې او الکساندر هغه منلې وای، نو هغو کسانو ته به څه پاتې شوي وای چې د هغه وخت د دولت د کړو وړو په وړاندې درېدلي وو، هغه کړه وړه چې د ننني تاریخ لیکونکو په اند ښه او ګټور و؟ دغه کړه وړه به چور نه و، ژوند به نه و او هېڅ به نه و.

که دا ومنو چې عقل د ژوند لارښوونه وکړي، نو بیا د ژوند امکان له مینځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

که دمورخينو په څېر دا ومنو چې ستر انسانان بشري ټولنه د سترو ارمانونو: د ساري په توګه د روسيې يا فرانسې ستروالي، په اروپا کې دقوا ووانډول، يا د انقلابي اند ېښنو خپرونه ، يا ټوليز پرمختګ او يا بل هر ارمان پلو بدرګه کوي. په دغه شان يو حالت کې نه شو کولای د تاريخي پېښنو بهېر د تصادف او نبوغ له مفاهيمو پرته وسپړلای شو.

که د اوسنۍ پېړۍ د اروپايي جګړو د پيل موخه د روسيې ستروالی و ، دغه ارمان د ټولو مخکنيو جګړو له پېښندو او په هغه کې د نورو ځمکو دلاندې کولو پرته تر سره کېدای شوه. که دغه ارمان دفرانسې ستروالي و ، دغه ارمان بې انقلابه او دامپراتورۍ له جوړولو ، دتوپکو او ټوپونو له کارونې پرته ترسره کېدای شو ، که موخه د کوم ارمان خپرول و ، هغه به د پوځ له کارونې پرته د کتابونو په مرسته او ژر تر سره شوی وای.

ارمانونو ته د رسېدو لپاره ، دانسانانو له وژلو او د هغو دشتمنيو دتالان او سوځولو پرته په خورا سادګۍ نورې اغيزمنې لارې موندای شو.

دا ولې داسې او نه په دې ډول پېښ شول ؟دا ځکه چې همداسې پېښ شول. تاريخ وايي:

- تصادف شرايط رامنځ ته کوي او نبوغ له هغه ګټه اخلي.

خو تصادف څه شي دی ؟او نبوغ څه ته وايي ؟د تصادف او نبوغ کلمات ، دهېڅ هغه شي معنی نه لري چې په رښتيا شته دي ، نو له دې کبله د هغه ځانګړې پېژندنه هم نه شته. دغه کلمات يوازې د پېښنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاکلي کچې څرګندونه کوي. زه په دې نه پوهېږم چې دا یا هغه پېښه ولې پېښېږي؟ فکر کوم چې په هغې پوهېدا ی هم نه شم، نو ځکه وایم چې دا تصادفي ده. یو قوت او واک وینم چې دیوې پېښې او چارې لامل دی چې د انسان له توانه لوړ دی. په دې نه پوهېږم چې دا څنګه ترسره شو ، نو هغه ته وایم:

-نبوغ.

دیوې ډلې پسو لپاره، هغه پسه چې هر ماښام شپون ، په یوه جلا ځای کې، جلا کوي، هغه ته ځانګړې خواړه او واښه ورکوي، او تر نورو دوه برابره څوربېږي، هرو مرو باید نابغه وبرېښېږي.

نور پسونه د دغه پسه دغه حالت چې هره شپه نه په ټولیز آخور کې، بلکې په ځانګړي اخور کې واښه او دانې ورکول کېږي، ګوري، وایي چې دا به هماغه پسه وي چې تر نورو نه، دغوړې او نازکې غوښې د لرلو له امله به حلالېږي. (وژل کېږي). نور به نو د نورو پسونو نبوغ او د نا څاپي پېښو تر منځ ځانګړو اړیکو ته پام کېږي.

خو دا به بس وي که دغه پسونه له خپلو دغو خیالونو لاس پر سر شي چې دوی ته ټولې ورپېښې پېښې ، د دوی د هغو ارمانونو د لاس ته راوړلو لپاره دي چې د دوی په پسیزه تصور کې ځایېږي.

د دوی لپاره دا بس دي، که هغوی ومني چې پر دوی ټولې راغلې پېښې د هغو ارمانونو لپاره دي چې د دوی له تصوره بهر دي، نو د دوی به په هماغه شېبه سر خلاص شي چې په ښه پالل شوي پسه راغلې پېښې تصادفي نه دي او دوی به بیا د تصادف او نبوغ په اړه فکر نه کوي.

که موږ یوازې له نېږدې اهدافو نه لاس په سر شو او دا ومنو چې د موخو پای موږ ته څرګند نه دی، نو هغه وخت به موږ ته د تاریخ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو د کړو منطق او د هغو د اجنداو تناقض څرګند شي. او د هغو پېښو د پېښېدو لاملونه به موږ ته په ډاګه شي چې انساني امکاناتو او د هغو له کړو سره اړیکي نه لري. او د غه وخت به پوه شو چې د تصادف او نبوغ کلماتو ته اړتیا نه لرو.

یوازې دا خبره به زموږ لپاره بس وي که وو ایو چې د اروپا د خلکو د نا آرامۍ او اله ګولې لاملونه موږ ته څرګند نه دي او هغه یوازیني څه چې موږ ته څرګند دي، هغه رښتیني پېښې، وژنې او تالانونه وو چې د لومړي ځل لپاره له فرانسې نه پیل او بیا یې په ایتالیا ، افریقا ، پروس، اتریش، هسپانیا او روسیې کې دوام پیدا کړ. او له لودیزه ختیځ ته او بیا له ختیځه ، لودیز ته، د پرګنو ستر خوځون د دغو خونړیو پېښو موخه ده.

موږ ته، نه یوازې نه ښایي چې د ناپلیون او الکساندر په شخصیتونو کې کوم نبوغ ولټوو بلکې هغوی هم باید د دغو نورو ساده خلکو په شان خلک وګڼو. نور به موږ نه یوازې دې ته اړ وزو چې د هغو کمکیو پېښو له برکته چې د غه کسان یې په مخورو څېرو بدل کړي دي، تصادفي وګڼو بلکې دا به را ته څرګنده شي چې همدا کمکۍ پېښې باید هرو مرو پېښې شوې وای.

همدا چې موږ د وروستۍ موخې نه لاس پر سر شو، دا به په ډاګه راته څرګنده شي، هماغه شان چې د ګل او د هغه د دانو تر منځ د شنیلیو د طبعیت له مخې، بل هېڅ شي د ګل او دانې په کچه ، هغې ګیاه ته چې د غه ګل ترې راز ېږي ، نږدې نه دي، په همدې کچه په هېڅ ډول دا امکان نه لري چې بل دوه تنه د هغو د ټولو ځانګړتیاوو او توان سره تصور کړای شو، لکه د غه دوه تنه: الکساندر او ناپلیون چې د خپلې دغې ونډې لپاره په دغه وخت کې غوره شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

د هغـو پښـو اساسي ماهيت چې د اوسنۍ پېړۍ پـه پيـل کـې پـه اروپا کې پيل شوي وې، داروپا د بېلابېلو هېوادونو د خلکو هغـه ډلـه ايزه خوځون و چې له لوديزه، ختيځ ته او بيا له ختيځه لوديز ته پيل شو. ددغه لومړني خوځون لمسون له لوديزه ختيځ ته يرغل و. ددې لپاره چې دلوديز خلک وکولای شي، ختـيځ تـه ، تـر مسـکو پـورې هغـه شـان چې ښايي خوځون وکړي، دې کړو ته يې اړتيا ليدله:

۱- پـه داسې پوځي ډلو کې سره يـو شـي چې دبهرنيـو ختيځـو پـوځي ډلو دټکر زغم ولرلای شي.

۲- له خپلو ټولو عادتونو او دود دستوره لاس پر سر شي.

۳- د خپل دغه پوځي يرغـل پـه مـوده کـې داسې يـو مشـر ولـري چې هغه دځان او د دوی لپـاره ددغـه لښـکر دوکـې، شـوکې، تـالان او وژنـې برحق وګڼي.

۴-د فرانسې د انقلاب له پيله، هغه د واک پخـوانۍ ډلـه چې واک يـې خـورا کمـزوری شـوی و، لـه منځـه ځـي. پخـواني عـادتونـه او دود دسـتور ورکېـږي او کـرار کـرار نـوي ډلـه پـه نـوې کچـه راپيـدا او نـوې عادتونه او دودونه رامـنځ تـه کېـږي او ددې لپـاره چې د نـوي رامـنځ تـه کېدونکي واک مشري په غاړه واخلي، بايد نوی مشر پيدا شي.

يو بې عقيدې سړی چې نه يې کوم دود مانـه، نـه دسـتور، نـه يـې نـوم درلود ، نه پېژنـدګلوي او آن فرانسـوی هـم نـه و او داسې ښـکاريده چې دکوم عجيب تصادف له مخې ، د هغو ډلو پـه منځ کې چې هغـه وخت يـې فرانسه له الو ګولو او بغـاوتونو سـره مخـامخ کـړې وه، ځانتـه لاره پيـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او پرته له هغه چې د هغو ډلو له کومې يوې سره ملګرتيا وکړي ، ځان لوړ او غوره دريځ ته رسوي. د ملګرو ناپوهي، د سيالانو ناتواني او سپکاوی رښتيا ډوله دروغ او د دغه سړي بې ساري ځانستاينې او بې ځايه غرور دی د پوځ تر ټولو سترې مشرۍ ته ورساوه.

د ايتاليا د سرتيرو غوره جوړښت او زړورتيا ، له مخالفينو سره له نښتو نه سرغړونه، بې ځايه سربښندنه او ځانستاينه او پر ځان هسې ډاډ ، له هر څه نه زيات پوځي وياړ ورپه برخه کړ. دغه راز بې شماره تش په نوم تصادفونو ، هرچېرې او هرځای ډېره پېيرزوينه پرې وکړه.

د فرانسوي چاروا کو خوا خوږي د هغه په ګټه تمامېږي. د خپلې لارې د بدلون لپاره يې هڅې کوم ځای ته و نه رسېدې او د روسيې د امپراتورۍ ، په خپل پوځ کې د هغه وړانديزونه و نه منل ! په ۱۷۹۴ کال کې چې ناپليون يو ناپېژندل شوی برېدګی و ، د روسيې په پوځ کې يې د خدمت لپوالتيا او هيله څرګنده کړې وه )په ترکي پوځ کې هم ده ته کار پيدا نه شو. د ايتاليا د جګړو په موده کې هم څو واره له مرګ او وژلو سره مخامخ کېږي او هر وار په ناڅاپي توګه ژغورل کېږي.

روسي پوځ، هماغه پوځ و چې کولای شي ، بيا دده وياړ راوپرځوي. د ډولا ډول ديپلوماتيکي نزاکتونو له امله تر هغو چې هغه په اروپا کې دی، دغهد پوځ له هغه سره ، له جګړې نه ډډه کوي .

له ايتاليا نه د راستنېدو په وخت کې د پاريس حکومت، داسې راپرزونکی وي چې هرڅوک پرې واکمن شي، هرو مرو له مرګ سره مخامخ کېږي. له دغه ګواښمن دريځ نه د ژغورنې لار په خپل سر د هغه لپاره پرانستل کېږي. هغه بې معنی او بې دليله حالت ، يوازيني ، هغه حالت ته ورته دی چې يوازې په افريقا کې تجربې کېږي. بيا هماغه خبره چې تصادف نومېږي، له ده سره مرسته کوي. نه ايليد ونکې مالتا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لانـدې کـول يـې تـر هغـه پـورې ناشـونې بريښـېده، لـه يـوې ډزې پرتـه تسلېمېږي.

تر ټولو بې نظمه نښته، پوره بري ته رسېږي. د دښـمن سـمندري پـوځ چې د چا يوې ښېډې ته لاره نه ورکوله، د هغه ټول پوځ ته لاره پرېږدي. پـه افريقـاکې پـر ولـس او بې وسلو خلکو بې شمېره ستم، نـاروا وې او پوځي جنايتونه تر سره کېږي. د دغـو جنايـاتو کړونکي، پـه تيـره بيـا د هغو مشران ځان تـه ډاډ ورکـوي چې د دوی کـړه خـورا ښـه او ويـاړمن او د مقدوني اسکندر کړو تـه ورتـه او خـورا ښـه دي.

هغه خيال چې د غه سړي د ځان لپاره جوړ کړی و، يعنې هغه لويـوالی او وياړ چې ظلم يې، ظلم نه ګڼه، په خيانت يـې ويـاړ کـاوه او خپـل کـړه يې آسماني الهام باله، دا ټول هغـه څـه و چې دده او دده د ملګرو لپـاره د الهام سرچينه وو، په افريقا کې جوړېدل. هر هغه چاره بـه چې ده کولـه، پـه بري به پای تـه رسـېده. لـه طاعونـه روغ راووت. بې رحمـه وژل، هغـه ګناه نه ګڼله. له افريقانه، په بې باکۍ، بې احتياطۍ او بې علتـه راوتـل او هلته بد مرغۍ ته د خپلو ملګرو پرېښـودل، دده لپـاره غـوره خـدمت ګڼـل کېـږي. او هـم د دښـمن سـمندري پـوځ لـه سـمندره د هغـه د تيريـدو مخنـوي نـه کـوي. د خپلـو جنـايتونو لـه دريځـه هغـه سرسـام شـوی، پـه مستۍ کې ډوب، د خپلې د غه ناوړه ونډې د سرته رسـولو لپـاره بې لـه کومې موخې پاريس ته رسېږي، د هغه جمهوري حکومت دريځ چې يـو کال پخوا يې کولی شو، دغه سړی ووژني، اوس چور راپرزيـدلی دی او يـو ازاد سـړی کـولی شـي د ګونـدي پـرو او جنبـو پـه مرسـتـه واک تـه ورسېږي.

هغه هيڅ کومه کړنلاره نه لري. که څه هم له هرڅه ډارېږي، خو بيـا هـم هر ګوندي (حزبي) پسې دی او غواړي مرسته ورسره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یوازینی څوک دی چې په ایتالیا او مصر کې یې ځانته پر لوړوالی او ویاړ ورپه برخه کولو سره ، په خپلو لپونو خیالونو ، په خیانت او سپین سترګۍ ، په خپلو ربښتین ډوله دروغو ، هر هغه چې دغه ناوړتیا او بل هرڅه چې کوي، برحقه ونبیي.

هغه، هغه دریځ ته په کار دی چې ده ته سترګه په لاره دی، نوځکه د هغه له خوښی پرته، سره له هغه چې نه کوم تکل لري، نه کومه تګلاره، سره له هغه چې خورا تیروتنې کوي، هغه یوې لویې ډوکې ته ورکشول کېږي. هغه دوکه چې د واک دلاندې کولو موخه لري او دا دوکه دبري په لور درومي.

هغه په زوره د حکومت غونډې ته ورپورې وهل کېږي( د -۱۷۹۵ ۱۷۹۹ کالو تر منځ یوه ۵ کسیزه ډله واک تر لاسه کوي ) هغه له دې ډارېږي ، دتېښتې هڅه کوي، ځان مړ اچوي، په دې پلمه چې ګواکې ببسده شوی، لوېږي، اپلتې غږوي، هغه اپلتې چې دتباهی ښنې ښیي، خو دفرانسې د واک مشري، هغه کسان چې تر دې مخکې مغرور او سرکشه وو ، داسې وانګېرله چې ددوې وخت پای ته رسېدلی دی ، تر ده لا زیات ګېښی اخېستي دي. هغه څه چې باید دواک د ژغورنې او د هغه دنابودی لپاره وواییي، هغه نه وایي.

تصادف، په میلیونو تصادفات او ټولو خلکو ګواکې خوښه سره کړې ده چې دغه واک مني.

بې شمېره تصادفات وو چې د هغه وخت دفرانسې حکومت د هغه واک ته غاړه کېږدي. دغه تصادف (دروسیې ټولواک ) لومړی پاول (۱۸۰۱-۱۷۹۴ ) هم دې ته اړوي چې هغه په رسمیت وپېژني. هغه تصادف چې دده په وړاندې دوکې جوړوي، دغه دوکې نه یوازې دی نه راپرزوي بلکې د هغه د واک ټینګېدو ته ګټه رسوي. تصادف دی چې شهزاده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته سپاري او دی هغه وژني او همدا چاره تر ټولو زيات خلک دې ته اړوی چې دا ومني، چې هغه (ناپليون) تر ټولو واکمن دی او برحقه يې وګڼي.

دا تصادفي کار دی چې دی تکل کوي خپل پوځ د انګلستان پلو قوماندہ کړي، خو که دغه کارشوی وای ، دده د تالا والا کېدو به سبب شوی واي، خو هېڅکله دا کار نه کوي. هغه تصادفاً خپل پوځ د ماک او اتريش پلو قوماندہ کوي. هغوی هم بې له نښتې ده ته تسليمېږي. تصادف او نبوغ د استرليځ په جګړه کې ده ته بری ور په برخه کوي. او تصادف دی، چې نه يوازې فرانسويان بلکې ټوله اروپا له انګلستانه پرته چې په دې پېښو کې ګډون نه کوي، ټوله اروپا ، د هغه د ټولو جناياتو او له هغه نه کرکې سره سره ، دده هغه واک چې ده خپله ځانته ورکړي، په رسميت پېژني. د هغه د خوښې ستروالي او وياړ چې خلکو ته ولې غوره او معقول برېښي ، د هغه د شان وړ ګڼي.

دلوديز قوتونه، داسې چې ګواکې هغوی مخکې له مخکې دې چارو ته دآزماينو لپاره چمتو الی نيسي، په څو پړاونو کې د **۱۸۰۵**، ۱۸۰۶-۱۸۰۷ او **۱۸۰۹** کلونو په اوږدو کې د ختيځ پلو ورودانګي، درومي او پرله پسې خپل واک ټينګوي او خپل شمېر زياتوي.

پر ۱۸۱۱ کال په فرانسې کې جوړ شوی پوځ د مرکزي اروپا د سرتيرو په ملتيا يو ستر قوت رامنځ ته کوي. ددغو خلکو په زياتېدو سره ، د هغه چا لېوالتيا او تنده زياتېږي چې ددغه پوځ مشری کوي.

دلسو کالو په اوږدو کې چې ددغه خوځون لپاره چمتوالی روان و ، دغه سړی د اروپا له ټولو اکمنانو سره اړيکې ټينګ کړل. دنړۍ واکمنان چې ځان ورته بيواکه برېښي، د ناپليون ددغه بې معنی ، وياړمن او ستر ارمان په وړاندې، بل ارمان نه لري. هغه ته په نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو او خدمت کولو کې يو تر بله وړاندې د رومي. د پروس پاچا ، د هغه د خواخوږۍ د لاس ته راوړلو لپاره خپله ښځه هغه ته ورلېږي. د اتريش ټولواک دا لويه مهرباني ګڼي چې د غه سړي دده لور منلې ده. پاپ د اروپا مذهبي مشراو د ملتونو د سپېڅلتيا ساتونکی له مذهبه هغه زينې جوړوی چې د غه سړی، واک ته پرې ور لوړ شي. پر ناپليون زياتره راټول شوي خلک تر خپله ناپليونه زيات، دد ې هڅه کوي، هغه ددې لپاره چمتو او قانع کړي چې د هغه څه مسووليت ومني چې کېدونکي دي او يا به وشي..

المانيان د هغه دبری د لمانځنې لپاره ، تر هغو جشنونو نه چې ايينا او اويريشيت نومېږي ، بل غوره جشن نه شي جوړولای. نه يوازې دی خپله ستر ګڼل کېږي بلکې د هغه نيکونه، د هغه ورونه، د هغه برکتې او د هغه زومان خورا ستر دي. هرڅه ددې لپاره ترسره کېږي چې وروستي عقلي خنډونه ددې لپاره لرې شي چې هغه دد غه وحشتناک مسووليت د منلو لپاره چمتو شي. هر کله چې دی چمتو شي، پوځ هم چمتو دی.

ختيځ ته په تلوار ييل شوی يرغل خپل موخې، مسکو ته رسېږي. پر مسکو ولکه ټينګېږي. روسي پوځ تر بل هروخته، د اوسترليڅ له جګړې نيولې تر واګرام هغې پورې تالا والا شوی دی، خو ناڅاپه د تصادفاتو او نبوغ پرځای چې تر اوسه پورې يې د يو لړ بريو په مرسته دغه سړی ، له پخوا نه د ټاکل شوې موخې خواته رساوه، بې شمېره ناوړه او زيان رسوونکي تصادفونه راپيدا کېږي، دغه تصادفونه:

د برادينو په جګړه کې د والګي له پيدا ايښت نه نيولې، تر سوځونکو سړو او يخ وهلو لارو او بيا مسکو ته د اور اچولو او له دغه اوره د پورته شويو سختو لمبو پورې ، دغه راز د نبوغ پرځای د حماقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سپکاوی چې ساري يې نه درلود، راپيدا کېدل.

يرغلګر پوځ، تېښتې ته مخه کوي، کله بېرته ستنېدل او بيا تېښته، ټول تصادفونه، اوس يو هم دده په ګټه نه بلکې دده په تاوان دي.

خوځون سرچپه کېږي، له ختيځه بېرته ستنېدل يعنې له ختيځه لوديز ته بېرته تګ په بې ساري ته توګه، داسې څه ته ورته دی چې له لوديزه ختيځ ته شوی و. له لوديزه، ختيځ تر ټوليز يرغله مخکې هم، چې په ۱۸۰۲، ۱۸۰۵ او ۱۸۰۷کلونو کې و، لوی واړه يرغلونه شوي وو. هماغه دپخوا په شان لويې وړې ډلې سره يوځای کېږي، خورا لويې ډلې جوړوي، هماغه دپخوا په شان دمرکزي اروپا خلک له دغه بهېر سره يو ځای کېږي، هماغه شان موخې ته درسېدونکې لارې په نيمايي کې دغه خوځون سستېږي او شک ورته پيدا کېږي او هماغه شان ځومره چې هغوی، خپلې موخې ته نېږدې کېږي، په هماغه کچه د هغوی خوځون چټکېږي.

دغه خوځون پاريس ته چې ددې موخه ده رسېږي، د ناپليون واک او د هغه پوځ تالا والا شوی دی، خپله ناپليونه نه هم يو بې معنی څه جوړ شوی دی. د هغه ټول کړه وړه له ورايه دافسوس او خواشينۍ وړ دي، خو بيا هم نه بيانېدونکی تصادفات رامنځ ته کېږي.

د ناپليون په وړاندې سره يو ځای شوې ټلواله ټول خپله بدمرغي له ده ګڼي، له ده کرکه کوي، همدا چې هغه بېواکه کېږي، سياسي واک يې له منځه ځي، نو هماغه و چې په خيانت او جنايت تورنېږي. نو هرو مرو دوی ټولو ته داسې برېښېده لکه لس کاله پخوا چې برېښېده او يا يو کال وروسته چې بايد وبرېښي. يعنی يو تالانګر او باغي. خو د کوم تصادف له مخې کوم څه راپېښېږي او دغه حالت هېڅوک نه ويني، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ونډه لا پای ته نه ده رسېدلې. هغه سړی چې لس کله پخوا او یا کال وروسته هغه باید تېول تالانګر او باغي وګڼي ، هغې لرې وچې ته چې له فرانسې د دوو ورځو تګ په واټن کې پرته ده، شړل کېږي، هغه ته شتمني ورکول کېږي، سا تونکي ورته ګمارل کېږي او دا هم نه څرګندېږي چې ولې هغه ته په میلیونو پیسې ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

د خلکو د غورځنګونو څپې په خپلو ساحلونو کې په ارمېدو پیل کوي. د دغه سیلاب سترې څپې آرامېږي او د دې آرام سمندر پر سر په ارامو جوړو ښویو کړیو ، دیپلوماتان په دې هیله چې د دې توفانونو آراموول د دوی کار دی، خپل آرام غورځنګ پېلوي، خو آرام شوی سمندر بیا ناڅاپه په څپو کېږي. دیپلوماتانو ته داسې وبرېښېده چې د دوی نانډرۍ د دغو نویو قوتونو د شخړې لامل شوي دي.

هغوی د خپلو واکمنو ښتو ته سترګې په لاره دي ، کړکیچ دوی ته نه آوارید ونکی برېښي. خو هغه څه چې دوی یې راپاڅېدل احساسوي ، له هغه ځایه نه راپاڅي چې دوی ورته سترګې په لاره دي. دا څپه هماغه څپه ده او دا د پاڅېدو ځای هم پاریس دی. وروستۍ څپه له لودیزه راستنه شوې او شاته تلونکې ده. دیپلوماتان ، باید هغه ستونزې چې نا آوریدونکې ګڼل کېږي، آوارې او د دې زمانې پوځې غورځنګ پای ته ورسوي.

هغه سړی چې فرانسه یې راپرزولې ده، په یوازې ځان له دوکې او سرتیرو پرته ، بیا فرانسې ته راستنېږي. هر ساتونکی کولای شي هغه ووینې، خو د کوم عجیب تصادف له مخې هېڅ څوک د هغه د نیولو هڅه نه کوي بلکې ټول په ولولو سره ، دغه سړی ته، چې پرون یې لعنتې ګاڼه او میاشت وروسته به یې بیا هم لعنتي ګڼې، هرکلی او درناوی وایي.

وروستي کړه ترسره شوي دي. وروستې لوبه لوبول شوې ده. لوبغاړي ته سپارښتنه شوې ده ، دلوبو جامې وباسي، د سترګو رانجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک او سره شوې بشره پريمنځي. هغه ته نوره اړتيا نه شته. دغه سړی په خپله جزيره کې په يوازې ځان ، ځو کاله ، خپله غمجنه کمېډي ډرامه لوبوي، هغه پرته له ځانه بله ننداره نه لري. ځان تير باسي، خپله ځان ته دوکې جوړوي، خپل هغه وخت چې نور د هغه برحق والي ته اړتيا نه شته، برحقه ګڼي. او ټولې نړۍ ته دا ښيي، هغه څه وچې ، خلکو دده واک ګاڼه او هغه ناڅرګند قوت چې دده لارښوونه يې کوله څه او کوم و.

دننداري په پای ته رسېدو سره ، دلوبغاړو مشر ، د لوبغاړي جامې وويستې او موږ ته يې اصلي څېره راوښوده:

- وګورئ ! تاسو په څه باور درلود ؟دادی، دادی د هغه اصلي څېره وينئ!

چې دا هغه څه نه و چې دتاسې لارښوونه يې کوله او هغه زه وم چې تاسو مې خوځون ته لمسولئ.

له دغه بدلونه وروسته چې د خلکو په سترګو يې تياري راخورې کړې وې، هغوی تر ډېرې پورې دا نه شو منلي چې څه پېښ شوي دي.

خو دلومړي الکساندر ژوند ، د هغه چا ژوند چې دمخالف خوځون له ختيځه ، لوديز ته د خوځون مشري يې کوله، د ناپليون تر هغه غوره او منطقي و.

هغه سړی چې نور، د هغه تر مخې په هېڅ کښل کېدل او له ختيځه يې لوديز ته ديرغل مشري کوله، بايد څه ځانګړتياوې لرلای ؟

بايد دعدالت احساس وکړي، په اروپايي چارو کې ونډه ولري او په کراره او چپه خوله خپلو ګټو ته پاملرنه وکړي.

له اخلاقي پلوه پر خپلو سيالانو ، ملګرو او دوخت پر پادشاهانو او واکمنانو لوړتيا ولري. بايد مهربانه، خواخوږي او په زړه پورې وي او په خپله يې ناپليون خپه او سپک کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی الکساندر دغه ټولې ځانګړتیاوې لرلې. دغه شرایط ټول په هغه کې نغښتي و. دغه او یا په بله وینا د هغه د تیر ژوند بې شمېره تصادفونه، د هغه روزنې، د هغه دلیبرالو تکلونو پیل ، پرهغه را ټول شوي ځناور او د استرلیځ ، تیلزیت او ایرفورت په جګړو کې د هغه تجربو ، دې ټولو او ټولو هغه چمتو کړی و.

دغه سړي په لویه جګړه کې، ځکه کوم ځانګړی مسوولیت نه درلود چې هغه ته اړتیا نه لیدله کېده، خو کله چې په اروپا کې د ټولیزې جګړې وړتیا احساس شوه، هغه په وړ وخت کې او په وړ ځای کې وه. هغه اروپایي ملتونه سره یو او دموخې پلو یې د هغو لاربښوونه او مشري وکړه. موخه

ارمان تر سره شوی و، لومړی الکساندر، تر وروستۍ جګړې وروسته، پر ۱۸۱۰ کال ، دانساني واک تر ټولو نه پر لوړه څوکه ولاړ و. هغه دغه واک څنګه کاراوه ؟

لومړی الکساندر د اروپا د روغې مشرو هغه سړی چې لا له ځوانۍ یې یوازې د خپلو خلکو د نیکمرغۍ تکل درلود ، په خپل هېواد کې د لومړنیو لیبرالي غورځنګونو نوښتګر، اوس ښکاري ترتولو نه د زیات واک خاوند او د هغه واک له برکته کولای شي تر خپل لاس لاندې خلکو نیکمرغۍ لپاره ګټور واوسي.

په دې وخت کې و ، چې ناپلیون په تبعید کې خپل ماشوم وزمه او دوکمارې کرنلارې جوړوي او په دې خیالونو کې ډوب دی ، که واک یې درلودلای، څنګه به هغه بشر نیکمرغه کړای وای.

لومړي الکساندر چې خپله ونډه سرته رسولې او دخدای حضور حاضر ګڼي، ناڅاپه ددغه واک دنابودوالي او بیواکۍ احساس احساسوي، له هغه نه مخ اړوي، هغه ، هغه خوار اولس ته چې دی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خوار ګڼي سپاري او يوازې وايي:

- نه زموږ لپاره ! نه زموږ لپاره ، ښه به دا وي چې د ځان لپاره ! زه ستا سو په شان يو انسان يم. په کراره مې پرېږدئ چې د انسان په څېر ژوند وکړم. د خپل روح او خدای په اړه فکر وکړم.

****

هغه شان چې لمر او هر اتم، هر يو داسې چورلک دی چې په ځان پورې او تر خپل ځانه راچورلي، خو سره له هغه هم، يوازې اتم، له خپل ټول بشپړوالي سره د کليت داسې يوه ذره ده چې د هغه پرتم د انساني ذهن له تصوره وتلې خبره ده. د غه راز هرڅوک ځانته خپلې موخې لري، دی په داسې حال چې د غو موخو ته د رسېدو په هڅو کې دی، هغه سره هممهاله د هغو ارمانونو په خدمت کې هم دی چې دی له هغو نه خبر نه دی.

د عسلو غومبسه چې پر يوې غوټۍ ناسته وه، يو ماشوم يې وچيچه. ماشوم له غومبسې ډارېږي او وايي:

-د غومبسې موخه داده چې خلک وچيچي. د شاعر لپاره هغه غومبسې چې له ګلونو ، شهد راباسي، شاعرانه او ګرانه برېښي. هغه په دې باور دی چې د شهدو د غومبسو د ژوند موخه داده چې له ګلونو شهد او عطر راټول کړي. د هغه چا لپاره چې د غومبسو لپاره يې کندو اېښې دی، د غومبسو د ژوند موخه داده چې په ګلانو وګرځي، شهد راټول کړي او هغه کندو ته راوړي، نوځکه وايي چې د دغې غومبسې د ژوند ارمان د انګبنيو راټولول دي.

د هغه بل چا لپاره چې غومبسو ته يې کندو اېښې دی ، د غومبسو د ژوند موخه داده چې په ګلانو وګرځي، د ګلانو دانې او زړې زبېښي، هغه د نويو زوکړو غومبسو او د هغو د ملکې او په دې توګه د نسل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزیاتوالي لپاره راوړي. باغوان ویني چې غومبسې دالوتو پر وخت پر یو بل ګل کیني، دیوګل نه بل ته او له بل نه بل ته زړي لېږدوي او دنویو ګلانو د زرغونېدو سبب کېږي او دغومبسو دغه کړه د هغو موخه ګڼي. یو بل تن چې دشنیلیو په وده کې غومبسې خورا اغیزمنې ګڼي او په دې توګه د هغه پایله داده چې دغومبسو دژوند وروستۍ موخه، له هغو موخو نه چې انساني تفکر یې تصور کولای شي. په پښه او پوره توګه بیانېدای نه شي. هر څومره چې انساني عقل ددغو په سپړنه کې بریالی وي، په هماغه کچه د وروستیو موخو ناسپړنه ، هغه ته لاپسې څرګندېږي.

انسان یوازې دڅارنې له لارې کولای شي، د غومبسو او نورو موجوداتو د ژوند اړیکي پیدا کړي او د تاریخي شخصیتونو او ملتونو موخې هم همدغه برخلیک لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

په ۱۸۱۳کې له ناتاشې سره، دبېزاوخوف (پېير) واده ، د رستوف د لرغونې کورنۍ لپاره له خوښۍ نه ډکه وروستۍ پېښه وه. په همدې کال ګراف ايليااندرويچ هم مړ شواو لکه چې تل همداسې وي، د کورنۍ د مشر له مرګ سره هممهاله دغه پخوانۍ کورنۍ هم سره ونړېده.

د وروستي کال ټلې پېښې :د مسکو سوځېدل، له مسکوه د مسکويان تښتېدل، د سردار اندري مرګ او ناتاشا مايوسي، د پتيا مرګ او سردار زړه مات والي، هغه ټول ګوزارونه و چې يو پر بل پر سردار راغلل. هغه داسې انګېرله او تصور يې کاوه چې نه پوهېږي ، هغه څه درک کړي چې پر ده راغلي دي. هغه له عصبيت خپل زوړ سر يې ښکته اچولی او ګواکې دې ته سترګه په لاره و چې نوي ګوزارونه پر هغه ددې لپاره راشي، چې دده هر څه پای ته ورسوي.

هغه به کله وېرې پسې اخېستی او پريشانه به و او کله به غير طبيعي توګه خورا ټکړه او لېواله برېښېده.

دناتاشا واده په خپلو خوږو ننداړو ، هغه(بوډا ) ، دیو څو مودې لپاره پر ځان اخته کړې وه. هغه دغرمنيو او ماښامنيو سپارښتنې کولې او غوښتل يې چې خوشاله وبرېښي. خو د هغه خوښۍ او مستۍ پر چا اغيز نه کاوه بلکې په هغو کسانو کې يې، چې دی يې پېژانده او ورته ګران و ، خوا خوږي راپاروله.

تر هغه وروسته پېير خپله ښځه له ځانسره بوتله، هغه لاپسې آرام، خاموشه او په ځان کې ډوب شو. کله ناکله به خپتيان پرې راخورشو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې امله څو ورځې وروسته ناروغ او په بستر کې ولوید. د داکترانو له ډاډ سره سره ، هغه د ناروغۍ په لومړیو ورځو کې په دې پوه شو چې بیا به له دغه بستره راپورته نه شي. ګرافینې، آن جامې هم بدلې نه کړې او دوې اونۍ یې دده د بستر څنګ ته پر اوږدې څوکۍ په ناسته تېرې کړې. هر وار چې ګرافینې هغې ته دارو ورکول، هغه به تنګ په ژړا شو او د هغې لاسونه به یې مچول. په وروستۍ ورځ یې له خپلې ښځې او زویه د هغه په غیاب کې څکه بښنه وغوښته چې ده خپلې شتمنۍ هسې برباد کړې دي. ده تر ټوله خپله لویه ګناه همدا بلله. هغه له خدایه بښنه وغوښته ، پر هغه دعاوې وویل شوې او په کراره مړ شو.

بله ورځ د هغه خپلو خپلوانو او آشنایانو له هغه سره د وروستۍ دیدن لپاره راغلل او د رستوفیانو کرایه شوي کور به له خلکو ډکېده او تشیده. ټول دغه آشنایان چې په وار وار یې دده مېلمستیا خوړلې وه او په وار وار یې دده د نڅا په بنډارونو کې ګډون کړی و ، په وار وار یې پر هغه ملنډې وهلې وې او پرې خندلي یې و ، اوس ټولو په یوه احساس او دځان ملامتۍ په بڼه ګواکې د چا په وړاندې د اعتراف په ډول ویل:

-هوکې څوک به څه وایي او که نه به وایي، هغه خورا ښه سړی و ، نور نو داسې خلک پیدا کولای نه شو ، هېڅ څوک بې عیبه نه دي.

ګراف پوره هغه وخت ناڅاپه مړ شو چې د هغه مالي چارې داسې دیوالي شوې وې چې چایې آن تصور هم نه شو کولای چې اخر به څه کېږي.

نیکولای د روسي پوځ په ملتیا په پاریس کې و چې. پلار د مرګ خبر ورورسېد. هغه سمدلاسه استعفا وکړه او پرته له هغه چې ځواب ته یې سترګه په لاره شي ، مسکو ته راغي. د ګراف تر مرګه یوه میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د هغه حسابونه راښکاره شول. د هغه واړه پورونه چې څوک ترې خبر نه و، دومره زيات وو چې ټول يې حيران کړل. د هغه د پورونو اندازه د هغه د شتنمۍ دوه برابره وو.

د نيکولای خپلوانو او آشنايانو هغه ته مشوره ورکړه چې. پلار له ميراثه تير شي، خو نيکولای ،. پلار له ميراثه لاس په سر کېدل ،. پلار ياد ته چې دده لپاره يې سپېڅلتيا لرله، سپکاوی ګاڼه، نو له دې کبله يې ددغو مشورو له اوريدلو ډډه کوله. پلار ميراث يې ومانه او د هغه د پورونو پريکول يې پيل کړل.

پوروړو چې د هغه په ژوند کې ، د هغه د خواخوږۍ او مهربانۍ ياد او منت باري يې ساتل او دصبر په چوپتيا کې يې د پور اخيستو تلوسه نه لرله، ناڅاپه د خپلو پورونو سملاسي غوښتنه کوله. هغوی نه يوازې پورونه غوښتل بلکې په دې کې سيالي جوړې شوې چې څوک تر نور ژر خپل پورونه تر لاسه کولای شي. او هغه کسان لکه ميتکا او ځينې نور چې پورونه يې نه وو او هسې حوالې يې درلودې او دځينو سوغاتونو وعدې ورکړل شوې وې، اوس تر ټولو نه دمخه د پيسو غوښتنه کوله.

نيکولای نه چا په کراره پرېښود او نه يې وخت ورکاوه او هماغه کسان چې ګواکې په سپين ږيري يې زړه سوځي، ويل يې چې هغه د دوی تاوانونو لامل و (که تاوان شوی وی) په خورا بې رحمۍ پر دغه ځوان وارث تيری کاوه چې په خپلې زړورتيا يې د پورونو پرې کول منلي وو او په څرګنده يې د هغو په وړاندې کومه ګناه نه لرله.

ددغو پورونو د پرې کولو لپاره د نيکولای ټولې هلې ځلې بې ګټې پاتې شوې. هغه خپله شتمنۍ په نيمه بيه ليلام کړې ، خو بيا هم. پلار نيم پورونه هماغسې پاتې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای هغه دېرش زره روبله چې د هغه او ښي پېیر بېزا و خوف، هغه ته. پلار د پورونو لپاره ورکړي وو ، و منل او له دې ډاره چې کېدای شي . پلار پوروړي ، دی په زندان کې واچوي ، ببرته دولتي ماموریت ته لاړ.

که هغه بیا پوځ ته تللی وای ، په پوځ کې د لومړی خالی بست د پیدا کېدو سره به دی هلته ټاکلی شوی وای، خو هغه له دې کبله نه شو کولای پوځ ته لاړ شي، چې مور ، هغه د ژوند د وروستي ارمان په توګه یوازې پرېښودي ، بلکې باید د هغې ساته او پالنه یې وکړي.

سره له هغه چې د مور یې دا نه خوښیدل چې هغه له هغو کسانو سره پاتې شي چې دده له ژوند سره آشنا وو ، سره له هغه چې ، هغه په دولتي څانګو کې له میشتیا سره کرکه لرله، هغه د مسکو په یوه ملکي اداره کې ماموریت و مانه او خپله ګرانه پوځي دریشي یې وویسته.

نیکولای له خپلې مور او سونیا سره د مسکو د سویځوی ورژاک د واټ په یوه واړه اپارتمان کې دیره شول.

له دې سره همهاله ناتاشا او پېیر په پترزبورګ کې ژوند کاوه او د نیکولای د ژوند د ستونزو تصور یې هم نه شو کولای. هغه له دې کبله چې له خپل او ښي یې پیسې پور کړې وې، نو هڅه یې کوله خپله بې وزلي پټه وساتي. د نیکولای ژوند له دې کبله خوار و چې هغه باید ، د میاشتې په خپل یو زره دري سوه روبله معاش نه یوازې ځان ، مور او سونیا ساتلي وای بلکې باید داسې ګوزاره یې کړې وای چې مور یې خواري احساس کړې نه وای. ګرافینه چې له ماشتومبه، په بډای او پرتمین ژوند روږدې شوې وه ، نه شو کولای په دې پوه شي چې د غه راز له خواری ډک او بد ژوند هم شونی دی. هغې به هره شیبه دې یا هغه ځای ته د تګ او یا د دې او یا هغه آشنا د لیدو د ورتګ لپاره د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې ګاډۍ غوښتنه کوله چې نه وه.

هغې ځانته د ښو او ګرانو خوړو ، زوی ته د زړو شرابو ، ناتاشا او سونيا ته د نويو پيدا شويو ډاليو د اخېستو سپارشتنې کولې او په دې نه پوهېده چې د دې ټولو پوره کول، د هغه د زوی لپاره څومره ګرانه خبره ده.

سونيا د کور په چارو اخته وه او د ګرافينې پالنه يې کوله. هغې ته به يې کتابونه لوستل ، د هغې نازونه او له ځانسره د هغې پټه رخه به يې زغمله او له نيکولای سره به يې له مورنه د هغو ستونزو او خوارۍ په پټولو کې مرسته کوله چې دوی پرې اخته وو.

نيکولای د هغه چوپړ له امله چې سونيا دده د مور لپاره کاوه، ځان د هغې په وړاندې په نه ادا کېدونکي توګه منت باره باله ، د هغې صبر او زغم ته حيران و او هڅه به يې کوله، له هغې نه ځان لرې وساتي.

هغه په ګوګل او خيالو کې، سونيا له دې امله ملامتوله چې هغه له هېڅ پلوه، د هغې په کړو او وړو کې ، کومه داسې نيمګړتيا نه شوه پيدا کوله چې هغه پرې ملامته کړي. په هغې کې ټول هغه څه نغښتل شوي وو چې خلک د هغه له امله ستايل کېږي، خو هغه څه نه و چې دی د هغې ګرانښت ته ولمسوي. هغه داسې انګېرله څومره چې دی، د هغې زيات قدر او پالنه کوي، په هماغه کچه له هغې سره دده مينه کمېږي. نيکولای په هغه ټکي ولاړ و چې سونيا په يوه ليک کې هغه له خپلې مينې آزاد کړی و او اوس هغه له دې سره خپل اړيکي داسې ساتل چې ګواکې د دوی ترمنځ چې هرڅه و ، هغه ډېر پخوا هېر شوي او بيا نه تکراريدونکي دي.

د نيکولای ژوند ورځ تر ورځې خرابيده ، له خپله معاشه زېرمه کول هسې تش خيالي خبره وه ، هغه نه يوازې څه زېرمه کولای نه شوه بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځېنو پورونو د ورکولو لپاره يې يو نيم نوی پور هم کاوه. هغه له دې حالت نه د وتلو هېڅ لاره نه لرله. له بدا يې پېغلې سره واده لکه هغه شان چې دی تولو دې ته هڅاوه، ده ته ډېر کرکجن برېښېده. هغه پرته له دې چې يا يې دغه واده ته غاړه ايښې وای او يا يې د مور مرګ منلی وای، بله چاره نه لرله. هغه نه کوم چا او يا نه کوم شي ته هيله لرلای شوه او نه يې د خپل دغه حال له غمرلي او زورونکي زغمه خوند اخېست. هغه نه يوازې د پخوانيو اندېوالانو له سپکاوي نه ډکو خواخوږيو له اورېدو او ليدو نه چې دی يې زوراوه ډډه کوله بلکې له هر ډول چکرونو او بنډارونو نه يې ځان لرې ساته او آن په کورکې يې، پرته له دې چې له مور سره په قطعو کې فالونه وګوري، بل هېڅ شي نه کول. هغه به په خپله کوټه کې ښکته پورته ګرځېده او پرله پسې به يې يو په بل پسې پيپ څښاوه. هغه ګواکې هڅه کوله په ځان کې هغه غم وساتي چې ده په هغه کې له دغه حالت نه د وتلو زغم ليد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

د ژمي په پيل کې چې شهزادګۍ ماريا مسکو ته راغله او دښار له آوازو نه هغه د رستوفيانو د کورنۍ له حاله خبره او دا يې واوريدل چې:

-زوی خپل ژوند له موره ځار کړی دی.

شهزادګۍ ماريل له ځانسره وويل:

-ما هم له هغه بل انتظار نه درلود.

خو سره له هغه ، هغې ديوې خوښۍ احساس وکړ، له هغو سره خپله مينه ورياده شوه او دايې خپله دنده وګڼله چې بايد د هغو ديدن ته ورشي. هغې ته د ورونژ په ښار کې خپل کړه وړه ورياد شول، له کوم څه نه وويريده ، خو سره له دې هم هغې ځان قانع کړ او مسکو ته رارسېدو نه څو اونۍ وروسته ، د رستوفيانو ديدن ته ورغله.

نيکولای لومړی څوک و چې هغه يې وليده، ځکه چې د ګرافينې کوټې د تګ يوازينۍ لاره ، دده د کوټې له لارې تيريده. د نيکولای بشره د هغې په ليدو ددې پرځای لکه هغه شان چې دې يې هيله لرله دخوشالۍ حالت پيدا کړي ، داسې سړه او مغروره بڼه پيدا کړه چې شهزادګۍ پخوا هېڅکله هسې نه وه ليدلې.

نيکولای له هغې سره تر ستړي مشې وروسته د هغې د روغتيا پوښتنه وکړه او هغه يې د خپلې مور کوټې ته بدرګه کړه. يو پنځه دقيقې هلته کېناست او بيا له هغه ځايه ووت.

کله چې شهزادګۍ د ګرافينې له کوټې راووته، نيکولای بيا له هغې سره مخامخ شو او بيا يې په تريو تندي او نا مهربانه غلچک تر دالانه بدرګه کړه. نيکولای دده د مور په هکله د هغې پوښتنو ته هېڅ ځواب ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړ او یوازې دومره یې وویل:

-زما پر مور یې ستا څه ؟ په کرار مې پرېږدئ.

تر هغه وروسته چې د شهزادګۍ ګاډی د دوی له کوره وخوځېده ، پرته له هغه چې د خپل آواز د ټیټېدو هڅه وکړي ، په لوړ آواز یې سونیا ته وویل:

-دا څه دلته ښکته پورته کېږئ ؟ دا څه غواړئ ؟ ددې ښځو او د هغو لېوالتیا زغم نه لرم ؟

سونیا چې متې مټې کولای شول خپله خوشالي پټه کړه، وویل:

--آخ ! نیکولای جانه ! ته څنګه کولای شې، داسې ووایې ؟ نیکولای جانه ! هغه داسې مهربانه او مور جانې ته هم ډېره ګرانه ده.

نیکولای هېڅ ځواب ورنه کړ او غوښتل یې وښیي په دې اړه هېڅ ونه غږېږي، خو د هغه مور به د شهزادګۍ تر دغې کتنې وروسته د ورځې څو واري د هغې په اړه له ده سره خبرې کولې.

مشرې ګرافینې، شهزادګۍ ستایله او هیله یې لرله چې زوی یې د هغې کورته ورشي او لېوالتیا یې ښودله چې هغه زیاته وګوري، خو سره له دې هم کله چې به یې د هغې په اړه خبرې کولې ، طبیعت به یې خټه کېده. کله به یې چې مور د شهزادګۍ خبرې پیل کړې، نیکولای هڅه کوله چپ پاتې شي ، خو د زوی دغه کار د هغه مور ډېر زوروله.

هغې به ویل:

- هغه خورا ښه او دلوړو اخلاقو نجلۍ ده، ته باید هغې ته ورشې، په هر حال ته باید له یو چا سره وګورې، شا او خواته لاړ شې ، تر څو به له مور سره ناست یې، زه فکر کوم زړه به دې تنګ وي.

- هو کې ادکې ! نه غواړم، اصلاً د هغې دلیدو هیله هم نه لرم.

- پخوا خو دې غوښتل چې هغه ووینې او اوس بیا وایې چې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیدو هیله نه لري. ګرانه که ربښتیا راباندې وایي، زما خو ستا په کړو وړو سر نه خلاصېږي. کله وایي چې خفه شوی یې او کله بیا وایې چې د چا دلیدو هیله نه لري.

- نه مورجانې، داسې نه ده، ما کله ویلي چې زه خفه یم.

- دا څه وایئ ؟ تا خپله وویل چې د هغې دلیدو هیله نه لرې. هغه خورا ښه نجلۍ ده او تل ستا خوښېده او اوس په ډول ډول پلمو له مانه هرڅه پټوي.

- نه مورجانې ! هېڅوک له تانه څه شي نه پټوي.

- زه خو له تا نه کومه ناوړه هیله نه لرم، زما هیله له تانه دا ده چې د هغې دیدن ته ورشه، ځکه نزاکت او ژوند همداسې غواړي.. ما له تانه همدا غوښتل چې ته له موره هرڅه پټوې، نور به ستا له ژوند سره هېڅ کار نه لرم.

-ښه، ښه چې تاسو ډېر ټینګار کوئ، ورځم، ورځم.

- زما یې څه ؟ زه خو یې ستا لپاره وایم.

نیکولای ژوره سا وویسته او په داسې حال کې چې بربېت یې ژول، قطعې یې وویشلې، هڅه یې کوله ، د خپلې مور پام بل پلو واړوي.

بله ورځ، دریمه ورځ، څلورمه ورځ، هر څه همداسې تېریدل. له شهزادګۍ ماریا د رستوفیانو له کورنۍ سره تر کتنې او د نیکولای له ناڅاپي او ساړه هرکلي نه وروسته، له ځانسره دا وویل چې هغه برحقه وه چې ویل یې:

-نه غواړې چې لومړی دا د رستوفیانو کره ورشي ؟

هغه خپل غرور ، خپلې مرستې ته راوغوښت او له ځانسره یې وویل

:

-ما د بل څه انتظار هم نه درلود ، زما هغوی سره څه دي ؟ ما یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل ، د هغه بوډۍ مور چې تل له ما سره ډېره خواخوږي ښيي، ووينم. زه د هغه د مهربانۍ منت باره يم.

خو هغه دې خبرو نه قانع کوله، هر وار به چې هغې له رستوفيانو سره خپله وروستۍ کتنه ورپادوله، په زړه کې يې يو ډول د پېښمانۍ احساس راوښبېده. که څه هم هغې په ټينګه پريکړه کړې وه چې نور به هېڅکله د رستوفيانو کورته نه ورځي او هر څه پر دې تير شوي، هغه به هېروي، خو هغې بيا هم په زړه کې د نا آرامۍ احساس کاوه او غوښتل يې په دې پوه شي، چې څه شي دي، چې دا څه زوروي. بيا يې خپله اعتراف کاوه چې د دې ټولو زوريدو سرچينه له نيکولای سره د دې اړيکي دي.

دی داسې انګېري چې د نيکولای د ساړه او مودبانه کړو وړ تر شا کوم څه پټ دی (هغې په دې باور درلود )په دغه څه بايد دا پوه شوې وای. دې داسې احساس کړې وه، تر هغه پورې چې دغه څه دې ته څرګند شي، دا به آرامه نه شي.

دژمي نيمايي وه ، شهزادګۍ له خپل وراره سره د زده کړو په کوټه کې ناسته او له هغه سره په زده کړه لګيا وه په دې وخت کې چوپړ خبر راوړ چې رستوف راغلی دی. شهزادګۍ ماريا په غوڅه او برندې ښه ، په داسې ډول چې راز يې څرګند او دا هم ګڼې وانه اخلي، له پېغلې بوری بن نه هيله يې وکړه چې له رستوف سره مېلمستون ته لاړ شي.

نيکولای ته دلومړي غلچک نه شهزادګۍ پوه شوه چې هغه دنزاکت له مخې ددرناوي لپاره راغلي او په زړه کې يې پريکړه وکړه چې دا هم له هغه سره هماغه شان په درناوي خبرې اترې او مرکه وکړي لکه هغه يې چې له دې سره کوي.

هغوی دمشرې ګرافينې د روغتيا او د ګډو آشنايانو په اړه وغږيدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



، د جګړې د وروستيو خبرو يادونه يې وکړه او تر هغو لسو دقيقو چې مېلمه يې تر ناستې وروسته کولای شي، پاڅي او لاړ شي. نيکولای پاڅېد چې مخه ښه وکړي.

شهزادګۍ ماريا د پېغلې بوري بن په مرسته له مېلمه سره مرکه، هغه شان چې دې يې تکل کړی و ، ښه روانه کړې وه، خو په وروستيو شېبو کې ، هغه وخت چې نيکولای پاڅېد او د مخه ښې تکل يې وکړ، دا په داسې ستومانۍ ، د داسې شيانو په اړه غږېده چې دې پورې يې هېڅ اړه نه لرله، هغې د برخليک له بدو پېښو چې په دې يې ژوند تريخ کړی و ، خبرې کولې او خپلې ځلېدونکې حيرانې سترګې يې پر يو ځای داسې خښې کړې وې چې د نيکولای پاڅېدو ته يې هم پام نه شو.

نيکولای هغې ته کتل او داسې ښوده چې د هغې پريشانۍ ته يې پام شوی نه دی. له پېغلې بوري بن سره څه خبرې وکړې او بيا يې شهزادګۍ ته وکتل. شهزادګۍ هماغه شان په کراره او ناخوځېدونکې ناسته او پرتانده بشره يې د غم ښنې خپرې وې. د هغه ناڅاپه پر هغې زړه خوږ شو او داسې تته ورته وبرېښېده چې کېدای شي ، دی د هغې پريشانۍ لامل وي چې د هغې پر څېرې خوره ده. هغې غوښتل له هغې سره مرسته وکړي، کومه خوږه خبره ورته وکړي، خو هر څه يې چې کول، نه يې شو کولای داسې څه ورياد کړي چې هغې ته يې ووايي.

هغه وويل:

- د خدای په امان شهزادګۍ !

هغه له خيالو راووته ، په قهر غوندې شوه او سوړ ژور اسويلی يې وويست.

داسې لکه له خوبه چې راويښه شوې وي، وې ويل:

-اخ ! ببښنه غواړم تاسې داسې ژر ځې ګرافه ! ښه ! په مخه مو ښه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرافینې لپاره سرو برېدي ؟

پېغلې بورى ين وويل:

- لړ تم شئ ، زه يې اوس راوړم. او له کوټې ووته.

دوا ړه چپ پاتې شول او کله نا کله به يې يو بل ته وکتل.

تر ډېر ځنډه وروسته نيکولاى، په يو غمرلې موسکا وويل:

- هو کې شهزادګۍ ! په باګو چاروا کې ، زما او ستا ترکتنې وروسته څو مره وخت او څه پېښې چې تيرې نه شوې، خو بيا هم داسې برېښي لکه پرون چې وي. مورږ ځان بد مرغه ګڼو ، خو زه چې هرڅه وکړم چې هغه وختونو راستانه کړم، خو هغه وختونه، نه راګرځېدونکي دي.

نيکولاى چې دا خبرې کولې، شهزادګۍ په ډېرې تلوسې د هغه سترګو ته کتل، هغې ګواکې هڅه کوله د هغه د خبرو په هغه راز ځان پوه او کېداى شي، په هغو کې د ځان په اړه د هغه احساس پيدا کړي.

هغې وويل:

- هو کې، هو کې، ګرافه ! خو تاسې بايد ددې غم ونه لرئ او په خپلو تير وختونو او عمر پسې خفه نه شي. زه چې اوس ستاسې ژوند ته ګورم، تاسو به هغه تل په خوږو خاطرو راياد کړي، ځکه هغه شان چې تاسو نن په سر ښندنه او . . .

نيکولاى ناڅاپه د هغې خبرې پريکړې او زيانه يې کړه:

- نه، نه، زه ستاسې دا ستاينې منلې نه شم بلکې برعکس زه پرله پسې ځان ګرم بولم. په هرحال زموږ دا خبرې نه په زړه پورې دي او نه د خوښۍ وړ. او بيا يې سترګو ملالـه او غمجنـه بڼه پيدا کړه، خو شهزادګۍ په دغو سترګو او هغو ته په کتو بيا هماغه سړى وموند چې دې يې پېژاند او مينه يې ورسره لرله او اوس يوازې له ده سره غږېدله.

هغې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه فکر کوم تاسې به ماته دا اجازه راکړئ چې زه تاسو ته ووایم چې ما او تاسو دومره سره نېږدې شوي يو چې انداز نه لري، زه داسې تصور کوم چې تاسې به زما دغه خواخوږي بې ځايه ونه ګڼي، خو زه تيروتلی ومه. ناڅاپه يې آواز وربږدید

ځان يې برحقه ګاڼه.

او وې ويل:

-زه نه پوهېږم ولې، خو پخوا چور بل ډول وې...

نيکولای په کراره وويل:

- ولې ؟ دا ولې په زړګونو لاملونه لري، ولې (هغه د ولې کلمه په ځانګړي ډول او فشار ادا کوله) اوبيا يې وويل:

- شهزادګۍ ستاسو له خواخوږۍ نه مننه، خو کله کله ډېره سخته ده.

د شهزادګۍ ماريا په ګوګل کې يو ناست آواز وويل:

- ښه، دا له دې کبله ، ښه، داله دې کبله.

نه، نه يوازې د هغه خوښ، مهربان او خوږ غلچک ، چې پر زړې يې منګولې خښولې، نه يوازې د هغه ښکلا چې زه يې پر ځای مينه کړم بلکې ما په هغه کې د مهربانۍ ، ټينګار او سرښندنې د روح احکل کړی و. هو کې هغه اوس بې وزلی او زه بډايه يم، هو کې يوازې له دې امله. هوکې ! يوازې له دې امله. هوکې،. که دا ټول داسې نه وای.

د هغه پخوانۍ مهرباني يې وریاده کړه او د هغه اوسنۍ مهربانه غمرلې څېره يې ته يې کتل. او ناڅاپه يې له ځانسره هغه د نا خواخوږۍ او سړو کړو وړ لامل پيدا کړ.

بې ارادې د هغه خواته وروړاندې شوه او ناڅاپه يې داسې چې تا به ويل چې چغې وهي، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې ؟آخر ولې ګرافه ؟ ماته ووايه ولې ؟ تاسې بايد راته ووايئ ؟

نيکولای چپ پاتې شو ، بيا يې دوام ورکړ:

- زه ستاسو په "ولې "نه پوهېږم، خو پر ما هغه ډېره ګرانه تمامېږي. زه... زه په دې اعتراف کوم چې دا به ماته ډېره ګرانه وي که تاسو ما له خپلې دوستۍ نه بې برخې کړئ. دا زما لپاره ډېره زورونکې ده.

د هغې په سترګو کې اوښکو او په آواز کې يې غم څپې وهلې:

- زما په ژوند کې نيکمرغي دومره لږ وه چې دهرې خوښۍ له لاسه ورکول راته ګرانه تمامېږي. مابه وبښئ، دخدای په امان.

هغه ناڅاپه په ژړا شوه او له کوټې ووته.

نيکولای هڅه کوله، هغه ودروي او چغه يې کړل:

-شهزادګۍ ودرېږئ ! دخدای لپاره ودرېږئ !

هغې سترګې را واړولې. يو شېبه يې په چپه ديو بل سترګو ته سره وکتل او هغه ناشونې، لرې څه ناڅاپه رانېږدې شول. هغه وشول او ترسره شول.

.............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

د۱۸۱۴ کال په مني کې نیکولای له شهزادګۍ ماریا سره واده وکړ او له خپلې ښځې، مور او سونیا سره په لیسه ګورې ته لاړل او همالته په کلي کې میشت شول.

د درې کالو په اوږدو کې پرته له هغه چې د ښځې له جایدادونو نه څه وپلوري او خپل پاتې پورونه پرې کړي، بل څه یې ونه کړل. د تره دلور تر مرګه وروسته، هغه ته څه میراث ورسېد او د خپل اوښي پېیر پورونه یې هم ورکړل.

درې کاله نور هم تیر شول. تر ۱۸۲۰ کاله پورې یې خپل مالي ژوند داسې راجوړ کړ چې د لیسه ګورې ځنګ ته یې یو څه نور واړه جایدادونه هم واخیستل او د اترادنیا په سیمه کې یې. پلار د جایدادونو د بېرته اخیستو په اړه چې دده یوازینۍ هیله وه، د هغه له خاوند سره خبرې پیل کړې.

هغه چې به پیل کې له ډېرې اړتیا او نه کرکیله پیل کړې وه، ډېر ژر د کرکیلې داسې لېواله شو چې پرځمکه کار د هغه د مینې ځانګړی او یوازینی کار شو.

نیکولای ساده بزګر و. هغه په کرکیله کې د نوښت په تیره بیا دانګریزي کرکیلې د ډول چې په هغو وختو کې سخت دود شوی و، پلوي نه کوله او دغه راز چارې یې نه خوښیدې. هغه د کرکیلې او بزګرۍ په اړه په لیکنو او نظریاتو ملنډې وهلې، فابرېکې او نورې تولیدي کارخانې یې نه خوښیدې. د تولید دزیاتوالي او دګرانې کرکیلې، په تیره بیا په یوې ځانګړې برخې کې یې له لویو خرڅونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه نه ښودله. هغه د خپلو جایدادنو ، نه کومې جلا بلکې ټل یې ټولو برخو ته پاملرنه لرله د هغه لپاره په خاوره کې اکسیجن یا هایدروجن... او یا سرې اهمیت نه درلود. د هغه لپاره تر ټولو زیات دې خبرې اهمیت درلود چې د هغه له لارې ځنګه اکسیجن، هایدروجن او .. . نور اغیزمن کېږي.. کله به چې نیکولای په کرکیله پیل او په هغې کې بېلابېلو برخو ته پاملرنه وکړه، بزګرانو به ده ته خورا پاملرنه ورا ړوله. بزګر د هغه لپاره د تولید وسیله نه وو، هغوی دده لپاره هم موخه وو او هم قاضي. هغه لا د بزګرۍ ژوند په پیل کې بزګر ښه وڅېړل، بیا یې د هغو په اړتیا ځان پوه او هڅه یې وکړه چې په دې یې سر خلاص شي چې بزګر څه شي ښه ګڼي او څه شي بد... هغه دچا لارښوونه ، نه کوله.. کله چې د بزګرو په کړو وړو او دود دستور پوه شو. د هغو په خبرو اترو او په خبرو کې د هغو په پټو معناوو یې ښه سر خلاص شو. کله چې پوه شو چې دی دبزګرو په ژوند ښه پوه شوی او ښه یې احساس کړي او ښه ده ته ورنېږدې شوي دي، نو هغه وخت یې دا زړه وکړ چې دنورو لارښوونه وکړي. هغه هم په دې معنی چې دبزګرو په وړاندې خپلې دندې تر سره کړي، هغه دندې چې بزګر له خپل باداره د هغو دسرته رسولو هیله لرله، نو له همدې برکته و چې د هغه کرکیلې اوبزګرۍ بې سارې پایله لرله..

هغه ځانته اجازه نه ورکوله چې په لوی لاس کوم بزګرته کوم ستونزمن کار وسپاري او یا جزا ورکړي یا په خپله خوښه د هغه کار کم او زیات کړي او یا یې وستایي.

هغه نه شو کولای ووایي چې ددې یا د هغه کار د سرته رسولو ، یا نه رسولو معیار څه شي دی، خو په روح کې یې دغه ټینګ او نه ماتېدونکی معیار ځای پر ځای و. که به کله کومې چارې کې ناکامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او يا به په کوم کار کې له کرکيچ سره مخامخ شو، په خورا افسوس سره به يې ويل:

دې روسي کيلوالو سره...

داسې يې ښودله چې د دغو کليوالو زغم نه لري.

خو په رښتينې ژوند کې يې زموږ روسي کليوال او د هغو دود دستور د زړه له کومې خوښيدل، نو له همدې کبله چې د کرکيلې او جايدادو يوازينۍ لاره يې غوره کړه، دغې چارې د هغه لپاره ښې پايلې يې لرلې او د هغې په ښه والي پوه شوی هم و.

ګرافينې ماريا، له خپل مېړه سره د هغې مينې له امله چې هغه له دغه راز چارو سره لرله رخه کوله او په دې يې خواشينې څرګندوله چې له هغې سره په دې چارو کې ګډون نه شي کولای، خو په هغه خوشالۍ او غم يې هېڅ سر نه خلاصيده چې مېړه يې له دې نه جلا، له دغې دنياګۍ نه اخلي. د هغې په دې سر نه خلاصيده چې کله د دې مېړه سپېده داغ پاڅېږي، څو ساعته په کروندو کې اخته وي، يا کرکيله کوي، يا لو کوي او درمندونه ټولوي او بيا د چای لپاره دې ته راستنېږي، څنګه يې په ګوګل کې د خوښۍ او مستۍ توفان څپې وهي او څنګه خوښ او خوشاله وي؟ هغه په دې نه پوهېده چې څنګه يې مېړه، په خورا لېوالتيا د بزګر، ماتوي ايرميشن د شتمنيو په اړه کيسې کولې او د هغه په اړه يې ويل چې څنګه د دغه بډای بزګر ټوله شپه له خپلې کورنۍ سره د غنمو ګېډۍ او سترۍ راټولې کړې وي، حال دا چې لا نورو بزګرانو هېڅ شی ته لاس وروړی نه وي او دده درمند تيار او راټول وي.

خو دده ښځه په دې نه پوهېده چې د هغه له کاره دی ولې داسې خوښ او له شوره ډک دی؟ هغه په دې نه پوهېده چې هغه ولې د کړکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا د کوټې د کتارې پلو ته روان او تر بریتو لاندې یې موسکا خورېږي، هغه وخت دا موسکا لازیاتېږي، چې کله پر ځمکه پر نویو راټوکېدلو د وچېدو په حال کې غنمو تود باران راتوېږي، یا هغه وخت ، کله چې دلو او درمند په وخت کې، بادونه ګوابښمني وریځې بلې خواته شړي. هغه په خورا ورین تندي ، خوشاله لمر وهلې ځېږې، په داسې حال کې چې خولې یې توېږي ، دده له څنو د ویلنې او شنیلیو دعطر بوی لګېږي. د درمند ځایه د کور پلو راروان وي، له خوښۍ لاسونه سولوي او وایي:

- که یوه بله ورځ هوا مرسته وکړي، زما فصل او دبزګرو هیلې به ټولې پرځای وي.

خو هغه له هرڅه نه زیات په دې نه پوهېده چې کله دا دغه خواخوږی، زړه سواند او مهربان نیکولای ته چې تل ددې په اټکلونو پوهېده او ددې دهیلو سرته رسولو لپاره چمتو و ، خو کله چې به یې دکوم کلیوال بزګر یا ښځې کومه هیله چې هغوی دې له کاره آزاد کړي ، ده ته ورسوله، همدا نرم زړي او خواخوږي نیکولای به، نه یوازې دا هیله نه منله بلکې په قهریده به، له هغې به یې هیله کوله او ورته ویل به یې:

- په هغه کار کې چې نه کار، هلته څه کار.

هغې دا احساسوله چې هغه خپله دنیاګۍ لري. داسې دنیاګۍ چې هغه یې لېوالـه او ده ته ګرانه ده، داسې دنیاګۍ چې ددې لپاره نه پوهېدونکي قوانین لري.

کله به چې هغې هڅه کوله ، هغه درک او دده ترلاس لاندې بزګر سره د هغه خواخوږۍ او مهربانۍ په اړه وغږېږي، نیکولای به په قهرشو او ځواب به یې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-داسې نه ده، ما له هېڅ چا سره مهرباني نه ده کړې او په خيال کې مې هم نه ګرځي چې له چا سره دغه شان مهرباني وکړم لکه تاسې يې چې وايي. دا هسې سندرې او د ښځو افسانې دي. له خلکو سره مرسته، هسې هوايي خبرې دي. زما يوازينۍ هيله دا ده چې زما بچيان پر بې لارو لار نه شي، زه بايد نورې ګټې او جايداد ونه ولرم او خپل هغه ، ددې لپاره لاپسې ښه کړم چې زما ماشومان بل چا ته اړ نه شي. دا زما د ژوند ارمان دی او ددې ارمان ساتنه او پالنه نظم ته اړتيا لري. د هغه لپاره ځېرېوالی او تريخوالی په کار دی.

هغه به خپل سو کونه ښورول او ويل به يې:

-دغه اصلي خبره ، حق او انصاف دی.

هغه به دا هم ويل:

- داځکه چې که بزګر وږی او بربنډ وي او آس يې هم يوازې يو آس وی، په دې حالت هغه نه د ځان لپاره او نه زما لپاره ، ديوه لپاره هم کار نه شي کولای.

د نيکولای کارونو ځکه ښه پايله لرله او ګټور وو چې هغه هېڅ کار د خواخوږۍ او له نورو سره دلېوالتيا په نامه نه کول. د هغه شتمني ورځ تر ورځې او په چټکۍ زياتېده، ګاونډه بزګران به ده ته راتلل او هيله به يې کوله چې دی هغوی واخلي ( تر ۱۸۲۱ کاله پورې بزګر له خپلې ځمکې سره يو ځای خرڅېدل). ددغه کار له امله و چې د هغه تر مړينې ، ډېره موده وروسته هم په خلکو کې د هغه د ادارې نوم لګېده او په درناوي يې يادونه کېده:

-ښه بادار و، لومړی بزګر او بيا دی...

-لنډه دا چې بادار، بادار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

هغه یو څه چې دی یې د خپلې کرکیلې او بزګرۍ په چارو کې زوراوه ، دا دده ژر خوښېدل او قهرېدل وو. دا عادت ده ته د سواره پوځ او پوځي ژونده پاتې و او له همدې امله به یې کله ناکله په خپلو سړیو لاس پورته کاوه. هغه د خپل ژوند د دغه پړاو په پیل کې، په خپل دغه عادت کې، دغندنې کوم څه نه و لیدلي، خو د واده په دویم کال یې خپلو چوپړانو او بزګرانو ته د دغه راز جزا ورکولو په ډول کې بدلون راوست.

د اوړي یوه ورځ د بوګوچارورا له جایدادونو نه ، د هغه د اداري چارو هغه مشر چې د درونه، تر مرګه وروسته ټاکل شوی او څو ځله په دغلۍ او دوکو تورن و ، لیسه ګور ته رابلل شوی و. نیکولای د کور د برنډې پر زینو د هغه مخې ته ورووت. له هماغو لومړیو ځوابونو سره هم مهاله آن دننه په کوټه کې د وهلو او چغو آوازونه واوریدل شول. کله چې نیکولای د سهارنۍ لپاره کورته راستون شو ، خپلې ښځې ته چې سر یې پر خپل ګنډ ورټیټ کړی و ، ورنږدې شو. هغې ته یې د هره ورځې په شان د هغو ټولو پېښو او د هغه له ډلې نه د بوګوچاروا د اداري چارو د مشر په اړه خبرې پیل کړې.

ګرافینه ماریا چې تکه سره اوښتې وه او شونډې یې چور نه ښوریدې، هماغه شان یې سر ښکته اچولې و او د خاوند خبرو ته یې هیڅ ځواب نه وایه.

نیکولای چې یوازې د خپل چوپړ په یادیدو له قهره تک شین اوښته، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا سپین سترګی، پلید، لوی دوکه مار او بې حیا ! هغه به اوس بیا راته ویل چې هغه نشه و، یا یې پام نه شو او وې نه لیدل، خو ناڅاپه یې له ښځې وپوښتل:

- ماریا په تا څه شوي دي ؟

- ګرافینې ماریا سر راپورته کړ، غوښتل یې څه ووایي، خو ژر یې سر بېرته ښکته او شونډې یې ورټولې کړې.

- تاته وایم، څه درشوي دي ؟ ګرانې تاته وایم !

ناښکلې ماریا به چې هرکله ژړل، ښکلې کېده به. هغې هېڅکله له درد یا غمه نه ژړل، هغې تل له خواشینۍ او زړه سوي نه ژړل. او هر وخت به یې چې ژړل، د هغې ځلېدونکې سترګې به لا ملالۍ او زړه راښکونکې شوې.

همدا چې نیکولای د هغې لاس راونیو، هغې نور ددې توان نه درلود چې د اوښکو مخ ونیسي او په ژړا شوه.

- نیکولای جانه ! ما ولیدل... هغه ملامته دی، خو تا... تاولې ؟او مخ یې په لاسونو پټ کړ.

نیکولای چپ شو. بشره یې سره او ګلابي شوه، له هغې نه لرې او پرته له هغه چې څه ووایي په کوټه کې ګرځېده راګرځېده. هغه د ښځې دژړا په علت پوه شو، خو ناڅاپه هغه په ګوګل کې احساس کړه چې نه شي کولای له هغې سره هممغږه نه شي. له هغه څه نه چې له ماشتوبه ورسره رږدی و او په خټه کې یې نغښتي و، لاس پر سر شي. هغه په زړه کې ویل:

-ایا دا خواخوږي او مهرباني د ښځو افسانې او کیسې دي، که هغه په برحقه دي ؟

هغه ونه شو کولای دې پوښتنې ته ځواب ورکړي، بیا یې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوريدلي او مينه ناكې څېرې ته وروكتل او ناڅاپه دې پوه شو چې نه يوازې هغه رښتيا وايي بلكې دی له پخوا راهيسې د ځان په وړاندې ګنګار دی.

هغه، هغې ته ورنږدې شو او په كراره يې ورته وويل:

-ماريا ! زه له تاسره ژبه كوم چې بيا به هېڅكله دا تكرار نه شي.

په داسې حال كې چې آواز يې لكه د هغه ماشوم په څېر چې ښښنه غواړي رېږدي، وې ويل

-بيا به هېڅكله تكرار نه شي.

د ګرافينې او ښكې لا پسې زياتې شوې، د خپل خاوند لاس يې راونيو او ښكل يې كړ.

په دې پلمه چې خبره په بله واړوي، د هغه په ګوته ((لا اوكوون)) – (دايلياد كيسې يو اتل)، نومي غمي ته وكتل او وې ويل:

- نيكولای جانه ! د ګوتې غمی دې څه وخت مات شو ؟

- همدا نن، په همدې پېښه كې. او ماريا، نور نو دا خبرې مه راياد وه.

بيا په قهر شو او موټي يې په سوكونو بدل شول. د مات غمي ګوته يې په ګوته كې چورلوله او د هغه چا په وړاندې چې دی يې په قهر كړی و، سرښكته واچاوه، خو له دې سره سره په كال نيم كال به يې يو دوه واره بيا واك له لاسه وركاوه، بيا به يې ښځې ته دا اعتراف كاوه، بيا به يې ژبه كوله چې دا دده وروستی وار دی.

هغه به ښځې ته ويل:

- ماريا، ته هرو مرو ما د سپكاوي وړ ګڼې، ته رښتيا حق لرې.

ګرافينې ماريا چې هڅه كوله مېړه په كرار كړي، په غمجن آواز يې هغه ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هرکله او هرځای چې دا احساس کړې چې پر ځان واک له لاسه ورکوې.

ژر تر ژره له هغه ځایه ووزه.

د ولایت د اعیانو او مخورو په ټولنه کې نیکولای ته پوره درناوي کېده، خو هغه چاته ګران نه و. هغه د اعیانو ګټې ته هومره پاملرنه نه کوله، نو له دې کبله ځېنو هغه مغرور او ځېنو بیا هغه احمق ګاڼه. ټول اوړی هغه به ټوله موده، د پسرلي له کښتې نیولې بیا د فصلونو تر رسېدو پورې په کروندو کې بوخت و. او په منې کې به ، په هماغه لېوالتیا او مینې چې ټوله موده په کرکیله لګیا و ، دی په ښکار اخته شو. میاشت یا دوه به هغه له خپلو ښکاریانو ، د هغو له سپیانو سره ښکار او ښکار ځایو ته تلل. ژمی به هغه نورو کلیو ته روان و او هلته به یې خپلې مطالعې او څېړنې کولې. د هغه د مطالعاتو زیاتره برخه د تاریخ په اړه وه او هر کال به یې د ټاکلو کتابونو د اخېستو سپارښتنه کوله او دا ټول کتابونه به دلته راوړل کېدل. دده د خپلې وینا له مخې هغه ځانته ښه کتابتون جوړ کړی و او د خپل دود له مخې یې ټول اخېستل شوي کتابونه هرومرو مطالعه کول. هغه به خورا په غوره د خپل کار په کوټه کې ناست و او کتابونه به یې لوستل.

دا کار ده ته دیوې سپارل شوې دندې په توګه ښکارېده، خو وروسته هغه ده ته په داسې یو عادت بدل شو چې خوند یې ترې اخېست. هغه به دلوستلو په وخت کې داسې انګېرله چې په خورا غور لګیا و دی. دځېنو اړتیا وړ سفرونو نه پرته به د ژمي زیاتره موده هغه په کور کې له خپلې ښځې او ماشومانو سره تیرولـه او د مور او ماشومنو په هره چاره او کار به غږېده. خپلې ښځې ته به پرله پسې نږدې کېده او دهرې ورځې په تیریدو سره به د هغه د روحي خزانې پانګه زیاتېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سونیا د نیکولای تر واده نه وروسته هم د هغوی په کور کې اوسېده. لا دواده نه د مخه ، نیکولای ټول هغه څه خپلې ناوې ته ویلي وو چې دده او سونیا ترمنځ تیر شوي وو. هغه له شهزادګۍ ماریا نه هیله کړې وه چې د خپلې ترور له لور ، سونیا سره مهربانه او د هغې خواخوږې واوسي.

ګرافینې ماریا د خپل مېړه ګناه پوره احساس کړې او ځان یې هم د سونیا په وړاندې ملامت ګاڼه. هغې فکر کاوه چې ددې شتمنې د نیکولای له خوا دې سره په واده کولو بې اغیزه نه و. هغې د سونیا په کړو کې داسې کوم څه نه لیدل چې هغه ګرمه وګڼي. هغې هڅه کوله چې هغه ورته ګرانه واوسي، خو په زړه کې له هغې سره داسې کومه کرکه توخنېده چې لرې کولې یې نه شوه.

یوه ورځ ګرافینې ماریا ، له خپلې خورلنډې ناتاشا سره د سونیا او د هغې په وړاندې د خپلې بې انصافې په اړه غږېدله.

ناتاشې وویل:

- ته پوهېږې ! تا خو انجیل لوستې دی. هلته یو ځای شته چې مخامخ د سونیا په اړه غږېږي.

ګرافینې ماریا په حیرانتیا وپوښتل:

- څه شي ؟

هر څوک چې څه لري، هغه ته نور هم ورکول کېږي او هغه څوک چې څه نه لري، ترې اخېستل کېږي. ( غوږ پر غوږ توېږي ) په یاد دې دي ؟ هغه خواره ، ولې ؟ ښایي هغه په زړه کې پاکه وي، نه پوهېږم، نه پوهېږم، خو له هغې نه هرڅه اخېستل کېږي. هر څه ترې اخېستل شوي دي. کله ناکله مې د هر زړه پرې سوځي، ما پخوا د زړه له کومې غوښتل چې نیکولای له هغې سره واده وکړي، خو دا مې هم تل احساسوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار ناشونی دی. پوهېږئ ؟ هغه لکه د شاتوتو د ګل د رنګ په څېر ، هغه هم بې ثمره ګل ته ورته ده. کله مې ډېر زړه پرې خوږ شي او کله ناکله خو فکر ، هغه ، هغه څه نه شي احساسولې چې موږ يې احساسوو.

سره له هغه چې ګرافينې ماريا ناتاشې ته دا څرګنده کړه چې د انجيل دا خبره بايد داسې تفسير نه شي او بايد دا ډول تعبيرشي، خو سونيا ته يې په کتو سره د ناتاشې تعبير ومانه.

په رښتيا هم سونيا له خپل دغه دريځ نه، نه زوريده او د خپل بې ثمره والي دريځ يې په پوره توګه منلی و.

داسې برېښېده چې هغه نه د کورنۍ د کوم غړي بلکې د ټولې کورنۍ درناوی کوي. هغې لکه د پيشو په څېر نه له خلکو بلکې له کور سره عادت کړی و. هغې د مشرې ګرافينې خواخوږي کوله، ماشومان يې نازول او د ټولو لپاره يې ټول هغه واړه چوپړونه تر سره کول، چې له لاسه يې کېدل. د هغې ټول دغه خدمتونه او چوپړونه هم بې ارادې د ټولو له خوا منل کېدل او چا له هغې نه کومه ځانګړې مننه نه څرګندوله.

په ليسه ګورې کې ، باغ او کور جوړ شوي وو ، خو د مشر سردار د وخت پرتم يې نه درلود. تر جګړې وروسته، بيا جوړونه، په سختو وروځو کې پيل شوه وه او خورا ساده و. ستره ودانۍ چې د تېرو تهداب او بنسټ درلود ، نوره لرګينه ، خو يوازې د ننه ديوالونه يې سپين شوي وو او د ودانۍ د غولي بې شمېره لرګي بې رنګه پاتې وو ، څوکۍ ، کټونه او ميزونه خورا ساده کلک او سخت وو. دا ټول شيان د کور نجار په خپله د دوی له خپلو چنارونو له لرګيو نه جوړ کړي وو. کور لوی و او ډېرې کوټې يې لرلې. د چوپړانو لپاره يې جلا ځای او د مېلمنو حجرې او ډېرې لرلې. د رستوفيانو او بالکونسکي د کورنيو غړي به له ټولو خپلو خپلوانو ، شپاړلسو آسونو او له لسګونو چوپړانو سره ليسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوري تـه د مېلمسـتيا وو لپـاره راتلل او پـه مياشـتو مياشـتو بـه هلتـه پاتې کېدل. دغه راز هرکال به څلور واره د اربابانو د زده کړې او دنـوم د ورځې په ويار لېسه ګورې ته په سلګونو مېلمانه رابلل کېدل او يـو دوه ورځې به دلته پاتې کېدل. د کـال نـور وختونـه بـه پـه کـرارۍ او آرامـۍ د ورځني ژوند له دود سره سم، پـه وروځينـو چـارو، چـايونو، سـهارنيو، غرمنيو او ماښامنيو سره چې هر څه به يې لـه خپلو جايـدادونو د راټـول شويو فصلونو نه جوړېدل، تيرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د ۱۸۲۰ کال ژمی ، د دسامبر ۵ او د نیکولین د اختر درشل و. پر هغه کال ناتاشا ، له خپلو ماشومانو او مېړه سره ، د مني له پیله د خپل ورور مېلمانه وو. پېیر د خپلو ځېنو چارو د سرته رسولو لپاره ، لکه هغه شان چې ده خپله ویلي و ، دیو درې او نیزه سفر لپاره پترزبورګ تللی ، خو د درې اونیو پر ځای ، اوس شپږ اونۍ پرې اوښتې وې. هره شېبه یې ښځه ورته سترګې په لاره وه.

د دسامبر په پنځمه د بېزاوخف د کورنۍ ترڅنګ د نیکولای یو پخوانی دوست، واسیلي فیودروویچ دینیسوف چې اوس یو متقاعد جنرال و ، د دوی مېلمه و. نیکولای پوهېده چې په شپږمه نېټه د مبارک جشن په ورځ دده کورته مېلمانه راتلونکي دي، باید خپلې دودیزې جامې وباسي ، لنډ کوټ، تنګې جورابې او تنګې موزې واغوندي او دده له خوا نوې جوړې شوې کلیسا ته ورشي. د خلکو مبارکۍ ومني، دی هغوی ته مېلمستیا ورکړي او هم باید د اعیانو د ټاکنو او د فصلونو د راټولو په اړه خبرې وکړي، خو دی په دې ډاډه و چې تر دې ورځې نه، مخکې شپه به په خپله دودیزه بڼه تېروي.

لــه غرمنۍ نــه مخکــې نیکــولای د ریــزان د ولایــت د جایــدادونو حسابونه چې دده منځنۍ خورځې پوره یې اړه لرله او د هغه ځای اداري چارواکي ورته راوړي وو ، وکتل، د خپلو جایدادونو په اړه یې دوه نور لیکونه ولیکل. درمندځایونو او د پسونو او آسونو طبیلو ته ورغی. په رارسېدونکي اختر کې یې د کلبوالو د زیاتو شرابو د مخنوي لپاره ، څه سپارښتنې وکړې او د غرمنۍ لپاره کورته راغی. پرته له هغه چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ښځې سره يو په يو د زړه خوالې وخت پيدا کړي ، د هغه اوږده ميز تر شا کېناست چې د شلو تنو لپاره جوړ او د کورنۍ ټول غړي پرې راټول وو. ميز ته ناست کسان ، دده مور ، له دوی سره ميشته بوډۍ چې بيلوه نومېده ، د هغه ښځه او درې ماشومان ، د ماشومانو ښوونکی او لارښوونکی ، د هغه د ښځې وراره او د هغه ښوونکی ، سونيا دينيسو ، ناتاشا او درې ماشومان يې ، د هغوی روزونکي او د خدای بښلي سردار معمار ميخايل ايوانوويچ چې د خپل ژوند د پای ورځې يې په ليسه ګورې کې تيرولې.

ګرافينه ماريا خپل خاوند ته مخامخ ، د ميز بل سر ته کېناست ، همدا چې خاوند يې پر خپل ځای کېناست ، خپلې مخې ته د دستمال له اخېستو او په چټکۍ مخې ته د ګيلاس او د جام د ځای پر ځای کولو نه وروسته په دې پوه شو چې طبيعت يې خپه دی. په هغه کې به د غه حالت هغه وخت ليدل کېده چې مخامخ يې د جايد ادونو تر کتنې وروسته ميز ته راته او ډوډۍ ته کېناست. ګرافينې ماريا ، د هغه له د غه راز بد خلقۍ سره ښه آشنا وه. کله به چې د هغې خپل طبيعت ښه و ، هغه به په کرارۍ دې ته سترګه په لاره و چې له هغه سره د زړه خواله پيل کړي. هغه به د دې د زړه خوالې نه وروسته ، دې ته اړيده چې د زړه حال ووايي او ثرګنده کړي چې دده هسې تش طبيعت خپه دی ، خو نن هغه د غه خبره چور هېره کړې وه چې د د غه خيال ساتنه وکړي. هغه په دې ډېره خپه شوې وه چې هغه له کوم لامله پر ته په دې په قهر شوی و. هغه له دې امله ځان بد مرغه احساساوه. هغې له هغه نه وپوښتل چې هغه چېرې و. هغه ځواب ورکړ. هغې بيا ترې وپوښتل چې په کرونده کې هرڅه ښه دي ؟ نيکولای د هغې له ترخې ژبې نه تندی تريو کړ او په تونده ژبه يې ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرافینې ماریا له ځانسره وویل:

-ویني زه تیر وتلې نه وم، نو په څه هغه له مانه خوابدی دی ؟

ګرافینې ماریا ، د خپل خاوند په ځواب کې دځان په وړاندې یو ډول داسې نا خواخوږي او خواشیني احساس کړې وه چې ګواکې دې ته یې د چوپتیا پاتې کېدو ویل.

که څه هم هغې داسې انګېرله چې ددې خبرې طبیعي نه وې، خو هغې نه شو کولای یو څو نورې پوښتنې ونه کړي.

د دینیسوف له برکته د میز شا خبرې ډېرې ژر تودې او خوږې شوې او ګرافینې دماریا له مېږه سره دخبرو وخت پیدا نه کړ. کله چې ټول له میزه پاڅېدل او دمشرې ګرافینې نه دمننې لپاره د هغې خواته ورغلل ، ګرافینې ماریا خپل خاوند ته لاس ور اوږد کړ، د هغې لاس یې ښکل کړ او ترې وې پوښتل:

-ولې له مانه خپه یې ؟

هغه ځواب ورکړ:

- ته هم تل په عجیبه خیالونو کې ډوبه یې، زه اصلًا دخفتیان فکر هم نه لرم.

خو د تل د کلمې ځواب ، ماریا ګرافینه آراموله:

- هو کې زما طبیعت خته دی، خو درته ویلي نه شم چې ولې.

د نیکولای ژوند له خپلې ښځې سره دومره ښه و چې آن د سونیا او مشرې ګرافینې درخې سره سره چې د هغوی تر منځ یې دخوابدی پلمې پیدا کولې او دیو بل په وړاندې یې ولمسوي ، خو بیا به هم کله کله د هغوی ترمنځ دکرکې نښې څرګندې شوې. کله نا کله ، په تیر بیا د ښو نیکمرغو شېبو نه وروسته به پر هغه دپردیتوب او دښمنی احساس راخور شو دغه احساس په ماریا ګرافینې کې د امیدواری په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات ليدل کېده. او هغه اوس په همدا سې يو پړاو کې وه.

نيکولای په لوړ، ګواکې له خوښۍ نه په ډک آواز(ګرافينې ماريا داسې وانګېرله چې دا به په لاسي ددې د سپکولو لپاره کوي) وويل:

-ښاغلو او آغلو ! زه د سهار له شپږو بجو راهيسې همدا سې په دوو پښو يم. سبا به بيا همدا زوريدل وي، ښه به دا وي چې لږ استراحت وکړم. او پرته له هغه چې ګرافينې ماريا ته څه وواييي ولاړ شو او ووت او په صالون کې پر اوږدې څوکۍ څملاست، ګرافينې ماريا له ځانسره وويل:

-تل همدا سې ده، له مانه پرته له ټولو سره غږېږي. وينم، وينم چې هغه له مانه کرکه لري، په تيره بيا چې زه په دغه حال يمه. خپلې پړسېدلې خېټې ته يې وکتل او په هينداره کې يې خپلې ژېړې او رنګ الوتې څېرې او وتلو او تر هروخته لويو سترګو ته يې کتل.

هرڅه بد پرې لګېدل. دد ينيسوف لوړه غږيدا او خنداوې، له ناتاشې سره خبرو ، په تيره بيا د سونيا هغه غلچک چې په تلوار يې ددې خواته ورلېږلې و.

د ماريا ګرافينې لپاره سونيا لومړې پلمه وه چې خپل خپتيان څرګند کړي.

هغه څوشيبې له مېلمنو سره کېناسته ، خو له دې امله چې د هغو په خبرو يې سر نه خلاصيده، پاڅېده او په کراره له صالونه ووته او دماشومانو کوټې ته لاړه.

ماشومان هلته پر څوکيو ناست او په لوبو لګيا وو. هغوی مسکو ته د تګ تکل درلود او دې ته يې هم بلنه ورکړه چې له هغوی سره مل شي. هغه کېناسته او له هغو سره يې لوبې پيل کړې، خو د مېړه په اړه خيال او له دې نه د هغه بې ځايه خپتيان دا زوروله. هغه پاڅېده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوځېده ، په سختۍ د پښو په منګلو روانه او کمکي صالون ته لاړه.

هغې له ځانسره وويل:

- کېداى شي هغه ويده نه وي، غواړم ورسره سپينه يې کړم. اندرې جان د هغې مشر زوى، دمور په شان ، هماغه شان د پښو پر څوکو هغې پسې روان و او د هغې هېڅ ورته پام نه و.

سونيا چې په لوي صالون کې وه ( او ګرافينې ماريا ته داسې برېښېده چې هغه يې هرچېرې څاري ) او وې ويل:

- ماريا ! هغه ويده دى، ښکاري هغه ستړى شوى دى، نه چې اندرې جان هغه راويښ کړي.

ګرافينې ماريا ، شاته وکتل او وې ليدل چې اندرې جان ورپسې ور روان دى. ماريا احساس کړه چې سونيا برحقه ده، خو بيا هم سره وايشېده، په قهر شوه او په خورا سختۍ يې وکولاى شول ځان له بدو خبرو وژغورې.

هغې هېڅ څه ونه ويل، خو ددې لپاره چې د سونيا خبرو ته پام ونه کړي، په لاس ي اندرې جان ته اشاره وکړه او ګواکې ورته وې ويل چې شور مه کوه، خو اندرې جان دې پسې روان او دصالون دروازې ته ورسېد. سونيا له بلې دروازې نه ووته. له هغې کوټې نه چې نيکولاى په کې ويده و. د هغه نرى سا چې له هره پلوه د هغې ښځې ته آشنا وه، اوريدل کېده. هغې دغه سا ويستل اوريدل او له ځانسره يې د هغه ښکلى اوار تندى ، بربت او ټوله هغه غمجنه بشره چې هغې په وار وار سره د شپو په چوپتياوو کې هغې ته کتلې و، ليدل. نيکولاى ناڅاپه ټکان وخوړ او چغه يې کړل. او له هغه سره هممهاله د دروازې تر شا اندرې غږ وکړ:

-پلار جانه مور مې دلته ولاړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګرافینې ماریا له ګبنې نه رنګ الوتی و او د خپل زوی په کرارولو یې پیل وکړ. هغه چپ و. دغه چوپتیا چې دګرافینې ماریا لپاره سخته زورونکې وه، یوه دقیقه یې دوام وکړ. هغه پوهېده چې د نیکولای دغه راز راوښول سخت نه خوښېږي. ناڅاپه د دروازې له شا نوی شور او خوځښدا واورېدل شول او د نیکولای ناراضه غږ یې تر غوږه شو:

- یوه دقیقه یې هم څوک په آرامه نه پرېږدي، ماریا دا ته یې ؟ولې دې هغه دلته راوستی دی ؟

- زه راغلم چې یوازې وګورم، هغه ته مې پام نه شو... وبښې...

نیکولای وټوخید او خاموشه شو. ګرافینه ماریا له دروازې لرې او خپل زوی یې د ماشومانو کوټې ته بدرګه کړ. پنځه دقیقه وروسته درې کلنه کمکۍ ناتاشا چې پلار ته خورا ګران وه، له وروه واریدل چې پلار یې په واړه صالون کې ویده دی، پرته له هغه چې د مور یې ورته پام شي، پلار ته ورمنډې کړې، دغې تور سترګې نجلکۍ دروازه په خرپ خلاصه او په ورو غونډو پښو ، خوټینګو ګامونو ، هغه څوکیو ته ورنږدې شو چې پلار یې پر ټټر پر هغې پروت و. هغې پلار ته وکتل، بیا د پښو پر څوکو لوړه شوه او. پلار لاس یې چې تر سر لاندې ایښی و، ښکل کړ. نیکولای چې خوږه موسکا یې پر شونډو راخوره شوې وه، مخ راواړه.

د ګرافینې ماریا کرار او وحشتناکه غږ د دروازې له شا واوریدل شو:

-ناتاشا !ناتاشا ، پلار جان غواړي ویده شي.

کمکۍ ناتاشا په ډاډمن آواز ځواب ورکړ:

- نه مورې، هغه نه غواړي، ویده شي.

پلار یې وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار يې له څوکۍ پښې راکوزې کړې ، پاڅېد او له خپلې لور نه يې غېږه تاو کړه

هغه خپلې ښځې ته وويل:

- ماشا( په روسي ژبه کې ماريا ته له نازه ماشا وايي )راځه دننه.

ګرافينه ماريا کوټې ته راننوته او دخاوند ترڅنګه کېناسته.

ماريا په حيا وويل:

- ما ونه ليدل چې څنګه هغه ماپسې را روان دی، زه هسې خيالونو. ..

نيکولای چې ښځې ته کتل، يولاس يې له لوره تاو کړی و ، د هغې ملامته څېره يې وليدله. بل لاس يې له هغې تاو کړ او په څنو يې ښکل کړ.

هغه له ناتاشې وپوښتل:

- کولای شم مور جانه ښکل کړم ؟

ناتاشا چې له شرمه ډکه موسکا کوله ، هغه ځای ته چې نيکولای ښکل کړی و ، اشاره وکړه او په آمرانه ژبه يې وويل:

-يو ځل بيا !

نيکولای، د هغې پوښتنې په ځواب کې چې پوهېده ، د ښځې په زړه کې ګرځي، وويل:

-زه نه پوهېږم ، ته ولې فلکر کوې چې زما طبيعت خټه دی ؟

- ته يې تصور هم نه شي کولای چې کله ته داسې يې ، زه څومره بدمرغه او يو وزرې يم، ماته داسې برېښي...

نيکولای په خوشالۍ وويل:

- ماريا !دا څومره سادګي ده، ته څنګه نه شرمېږې چې دا خبرې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماته داسې برېښي چې زه داسې ساده او احمقه یم چې ستا نه خوښېږم... تل داسې و... اوس همداسې ده... او په... دا تل داسې وه.. . اوس همداسې ده... او په را....

-آخ، ته څنګه د خندا وړ یې ! ته ښکلې او مهربانه او مهربانه ښکلې یې. دا خو یوازې ملوینا( دیوه افسانې ښکلې نجلۍ )د خپلې ښکلا له برکته هرچا ته ګرانه ده. خو ماته مې خپله ښځه ګرانه نه ده ؟ نه، نه ده. هسې نه پوهېږم څنګه درته ووایم. که ته نه یې ، څنګه درته ووایم لکه چې توره پیشو مې له مخې تېره شوي وي. تباه تباه یم او هېڅ کولای نه شم. ته څه وایې، خپله ګوته راته ګرانه ده ؟ نه، نه ده ګرانه، که ګرانه ، نه ده ، نو پرېکولې خو یې نه شم..

-نه ، نه زه داسې نه وایم، خو زه پوهېږم ، ته خو له مانه هسې نه خپه کېږې.

نیکولای وویل:

-پوهېږئ چې څومره مې خوا شنه ده.

وموسېد ، پاڅېد ، پر خپلو وینښتو یې لاس تیر کړ او په کوټه کې په ګرځېدو شو.

اوس چې سره یخلاشول، سمدلاسه یې په لوړ آواز د هغه څه په هکله چې ددې په اړه یې په خیال کې تیریدل خبرې پیل کړې. هغه پرته له هغه چې له خپلې ښځې و پوښتي د غه خبرې اوري او کنه، هغه څه یې چې فکر ته ورغلي و او پریکړه یې کړې چې هغه به هغې ته ګټور وي، نو ځکه یې باید هغې ته ووایي، وویل، ده تکل کړی دی چې پېیر به دې راضي کړي چې پسرلی په موسم کې له دوی سره پاتې شي.

ګرافینې ماریا د هغې خبرې اوریدې او د هغو په اړه یې خپل اند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګند اوه بیا یې خپله په لوړ آواز د هر څه په اړه خپل مېړه ته وو ایه، خو د دې خبرې د ماشومانو په هکله وې.

هغې چې ناتاشې ته اشاره کوله، په فرانسوي ژبه یې وویل:

- له همدې ماشتموبه، ښځتوب په کې ځرګند دی. تاسو موږ ښځې په دې ملامتوي چې موږ منطق نه لرو، دا ګوره، دا زموږ منطق دی. زه غواړم چې پلار ویده شي او هغه وایي، نه، نه غواړي.

هغه وخندل.

ګرافینې ماریا وویل:

- او هغه برحقه ده. او له نیکمرغۍ نه ډکه یوه خندا یې وکړه.

نیکولای وویل:

-هو، هو.. او

خپلې قوي متې یې له لور تاو کړې، هغه یې پورته کړه، پر اوږو یې کښنوله، د هغې پښې یې کلکې ونیولې او په کوټه کې په ګرځېدا شو.. پلار او لور پر مخونو یو ډول بې معنی نیکمرغي را خوره شوه.

ګرافینې ماریا، په زګېرون آواز په فرانسوي ژبه وویل:

-پوهېږي کېدای شي ته برحقه ونه اوسې، له دې سره ته خورا زیاته مینه کوي.

-هو کې ! نو څه وکړم؟ خو هڅه کوم چې دا رانه ښکاره نه شي...

په دې وخت کې په لاره او د کور دالان ته نېږدې د چا د تیریدو او د داسې ګامونو غږ چې ګواکې را روان دي، وا وریدل شول.

-څوک راغلل.

ګرافینې ماریا وویل:

زه ډاډه یم چې دا به پېیر وي، زه به ورشم وبه ګورم. دا یې وویل او له کوټې نه ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای د ماریا تر وتلو وروسته ځانته اجازه ورکړه ، خپلې لورته په کوټه کې سورلي ورکړي. همدا چې سا یې وسوځېده ، هغه یې له اوږو نه غېږ ته راښکته او پر خپل ټټر یې کېښوله، دغو پاڅېدو ، کېناستو هغه ته نڅاوې وریادې کړې. دلور ګردې ماشومې بشرې ته په کتو کتو کې په دې خیال کې ډوب شو ، که دی زوړ او دا نجلۍ بیا دی د نڅا بنډارونو ته وروبولي ، هغه سره د مازورکا ، نڅا ، هغه نڅا چې خدای بښلي پلار یې له ناتاشې د دانیلوکوپر، نڅا کوله ، وکړي. بیا څنګه او څه کېږي.

څو دقیقې وروسته، ګرافینه ماریا ، بېرته کوټې ته راننوته او وې ویل:

- نیکولای جانه په خپله هغه دی. اوس زموږه ناتاشا بیا ژوندۍ شوې ده. دادې باید لیدلې وای چې هغه په څه تلوسې او مینې د هغې هرکلی کوي او له هغه سره همهاله خپه کېږي چې ولې یې وعده ماته کړې او ډېره موده یې تیره کړې ده.

هغې خپلې لورته چې ځان یې پلار پورې ټینګ نیولی و ، په خندا خندا وکتل او وې ویل:

- ژر ژر کوئ، درځئ چې ژر ورشو ، پرېږدئ، یوبل پرېږدئ.

نیکولای لور له لاسه ونیوله او له کوټې ووتل.

ګرافینې ماریا په کوټه کې پاتې شوه او په کراره یې له ځانسره وویل:

-هېڅکله ، هېڅکله مې داسې تصور نه شو کولای چې داسې دې نیکمرغه واوسي.

پربشره یې د نیکمرغۍ ځلا راخوره شوې وه، خو له هغه سره همهاله یې ژوره سا وویسته او په ژورو کتو کې یې یو ژور غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرګند شو. داسې برېښېده چې ګواکې له دې نیکمرغۍ نه پرته چې دا يې احساسوي، په دې ژوند کې بله داسې نیکمرغي چې بې ارادې همدا شېبه هغې ته وریاده ، هم شته چې په دې ژوند کې یې موندل ګران دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

ناتاشې د ۱۸۱۳ کال د پسرلي په پیل کې مېړه وکړ او په ۱۸۲۰ کال کې هغې درې لونې او یو زوی چې خپله یې د هغو دلرلو خورا لېوالتیا درلوده، لرل. دي خپله اوس د هغوی ساتنه او پالنه کوله.

دا دومره څوربه او سوروره شوې. دا ډېر ګران کار و چې په دې پیاوړې مور کې د هغې پخوانۍ نرۍ، تنکۍ مستې ناتاشې ننبې ولیدل شي. د هغې دبشرې ځانګړتیاوې سره څرګندې او یو آرام نرم حالت یې راڅرګند اوه. په څېره کې یې نور د پخوا په شان دځوانۍ هغه زړه راښکوونکې اور، نه بلیده. اوس یوازې د هغې مخ او اندام لیدل کېدل او د روح او روان ننبې یې تري تم وې. اوس یوازې یوه پیاوړې او بلاربه اسپه لېدل کېده. اوس به ډېر کم او کله ناکله او یوازې هغه وخت ، هغه پخوانی اور د هغې پر بشره او سترګو کې رابلیده چې د اوس په شان به د هغې مېړه له سفره راستنېده او یا یې زوی له ناروغۍ نه ښه شوی و او یا یې چې کله له ګرافینې ماریاسره د سردار اندرې یادونه راتازه کول (هغې داسې تصور کاوه چې د سردار اندرې یادونې د هغې د مېړه رخه راپاروي، نو ځکه یې هېڅکله له هغه سره د هغه په اړه خبرې نه کولې ) خو په دغه شان ځانګړو شېبو کې به چې کله د هغې په ښکلې او وده کوونکې بدن کې ، هغو پخوانیو اورونو لمبې وهلې نو تر پخوا هغه به لا زړه راښکوونکې بربښېده.

له هغه وخته چې ناتاشې واده کړی و ، هغه له خپل مېړه سره په مسکو او پترزبورګ، د مسکو د څنډو په کلي او له خپلې موریعنې د نیکولای کره اوسېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ځوانه ګرافینه بېزاو خوفه، په بنډارونو خورا لږ کې لیدل کېده او که یو نیم ځای به چا ولیدله ، له لیدو به یې ځوک هومره نه خوښیدل، هغه نه مهربانه وه او نه زړه راښکوونکې. دا ګرانه وه چې څوک ووایي چې د هغې یوازیتوب خوښېږي. (هغه په دې نه پوهېده چې یوازیتوب یې خوښېږي او کنه ؟ ). هغه پرله پسې بلاربېده ، ماشومان یې زېږول، دخاوند په هرچاره کې یې ګډون درلود ، نو له دې کبله ، هغې پرته له دې بله چاره نه درلوده چې له بنډارونو ، نڅاګانو او له مېلمستیاوو نه پښې راټوله کړي. ټول هغه کسان چې تر واده دمخه یې پېژانده، هغه بدلون حیران کړي وو چې تر واده وروسته ، په هغه کې راغلي وو. خو یوازې مشر ګرافینه وه چې د مورنۍ احساس له امله په دې پوهېده چې دناتاشې دشور او لېوالتیا سرچینې د مېړه لرل او دکورنۍ پیدا کولو پورې اړه لري. ( او ناتاشا په اترادنایا کې نه یوازې په ټوکه بلکې په رښتیا په نارو نارو دا څرګندوله او د هغه خلکو حیرت ته، په حیرت کې وه چې دا یې نه منله چې ناتاشا به یوه ښه ښځه او غوره مور وي.

ګرافینې به ویل:

- یوازې له ماشومانو او مېړه سره مینه په هغه کې شور او مینه راوېښوي. او نور هرڅه سادګي ده.

ناتاشې دغه زرین دود ته چې ځیرکو او هوښیارو خلکو، په تیربیا فرانسویانو هغه په پام کې ساته ، پاملرنه نه کوله چې نجونې تر واده وروسته باید بې پروا نه شي، خپل استعداد او ښکلا یز ذوق هېر نه کړي. خپلې ښکلا او سینګار ته ، تر هغه څه زیاته پاملرنه ولري چې تر واده دمخه یې لرله. ناتاشې نه یوازې دغو چارو ته پام نه ساته بلکې هغه نازونه یې چې تر واده دمخه پر مېړه کول ، اوس یې نه کول. هغه هڅې چې تر واده د مخه هغې پر ځان د مېړه دلا مینیدو لپاره ، کولې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې نه کولې. ناتاشا برعکس تر واده وروسته سمدلاسه خپل او د هغه په ډله کې سندرې ويل چې د زړه راښکون تر ټولو ستره او بې ساري وسله وه، پريښې و. هغې سندرې نه ويلې، ځکه داسې ورته برېښېده چې سندرې په رښتيا تر ټولو کوډګر توان لري. هغه، هغه شان چې ويل کېږي، ډېره بې پروا شوې وه. ناتاشې، نه په خپلو کړو وړو او نه په خبرو اترو کې، هېڅ څه ته پام نه ساته. نه يې دا هڅه کوله چې په خپلو له نازو ډکو او زړه راښکونکو کړو وړو، له مېړه زړه يوسي، نه يې خپلو جامو او نه يې خپل سينګار ته... هغې د کورنۍ ژوند دغو ټکو ته هېڅ پاملرنه، نه کوله. هغې داسې انګېرله چې د هغې پخوانې نازونه چې ددې په ختمه کې نغښتي وو، اوس ددې مېړه ته دخندا وړ برېښي. هغه څه چې له مېړه سره دژوند له پيله دپام وړ و، هغه دا و چې د ګډ ژوند له پيله يې، خپل ټول روح او روان د زړه له کومې هغه ته وربښلی و. هغې، هېڅ څه يې له هغه پټ نه و، برېښي. هغې داسې انګېرله چې له مېړه سره ددې اړيکې نه پر شاعرانه احساس چې مېړه ددې لېواله کوي بلکې پر بل يو ناڅرګند او غوره څه لکه ددې د خپل روح او تن د اړيکو په څېر پر اړيکو ولاړ وو.

دڅنو جوړول، پر سر د هغو راټول، د پراخې لمنې اغوستل، د مينه ناکو سندرو ويل، هغه هم ټول ددې لپاره چې ځانته د مېړه پام ورواړوي، همداسې ترپامه عجيبه ورتلل، لکه چې ځان څوک ددې لپاره سينګار کړي چې خپله هغه ته وګوري او خوند ترې واخلي.

ځان ددې لپاره سينګارول چې د نورو خوښه شي، ښايي دې کار به دې ته خوند ورکاوه، خو دا نه پرې پوهېده او نه يې د هغه لپاره وخت درلود. هغه تر ټولو غوره لامل چې دې نه سندرې ويلې، نه يې جامو او سينګار ته پام کاوه، نه يې خپله وينا څارله، دا وچې دې، دې کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هېڅ وخت نه درلود.

دا څرګندنه خبره ده چې انسان حق لري ، چور په داسې يو بې معنی څه اخته شي چې هېڅ ارزښت نه لري، دا هم څرګنده ده چې يو څه يا شي چې هرڅومره بې ارزښته او بې معنی وي ، که هغه ته زياته پاملرنه وشي ، هغه به غوره ونه برېښي.

او هغه څه چې ناتاشا پر مينه او اخته شوې وه، هغه کورنۍ وه... کورنۍ:مېړه، هغه څوک چې بايد داسې څارنه او پالنه وشي چې دې او کورنۍ پورې يې اړه ولري او له دوی نه جلا کېدونکي وي. او ماشومان چې دې ته هيلمند شي، هغوی ته ورنېږدې شي، پې او خواړه ورکړي او وې روزي.

څومره به چې هغه زياته، نه دعقل بلکې د روح او روان په مرسته، په خپل ټول توان او هستۍ سره، د ټول هغه څه په مرسته چې دا يې لېواله وه، اخته کېده، هغه څه لا پسې زيا تېدل او د هغه د سرته رسېدلو لپاره خپل وس او توان کم ورته برېښېده ، داسې چې څومره به يې هغه ته پاملرنه نه کوله، بيا به يې هم هغه څه ، تر سره کول، چې د سرته رسولو تکل به يې نه و کړی.

د ښځو دحق، د مېړه او ښځې ترمنځ اړيکي ، د هغوی آزادي او حقوقو په اړه خبرې او ناندرۍ که څه هم هغه وخت د اوس په شان د پام وړ موضوع نه ګڼل کېده ، خو بيا يې هم دنن په شان شته والي درلود ، خو دناتاشې لپاره دغه موضوع نه يوازې په زړه پورې نه وه بلکې هغه هېڅ نه پرې پوهېده. دغه خبره هغه وخت لکه اوس. د هغه چا لپاره د پام وړ وه چې په واده کې يوازې لذت ويني. هغه لذت چې مېړه او ښځه يې يو بل نه اخلي. يعنې د واده خوند ، نه دا چې د کورنۍ دجوړولو پيل...

ناتاشا په ټوليزه توګه دمخورو او اعيانو له بنداړونو سره لېوالتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لرله، خو د خپلو خپلوانو: ګرافینې ماریا، ورور، مور او سونیا ناسته ولاړه یې ډېره خوښېده. هغې له هغو خلکو سره له ناستې ولاړې نه خوند اخیست چې دا وکولای شي په جړو ځنو او خیرنو کالیو دماشومونو له کوټې ددوی مخې ته راووزي، دماشومانو زاړه کالي چې اوس داغ داغ او خیرن شوي وو، هغوی ته وښيي او د هغوی خواخوږي ته چې وايي اوس ماشومان ښه شوي دي. غوږ غوږ شي.

ناتاشا تر دې کچې بې پروا شوې وه چې د هغې جامې، د هغې ځنې او کاکل، د هغې اپلتې او بې ځایه خبرې، له سونیا او دماشومانو له روزونکو سره د هغې رخه، د ټولو ټولو د ټوکو وړ وو. ټول په دې باور وو چې پېیر له خپلې ښځې ډاربږي او په رښتیا هم همداسې و. د ګډ ژوند د پیل له هماغې لومړې ورځې، ناتاشا خپل مېړه ته شرایط ایښي وو چې دی به د خپلې ښځې په غوښتنه د خپل ژوند هره شېبه د کورنۍ په چوپړ کې وي. دې خبرې او د ښځې دې هیلې او غوښتنې دی چور حیران کړی و، خو سره له هغه هم په دغو هیلو دی ویاړېده او غاړه یې ورته ایښې وه.

د شرایطو ته د پېیر غاړه ایښودل نه یوازې په دې کې څرګنده وچې هېڅکله یې نه شو کولای کومې بلې ښځې ته کومه خبره وکړي او یا له هغې سره په موسکا وغږېږي، هغه نه شو کولای کوم بنډار یا کلب ته لاړ شي، یا کوم بل ځای ډوډۍ وخوري او چکر ووهي، هغه پیسې هم نه شوې خرڅولای، هغه له ډېرې اړتیا پرته چېرې سفر هم نه شو کولای. ناتاشا د هغه علمي چارې هم ددغو کارو له ډلې ګڼلې. که څه هم د هغې پر دغو کارونو سر نه خلاصېده، خو بیا یې هم هغو ته په درنه سترګه کتل او غوره یې ګڼل. برعکس پېیر په کورکې پوره واک درلود، نه یوازې یې دا حق درلود چې کوم کار څنګه تر سره شي(هغه شان چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل) دی خپله څه وکړي، بلکې د ټولې کورنۍ دلاربنوونې مشر و.
ناتاشه هم په خپل کورکې، لکه یوه مینځه د مېړه په چوپړ کې وه، کله به چې پېير په خپله کوټه کې څه لوستل او یا به یې څه لیکل، د کورنۍ ټول غړي به د پښو په سر ګرځېدل چې شر او شور ونه شي. هر هغه څه سره به چې پېير لېوالتيا وښودله، سمدلاسه به د هغه هیله ترسره کېده. که به هغه د کوم شي هیله وکړه، ناتاشا به سمدلاسه پاڅېده او هغه به ده ته چمتو و.
هغه سخت وختونو هېڅکله د پېير له یاده نه وتل چې ناتاشا د لومړي ځل لپاره بلاربه او لومړی ماشوم یې وزېږاوه. هغه ډېره ناتوانه او خوار او ناتاشا دې ته اړوته چې درې واره خپله مینځه بدله کړي. ناتاشا له ډېرې ناهیلۍ نه ناروغه شوې وه پېير د غه وختونو هېڅکله هېرولي نه شول. هغه یوه ورځ ناتاشې ته د ژان ژاک روسو هغه خبرې چې ده خپله پرهغو پوره باور درلود، وریادې کړې:
د دایي په لاس د ماشوم روزنه د طبیعت ضد خبره ده.
د بل ماشوم د زده کړې وروسته ناتاشې د مور، ډاکترانو او د مېړه د مخالفت سره سره چې دا باید ماشوم ته پۍ ور نه کړي (په هغه وخت کې د مور لخوا ماشوم ته د پیو ورکول، د مور روغتیا ته تاواني ګڼل کېده) دا په خپل اند پاتې او ترپایه یې خپلو ماشومانو ته خپلې شودې ورکولې.
ډېر وخت د ناآرامۍ او په هغه شېبه کې چې طبیعتونه به خراب وو، داسې هم پېښېدل چې مېړه او ښځه به په کوم څه سره خوله په خوله شول، نانديۍ او شور به یې وکړ، خو تر دغو نانديو او خوابدیو وروسته به د پېیرپه خوښۍ او تعجب نه یوازې د خپلې ښځې په خبرو بلکې په کړو کې د هغو خبرو اغیز ولید چې هغې له هغو سره مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي و...

پېيير تـر اوه کالـه ګـډ ژونـده وروسـتـه، پـه خوښـۍ او ټينګـه دا احساسوله چې هغه احمق سړی نه دی او هغـه ځکـه دا احساسوله چې، هغه ځان د خپلې ښځې په هنداره کې ليده. هغه پـه خپـل ځـان کې ښـه او بد احساسول، داسې چې دغه ښه او بد پـه ګـډه يـو لـه بـل سره زغمـل او پټول، خو په خپلې ښځې کې يې، يوازې هغه څه ليدل چې رښتيا او ښه و. هر څه به چې ناولي او خراب وو، هغه به يې لرې غورځول او يا به لرې غورځول شوي وو. او په هغه کې د دغو کړو نغښـتل کېدل، نـه د منطقـي تعقل له مخې بلکې د کومې بلې رازمنې او ناڅرګندې لارې نـه ترسره کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

دوې میاشتې د مخه، کله چې پېیر د رستوفیانو مېلمه و، د سردار فیودر هغه لیک یې تر لاسه کړ چې په هغه کې یې ده ته بلنه ورکړې وه، د ځېنو خبرو د څېړو لپاره پترزبورګ ته ورشي. پېیر باید د هغې ټولنې په غونډه کې ګډون کړی وای چې دی یې هم یو له غوره بنسټ ایښودنکو نه و.

ناتاشې چې د غه لیک ولوست (ځکه هغې د هغه ټول لیکونه لوستل) سره له هغه چې په کور کې د مېړه غیابت پر دې خورا ګران تمامېده، هغې هم پېیر ته وړاندیز وکړ چې پترزبورګ ته لاړ شي. د ناتاشې لپاره د مېړه ټولې فکري او ذهني چارې، سره له هغه چې هغه نه پرې پوهېده، خورا اهمیت درلود. هغې تل ویره لرله چې د خپل مېړه د دغو کړو خنډ نه شي. د لیک تر لوستلو وروسته، پېیر له درناوي نه په ډک پوښتنیز او ځوابیز غلچک هغې ته کتل. لکه هغه شان چې په لیک کې راغلي او له ده نه غوښتنه شوې وه، دې هم هغه ته وړاندیز وکړ چې پترزبورګ ته لاړ شي، خو ښه به دا وي چې دی د خپل راستنېدو نېټه وټاکي.

هغه ته د څلورو اونیو لپاره رخصتي ورکړه شوه چې پترزبورګ ته لاړ شي. هغه لاړ، خو اوس دا دي د هغه له رخصتۍ نه هم دوې اونۍ اوښتې وې، نو ځکه ناتاشه پر له پسې په ویره کې وه، غمونو پسې اخېستې وه او په هرڅه زوریدله.

متقاعد جنرال دینیسوف چې له خپل اوسني دریځه ناراضه او له دوو اونیو راهیسې دلته مېلمه و، په حیرانتیا او خواشینۍ یې ناتاشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به یو وخت کې ده ته د یو ګران انځور په توګه کتل.

ملال غمجن کاته، ګډ وډو ځوابونه، او دماشومانو په اړه خبرې ټول هغه څه وو چې له دغې پخوانۍ افسانوي کوډګرې نه اوریدل کېدل.

ناتاشا په ټوله دې موده کې، په تیره بیا هغه وخت چې دا به مور، ورور او ګرافینې ماریا دلاسه کوله، خورا خواشینې او په قهر وه، هغوی به هڅه کوله ناتاشا پېبیر په پترزبورګ کې دځنډیدو له امله وبښي.

ناتاشې ویل:

-دا ټول حماقت دی، دا ټولې تشې خبرې دي. د هغه ټولې خبرې ببولالې دي او هېڅ کومه ګټوره پایله نه لري، دا ټولې ټولنې بې معنی او حماقتونه دي.

دا ټولې خبرې هغې د هغو چارو په اړه کولې چې ده یې په ستر اهمیت پوره باور درلود. هغه دماشومانو کوټې ته ننوتله چې خپل یوازیني ماشوم پیتیا ته پۍ ورکړي.

هېڅ چا په هغه کچه، لکه هغه درې میاشتني ماشوم چې په دې شېبه کې ددې پر ټټر پروت او پۍ یې رولې، هغه داسې نه احساسوله.

هېڅ چا نه شو کولای داسې ارام ببنسونکې او هوښیارې خبرې هغې ته وکړي، لکه دغه درې میاشتني ماشوم چې ددې پر ټټر پروت او دې د هغې خوله او ددې د تې رودل احساسول. هغه ماشوم، هغې ته ویل:

- ته خوابدې یې، ته رخه کوې، ته غواړې له هغه غچ واخلې، ته ډاربږې، خو دادي، دا زه یم، دادي دا زه یم...

ناتاشا ځواب نه درلوده، دا خبرې په هغه کچه حقیقت درلود چې له تصوره وتلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا په دې دوو نا آرامو اونیو کې ددې ماشوم د آرامۍ هڅه وکړه ، دومره یې هغه ته شودې ورکړي چې هغه ناروغ شو. د ماشوم ناروغي هغه ډېره زوررړله، خو بیا هم هغې دغې ناروغۍ ته اړتیا لرله، هغې د ماشوم په پالنې سره کولای شو په آسانۍ دخاوند دنه شته والي زغم وکړي.

هغه بیاهم ماشوم ته شودې ورکولې. په دې وخت کې و چې د کور دمخې د پېیر ګاډۍ ودریده، غرېږ یې واوریدل شو او یوه مینځه چې پوهېده څنګه پر خپلې خاوندې دخوشالۍ زېری وکړي، تر تولو دمخه هغه ولید. دغه مینځه په شر او شور او چټکو ګامونو په داسې حال کې چې بشره یې له خوښۍ ځلېده ، په دروازې راننوته.

ناتاشا چې ډاریده په خپلې چټکې او ناڅاپي خوځېدا ویده کېدونکی ماشوم راویښ نه کړي، په کرار او خپ آواز یې وپوښتل:

-راورسېد ؟

مینځې په خپ آواز ځواب ورکړ:

هوکې ادکې !له خیره سره راورسېد.

دناتاشا بشره تکه سره شوه، پېښې یې بې ارادې وخوځېدې، خو نه یې شو کولای منډې کړې او ودانګي. ماشوم بیا سترګې پرانستې، هغې ته یې وروکتل او ګواکې له هغې یې وپوښتل:

- دلته یې ؟

او بیا یې په شونډو کې زبېښل پیل کړل.

ناتاشې په کراره له هغې نه تیۍ راخوشې کړ، هغه یې لږه په غېږه کې ، وځنګاوه ، هغه یې مینځې ته ورکړه او په چټکو ګامونو یې د دروازې پلو منډې کړل. د دروازې په درشل کې لږ له دې امله ګواکې ودریده چې د مېړه د رارسېدو په خاطر یې ماشوم پریښې و . هغې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرم احساس کاوه او له دې امله یې ځان نا آرامه ګاڼه چې په تلوار له ماشومه جلا شوې وه. هغې ببرته وکتل ، مینځې لستوڼي بډ وهلي وو او ماشوم یې زانګو ته ورساوه.

مینځه په هغې موسکا او کراری غږیده چې د میندو او نورو مینځو تر منځ یې آرامتیا راوسته. هغې وویل:

- مهرباني، ګرانې ! مهرباني، آرامه اوسئ، مهرباني !

او ناتاشا په چټکو ګامونو ، برنډې ته ورووتله.

دینیسوف چې پیپ یې پر شونډو و ، له کوټې نه صالون ته راووت، بیا یې په ناتاشې کې هماغه لومړنی ناتاشا ولیدله.

د هغې څېره چور بدله شوې وه، څېره یې له خوښۍ نه ځلېدله او لکه د ګلو دغوټۍ په څېر داسې غوړیدلې وه.

هغې په منډه منډه کې هغه ته وویل:

- راغې !

د دینیسوف که څه هم پییر نه خوښېده ، خو داسې یې احساس کړه چې د هغه له راتګ نه دی هم خوشاله شوی دی. ناتاشا برنډې ته په وتلو سره خپل لوړ مېړه چې پوستین یې اغوستی او دغاړې ښکلی دستمال یې اچولی و ، ولید.

هغه چې د هغه خواته ورالوته، وې ویل:

- هغه دی، هغه دی، په رښتیا هم دی په خپله دی. او له هغه نه یې غېږ تاو کړه ، ځان ته یې رانږدې کړ ، د هغه سر یې پر ټټر کېښود ، بیا یې هغه له ځانه لرې کړ او د هغه له یخه تک سپین شوي مخ ته یې وروکتل او وې ویل:

- هو کې، دی په خپله دی، نیکمرغه او راضي.

او ناڅاپه هغې ته ، هغه عذاب وریاد شو چې، هغې، هغه ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار په دې وروستيو دوو اونيو کې زغملی و. هغه عذاب چې دا يې ستومانه کړې او ددې پر بشرې يې د خواشينۍ لړې راخورې کړې وې. د ملامتۍ او غندنې د غبار باران پر پيېر په وريدو شو:

- هوکې، په تا خورا ښه تيريده، ته ډېر خوشاله وې او خوښۍ دې کولې... زه خو خير، په دې ماشومانو خو به دې زړه خوږ کړی و. زه خو ماشومانو ته شودې ورکوم، له ډېره غم مې شودې وچې شوې، پيتيا خو تر مرګه پورې ورسېد او ته په خوښيو کې ډوب وې، هوکې په خوښيو کې...

پيېر په دې پوهېده چې دی ملامت نه دی، ځکه هغه نه شو کولای تر دې د مخه راشي، هغه پوهېده چې ددې لخوا داغضب نه ښايي، هغه پوهېده چې يو دوې دقيقې وروسته دا هرڅه تيرېږي. او په دې پوهېده چې تر هرڅه به غوره دا وي چې دی خوشاله او ښه دی. هغه غوښتل چې وموسېږي، خو ان ددې د فکر کولو زړه يې هم نه شو کولای. هغه د خواخوږۍ ورې غمجنه ښه غوره کړه او سر يې ښکته واچاوه.

- خدای ښه پوهېږي چې مې نه شو کولای، پيتيا څنګه دی؟

- اوس نو پروا نه لري، شرم هم نه لري، کاشکې تا ليدلای شوای چې بې له تانه څه حال لرم. څنګه او څه عذابونه مې ويستلي دي.

- ستا روغتيا ښه ده؟ ناتاشا پرته له هغه چې د هغه لاس پرېږدي، وويل:

- درځئ چې ځو، درځئ. او دواړه خپلې کوټې ته ننوتل.

کله چې نيکولای او ښځه يې د پيېر ليدو ته راغلل، کوربانه د ماشومانو په کوټه کې وو. ماشومان راويښ شوي وو او هغه، خپل د غېږې ماشوم په خپل پراخ زانګو ډوله ښي لاس کې نيولی و. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې شوراوه. د ماشوم له پراخې، خلاصې او بې غابنو خولې نه، موسکا نه ورکېده.

دناتاشا له بشرې نه خواشينۍ لا پخوا کډه کړې وه او اوس د هغې پر ځای د خوښۍ لمرينه ځلا ولاړه او په خورا ځير يې خپل مېړه او ماشوم ته کتل.

ناتاشا وويل:

- ښه، خپلې ټولې خبرې دې ، سردار فيودرو سره خلاصې کړې ؟

-هو کې ! خورا ښې وې..

-ګورې ! لا ټينګ دی(د هغې هدف د هغې خپل سرو )پوهېږي څومره يې ډار کړې وم.

-ښه، له شهزادګۍ سره دې هم ديدن وشو، دا رښتيا ده چې هغه پر ده مينه ده ؟

- هو، تصور يې کولای شې ؟...

په دې وخت کې و چې نيکولای او ګرافينه ماريا راننوتل. پيير ماشوم هماغه شان په لاس کې نيولی و، ځان يې لږ خم کړ، له هغوی سره يې ښکل کړل او د هغوی پوښتنو ته يې ځواب ورکاوه. خو داسې بربښېده چې خبرو اترو ته ټولې تلوسې سره سره ، د پيير ټول پام ماشوم ته چې خولۍ يې پر سر وه او ککره يې ښوريده ، ور اوښتې و.

ګرافينې ماريا د ماشوم په ليدو، له هغه سر لوبې پيل کړې او وې ويل:

- څومره خوږ دی !

هغې خپل مېړه ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

- خو زه په دې نه پوهېږم نيکولايه ! چې ته څنګه د دغو ښکلاوو په معجزو نه پوهېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای په ساړه غلچک ماشوم ته وکتل او وې ویل:

-نه پوهېږم او نه کولای شم پوه شم ، دغوښه یوه تېوته ده. او پر پېیر یې غږ وکړ:

پېیره درځه چې ځو !

ګرافینې ماریا چې هڅه کوله خپل مېړه له ملامتۍ وژغوري، وویل :

- خو رښتیا خبره داده چې هغه دغه شان مهربانه پلار دی، خو مهرباني هغه وخت پیل کېږي چې ماشومان یو کلنۍ او یا همدغه شان یو منګ ته ورسېږي.

ناتاشا وویل:

-نه، پېیر لکه دمینځې په شان د هغوی پالنه کوي، هغه وایي چې د هغه منګولې د ماشومانو د زانګو لپاره جوړې شوي دي، ورته وګورئ !

پېیر ناڅاپه وخندل:

- نه یوازې ددې لپاره. او له ماشومه یې غېږ تاو کړه او مینځې ته یې ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

لکه دبلې هرې کورنۍ په څېر، په ليسه ګورې کې د ميشتې کورنۍ غړو هم څو ډولا ډول او له يو بله جلا او چور بل ډول دنياګانې او ګډ ژوند درلود. ددوی هرې دنياګۍ خپلې ځانګړتياوې لرلې، هغوی هر يو د يوبل په وړاندې سره تيريدل، خو دوی ټولو بيا پر يوې خوږې او هم آهنګه دنياګۍ راټول وو.

په کورنۍ کې هره يوې پېښې د ټولو لپاره يو ډول اهميت درلود او د ټولو لپاره په يوه اندازه د خوښۍ او يا خواشينۍ وړ وه. خو هرې دنياګۍ بيا ځانته ، پرته له هغه چې يو له بل سره اړيکي ولري، دخوښۍ او يا خواشينۍ لامل لرونکې پېښې لرلې.

خو څنګه چې د پېير راتګ ، يوه خوښۍ ښونکې پېښه وه ، پر ټولو يې يوهمدا شان دخوښۍ يو ډول اغيز کړی و.

چوپړان، دبادرانو وفاداره قاضيان ، ځکه هغوی دبادارانو په اړه قضاوت نه د هغو دخبرو او احساساتو له مخې بلکې د هغوی د ژوند دبهېر او کړو وړو له مخې کوي. ټول د پېير په راتګ خوشاله وو ، ځکه هغه پوهېدل چې کله هغه پرځای وي ، هر خه ښه وي. هم دوی ، له دې امله خوشاله وو چې د اختر د رار سبډو په ويار به دوی له هغه نه نوي نوي سوغاتونه تر لاسه کړي.

ماشومان او د هغه ښوونکي د پېير راتګ ته ځکه خوشاله وو ، چې له پېيره پرته بل هېڅ چا هغو ته په خوښيو او جشنونو کې د ونډې اجازه نه ورکوله. هغه يوازيني څوک و چې د اکوسو(هغه يوازينۍ نغمه چې دده زده وه ) په هغې پوهېده او کولای يې شول هغه له ساز سره وغږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده په وینا له دغې نغمې سره هره نڅا کېدای شوه او دا خبره خو ټولو ته څرګنده وه چې هغه بې شمېره سوغاتونه هم راوړي وو.

نیکولای جان چې اوس پنځلس کلن ډنګر ځوان، ګونځې زرینې څڼې، ښکلې سترګې، ځیرکه خو خواره بشره یې لرله، ځکه خوشاله و چې پېیر کاکا یې (هغه یې په همدې نامه یاداوه) دده لپاره د ټولو غوره چارو بېلګه او ورته ګران و او هغه یې ستایه بل. هېڅ څوک پیدا کېدای نه شو چې د نیکولای په ژوند کې، د پېیر او له هغه سره دده دمینې ځای ونیسي. که څه هم هغه ډېر کم هغه لیده، خو بیا هم دغه مینه بې سارې وه. ګرافینې ماریا په ټول توان هڅه کوله، نیکولای دې ته وهڅوي چې ددې له مېړه سره ددې په شان مینه پیدا کړي، خو نیکولای جان له پېیر سره مینه کوله. نیکولای ته، نیکولای جان ګران و، خو د هغه مینه له نیکولای جان سره لږ د سپکاوي رنګ درلود، حال دا چې پېیر دلمانځنې تر کچې ورته ګران و. نیکولای جان نه ددې هیله لرله چې د نیکولای په څېر د سواره پوځ افسر شي او نه یې د ګیورګي د ښبان ویاړ غوښته، د هغه هیله دا وه چې د پېیر په شان یو پوه، ځیر او مهربان سړی واوسي. د پېیر په مخې کې به تل د هغه بر بشرې د خوښۍ ځلا غوړېدلې وه او هر وار به چې له هغه سره غږېده، هغه به غوړېده او سا به یې تازه شوه. هرڅه به چې پېیر ویلې، د هغه ټولې خبرې به یې په ځیر اوریدلې او یوه یې هم نا اوریدلې نه پرېښوده. او بیا به یې له خپل ښوونکي دوسال سره یادولې او یا به چې کله یوازې شو، هغه به یې له ځانسره رایادولې او د پېیر دخبرو پر هریوې کلمې به یې فکر کاوه. د پېیر پخوانی ژوند، له ۱۸۱۲ کاله مخکې د هغه بدمرغۍ او نابریاوې (هغه په دې اړه له اوریدلو کیسو نه، ځانته تته شاعرانه دنیاګۍ جوړه کړې وه) په مسکو کې پر هغې تیرې شوې پېښې، اسارت،. پلاتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کراتایوف کیسي ( چې په خپله له ده نه یې اوریدلې وې ). له ناتاشې سره د هغه مینه ( زلمي په خپله په ځانګړي توګه له هغه سره مینه لرله ) او تر ټولو غوره دا چې دده له پلار سره د پېیر دوستي چې د نیکولای جان نه یادیده او نه پرې پوهېده ، ټولو دغو چارو له پېیره دده لپاره یو سپېڅلی اتل جوړ کړی و.

هغه خبرې چې. پلار او ناتاشې په اړه یې دلته اوریدې او د هغې لېوالتیا او خواخوږی، نه چې دده. پلار په هکله د پېیر په خبرو کې راڅرګندیده، د هغه خوږوالي، ستاینو او لطافت نه چې دده. پلار په اړه دخبرو په لړ کې په ناتاشا کې راپیدا کېدل، نیکولای کرار کرار د هغې مینې دکچې اټکل کاوه چې دده پلار له ناتاشې سره لرله. د هغه پلار، د خپل مرګ په وخت ، هغه ( ناتاشا ) خپل ملګري ( پېیر ته ) سپارلې وه چې څارنه یې وکړي. نیکولای چې پلار هېڅ نه وریادیده ، هغه یوازې د ګوګل دیوه یاد او له سترګو نه د اوښکو له څاڅکو نه پرته په بل ډول تصور کولای نه شو. پلار دده لپاره د یوه خدایي روح بڼه لرله. هغه د پېیر په راتګ ډېر خوشاله و.

مېلمانه د پېیر په راتګ ځکه خوشاله او نیکمرغه وو چې په هره ډله او بندهار کې به چې دی و ، هغه ته به یې شور او مستي وربښله.

ناتاشې خو څه کوي چې د کورنۍ مشرغړي، د پېیر په راتګ ځکه خوشاله وو ، چې کله به هغه دلته و ، ژوند به خوشاله او آرامه و.

زړې ښځې په دې خوشاله وې چې پېیر هرو مرو له ځانسره سوغاتونه راوي او له ټولو نه لا غوره په دې ښه پوهېدل چې د هغه په رارسېدو سره ناتاشا بیا ژوندي او تازه کېږي.

پېیر دځان په اړه د خلکو دغه ډولا ډول خبرې اوریدې ، احساسولې او هڅه یې کوله چې دهرې ډلې ارمان پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير چې خورا سودا يي او هېرونکی سړی و ، اوس بـه يې هرڅه د هغې ليکنې له مخې چې ښځې يې ورته ليکل ، اخېسـتل، آن د خوابنې او اوښـي سپارښـتنې څه کوې چې د مېـرمن بيلـووې او خپلـو خورڅو لپاره سوغاتونه يې هم نه و هېر کړي. .

له هغه ورځې چې پېير ، پـه لوی کور کې ژوند پيل کړ او د داسې لوی کور مشري چې لوی خرڅ يې درلـود ، ورپـه غـاړه شوه، پـه حيرانتيـا يـې دې ته پام شو چې ترپخوا يې خرڅونه کم شوي دي او د هغه مـالي چـارې ( چې د هغې د پخوانی ښځې د خرڅونـو او پورونـو لـه املـه خرابې وې ) بېرته ښې شـوې دي. ژونـد څکه ازران و چې خرڅونو نظم پيدا کـړی و. د پخوانی پرتمين ژوند ، چې پرتمين والي يې هره شېبه پـه بدلون والـي کې و ، نوريې يوه ښنه هم پاتې نه وه. پېير بيا د هغه د پيل کېدو لېواتيـا نه لرله. هغه داسې انګېرله چې د هغه دژوند بهېر اوس په غوڅه او د تـل لپاره تاکل شوی دی او د دغه بهېر بدلون تر مرګه دده په واک کې نه دی. . .

پېير په خورا خوشـالی او موسـکا خپلـه اخېسـتل شوې سودا سـره جوړوله. . . او سوغـاتونه يې را واخېستل. . .

د سوغاتونو تر ټولولو وروسـته، هغـوی لـومړی د ماشـومانو کـوټې او بيا مشرې ګرافينې ته ورغلل.

کله چې پېير او ناتاشا چې سوغـاتونه يې پـه غېږ کې وو ، د هرکلو کوټې تـه راننوتـل ، ګرافينـه دتـل پـه شـان. . . پـه قطعو د فـالونو پـه ليـدو اختـه و.

د ګرافينې عمر اوس له شپېتو اوښـتی و. د هغـې ويښتـه ټـول سپين شـوي وو او څـانګړې خـولی يـې پـر سـر کېښـوده . . . مـخ يـې ګـونځې ګونځې شوی و ، پاسنی شونډه يې خولې ته ننوتلې وه، سترګې يې نـور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو نه ځلېدلې او مړاوې شوې وې.

د زوی او مېړه تر مرګه وروسته چې یو په بل پسې مړ شول، هغې بد مرغی احساس کاوه ، په دې دنیا کې ژوند ورته نه کومه معنی، نه کوم ارزښت او نه دې کوم ارمان درلود. هغه خوري، څکې او ویدېږي، کله به ډېره تازه وه، خو ژوند خوند نه ورکاوه. هغې په ژوند کې له آرامۍ او کرارۍ نه پرته د بل څه هیله نه لرله او آرامي دې یوازې په مرګ کې موندلای شوه او تر هغه پورې چې مرګ رارسېدلای نه و، هغه دې ته اړه وه چې ژوندۍ واوسي. یعنې خپل وخت او د ژوند له توانه ګټه واخلي. په هغې کې هغه څه پریمانه لیدل کېږي چې په خورا ورو ماشومانو او خورا عمر خوړلو کې لیدل کېږي. د هغې په ژوند کې د دې د روح نه بهر کوم بل ارمان نه لیدل کېده، خو داسې ښکاریده چې یوازې دا دې ته اړتیا لري چې خپل بېلابېل توان وکاروي او خپل ډولا ډول هیلې او ارمانونه ترسره کړي. هغې دې ته اړتیا لرله چې وخوري، ویده شي، فکر وکړي، وغږېږي. وژاړي، کار وکړي، خفه شي او نور یوازې له دې کبله چې خېټه یې لرله، ماغزه یې لرل، غړي یې لرل، عصب یې لرل او بډوو دي.

هغې کله نا کله لکه د ماشومانو داسې ژړل، ځکه هغې د اوښکو تویولو ته اړتیا لرله. په دې ډول هغه څه چې د نورو وګړو لپاره یو ارمان و، د دې لپاره یوازې یوه پلمه وه.

د ساري په توګه دې به سهاري، په تیره بیا چې کله به یې د شپې کوم غوړ څه خوړلي و، دې ته اړتیا ارله چې چا ته زړه تش کړي او هغې د دې کار د سرته رسولو لپاره ، له هرې رارسېدونکې پلمې نه کار اخېست او آن د مېرمن ببلووې له کونټوالي نه.

هغې به په زګېروي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ګرانې، داسې ښکاري چې نن هوا توده غونډې ده؟
بېلووې به ځواب ورکړ:
-څنګه راغلل؟ ګرافینه به په غضب شوه او وبه غړمبېده:
- دا نه یوازې کښه نه ده، احمقه هم ده.
بله پلمه چې دې به زړه پرې تشاوه، هغه ددې د بویولو تنباکو وو. کله به یې ویل چې تنباکو ډېر وچ دي، کله به یې ویل چې زیات لامده دي او کله به یې ویل چې سم میده شوي نه دي. تر دغو خوابدیو او قهرونو نه وروسته به یې په څېرې کې ګونځې راپیدا شوې، مینځې او چوپړانو به ددغو نښو تر را څرګندیدو وروسته په دې پوهېدل چې څه وخت به تنباکو وچ وي، څه وخت به د کښې بېلووې وار وي او څه وخت به بیا تنباکو لامده وي او څه وخت به بیا ددوی دباداري څېره تګه ژېړه شي. همدا چې هغې به د خپل تریخي نه پلمې جوړولې، همدا شان یې اړتیا لرله خپل نور بدن وکاروي او ددې چارې د سرته رسولو لپاره به یې په قطعو کې فال کوت، خو کله چې به یې ژړا ته زړه وشو، د خدای بښلي ګراف یادونه تر ټولو غوره او ښه پلمه وه. کله به چې د سودا او تشویش اړتیا پیدا شوه نیکولای او د هغه روغتیا خبرې تر ټولو ښې پلمې وې. او کله به یې چې غوښتل ځوک خوابدي کړي، د ژبې کوخک یې، ګرافینې ماریا ته ښکنځل و. کله به یې چې دغارې تازه کولو ته اړتیا لیدله، دا په دوه دیز ډول له ډوډۍ او دماښام تر شپږو بجو وروسته، په تیاره کوټه کې، نورو ته د تیرو زمانو، هماغه کیسه کول و چې په وار وار ټولو اوریدلې وه.
د کورنۍ ټول غړي، دددغې بوډۍ په دغه حال ښه پوهېدل، خو هېڅکله یې په دې اړه څه نه ویل. ټولو په هر ډول چې کولای شول، د هغې د هیلو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره هڅې کولې. یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای، پېیر، ناتاشې او ګرافینې ماریا به کله ناکله یو بل ته په کتو کتو او نری غمرلې موسکا، ددې له دغو اندېښنو نه اندېښنه څرګندوله.

خو دغو غلچکونو له دې نه پرته یو بل څه هم ویل. دغو غلچکونو یو بل څه هم ویل او هغه داچې مشرې ګرافینې په دې ژوند کې نورنو خپلې ټولې چارې تر سره کړې وې، هغه تل داسې نه وه لکه اوس چې لیدل کېږي او بله دا چې یو وخت نه یو وخت موږ ټول دغه دریځ او حالت ته رسېږو، نو ځکه باید په خورا مینې او لېوالتیا هغې ته د درناوي سر ټیټ کړو ، ځان دغې لارې ته چمتو کړو او د هغه چا په وړاندې چې یو وخت موږ ټولو ته ګرانه او دژوند دبهېر قوت وه او اوس په دغه حال شوې ده، مهربانه او خواخوږي واوسو او مرګ په یاد ولرو.

له دې سره همهاله غلچکونو ویل:

- یوازې احمقو، سخت زړو او خورا وړو ماشومانو دغه حالت درک کولای نه شو او له هغې نه دپردیو په شان لرې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

کله چې پېير له خپلې ښځې سره مېلمستون ته راننوتل ، ګرافينې په قطعو کې د فال په ليدو ، خپل د خيال مرغه آرامه کړی و. هغې د عادت له مخې بيا هغه خبرې تکرار کړې چې له سفره د پېير د راستنېدو او يا د زوې د راتګ په وخت کې به يې کولې.

-بايد راغلی وای، بايد راغلی وای. لارې ته په کتو کتو مې سترګې وختې، ګرانه ! شکر د خدای دی !

هغې ته د راوړل شوي سوغات ترورکولو وروسته، هغې خپله هغه خبره تکرار کړه چې د سوغات تر اخېستو وروسته يې بايد کړې وای:

-ګرانه !دا سوغات مهم نه دی، مهمه داده چې زه بوډۍ دې په يادوم.

خو داسې برېښېده چې په دې شېبه کې دې د قطعو په پاڼو کې خپل فال ليده، د پېير راتګ په دې نه دی تمام شوی. کله چې يې د فال ليدل پای ته ورسول د سوغاتونو په کتو لګيا شوه. د هغې د قطعو لپاره يو ښکلی او خورا ښابسته پوښ ، يوه چيني پياله چې په شنه راڼه رنګ، رنګ شوې او سرپوښ يې هم درلود. پر پيالې د يوې ځوانۍ نجلۍ تصوير هم انځور شوی و. يوه زرينه تنباکمروړه چې د ګراف څېره پرې انځور او د پېير په سپارښتنه ، په پترزبورګ کې ميناتوري شوې وه( ګرافينې له مودو مودو د دغه شي هيله لرله )هغې چې ژړا ته يې زړه نه کېده، نوځکه يې په بې پروا يۍ تصوير ته کتل او د تنباکمروړې په کتو لګيا شوه.

هغې ، هغه څه چې تل ويل، بيا يې تکرار کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ښه ګرانه ! خوشاله او آرامه دې کړم، خو تر ټولو غوره ډالۍ دا دي چې ته په خپله راغلې. دا له هېڅ ډالۍ سره برابرېدلای نه شي. ګوره ! لر به دې خپله ښځه ښکنځلې وای. ته څه وایې، هغه بې له تانه لکه لېونۍ داسې وې. نه څه ویني او نه څه اوري.

هغې خپلې خبرې تکرار کړې او خپلې مینځې ته یې وویل:

- ګوره اناتیموفیوفنا ! دغه ته وایي زوي ! څه ښکلې قطعې یې راته راوړي دي.

مینځې هغه سوغاتونه واخېستل ، وې کتل او ښکلا ته یې حیرانه شوه.

که څه هم پېیر، ناتاشا، نیکولای، ماریا او نیکولای جان ډېرې خبرې درلودې ، خو د مشرې ګرافینې ترمخې یې هغه خبرې نه شو کولای. هغوی د هغې تر مخې دا خبرې ځکه نه شي کولای چې ګواکې له هغه یې پټولې بلکې له دې امله چې هغه د ژوند له بهېره دومره لرې پاتې شوې وه چې که د کوم شي په اړه د هغې تر مخې خبرې پیل شوې وای، باید د هغه د بې شمېره بې ځایو پوښتنو ته ځوابونه وواېي چې په وار وار سره ستا د خبرو په مینځ کې کېږي ، تکرار ځوابونه وواېي: یعنې هغه مړ شو ، هغه واده وکړ ، هغه څه چې د دې له یاده وتلي وو ، خو بیا هم دوی د دود له مخې په مېلمستون کې د چای لپاره کېناستل او پېیر د ګرافینې هغو پوښتنو ته چې نه یې د دې لپاره ګټه لرله او نه د بل چا لپاره په زړه پورې وې، ځوابونه ویل. د ساري په توګه هغې پوښتل چې سردار واسیلي زوړ شوی دی او ګرافینې د ماریا الکساندرفنې سلامونه رالېږلي او داسې نور او نور. . .

دغه خبرې اترې چې د هېڅ چا لپاره به په زړه پورې نه وې، خو هرو مرو به د چای په ټوله موده کې روانې وې. د کورنۍ غړي د چای میز ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول وو او سونیا سماوار ته نېږدې ناسته وه. ماشومان، د هغو ښوونکي او روزونکي ، ټولو خپل چای څکلی او د څنګ له کوټې نه يې د شر او شور غږ راته. هرڅوک د ميز تر شا په خپلو ځايو کې ناست وو، نیکولای د واړه میز شا ته، د بخارۍ تر څنګ کېناست او ده ته به هلته چای ورورړ. ميلکا پخوانۍ ښکاري سپۍ چې د پخوانۍ ميلکا لور او دبشرې ټول ويښته يې تک سپين او برندې تورې سترګې يې لاپسې په کې وتلې بربښېدې ، دده څنګ ته ، په لاستي لرونکې څوکۍ کې پرته وه.

دینیسوف چې د سرګونځ ويښته ، بربت او ږيره يې مخ په سپينېدو و ، د جنرالۍ د دريشۍ تنۍ يې خلاصې کړې وې، دګرافینې ماریا څنګ ته ناست و. پيير د خپلې ښځې او مشرې ګرافينې ترمنځ ناست و. هغه، د هغه څه په اړه خبرې کولې چې تصور يې کاوه مشره ګرافينه پرې پوه او هغې ته په زړه پورې وي. هغه د بهرنيو ، کورنيو او نورو ټولنيزو پېښو او د هغو کسانو په اړه خبرې وې چې يو وخت د ګرافينې د ليدو کتو او بنداړونو د ډلې غړي او د هغې همزولي وو او ددې په شان يې د خپل ژوند وروستۍ شپې ورځې تيرولې. هغوی د خپل ژوند د کروندې پاتې ورېږې راټول. دګرافينې لپاره رښتينۍ نړۍ او ژوند په ځانګړي توګه همدغه دده د زاړه عمر خوړلی او دځوانۍ همزولي وو. ناتاشا د پيير ښه طبيعت او د هغه تاندوالي ته کتل، په دې پوهېده چې سفر يې ښه په زړه پورې تير شوی دی او هغه غواړي په دې اړه ډېر څه ووايي، خو هغې نه شو کولای د ګرافينې تر مخې وغږېږي.

دینیسوف چې د دوی د کورنۍ غړی نه و ، نه يو ازې په دې نزاکتونو يې سر نه خلاصيده بلکې له حالاتو هم څه ناراضه غوندې و ، ډېر لېواله و چې په پترزبورګ کې په تيريدونکو پېښو خبر شي، نو ځکه يې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېيره هيله کوله چې د سيميونوفسکي دغونډ د وروستيو حالاتو يا د ارکيچييوف د کارونو او يا هم دانجيل د پلويانو د ټولنې په اړه ورته وغږېږي. پېير به کله ناکله بې ارادې د هغو پوښتنو ځوابونه پيل کړل، خو ناتاشا او نيکولای به بيا د هغه پام د شهزاده، ايوان او ګرافينې ماريا انتونوو ا دروغتيا او همدې ته ورته نورو خبرو په اړه مرکې ته ور واړاوه.

دينيسوف وپوښتل:

- ناسو څه وايئ؟ دا د ګوسنر او تاتارينوا (دا د هغه وخت د پترزبورګ د عرفاني ډلې غړي وو چې ګڼ شمېره پلويان يې لرل) اپلتې لا دوام لري؟

پېير په لوړ آواز وويل:

- څنګه دوام لري؟ تر هر بل وخته په پياوړي توګه. دانجيل د پلويانو ټولنه؟ اوس د حکومت زياتره غړي په کې غړيتوب لري.

ګرافينې چې له خپل چايه غړپ کاوه او داسې برېښېده چې غواړي تر ډوډۍ وروسته د خپل تريخي د تشولو لپاره پلمه پيدا کړي، وويل:

- دا ته څه وايئ؟ حکومت؟ په دې خو مې سر خلاص نه شو. په دې وخت کې نيکولای خبرو ته ځکه ور ودانګل چې پوهېده، څنګه دا خبره مورته وکړي چې هغه پرې پوه شي، وې ويل:

- دغه شهزاده الکساندر نيکولاويچ ګوليڅن، يوه تولنه جوړه کړې ده او وايي چې هغه ټولنه اوس ډېر خلک لري.

پېير په بې احتياطۍ وويل:

- ارکيچييوف او ګوليڅن؟ هو کې دغه دوه يعنې ټول حکومت. هغه هم څه حکومت، هر چېرې دوکې دي او دوکه مار، ټول ډار ېږي.

ګرافينې په خواشينۍ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا څه معنی لري ؟ د شهزاده الکساندر نیکولایچ څه ګناه ده ؟ هغه خورا ویاړمن سړی دی. ما په هغه وختو کې ، هغه د ماریا انتونوفنا په کورکې لیدلی و.

خو هغه له دې امله چې ټولو چوپتیا غوره کړې وه، لاپسې خواشینې شوه او دوام یې ورکړ:

- دا څه زمانه شوه ؟ ټول پر ټولو قضاوت کوي ! ټول وایي د انجیل د پلویانو ټولنه ! ښه، نو د دې عیب په څه کې دی ؟ تر دې خبرو وروسته پاڅېده (او ټول نور هم پاڅېدل ) په تریو تندي او غوره ښه د مېلمنو په منځ کې خپل میز ته ورغله او کېناسته.

د هغې چوپتیا په منځ کې چې پر ټولو خوره وه، له ګاونډۍ کوټې د ماشومانو د خندا او غرېدا غږ اوریدل کېده.

داسې برېښېده چې د ماشومانو تر منځ کوم داسې څه پېښ شوي و چې د هغوی د خوښۍ او شر و شور لامل و.

د دغه ټول شر او شور په منځ کې د کمکۍ ناتاشې چغې له ورایه پېژندل کېدې چې ویل یې:

- چمتو دی، چمتو دی !

پېیر ګرافینې ماریا او نیکولای ته وکتل ( خپلې ښځې ته خو یې تل کتل ) او د زړه له کومې یې وخندل او وې ویل:

- څه کوډګره موسیقي ده.

ګرافینې ماریا وویل:

- دا ، آنامکاروفنا د جورابو اوبدل پای ته رسولي او جورابې یې چمتو شوي دي. دا ټول شر او شور د همدې لپاره دی.

پېیر ودانګل او وې ویل:

- ځم چې وګورم. هغه د دروازې په خوله کې ودرید او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته پوهېږې، د څه له امله مې دغه موسيقي خوښېږي ؟ دا تر هرڅه ښه او چمتو دي. نن چې دې خواته را روان وم، هر څومره چې کورته رانږدې کېدم ګېنې او ناآرامي لاپسې زياتېدل، خو کله چې سرای ته راننوتم او داندرې جان شر او شور مې واورید، پوه شوم چې هرڅه ښه دي او کرار شوم.

نيکولای د هغه خبره ورسره ومنله او وې ويل:

- پوهېږم، پوهېږم، زه له دې احساس سره ښه آشنا يم. زه نه شم کولای هغې کوټې ته ورشم، ځکه دغه جورابې ماته يو ناڅاپي سوغات دی او زه ترې خبر نه يم.

پېير د ماشومانو کوټې ته ورننوت او د هغو د ورننوتلو سره د هغو چغې او نارې او شر وشور لاپسې زيات شو. د پېير غږ واوریدل شو:

- ښه انا ماکاروفنا ! دلته دې خواته، د کوټې منځ ته راشه او ماته غوږ شه. زه به وايم يو، دوه او کله چې ووايم درې، ته به دلته ودرېږې. ته هم زما څنګ ته راشه، ښه، يو، دوه... چوپتيا خوره شوه. درې !

او په کوټه کې د ماشومانو د خوښۍ او شر وشور څپو انګازې جوړې کړې.

هغوی چغې وهلې:

-دوه دي، دوه دي !

دا درې جورابې وې، دا دوه جورابې، انا ماکاروفنا، په داسې ښه هممهاله جورابې اوبدلې چې راز يې يوازې دې ته څرګند و او کله چې د هغو اوبدل پای ته ورسېدل، هغې په يوه بريالي او وياړمن خوځون د ټولو ماشومانو ترمخې يو له بلې رااوويستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

تر دې لږه موده وروسته ماشومان مخه ښې لپاره راغلل، ټولو یو له بل سره ښکل کړل، ښوونکو او روزونکو یو بل ته درناوی وکړ او لاړل. یوازې دوسال پاتې شو او د هغه زده کوونک... هغه په کراره خپل زده کونکي ته وویل چې ښکته لاړ شي.

نیکولای بالکونسکي هماغه شان په کراره ځواب ورکړ:

-ښه ښاغلیه دوسال ! زه مې له ترور نه هیله کوم او همدلته پاتې کېږم.

نیکولای بالکونسکي خپلې ترور ګرافینې ماریا ته ورغی او وې ویل:

-ترور جانې ! اجازه راکړئ همدلته پاتې شم.

د هغې څېرې همهاله د زاریو، ګبنې او برندوالي څرګندونه کوله.

ګرافینې ماریا هغې ته وکتل، بیا یې پېیر ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

-کله چې تاسو دلته یاست، هغه نه شي کولای بلې خوا ته لاړ شي.

پېیر د سویدنې سړي (دوسال) لاس کېښکود او وې ویل:

- زه یې خپله بیا تاسو ته درولم. شپه په خیر ښاغلیه دوسال !

هغه په موسکا نیکولای ته وویل:

-ما او تا هېڅ نه دي لیدلي.

بیا یې مخ ګرافینې ماریا ته ورواړاوه او وې ویل:

- هغه څنګه ورته، ورته دی.

د هلک څېره تکه سره شوه، بیا ګلابي شوه او سترګې یې وځلېدې او بیا یې د خپلې پوزې له څوکې پېیر ته ور وکتل او وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلار ته ؟

پېير هغه ته سر وښوراوه او خپله ځنډنۍ کيسه يې بېرته ماشومانو ته پيل کړه.

ګرافينې ماريا خپل ګڼ اوبده او ناتاشا له خپل مېړه نه بل پلو سترګې غړولې. نيکولای او دينيسوف پاڅېدلي او پيپونه يې راغوښتي وو او څښول يې. هغوی له سونيا نه چې په پريشانۍ کې ډوبه ، د سماوار ترڅنګ ناسته وه، چای يې اخيست او له پېير نه يې پر له پسې پوښتنې کولې. ګونځې څنې، رنګ الوتی، نا روغ وزمی ماشوم چې سترګې يې ځلېدې په يوه کنج کې داسې آرام ناست وچې د چا ورته پام نه و. کله ناکله به يې خپل سر له ګونځنيو څنو او نری غاړې سره له پرانستي ګريوان نه راوويست او هغه پلو ته چې پېير ناست و، وراړاوه او بيا به کله وربېږديد ، له ځان سره به يې څه وويل او داسې برېښېده چې کوم نوی او پياوړی احساس احساسوي.

خبرې دلوړو چاروا کو غيبت او د هغو په اړه پر آوازو وه، پر هغو خبرو چې د کورني سياست غوره برخه ګڼل کېدې. دينيسوف په حکومتي چارو کې د خپل نه بري له امله ، له جکومت ناراضی و، په خپل ګمان يې ، په خورا خوښۍ هغه څه حماقت بلل چې اوس په پترزبورګ کې تيريدل او په خورا سپکه يې د زړه له کږمې په ترخه ژبه غندل. هغه په چغو چغو نارې وهلې:

- پخوا به که الماني وای ښه قدر دې کېده او اوس بايد د تاتارينوا او مېرمن کرودنر ( هغه الماني ښځه چې په المان کې له تولواک الکساندر سره آشنا شوې وه او هغه يې له عرفان سره آشنا کړی و ) په وړاندې لاس په نامه و اوسي. او د الماني عرفاني شاعر اکارتسهاوزن، او د هغه په شان نورو شاعرانو اوليکوالو شعرونه ولولي. آخ چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار يې بيا هغه زموږ ځوان بناپارت را خوشې کړی وای. هغه ناري او هلې:

-زه نه پوهېږم، دا څه معنی لري چې د سميونوفسکي د غونډ قوماندانې شواتر ته سپاري (د غونډ افسرانو د لومړی الکساندر لهدغې ټاکنې سره مخالفت درلود ) هغه چاته چې ديوه ساده سرباز عقل هم نه لري.

نيکولای که څه هم د دينيسوف په شان ټولې چارې احمقانه نه ګڼلې، خو دا يې ښه ګڼله چې د حکومتي چارو په اړه خبرې اترې وشي. هغه دا ويل چې څوک وزير ټاکل شوی دی، کوم څوک والي ټاکل شوی، ټولواک دا خبرې کړي او هغه وزير داسې يا هغسې بې ساري کارونه کړي دي. او بايد خبرې پرې وشي. هغه له دې خبرو سره لېوالتيا لرله چې په دې ټول سره وغړېږي او له پيېره هم پوښتنې وشي، خو د دغو دوو تنو پوښتنې او ځوابونه د لوړ پوړو او حکومت په اړه له غيبته پورته کوم دريځ نه پيدا کاوه.

خو ناتاشا چې د خپل مېړه له ټولو کړو وړو او خيالو سره آشنا وه، ليدل چې پيېر له ډېره وخته دې ستر ګه په لاره دی چې خبرې بدلې او خپل د زړه ناويل شوی حال چې دی د هغه لپاره پترزبورګ ته تللی و، ووايي. دی د خپل همدې خيال لپاره هلته تللی و، چې هلته د هغه په اړه له خپل نوي ملګري سردار فيودرويچ سره مشوره وکړي، ناتاشې د هغه مرستې ته ور ودانګل او وې پوښتل:

- له سردار فيودرويچ سره دې کارونه څنګه شول؟

نيکولای وپوښتل:

- څه کارونه؟

پيېر خپل شا او خواته وکتل او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هماغه کارونه، هماغه ! ټول ويني چې کارونو داسې خراب دي چې ناشوني دي چې داسې دوام پيدا کړي. ټول پاک او صادق خلک بايد په دې برخه کې مرسته راسره وکړي او د خپل توان په کچه اغيزمن و اوسي. نيکولای تندی څه تريو غوندې کړ او وې پوښتل:

- ښه او صادق خلک څه کولای شي ؟ نه پوهېږي هغوی به څه وکړي ؟ - ښه داسې...

نيکولای وويل:

- درځه چې زما دفتر لاړ شو.

ناتاشا چې له ډېرې مودې سترګه په لاره وه چې راشي او هغه ماشوم ته د شودې ورکولو لپاره ور وغواړي. د مينځې د آواز په اوريدو د ماشومانو کوټې ته ورغله. ګرافينه ماريا هم له هغې سره لاړه. نارينه دفتر ته لاړل. نيکولای بالکونسکي ته د ترور د مېړه پام نه شو. هغوی پسې دی هم لاړ او په يوه تياره کنج کې کړکۍ ته نږدې د نيکولای د ميز شا ته کېناست.

دينيسوف وويل:

-ښه، نو اوس راته ووايه چې څه کولای شي ؟

نيکولای وويل:

-هماغه ابدي خيال پلو !

پيير پرته له هغه چې کېني ، کله به په کوټه کې ګرځېده، کله به ځای پر ځای ودريد ، په داسې حال کې چې له خبرو سره يې هممهاله لاسونه ښورول، وويل:

- هو کې، دغسې ! د په پترزبورګ کې حالات دغه شان دي چې زه يې درته وايم. ټولواک له چارو سره هېڅ کار نه لري. هغه چور په صوفيانه، عرفاني ژوند کې ډوب دی. د پيير لپاره اوس د صوفيانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ګناه نه بښـېدونکې وه. هغـه اوس يـوازې دآرام او هوسا ژوند پـه خيال کې دی، هغـه اوس يـوازې آرامـۍ تـه اړتيا لرلـه او آرامـي هغـه تـه يوازې بې وجدانه او بې ويـاړه خلک ورکـولي شي. دا سې خلک لکـه ماګنيځکی او ارکچييوف او دوی ته ورته او نورهغه کسان چې پـه بې پروايۍ وژنې کولای شي او په خلکو کې پـه بې ساري توګـه فريادونـه خفه کوي... هغه مخ نيکولای ته وروا ړاوه او دوام يې ورکړ:

- ته دا مني، که تا خپله دجايداد ونو د چارو مشري نه کولای او لـه خپلې آرامۍ نه پرته بل خيال دی نه لرلای چې څومره دی اداره کـوونکی بېرحمه وای ، په هماغه کچه به ته آرامه وای.

نيکولای وويل:

- نوښه !نو ته دا خبره بيا د څه لپاره کوي ؟

پيېر وويل:

- هر څه د مرګ لور ته روان دی. په محکمو کې غلا او بډې، پـه پوځ کې نه يـوازې زور زيـاتي، پـوځ او نورخلـک بيګاري او وهلو تـه اړوي. هغوی په عذابوي، پوهه د تباهۍ پلو درومي، هر هغـه څـه چې ځوان او سپېڅلي دي، وژل کېږي، ټول ويني او پـوهېږي چې دا سې نور امکـان نـه لـري، زور زيـاتي دا سې کچې تـه رسـېدلی دی چې نور يې زغم يې ناشونی دی. پيېر هم د ټولو نورو هغو کسانو په څېر لـه هغـه ورځې چې حکومت شتـه والي لري ، کارونو ته يې ځير دی. يوه ورځ نـه يـوه ورځ بـه هر څه پای تـه ورسېږي او چاودنـه بـه وشي. مـا پـه پترزبـورګ کې دغـه ټول، ټولو ته ويل.

دينيسوف وپوښتل:

-چاته دې وويل ؟

پيېر ترستر ګو لاندې په معنی لرونکې بڼه هغو ته وکتل او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سردار فیودر او نورو ټولو ته. دا څرګنده ده چې په ښوونې او روزنې، خیره چارو او نورو ټولو کارونو کې سیالي خورا ښه کار دی. دا ښه تکل دی، خو په او سنیو حالاتو کې، نور څه په کار دي.

په دې وخت کې د نیکولای، خپل خوریي، نیکولای جان ته پام شو. د هغه تندی تریو او هغه ته ورنږدې شو او هغه ته یې وویل:

-ته دلته څه کوي ؟

پیېر وویل:

- څه کوي ؟ پرېږده هغه دلته پاتې شي...

پیېر، د نیکولای مړوند راونیو او خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ:

-ما هغه ته وویل چې ستاسې چارې ښې خو کمې دي، اوس دې ته نور څه په کار دي. کله چې تاسې ټول ولاړ او دې ته سترګه په لاره یاستي چې هره شیبه دغه نازک مزی (پړی) وشلېږي ، کله چې تاسې چې ټول، هرو مرو کېدونکي (کودتا ) بدلون ته انتظار یاست. ښه به دا وي چې زیات شمېر خلک یو بل ته لاس ونه سره ورکړي او د دې لپاره یې ښه یې سره کلک کړي چې د دغه نوغي (مصیبت )مخه ونیول شي. ټول ځوانان، ټول پیاوړي کسان هغه پلو ته هڅول کېږي او ټول د تباهۍ پلو ته روان دي. یو ښځې تیرباسي، بل د دریځ او منصب لېوني دي، بل د شهرت غوښتونکی او د پیسو په هیله له هغې بلې ډلې سره یو ځای کېږي. ما او تا غوندې ناپیلي کسانو ته هېڅ نه پاتې کېږي. زه وایم راځئ د هغې ډلې شمېر زیات کړو چې دا شعار وایي:

- راځئ نه یوازې د خیر غوښتنه بلکې خپلواکي او ناپیلتوب هم وي.

نیکولای خپل خوریي پرېښود ، څوکۍ یې منځنی ځای ته راپورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهله، پر هغې کېناست ، پېير ته يې غوږ نيولی و ، په نارضايتي يې ټوخل او تندی يې لا دم په دم تريو يده ، هغه چغه کړل:
د څه لپاره هلې ځلې او هڅې ؟ او له حکومت سره به ستاسې اړيکي څنګه وي ؟

ـ ګوره څه اړيکي ! د ملګرتيا اړيکي ! که حکومت زموږ د مخې خنډ نه شي ، موږ د خپلې ټولنې پرپټېدو ټينګار نه کوو. زموږ ټولنه نه يوازې له حکومت سره دښمني نه کوي بلکې هغه له خورا ښو محافظه کارانو جوړه ده. زموږ ټولنه له خورا ښو ښاغلو ، د هغې په امنيتي معنی سره جوړه ده. زموږ هڅې يوازې ددې لپاره دي چې بيا کوم پوګاچوف پيدا نه شي او زما او ستا ماشومان ونه وژني. او ددې لپاره چې ارکيچييوف ما کوم پوځي کمپ ته تبعيد نه کړي. موږ يوازې په همدې هيلې سره يوځای شوي يو او زموږ موخه يوازې ټولنيز خير او امنيت دی.

نيکولای په لوړ آواز وويل:

-هو کې ! په هرحال دا ټولنه يوه پټه او له رازه ډکه ټولنه ده. هره ټولنه چې رازمنه او ناسپړل شوې وي، هغه هرو مرو واک دښمنه وي او پر کومه ټولنه چې دښمني لاس بره وي، هغه له شره او سيالۍ نه پرته بل حاصل نه لري.

- ته څه وايې ؟ ايا په المان کې د توګيندبوند ، ډلې ( د پوهې په نامه ډله په ۱۸۱۸ کال د ملی دود دستور د ژغورنې په هيله جوړه شوې وه )اروپا ونه ژوغورله. (لا هغه وخت چا دا زړه ونه شو کولای، فکر وکړي ، د اروپا ژغورنه د روسيې کار دی ) ايا هغو شر رامنځ ته کړ ؟ د توګيندبوند ، ډله د پوهې او فضليت ډله وه چې شعارېې مينه او له يوبل سره مرسته کول دي. او دا هغه څه چې مسيح د صليب پر سر د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودنه کوله.

ناتاشا د خبرو په منځ کې کوټې ته راننوته او په خوښۍ يې خپل مېړه ته وکتل. د هغې خوښي د مېړه له خبرو نه وه ، خو دغه خبرې ددې لپاره په زړه پورې نه وې، ځکه چې هغې ته دا خبرې خورا ساده بربښېدې او داسې يې ګڼله چې هغه په دې ټولو له پخوا راهيسې پوهېږي. (هغې ته دا خبرې ځکه ساده بربښېدې چې هغه د هغو له سرچينو نه خبره وه او دغه سرچينه د پيير ګوګل و ). د هغې خوښي او لېوالتيا ، د هغې جذبې له ليدو نه وه چې د خاوند پربشرې يې راخوريده.

پيير تر نورو زيات ، په خوښۍ او لېوالتيا هغه زلميګوټي ته کتل چې نرۍ غاړه يې له پرانتي ګريوانه راوتلې وه.

د پيير هرې خبرې ، د هغه پر زړه اور لګاوه او له ډېر عصبيته به يې قلمي ښکې او نور هرڅه پر ميز پراته شيان چې په لاس ورتلل ، له خپل پام او ارادې نه پرته ميده ميده کول او ماتول يې.

- هسې چې ته يې تصور کوې، هېڅکله هغه شان نه و ، الماني توګيندبوند ، هغه شان وو چې زه يې وړانديز کوم.

د دينيسوف لوړ او غوځ غږ واوريدل شو:

-ښه وروره ! دغه توګيندبوند ، د هغه لپاره کالباسه (وچه غوښه ) خواړه نه وو. زه په دې پوهېږم او نه پرې خبرې کوم، خو دا منم چې هرڅه ګـرکجن او خواشـنه کـوونکي دي. زه دې پـه دغـه توګيندبونـد ، موګيندبوند ، دې نه پوهېږم. که رښتيا خبرې کوئ او له هرڅه نه ناراضه ياستئ. درځي پاڅون کوو او بس، که بغاوت کولای شي، زه د تاسې يم.

پيير وموسېد ، ناتاشې وخندل، خو نيکولای تندی لا پسې تريو کړی و او هڅه يې کوله پيير ته داسې وښيي چې هېڅ ډول بدلون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کودتا ته اړتيا نه شته او هغه ګواښ چې دی د هغه په اړه غږېږي، هغه يوازې دده تصور دی. پيير د هغه برخلاف خبرې کولې او علت يې دا و چې دده ذهني پياوړتيا او لاملونه تر هغه زيات وو، نو ځکه نيکولای تصور کاوه دده پر وړاندې مات شوی دی. دی همدې حالت لا پسې په قهراوه، ځکه هغه د زړه له کومې نه کوم استدلال درلود او نه کوم قوي دليل بلکې د خپل زړه د غږ له مخې يې ځان تر نورو پياوړی ګاڼه.

هغه له خپل ځايه پاڅېد، په عصبيت سره يې هڅه کوله خپل پيپ دخولې په کونج کې ټينګ کړي، خو په پای کې يې هغه لرې وارتېږه، او وې ويل:

- پوهېږم يو څه درته ووايم، خو درته ثابتولي يې نه شم. ته پوهېږې چې زما هرڅه خراب دي او هرڅه به راوپرزېږي، خو زه يې داسې نه وينم. ته وايي چې قسم خوړل يو شرط دی، زما خبره به تاته دا وي:

- ته پوهېږې چې ته زما خورا نږدې ملګری يې، خو همدا چې تاسې خپله پټه ټولنه جوړه کړې ده، تاسې به له حکومت سره يا ملګرتيا او يا دښمني کوي، خو زما يوازينۍ دنده داده چې حکومت که هرڅنګه وي، اطاعت يې وکړم. که اراکچييوف ماته همدا اوس قومانده راکړي چې پر تاسو يرغل وکړم، بې له ځنډه او بې له شکه دغه کار کوم. بيا چې ته هر قضاوت چې کوي، کوه يې.

تر دې خبرو وروسته يوه ژوره چوپتيا خوره شوه، خو ناتاشا تر ټولو لومړي دغه چوپتيا ماته کړه او دخاوند په ملاتړ کې يې پر وروړ ودانګل.

دغه ملاتړ کمزوری او زورونکی، خو بيا هم د هغې ارمان پوره کړ. خبرې اترې بيا پوره شوې، خو د نيکولای د وروستيو خبرو په په شان زورونکې نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ټول ما ښامنۍ ته پاڅېدل ، نیکولای بالکونسکي، پېیر ته ورنږدې شو ، په الوتي رنګ او ځلېدونکو سترګو یې ورپوښتل:

- کاکا پېیره !... تاسې... نه، نه که پلار مې ژوندی وای، دغه خبرې چې تاسې یې کوئ، هغه به درسره منلې وای ؟ پېیر ناڅاپه په دې پوه شو چې ، ددغو خبرو په لړکې ، ددغه ماشوم په ذهن کې، یو ځانګړی، ناپېیلی، کړکیچن او قوي احساس راپاریدلی ، نوځکه یې خپلې ټولې کړې خبرې ورپه یاد کړې. دی له دې نه پښېمانه شو چې ده ولې به کوټه کې د هغه دپاتې کېدو او دده ددغو خبرو داوریدو لامل شوې و ، خو په هرحال ده باید هغه ته ځواب ویلای وای. هغه زړه نا زړه ځواب ورکړ:

- زه فکر کوم چې، هو..

دا یې وویل او له کوټې نه ووت.

هغه سر ټیټ کړ او داسې وبرېښېده چې د لومړي ځل لپاره یې په دې سر خلاص شو چې پرمیز یې څه ورانې ویجاړې جوړې کړې دي. خوا یې شنه شوه ، نیکولای ته ورنږدې شو او هغه ته یې هغه ښکه (د هغه وخت قلم)او مشوانۍ وروښودل ، چې ده ناخبره ټوټه ټوټه کړي وو ، وروښودل او وې ویل:

-کاکاجانه ما به وبښئ، ګوره ما څه کړي دي، خو داسې نه و ، هېڅ خبر شوی نه یم.

-نیکولای چې دښکو او سرغوچ ټوټې یې تر میز لاندې اچولې وې ، له قهره وربږدید او وې وویل:

-ښه ده ، ښه ده.

هغه چې په سختۍ د خپل غضب او قهر مخه نیوله، له هغه مخ واړاوه او وې ویل:

- ته باید اصلا دلته پاتې نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

دماښامنۍ په وخت کې نور د سياست او ټولنو په اړه خبرې نه کېدې او ټولې مرکې او خبرې اترې د دينيسوف لپاره د۱۸۱۲کال د ښو خاطرو او يادونو د رايادولو پلو ته لاړې. پيېر په خورا خوښۍ او لېوالتيا په هغو کې ګډون وکړ او خپل خپلوان په خورا خوښۍ او خوشالۍ سره بيل شول.

تر ماښامنۍ وروسته چې کله نيکولای ، د کار په دفتر کې جامې بدلې کړې وې، د خپلو اداري چارو چلوونکي ته چې لا تر اوسه ده ته سترګه په لاره پاتې و ، د اړتيا وړ سپارښتنې وکړې، دخوب په کاليو کې دخوب کوټې ته راغي، وې ليدل چې ښځه يې د ميز تر شا په ليکنه لګيا ده.

نيکولای ، وپوښتل:

-ماريا ته څه ليکې ؟

ګرافينه ماريا تکه سره واوښته. هغه له دې ډاريده چې ددې په ليکنې به د هغې د مېړه سرخلاص نه شي او له ده به خفه شي.

هغې که له يو پلوه غوښتل، خپله ليکنه مېړه نه پټه کړي، نو له بله پلوه په دې خوشاله وه چې هغه ددې ليکنه وليدله...

خپله دخاطرو شنو بخونه کتابچه يې چې په څرګند او غټو ټکو ليکل شوې وه، هغه ته ورکړه او وې ويل:

-نيکولايه ! دا زما د ورځنيو خاطرو کتابچه ده.

نيکولای دخاطرو کتابچه را واخيسته او په داسې يوه ژبه چې دملنډو نښې په کې څرګندې وې، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د ورځنيو خاطرو کتابچه ؟
خاطرې په فرانسوي ليکل شوې وې.
(( نن د اکتوبر په څلورمه چې کله د دوی مشر زوی اندرې له خوبه راويښ شو ، نه يې غوښتل کالای واغوندي. پېغلې لونيز زما ځارنه کوله. هغه ناز کاوه او ډغرې يې وهلې. ما د ګواښ هڅه وکړه ، هغه مې په خپل حال پرېښود او د نورو ماشومانو په راويښولو او پاڅولو لګيا شوم. ما هغه ته وويل چې را ته ګران نه يې ، هغه ډېر وخت ګواکې حيران پاتې او چپ شو ، بيا يې په يوه کميس کې زما خوا ته راودانګل او داسې سلګۍ يې وهلې چې تر ډېرو پورې ما نه شو کولای هغه په کرار کړم. داسې برېښېده چې تر هرڅه نه زيات هغه له دې امله په عذاب و چې زه يې په قهر کړې يم. ماښام مې چې کله هغه ته د هغه کاغذونه ورکړل ، بيا يې زما په غاړه کې لاسونه را واچول ، هغه بيا په داسې حال کې چې ښکلو مې ، زاز زار يې ژړل. له هغه سره په مهربانۍ او خواخوږۍ هرڅه کېدای شي )).
نيکولای وپوښتل:
-دا د څه شي کاغذونه دي ؟
-ما په دې پيل کړی ، نو د ماشومانو د ورځنيو پېښو په اړه ځينې يادښتونه ليکم. دا يادښتونه ښيي چې هغه د ورځو په اوږدو کې څه کوي.
نيکولای چې سترګې يې ځلېدې کتابچې ته کتل. د هغې کتابچې پاڼې يې واړولې ، راواړولې او ما ته يې څه ولوستل. د خاطرو په دغې کتابچې کې د ماشومانو د ژوند ټول هغه څه راغلي و چې مور ته يې خورا په زړه پورې برېښېدل. د هغوی ټوليز خلق او خوی او يا د هغوی د روزنې او پالنې د لارو چارو او کړو وړو په اړه ټولې چارې. د غه ټکي که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هم خورا ساده او بې اهمیته بربښېدل خو کله چې هغه دلومړي ځل لپاره هغه ولوستل، هغه نه مور او نه پلار ته، یوه ته هم داسې ساده نه بربښېدل.

د اکتوبر د پنځمې ورځې دچارو او پېښو په اړه داسې لیکل شوي و:

(( میتیا پر میز شوخي کوله. پلار جان وویل چې هغه ته پتیرې ور نه کړي، هغه ته چا پتیرې ور نه کړې، خو تر هغه پورې چې نورو هغه پتیرې خوړې ، هغه په خورا رخه او افسوس هغو ته رډ رډ کتل، زه داسې فکر کوم چې د خوږو له خوړلو نه د چا بې برخې کول ، یوازې بخیلي لاپسې پالي. زه باید نیکولای ته ووایم )).

نیکولای د خاطرو کتابچه کېښوده او خپلې ښځې ته یې کتل، په ځلېدونکو سترګو او پوښتنیز غلچک یې (په دې معنی چې دا یادښتونه مني او که یې نه مني )هغې ته کتل، خو به دې کې هېڅ شک نه و چې نیکولای نه یوازې د خپلې ښځې دغه کار مانه بلکې هغه د خپلې ښځې له دې کاره هک پک و.

نیکولای فکر کاوه او په زړه کې یې ویل:

-ګوندې دا به ښه نه وي چې په داسې نیوکو هر څه وڅارل شي او یا خو کېدای شي چور دغه کار ښه نه وي، خو دغې پرله پسې ځیرکتیا او نه ستړي کېدونکو هڅو چې موخه یې د ماشومانو اخلاقي روزنه او پالنه وه، هغه خوښ او حیران کړی و...

هغه په دې ویاړېده چې ښځه یې داسې هوښیاره ځیرکه ده. دی په دې ښه پوهېده چې دی په روحاني نړۍ کې د ښځې په وړاندې په هېڅ شمار دی، خو هغه په دې خوشاله و چې ښځه یې له خپل ټول روحي ټوان سره نه یوازې ده پورې اړه لري بلکې د هغه یوه برخه ده.

هغه په برنده او معنی لرونکي بڼه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګرانې ډېره ډېره یې تاییدوم.

له لرې چوپتیا نه وروسته یې وویل:

-زما ننني کړه وړه هومره ښه نه و. ته په دفتر کې نه وې، زما له پېښېر سره څه شور او ناندرۍ شوې. زما خبرې خورا ترخې شوې، دېرې ترخې. هغه لکه ماشوم داسې دی. زه نه پوهېږم که ناتاشا نه وي چې هغه یې داسې راټینګ کړی دی، څه به پرې راغلي وای. ته یې تصور کولی شې چې هغه دڅه لپاره پترزبورګ ته تللی و ؟... هغه هلته تللی و چې..

ګرافینې ماریا وویل:

-هو کې ! پوهېږم دڅه لپاره ؟ ماته ناتاشې ویلي و.

نیکولای چې هسې د هغې پېښو په یادیدو په قهر شوی و، دوام ورکړ:

-هغه غواړی ماته قناعت راکړي چې د هرصادق سړي دنده په دې کې ده چې دحکومت په وړاندې دسیالۍ او مخالفت غرېږ پورته کړي او خپله دنده او قسم.. کاشکې ته وای، هم دینیسوف او هم ناتاشا... دا ناتاشا ګورې، دا خو دخندا وړنجلۍ ده. هغې پېښېر چور تر قوماندې لاندې راوستي، خو بیا دا کوم خپل نظر نه لري. کله چې د خبرو وخت شي، خپله یوه خبره هم نه لري او هر څه چې وایي د هغه خبرې تکراروي.

نیکولای چې دنورو په اړه له خپلو خپلوانو سره دقضاوت په وخت کې په خپل اند ټینګار کاوه او نه ایلیدونکی و. دایې هېرول، هغه خبرې چې دی یې دناتاشا او د هغې د مېړه د اړیکو په اړه کوي. دده او د ښځې تر منځه اړیکي هم همداسې و. ګرافینې ماریا وویل:

- هو، زما دې خبرې ته پام شوی دی.

- کله چې ما هغه ته دا وویل چې دنده او د وفادارۍ لوړه ترهرڅه لوړ دي. خدای خبر دی چې هغه دڅه شي په ثابتولو پیل وکړ. حیف،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حيف چې ته خو واى، خو که واى څه به دې ويلي واى ؟

- زما په اند ته چور برحقه يې ، ما هم ناتاشې ته همداسې وويل. پېښېږي چې ټول زوروېږي، عذاب باسي او بې لارې کېږي. او زموږ دنده داده چې له خپلو خپلوانو سره مرسته وکړو.

ګرافينې ماريا وويل:

-البته هغه برحقه دى، خو هغه دا هېروي چې د خپلو خپلوانو په وړاندې نورې دندې هم لرو. هغه دندې چې خپله خداى موږ ته د هغو سپارښتنه کوي، هغه داده چې موږ ځان ګواښ ته سپارلى شو ، خو ماشومان بايد وژغورل شي.

نيکولاى وويل:

- هو ، هو ، همداسې ده. نيکولاى په رښتيا تصور کاوه چې همداسې يې ويلي دى. هغوى ټولو په خپلو خبرو ټينګار کاوه، د هغوى ټولې خبرې له خپلو همنوعانو سره مينه او لېوالتيا او د حضرت مسيح د لارښوونو په اړه وې. او دا خبرې ټولې د کمکي نيکولاى په مخ کې کېدې، هغه راغلى و ، زما پر ميز ناست او هرڅه چې په لاس ورتلل، ماتول يې.

ګرافينې ماريا وويل:

-آخ، پوهېږې نيکولايه ! زه زياتره وخت د نيکولاى جان له امله په عذابه يم. دا داسې عجيب هلک دى. زه ډارېږم چې زه به په خپلو ماشومانو دومره اخته شم چې هغه رانه هېر شي. موږ ټول ماشومان او خپلوان لرو. هغه هېڅوک نه لري او يوازې له ځانسره لګيا وي.

نيکولاى وويل:

- خو زه درته وايم چې د هغه له امله ته بايد ځان ملامت نه کړې. هر هغه څه چې يوه مهربانه او خوا خوږه موريې د خپلو ماشومانو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي، تا د هغه لپاره کړي او کوي يې. او ته په دې پوهېږې چې زه په دې ډېر خوشالېږم. هغه خورا ښه هلک دی. هغه نن داسې د پېير خبرو ته غوږ نيولي و چې چور يې ځان هېر کړي و، ته يې تصور کولای شي چې نن موږ ماښامنۍ ته روان وو چې ګورو هغه داسې په ځان کې ډوب دی چې پر ميز پراته شيان يې، ناخبره ميده ميده کړي وو، هغه خپله هم په دې اقرار وکړ. ما هېڅکله نه دی ليدلی چې هغه دې دروغ ووايي.

نيکولای تکرار کړه:

- خورا ښه هلک، خورا ښه هلک دی!

که څه هم هغه يې د زړه په تل کې نه خوښيده، خوبيا هم نيکولای غوښتل ووايي چې هغه ښه هلک دی.

ګرافينې واريا وويل:

- خو خپله مور خپله مور وي. هېڅوک نه شي کولای د ماشوم د مور ځای ونيسي. ما تل په دې اړه فکر کاوه چې دا دده لپاره يوه لويه نيمګړتيا او ما ډېره زوروي. هغه بې ساري هلک دی او زه پر هغه ډېر ډارېږم. هغه سخت انډيوالانو ته اړتيا لري.

نيکولای وويل:

- نو چې داسې ده،

سږکال اوړی به هغه د يو څه مودې لپاره پترزبورګ ته واستوو.

هغه بيا هغو خبرو ته راستون شو، چې په دفتر کې بې له پېير سره کړې دي. داسې برېښېده چې دغو خبرو دی ډېر زوراوه، هغه دوام ورکړ:

-هوکې! پېير تل سودايي و او همداسې سودايي پاتې دی، خو زما يې په دې ټولو خبرو څه؟ زما يې څه چې ارکچييوف ښه سړی نه دی، زما يې څه چې ما واده کړی دی او پرما ډېر پورونو پاتې و، زما يې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پوروړي به ما بندي کړي، زما يې څه چې د مور مې په دې ټولو خبرو سر نه خلاصيده ؟ او تر دې سربيره، ته، ماشومان دي او د ځمکو کار او بار، ايا زه د ځان د خوند لپاره له سهاره تر ماښامه کار نه کوم ؟ دا خوا هغه خوا منډې نه وهم. نه، نه زه پوهېږم چې بايد کار وکړم چې مور مې آرامه وي، ستا پورونه پرې کوم او هڅه مې داده چې ماشومان هسې خوار پاتې نه شي، لکه زه چې وم.

ګرافينې ماريا غوښتل هغه ته ووايي چې انسان يوازې په ډوډۍ نه مړېږي او پزې د مالي چارو اغيز ته خورا پاملرنه لري، خو هغه په دې پوهېده چې د دې خبرو کولو ورته اړتيا نه لري او بايد ونه ويل شي ، هغه يوازې د هغه لاس را ونيو او ښکل يې کړ. هغه د ښځې دا کار د خپلو خبرو او اند پښنو تاييد وګاڼه او تريو څو شېبو نه وروسته يې په لوړ آواز خپلو څرګندونو ته دوام ورکړ او وې ويل:

- ته پوهېږې ماريا ! نن ايليه ميتروفانوويچ د دوی د اداري چارو مشر و ، هغه د تامبوف له کلي راغلی او وايي چې د دوی ځنګل اوس په اتيا زره غواړي. نيکولای چې پر خبرې يې د خوښۍ او هيجان نښې راخورې وې، ويل يې چې ډېر ژر به د اترادنايا د سيمې جايدادونو بېرته واخلي. هغه وويل:

- تر لسو کلو وروسته به زه وکولای شم ، ماشومانو ته په لسګونو زره پرېږدم او د دوی ژوند به خورا ښه شي.

ګرافينه ماريا مېړه ته غوږ غوږ وه او په ټولو هغو خبرو چې دې ته يې کولې پوهېده. هغه په دې پوهېدله چې کله به هغه په لوړه خبرې کولې، دې نه به يې پوښتل چې دا پوه شوې چې څه يې ويلي دي او که پوه نه شو چې دده د خبرو په وخت کې د هغې پام بلې خوا ته و، ډېره به خوابدې کېده ، سره له هغه چې ګرافينې دده له خبرو او دده له چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هېڅکله لېوالتیا نه لرله، خوبیا یې هم هڅه کوله چې د مېړه په خبروپوه شي. هغې، هغه ته کتل، هوکې، هغې، هغه ته کتل، خو په خیال او احساس کې بل ځای و. هغه د غه سړی سره یوه نه ایلیدونکې او تانده مینه لرله. هغه په دې پوهېده چې مېړه به یې هېڅکله ددې دغه احساس، احساس نه کړي. او له همدې امله یې هم، له هغه سره مینه زیاتېده او په سودا بدلیده... هغې د خپل وراره په اړه فکر کاوه، خپل ماشومان یې هم وریادیده. هغه خپل وراره له خپلو ماشومانو سره نه پرتله کاوه، هغه به، د هغه په اړه له خپل احساسه تېریده، او په خورا خواشینۍ به په دې پوهه شوه چې د نیکولای جان په اړه یې احساس هسې چې ښایي نه دی. او له دې امله په رښتیا خفه کېده.

کله به یې داسې فکر کاوه چې دا احساس دغه توپیر د عمر، د دوی د عمر توپیر دی. هغې ځان د هغې په وړاندې ملامت ګاڼه او په خپل زړه کې به یې ژبه وکړه چې ځان اصلاح کړي او دغه ناشوني کار به ترسره کوي. او په دې ژوند کې به خپل مېړه، ماشومانو، نیکولای او ټول خپلوان، د هغې مینې له برکته چې له حضرت مسیح سره یې لري، ورته ګران واوسي. د ګرافینې ماریاروح تل د بې پایتوب، ابدیتوب او لوړتیا پلو هڅه لرله او له همدې امله یې هېڅکله آرامي نه لرله، خو د هغې په څېره کې د ځاني او پټ روحي عذاب نښې له ورایه څرګندې وې. نیکولای، هغې ته کتل او هغه به فکر کاوه:

-لویه خدایه! زه چې د هغې بشرې ته ګورم، هغه به ډېر ژر مړه شي، موږ به څنګه کوو؟ هغه د شمایلو په وړاندې ودرید او مانښامنۍ لمانځنه یې پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ناتاشا به چې کله له خپل خاوند سره یوازې پاتې شوله، هغوی دواړه به داسې خبرې کولې لکه تل یې چې ښځه له مېړه سره کوي. دا خبرې، په بې ساري تو ګه سپیني، یو بل ته د مفاهیمو په چټکو لېږدولو، هغه هم په داسې ډول چې له هېڅ ډول منطق سره به جوړوې نه وي. له قضاوت او پام نیولو پرته او په پوره ډول په خپلې ځانګړې بڼه، ناتاشا له مېړه سره په دې ډول خبرو کولو کې تر هغې کچې روږدې شوې وه. که د خپلو اند ښنو د څرګندولو لپاره بې منطقي او دودیزه بڼه غوره کړې وای، دغه حالت به داسې ښودنه کوله، چې ګواکې له پېښې سره یې او به خړې شوې دي. هغه به د دوی.

هرځل به چې پېښېږ، هڅه کوله د خپلو خبرو او اند ښنو د ثابتولو لپاره په آرامه کومه دلیل راوړي او یا به چې کله خپله ناتاشې د هغه لاره ارامه غوره او هغه ته به یې غاړه کېښوده، د هغه کړه به یې خپله ببلګه کړه. په دې به پوهېده چې خبره هرو مرو ورانېږي او نانددرېو ته رسېږي.

له هماغې شېبې چې هغوی یوازې پاتې شول، ناتاشې چې سترګې یې له خوښۍ او نیکمرغۍ نه ځلېدلې په کراره هغه ته ورنږدې شوه، خو ناڅاپه یې په تلوار د هغه سر نه لاسونه تاو کړل، پر خپل ټټر یې راکېښکود او وې ویل:

- اوس ټول، ټول زما یې، له مانه چېرې تلای نه شي. له همدې شېبې نه دا خبرې اترې، هغه خبرې اترې وې چې له هېڅ منطق سره جوړې نه وي. هغوی هممهاله د بېلا بېلو موضوعاتو په هکله خبرې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبېلابېلو موضوعاتو په هکله ددوی هممهاله خبرې، نه یوازې د دوی د څرګندېدو پوهېدو خندنه نه کېدې بلکې دا ددې نښه وه چې په بشپړه توګه ، د دوی دیو بل په خبرو سره پوهېږي.

هماغه شان چې په خوب لیدو کې، دخوب لیدو له احساسه پرته ، هر څه بې معنی او ضد او نقیض وي، ددغو دوو کسانو په کړو کې هم د منطق د ټولو اصول ضد ، دهرڅه په ډاګه کول او څرګندول نه د دوی خبرو ، بلکې هغه څه کاوه چې د دوی دا احساس سرچینه یې جوړوله.

ناتاشې د خپل ورور دژوند او د هغه د کړو وړو په اړه غږیدله، هغه په دې اړه چې د مېړه دمسافرۍ په وخت کې څومره زوریدلې او ژوند له خپل خاونده پرته څومره بې معنی ، او په دې اړه چې ماریا ورځ تر ورځ لا ورته ګرانېږي او هغه په رښتیا له روحي پلوه تر دې (ناتاشې)غوره ده، خبرې کولې. ناتاشا په دې خبرو سره د زړه له کومې دا منله چې ترڅانه دماریا په غوره والي پوهېږي، خو له دې سره هممهاله له پېیره غوښتل چې دا تر ماریا او تر بلې هرې ښځې غوره وګڼي. هغې پر دغې خبرې چې ځان یې تر نورو غوره ګاڼه ، بیا بیا ټینګار کاوه، په تیره بیا دپترزبورګ تر سفره وروسته چې هغه نورې ښځې هم لیدلې وې، هغې پر خپل ښه والي لا ډېره غږیده.

پېیر دناتاشې دخبرو په ځواب کې ویل چې څنګه دپترزبورګ په مېلمستیاوو او بنډارونو کې، دده ګډون او هلته له ښځو ، سره دده لیدنې څومره دده له زغمه وتلې او ګرانه وه.

هغه ویل:

- له ښځو سره مې چور خبرې کول هېر کړي دي. له هغوی سره خبرې راته غمرلې بریښي، په تیره بیا چې زه خو په کارونو پسې ډېر سرګردانه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشې په ځير ځير هغه ته کتل. خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ او وې ويل:

- ماريا ، ماريا دښکلا يوه نښه ده. تصور نه شي کولای چې هغه څنګه دماشومانو په حال او خبرو پوهېږي. هغه ګواکې يوازې د هغو دزړه تلويني. د ساري په توګه همدا پرون ماښام چې ميتينکا نازونه پيل کړل.. . پېير ورغبرګه کړل:

-آخ ! چې څومره هغه خپل پلار ته ورته ده.

ناتاشا سمدلاسه په دې پوه شوه چې پېير ولې د ميتينکا او نيکولای ورته والي ته اشاره وکړه. له خپل اوښي (نيکولای دناتاشې ورور ) سره دخبرو اترو ياد ورته خوراګران و او غوښتل يې په دې اړه دناتاشې خوښه وغواړي.

هغې وويل:

- هوکې ، نيکولای دا نيمګړتيا لري، که يوخبره د ټولو خوښه نه وي، دی هم له هغې خبرې سره مخالفت څرګندوی. زه ډېر ښه پوهېږم چې ستا په ځانګړي توګه دغه شان چارې څکه خوښېږي چې دځان څرګندونې لپاره يوه لاره پرانيزي، دا کټ مټ د پېير خبرې وې.

پېيروويل:

- نه، دا سې نه ده. د نيکولای لپاره فکر کول او دلايل راوړل يوازې د وخت تيرولو وسيله ده. د ساري په توګه هغه ځان ته يو کتابتون جوړ کړی او دا سې يوه لاره يې غوره کړې چې تر هغه پورې چې اخېستل شوی کتاب ټول و نه لولي بل نوی کتاب نه اخلي. هغه وموسېد او زياته يې کړه:

-هم سيمسوند وي، هم ژان ژاک روسو او هم مونتسکوي. خو ددې لپاره چې خپله وينا لږ نرمه کړي ، زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خو ته پوهېږئ چې هغه څنګه ماته..
خو ناتاشا، هغه ته د خپل دې احساس دښودلو لپاره چې نه، دا سې نه ښايي، ورزياته کړه:
- ته نو داسې فکر کوي چې د هغه لپاره فکر کول، هسې دوخت تيرولو وسيله ده...
- حال دا چې زما لپاره دا نور هرڅه دتفريح او وخت تيرولو وسيله دي. زه په ټوله هغه موده کې چې په پترزبورګ کې وم، ګواکې خوب مې ليده. کله چې مې ذهن په څه اخته وي، نور ټول څه ماته دتفريح وسيله وي...
ناتاشې وويل:
-آخ! ارمان، ارمان! ارمان چې ما ونه ليدل چې تا له ماشومانو سره څنګه ستړي مشي وکړه، له هغو نه کوم يو تر ټولو نه زيات ستا په ليدو خوشاله شو؟ هرو مرو ليزا؟
پيير وويل:
- هو.
او د هغه څه ويلو ته يې چې په خيال کې يې تيريدل، دوام ورکړ:
-نيکولای وايي چې موږ بايد په دې موضوع فکر ونه کړو، خو زه نه شم کولای فکر، ونه کړم. هو، دا درته وايم چې (زه تاته کولي شم ووايم) ما داسې احساس کړه چې بې له تانه په پترزبورګ کې هرڅه نړيدلي و او هرچا هرڅه خپل پلو کشول. ما بېرته ټول سره يو کړل، دا ځکه چې زما فکر خورا ساده او روښانه دی. وينې! زه نه وايم چې ددې او هغه په وړاندې ودربږو، ځکه کېدای شي تيروزو. زه وايم ټول هغه کسان چې خيرغوښتونکي دي، بايد ټول يو موټې شي، ټول د يوې جنډې، د خير او برکت ترجنډې لاندې راټول شي. ګوره! هغه سردار سرګې، هم ښه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار سړی دی.

ناتاشي په دې کې هېڅ شک نه لاره چې د پېير فکر خورا لوړ فکر دی، خو هغه يوه څه ډېره نا آرامولـه او هغه دا چې پېير د دې خاوند و.

هغې ويل:

- ايا په رښتيا ټولنې ته د غه شان غوره او اغيزمن سړی، د دې مېړه دی ؟ دا څنګـه دا سې کېـدا ی شـي ؟ هغـې غوښـتل، د خپلـې دغـې اند ښنې په اړه له هغه سره وغږېږي. هغې فکر کاوه: هغه خلک څوک دي ؟ هغه څوک دي چې په دې پوه شوي دي، او په رښتيا يې دا پريکړه کړې ده چې ، هغه تر ټولو هوښيار دی ؟

په دغو خيالونو کې به هغه ډوبه او د هغو کسانو نومونه به يې لـه ځانسره شمېرل چې پېير ته يې خورا درناوي کاوه، د هغه له خبرو دا سې ځرګندېده چې هغه تـه پلاتـون کراتـايوف تربـل هر چانـه ګران او زيـات درناوی يې ورته کاوه.

هغې وويل:

-تـه پـو هېږئ زه اوس د څه پـه اړه فکـر کـوم ؟. پلاتـون کراتـايوف پـه اړه، څنګه ؟ ته څنګه فکر کوي، هفـه بـه اوس سـتا دغـه کړه وړه تاييـد کړي وای ؟

هغه وويل:

-پلاتون کراتايوف ؟

هغه په فکر کې لاړ او هڅه يې وکړه د زړه له کومې تصور وکړ چې، که په رښـتيا اوس پلاتـون کراتـايوف ژونـدی وای. دده د خبـرو پـه اړه بـه يې څه فکر کاوه.

هغه زياته کړه:

- د هغه به په دې خبرو سر نه خلاصيده او يا کېدا ی شي، هو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشې وویل:

- دلبونو په شان درسره مینه لرم، دلبونو، دلبونو !

پېير په چرت کې لاړ او وې ویل:

- نه، هغه به زما کره وړه نه منل.

هغه لږ څه فکر وکړ او وې ویل:

- خو زموږ کورنی ژوند به یې خوښ شوی وای. هغه په هرڅه کې ځیرکتیا، نیکمرغي او آرامي لیدله او ما به اوس په ویاړ هغه ته زموږ ګډ ژوند وربښودلای وای. ، ته څه وایې، بېلتون، ته به باور ونه کړې چې زه تر بېلتونه وروسته ستا په وړاندې څه ځانګړې مینه احساسوم.

ناتاشې پیل وکړ:

-بښه نور څه ؟

- نه، نه، زما موخه دغه نه وه. له تاسره به زما مینه هېڅکله کمه نه شي. له تاسره زما تر مینې بله ستره مینه نه شته، دا بل څه شي دي، خو خبره په دې کې ده...

هغه خپله خبره پای ته ونه رسوله، ځکه د هغوی سترګې سره ولګېدلې او نورې ټولې خبرې یې سترګو سره وکړې.

ناتاشې ناڅاپه وویل:

- دا څه اپلتې غرږوي، وایې چې د عسلو میاشت او دژوند ترټولو خوارږه وختونه، په رښتیا اپلتې دي. برعکس اوس، تر ټولو ښه وختونه دي، خو په دې شرط چې کاشکې ته چېرې نه تلای. ستا یاد ېږي چې څه سپکې سپورې به مو ویلې ؟ او تل به زه ملامته وم. تل، تل به مو په کوم څه نانډرۍ کولې. واله که خو مې سم یاد ېږي.

ببیر په موسکا وویل:

-هر څه په یوه خبره کې و، اخ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشې پرې چغې کړل:

-مه وايه، اوس يې زغم نه لرم.

د کرکې يوه سره ځلا يې پر سترګو راخوره او هغه چپه شوه.

تر لږ ځنډه وروسته يې ورزياته کړه:

- تاهغه وليدله ؟

- نه، هو. که ليدلې مې واى، پېژندلې به مې نه واى.

ناتاشا چې ګواکې هڅه يې کوله، د دوى ترمنځ پر خواخوږې راخپرې شوې څپې لرې کړي، وويل:

- آخ ! ته پوهېږې ! کله چې د کار په دفتر کې غږېدې، درته کتل مې، داسې مې زوييک (هغوى خپل زوى داسې ياداه) هوکې داسې مې زوي ته ورته يې، لکه يوه منه چې دوه ټوټې کړې. واى، نور نو بايد هغه ته ورشم. هغه ته ورشم، خو زړه مې اصلا نه غواړي چې ستا له څنګه لرې شم. هغه دواړه چپ پاتې شول. اوبيا ناڅاپه دواړه هم مهاله يوبل ته مخونه سره واړول او د څه شي په اړه يې خبرې پيل کړې. پېير په ډاډ من او شور، خو ناتاشې په ارامې او نيکمرغې موسکا سره پيل وکړ. د دواړو د غږېدا په ټکريدو سره ، دواړه ددې لپاره چپ شول چې يوبل ته د غږېدا وخت ورکړي.

- نه، نه، تاڅه وويل ؟ووايه، ووايه.

ناتاشې وويل:

نه، نه، ته بيا وايې، ماهسې اپلتې غږولې. ته يې ووايه،

پېير هغه څه وويل چې پيل کړي وو. دا د هغه له ډاډ او غرور نه ډکو برېو په هکله خبرې وې چې په پترزبورګ کې يې په برخه شوي وو. هغه ته په داسې شېبه کې داسې برېښېده چې ده ته ، هغه دنده ورپه غاړه شوې ده چې ټول روسي ملت او د ټولنې نړيوالې ټولنې تګ لورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی روح وروبښي.

- ما غوښتل وو ایم چې ، ټول هغه افکار چې ستري پایلې لري، ټول ساده وي. زه تل په دې اړه فکر کوم، که بې لارې او فاسد خلک کولای شي، په خپل منځ کې تل یو لاس وي او یو قوت جوړوي ، ښه او پاک خلک هم باید یو ازې دې ته ورته یو قوت شي، وینې ؟ څنګه ساده دي.

-هو کې !

- تا څه ویل ؟

ما هسې اپلتې غږولې.

- نه، په هرحال، څه خو دې ویل.

ناتاشې چې لا پسې وغوړیده، په موسکا یې وویل:

- نه، نه ما خو درته وویل هسې، اپلتې. ماغوښتل چې د پیټیا په اړه درته وو ایم...

هغه په موسکا شو ، سترګې یې پټې کړې، ځان یې ما پوره ونښلاوه. رښتیا وایم ، هغه غوښتل ځان پټ کړي. پوهېږئ، هغه څومره نازولی دی. بیا یې چغې کړې:

-لاړم، د خدای په امان.

او له کوټې ووت.

په دې وخت کې، هلته په لاندنې پوړ کې، د اندرې بالکوسکي په کوټه کې شمعه لګېدله. (هلک له تیارې بېریده او چا د دغې نیمګړتیا چاره نه شوه کولای) روزونکي دو سال، عادت لاره د خوب په وخت کې یې سر لوړ وي. هغه به څلور بالښتونه ترسر لاندې کېښودل. د هغه له رومي (اوږدې- یعنی د روم د خلکو د پزې په شان) پزې به د خرهاري منظم آواز راوت. نیکولای جان چې همدا شیبه راویښ شوی و. سترګې یې برندې، وتلې او په سړو خولو کې په خپله بړستنه کې ناست و. خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې تـه يـې کتـل. هغـه کـوم وحشـتناک خـوب ليـدلی او همـاغـه خـوب راوينښ کړی و. هغه په خوب کې ځان او پيير ليدلي وو. هغـه ليـدلي وو چې د دواړو خولۍ پر سر دي. هغه شان خولۍ چې د پلوتارخ په کتاب کې انځور شوې وې. دی او کاکا پيير، ديوه ستر پوځ مخې تـه روان وو. دا پـوځ هغـه سـپينې ريښـکۍ وې چې فضـا يـې ډکـه کـړې وه. دغـه ځـه، دغښو، هغـو تـارونو تـه ورتـه دي چې د مينـې پـه هـوا کې خـورې او ځپـې وهي او دوسال د حضرت مسيح د مزيو (تارونو) پـه نامـه يـادول. تـر هغـه وړاندې د ويار ښاپيرۍ وه. دهمدې ريښکيو او مزو په شان، خو پـه دې تو پيير چې دا لړ سوروري وې. هغوی، دی او پيير پـه کـرار کـرار، خپلې موخې ته رسېدل، خو ناڅاپـه پـه هغـې ريښـکۍ چې دوی يـې خوځول، سستې راغلې او پر هغې وړاندې تنگ ګران شو. او کاکا نيکولای ايليچ په تريو تندي او ګواښمنه بڼه د دوی په وړاندې ودريد. هغه مـاتو شـويو ښکو او سرغوچ شويو ښکو ته اشاره وکړه او وې ويل:

-دا تاسو ماتې کړې دي؟ زه له تاسو سره مينه لرم، خو ارکچييوف ماته سپارښتنه کړې ده چې ستاسو هريو چې لومړی پـه مخـه راشئ، ووژنم. نيکولای جان پيير ته مخ ورواړاوه، خو پيير نـور نـه و. پـلار يـې و، سردار اندرې. هغـه کومـه ځانګړې د ليـدو بڼه نه لرلـه، خو هلتـه و. نيکولای جان چې هغه وليـد، داسې يې و انګېرلـه چې د مينې لـه زوره ناتوان شوی دی. هغه دناتوانۍ احساس کاوه او داسې يې انګېرلـه چې په ځان کې يې اډو کي پاتې نه دي او اوبه شوي دي. پـلار هغـه نـازاوه او زړه يې پرې خوږېده، خو کاکا نيکولای ايليچ همداسې د دوی خواتـه کرار کرار ورنږدې کېده، نور يې نو نيکولای راونيو او هغـه و چې دی له خوبه راوينښ شو.

هغه له ځانسره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پلار مې، پلار مې !(که څه هم په کورکې د سردار اندرې دوه تصویرونه وو ، خو نیکولای جان په ټول او ورځني ژوند کې هېڅکله په انساني بشرو کې ددې تصور نه شو ، کړی) . پلار مې راسره و او زه یې نازولم. هغه زما هر څه منل او د کاکا پېیر کره وړه یې هم ښه ګڼل. هغه چې هرڅه وواېي، زه به هماغه شان کوم، موخوي سخیولي، خپل لاس سوځي، خو ولې زما په ژوند کې داسې څه نه پېښېږي ؟ زه پوهېږم هغوی غواړي چې زه زده کړې وکړم. زه به زده کړې وکړم، خو یوه ورځ نه یوه ورځ به زده کړې پرېږدم او کارته به مخه کړم، زه له خدایه یوه هیله لرم او هغه دا چې زه دې هغه شان شم، لکه د پلوتارک د کتاب اتلان چې وو. زه به هم د هغوی په شان واوسم. زه به د هغوی په شان مېړانه کوم، تر هغو نه په غوره توګه. ټول به له ما خبر شي او ټولو ته به ګران واوسم. زما چارو ته به ټول حیران وي او هغوی به ددې کار لېواله شي، خو نیکولای جان، ناڅاپه په ګوګل کې سلګۍ احساس کړې او وې ژړل.

هغه د دوسال غبږ واورید چې ویل یې:

- ناروغه خو به نه یې ؟

ببرته یې سر په سرو بړ.دي کېښود او له ځانسره یې د دوسال په اړه فکر وکړ:

- هغه خورا مهربانه او ډېر ښه سړی دی. او کاکا پېیر ! هو هو ! چې څه عجیب سړی دی. ماته ګران دی. او پلار ؟ پلار ! پلار ! زه به داسې کارونو کوم چې آن هغه هم راضي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱

د خلکو او بشري ټولنې ژوند ، د تاریخ موضوع ده. د ټول بشریت د ژوند مخامخ سپړنه او په کلمو کې د هغو انځورنه خو څه چې، آن دیوه قام هم ګرانه خبره ده.

ټولو پخوانیو تاریخ لیکونکو ددې لپاره چې د خلکو نه سپړېدونکی ژوند ، و سپړي له یو ډول لارو ساده چارو نه کار اخېستی دی. هغوی یوازې د هغو څېرو او شخصیتونو سپړنه او څېړنه کړې، چې پر خلکو لاسبرې وو. همدې څېرو د هغو لپاره د خلکو د ارادې څرګندونه کوله.

تاریخ لیکونکو ، دې پوښتنو ته چې څنګه دغو واکمنو ، خلک د خپلې ارادې منلو ته هڅول او ددوی خپله اراده بیا د چا تر واک او خوښې لاندې وه ، دلومړی ځواب په توګه ویل:

- د خدای اراده ده چې خلک دیوه غوره وګړي ارادې ته تابع کوي

او ددویمې پوښتنې ځواب دا چې:

- هماغه د خدای اراده ده چې، دیوه ټاکلي موخې پلو ته ، ددغه غوره وګړی د ارادې لارښوونه کوي.

پخوانیو به دغو پوښتنو ته، د ایمان او په انساني چارو کې د خدای د مخامخ ګډون له مخې ځوابونه ویل.

د تاریخ نوې پوهنه دغه دواړه خبرې نه مني. . .

نوی تاریخ، د غوره وګړو او آسماني استازو پر ځای چې د خدایي واک په درلودلو او مرسته او د خدای تر مخامخ ارادې لاندې وي، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سې اتلان او نومیالي چې دغیر دودیز انساني استعداد لرونکي او یا هغه کسان ، له ټولو اکه نیولې بیا تر خبریاله پورې چې دځانګړو ځانګړتیاو لرونکي ، او د خلکو لاربښوونه کوي غوره کړي دي.

نوی تاریخ ، د هغو موخو پر ځای چې پخوا د خدای له لوري د قامونو او ملتونو لپاره ټاکل کېدې ، لکه هغه څه چې یهودانو ، یونانیانو او یا لرغونو رومیانو خپل ارمان ګاڼه . ځانګړي ارمانونه ، لکه:د فرانسویانو ، المانیانو یا انګریزانو نیکمرغي اویا په خورا ساده ذهني ډول د ټول بشریت نیکمرغي، خپل ارمان ټاکلی دی او البته هغوی، هغه ملتونه بشر ګڼي چې دلویې وچې ، شمال لودیزه کوچنۍ برخه یې لاندې کړې ده.

نوي تاریخ پخواني عقاید زاړه وګڼل، خو د هغه پر ځای یې نوي عقاید وړاندې نه کړل. تاریخ پوهانو چې په خپل اند ، د واکمنانو د واک خدایزه سرچینه او یا تقدیر له منځه وړی و. د منطق د غوښتنو له مخې بېرته له بلې لارې، هماغه اعتقاد ته راستانه شول:

۱- د خلکو مشرتوب، دځانګړو یوازنیو کسانو له خوا کېږي.

۲-یوه ټاکلې موخه او ارمان شته چې خلک او ټول بشریت د هغه پلو وردرومي.

دنویو تاریخپوهانو په ټولو آثارو کې له ګیوبن نه نیولې بیا تر باکل پورې ( دوه انګریزي مورخین ) ، د هغو ټولو سیالیو سره سره چې ظاهراً یې په خپل منځ کې لري، همدغه دوه فرضیې په هرو مرو ډول دنورو ټولو بنسټ جوړوي.

لومړی خو مورخ، دبشریت د هغو ځانګړو شخصیتونو کره وړه سپړي، چې دچا لپاره هغوی ټولواکان، وزیران یا دجنګیالیو مشران دي اوبیا د بل چا لپاره د واکمنانو ترڅنګ خطیبان، پوهان، اصلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکي ، فیلسوفان او شاعران دي او د خلکو او بشریت لارښوونکي ګڼل کېږي.

دویم دا چې هغوی وايي، دوی ته هغه څه او موخه څرګنده ده چې بشریت د هغه پلو درومي، څوک د غه موخه د روم د امپراتورۍ یا د اسپانیا یا د فرانسې او یا نورو د پرتمینه ژوند غوړېدا ګڼي او بل یې بیا هغه ځانګړې ازادي او برابري ګڼي چې د نړۍ د یوې کمکۍ برخې په تمدن پورې چې اروپا نومېږي، اړه لري.

په ۱۷۸۹ کال کې په پاریس کې یو پاڅون رامنځ ته کېږي، هغه وده کوي، خپرېږي او له لودیزه ختیځ ته د ملتونو د خوځون بهیر پیدا کوي. ختیځ ته د غه خوځون څو ځله تکرارېږي او د ختیځ له خوا د لودیز د غه خوځون له غبرګون سره مخامخ او ټکر پیدا کوي. پر ۱۸۱۲ کال، د لودیز د غه خوځون، خپل تر ټولو غوره موخې او ارمان مسکو ته رسېږي او بیا په خورا غوره عجیبه بڼه د غه خوځون ، په هماغې لوري بڼې له ختیځه، لودیز ته ترسره کېږي او د منځنۍ اروپا خلک ټول ځان پسې ورکاږي.

راغبرګ شوی خوځون، بېرته په لودیز کې ، خپل راپاڅېدونکي ټکی، پاریس ته رسېږي. سړېږي او آرامېږي.

د دغو شلو کلونو په اوږدو کې څه ځمکې چې شاړېږي، بې کرکېلې پاتېږي، بې شمېره کورونه په ایرو بدلېږي، د سوداګرۍ بهیر بل پلو ته اوړي. په میلیونونو ، میلیونونو خلک یا وژل کېږي، یا هم بډا یږي. لېږدي رالېږدي او په میلیونونو عیسوي وګړي چې له خپلو همنوعانو سره د مینې د قانون له مخې ژوند کوي، یو بل وژني.

دا ټول څه معنی لري ؟ دا ټول له کومه راپیل شول ؟ څه لاملونو دغه خلک دې ته لمسول چې کورونو ته اور ورته کړي او ځانته ورته کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووژني ؟ د دغو پېښو لاملونه څه وو ؟ کوم قوت دغه خلک ، دغه شان کړو ته اړ کړل ؟ دا هغه ساده، خو خورا پر ځای او قانوني پوښتنې دي چې له ارادې نه پرته، هر انسان ته د تېرو زمانو د اسنادو په لیدو پیدا کېږي.

د دغو پوښتنو د ځواب د پیدا کولو لپاره، د بشریت سلیم عقل تاریخپوهنې ته چې موخه یې د ملتونو او بشریت پېژندنه ده، مرسته غواړي.

که تاریخ د پخوانیو نظر منلی وای. هغه به داسې وای چې:

- خدای د خپلو بندګانو، د ثواب یا هغه ته د سزا ورکولو لپاره ناپلیون واک ته ورساوه او د خپلو خدایي ارمانونو د سرته رسولو لپاره یې د هغه د ارادې لارښوونه وکړه. که دا ومنل شي، ځواب به بشپړ او څرګند و. د دغه ځواب له مخې به کېدای شو، ویل شوی وای، چې ناپلیون د خدای استازی ګڼل شوی وای، او یا دغه خبره منل شوې نه وای، وه، خو د دغې مودې په ټول تاریخ کې د هغو کسانو لپاره چې د خدای په ارادې غوره ګڼل شوي دي، هېڅ شک نه شته.

البته نوې تاریخپوهنه نه شي کولای، دې خبرې ته داسې ځواب ووایي...

نوې تاریخپوهنه، د دې پوښتنو په ځواب کې وایي:

- غواړي په دې پوه شي چې دغه خوځون څه دی ؟ د هغه سرچینې چېرې دي ؟ او کوم قوتونه د دې پېښې لاملونه شول ؟ نو واوري.

(( څلورلسم لویي خورا مغرور او ظالم سړی و. هغه بې سارې ښکلې معشوقې او هسې داسې وزیران لرل، خو د فرانسې واکمني یې سمه جوړه نه شي کړای. د هغه ځایناستي او میراث خواره هم خورا ضعیف خلک وو او هغو هم پر فرانسې سمه واکمني نه شوه کولای. هغوی هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په شان ځانته ګران کسان او معشوقې لرلې، خو له دوی نه پرته داسې کسان هم چې کتابونه یې لیکل. دا تلسمي پېښې په پای کې یو شل تنه په پاریس کې راټول شول او غربیې را پورته کړل چې ټول انسانان برابره او خپلواکه دي. او د همدې غږ له برکته وه چې په ټوله فرانسه کې پېښې هغې خواته لاړې چې خلکو، ټولو یو بل ډبول او وژل یې. ډېرو خلکو یو بل او آن پاچا وواژه، په اوبو کې یې سره ډوب کړل او څه وینې چې تویې نه شوې. په همدې وخت کې و چې په فرانسه کې یو نابغه پیدا شو. دا نابغه ناپلیون نومېده. هغه هرچېرې او هرځای ستر بري ګټل، یعنې ډېر خلک یې وژل. هغه ډېر خلک وژل، ځکه چې هغه ډېر لوی نابغه و. دا هېڅ څرګنده نه و چې هغه ولې افریقاته لاړ چې هلته هم وژنې وکړې او تر هغه کچې د افریقایانو په وژلو کې بریالی و چې فرانسې ته په راستنېدو سره یې ټولو ته امر وکړ چې ده ته به غاړه ږدي، او ټولو هغه ته غاړه کېښوده. امپراتورۍ ته په رسېدو سره، هغه د خلکو دوژلو په تکل، ایتالیا، پروس او اتریش ته لاړ. هلته یې هم ډېر خلک ووژل. په روسیه کې هم یو ټولواک و. دغه ټولواک الکساندر نومیده. هغه تکل وکړ چې په اروپا کې امنیت ټینګ کړي، نو ځکه له ناپلیون سره ونښت. د روسیې ټولواک ناڅاپه ۱۸۰۷کال کې له ناپلیون سره ملګری شو، خو په ۱۸۱۱ کال کې بیا سره وران شول. هغوی بیا د خلکو په وژلو پیل وکړ. ناپلیون شپږسوه زریزه پوځ جوړ او پر روسیې یې یرغل وکړ. مسکو یې لاندې کړ؟ وروسته بیا ناڅاپه له مسکوه وتښتېد. او بیا ټولواک الکساندر د شتاین او نورو په مشوره، اروپا د هغه چا په وړاندې چې نا آرامه کړې یې وه، یوه او متحده کړه. . د ناپلیون ټول پخواني متحدین ناڅاپه ټول د هغه دښمنان شول. دغه متحدان د هغو قوتونو په وړاندې چې ناپلیون بیا نوي میدان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستي و، ودریدل. متحدینو ناپلیون ته ماتې ورکړه او پاریس ته ورننوتل او لاندې یې کړ. هغوی ناپلیون له پادشاهۍ نه لاس په سر کېدو ته اړ کړ او پرته له هغه چې له هغه نه د ټولواکۍ ویاړ واخلي، په ډېر درناوي یې د ایلبو جزیرې ته تبعید کړ. هوکې! سره له هغه چې ۵ کاله پخوا او تر دې نه یو کال وروسته، هغه ټولو داړه مار او یاغي ګاڼه، خو بیا یې هم دغه راز درناوي کاوه. تر هغه وروسته ۱۸ لویي چې لا تراوسه فرانسویانو او د هغو متحدینو پر هغه ملنډې وهلې او خندل یې، د فرانسې پادشاهۍ ته ورسېد. ناپلیون په داسې حال کې چې د خپل پخواني ګارډ په وړاندې اوښکې تویولې، واک یې په رسمي توګه پرېښود او تبعید ته لاړ. ترهغه وروسته پیاوړي لوړ پوړي او ځیرک دیپلوماتان (په تیره بیا تالیران چې ځانګړی واک یې تر لاسه کړی و او د هغه له برکته یې د فرانسې پولې لاپسې پراخې کړې) په ویانا کې دیره شول، جرګې مرکې یې وکړې او د دې جرګو مرکو له برکته ځینې ویاړمن خلک نیکمرغه او ځینې بدمرغه شول. ناڅاپه او نېږدې و چې دغه دیپلوماتان او واکمنان سره ولوېږي او بیا دې ته چمتو شي چې خپلو پوځونو ته دیو بل د وژلو قومانده ورکړي. په دې وخت کې و چې ناپلیون له خپل یو ټولي پوځ سره بیا فرانسې ته راغي. فرانسویانو چې تر اوسه، له هغه سره کرکه لرله، سمدلاسه هغه ته غاړه کېښوده، خو متحد شاهان ددې کار له امله خوابدي او بیا یې له فرانسې سره جګړه پیل کړه. ستر نابغه یې مات کړ او هغه یې بیا ناڅاپه داړمار وګاڼه او دالینا جزیرې ته واستاوه. دغه بدمرغه تبعیدي له خپلو خپلوانو، عزیزانو او له خپلې ګرانې فرانسې نه لرې په وچه ګاګره کې په کراره مړشو او هغه لوی کارونه چې ده یې د کولو ارمان درلود، خپلو راتلونکو نسلونو ته پرېښودل. په اروپا کې بیا ارتجاع واکمنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو شاهانو پر خپلو ولسونو ظلمونه پیل کړل.

که تاسو دا فکر وکړئ چې د غه ټولې خبرې، پر تاریخي پېښو ملنډې وهل دی، تیروتلي یا ستئ. برعکس هغه څه چې وشول، د هغه متناقضو او نا اړوندو ځوابونو تر ټولو غوره او ملایمه څرګندونه ده چې تاریخ لیکونکو د خاطراتو دلیکونکو او د خپلو ځانګړو هېوادونو ، د تاریخ لیکونکو له لیکنو نه را اخېستې چې د نوي ټولیز تاریخ لیکونکي یې چې د فرهنګ د تاریخ لیکونکي دی، په خپلو کارونو کې وکاروي.

د غه شان ځوابونه ځکه عجیب او ګنګ برېښي چې نوی تاریخ لکه د کړو په شان ، هغو پوښتنو ته ځوابونه نه وايي چې چا پوښتنلي نه دي.

که تاریخ د خلکو او بشري ټولنې د خوځون انځورول او سپړل وي، نو لومړنۍ پوښتنه چې بې ځوابه پاتېږي (البته چې ټولې خبرې به ناپوهېدونکې پاتې شي) داده:

هغه قوت چې ملتونه خوځون ته هڅوي، کومه دی ؟ نوي تاریخ په خورا لېوالتیا ددې پوښتنې په ځواب کې یا وايي چې ناپلیون خورا نبوغ درلود او یا داچې ۱۴ لویي خورا مغروره و او یا دا چې نور بل چا او یا کوم لیکوال په خورا شوق همدا ډول کتابونه لیکلي دي.

دا ټول کېدای شي سم وای او کېدای شی و خلکو د هغه منلو ته چمتو وای ، خوبیا هم چا دا پوښتنه نه ده کړې. دا خبرې به هغه وخت پر ځای وای چې موږ ټول د خدای یو ډول دایمي قدرت ته قایله وای، هغه قادر او ابدي واکمن خدای چې خپل بندګان تل د ناپلیون ، لویي او لیکوالانو له لارې اداره کوي، خو ټول او تل د غه شان واک نه مني، نو له دې کبله مخکې له دې چې د ناپلیون ، لویي او لیکوالو په اړه وغږېږو ، باید هغه اړیکې پیدا کړو چې د دغو کسانو او ملتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوځون او غورځنګونو ترمنځ شته.

که د ابدي واک پرځای کوم نوی واک رامنځ ته شي، باید دا ثرګنده او ښکاره کړو چې دغه واک او قوت څه شي دی، ځکه د تاریخ ټوله په زړه پورتیا په همدغه واک کې نغښتې ده.

تاریخ ګواکې داسې ګڼي چې دغه قوت ګواکې شته او هغه ټولو ته ثرګند دی، خو له دې هیلې سره سره که د تاریخ دغه نوی قوت ثرګند وګڼو او هغه ومنو، وی وګڼو. ، خو بیاهم ، هغه څوک چې د تاریخ زیات کتابونه ولولي، په غیر ارادي ټوګه په دې شک کې پیدا کوي ، دغه قوت چې تاریخ لیکونکي یې هریو په خپل ډول تعبیروي، په پوره توګه ټول وپېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

هغه قوت چې خلک خوځوي کوم دی ؟

خاطره لیکونکي او هغه کسان چې جلا جلا د ملتونو تاریخ لیکي ، دملتونو د خوځون دغه قوت ، هغه واک ګڼي چې په اتلانو او پادشاهانو کې نغښتي دي. د هغو د پېژندنې او وینا له مخې تاریخي پېښې یوازې او یوازې د ځانګړو کسانو لکه ناپلیون یا الکساندر او په ځانګړي توګه د هغو کسانو ارادې او تکل پورې اړه پیدا کوي چې دغه مورخین د هغو په اړه لیکنې کوي.

د هغه قوت په اړه چې دغه خوځون رامنځ ته کوي، د مورخینو ځوابونه به په دې شرط ، د منلو وړ وي، چې هره پېښه د یو جلا مورخ له خوا راسپړل شي، خو که همدا چې د بېلا بېلو ملتونو مورخین، چې له بېلا بېلا نظرونو له مخې پطښنو ته ګوري، د هغوی ځوابونه به معنی او ارزښت ونه لري، ځکه د هغوی هریو نه یوازې هره پېښې ته، د جلا نظر له مخې ګوري بلکې پر هغې پېښې د بېلو نظرونو له مخې، هغه هم متضادو نظرونو له مخې پوهېږي، یو مورخ داسې چې دا ټولې پېښې د ناپلیون د واک زیږنده ګڼي، بل بیا وایي چې دا هرڅه د الکساندر ارادې پورې اړه لري او دربیم تن بیا هغه دبل چا تکل پورې تړي. ددې سربیره دغه ډله تاریخ پوهان آن د یوازیني قدرت د سرچینې په اړه سره یو لاس او هم انده نه دي.

تییر ، چې د ناپلیون پلوي دی وایي چې د ناپلیون واک د هغه پرنبوغ رحم او خواخوږۍ ولاړ دی. لانفری، چې جمهوري انده دی وایي چې د ناپلیون واک د خلکو په دوکو او غولولو چورلي. په دې ډول دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي پوهان د يوبل روايت ناسم ګڼي او له هغه سره هممهاله د پېښو د رازبرېدونکو قوت مفهوم هسې اپلتې بولي او د تاريخ غوره پوښتنې ته هېڅ ځواب نه وايي...

داسې برېښي، د ټوليز تاريخ ليکونکي چې د ټولو خلکو او ملتونو له پېښو سره اړوند دي، د پېښو د خوځون د قوت او د هغو د سرچينو په اړه د ځانګړو مورخينو د نظر پر ناحق والي پوهېږي. هغوی اتلان او ټولواکان د تاريخي پېښو خوځونکي نه ګڼي بلکې ډېر نور عوامل او پېښې د دغو پېښو د منځ ته راتګ عوامل بولي. دغه ډله مورخان په جګړه کې د يوه ملت د بري يا ماتې لامل نه د يوه تن د کړو وړو او واک اغيز بلکې د ګڼ شمېر خلکو د متقابلو کړو وړو اغيز ګڼي.

د دغو نظرياتو له مخې د تاريخي څېرو واک چې په خپله د نورو ډېرو قوتونو محصول دی، نه شو کولای، هغه څه وګڼو چې خپله د نورو پېښو سرچينه ده، خو د دې سره سره د ټوليز تاريخ زياتره ليکوال، د واکمن او ټولواک قوت، هغه لامل ګڼي چې په خپلواکه توګه پېښې رامنځ ته کوي.. د هغو داند له مخې که يو ځای تاريخي شخصيت د خپلې زمانې زېږنده دی او د هغه واک د بېلابېلو پېښو يوازينۍ سرچينه ده، خو بل ځای د هغه د واک سرچينې، پېښې دي. د ساري په توګه ګروينوس يا شلوسر او نور کله هڅه کوي دا ثابته کړي چې ناپليون د ۱۷۸۹ کال د انقلاب، د هغه انقلاب او نورو پېښو زېږنده دی، کله بيا وايي چې د ۱۹۱۲ کال جګړه او ځينې نورې پېښې چې د دوی له خيال سره برابرې نه دي، يوازې او يوازې د ناپليون د ناسمو کړو او ارادې زېږنده او آن دا هم وايي چې په ۱۷۸۹ کال کې دا اند ښېښنو د ودې مخنوی هم د ناپليون کار و. له يوه پلوه ناپليون د انقلاب د زمانې زېږنده او د هغه نه جلا کېدونکې برخه وه او له بله پلوه هماغه ناپليون

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه واک انقلاب، انقلابي اند ښتنې او هغه پورې اړوند افکار له منځه وړي دي.

دغه عجیب ضد او نقیض افکار کومه تصادفي خبره نه ده، نه یوازې هره شېبه له دغه شان ورته پېښنو سره مخامخ کېږو بلکې د ټولیز تاریخ دلیکونکو، سپړنې په پرله پسې توګه له همدا سې ضد او نقیض افکارو نه جوړ دي. ددغو مورخینو د ضد او نقیض خبرو د پیدا کېدو علت دادی چې دوی کله په څېړنه پیل کوي، نو چارې یې په نیمایی کې پاتېږي.

که دغه پېښې د ځو قوتونو د ګډو کړو وړو زېږنده وي، دې ته اړتیا ده چې د هغو ټولو ونډه په پام کې وساتي او پایلې ته ورسېږي، خو د ټولیز تاریخ لیکونکي هېڅکله دغه ټکی ته پام نه ساتي او دې ته اړوزي چې د خپلو چارو د پایلو لپاره کوم بل ځرګند قوت په پام کې ولري.

د ځانګړي تاریخ لیکونکي. د۱۸۱۲ کال دجګړې او په فرانسه کې دبوربن ، د کورنۍ دبیا واک ته رسېدو په اړه دا په ډاګه لیکي او هغوی ټول دغه پېښې د الکساندر د ارادې زېږنده بولي، خو ګیرونیوس، چې څېړنې یې ټولیز تاریخ پورې اړه لري ، هڅه کوي دا ثابته کړي چې د۱۸۱۳ کال جګړه او واک ته د بوربن د کورنۍ په راستنېدو کې ، نه یوازې د الکساندر بلکې په دغو چارو کې د شتاین، میتیرنیخ ، مېړمن دوستایل ، تالیران، فیخته ، شاتوبریان او نورو ارادې هم اغیز او ونډه لرله. دا ښکاره ده چې مورخینو دا چارې دالکساندر ارادې پورې تړلې ګڼلې دي...

کلیوال چې دباران دپیدا کېدو دلاملونو تصور هم نه شي کولای، کله چې دباران د وریدو یا دآسمان دشنه کېدو هیله لري، وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- باد وریځې راوړي دي یا بادونو وریځې خورې کړې دي. د ټولیز تاریخ مورخین کټ کټ همدا اسې دي. یو نیم وخت کله چې د هغوی نظر سره برابره وي ، وایي چې واک د پېښنو زیږنده دي.

دربیمه ډله تاریخ لیکونکي چې د فرهنګ څېړو نوم یې ګټلی دی هم دهماغه ټولیزو تاریخپوهانو پـه لاره تللـي دي. دغـه ډلـه کلـه ناکلـه لیکوال او ښځې هغه قوت ګڼي چې د ټولو پېښنو دپېښېدو سرچینه دي، خو هغوی پېښنو ته چور په بل ډول ګوري. هغوی دغه قوت د فرهنګ په نامه یادوي او هغه د متفکرینو د اند ښنو زېږنده ګڼي.

د فرهنګ څېړو تاریخ لیکونکي، د خپلو پخوانو تاریخ لیکونکو په څېر دي، ځکه که تاریخي پېښنې په دې ډول وڅېړل شي چې دې یا هغه چا داسې وکړل او هغسې یې وکړل. ولې نه شو کولای ووایو چې هغه بل بیا داسې یه هغسې وکړل، یا هغه بل کتابونه ولیکل ؟

دغه مورخین د هغو بې شمېره سترو عواملو نه چې دغه ژوند پېښنې بدرګه کوي، یوازې عقلي او فکري عوامل غوره کوي او وایي چې همدا د پېښنو عوامل دي، خو د دوی د ټول زیار سره سره چې دوی یې د دې لپاره ګالي تر څو ثابته کړي چې د پېښنو رامنځ ته کېدو عوامل د لیکوالو او متفکرینو او د هغو دهڅو او هاند زېږنده دي، د څه مودې وخت په تېریدو سره دا څرګند ېږي چې د څو تنو متفکرینو ذهني هڅو او دملتونو تر منځ څه اړیکي شته دي، خو په هېڅ ډول دا دمنلو نه ده چې د متفکرینو هڅې د خلکو د کړو وړو لارښوونه کوي.

او یا که د فرانسې دانقلاب بې رحمې وژنې ، د هغه تفکر زېږنده وبلل شي، چې دانساني حقوقو د برابرۍ او وروګلوۍ غوښتنه یې کوله..

خو بیا هم که دغه ټول ژوند او خورا هر اړخیز عوامل چې ډېر زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دي ، غوره وګڼو او دا ومنو چې د ملتونو د خوځون لارښوونه ، هغه مرموز او ناڅرګند قوت دی، چې تفکر نومېږي، د تاریخ اساسي پوښتنه بیا هم بې ځوابه پاتېږي. یا دا چې د شاهانو د واک لامل او دلیل چې تر دې دمخه یې یادونه وشوه او یا د مشاورینو او نورو اغیز چې د ټولیز تاریخ لیکونکو رامنځ ته کړي، د تفکر هغه نوی قوت رامنځ کوي چې له پرګنو سره یې اړیکي څرګند نه دی.

خو دوی مخکې له دې چې د ټولیز تاریخ لیکونکي او نور مشاورین د هغه یادونه کړې وي، داند ښنې هغه نوی قوت چې له پرګنو سره یې اړیکي لا څرګندې هم نه دي، ورزیاتېږي.

دا حق لرو تصور وکړو چې ناپلیون دا واک درلود او وې کړای شول چې ځینې پېښې او چارې تر سره کړي، خو له یو څه مودې تر تیریدو وروسته دا تصور هم کولای شو چې د ناپلیون واک له ځینو نورو لاملونو سره وکولای شول ځینې سترې پېښې رامنځ ته کړي، خو څنګه کولای شو دا ومنو چې (( ټولنیز قرارداد )) کتاب د دې لامل شوی وي چې فرانسویان دې یو بل ډوب کړي. دا ناشونې ده چې د دغه نوي قوت او پېښو ترمنځ پر اړیکو بې دلیله پوه شو.

بېشکه چې د ټولو هغو کسانو ترمنځ چې په یوه زمانه کې ژوند کوي، اړیکي شته دي، نو له دې کبله د پوهانو او متفکرینو د هلوځلو او د هغو د هممهالو تاریخي غورځنګونو ترمنځ د اړیکو موندل ناشونې خبره نه ده. دا اړیکي کېدای شي هماغو اړیکو ته ورته دي لکه د بشري غورځنګونو او سوداګرۍ، هنرونو ، کرکیلې او نورو ترمنځ اړیکو کې ولټول شي، خو دا چې ولې د فرهنګي تاریخ لیکونکو لپاره د خلکو ذهني هلې ځلې د تاریخي غورځنګونو علت یا انځورونکي بربښي ؟ د پوهېدو وړ نه دي. د مورخینو دغه پایله کولای شو ، دا سې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوسپړو:

۱- تاریخ لیکنه د پوهانو کار دی او هغه طبیعي او ښه برېښي چې خپل ټولیز دریځ د ټول بشریت د خوځون بنسټ او د غورځنګ لمسون وګڼي. هماغه شان چې سوداګرو، بزګرانو او پوځیانو ته دا طبیعي او ښه برېښي چې خپلې هلې ځلې همداسې وګڼي( خو دا ځکه داسې کېدای نه شي چې سوداګر او پوځیان تاریخ نه لیکي ).

۲- دا چې معنوي هلې ځلې ، ښوونه او روزنه، تمدن ، فرهنګ او اندېښنه، داسې ناڅرګنده او ناسپړل شوي مفاهیم دي چې په خورا آسانۍ د هغو تر سیوري لاندې کېدای شي د هر نظر د تایید لپاره داسې کلمې او مفاهیم وکارول شي چې تر دې لا جړې او ناڅرګند دی، او د هغو په کارونو سره هر څوک کولای شي ، د خپلو موخو لپاره په آسانۍ کلمات پیدا کړي. ، خو که د دغه راز تاریخ له ځانګړي ارزښت نه تېرشو (کېدای شي هغه څه او یا د چا لپاره په کار وی ) د فرهنګ تاریخونو چې ټولیز تاریخونه، ورځ تر ورځې هغو ته لېوالتیا ښکاروي، د دغو ځانګړتیاوو درلودنکي دي چې مذهبي، فلسفي او سیاسي، ښوونځي د پېښو او تاریخي خوځون اصلي لاملونه ګڼي او بیا هغه په خورا ځیر څېړي، خو هر وار چې کومه رښتینې تاریخي پېښې لکه د ۱۸۱۲ کال جګړه وڅېړي. هغه بې ارادې د قدرت زېږنده بولي. د ساري په توګه هغوی دغه جګړه په ډاګه د ناپلیون د ارادې زېږنده شمېري. د فرهنګي تاریخ لیکنې، تاریخپوهان، بې له ارادې خپل ضد خبرې کوي او دا ثابتوي ، هغه نوی قوت چې دوی خپله د تاریخي پېښو د شننې او سپړنې لپاره موندلای دی. د تاریخي پېښو د څرګندونې او شننې توان نه لري او د تاریخ د شننې او سپړنې ، یوازینۍ وسیله هماغه څه ، یعنې هغه واک دی چې دوی ګواکې نه مانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

لوکوموتیف روان دی. پوښتنه کېږي چې د هغې د خوځېدا لامل څه شي دی؟ کلیوال وایي چې هغه شیطان خوځوي. بل وایي چې اورګاډي ځکه خوځېږي چې د هغه د تنګ څرخونه خوځي او دربیم ټینګار کوي چې د هغه د خوځېدا لامل هغه لوګی دی چې باد یې له ځانسره وړي.

د کلیوال خبره څوک هسې په سادګۍ ردولی نه شي، ځکه د هغه هغه په پوره توګه هغه ملې ده. د دې لپاره چې څوک د هغه خبره رد کړي ، یا باید دا ثابته کړي چې شیطان نه شته او یا کوم بل کلیوال هغه ته دا په ډاګه څرګنده کړي چې اورګاډی نه شیطان بلکې جرمن چلوونکی چلوي. یوازې د عقیدې د دغه، تضاد له پېدا ایښت نه دا څرګندېږي، چې دواړه تیروتلي دي، خو هغه چا چې د اورګاډی د ګرځېدو لامل د هغه څرخونه ګڼلي، په خپله تیروتنه خپله پوهېږي ، ځکه که هغه په دې اړه خپلو څېړنو ته دوام ورکړي، د څرخونو د خوځېدو لامل لټوي ، تر هغه چې په وروستي دلیل، یعنې د بخار په خوټېدا پوه نه شي، هغه به دا حق ونه لري چې د لاملونو د لټولو نه لاس په سر شي او هغه چې د اړګاډي د خوځون لامل هغه لوګی چې شاته د رومي ګڼلی ، هغه چې کله د څرخونو دلیل ناسم لیدلی دی، بله لومړنۍ نښه لوګی یې چې لیدلی، هماغه یې د خوځېدا لامل بللی دی.

هغه یوازیني مفهوم چې د اورګاډی د خوځېدا مفهوم یې څرګند کړي، د هغه قوت مفهوم دی چې اورګاډی له ټولیز او لیدونکي خوځون سره برابر وي.

هغه یوازینی مفهوم چې د هغه په مرسته کېدای شي د ملتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېدا لامل څرګند شي، هغه د هغه قوت د مفهوم سپړنه ده چې د ټول ملت د خوځون د مفهوم سره برابروي.

خو ببلا ببل تاريخ ليکونکي، هريو د خوځېدا لامل بل قوت ګڼي. دا سې ده چې هر يو له يو بل نه، نه يوازې ډير توپير لري بلکې په هېڅ ډول دليدونکي او څېړنې ور خوځون سره برابر نه دي. يوه ډله دا سې قوت مني چې دا تل په جوهر کې نغښتي وي. لکه کليوال چې د ارګاډي خوځوونکي، شيطان ګاڼه. بل بيا لکه د هغه چا په شان چې دارګاډي لامل چورلېدونکي څرخونه ګڼل دانسانانو خوځون له يو بل قوت سره تړلی بولي، بله ډله بيا د بشر د خوځون لامل کوم بل قوت ګڼي، هغه هم د هغه چا په شان چې له ارګاډي نه پورته کېدونکی لوګی، اصلي عامل ګاڼه.

تر هغه پورې چې د ځانګړو شخصيتونو تاريخ ليکل کېږي، دا مهمه نه ده چې هغه سزار، که اسکندر، لوترو يا ولتر، د ټولو خلکو او يا نه د ټولو خلکو تاريخ، يعنې د هغو ټولو خلکو تاريخ چې د پېښو په پېښېدو کې يې ونډه لرله، هرو مرو به ځانګړو کسانو ته دا ويار وربښل کېږي چې نور خلک يې يو ګډ ارمان ته د رسېدو لپاره سره يو کړي دي. او تاريخ ليکونکو ته په دې اړه يوازې يو مفهوم ښه څرګند دی او هغه قدرت يا واک دی.

دغه مفهوم يوازينۍ وسيله ده چې د هغه په مرسته کولای شو د تاريخ هغه شان شننه وکړو چې زموږ زړه غواړي او هرهغه څوک چې دغه وسيله ماته کړي يا يې راپرزوي، لکه هغه شان چې باکل، دا کار وکړ. ځکه هغه د تاريخ په څېړنه کې بله لاره غوره نه ګڼله، ځان به د هغه د جوړېدو له وروستي ارمانه نه بې برخې کوي.

د تاريخي پديدو د سپړنې لپاره د قدرت د مفهوم د هرو مرو کارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهد ، په خپله د ټولیز او فرهنګي تاریخ لیکونکي دي ، دوی د قدرت د مفهوم د نه منلو او ناسم ګڼلو سره سره ، بیا هم هره شېبه له هغه ګټه اخلي.

د تاریخ پوهه په بشري چارو کې ، د پیسو د لوټ او سکو د چلند بهیر ته ورته دی. د تاریخي شخصیتونو ځانګړی ژوند لیک و د هغو د سکو ځانګړي تاریخو ته پاتې کېږي. هغه(پیسي ) هر هغه پورې په کرار او قناعت ښوونکي توګه، چلېږي، خپله د نده سرته رسوي ، نه یوازی تاوان یې چاته نه رسېږي، بلکې ګټه هم لري، چې د هغو د زیرمې یا پشتوانې پوښتنه را منځ ته شوي نه وي.

تر هغه چې د پېښو په پېښېدو کې د اتل د ارادې لامل پسې ونه ګرځو، د تیبیر ( یو مورخ ) تاریخ به په زړه پورې او روزونکی او آن چې شاعرانه او خوږ راتـه برېښـي، پـه عمـدي توګه ، همدا چې د کاغذي پیسو د اصلیت خبره را منځ ته شي او یا دا چې هغه څنګه اسانه جوړېږي، یا دا چې هغه ډېرې او ژر جوړېږي، یا د هغه د چلېدو لپاره د زرو زېرمه او تضمین په کار دی، - نو په همدې توګه د دغه راز تاریخونو د رښتینې ارزښت پوهېدنه ځکه ګرانه ده، هغه هم له دې کبله چې بې شمېره لیکل شوي دي، او یا له دې کبله چې څوک له سادګۍ نه دا پوښتنه کوي چې ناپلیون په کوم قوت و کولای شول، دغه چارې ترسره کړي ؟ نو هر څه تر شک لاندې راځي، یعنې دا چې خلک غواړي خپلې کاغذي پیسې په سوچه زرو بدلې کړي.

د ټولیز او فرهنګي تاریخونه لیکوال، هغو کسانو ته ورته دي چې د پیسو د سکو په بې ارزښتۍ پوه شوي دي او غواړي له سپک او کم ارزښت فلزه چې رنګ یې طلا ته ورته دی سکې جوړې کړي. د هغوی سکې په رښتیا هم د فلز غږ لري، خو له همدې غږ او شرنګا پرته بل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري. کاغذي پيسې کېدای شي ناخبره کسان وغولوي، خو فلزي جعلي سکې له غرېه پرته بل څه نه لري. هېڅ څوک به ونه شي غولولی. هماغه شان چې سره زر هغه وخت سره زر دي چې نه يوازې د راکړې ورکړې بلکې د ځېنو نورو شيانو د جوړولو لپاره کار ترې واخېستل شي، د ټولېز تاريخ ليکونکي هم هغه وخت هيله منددي چې وکولای شي د تاريخ اساسي پوښتنې ته ځواب ووايي او هغه پوښتنه داده:

- واک څه شی دی ؟

دې پوښتنې ته ، د ټوليز تاريخ ليکونکو ځواب څور ناسم دي او د فرهنګي تاريخ ليکونکو خو په پوره توګه له هغه نه مخ اړوی او د نورو پوښتنو په ځوابونو اخته دي. لکه هغه شان چې سرو زرو ته ورته جوړې شوې جعلي سکې يوازې د هغو کسانو ترمنځ چې يا يې سره جوړه کړې وي او يا د سرو زرو له ځانګړتياوو سره آشنا نه وي ، د ګټې او راکړې ورکړې وړ وي، هماغه شان ده چې د ټوليز تاريخ او د فرهنګي تاريخ ليکونکي، تاريخ چې اساسي پوښتنې ته ځواب نه لري، يوازې د خپلو ځانګړو موخو لپاره چې د لنډ موديزو سکو په شان ، لنډ موديزه وي ، يا په ځينو پوهنتونونو کې او يا هم د هغې ډلې لوستونکو په کار راحي چې د دوی په وينا د غوره کتابونو په لټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

همدا چې تـاریخ، دپخوانیو لـه دغې عقیدې نـه سترګې پټې کړې چې لوی خدای ملت ، د هغه شاه د ارادې تابع کړی دی چې دده سیوری او استازی ګڼل کېږي، نو که له دغو لاندنیودوو تګلورو نه لږترلږه یوه غوره نه کړي، له ستونزو نه پرته به آن یو ګام هم وړاندې وا نـه اخیستي شي:

یا باید دپخوانو په شان ټولې چارې د خدای د ارادې زیږنده وبولي او یا په ځانګړي توګه د هغه قوت سپړنه او شننه وکړي چې د تـاریخي پېښو د پېښېدو لامل دی او هغه واک نومېږي.

پخواني باورتـه ورستنېدل ځکـه ناشونی دی چې عقیـده (ګـروه ) شړېدلې او اعتقاد سست شوی دی، هغه ګرانه خبره برېښـي ، نو لـه دې امله دې ته اړتیا لیدله کېږي چې د واک شننه او سپړنه وشي.

نـاپلیون فرمـان ورکـړ چـې پـوځ راټـول او جګـړې تـه لاړ شـي، ددې فرمانونو تصور موږ ته دومره عادي خبره برېښي او موږ له هغې سره تـر دې کچې روږدي شوي یو ، که دا پوښتنه چې ولـې شپږ سوه زره پوځیـان جګړې ته ځي او یا ناپلیون خبرې وکړې، موږ ته بې معنی ښکاري. هغـه د واک خاوند و او هر فرمان به یې چې ورکاوه، هغه به سمدلاسه ترسره کېده.

دا ځواب بـه هغـه وخت قناعت ښـونکی وای، کـه مـوږ پـه دې بـاور لرلای چې ټول واک ده ته خدای وربښـلی دی، خو کـه مـوږ کـوم بـل نظر وړاندې کړو ، نو دې ته به اړ شو چې ووایو، څنګه او ولـې یـوتن کـولای شول، پر نورو دومره واک ولري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واک نه شي کېدای هغه مخامخ جسمي واک او سي چې يو زورور يې پر کمزوري لري، ددې واک بنسټ هغه څه هم نه شي کېدای چې ځينې ساده مورخين، هغه د روحانيونو واک او لاسبري په نامه يادوي.

دغه مورخين وايي چې تاريخي مخورې څېرې ، هغه ځانګړي انسانان دي چې د ستر او لوړ روح او چاته نا ورته ځيرکتيا خاوندان دي. ددوی دغه څه نبوغ نومېږي. هغه دهمدې ځانګړتيا امله تر نورو لوړتيا لري دا هم نه شي کېدای ومنل شي چې د واک بنسټ پر روحي، اخلاقي لوړتياوو ولاړ دی، په تيره بيا ددغه شان اتلانو لکه د ناپليون چې د روحي-اخلاقي ارزښتونو په اړه يې هم ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي.

تاريخ موږ ته دا هم ښکاره کوي چې ټلورلسم لويي او ميترنيخ چې پر ميليونونو ميليونونو وګړو يې واک چلولی دی، نه يوازې روحي لوړتيا نه لرله، بلکې له اخلاقي پلوه هم د خپلو ميليونونو تر لاس لاندې سرتيرو له هر يو نه کمزوري وو.

که د واک سرچينه نه د واکمن په بدني قوت او نه د هغه په روحي-اخلاقي حالت کې نغښتې وي، نو دا په ډاګه څرګنده ده چې هغه بايد د واکمن او دده تر لاس لاندې پرګنو ترمنځ په اړيکو کې چې دی پرې واکم دی، نغښتې وي.

دحقوقو علم لکه د هغه صراف په څير چې واک ته د سرو زرو په سترګه ګوري او وعده کوي چې هغه به په سوچه زرو بدلوي، د واک په اړه هم دې ته ورته فکر کوي.

واک د پرګنو هغه ډله ايزه اراده ده چې د هغو په مخامخ، برالا او يا خاموشه خوښه، د هغو غوره شوي حکومت ته ورلېږدول شوې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحقوقو په علم کې چې د دولت او قدرت د جوړښت په اړه له خبرو اترو او دلايلو برابر شوی دی. آن که ددې کار کېدل هم شوني وي، هر څه څرګند دي، خو کله چې د دولت او واک مفاهيم دتاريخ په اوږدو کې څېړل کېږي، بيا خبرې جړې او سپړنې ته اړتيا لري.

دحقوقو علم دولت او واک ته په هغه سترګه ګوري لکه پخوانيو چې اور ته کتل، يعنې يو مطلق شي ته، خو دتاريخ له نظره دولت او واک داسې پديدې او پېښې دي لکه زموږ د زمانې يو فزيکپوه لپاره چې اور نه دطبيعت قوا بلکې يوه پېښه او پديده ده.

دتاريخ او دحقوقو دعلم دتوپير پر بنسټ دی چې دحقوق علم کېدای شي وکولای شي. په هر اړخيزه توګه دا څرګنده کړي چې ددغه علم له نظره واک څنګه ټينګ شي او واک څه شي دی، د همدې حقوقو دعلم پر بنسټ دی، چې حقوق، د وخت له اړيکو خپلواکه دی، خو د زمان په اوږدو کې د واک دبدلون د معنی په اړه دتاريخ پوښتنې بې ځوابه پاتېږي.

که واک د خلکو هغه ډله ايزه اراده ده چې واکمن ته يې ورلېږدولې دي، ايا پوګاچوف هم د خلکو استازی دی ؟ ذکه پوګاچوف د خلکو د ارادې استازی نه دی، نو لومړی ناپليون څنګه د خلکو د ارادې استازی دی ؟ ولې دربيم ناپليون چې بولوني په سيمه کې ونيول شو، شوکمار او جاني وګڼل شو او بيا وروسته هغه کسان جاني او شوکمار وګڼل شول چې دی يې نيولی و ؟

ايا په درباري انقلابونو کې چې دوه درې تنه يې سرته رسوي، هم د خلکو اراده ، نويو څېرو ته ورلېږدول کېږي ؟ ايا په نړيوالو اړيکو کې د ملتونو حق، لاسبرو واکمنو ته ورلېږدول کېږي ؟ ايا د ۱۸۰۸ کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راین د اتحاد د غړو هېوادونو اراده ناپليون ته ورلېږدول شوې ده ؟آيا پر ۱۸۰۹ کال کې چې زموږ پوځ ، د فرانسي پلوي شو او دواړه د اتريش په وړاندې ودرېدل، د روس د ملت اراده ناپليون ته وروليږولې شوه.
دې پوښتنو ته درې ځوابونه لرو:

- لومړي ، بايد دا ومنو چې د ملت اراده تل بې له هر ډول شرايطو او حالاتو پرته، هغو واکمنو ته چې ملت ځانته غوره کړي ورلېږدول کېږي او د نوي واک پيدا کېدل او لېږديدلي واک په وړاندې دريدل ، بايد دربنتني واک په وړاندې تيری وبلل شي.

دويم، يا بايد دا ومنو چې د خلکو اراده واکمن ته د ځانګړو او ځرګندو شرايطو له مخې ورلېږدول کېږي او دا خلکو ته ځرګنده کړو چې پر واکمن دهر ډول داسې زور راوستل او د هغه داسې مخنوي چې د هغه د واک د راپرزيدو لامل شي، له دې کبله چې واکمنو د واک دلېږدولو شرايطو سم مراعات کړی نه دی.

۳- يا داچې:

يا دا که دا ومنو چې د خلکو اراده واکمن ته د شرايطو پر بنسټ ور لېږدول کېږي، خو دغه شرايط ښکاره او ځرګند نه دي، او د ګڼو واکونو پيدا ايښت ، د هغوی مبارزه او پرزيدل ، يوازې له دې امله دی چې دولت له يوې ډلې نه بلې هغې ته د ارادې په لېږدولو کې پر ناځرګندو او ناپېژندل شويو شرايطو څارنه لرله، خو په سمه توګه يې مراعات کړې نه ده.

تاريخپوهان د درې اصولو له مخې له دولت سره د خلکو اړيکې سپړي.

داسې بربښي، چې يوه ډله تاريخپوهان، يوازې د سادګۍ له مخې د قدرت په معنی پوه شوي نه دي. يعني هماغه د مخورو او تاريخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو د ژوند لیکونو لیکوال او هغه چې د یوه هېواد تاریخ له نورو هغو نه جلا ګڼي ( هغه څه چې مخکې موږ پرې وغږېدو ). دوی په دې باور دي چې د خلکو ډله ایزه اراده له کومه شرط پرته ، تاریخي شخصیتونو ته ورلېږدول کېږي او له دې امله د لیکنې په لړ کې د واکمن د انځورولو په وخت کې، داسې تصور کوي چې مطلق، یوازینی، ربښتیني واک له هغه سره دی، او هر هغه څوک چې دده پر وړاندې د دریدا تکل وکړي، هغه واک نه واک بلکې د واک دښمن او را پرزیدونکي او یاغي دی.

د هغو نظریه، د تاریخ دلومړنیو آرام وختونو لپاره وړتیا لري، خو د هغو دغه نظر د ملتونو له شخړو ، جنجالونو او کړکیچ نه په ډکو پړاونو کې چې هممهاله څو بېلابیل واکونه رامنځ ته کېږي او دیو بل په وړاندې دربږي ، دا عیب لري چې( د ساري په توګه ایګیتمیست ( هغه تاریخ لیکونکي چې واک د بورین دکورنۍ حق ګڼي ) هڅه کوي ، دا ثابته کړي چې د کونوینت ، دیریکتوریا او بناپارت د حکومتونو واک، له راپرزونکو او شوکمار واکونو نه پرته بل څه نه وو. دغه راز دجمهوري غوښتونکو او بناپارت تاریخ لیکونکي هم هڅه کوي دا ثابته کړي چې یوازې کنوانسیون قانوني او ربښتیني واک و او بل بیا هڅه کوي چې امپراتوري ربښتیني واک و او پاتې نور د واک دښمنان او راپرزونکي وو. البته دا څرګندیږي چې د واک په زړه ددغه تاریخ لیکونکو دغه راز څېړنې او سپړنې چې ټولې له یو بل سره ضدیت لري، یوازې د ماشومانو او تنکو زلمیانو په کار او د پام وړ شي او بس.

بله ډله تاریخپوهان چې د تاریخ د دې نظریې په ناسموالي پوه شوي دي، په دې باور دی چې واک دولت ته د ټول ملت له خوا په مشروط ډول سپارل شوی دی او تاریخی شخصیتونه یوازې د ځېنو شرایطو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منلو او ځينو کړنلارو په سرته رسولو سره واک ترلاسه کوي. هغه هم هغه وخت چې د ملت اراده يې په ځانګړې ډول او دځانګړو شرايطو له مخې ، هغه هم هغه شرايط چې څوک ، هغه موږ ته نه سپړي، ورته ټاکل کېږي. او که شرايط يې موږ ته وسپړي ، بيا هم د خبرو په چاروکې ضد او نقيض والي راپيدا کېږي. . که د واک ته رسېدو يا لېږديدو شرايط دملت شتمني، آزادي يا پوهه وګڼو ، نو بيا څنګه څلورلسم لويي يا څلورم ايوان په آرامۍ سره د ژوند ترپايه پادشاهي کوي ؟ او بيا شپاړلسم لويي او لومړی کارل د خلکو له خوا وژل کېږي. دغه تاريخ ليکونکي بيا دې پوښتنې ته داسې ځواب وايي چې دڅلورم لويي دظلم پېټې د شپاړلسم پر سر ورولويد ، خو دا څوک نه پوښتي چې ولې د څلورلسم لويي د کړو وړو او ګناه کفاره ، شپاړلسم لويي ورکوي. او ولې شپاړلسم لويي دبل چا دګناه له امله جزا ويني ؟ او ددې جزا موده به څومره وي ؟ دې پوښتنو ته نه څوک ځواب وايي او نه څوک ځواب ويلی شي. بله هغه خبره او پوښتنه چې څوک هغه ته ځواب نه وايي ، هغه داده چې څنګه د خلکو د ارادې واک په څو وروستيو پېړيو کې ، واکمنانو او د هغو ځايناستو ته پاتېږي او بيا ناڅاپه هغه د **۵۰** کالو په اوږدو کې ، د کنوانسيون دجرګې، د ديرکتوار، ناپليون ، الکساندر، اتلسمه لويي، بيا ناپليون. لسم کارل، لويي فليپ ، جمهوري دولت او دريیم ناپليون ترمنځ لاس په لاس ګرځي ؟ دغه تاريخ ليکونکي، له يوه واکمنه بل واکمن ته د واک ددغو چټکو لېږدولو په ځرګندولو ، په تيره بيا د نړيوالو اړيکو په برخه کې د هېوادونو دشخړو ، يود بل دلاندې کولو او د ټلوالو د جوړولو په برخو کې ، غواړي که نه غواړي، دا بايد ومني چې ځينې دغه چارې د واک له رښتيني او په حق لېږدولو سره هېڅ ډول اړيکي نه لري. او زياتره هغه پېښې دي چې د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیپلمات، یا پادشاه او یا کوم ګوندي مشر له ناتوانۍ دوکې یا تیروتنې پوره اړه لري. داسې چې زیاتره تاریخي پېښې کله کورنۍ جګړې ، انقلابونه او لویې بریاوې ، ددغو تاریخ لیکونکو له نظره ، نور نه د واک لېږدونه ، دازادۍ ارادې له امله بلکې دیوه یا څو تنو د روغجنې ارادې پایله ده، نو له دې امله ، یعنې دوک واک لاندې کړی دی. او له همدې امله دی چې یوه ډله تاریخ لیکونکي هم په ځېنې تاریخي پېښې د تاریخ له تیوری نه جلا او ځانګړي ګڼي.

دغه تاریخ لیکونکي هغو باغوانانو ته ورته دي چې ځېنې شنیلي له ځمکې لاندې زړو نه په دوو پاڼو کې رازرغونېږي، نو په ډاډ سره وایي چې دخرما ونه، مرخبړي او آن له خپل ټول سوره، لویو پاڼو او آسمان ته تلونکو ګڼو څانګو سره چې په هېڅ ډول هغو دوو پاڼو ته ورته ، نه دی. چې په خپله نظریه کې یوه استثنا ګڼي.

دریمه ډله تاریخ لیکونکي په دې باور دی چې تاریخي شخصیتونو ته، د ملت لخوا د واک لېږدول ځېنې شرایطو پورې اړه لري، خو موږ دا شرایط نه پېژنو . هغوی وایي چې تاریخي څېرې له دې کبله د واک خاوندې دي چې دوی ته د ملت سپارل شوې اراده سرته رسوي.

په دې ډول که ملت د خوځوونکي اراده ، نه په تاریخي شخصیتونو بلکې په ملتونو کې نغښتې ده، نو د دې تاریخي خلکو اهمیت په څه کې دي ؟

دغه تاریخ لیکونکي وایي چې تاریخي شخصیتونه د ملت اراده په ځان کې نغښتې ده او د هغو کړه وړه ، د ملت کړه وړه استازیتوب کوي.

اوس پوښتنه پیدا کېږي او هغه دا چې ایا د تاریخي شخصیتونو ټول کړه وړه د خلکو د ارادې څرګندونه کوي یا یوازې د هغو غوره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څرګنده برخې ؟

او یا که هغه شان چې ځینې باورلري د تاریخي شخصیتونو ټول کړه وړه د ملت د ارادې څرګندونکی دي، نو لـه دې کبلـه د دغـه شان کسانو لکه ناپلیون او ټولواکې کاترینې ژوند لیک، له خپلو ټولو د پام وړ او د پـام نـه وړ برخـو، دربـاري دوکـوا او زيـات او کـم ويلو سـره، بايـد د فرانسویانو او روسانو د ژوند څرګندونکي وي او دا خبره پـه څرګنده توګه بې معنی خبره ده، خو که یوازې د یو تـاریخي شخصیت د ژونـد د چارو یوه برخه د ملت د ارادې څرګندوی وي، لکه هغـه شـان چې د ملت یو بله برخـه ګـواکې د فلسـفي مـورخین وايي چې همداسې ده، نو د دې لپاره چې دا پـه ډاګه کړو چې د تـاریخي شخصیت د ژونـد کومـه برخـه د ملت د ژوند څرګندونه کوي، باید تر هر څه لـومړي وګـورو چې د خلکـو ژوند یعنې څه ؟

دغه تاریخپوهانو لـه دغـې ستونزې سره پـه مخـامخ کېدو سره، یـو داسې جړ، ناڅرګند، ټولیز او ذهني مفهـوم رامـنځ تـه کـوي چې کـولای شي، خورا زياتې پېښې د هغو پـه ډله کې وشمېرو. هغـوی دا دعـوا لـري چې د بشریت پرمختـګ پـه همـدې مفهـوم کـې نغښـتې دي. هغـه ذهنـي مفاهیم چې تر ټولو زیات کارول کېږي او ټول تـاریخ لیکـونکي هغـه تـه پاملرنه لري، هغه ازادي، برابـري، ښوونه اوروزنـه. پرمختـګ، تمـدن او فرهنـګ دي. تاریخپوهـان چې لـه دغـو ذهنـي مفـاهیمو، ملـت او خلکونه، یو د ملت د پرمختګ په توګـه وټـاکي، نو دې تـه اړوزي چې د هغـو پادشـاهانو، وزيرانـو، پـوځي مشـرانو، لیکوالـو د ټـولنې سـترو، بدلوونکو، پاپانو او ژورنالیسـتانو، د ژوند څېړنې تـه پام وکړي چې پـه ویاړ او یاد یې مجسمې او نورې یادګاري نښې جوړې شوي دي. د دوی د دغـو څېړنـې موخـه داده چې د دغـه خلـک د دوی پـه خپلـه وینـا د دغـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفاهیمو د خپریدا او لا پوهېدو لپاره هڅې کړې دي او یا هم د هغه په وړاندې دریدلي دي. خو له دې کبله چې د هېڅ لامل له مخې دا نه شو ثابتولای چې دبشریت موخه ازادي، برابري ، ښوونه اوروزنه. یا د تمدن خپرول دي او له دې کبله چې له شاهانو او مشرانو سره د پراخو پرګنو اړیکي یوازې او یوازې پر دې زړه راښکونکي تصور ولاړ دی چې د خلکو اراده تل هغو کسانو ته ورلېږدول کېږي، چې موږ غوره کړي دي. دا څرګنده ده چې په میلیونونو وګړي، چې خپل کور او نغري پریږدي، خپلې کرکیلې ته شا کوي، له پلو اوړلي، دنورو کورونو سوځي. یو او بل وژني، هېڅ ډول نه شي کولای د هغو لسګونو خلکو پر کړو وړو اغیزه وکړي چې نه دچا کور سوځي، نه دچا ځمکې لاندې کوي، نه خپل همځیلي وژني. دغه خبره تاریخ په هرګام کې ثابتوي. ایا کولای شو دتیرې پیړۍ په پای کې ، د لودیز د خلکو دپاڅون او ختیځ پلو ته د هغو دخوځېدا لاملونه دځلورلسم، پنځلسم او شپاړلسم لویي، د هغود معشوقو ، وزیرانو ، ناپلیون، روسو ، دیدرو ، بومارشه او نورو هغو ته په ورته کسانو په کړو او ژوند کې مو ندلای شو ؟

ایا ختیځ ته، کازان اوسایبریا ته ، د روسیې د خلکو یرغل علت دځلورم ایوان په ناروغ طبیعت او له کوربا یسکي سره د هغه په لیکونو او مراوده کې موندلای شو ؟

ایا د صلیبي جګړو په پړاو کې د خلکو دخوځېدا علت د ګوت فریدوف او نهم لویي او د هغو د ښځو په ژوند لیک کې پیدا کولای شو ؟ ایا زموږ لپاره ، له لودیزه، ختیځ ته بې موخې، بې لارښوده ، په ډاګونو کې بې ثمره، د سرګردانو پرګنو ، زاهد پییر پسې خوځون ، نه پوهېدونکې پاتې نه دی ؟ او تر دې لا مهمه چې دا خبره ناپوهېدونکې پاتې ده چې دتاریخي شخصیتونو ( پاپانو ) سپېڅلی ارمان یعنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیت المقدس دژغورلو خوځون ولې ودرول شو ؟ پادشاهانو ، مذهبي مشرانو او مخورو جنګیالو ، خلک دې ته لمسول چې وړاندې لاړ شي، سپېڅلې خاوره آزاده کړي، خو خلک ځکه نه خوځېدل چې د هغوی ناڅرګند علت او لمسون چې دوی خوځېدا ته هڅول ، نور شتوالي نه لاره. دا څرګنده خبره ده چې د ګودفراو او مېن زنګر، دژوند تاریخ نه شي کولای د ملتونو د ژوند د تاریخ بېلګه واوسي. د ګودفراو او مینزنګر ژوند لیک ، د هغوی د ژوند ، ژوند لیک پاتې شوی، خو د خلکو ژوند او د هغه لمسون او دخوځون علتونه ، هماغه شان پټ پاتېږي.

تر دې هم لا دلیکوالو او اصلاح غوښتونکو تاریخ کولای شي، موږ ته د ملتونو د ژوند سپړنه وکړي.

که څه هم دفرهنګ تاریخ موږ ته، دلیکوالو او اصلاح غوښتونکو دژوند حالت او علتونه او د هغو دتفکر بڼه په ډاګه کوي، موږ ته دا رازده کوي چې لیوتر، تند مزاجه و ، داسې او هسې ویناوې کولې، یا روسو ناباوره و او هسې کتابونه یې لیکل، خو موږ ته داسې نه وایي چې ولې د اصلاح غوښتونکو تر غورځنګه وروسته خلکو پر یو بل ور ودانګل او دفرانسې انقلاب په وخت کې یې یو بل وژل او اعدامول.

که دغه دواړه تاریخونونه ، هغه شان سره ګډ کړو لکه د نوي تاریخ لیکونکي یې چې ګډ وي، نو هغه به د پادشاهانو او لیکوالو تاریخ وي، نه د خلکو او ملتونو تاریخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

د ملتونو ژوند د څوتنو په ژوند کې نه رانغاړل کېږي، دا له دې کبله چې ددغو څو تنو ترمنځ اړیکي لندې او ناڅرګندې دي. دا نظریه چې دغه اړیکي تاریخي شخصیتونو ته د خلکو د ارادې په لېږدولو ولاړ دی. په تاریخي تجربو کې آزمایل شوې نه ده.

تاریخي شخصیتونو ته د خلکو ډله ایزې ارادې لېږدول کېدای شي، دحقوقپوهنې په برخه کې ډېر څه څرګند کړي، په تیره بیا چې دټاکل شویو موخو لپاره علمي وبرېښي ، خوکه هغه تاریخ پورې وتړو ، همدا چې کوم انقلاب ترسره شي، یا کوم هېواد لاندې شي، یا کورنۍ جګړه ونښلي، لنډه دا چې تاریخ پیل شي، دغه تیوري هېڅ شي رانښودلی او سپړلی نه شي.

دغه نظر ځکه انکاریدای نه شي چې د خلکو ارادې لېږدیدای نه شي او علت یې هم داده چې هغه هېڅکله نه وه.

پېښه چې هر څه وي دا مهمه نه ده چې څوک د هغه مشري کوي، دا نظریه به تل په دې ټینګار وکړي چې هغه ځکه ددې پېښې مشري کړې ده چې د خلکو ډله ایزې اراده هغه ته ور په غاړې شوې ده.

هغه ځوابونه چې ددغې نظریې له مخې تاریخي پوښتنو ته ورکول کېږي. د هغه چا ځوابونو ته ورته دي چې یوې خوځېدونکې ګلې ته ګوري، د دښتې په بېلابیلو برخو کې ، دشنیلیو او وښو ښه والي او بد والي ته له پامه پرته، هغه شپانه ته له پامه پرته چې د ګلې لارښوونه کوي، دګلې دخوځېدا لارښوونه ، د هغه څاروي اراده وګڼي چې تر نورو څارویو مخکې روان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ګله ځکه په دې لارې روانه ده چې د دوی مخکې روان ځاروي ، د هغو لارښوونه کوي او د پاتې نورې ګلې ډله ایزه اراده ده ته سپارل شوې ده ".

دا دلومړې ډلې دتاریخپوهانو ځواب دی. د هغه تاریخپوهانو ځواب چې د خلکو له خوا مشر ته د ارادې په هرو مرو لیږدولو باور لري.

که کله د ګلې مخکې روان ځاروی بدلیږي، دا له دې کبله دي چې د ګلې د وګړو ډله ایزه اراده ځکه بل چاته ورلیږدیدل شوې ده چې پخواني لارښود او مشر په هغه لاره چې ده ته ټاکلې شوې وه، نه خوځېده. دا د هغه تاریخ لیکونکو ځواب دی چې وایي، ډله ایزه اراده په ځانګړو معلومو شرایطو کې بل چاته ورلیږدیدلې کېږي..

او که د ګلې مخکښ ځاروي پرله پسې بدلیږي او د ګلې تګ لوري هم تل بدلون مومي. دا له دې کبله دی چې ګله موږ ته په څرګنده لاره تګ کې ، خپله مشري هغه چاته سپاري چې موږ ته غوره بریښي او له دې امله دا به کفایت کوي چې هغه ځاروي تر ځارنې لاندې وساتو چې زموږ پام ځانته ورواړاوي او د ګلې شا او خوا کې روان وي.

دا خبره د دریمې ډلې تاریخپوهانو خبره ده ، هغو تاریخپوهانو چې ټول تاریخي شخصیتونه له شاهانو نیولی تر خبریالانو پورې د خپلې زمانې څرګندونکي ګڼي....

د تاریخي پېښو د پېښېدو لاملونه څه دي ؟ واک، واک څه شی دی ؟ واک د خلکو هغه ډله ایزه اراده چې یو تن ته سپارل شوې ده، د خلکو ډله ایزه اراده په کوم شرط چاته سپارل کېږي ؟ هغه وخت چې دغه یو تن د خلکو ډله ایزه اراده په خپلو کړو کې څرګنده کړي، په بله وینا واک، واک دی او واک هغه کلمه ده چې معنی یې موږ ته څرګنده نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د انساني پوهې ډګر يوازې د انساني تفکر په وچو نظرياتو کې را ايسار واى او په هغه توضيحات چې علم د واک د مفهوم په اړه موږ ته رانبودلي، نقد کېدلاى شواى، دا نتيجه مو اخېستى شواى، چې واک يوازې او يوازې يوه کلمه ده او کوم رښتني واقعيت نه لري، خو انسان د پديدو د پېژندنې لپاره د تفکر برسيره تجربه هم کار وي، هغه تجربه چې په هغو کې د تفکر پايلې آزمايي او تجربه وايي چې واک يوازې کلمه نه ده بلکې په رښتيا يوه رښتيني واقعيت دى چې شته

سره له هغه چې د واک له مفهوم پرته د انساني هلو ځلو ديوې پېښې سپړنه هم په هېڅ ډول امکان نه لري، خو بيا هم تاريخ او معاصرې پېښې د واک د شته والي ځرګندونه کوي.

هر کله او هر چېرې، چې يوه پېښه ، پېښېږي، يو يا څو تنه راپيدا کېږي ، چې ګواکې د غه پېښه د هغو په اراده ترسره شوې وي. د رېيم ناپليون سپارښتنه کوي او فرانسويان مکسيکو ته د رومي. د پروس او بيسمارک پادشاهان فرمان ورکوي او د پروس پوځ "بيګومو "لاندې کوي.

لومړى ناپليون قومانده ورکوي او فرانسوي پوځ روسيې ته درمي. لومړى الکساندر فرمان ورکوي چې فرانسويان دې د بوربن کورنۍ ته غاړه کېږدي او همداسې کېږي. تجربه موږ ته دا ښيي، هره پېښه چې پېښېږي ، د هغې پېښېدل ، د هغه يوه او يا څو تنو ارادې پورې اړه لري چې د هغې د سرته رسولو فرمان يې ورکړى دى.

تاريخپوهان چې د خپل پخواني عادت له مخې د خلکو په چارو کې د خداى د ارادې په ونډې باور لري، لېوالتيا ښيي چې د پېښې علت، د هغه چا په ارادې پورې اړوندو ګڼي چې واکمن دى، خو دغه خبرنه عقل او نه تدبير ثابتوي او نه د تجربې له مخې تاييد يږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له يوې خوا عقل دا ښيي چې کلمات ، دا د انساني ارادې د ښکاره کولو وسيله ، د ډله ايزو کړو يوه برخه چې د پېښو جګړې يا د انقلاب په وخت کې راښکاره کيږي، يوازې کلمې دي او بس، نو له دې کبله پر معجزې چې يو ناپېژندل شوی او فوق العاده قوت دی. له اعتقاده پرته نه شي کېدای ومنو چې کلمات وکولای شي ، د ميليون ميليون وګړو د خوځېدا او پاڅېدو لامل واوسي. له بلې خوا آن که دا هم ومنو چې د کلمې دې د پېښو د پېښېدو لامل واوسي. تاريخ دا ښيي چې زياتره وخت د تاريخي شخصيتونو اراده د هېڅ پېښې، د پېښېدو لامل کېدای نه شي. دا په دې معنی چې د هغوی سپارښتنې نه يوازې دا چې سرته نارسېدلې پاتېږي بلکې يو نيم وخت د فرمان د موخې برخلاف پايله ته رسېږي.

د تجربې له مخې له يو پلوه ، واک يوازې هغه اړيکه ده چې د واک د خاوند د ښکاره شوې ارادې او د هغه د سرته رسوونکو وګړو ترمنځ شته دی. د دې لپاره چې د دغو اړيکو شرايط ځانته ښکاره کړو، تر هرڅه د مخه بايد د ارادې د ښکاره کولو مفهوم ، که د ارادې خاوند انسان وی نه خدای، ځانته ښکاره کړو.

که فرمان د خدای وي، يعنې د خدای اراده دی لکه هغه شان چې لرغونی تاريخ يې ښکاره کوي، دغه اراده نه د زمان تر اغيز لاندې دی او نه د پېښېدو لامل لري، ځکه چې خدای په هېڅ ډول پېښې سره اړيکي نه لري، خو کله چې فرمان يا حکم د انسانانو د ارادې له مخې چې د وخت تر اغيز لاندې او يو بل سره تړلي دي. د دې لپاره چې د هغو او له هغو وروسته پېښو ترمنځ اړيکي را ښکاره کړو ، بايد:

-لومړی:د پېښو د پېښېدو شرايط ښکاره کړو. يعنې د پېښو تګ لوری، د هغو وده او په ځانګړې زمانه کې د هغه فرمان ورکوونکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دويم: د هغه ناشليدونکو اړيکو څرګندونه ضروري ده چې د فرمان ورکوونکي او د هغو کسانو ترمنځ چې دغه فرمان عملي کوي، شته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲

یوازې د زمان له قیده دخدای آزاده اراده ده چې کولای شي د زمان له پیونده پرته ، پر ټولو هغو پېښو چې د څو کلونو یا څو پېړیو په اوږدو کې پېښېږي، اغیز ولري. یوازې خدای دی چې له هرڅه خپلواکه او یوازې په خپلې ارادې دبشریت دخوځون تګ لوري وټاکي، حال دا چې انسان د وخت او زمان بندي او د پېښو په منځ کې سرګردانه دی.

کله چې له لومړنیو شرایطو سترګې پټېږي، دزمان شرط .. هېڅ فرمان د هغه له مخکني فرمانه چې ددغه فرمان عملی کول برابروي، عملي کېدونکی نه دی.

هېڅکله، هېڅ فرمان په خپل سر او له مخکني فرمانه پرته نه یوازې جاري کېدای نه شي، بلکې پرله پسې او بېلابېلې پېښې ، پېښولی هم نه شي.

هر فرمان دبل فرمان سره اړوند دی ، نو ځکه پر ټولو پېښو اغیز کولای نه شي. او یوازې د پېښې د کومې یوې شېبې څارونکی دی.

د ساري په توګه کله که موږ وایو چې ناپلیون قومانده او فرمان ورکړ چې پوځ یې جګړې ته لاړشي، موږ دیوې اوږدې مودې ټول سره اړوند فرمانونه ، دیوه فرمان په توګه په یو وار راټول کړل. ناپلیون نه شو کولای له روسیې سره دجګړې فرمان ورکړي او داسې فرمان یې هېڅکله نه دی ورکړي. هغه نن سپارښتنه وکړه چې کوم یو لیک . ویانا ، برلین او پترزبورګ ته ولیکي او سباته یې بیا ځمکنی او سمندري پوځ ته ولیکي او بیا بله ورځ هغه او هغه.. په میلیونونو دغه شان فرمانونه او سپارښتنې چې د هغو له دلې ځېنې هغه یې پر روسیې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرانسوي پوځ د يرغل لاملونه برابر کړل.

ناپليون د خپلې واکمنۍ پر وخت پر له پسې پر انګلستان د يرغل فرمانونه ورکړل، وخت او قوايي پرې مصرف کړل ، خو له دې ټولو سره سره يې د خپلې واکمنۍ پر وخت کې يو وار هم دغې چارې د سرته رسولو لپاره آن يو ګام هم وانه اخيست. د دغه خبرې لامل دا دی چې پر انګلستان د يرغل فرمانونه د پېښو له بهير سره اړخ نه لګاوه او حال دا چې پر روسيې د يرغل فرمانونو ، يو له بل سره پوره اندول درلوده او د زمان له غوښتنو سره يې اړخ لګاوه.

د دې لپاره چې فرمان په رښتيا سره تر سره شي، فرمان ورکوونکی بايد داسې فرمان ورکړي چې سرته رسېدونکی وی، خو په دې پوهېدنه چې کومه چاره کېدونکې او کومه چاره ناشونې ده، نه يوازې د ناپليون لپاره چې په داسې يوه جګړه کې چې په ميليونونه خلک په کې اخته وو ، ګرانه ده، بلکې په خورا ساده پېښو کې هم د هغه اټکل ګران دی. داځکه چې د هرې پېښې سرته رسېدل کېدای شي له ميليونونو خنډونو سره مخامخ شي. د هر سرته رسېدلي فرمان په وړاندې تل بې شمېره سرته نا رسېدلي فرمانونه خنډ دي. سرته نه رسېدونکي فرمانونه ، ځکه سرته نه رسېږي چې هغه له پېښو سره اړوند نه دي او د هغو سره اړخ نه لګوي، موږ وايو:

- ناپليون غوښتل پر روسيې يرغل وکړي او وې کړ، خو په رښتيني ژوند کې د ناپليون په وخت کې موږ د هغه دداسې يو تکل نښه نه وينو ، بلکې داسې ډېر او بېشمېره فرمانونه او يناوې وينو چې د نورو بېلابېلو تکلونو او چارو په اړه ويل شوي دي.

د۱۸۱۲ کال د جګړې په اړه د ناپليون له بېشمېره فرمانونو نه لږ شمېر هغه نه له دې کبله چې سرته رسېدلي چې ګواکې د سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارسېدلو فرمانونو نه کوم غوره والي لري، بلکې دغه سرته رسېدلي فرمانونه روسيې ته د فرانسوي پوځ ديرغل له چارو او حالاتو سره اړخ لګاوه...

په دې توګه کله چې د وخت په پام سره د فرمان او پېښې اړيکي څېړو، په دې مو سر خلاصېږي چې هېڅ فرمان د پېښې د رامنځ ته کېدو لامل کېدای نه شي. خو بيا هم د هغو تر منځ يو ډول ځانګړې اړيکي شته دي.

د دې لپاره چې د دغو اړيکو په ماهيت پوه شو، د ټولو هغو فرمانونو بل شرط چې نه خدايي بلکې ځمکني او انساني سرچينه لري وڅېړو. او هغه داده چې خپله فرمان ورکونکي هم په پېښه کې ګډون لري.

همدا د فرمان ورکوونکي او فرمان وړونکي ترمنځ اړيکي دي چې واک نومېږي. دغه اړيکې په لاندې ډول دي:

- خلک د ډله ايزو چارو د سرته رسولو لپاره په داسې ډلو کې، چې هره ډله خپلې ځانګړې ځانګړتياوې لري، راټولېږي. سره له هغو توپيرونو نه چې د دغو ډلوغړي يې د خپلو ارمانونو د سرته رسولو لپاره لري، خو بيا هم په هغو کې د ګډوونکوو وګړو تر منځ اړيکي تل يو ډول دي...

له هغو ټولو ټوليزو ډلو نه چې خلک يې د ډله ايزو چارو د سرته رسولو لپاره جوړوي او د هغه کيفيت او جوړښت تر نورو نه ډېر توپير لري، پوځ دی.

د هر پوځ بنسټ د هغه له سرتيرو نه جوړ دي. د هغو شمېر تر بل هر چا زيات او رتبې يې تر نورو ټيټې دي. دغه راز بيا برېدګيان، برېدمنان او وروسته افسران چې شمېر يې تر هغو کم او واک او رتبه يې تر سرتيرو او نورو نه ډېرې لوړې او غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لړۍ همداسې پورته ځي، تر هغه چې خبره سترقوماندان ته رسېږي چې یو او واک یې تر ټولو زیات دی.

د پوځ جوړښت یو مخروط ته ورته دی چې سرتیري د هغه لادنۍ برخه یا قاعده جوړوي. د سرتیرو کړه وړه تل په خپل سر دي، وهل کوي، تالان کوي، سوځول او غلا کوي. دوی د دغو کړو لپاره له پاسه فرمان ترلاسه کوي، خو دوی خپله هېڅکله فرمان نه ورکوي.

-بربدګیان چې شمېریې تر سرتیرو لږ دی. دوی تر سرتیرو لږ له دښمن سره مخامخ لاس او ګریوان کېږي، خو کله ناکله قومانده ورکوي.

افسران بیا تر بربدګیانو په جګړه او نَښتو کې زیات ګډون کوي، خو په قومانده کې یې بیا برخه تر نورو زیاتېږي. همداسې بیا تر جنرالانو پورې چې یوازې فرمان ورکوي او د جګړې موخه او تګ لوري ټاکي. هغوی هېڅکله وسلې ته لاس نه وروړي او ستر قوماندان چې هېڅکله په جګړه کې ګډون نه کوي او یوازې د فرمانونو په عملي کولو او د جګړې د تګ لوري په ټاکلو بسنه کوي. په همدې ډول دی چې په هره ټولنه او ډله کې چې د کوم ډله ایز کار کرکیله، یا سوداګري او بله هره چاره... خبره همداسې ده.

که په دې ډول د مخروط یا د پوځ یا بلې هرې موسسې ټولې درجې او سره ټولې برخې له ښکته ترپورته سره جلا کړو، پر هغه قانون مو سر خلاصېږي چې د ډله ایز کار لپاره د خلکو ترمنځ پر اړیکو لاسبرى دی. دا اړیکي داسې دي چې څومره وګړي په مخامخ ډول په جګړه یا نورو چارو کې ګډون ولري. ترټولو کم کولای شي قومانده او فرمان ورکړي. د دوی شمېر هم زیات دی. څومره چې له چارو لرې او په چارو کې کم ګډون ولري او سلسله مراتبو په ډول به په پېښو کې ونډه ولري، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه کچه به د هغه د قوماندې ورکولو توان زيات وي او شمېر به يې هم لږ وي او همدا اسې د دې مخروط تر څوکې پورې چې تر ټولو نه لږ ، په عملياتو کې ګډون کوي، زيات کار يې يوازې د فرمانونو ورکول دي.

د فرمان ورکوونکي او فرمان وړونکي ترمنځ همدا اړيکي، هغه مفهوم دی، چې هغه ته قدرت وايي.

همدا چې د ټولو پېښو زماني شرايط مو جوړ کړل، و موليدل چې ورکړل شوی فرمان يوازې هغه وخت ترسره کېدای شي چې له هغو پېښو سره اړخ ولګوي چې د غه فرمان هغو پورې اړه لري. او همدا چې د فرمان وړونکو او فرمان ورکوونکو ترمنځ مو اړيکي ټينګ کړل. قومانده ورکوونکي، د هماغې قوماندې او فرمان له برکته په پېښو کې تر ټولو لږ ونډه لري او د هغو ټول شخصيت او چارې د لارښوونې او تګ لوري، قوماندې پورې اړه پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

کله چې يوه پېښه، پېښېږي. خلک د هغه په اړه خپل نظر او هيلې څرګندوی ، خو څنګه چې د غه پېښې د ډېرو خلکو د ډله ايزو هلو ځلو زېږنده دي، هرو مرو د دې پېښې په اړه يادې شوې ويناوې او هيلې، لږ تر لږه د چارو په پايلو کې را څرګند ېږې بر ېښي. کله چې له دغو نظرونو نه، کوم يو عملي بڼه پيدا کوي، زموږ ذهن دغه نظر د دغې پېښې د پېښېدو لپاره يو فرمان ګڼي.

کله چې خلک يو شاتير (لرګی) کشکاږي، هرڅوک خپل نظر څرګندوی چې څنګه هغه کشکاږي او کومې خواته يې پورې وهي. خلک شاتير کشکاږي او په پای کې ، هغه داسې يوې خواته رسوي چې د يو چا له نظر سره سم وي. دا په دې معنی چې يوه وويل او هماغه وشول. دا د هغه فرمان له مخې سرته رسېدلی او د واک لومړنۍ بڼه ده.

هغه چا چې تر ټولو زيات کار کړی دی، د دې په اړه چې هغه او نورو څه کړي، تر ټولو کم وخت درلود. هغه د فرمان ورکولو وخت هم نه درلود او هغه چا چې زياتې سپارښتنې کړي، له دې امله چې تر ټولو زياتې خبرې يې کړې دي، څرګنده ده چې د لاسونو د خوځېدا لپاره يې کم وخت درلود.

کله چې يوه ډله د کوم ډله ايز کار او ارمان د سرته رسېدو لپاره سره راټولېږي او شمېر يې زيات وي، په هغو کې چې د ګډ کار د سرته رسولو په وخت کې يې مخامخ ونډه لږه او شمېر لږ وي، او د دوی کار هم سپارښتنه وی، تر ټولو غوره را څرګند ېږي.

که د يو کار د سرته رسولو په وخت کې څوک، يوازې وي، په پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې تو ګه يې په ذهن کې هغه دلايل ګرځي راګرځي چې د هغه پر پخوانيو کړو لاسبري دي او د هغه د هغو چارو لارښوونه کوي چې تصور يې کوي، دی غواړي په راتلونکي کې هغه سرته ورسوي.

کله چې خلک په ډله ايزه تو ګه کار کوي هم کټ مټ د غه شان کوي، خپل ډله ايز کار ، د خپل ډله ايز کار دفکر کول، دليل راوړل او دحقانيت دثابتولو چاره ، هغو کسانو ته ورپرېږدي چې له دوی سره په کار کې ګډون نه کوي.

فرانسويان، په ځرګنده او يا ناځرګنده لاملونو د يو بل په ډوبولو او د يوبل په وژلو پيل کوي. دوی د خپلو دغو چارو لپاره پلمې لري او ځانته د هغه د سرته رسولو حق ورکوي. هغوی د خلکو د ارادې په پلمه وايي چې خونړۍ چاره د فرانسې د ملي ګټو ، ازادۍ او برابرۍ لپاره په کار وو. بيا خلک د يوبل له وژلو لاس پر سر کېږي او د دې خبرې لپاره هم پلمه او حقانيت لري او وايي چې دوی بايد د اروپا پر وړاندې يووالي وکړي او ديوه واک، ترسيوري لاندې ودرېږي او نور نور. . . بيا خلک له لوديزه دختيځ پلو يرغل کوي، خپل همنوعان وژني او دې خبرې ته هم پلمه پيدا کوي، هغه هم په ويناوو کې دفرانسې ويارړاو دانګلستان دناوړه نيت يا پلې او نورې ، خبرې ګڼل کېږي.

تاريخ مورږ ته دا ځرګندوی چې د پېښو دغه راز حقانيت ګڼل هېڅ معنی نه لري، يا دغه شان حقانيت په ذات کې د ځان ضد خبرې دي، دحق دثابتولو نه وروسته د انسانانو وژل او يا د انګلستان بد نيت ته دجزا ورکولو له امله د روسيې د ميليونو خلکو وژل ، خو په خپل وخت کې دغو چارو ته حقانيت وربښل لا يو ارزښت لري او هغه هم په دې معنی چې په چارو کې ګډون لرونکي کسان له خپل اخلاقي مسوو ليت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خلاصوي. دغه موقتي موخې ، د اورګاډي د مخې جارو ته ورته ده چې د ریل مخه پاکوي. دغه پلمه هم د خلکو وجدان د مسوولیت له پیټي خلاصوي. که دغه پلمې او حقانیت نه وای ، تر دغو پېښو نه وروسته به آن یوې ساده پوښتنې ته هم چا ځواب موندلای نه شو او هغه پوښتنه دا چې څنګه په میلیونونو خلکو په داسې ډله ایزو توګه ، داسې جنایاتو: لکه جګړې ، وژنو او نورو ته وروړاندنګل.

ایا د اروپا د اوسنیو په اوسنیو کړکیچونو دولتي جوړښتونو او کړکیچن ژوند په بهېر کې کولای شو ، داسې پېښه پیدا کولي شو چې هغه پادشاهانو ، وزیرانو یا مطبوعاتو تایید کړي نه وي او یا یې لارښوونه او سپارښتنه نه وي کړې ؟ ایا داسې کومه ډله ایزه چاره پیدا کولای شو چې د اروپا یا دتمدن د یووالي، ملي ګټو او پوځي انډول په نامه حقانیت پیدا نه کړي ؟ هوکې ! هره پېښه شوې پېښه ، هرو مرو دکوم نظر او هیلې سره اړخ لګوي ، حقانیت پیدا کوي او دیوه یا څو تنو د ارادې زېږنده بلل کېږي.

هرپلو چې په سمندر کې کومه بېړۍ روانه وي، د هغه په وړاندې په څپو کې لاره څېرېږي، په بېړۍ کې دناستو کسانو لپاره دبېړۍ دواړو خواووته دڅپو تګ دلیدو وړ یوازنی خوځون دی.

که موږ یوازې شېبه په شېبه ددغه خوځون څارنه وکړو او هغه دبېړۍ له خوځېدا سره پرتله کړو. دابه څرګنده شي چې دا بېړۍ ده چې هره شېبه په خپلې خوځېدا سره ددغه بهیر تګلوري ټاکي او زموږ ناڅرګنده او پرله پسې خوځون موږ له تیروتنو سره مخامخوي.

دتاریخي شخصیتونو کړو وړو پسې دم په دم څارنه موږ ته دا پایله راکوي چې هلته هم هرڅه کټ مټ همداسې دی ( یعنې د پېښې د سرته رسېدو لپاره د یو حتمي شرط ټاکل زموږ هم په زمان کې د پرله پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځون شرط ). دا په دې معنی چې لـه خلکو سره د تـاریخي شخصیت اړیکي باید هېر نه شي. کله چې بېړۍ یو پلو روانه وي د اوبو بهېر نـه بدلېږي، خو کله چې بېړۍ خپل تګ لوری بیا بدلوي د اوبو بهېر هم د هغـه د څوکې دوو خواووتـه بـدلون مـومي. خو هـرې خواتـه چـې هغـه تاوېږي ، د هغه د څوکې وړاندې څپې لاره ورتـه پرانیـزي. مګر هر پلو چې بېړۍ تـاوېږي ، څپې بیا ېبرته هماغـه خواتـه دروميـ چې بېړۍ روانـې وي، ځکـه بلـه چـاره نـه لـري. هـره پېښـه چـې پېښـېږي او دا تـل همدا سې وي چې تصور یې کېږي. دا پېښه مخکې له مخې اټکل شوې او د پېښېدو فرمان یې ورکړشوی وي. بېړۍ چې هرې خواتـه تـاوېږي، کـه څه هم مـوږ تـه لـه لـرې داسې برېښـي چې څپې نـه یـوازې پـه خپلـه خوځېدا کې خپلواکې دي بلکې د بېړۍ لارښوونه هم کوي، خو دغـه څپـې نـه د هغـې د خوځېـدا پـه لارښـوونه کـې ونـډه لـري اونـه د هغـې خوځېدا چټکولی شي.

تـاریخ پوهـان خپلې څېړنـې ، یـوازې د تـاریخي شخصـیتونو ، هغـو ویناوو تـه جلا کـویچې د پېښـو ، د پېښـېدو پـه اړه ویـل شوي دي. هغـو وینـاوو د فرمـان بڼه پیـدا کـړې ده، هغـوی پـه دې ډاډمن شوي دي چې د دغه فرمان او د پېښو د پېښېدو تـر منځ اړیکی شته دي، خو کلـه چې مو خپله پېښې او هغه اړیکي چې تاریخي شخصیتونه یې لـه پرګنو او خلکو سره لري، وڅېړو ، موږ دې پایلې ته رسوي چې پـه خپلـه تـاریخي شخصیتونه او د هغو فرمانونه د پېښو تر اغیز لاندې او د هغـو زېږنـده دي. د دغې پایلې د هرو مرو منلو دلیـل دادي چې د دغـو فرمـانونو د بـې شمېروالي سره سره، بیا هم پېښـې هغـه تـر هغـه وختـه نـه پېښـېږي چـې د پېښـېدو لپـاره یـې نـور لاملونـه رامـنځ تـه شوي نـه وي. خو همـدا چـې کومه پېښه، پېښه شي، د تاریخي شخصیتونو له خوا د څرګندو شـویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويناوو او ارادو په منځ کې، داسې هغه پيدا کيږي چې د معنی او وخت له پلوه دغې پيښې سره اړخ لګوي او د هغې د فرمان بڼه پيدا کوي.

اوس چې مو دا پايله ترلاسه کړه ، موږ په ډاډ او په ډاګه کولای شو د تاريخ دغو درو پوښتنو ته ځواب ووايو:

۱- واک څه شی دی ؟

۲- کوم قوت دی چې ولسونه خوځوي ؟

الف: واک له نورو خلکو سره ديوه پيژندل شوي شخصيت، هغه اړيکي دي چې له هغو نه په ګټې اخيستو سره چې څومره دي، په ډله ايزه چاروکې لږه ونډه اخلي. په هماغـه اندازه د هغـه کار د بهير پـه اړه نظر زياتې څرګندونې او د هغـه د سرته رسيدو د حقانيت ثابتولو تـه هڅه کوي.

ب- د ملتونو کړه وړه ، لکه هغه شان چې تاريخ ليکونکو فکر کاوه، نـه د واک ، نـه د فکـري هلوځلـو ، نـه آن د دغـو دوو د ګډون بلکې د ټولو هغو خلکو د هڅو او هاند پايله ده چې د پديدو پـه رامنځ تـه کيدو کې ونډه لري او تل داسې پيښ شوي دي، ټول هغه کسان چې څومره زيات او پـه مخـامخ توګـه د کـار پـه سرتـه رسيدو کـې ونـډه او ګـډون لـري، مسوولیت يې په هماغه کچه کم دي او برعکس.

داسې ښکاري چې له معنوي پلوه د پيښو د پيښيدو علت او لامل ، واک دی او له جسماني پلوه هغه کسان چې د واک اطاعت کوي، خو دا چې دا معنوي هلې ځلې له جسماني هڅو او هانده پرته ناشوني دي، نو ځکه د پيښې د پيښيدو لامل نه په دې او نه پـه هغـه بلکې د دواړو پـه يووالي کې وي. يا په بله وينا په هغه پديده کې چې موږ ، علت لټاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته نه شته، کله چې په دې برخه کې خپلې شننې تر پایه ورسوو، یو خنډ ته رسېږو، دانساني فکر هغې پولې ته، چې انساني فکر تل هلته رسېږي، که هغه (انسان )د خپلې موضوع څېړنې ته ځیر نه شي، له هغه سره پام ونه کړي، په ټولو معنوي برخو کې همالته رسېږي(هماغه خنډ ته). دبرېښنا انرژي تودخه پیدا کوي او تودخه برېښنا پیدا کوي. ذره هم یوبل دفع کوي.

کله چې دیوبل په وړاندې دتودخې اوبرېښنا په غبرګون غږېږو یا داتم په اړه څه وایو، نه شو کولای دا ووایو چې ولې دا داسې کېږي، ځکه دا بل ډول کېدای نه شي، ځکه باید دا همداسې وشي. دا له همدې امله چې دا د هغه قانون له کبله دي چې پر دغو پدیدو لاسبرې دي. تاریخي پدیدې هم همداسې دي. دجګړې یا انقلاب دپېښېدو علت څه شي دی ؟ موږ نه پوهېږو. یوازې په دې پوهېږو چې ددې یا هغې پېښې دپېښېدو لپاره خلک په ځانګړي ټوګه ځان چمتو او په هغه کې ګډون کوي. او موږ بیا وایو چې دا همداسې دی، ځکه چې بل ډول یې تصور هم نه شي کېدای او دا د هغه قانون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

که تاریخ له ظاهري پېښو سره کار لرلای، د همدې ساده او څرګند قانون منل به بس و، چې موږ خپلې خبرې پای ته ورسوو، خو د تاریخ قانون د انسان څارنه کوي. يو کمکۍ ذره هم نه شي کولای موږ ته ووايي چې د بلې ذرې جذبېدو او يا غبرګون نه احساسوي او داسې کوم قانون نه شته، خو انسان چې خپله د تاریخ موضوع ده، په ډاګه وايي چې آزاد او د قانون تابع نه دی.

د انسان د ارادې د آزادۍ موضوع که څه هم نغښتلې بڼه لري، خو بیا هم د تاریخ په هره ګام کې احساسېږي.

د تاریخ ټول متفکر او ځیرک مورخین، بې ارادې دې پوښتنې ته رارسېدلي دي.

د تاریخ ټولې جرې، متضاد غوټې او دغه ناسمه تګلارې چې دغه علم پرهغه درومي، ځکه ناسپړلې پاتې دي چې همدې پوښتنې سم ځواب ویل شوی نه دی.

که د هر انسان اراده خپلواکه وای، يعنې دا چې که هرچا کولای شوای هرهغه څه وکړي چې زړه يې غواړي، ټول تاریخ به د ناسره اړوندو پېښو، يوه تصادفي لړۍ وای.

آن که زرګونو کلونو په اوږدو کې، د میلیونو میلیونو وګړو په منځ کې، يو تن هم داسې پیدا شوی وای چې په ازاده توګه يې هغه کولای شوای چې دده څه زړه غوښتي،. دا په ډاګه ده چې د دغه چا يو آزاد او غیر قانوني کړه به د دې لپاره بس وای چې ټول هغه قوانین او قواعد تالا والا کړي چې د ټول بشریت لپاره ارزښت لري، خو آن که يو قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د انساني کړو وړو د څارنې لپاره وي، نه شو کولای د انسان د ارادې خبره وشي، ځکه چې په دې حالت کې د غـه انسان باید د غـه قانون تـه غاړه کېږدي.

د خپلـواکۍ یـا د ارادې د اختیـار موضـوع چـې لـه لرغونـو زمـانو راهیسې یې د بشري ټولنې تر ټولو غوره ذهنونو د ځان پر خېړنـه اختـه کـړي دي. لـه همـاغو لرغونـو زمـانو راهیسـې یـې د انسـان لپـاره د خـورا اهمیت له امله ستر غوټه جوړه کړې ده.

پوښتنه په دې کې ده ، که انسان د یوې موضوع په توګه له هرپلوه تر څېړنې لاندې ونیسو ، که د خدای پوهنه وي، تـاریخي پوهنـه، اخلاقـي پوهنه یا فلسفي پوهنه، ګورو چې پرهغـه لکـه د بل هر موجود پـه څېر د جبر قانون لاسبری دی، خو کله چې بیا خپل ځانتـه ځیـر شـو ، یعنـې پـه دې پوهېږو او د اسې احساسوو چې آزاده یو.

آګاهي یا پېژندنه ، د ځان پېژندنې هغه سرچینه ده چې لـه عقلـه جـلا او خپلواکـه ده. انسـان د عقـل لـه لارې د ځـان څارنـه کـوي، خـو یـوازې د آګاهۍ له لارې ده چې ځان پېژني.

له آګاهۍ پرته د عقل د هېڅ ډول څارنې او کړو تصور کېدای نه شي. د دې لپـاره چې انسـان پـوه شـي ، څارنـه وکـړي او عقلـي چـارې ترسـره کـړي، تـر هرڅـه د مخـه لـومړی بایـد دا وپېژنـي چـې ژونـدی دی. ژونـد ، انسان ځان دیوه غوښتونکي یعني د ارادې له درلودونکي پرته ، پـه بـل ډول نـه پېژنـي. د ارادې اراده درلـودل د انسـان د ژونـد ماهیت جوړوي. انسان د ارادې په مرسته ځان پېژني او پرته له دې چې ځان آزاد وګڼي. بله چاره نه شته.

که انسان ځـان پسـې څارنـه وکـړی، هغـه وینـي چـې د هغـه اراده دیـو قانون له مخې تګ لوری مومي ( هغـه ګـوري چـې هـرو مـرو بایـد خـواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوري، د خپلې ذهني هلوځلو څارنه وکړي او يا بله کومه چاره کې ګډون ولري). هغه له دې نه پرته بله چاره نه لري چې د خپلې ارادې د دايمي جبرې حالت نه بل څه نه ويني. هر هغه څه چې ازاده وي، هغه جبرې کېداى هم نه شي. انسان ته خپله اراده ځکه جبرې برېښيږي چې هغه له دې نه پرته چې هغه آزاد وګڼي، بله چاره نه لري.

تاسو وايي چې زه آزاد نه يم. زه خپل لاس لوړوم او بېرته يې ښکته کوم. هرڅوک په دې پوهېږي چې د غه غير منطقي ځواب د آزادۍ د منلو، انکار نه منونکى ثبوت دى.

دغه ځواب د هغې آګاهۍ غبرګون دى چې عقل پورې اړه نه لري. که د آزادۍ يا اختيارآګاهي، د ځانپېژندنې له سرچينې او عقله خپلواکه نه واى، هغه به دعقل او تجربې تر اغيز لاندې واى. په حقيقت کې به دغه شان اغيز نه يوازې هېڅکله نه وي بلکې تصور به يې هم نه شي کېداى.

هر څوک ديو څو تجربو او دلايلو نه وروسته په دې پوهېږي چې هغه دڅېړنې يوې موضوع په توګه، د پېژندل شويو قوانينو تر اغيزې لاندې دى. انسان به هرو مرو هغه ته غاړه ږدى او د هغو تر پېژندنې وروسته، هېڅکله له هغو نه د سرغړونې هڅه نه کوي، خو هماغه تجربې او دلايل ده ته دا ثابتوي چې دده له خوا ځانته انګېرل شوې بشپړه آزادي، شونې نه ده او دده هر کړه د هغه ورځنې ژوند کړو وړه، د هغه خلق او خوي او هغو اغيزه او لمسونې پورې اړه لري چې دده له خوا ترسره کېږي، خو انسان هېڅکله دغو استدلالونو او تجربو ته غاړه نه ږدي.

انسان همدا چې دتجربې او استدلال په مرسته پوه شو چې تېره له پاسه رالوېږي، بېشکه په دې باور کوي او په ټولو پېښو کې ددغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون د سرته رسېدو هیله لري.

خو همدا چې په دې پوه شي چې بېشکه دده اراده ، دقوانینو تر اغیز لاندې ده، هغه نه مني او باور یې نه پرې نه راځي.

که څه هم همدا تجربې او استدلال انسان ته ښیي چې دی له خپل دغه طبیعت ، عادت او کړو وړو سره په ځانګړو شرایطو کې هماغه دی چې و او دادی د زرم ځل لپاره ، په هماغو شرایطو کې، بیا هماغه عادت او کړه وړه کوي. او له هماغې نتیجې سره مخامخ دی چې تل په یوه شان پای ته رسېدلې او دی بیا هم په ډاډمنه توګه احساسوي چې دی آزاد دی او هرڅه چې غواړي هغه شان یې کوي لکه تر دغو تجربو مخکې یې چې کول. هر انسان که هغه عاقل وی او که هغه باخاری وي. هرڅومره او په هره کچه چې په ډاګه او سپینه هغه ته ثابته شوي وي ، بیا هم نه شي کولای په یوه ځانګړي وخت او حالت کې دوه توپیر لرونکي کړه وړه ولري. هغه داسې احساس کوي چې ژوند له دغه بې معنی تصوره پرته ( چې دآزادۍ بنسټ جوړوي ) تصور کېدای نه شي. هغه احساسوي چې هرڅومره دغه شان یو ناڅاپي ناشونی وی، بیاهم شته، ځکه د آزادۍ له تصوره پرته یوازې هغه ته د ژوند احساسول امکان نه لري بلکې د هغه له تصوره پرته ژوند هم نه شي کولای.

هغه نه شي کولای له دې تصوره پرته ژوند وکړي چې په ټول ژوند کې ټولې انساني هیلې او لمسونې، د آزادۍ د زیاتوالي لپاره هلې ځلې دي. بډایتوب، بې وزلي، زور او کمزوري، ویاړ اونوم ورکتوب، قدرت او محکومیت، روغتیا او ناروغي، پوهه او ناداني، کار، زیار او استراحت، مړښت او لوږه، خیر او شر د آزادۍ ، لوړې او ښکتې کچې دي.

له آزادۍ نه د بې برخې انسان تصور، د هغه انسان له تصوره بل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي، چې ژونده یې بايللي وي..

ستر خدای د انسان خالق دی. خدای د ټولو چارو توان لري او د هغه هستي بې پایه ده. نو داسې چې ده، بیا ګناه څه معنی لري، هغه ګناه چې له آزادۍ نه، د انسان د خبرتیا او آګاهۍ زیږنده ده؟ همدا د الهي علم موضوع او مضمون دی.

د انسان کړه وړه، د هغو عمومي او نه بدلیدونکي قوانینو زیږنده دي چې په خپله د ریاضي علومو د پایلې، پایله ده. نو اوس دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې د ټولنې پر وړاندې د انسان مسوولیت، له آزادۍ نه د انسان د آګاهۍ او خبرتیا زیږنده، څه ده؟ دا هم شوه، د حقوقو د علم موضوع.

د انسان کړه د هغه د طبیعت او ذات او د هغه د کرکتر او پر ده دلاسبرو اغیزو تابع دي.

نو د وجدان او پر ښو او بدو کړو وړو خبرتیا چې له ازادۍ نه آګاهۍ زیږنده ده، بیا څه شي دي؟ دا د اخلاقو د علم موضوع ده.

انسان، د بشري ژوند ګډو اړیکو ته په پام سره د هغو ټولنیزو قوانینو تابع دی چې پر ژوند لاسبري دي، خو همدغه انسان د دې اړیکو سره سره بیا هم آزاد بریښي. څنګه باید د ملتونو او بشریت مطالعه وشي؟ څنګه هغه وڅېړل شي؟ هغه په چارو کې آزاد وګڼل شي او که محکوم په جبر؟ دا کېږي د تاریخ موضوع.

یوازې زموږ پر ځان باوره زمانه کې چې پوهې تبلیغاتي او ټولیزې بڼه پیدا کړې ده، د چاپ د دودیدو له برکته چې د ناداني غوره وسیله ده، د وګړي د ارادې آزادي او اختیار داسې بڼه غوره کړې ده چې بې ځایه بریښي او آن یادول یې ناشوني دي. زموږ په زمانه کې د غه تش په نوم مخکښ خلک، یعنې ناپوهې پرګنې، د طبعیت پېژندونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه، چې دموضوع يو اړخ څېړي، خبرې پيل کړي او هغه دحل لاره ګڼي.

دوی وايي او په خپلو خپرونو کې ليکي:

- روح او ازادي نه شته ، ځکه نه شته چې انساني ژوند د غرو دخوځېدا زېږنده دی او دغړو خوځېدا بيا دغصبي شخصيت تابع دی. روح او آزادی نه شته ، ځکه موږ د تاريخ په کوم ناڅرګند کې له بيزو نه پيدا شوي يو. دوی وايي، ليکي او خپره وې يې، خو په دې خبر، نه دي چې په زرګونو کالونو پخوا هم ټولو مذهبونو او ټولو متفکرينو همدغه دجبر او محکوميت قانون چې اوس دوی داسې په ټينګار او هڅو د فزيولوژۍ او ځناورپېژندنې په مرسته د هغه پر ثابتوالي ټينګار کړي، نه يوازې پېژندلی و ، بلکې هېڅکله له هغه چا انکار هم نه دی کړی. هغوی په دې نه پوهېږي چې په دې برخه کې دطبيعي علومو ونډه يوازې داده چې دهرې موضوع يوازې يو اړخ راڅرګندوی ، ځکه عقل او اراده دعلمي څېړنو له مخې دعقلي زېږون نه پرته بل څه نه دی. دا چې انسان د کوم کلي قانون له مخې دځارويو د ودې او پرمختګ دتاريخ په کوم ناڅرګند وخت کې دټيټو ځناورو نه وده کړې وې. دا هغه څه دي چې اوس په نوې بڼه ، خو له موږه په زرګونه کاله پخوا مذهب او فلسفې څېړنو کړي دي، يعنې دا چې انسان له عقلاني پلوه دجبر او محکوميت دقوانينو تابع دی، خو دا ديوه ويښتنه په کچه هم له موږ سره ددې پوښتنې په آوارۍ کې هم مرسته نه کوي، ځکه دا خبره بل اړخ هم لري او هغه د آزادۍ ، انساني اختيار منل دی.

که انسان دتاريخ په يوه ناڅرګنده پړاو کې ، له بيزو نه راپيدا شوی دی، دا بله خبره هم په همدې کچه د پوهېدو وړ ده چې وايي:انسان دتاريخ په يوه څرګنده وخت کې له يو موټي خاورې نه راپيدا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( په لومړي نظر ، x ناڅرګند دی او په دویم کې بیا دزېږون سرچینه ) .
دا پوښتنه چې د انسان دآزادۍ خبره ، څنګه دجبر له قانون سره یوځای شي ،. دتطبیقي فزیولوژۍ او ځناور پېژندنې دعلومو په مرسته آواریدی نه شي. کله چې موږ دچونګښې ، سوی او بیزو ترمنځ د ګډوالي نښه یوازې غړی او اعصاب ونیو ، حال دا چې انسان له غړو او اعصابو پرته اګاهي او وجدان هم لري.
دطبیعي علومو پوهان او د هغوی پلویان چې تصور کوي، دغې پوښتنې ته په بشپړه توګه ځواب ویلی دی، هغوی ، هغو ختګرو ته ورته دي چې د کلیسا د دیوال یو خوا سپینه او رنګ کړي او د کار مشر یا خاوند دنشتوالي نه په ګټه اخېستو سره د کړکۍ ، دریځې، سپېڅلي شمایل او هغه دیوالونه چې ټولیز ترمیم یې لا پای ته رسېدلی نه دی، ټول سپین او رنګ کړی او دی ته خوشاله وي چې هرڅه یې رنګ کړي او کار یې په غوره او ښه توګه پای ته رسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

دنورو هغو پوهو پر وړاندې چې غواړي دجبر او اختيار پوښتنې ته ځواب ووايي، تاريخ دا ځانګړتيا لري چې دتاريخ لپاره دغه موضوع ، نه دبشر د ارادې په اصل او ماهيت بلکې په تير وخت کې د هغه په څرګنديدو او ځينو ځانګړو شرايطو پورې اړه پيدا کوي.

د علم تر نورو څانګو تاريخ ، ددغې پوښتنې د آوارۍ لپاره د نظري علومو پر وړاندې دتجربي علومو بڼه مومي.

دتاريخ موضوع نه په خپله دانسان اراده بلکې د هغه په اړه زموږ تصور دی، نو له دې کبله تاريخ، ددغو دوو سره ضد ، جبر او اختيار له رازه ډک يووالي دآوارۍ لپاره دالهي علومو ، انقلابونو او فلسفې په شان ، په انساني کړو کې ستونزې نه لري.

تاريخ، انساني ژوند ، لکه هغه شان چې موږ ته څرګنديږي او يا په هغه کې د دغو دوو سره متضادو اړخونو يووالي رامنځ ته کيږي، څيړي.

دانسان په رښتيني ژوند کې ، هره تاريخي پېښه ، ياهم انساني کړه، په ډاګه او د دغه ضديت له خورا کمې پوهېدنې پرته د درک وړ دی. که څه هم هره پېښه او هر کړه تر يوې کچې پورې په اختيار او تر يوې کچې پورې په جبر ترسره کيږي.

د تاريخ فلسفه د دې مسلې د آوارۍ لپاره چې جبر او اختيار ، څنګه او په څه ډول او په کومه کچه په انساني کړو وړو کې اغيزمن دي او ددغو دوو اصلي ماهيت څه دی ، نه يوازې داکولای شي بلکې تر هرڅه لومړی د جبر او اختيار د مفاهيمو پېژندنه وکړي او بيا ددغو مفاهيمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرسته د ژوند پدیدې وڅېړي. تاریخ د جبر او اختیار پېژندنه د خورا بې شمېره ، تاریخي پېښنو له پایلې راباسي.

په هرډول که موږ دډېرو او یا هم دیوه تن د کړو وړو څېړنه وکړو ، موږ پوهېږو چې هغه باید دجبر او اختیار دیو ګډ ترتیب په ډول وڅېړو.

کله چې موږ دملتونو د لېږدیدو یا د وحشي قبایلو د یرغلونو یا ددربیم ناپلیون دفرمانونو په اړه غږېږو او یا د هغه چا ددې پریکړې په اړه چې یو ساعت مخکې یې د خپل تګ لپاره ، د څو لارو نه یوه لاره ټاکلې ده، په دې ټولو کې هېڅ ډول تناقض نه وینو. دجبر او اختیار هغه کچه چې ددغو کسانو په کړو وړو کې ونډه لري، موږ ته له وړایه څرګنده ده.

زیاتره وخت د اختیار دکچې: د کموالي او زیاتوالي په اړه تصور توپیر لري او د تصور دا توپیر هم ، هغه نظر پورې اړه لري چې موږ قضاوت پرې کوو ، خو هرڅنګه چې وي، باید ووایو چې انساني کړه وړه د جبر او اختیار د یووالي نه پرته ، بل څه نه دي. په هر ډول کړو وړو کې په یوه ټاکلي اندازه اختیار او په یوه ټاکلي اندازه جبر وینو او هر هغه چاره چې څېړو که په هغه کې د اختیار کچه زیاته وي، په هماغه کچه به په هغه کې دجبر کچه کمه وي. او که د جبر کچه زیاته وي، هلته به د اختیار کچه لږه وي....

ډوبېدونکی انسان یو بل تن ته لاس وراچوي، په دې توګه هغه هم ډوبوي او یا هغه مور چې خپل ماشوم ته دشودو ورکولو له امله بېحاله او خواړه غلا کوي. یا کوم سرتیری چې د سخت دسپلین له مخې د خپل افسر په قومانده بې ګناه انسان وژني، د هغه څېړونکي له نظره چې پوهېږي دغه خلک د ګناه د سرته رسېدو په وخت کې په څه حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ، لږ ګنهګاره دي يعنې د غو خلکو د هغو ښېرونکو له نظره د ګناه د سرته رسولو په وخت کې خورا کم اختيار درلود او جبر پرې زيات و. نو د پرېکړې په وخت کې د هغه چا په پرتله چې نه پوهېږي چې ډوبېدونکی خپله ډوب شوی او هغه مور چې غلا يې کړې ده، وږې وه او سرتيری دې ته اړ و چې د خپل افسر قوماندې ومني، زيات اختيار لري. . . او نور. . . په دې توګه څومره چې جبر زياتېږي په هماغه کچه اختيار کمېږي.

مذهب ، انساني سالم تفکر ، علم ، حقوق او په خپله تاريخ ټول د جبر او اختيار پر دغو اړيکو يو ډول پوهېږي.

په ټولو هغو پېښو کې چې زموږ له نظره د جبر او اختيار ونډه کمېږي او زياتېږي ، پرته له استثنا ، پر درې بنسټونو ولاړ دي:

۱- له بهرنۍ نړۍ سره د هغه چا اړيکی چې پېښه رامنځ ته کوي.

۲- له زمان سره.

۳- له هغو عواملو سره چې پېښه يې رامنځ ته کړې ده.

له بهرنۍ نړۍ سره د انسان لږ يا زيات څرګند اړيکي ، د هغه ټاکلي ځای په اړه کمه يا زياته، خو برالا پوهېدنه ده، چې هر سړی يې له خپل چاپېريال لري. دا هغه علت يا بنسټ دی چې ډوبېدونکی سړی يې د هغه چا په پرتله چې پر وچه ولاړ دی، په ډاګه جبري او آزادي يې کمه او يا د هغه چا کړه وړه چې په يوه ګڼه ګونه کې له نورو سره په نېږدې اړيکو کې ژوند کوي. او يا هم د ساري په توګه هغه څوک چې په کورنې ژوند ، دولتي چارو او يا سوداګرۍ کې اخته دی ، په ډاګه د يوه مجرد او له هغه چا سره چې له بل سره اړيکي نه لري ، آزادی کمه لري او جبر يې زيات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ یو انسان ، د هغه له چاپیریاله جلا او له نورو سره له اړیکو پرته وڅارو ، د هغه هرڅه موږ ته آزاد او دده په خپل اختیار کې بریښي. او که موږ د هغه په چاپیریال کې، له کوم چا یا کوم څه سره د هغه اړیکي په پام کې وساتو ، دا په دې معنی ، له هغه چا سره چې کتاب لولي ، یا غږیږي. او یا له هغه کار سره چې دی پرې اخته دی، یا آن هغه فضا چې دی یې چاپیر کړی دی، یا هغه له هغې رڼا سره چې د هغه شا او خوا ته پر پرتو شیانو ځلیږي، دغو ټولو ته ښه وګورو ، دا راته څرګندیږي چې له دغو شرایطو نه هریو پر ده اغیز لري او لږ تر لږه د هغه دیوې چارې ټاکونکي دي او یا یې لارښوونه کوي. او په هغه اندازه چې موږ پوهیږو ، څومره چې ددغو عواملو اغیز زیات وي. په کړو وړو کې د هغه آزادی زموږ تر پامه کمه او جبر پر هغه موږ ته پیاوړی بریښي.

دویم بنسټ ، له نړۍ سره د انسان زماني اړیکي دي. څومره چې له نړۍ سره دغه اړیکي برالا او یا پټې اوسي په هماغه کچه به ددغه زمان په اوږدو کې څرګند او یا پټ واوسي. دا هماغه اړیکي دي چې پایله یې دلومړني انسان ګناه او له جنته د هغه د شړلو او په پای کې د بشریت د پیدا ایښت لامل شو. دغه لامل زموږ ترپامه تر او سني کورني ژونده( د مېړه او ښځې اړیکی ) لاجبرې ښکاري. دا هماغه بنسټ او اړیکي دي چې ددې سبب کیږي ، هغه پېښه چې له پېړۍ پېړۍ پخوا په دې نړۍ کې پېښه شوې وه او له موږ سره د زمان له لارې پرته بل ډول اړیکي نه لري. دا وسني انسان تر کړو نه چې پایله یې لا څرګنده نه ده، جبرې ښکاره شي.

دانسان د کړو وړو د جبر او اختیار په اړه زموږ قضاوت ، هغه وخت او واټن پورې تړلی دی چې د پېښې د پېښېدو له شېبې نه د قضاوت تر وخته پورې تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه په داسې يوې چارې قضاوت وکړم چې يوه شېبه مخکې مې ترسره کړې ده او د سرته رسېدو شرايط يې هم له او سنۍ شېبې نه هومره توپير نه لري ، زما چارې به ماته ناچاره او بېشکه چې اختياري وبرېښي، خو که پر هغې چارې قضاوت وکړو چې يوه مياشت مخکې او پخوا او چور په نورو شرايطو کې پېښه شوې وه، بې ارادې به اعتراف وکړم چې که دا کار مې نه واى کړى ، تر دې غوره او ښې پايلې او آن هغه جبري پېښې به چې له دغې پېښې را پيدا شوې دي ، تر سره شوې نه واى. که د خپلې حافظې په مرسته ، له دې هم پخوانيو پېښو شويو چارو ، د ساري په توګه د هغو چارو په اړه چې لس کاله پخوا پېښې شوې دي، فکر وکړم، بېشکه چې د دې کړو وړو پايله به ماته لا څرګنده وي، خو دا تصور که هغه چاره مې نه واى کړې، څه به پېښ شوى واى راته ګرانه ده. څومره چې د خپلې حافظې په مرسته لا لرې او پخوانۍ زمانې ته ورځو او يا په دې ډول د راتلونکې قضاوت کوو ، دا راته څرګندېږي چې د اختيار په اړه زموږ قضاوت لا تت برېښي.

په همدې توګه په ټوليزو چارو کې د ارادې د آزادۍ په هکله د بدلون د کچې له برکته انسان په تاريخ کې بيا موندل کېږي. هغه پېښه چې اوس پېښه شوې ده ، بېشکه زموږ له نظره د ټولو هغو پېژندل شويو څېرو د کړو وړو زېږنده ده چې خپلواک ګڼل شوي دي، خو هغه څه چې لرې پخوا پېښ شوي دي او اوس هرو ورو د هغو داسې پايلې وينو چې پرته له هغه د بل څه شي تصور کولاى نه شو او له بله پلوه څومره چې موږ د پېښ په لټولو کې وروسته شاته درومو ، په هماغه کچه په هغو کې د اختيار کچه رالوېږي.

د اتريش او پروس جګړه بېشکه موږ ته د ځيرک بيسمارک او نورو د کړو وړو پايله برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم په دې کې شک دی، خو د ناپلیون جګړې لا تر اوسه هم موږ ته دا تلانو د ارادي زيږنده ښکاري، خو صليبي جګړو نور په پوره توګه خپل دريغ او ځای موندلای، نو ځکه د اروپا او سني تاريخ د هغو له تصوره پرته بې معنی دی، که څه هم د هغه وخت د تاريخ ليکونکو لپاره صليبي جګړې هم د هغه وخت د څو تنو داسې تاريخي شخصيتونو د کړو وړو زيږنده دی چې آزاد او اختيار لرونکی ګڼل کېدل، خو ګله چې د وحشي قامونو د مهاجرت خبره رامنځ ته کېږي. هېڅوک هم دا تصور نه شي کولای چې د اوسنۍ اروپا بڼه، دا تيلا د آزادي ارادي زيږنده ده، په هره کچه چې په تاريخ کې شاته ستنېږو او خپله د څېړنې موضوع لا لرغونې او له اوسنۍ زمانې لرې غوره کوو، د هغو کسانو په کړو وړو کې اختيار او آزادي چې د پېښو د پېښېدو سبب شوي دي، موږ ته لا شکمن او د چارو لارښوونکی لا مجبور بريښي.

۳) زموږ څېړنې په دريېيم پړاو کې، د علتونو پر هغو خورا بې پايه اړيکو چې څه کم او زيات زموږ په واک کې دی او عقل د پېښو د شننې لپاره هغه ته اړتيا لري، ولاړې دي. نو له دې د انسان هر ځانګړي کړه بايد د پخوانيو پېښو د پايلې او د راتلونکو پېښو د علت په توګه خپل ځانګړی ځای لري.

کله چې موږ ته د کومې چارې د سرته رسېدو علت پوره ښکاره نه وي، دا مهمه نه ده چې د غه چاره جنايت دي، يا خير، يا داسې چاره چې نيکي او بدي پورې هېڅ اړه ونه لري، موږ دا منو چې د دغې چارې سرته رسوونکی، هغه په خورا په ارادي او په اختياري ډول سرته رسولې ده. که دغه چاره جنايت وي، تر هر څه د مخه موږ هغه ته د مجازاتو غوښتنه کوو او که د خير کار وي، هغه ته به تر هر څه د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درناوي کوو او کله که کومه داسې چاره ترسره شي چې له اخلاقي پلوه، نه ښه وي او نه بده. هغه پېښه موږ، د هغه د سرته رسوونکي دقوي، غیر معمول او ازاد شخصیت زېږنده ګڼو، خو که موږ ته د بې شمېر علتونو نه یو علت څرګند وی، په هغه کې موږ ته د څرګنده جبر ونډه پېژنو، نو ځکه د هغه جنایت لپاره لږ غچ غواړو. د ښې چارې ستاینه هم ښه لږ کوو او د سرته رسوونکي آزادي او بیا وړتیا ته هم هومره ارزښت نه ورکوو؟ که جنایت کوونکي چې د جانیانو او داړه مارو په منځ کې لوی شوی دی. د هغه د ګناه پېټې سپکوي. تر خپلو ماشومانو د مور او یا پلار سربښندنه او ځاریدنه، تر هغې سربښندنې او ځاریدنې نه چې ستاینې او ګټې لپاره کېږي، ډېره طبیعي او بې علته برېښي، هغه کمه اختیاري او ازاده ده، نو ځکه لږه د ستاینې وړ ده، که له یوې ډلې، ګوند یا دیو مخترع له چارو او کړو وړو سره پخوانۍ پېژند ګلوي ولرو، د هغه چارې موږ کم حیرانه وي. که موږ د زیاتې تجربې خاوند یو، که موږ د خلکو پر کړو وړو پر جبر او اختیار پر له پسې څارنه ولرو، د هغه کړه وړه، موږ ته زیاتره جبري برېښي او آزادي یې کمه. که زموږ تر څارنې لاندې کړه وړه ساده وي او زموږ تر څارنې لاندې چارې زیاتې وي، نو زموږ تصور به د هغو له جبرې والي نه، بشپړ وي. د هغه ځوان رسوایي چې پلار یې بدنام سړی وي، د هغې ښځې بدلمني چې په څرګند بدنامه ماحول کې لویدلې وي او نیشه سړی بیا بدمستۍ ته ورستنېږي او دداسې نورو چارو علتونه، څومره چې موږ ته څرګند وي، بیا هم موږ ته لږ اختیاري برېښي.

که دداسې یو سړي کړه وړه چې د هغه عقلي وده خورا ټیټه وي، یعني، یو ماشوم یالیوني کړه وړه څېړو، له دې کبله چې د هغه، د کړو وړو له علتونو او د ذهن له سادګۍ سره آشنا یو، د هغه کړه وړه اجباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د آزادي یا اختیار ونډه په هغه کې دومره کمه ونیو چې د هغو له علتونو نه په خبرېدو سره سمدلاسه د هغو د پایلو اټکل کولای شو.

یوازې د همدغو دریو اصلونو پر بنسټ دی چې په ټولو قوانینو کې د هغو جانیانو لپاره د مسوولیت پېټی کمېږي چې باخاري یا ذهني نیمګړتیا ولري. د سد یا آګاهۍ د زیاتوالي او یا کم والي له امله، د هغو شرایطو ته په پام، چې د غه پېښه په کې پېښه شوې ده، د پېښې د پېښېدو او د هغه د قضاوت تر وخته پورې، وخت ته پامرنه او د هغو دلایلو د لرې او نږدې پېژندګلوۍ پر بنسټ دی چې دیو چا د مسوولیت کچه ټاکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰

او په دې ډول له موږه بهر چاپېريال سره زموږ د اړيکو د زياتوالي او کموالي په کچه د جبر او اختيار په اړه زموږ تصور هم زياتېږي او کمېږي. د غه راز د پېښې د پېښېدو د له وختـه د زياتوالي او کموالي او له دغې پېښې سره د اړيکو کموالي او زياتوالي تـه پـه پام سره ده چې، دغې پېښې پورې د اړوندې پايلې اغېزې پر موږ زياتېږي او کمېږي.
په دې ډول که موږ د داسې يو چا حالت څېړو چې لـه ماحول سره يې اړيکي خورا څرګند او د هغه د کړو وړو وخت زموږ د قضاوت لـه وختـه خورا لرې وي او هغه عوامل ټول موږ تـه څرګند وي چې د هغـه لـه املـه دغه پېښه يا چاره تر سره کېږي، نو دغه چاره موږ په بشپړه توګه جبري او د اختيار نښې په هغې کې خورا کمې ګڼو، خو که موږ د داسې يو چا حالت وڅېړو چې له بهرني ماحول سره د هغه اړيکي خورا کمزورې ، د هغه د کړو وړو او يا د ځانګړې چارې د پېښېدو وخت ، له او سني وخت سره نېږدې وي او موږ له هغو عواملو سره چې د هغه له املـه دغـه پېښـه ترسره شوې ده ، پېژند ګلوي ونـه لـرو ، د هغـه کـړه وړه بـه مـوږ تـه خـورا اختياري او آزاد وبرېښي او جبر به يې خورا کمزوري او کم ښکاره شي.
په دغو دواړو حالتو کې چې څومره د پېښې په اړه موږ خپل نظر بدل کړو ، څومره چې پر پېښې د ماحول اغېز لا زيات ځانتـه ښکاره کـوو ، څومره چې د پېښې د پېښېدو وخت لرې يا نېږدې تصورو وو او يا هم يا څومره چې د پېښې عوامل موږ تـه څرګند او يـا ناڅرګند وي، مـوږ هېڅکله نه شو کولای په بشپړه توګه د يوې پېښې پېښېدل اجباري او يا اختياري وګڼو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱) که هر څومره موږ د چاپیریال له اغیزه آزاد او د هغه اړیکي خورا لږ و ګڼو ، بیا هم هېڅکله نه شو کولای په دغه چاپیریال کې د اختیار په مفهوم پوه شو. د انسان کړه په جبري توګه د هغه د بدن او د هغه د ماحول تابع دي. زه خپل لاس پورته کوم او بېرته یې ښکته کوم، ما ته مې خپل دغه کړه اختیاري برېښي، خو که له ځانه و پوښتم چې ایا ما کولای شول خپل لاس هرې خوا ته پورته کړم ؟ وینم چې ما لاس هغه پلو ته پورته کړی دی چې زما په شا او خوا کې له بل هر پلوه ، زما بدني جوړښت ته خنډ نه و. که ما له ټولو خوا او نه یوه خوا ټاکلې ده ، دا له دې کبله وه چې په دغه لور د لاس پوره کېدو لپاره تر بل هر لوري، خنډ کم و. د دې لپاره چې انسان چور آزاد او اختیاري و ګڼو ، هغه باید له ماحوله بهر تصور کړو ، خو دا سې برېښي چې د غه چاره نا شونې ده.

۲) هر څومره که موږ د پېښې په اړه د قضاوت وخت ، د پېښې د پېښېدو وخت ته ورنږدې و ګڼو ، هېڅکله هم نه شو کولای د وخت او زمان له جبره ځان ازاد کړو. آن که دغه پېښه یوه شېبه مخکې هم شوې وي ، هغه د زمان له اغیزه ځکه آزاده نه ده چې هغه په زمان کې ترسره شوې ده. هغه د وخت له اغیزه جلا کولای نه شو. زه کولای خپل لاس پورته کړم ؟ خپل لاس پورته کوم، خو که زه له ځانه و پوښتم چې ایا ما کولای شول، په هغه شېبه کې چې تیره شوه، لاس پورته نه کړم ؟ د دې لپاره چې پر خپل ډاډ پوه شم، خپل لاس نه پورته کوم، خو د لاس له پورته کولو هغه وخت ډډه نه ده شوې، چې په هغه وخت کې ما د آزادۍ او اختیار په اړه فکر کاوه. هغه شېبه تیره شوې ده او نور ، زما له واکه او اختیاره وتلې ده. د غه راز هغه لاس چې ما پورته کړی، نور نو هغه لاس نه دی چې زه یې نه پورته کوم او هغه هوا چې دغه خوځېدا په کې شوې ده ، هم هغه هوا نه ده چې اوس له مانه چاپیره ده. هغه شېبه هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستنېدونکي ده چې دغه کړه په کې شوي دي، خو دا چې وروسته مې دلاس له پورته کولو ډډه وکړه ، دا ددې لامل کېدای نه شي چې ما نه شو کولای مخکې هم لاس پورته نه کړم. دا چې د زمان په یوه شېبه کې ، زما له خوځېدا پرته بله خوځېدا کېدای نه شوه. دا ، دا معنی نه لري چې کولای یې شول بله خوځېدا وشي. ددې لپاره چې خپله خوځېدا آزاده او اختیاري وګڼلی شو باید وکولای شو ، هغه د تیر او راتلونکي په منځ کې یعني د زمان او وخت نه دباندې تصور کړو چې دا هم ناشونې ده.

۳ ) هر څومره چې د پېښو د پېښېدو دعواملو د پېژندنې ستونزې، بې شمېره وي ، هېڅکله نه شو کولای د اختیار او آزادي یعنې دعلت پوره نشتوالي راپیدا کړو. که هرڅومره موږ ته د پېښو د پېښېدو اراده خپله وي او که پردې، ناڅرګنده وي که څرګنده. دعقل لومړې هڅه د هغه علت لټونه ده چې له هغه نه پرته ددغې پېښې د پېښېدو تصور هم نه شو کېدای. زه غواړم دیو څه کولو لپاره خپل لاس پورته کړم. البته بې هر علته ، خو دا چې زه غواړم یو څه سرته ورسوم ، هغه هم بې علته او پرته له هرډول دلیله، دا په خپله زما ددې چارې د سرته رسولو علت دی.

خو آن که داسې یو څوک تصور کړو چې له هرډول اغیزه آزاده وي، د هغه دهمدې شېبې او اوسنې کړه وڅارو او داسې وګڼو چې هېڅ علت هغه دې کارته نه هڅوي، دجبر اغیزه د هغه په چاروکې خورا لږ او هېڅ وشمېرو ، آن په دې حالت کې هم د سړی دبشپړې ازادۍ خبره نه شو کولای ، ځکه هغه موجود چې له هرډول اغیز نه بې اغیزې، دزمان نه بهر او کړه یې کوم علت پورې اړه ونه لري، نور نو انسان نه دی.

کټ مټ همداسې ، هېڅکله نه شو کولای دچا داسې کړه تصور کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په بشپړه توګه له اختيار او آزادۍ نه بې برخې او يوازې د جبر تر قانون لاندې وي.

۱- که هر څومره زموږ پوهه د هغې فضا له شرايطو نه چې سړی په کې دی زياته وي، دغه پوهه هېڅکله نه شي کولای بشپړه و اوسي. داځکه چې دغه شرايط په بې پايه توګه داسې دي لکه فضا چې بې پايه ده او تر هغه پورې چې پر انسان د ټولو شرايطو اغيز څرګند او ټاکل شوی نه دی، يعنې په دې معنی چې پوره جبر نه شته او هلته د اختيار ونډه ليدلای شو.

۲-هرڅومره چې د پېښې او کړو وخت او زمان، د هغو کړو له وخت او زمان نه چې موږ قضاوت پرې کوو، لرې وګڼو، د دغو کړو د سرته رسېدو پړاو تل ټاکلی دی. خو زمان او وخت بې پايه دی، له دې پلوه هم هېڅکله د پوره او بشپړ جبر تصور کېدای نه شي.

۳- هرڅومره چې د کومې پېښې يا کړو د علتونو لړۍ موږ ته څرګنده وي. موږ به ځکه هېڅکله د دغې لړۍ پر کړيو ترپايه پوه نه شو چې دغه لړۍ بې پايه ده، نو له دې کبله هم نه شو کولای پوره او بشپړ جبر تر لاسه کړو.

او د دې تر څنګ، که آن په کومه پېښه کې متې آزادي هم ومنو، يعنې له هېڅ سره برابره آزادي، بيا هم ځينې وخت د ساري په توګه، د مرګ په حال کې انسان يا جنين، يا هم باخاري (لېونی) هېڅ ډول اختيار نه لري، زموږ دغه منڼې زموږ له خوا د خارنې وړ انسان د مفهوم د انکار معنی لرلای.

په دې ډول هره شېبه چې آزادي پای ته رسېږي، هلته انسان هم نه شته. نو له دې کبله که انساني کړه يوازې جبري او له هر ډول آزادۍ بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخې وي، په هماغه کچه له تصوره لرې دي، لکه هغه کره چې له مطلقې آزادۍ سره مل وي.

په دې ډول ، د هغه انسان، د هغو کړو د څېړنې لپاره چې له جبره پرته ، بل ډول تر سره شوي نه وي او له هر ډول ازادۍ نه بې برخې وي. باید د فضا له بې شمېره شرایطو سره آشنا شو ، باید په خپلو څېړنو کې دبې پایه وخت او زمان پړاو په پام کې ولرو او بې شمېره عوامل او علتونه وپېژنو.

ددې لپاره چې يو انسان په بشپړه توګه آزاد او له هرډول جبري قانون نه بې اغيزه تصور کړای شو. موږ باید هغه يوازې له فضا نه دباندې ، له وختـه او زمان نه وتلی او له هر ډول علت او اغيزه لرې تصور کړو ، په لومړي ډول کې ، که جبر بې اختياره کېدای شوای، موږ به د جبر هماغه يوه جبري قانون نه مرسته غوښتې وای يعنې له يوې بې محتوا اډانې نه.

دويم ډول يا پېښه کې ، که اختيار بې له جبره کېدونکي وای، موږ به له هر ډول شرايطو نه آزاده ، آزادۍ ته چې د فضا ، زمان او علت له اغيزه ازاده وای، رسېدلي وای. هغه آزادي چې له زمان ازاده وي، نه شته او دا به بې اډانې(چوکاټه ) محتوا وای.

په ټوليز ډول به موږ دوو پايلو ته چې ټول انساني نظريات پرې ولاړ دي، رسېدلي وای. د هغو دژوند نه پوهېدونکې ماهيت او بل هغه قوانين چې پر هغه لاسبري دي.

عقل وايي:

۱) چاپېريال له خپلو ټولو ډولونو اوبڼو سره چې د هغو په مرسته احساسېږي، يعنې ماده، خورا بې پايه ده او په بل هېڅ ډول يې د تصور امکان نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ) وخت او زمان یو بې پایه او پرله پسې او آن یوه شېبه هم نه دریدونکي لړۍ ده چې پرته له دې نه ، دغه لړۍ دربدل نه لري په بل ډول تصور کېدای نه شي.

۳ )دعلتونو دلړۍ پایلې، نه پیل لري او نه پای درلودای شي.

آګاهي وایي:

۱ )

یوازې زه یم او هر هغه څه چې شته والي لري، یوازې زه یم او په دې توګه فضا هم زما یوه برخه ده.

۲ ) زه تیریدونکي زمان او وخت ، دحال په اوسنۍ شېبه کې چې پر هغه کې دیوه ژوندي موجود په توګه آګاهي لرو ، سنجوو ، نو له دې کبله له زمانه سم بهر یم.

۳ ) زه دعلت له اغیزه هم بهر یم، دا ځکه چې زه ځان د خپل ژوند د هرې بنې دڅرګندیدو علت احساسوم.

عقل دجبر قوانین څرګندوي او آګاهي داختیار ماهیت.

بې پایه آزادي یا اختیار، په انساني وجدان یا اګاهي کې دژوند ماهیت دی.

بې محتوا جبر انساني عقل او د هغه درې ګونې بنې دي.

اختیار او آزادي هغه څه دي چې څېړل کېږي او جبر هغه څه دی چې څېړنه کوي. آزادي محتوا ده او جبر بڼه ده.

یوازې د پېژندنې د دوو سرچینو په جلا کېدو او ویشلو سره چې دمحتوا او بڼې په توګه یو له بل سره اړه لري ، دداسې مفاهیمو لکه جبر او اختیارچې متقابلا یوبل انکاروي او په یوازې بڼه د درک وړ نه دی، پوهېدلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د پېژندنې د دغو دوو سرچینو ، له یو ځای کېدو نه، چې یو له بل سره اړه لري، د انساني ژوند څرګند تصور کېدای شي. د دغو دوو مفاهیمو ، محتوا او بڼې نه دباندې چې په خپل یو ځای کېدو سره، متقابلا یو بل پېژني ، دژوند تصور ناشوني دی.

هر هغه څه چې موږ د انساني ژوند په اړه پوهېږو ، یوازې د اختیار او جبر یعنې د آګاهي او عقل ترمنځ ټاکلی اړیکې دي.

پر هغه څه چې موږ د طبیعت او نړۍ په اړه پوهېږو ، یوه داسې ځانګړې اړیکه ده چې د طبیعت د قوت او د جبر د اړتیا یا دژوند د ماهیت او عقلي قوانینو ترمنځ شته دی.

د طبیعت د ژوند قوتونه له موږه دباندې دي او زموږ آګاهي پر هغه لاسبرې نه ده. هغه د ثقل د مرکز، د برېښنا د ټکان، د ژوند د حیواني قوت او نورو په نامه نوموو ، خو د انساني ژوند قوت او پیاوړتیا داسې څه دي چې زموږ د پېژندنې قوت او آګاهي پر هغه خبر دي او موږ هغه د اختیار او آګاهۍ په نامه یادوو.

خو له دې امله چې د ثقل پر مرکز زموږ آګاهي لاسبری نه لري، مګر بیا هم هر انسان هغه درک او احساسوي او هغه یوازې د جبرې قوانینو (د ټولو ستورو د ساده درونډوالي نه نیولي بیا د نیوتن تر قوانینو پورې). له مخې چې پر هغو لاسبرې دي، پېژني. آزادي هم ، په مخامخ ډول درک کېدای شي ، خو ټول له هغه خبر دي، موږ یوازې او یوازې د هغو اړوندو قوانینو ( د انسان له فاني والي نیولي ، بیا تر پېچلو اقتصادي او تاریخي قوانینو پورې )له مخې چې پر موږ لاس برې دي، پېژنو.

پېژندنه، دې ته وایي چې د ژوند ماهیت د عقل په تله او قوانینو وتلو ، هر هغه څه چې د انسان ازادي له نورو قوتونو نه جلا کوي، داده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د انسان اګاهي له هغو خبره ده، خو دعقل لپاره هغه له نورو نه هېڅ توپیر لري.. په هغو علوموکې چې موضوع یې د ژوندیو موجوداتو پېژندنه او څېړنه ده. هغه څه چې مورږ ته څرګند دي، جبري قوانین او هغه څه چې نا څرګند دي، دژوند قوت ګڼو. د ژوند قوت د هغو څیزونو پاتې شونکې دی چې مورږ هغه د ژوند دماهیت په توګه پېژنو.

په تاریخ کې کټ مټ همداسې ده:

پرهغه څه چې پوهېږو، هغه جبري قوانین ګڼو او هغه څه چې نه پېژنو او نا څرګند دي، هغه ازادي بولو.

دتاریخ لپاره ازادي، د هغو ناپېژندلو شویو، پاتې شوونکي دي چې مورږ د انسان د ژوند دقوانینو په اړه پرې پوهېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

دعلتونو اړیکو ته پام له بهرنۍ نړۍ او وخت سره د انسان د اختیار او آزادۍ د ځرګندونو څېړنه ، دتاریخ موضوع ده.

دا په دې معنی چې تاریخ، آزادۍ او اختیار دعقلي قوانینو له مخې څېړي، نو له دې کبله تاریخ تر هغه ځایه علم ګڼل کېږي چې اختیار او آزادي د قانون په مرسته وپېژندله شي.

دتاریخ د څېړنې له مخې د یوه قوت په توګه ، پر تاریخي پېښو د انسان دازادۍ، یعنې دقانون له اغیزه دازاد قوت ، هغه څه ته ورته دي، لکه هغه شان چې نجوم داسې یوقوت مني چې په اختیاري بڼه پرکیهان اودستورو پر خوځون اغیز کوي.

ددغه شان یو څیز منل ، له ټولو شتو قوانینو نه سترګې پټول دي. یعنې ټولو پوهو او پېژندنو ته شا کول. آن که داسې یو خوځېدونکي څیز چې له فزیکي قوانینو نه هم خپلواک وي، شته والي ولري، نودا ، دا معنی لري چې دکپیلر او نیوتن قوانین هم نه شته او نور نه دکیهان او ستورو دخوځون هېڅ کوم قانون هم اعتبار نه لري او نه شته. آن که دانسان یو اختیاري او ازاد خوځون هم وي، هېڅ یو تاریخي قانون به شته والي ونه لري او دتاریخي پېښو په اړه به هېڅ تصور، تصور هم پیدا نه کړي.

له تاریخي پلوه داسې تګلوري شته چې انساني ارادې د هغو په اوږدو کې خوځېږي، ددغو تګلورو ، یو سر په ناڅرګندو رازونو کې پټ او په بل سر کې یې دانسان پر ازادۍ پېژندنه او آګاهي د اوسنۍ شېبې په فضا او په اوسنۍ زمانې کې، علتونو سره په پام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېږي.

څومره چې د دغو خوځون ډګر موږ ته څرګند او پراخه وي، په هماغه اندازه به د خوځون قوانین موږ ته څرګند او ثابته وي، خو د دغو قوانینو پیدا کول او پېژندنه د تاریخ دنده ده.

د هغې تګ لوري له مخې چې اوس علم د خپلو موضوعاتو د څېړنې لپاره غوره کړې دی او د هغو په رڼا کې د پېښو علت د انسانانو په آزاده اراده کې لټوي، د قوانینو پېژندنه ګرانه خبره ده، ځکه هر څومره چې دانسان د آزادۍ لمن رالنډه کړو ، خو همدا چې له هر قانون نه د هغه د وتلي قوت په توان پوه شو ، په خپل سر مو له قانونه سر غړولی دی.

همدا چې تر پایه پر دغو قوانینو سترګې پټې کړو ، یعنې آزادۍ ته، تر پایه دیوه مرستندوی علت په سترګه وګورو ، په دې مو سر خلاصېږي چې پر علتونو لاسبری نه لرو او هغه وخت دی چې تاریخ د علتونو دلټولو پر ځای د قوانینو موندل خپله دنده ګڼي.

د دغو ډول قوانینو لټونه لا ډېره پخوا پیل شوې ده او د تفکر او شننې هغه نوې بڼه چې تاریخ یې باید پیل کړي، په کرار کرار رامنځ ته کېږي. هڅې پیل کوي او له هغه سره همهاله پخوانی تاریخ د پدیدو او څیزونو د علتونو له لټولو په کرار کرار مخ اړوي او د ځان د ورکولو په بهېر کې وړاندې درومي.

ټولو بشري علومو همدا لاره وهلې ده. د ریاضي علم تر ټولو علومو ځیرک علم دی. د غه علم ، خورا کمکی برخې ته په رسېدو سره ، د کمکیتوب چاره پرېښوده او د دغو خورا وړو او ناڅرګندو څیزونو په راټولو یې نوی پړاو پیل کړ. د ریاضي علم د علتونو مفهوم ته شا کړه او د مفاهیمو پر ځای یې د دلایلو لټونه او د قوانینو پیدا کولو ته مخه کړه.

یعنې د ټولو ناڅرګندو او بې پایه کمکیو عناصرو د ګډو ځانګړتیاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون ته.

که څه هم نورو علوموهم همدا ، خو په بل ډول د تفکر همدا لاره غوره کړې ده. کله چې نیوتن د جاذبې قانون را څرګند کړ، هغه دا نه ویل چې لمر یا ځمکه کولای شي، نور ستوري ځان ته را جذب کړي، خو هغه دا وویل چې ټول ستوري، له سترو نیولي بیا تر کوچنیو پورې، دیوبل د جذبولو ځانګړتیا لرونکي دي. یعنې د ستورو د خوځېدا د علت موضوع یې راوسپړله او هغه ځانګړتیاوې یې څرګندې کړې چې په ټولو ستورو کې له خورا لویو او سترو رانیولې بیا تر خورا کوچنیو پورې سره ګډې دي.

طبیعي علوم هم کټ مټ همدا سې کوي. د غو علومو هم د علت لټونې چارو ته مخه کړه او د قوانینو پلټنه کوي. تاریخ هم په همدې دریځ کې ولاړ دی. که د تاریخ موضوع، نه د ځینو خلکو د ژوند د پېښو ، بلکې په ټولیز ډول د خلکو او بشري ټولنې د غورځنګونو او خوځون مطالعه او څېړنه ده، نو باید د علتونو د مفهوم پلټنه پرېږدي او د قوانینو پلټنه ځکه وکړي چې د آزادۍ په ټولو او آن خورا وړو عناصرو کې سره ګډ، برابر، نه جلا کېدونکي او را ټول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

له هغه وخته چې د کوپرنیک قانون کشف شو او دا ومنل شوه چې دالمر نه دی چې دځمکې په شا او خوا ګرځي بلکه دا ځمکه ده چې دلمر پر شا او خوا چورلېږي. نو د پخوانیو ستورپوهانو هرڅه په اوبو لاړل. دا کېدای شوه چې د ستورو او کیهان په اړه د پخوانیو ستورپوهانو اند او نظریات وساتل شي او دغه نوی قانون هم ومنل شي، خو د هغه نه منل ځکه ګران و چې نور د بطلیموس نجوم ته غاړه اېښودل ګران و، خو بیا هم د کوپرنیک د قانون تر کشفه وروسته د بطلیموس د نجومو بازار لا تر ډېرو وختونو پورې تود و.

له هغه وخته چې دلومړي انسان وویل او دا یې ثابته کړه چې د زوکړې او جنایاتو شمېر د ریاضي د قوانینو تابع دی او یا پېژندل شوي. جغرافیایي، سیاسي، اقتصادي شرایط، دا یا هغه ډول حکومتي اداره رامنځ ته کوي، یا له ځمکې او خاورې سره د خلکو ځانګړي اړیکي، د هغو خلکو د خوځون لامل کېږي. له هماغه وخته تاریخ خپل هغه ماهیت نابود کړ چې دغه هر څه پرې ولاړ وو.

دا کېدای شو چې نوی قوانین ونه منل شي او د تاریخ په اړه پخوانی نظریات وساتل شي، خو داسې بریښېده، تر هغه پورې چې نوي قوانین رد نه شي، نه شو کولای د انسانانو دآزادۍ ارادې په توګه د تاریخي پېښو څېړنو ته دوام ورکړو، ځکه که د حکومت کوم ډول، یا د کوم قام، کوم خوځون، د کومو جغرافیاوي قام پېژندنې یا اقتصادي شرایطو په پایله کې شوی وي، نو دا وینا چې د وګړو دا اراده چې څه ډول واک یې ټینګ کړی دی، یا یې کوم غورځنګ خوځولی دی، نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای د هغه واک یا غور ځنګ علت وګڼو ، خو له دې سره سره تاریخ د پخوا په شان د شمېرنې، جغرافیې، سیاسي اقتصاد ، پرتلیزه فلالوژي او جیالوژي علومو په ملتیا چې د هغه له اصولو سره اړخ هم نه لګوي، زده کېږي.

تر ډېرو او په سختۍ سره د طبیعت په فلسفه کې د نویو او زړو نظریاتو ترمنځ سیالي روانه وه. الهایات، د پخوانیو نظریاتو ساتنې او ملاتړ ته ولاړ و او د نویو نظریاتو پلویان یې پر کفر او د ایمان پر راپرزولو تورنول، خو همدا چې رښتیا بری و موند په هماغه تند قوت یې د نویو نظریاتو پلوي کوله.

نن هم کټ مټ همدا سې د تاریخ د زاړه ډول او نوې فلسفې ترمنځ سیالي په هماغه قوت روانه ده. الهیات نه یوازې له زړو او پخوانیو نظریاتو نه ملاتړ کوي بلکې نوې فلسفه پر کفر او ورانۍ تورنه وي.

د دواړه خوا پلویان ښه پیاوړتیا ښیي یې هم د دې او هم د هغه نظر پلویان د سیالۍ د دواړو لمسونې کوي او حقیقت پټوي. له یوې خوا د پېړیو په اوږدو کې د ودانې شوې ودانۍ د راپرزیدلو ویره او پښېماني ده او له بلې خوانه د جهل د ودانۍ د راپرزیدلو سودا.

هغو کسانو چې په طبیعي فلسفه کې ، د حقیقت پر وړاندې سیالي کوله، داسې یې انګېرله ، که دوی د غه حقیقت ومني، د ایمان واک به ړنګ، د اسمانونو پر پیدا ښت اعتقاد به سست او د یوشع، له معجزې به انکار وشي. د کوپرنیک او نیوتن د قانون پلویانو داسې تصور کاوه چې د نجوم قوانین د مذهب ضد دي. د ساري په توګه ولتر د جاذبې قانون ، د وسلې په توګه د مذهب پر وړاندې کاراوه.

نن هم ټول حالات کټ مټ همدا سې دي، یعنې همدا چې د جبر قانون دې ومانه، تا په دې تورنوي چې تا د روح، نیکۍ او بدۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفاهیمو او د کلیسا او دولت له ټول جوړښتونه چې پر دغه بنسټ ولاړ دي، انکار کړی دی.

اوس هم د جبر نابللي پلویان لکه ولتر په خپله زمانه کې ، له دغه قانونه لکه وسله د دین پر وړاندې کار اخلي، حال دا چې په نجوم کې هم ، د کوپرنیک د قانون په څیر ، د تاریخ په اړه د جبر قانون، نه یوازې هغه بنسټونه چې د دولت او کلیسا جوړښتونه پرې ولاړ دي، نه ړنګوي بلکې د هغه د ټینګوالي لامل دي.

لکه په هغه زمانه کې د نجوم، اوس هم د تاریخ په اړه ، د نظر ټول اختلافات یوازې د یوه ټاکلي مطلق پر منلو دي. هغه مطلق چې د محسوسو او لیدونکو پدیدو د ارزونې لپاره کارول کېږي. د ارزونې دغه مطلق یا ملاک هغه وخت د ځمکې نجوم او اوس د تاریخ له مخې ، د وګړي یا فرد خپلواکي یا آزادي ده.

د هغې د مطلق یووالي د منلو او نه منلو په اړه دی چې د مسوسو او څرګندیدو د آوارۍ لپاره کاریږي. داورولو یا حل دغه محک په نجوم کې ناخوځېدونکې ځمکه او په تاریخ کې بیا هغه د شخصیت ناپیلتوب او اختیار دی.

لکه هغه شان چې په نجوم کې د ځمکې د خوځون د منلو ستونزه په دې کې وه چې په مخامخ توګه د ځمکې د نه خوځون او همدغه راز د ستورو د ظاهري خوځون نه سترګې پټول و ، دغه راز د تاریخ لپاره هم پر فضا او زمان کې د وګړي د ښکیل والي د قانون او له اغیزمنو بهېرونو نه دوګړو له اړیکو د خلاصون د منلو ستونزه، په دې کې ده چې انسان باید دآزادۍ له ځانګړی ظاهري احساسه سترګې پټې کړي، لکه هغه شان چې په نجوم کې نویو نظریاتو ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"رښـتيا هم مـوږ د ځمکـې خوځـون نـه احسا سـوو ، خـو د هغـې د نـه خوځون نه ، بې معنی پا يلې ته رسېږو ، خو دا چې ، د هغه د خوځون منـل چې محسوس نه دی، موږ قانون ترلاسه کوو ".

په تاريخ کې بيا نوي نظريات هم دا سې وايي:

"دا سـمه ده چـې مـوږ خپلـې خنډونـه نـه احسا سـوو ، خـو ځـان ازاد ګڼلو نـه بيـا ، نـاوړه او پـوچې پـا يلې تـه رسـېږو ، حـال دا چـې ، کـه ځـان د بهرنـۍ نـړۍ او زمـان تـابع او د علتونـو پـه ښـکيل کـې ښـکيل وګڼـو ، قانون ته رسېږو ".

په لومړي حالت کې بايد په فضا کې د سکون له منل شوي نظر نـه سترګې پټې شوې وای او خپـل نـاحس کېـدونکي خوځـون مـو مـنلای وای، او په اوسنۍ حالت کې کټ مټ بايد په هماغه کچه ار يو لـه هغـې آزادۍ نه تير شو چې پرې خبر يو او خپل نامحسوس جبر و منو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**